

# مه پېړۍ یون

## شپږم ټوک

## (کلتوري او څېړنیز اثار)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۶ل

### په دې څوارلس ټوکیزو کلیاتو کې

**لومړی ټوک (پنځوني او ژباړې):** متکور، په اورونو کې سندرې، د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واک جوړښتونه، په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه، د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه، فلسفه او فلسفي بهیر (۱- ۹٦۹) مخونه.

**دویم ټوک (راټولوني):** هیلي، نیمګړي ارمانونه، د لوونو فصل، سیندونه هم مري او د پښتو ادب لرغوني دوره (۹۷۰- ۲۱۱۳) مخونه.

**درېیم ټوک (راټولوني):** د نازو انا یاد، د استاد الفت نثري کلیات (۲۱۱۴- ۳۲۱۰) مخونه.

**څلورم ټوک (یونلیکني):** د اماراتو سفر، که یون دی یون دی، د پنټاګون تر څنډو، د کرملېن په زړه کې (۳۲۱۱- ۴۲۷۴) مخونه.

**پنځم ټوک (یونلیکونه):** د ډیلي تخت هېرومه، دري ورځې د افسانو په وطن کې، د خدای(ج) تر کوره (۴۲۷۵- ۵۳۱۹) مخونه.

**شپږم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود، ساینسي پرمختیاوې، هیله د خپلو سریزو په لمن کې، د کتابونو په ورمو کې (۵۳۲۰- ٦۱۳۳)مخونه.

**اووم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** فرهنګي فقر، له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل، د افغانستان فرهنګ ته اووښتي زیانونه، مرکه او مرکې، کلتوري یون، جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (٦۱۳۴- ۷۱۱۹) مخونه.

**اتم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** بېړنۍ لویه جرګه: ولسواکي او زورواکي، افغانستان په سیاسي کړلېچ کې، د سمون په لټه (۷۱۲۰- ۸۱۴۷) مخونه.

**نهم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** ک... وال ... کې، ملي هویت او ملي عزت (۸۱۴۸- ۹۳۰٦) مخونه.

**لسم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** ملي درسونه، د ارګ نا ویلې خبرې (۹۳۰۷- ۱۰۳۴۹) مخونه.

(پاتې د پښتۍ ۳ مخ)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیمه پېړۍ یون

## شپږم ټوک

## (کلتوري او علمي اثار)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۶ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# نیمه پېړۍ یون

## شپږم ټوک

**(کلتوري او علمي اثار)**

لیکوال: **محمد اسمعیل یون**

خپرندوی: **د افغانستان ملي تحریک**

ډیزاین: **فیاض حمید**

چاپکال: **۱۳۹٦ لمریز**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

**د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۴۳)**

وېبپاڼه: **www.melitahrik.com**

**د دې کتاب د چاپي او انلاین خپرولو ټول حقوق له خپرندوی سره خوندي دي**

**۵۳۲۰**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ:

# د افغانیت، اسلامیت او انسانیت رښتینو لارویانو ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیولیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| • | د استاد یون پنځوس کلن یون | ۵۳۲۸ |
| • | زما د نیمې پېړۍ یون | ۵۳٤٤ |

## استاد زيار د پښتني فرهنګ يو ځلاند ستوری

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | ددې اثر دویم چاپ | ۵۳۵۵ |
| ۲ | سریزه | ۵۳۵۷ |
| ۳ | ژوند لیک | ۵۳٦۱ |
| ٤ | ژورنالیست زیار | ۵۳۷۳ |
| ۵ | څېړنیال زیار | ۵٤۰٦ |
| ٦ | ځانګړي څېړنیز چاپي او ناچاپي اثار | ۵٤۲۱ |
| ۷ | کره کتونکی زیار | ۵٤۲٤ |
| ۸ | داستان لیکونکی زیار | ۵٤۳۱ |
| ۹ | ژبپوهاند زیار | ۵٤٤۱ |
| ۱۰ | ځانګړي ژبني چاپي او ناچاپي اثار | ۵٤۵٤ |
| ۱۱ | ژباړونکی زیار | ۵٤۷۵ |
| ۱۲ | یادښت (سریزه) لیکونکی زیار | ۵٤۸۵ |
| ۱۳ | یادونه | ۵٤۹٦ |
| ۱٤ | ځانپېښې | ۵۵۱۵ |
| ۱۵ | اخځونه | ۵۵۲۹ |
| ۱٦ | وروستۍ بشپړونه | ۵۵٤۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښتو کتابښود


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د دې اثر د دویم چاپ په اړه څو ټکي | ۵۵٤۷ |
| ۲ | څو خبرې او د لیکوال پېژندګلوي | ۵۵۵۱ |
| ۳ | ددې اثر اړتیاوې، نیمګړتیاوې او بریاوې | ۵۵۵۵ |
| ٤ | د ژبو او ادبیاتو پوهنځي لنډه تاریخچه | ۵۵۵۹ |
| ۵ | ژبو اوادبیاتو پوهنځي چاپ کړي کتابونه | ۵۵٦۷ |
| ٦ | د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استادان او د هغوی کتابونه | ۵۵۷۰ |
| ۷ | د ژبو او ادبیاتو پوهنځي فارغان او د هغوی کتابونه | ۵٦۱۰ |
| ۸ | د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو مونوګرافونه | ۵٦٤٦ |


## ساینسي پرمختیاوې


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د دې اثر په باب څو یادونې | ۵۷۲۲ |
| ۲ | لومړنۍ خبرې | ۵۷۲٤ |
| ۳ | پیلامه | ۵۷۲٦ |
| ٤ | د بخار ماشین | ۵۷۲۷ |
| ۵ | لېږد رالېږد (ترانسپورت) | ۵۷۲۹ |
| ٦ | ځمکنی ترانسپورت یا ځمکني لېږد رالېږد وسایط | ۵۷۳۲ |
| ۷ | بایسیکل او موټرسایکل | ۵۷۳۳ |
| ۸ | موټر یا بې اسه ګاډۍ | ۵۷۳٦ |
| ۹ | افغانستان ته لومړی موټر څه وخت راغی؟ | ۵۷۳۸ |
| ۱۰ | اورګاډی | ۵۷۳۹ |
| ۱۱ | بحري ترانسپورت | ۵۷٤۱ |
| ۱۲ | کښتۍ یا بحري بېړۍ | ۵۷٤۲ |
| ۱۳ | اوبتل | ۵۷٤٤ |
| ۱٤ | هوایي ترانسپورت | ۵۷٤۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۱۵ | بالون | ۵۷٤٦ |
| ۱٦ | الوتکه | ۵۷٤۸ |
| ۱۷ | فضايي بېړۍ | ۵۷۵۰ |
| ۱۸ | ډله ييز اړيکي (مخابرات) | ۵۷۵۱ |
| ۱۹ | ټيلېگراف | ۵۷۵۲ |
| ۲۰ | ټلېفون | ۵۷۵٤ |
| ۲۱ | فکس | ۵۷۵٦ |
| ۲۲ | کمپيوټر | ۵۷۵۷ |
| ۲۳ | انټرنېټ | ۵۷۵۸ |
| ۲٤ | رسنۍ | ۵۷٦۰ |
| ۲۵ | کاغذ | ۵۷٦۱ |
| ۲٦ | چاپ ماشين | ۵۷٦۲ |
| ۲۷ | راډيو | ۵۷٦٤ |
| ۲۸ | ټلويزيون | ۵۷٦٦ |
| ۲۹ | انرژي | ۵۷٦۸ |
| ۳۰ | بادي برېښنا | ۵۷٦۹ |
| ۳۱ | اوبو برېښنا | ۵۷۷۱ |
| ۳۲ | لمريزه برېښنا يا انرژي | ۵۷۷۳ |
| ۳۳ | اټومي برېښنا يا انرژي | ۵۷۷۵ |

## هيله د خپلو سريزو په لمن کې

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | ((هيله)) د ملت جوړونې فکري ځواک | ۵۷۷۹ |
| ۲ | د ((هيلې)) پر سريزو يوه سريزه | ۵۷۸۳ |
| ۳ | ((هيله)) د کومو هيلو په هيله خپرېږي؟ | ۵۷۸۸ |
| ٤ | په ((هيله)) کې د هېوادوالو هيلې انعکاس ... | ۵۷۹۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۵ | ((هیله)) د کومو ستونزو له پېچومو تېرېږي؟ | ۵۷۹۵ |
| ٦ | فرهنګي رغونه د لومړیتوب حق لري | ۵۸۰۰ |
| ۷ | د فرهنګي چارو او اړتیاوو په باب څو وړاندیزونه | ۵۸۰٤ |
| ۸ | هیله یو کلنه شوه | ۵۸۱۱ |
| ۹ | د فرهنګي چارو سمون او ملګرتیا ته اړتیا ده | ۵۸۱٤ |
| ۱۰ | زموږ د ازادو خپرونو ستونزې | ۵۸۱۷ |
| ۱۱ | د هېواد ملي یووالی او د فرهنګیانو نوې هیلې | ۵۸۲۱ |
| ۱۲ | لویدیځ مېشتي افغان فرهنګیان او فرهنګي هیلې | ۵۸۲۸ |
| ۱۳ | د پښتو ژبې او ادبیاتو یو طلایي پړاو | ۵۸۳۲ |
| ۱٤ | هیله دوه کلنه شوه | ۵۸۳۵ |
| ۱۵ | د هېواد دننه فرهنګي یون او خوځون | ۵۸۳۸ |
| ۱٦ | ((چغې مه وهئ کار وکړئ!)) | ۵۸٤٦ |
| ۱۷ | د هېواد د تحصیل کړو اشخاصو بهیر ... | ۵۸٤۹ |
| ۱۸ | شلمې پېړۍ په مخه دې ښه! | ۵۸۵۲ |
| ۱۹ | د مسلک له خاوندانو یوه هیله | ۵۸۵٦ |
| ۲۰ | هیله درې کلنه شوه | ۵۸٦۰ |
| ۲۱ | راځئ چې سره کېنو په تېغر د روغې جوړې | ۵۸٦۸ |
| ۲۲ | دا دنیا چا شل کړې ده؟ | ۵۸۷۱ |
| ۲۳ | د اوسنیو پښتو خپرونو موضوعي وېش | ۵۸۷٤ |
| ۲٤ | د فرهنګي کار جغرافیایي موقیعیتونه | ۵۸۷۸ |
| ۲۵ | یوه ملتپاله فرهنګي ستراتیژي | ۵۸۸۲ |
| ۲٦ | (( هیله)) د خپل ژوند د نیمې لسیزې په درشل کې | ۵۸۸٦ |
| ۲۷ | کار خپله سخت کار دی | ۵۸۹٤ |
| ۲۸ | افغانستان، اسلام او پښتو؛ درې ستر ارزښتونه ... | ۵۸۹۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۲۹ | بحراني شرايط او فرهنګي کار | ۵۹۰۳ |
| ۳۰ | که مې سل نصيحتونه ورته وکړل! | ۵۹۰۷ |
| ۳۱ | که مطبو عات ازاد شي | ۵۹۱۳ |
| ۳۲ | په هېواد کې د واک انحصار څنګه له منځه تللای شي؟ | ۵۹۱۸ |
| ۳۳ | په کابل کې څوک، څوک ساتي؟ | ۵۹۲٤ |
| ۳٤ | په کابل کې قانوني واک او عملي واک | ۵۹۳۱ |
| ۳۵ | سوله، عدالت او که دواړه؟ | ۵۹۳۸ |
| ۳٦ | افغانستان د ابهام پر لوري | ۵۹٤۵ |
| ۳۷ | پر دولتي خپرونو تنظيمي انحصار ... | ۵۹٤۹ |
| ۳۸ | په افغانستان کې بهرني څواکونه ګټې او زيانونه | ۵۹۵۸ |
| ۳۹ | تر چتې وتي مطبوعات | ۵۹٦۱ |
| ٤۰ | افغاني سفارتونه د تنظيمواکۍ مورچلونه | ۵۹٦۷ |
| ٤۱ | افغانستان او د ايډيالوژيو بحران | ۵۹۷٤ |
| ٤۲ | د مهال له مخې د هيلې د سريزو د چاپ څرنګوالی | ۵۹۸۰ |


## د کتابونو په وړمو کې


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | ددې سريزو په باب څو ټکي | ۵۹۸۵ |
| ۲ | سريزه: د غشو تنده | ۵۹۹۱ |
| ۳ | بېکسيار | ٦۰۰۰ |
| ٤ | ازمون په خپل فرهنګي ازمون کې ډېر بريمن دی | ٦۰۱۱ |
| ۵ | يادون | ٦۰۲۵ |
| ٦ | له ((خيرې ګرېوانه)) تر ((کوثر جامه))... | ٦۰۳۷ |
| ۷ | د واقعيتونو يوه هنداره | ٦۰٤۸ |
| ۸ | د لويديځمېشتي فرهنګي بهير يو ((يار)) | ٦۰۵۰ |
| ۹ | د اروا پوهنې ښوونځي | ٦۰۵٦ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۱۰ | گام پر گام له خوشال سره | ٦۰٥٨ |
| ۱۱ | ((لاهو)) شاعر | ٦۰٦٣ |
| ۱۲ | پردېس ژوند او ((پردېسې نغمې)) | ٦۰٦٥ |
| ۱۳ | ددې اثر لیکوال او خپرندوی په باب څو خبرې | ٦۰٦٨ |
| ۱٤ | زرین انځور او دده د لنډو کیسو دا انځوریزه ټولگه | ٦۰٧٣ |
| ۱٥ | د استاد ستانیکزي یوه گټوره پوهنیزه هڅه | ٦۰٧٩ |
| ۱٦ | د جنگي جنایتکارانو محاکمه یوه ملي اړتیا ده | ٦۰٨۱ |
| ۱٧ | لغمان او اوسنی فرهنگي بهیر | ٦۰٨٨ |
| ۱٨ | پښتو غږ پوهنه او وییپوهنه | ٦۰۹٥ |
| ۱۹ | په ((زړه کلا)) کې یو عالم خبرې | ٦۰۹٧ |
| ۲۰ | زموږ د تاریخ یوه بله پاڼه | ٦۱۰۳ |
| ۲۱ | د فریاد سوي فریادونه | ٦۱۰٧ |
| ۲۲ | افغانستان د مکیاویلي په سیاسي فورمولونو کې | ٦۱۱٤ |
| ۲۳ | ((یوه شپه دوه خوبونه)) او د هغو تعبیرونه | ٦۱۲۳ |
| ۲٤ | ((حقیقت)) او د کوچنیانو ادبیات | ٦۱۲٦ |
| ۲٥ | ترپایلیك پورته هڅـه | ٦۱۳۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د استاد یون پنځوس کلن یون

ښاغلي پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې په تېره بیا د سختو حالاتو یو مخکښ فکري مبارز دی. ده د افغانستان د کورنیو او بهرنیو مخالفینو، جنگسالارانو او فسادگرو پر وړاندې د مبارزې یوه ځانگړې لاره، چې د قلم، ژبې او جرئت لاره وه، غوره کړه. دا یې د خپل ولس او خلکو د اوږدو مبارزو تر ټولو غوره، بریالۍ او ژغورندویه لاره او مبارزه وبلله. دی که په کابل کې و او یا هم په نورو ولایتونو کې، خپلو ملي او فرهنگي هلو ځلو ته یې دوام ورکړی، همدا علت و چې افغانانو دده د مبارزې پر حقانیت، ربښتینولۍ او زړورتیا باور پیدا کړ، ډېری افغانان په ځانگړې توگه ځوانان یې تر ځنگ ودرېدل او دې مبارزې ته یې لا نور ځواک وروباښه. یون ددې ځوانانو په راټولېدو سره پرځان لا باوري شو او خپلې دې مبارزې ته یې په سیستماتیک ډول دوام ورکړ.

که وویل شي چې یون د افغاني ټولنې، ملي تفکر او د مظلوم اکثریت د غږ پورته کولو یو بریالی ویاند دی، نو مبالغه به مې نه وي کړې. ددې لپاره چې ښاغلی یون په بشپړه توگه وپېژنو، نو غواړم دلته یې د ژوند، اثارو او افکارو پر بېلابېلو برخو لنډه رڼا واچوم:

**۱-زوکړه:** محمد اسمعیل یون د حاجي محمد خان زوی او د هدایت خان لمسی دی، پر (۱۳۴۶ل) کال د کب پر (۱۸) مه نېټه د لغمان ولایت د الینگار ولسوالۍ د (الوخېلو) په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زیږېدلی دی. یون لا د شپږم ټولگي زده‌کوونکی و چې پلار یې وفات شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کور سرپرستي او د ژوند نورې چارې خپله ده ته ورپرغاړه شوې. خو په دې سختو شرايطو کې يې هم خپل هوډ قوي وساته، هم يې د کورنۍ سرپرستي کوله او هم يې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ.

**۲- زده کړې:** محمد اسمعيل يون پر (۱۳۵۳ل)کال د الينگار ولسوالۍ د (سلينگار) په لومړني ښوونځي کې، چې د يون له کوره په پلي مزله يې نږدې يو نيم ساعت واټن درلود، په لومړي ټولگي کې شامل شو، يون يو کال د سويې ازموينه ورکړه او يو ټولگی يې ارتقا وکړه، پر (۱۳۵۷ل)کال دې ښوونځي ته نوې ودانۍ جوړه شوه او د يون کور ته نږدې ساحه کې اباد شو. پر (۱۳۵۸ل) کال دا ښوونځی د حکومت د مخالفينو له خوا وسوځول شو، يون د نورو زده کوونکو په شان له ښوونځي څخه بې برخې شو، يون له درس سره د خپلې مينې او د کورنۍ د موافقې پر اساس کابل ته راغی او دلته پر (۱۳٦۱ل) کال يې د کابل په (ده خدايداد) او بيا په (ده يحيی) لېسو کې خپلې زده کړې پسې تعقيب کړې. پر (۱۳٦۲ل) کال د کابل په خوشال خان لېسه کې شامل او پر (۱۳٦٦ل) کال ترې په دويمه نومره فارغ شو، (۱۳٦۷ل)کال د کابل پوهنتون په ژبو او ادبياتو پوهنځي کې شامل او پر (۱۳۷۰ل) کال ترې اول نومره فارغ شو، پر (۱۳۷۰ل)کال يې د ياد پوهنځي پښتو څانگې کې د کدر ازموينه ورکړه، په ياده ازموينه کې بريالی او پر همدې کال د (نامزد پوهيالي) په رتبه د پښتو څانگې د کدر غړی شو. يون پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۳۸۵ل)کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په ماسترۍ پروګرام کې شامل او پر (۱۳۸۷ل)کال کې ترې فارغ شو.

یون د (کابل پوهنتون) علمي مجلې موسس هم دی او درې کاله یې ددې مجلې مدیریت هم ورپرغاړه و.

محمد اسمعیل یون پر (۱۳۹۲ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د دوکتورا (PhD) پروګرام کې شامل شو او د تحصیل دا پړاو یې هم پر (۱۳۹٦ل) کال په بریالیتوب سره بشپړ کړ.

یون پر پورتنیو زده کړو سربېره د لنډ مهاله کورسونو، ورکشاپونو او سیمینارونو لپاره په کور دننه او بهر په ځینو برخو کې زده کړې کړې دي او لنډ مهاله کورسونه یې هم تعقیب کړي دي.

یون له (۱۳۷۰ل) کال څخه چې د کابل پوهنتون په کدر کې شامل شوی، بیا تر (۱۳۹٦ل)کال پورې په منظم ډول تدریس کړی او په دې یاده موده کې یې له (نامزد پوهیالي) څخه نیولې بیا تر (پوهاندۍ) وروستۍ لوړې پوهنتوني رتبې پورې ټولې رتبې په ترتیب سره بشپړې کړي او د هرې رتبې لپاره یې له پوهنتوني مقرراتو سره سم ځانګړی اثر لیکلی دی.

**۳- دندې:** یون چې کله په ښوونځي کې د څلورم، پنځم او شپږم ټولګي زده کوونکی و، نو د ښوونځي د ترانې د ټیم غړی و، سپورت سره یې هم مینه درلوده، په ښوونځي کې د خپل عمر په هلکانو کې د والیبال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټیم غړی و، یون چې کله له لغمان څخه کابل ته راغی، نو دلته په (خوشال خان) لېسه کې د ادبي انجمن مشر شو. یون د ثانوي زده کړو پر مهال (۹-۱۲) ټولگي پورې موده کې له یو شمېر اخبارونو او مجلو سره قلمي همکاري درلوده او د ځینو چاپي خپرونو له خوا ورته حق الزحمه هم ورکول کېدله. یون په کابل پوهنتون کې د تحصیل پر مهال هم د لیکوالو د ټولنې غړی، د ځوانو لیکوالو د ټولنې د مشرتابه غړی، د خوشال فرهنگي ټولنې د ځوانانو د برخې مسول او یو شمېر نورو فرهنگي ټولنو غړی پاتې شوی دی.

یون لا په (۱۲) ټولگي کې و چې د (هیلې) په نامه یې د لرو او برو افغانانو د ځوانو شاعرانو یوه شعري ټولگه راټوله او پر (۱۳۶٦ل) کال یې چاپ کړه.

د پوهنځي پر وروستي کال یې دوه اثار: د خپلو شعرونو ټولگه (مټکور) او د ولسي شاعر (محمد عالم حیران) د شعرونو ټولگه (نیمگړي ارمانونه) چاپ کړل.

یون د تنظیمي جگړو پر مهال کله په کابل او ځینې وختونه په پېښور کې اوسېده، هلته په پېښور کې یې (هیله) مجله چاپوله، د (معارف) مجلې همکار و، په جرمنې کې د دوو افغاني کلتوري ټولنو؛ (د افغانستان کلتوري ودې ټولنه) او (د پښتني فرهنگ د ودې او پراختیا ټولنې) استازی هم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمـد اسـمعیل یـون د طالبـانو د نظـام تـر ړنګېـدو وروسـته پـر (۱۳۸۱ل)کال لومړی په ختیزو ولایتونو کـې د ملګرو ملتونـو د مرسـتو د ځانګړي دفتر یوناما (UNAMA) مشاور او ډېر ژر په یـادو ولایتونـو کـې د بېړنۍ لویې جرګې لپاره د انتخاباتو د دفتر مشر شو. یون دا دنـده هـم پـه ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۲ل)کال د بېړنۍ لویې جرګه چې نږدې (۱٦۰۰) تنـو پـه کې له ټول افغانستان څخه ګډون درلود، غړی و، د جرګې د مشرتابه لپـاره ټاکنې وشـوې او یـون د رایـو پـه اکثریـت سره د بېړنـۍ لـویې جرګـې د لومړي منشي په توګه انتخاب شو، د منشیتوب دنـده یـې هـم پـه ښـه ډول ترسره کړه او بیا یې د یادې جرګې په باب (بېړنۍ لویه جرګـه- ولسـواکي او زورواکي) تر نامه لاندې یو ځانګړی اثر هم ولیکه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د افغانستان او پاکستان تـر مـنځ د (امـن ګـډې جرګې) لپاره د افغانستان له لوري د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یـې هم په ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د جمهور رییس حامـد کـرزي د یـوه ځـانګړي فرمان له لارې د امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو د رییس په توګـه غـوره شو، اوه کاله یې دا دنده پر مخ یوړه او جمهور رییس حامـدکرزي تـه یـې په ډېرو ملي او فرهنګي مسایلو کې خپلې مشورې ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یون پر (۱۳۹۲ل)کال په حکومت کې د ولسمشر له خوا جنګسالارانو او فسادګرو ته د زیاتو امتیازاتو له ورکړې سره د مخالفت لـه املـه لـه خپلـې دندې استعفی ورکړه او پر همدې کال یې (د افغانستان ملي تحریـک) پـه نامه د یـو ازاد، فرهنګـي، مـدني، ټـولنیز، مـلي او سـیاسي حرکـت بنسـټ کېښود.**

## ۴-کورنی ژوند:

**استاد یون پر (۱۳۷۴ل) کـال لـه (اریـن مومنـد) سره واده وکـړ، اوس څلور اولادونه لري (هیله، سمسور، سـوله او ودان). (هیلـه) او (سمسـور) دا مهال (۱۳۹٦ل کال) پـر لـوړو زده کـړو بوخـت دي، (سـوله) او (ودان) د ښوونځي زده کوونکي دي او مېرمن یې (ارین یون) په ولسي جرګه کـې د ننګرهار د خلکو منتخبه استازې ده.**

## ۵-فعالیتونه:

**الف- ټولنیزه برخه کې: یون لـه (۱۳٦٦ل)کـال څخـه بیـا تـر (۱۳۹٦ل)کال پورې په ټولنیزو چارو کې زیات کارونه ترسره کړي دي، پـه یاده موده کې یې په سلګونو زرو هېوادوالو سره لیـدنې کتنـې کـړي دي، په سلګونو ټولنیزې غونډې یې جوړې کړي، د خلکو مشکلاتو ته یـې ځـان رسولی، د نورو ملګرو او ملي تحریک د ملګرو په مرسته یې مصیبت ځپلـو خلکو ته مرستې وررسولي. په کابل، کندوز، بغلان، بدخشان، فاریاب، بلخ، هلمند، ننګرهار، پکتیا، خوست، لغمان، کونړ او د هېواد په نورو سیمو کـې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې زلزله ځپلو، سېلاب ځپلو، جنګ ځپلو او نورو مصيبت ځپلو هېوادوالـو ته د ملي پانګوالو مرستې رسولې دي، د دولت او خيريه ټولنو پام يې هغو ته وراړولی او لـه دې لارې يـې خلکـو تـه پـه مسـتقيم او نامسـتقيم ډول د ميليونونو ډالرو مرستو د ور رسولو زمينه برابره کـړې ده. د مصيبت ځپلـو خلکو لپاره يې لوی رسنيز کمپاينونه هم ترسره کړي او دا کـار ددې سـبب شوی چې هم دولت او هم خيريه ټولنې غمځپلو سيمو ته ځـان ورسـوي. د جګړې ټپيانو ته د وينې د ورکړې لپاره يې ځو پروګرامونه جوړ کـړي او همدارنګه يې د خلکو مدني او اعتراضيه غونډو ته لاره هواره کـړې ده. د مسجدونو او کلينيکونو په جوړونه کې يـې ونـډه اخيسـتې، د صحي اوبـو لپاره يې د ژورو څاګانو په کيندنه او د چاپېريال د پـاک سـاتلو لپـاره يـې هم د هېوادوالو مرستې اړمنو هېوادوالو ته رسولې دي. په مجمـوعي ډول د ټولو هغو خيريه او ټولنيزو کارونو شمېر چـې يـون پـه تېـرو (۳۰) کلونـو کې ترسره کړي تر (۱۰۰۰) ګڼورو او مرستندويه کارونو زياتېږي.

**ب- سياسي برخه کې:** محمد اسمعيل يون سره له دې چې لـه کوم سياسي ګوند سره تړاو نه لري او نه يې غړيتوب لري، خو په خپله يـې له نورو روښنفکرو افغانانو سره په ګډه (د افغانستان ملي تحريک) په نامـه د يو ملي، مدني، خدماتي، ټولنيز، ملي او سياسي حرکت بنسـټ ايښـی دی. ددې تحريک له لارې يې په هېواد کې يو شمېر سـياسي فعاليتونـه تـرسره کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یون له یو شمېر نورو افغانانو سره په ګډه په هېـواد کـې د ولسـواکۍ د ټینګښـت، د جنګسـالارانو او فسـادګرو د زور کمـونې، لـه منځـه وړنـې او همدارنګه د عادلانه سیاسي نظام د ټینګښت لپاره ګڼ شمېر لاریونونه ترسره کـړي او پـه ځینـو نـورو دا ډول مظـاهرو کـې یـې ګـډون کـړی دی. دا مظاهرې ټولې سولییزې او هدفمنې وې. د ټولـو هغـو غونـډو، لاریونونـو، جرګو، مرکو، سیاسي سیمینارونو او ورکشاپونو  شمېر چې یون په مستقیم او نامستقیم ډول او د نورو هېوادوالو په مرسته جوړ کړي په تېرو (۳۰) کلونـو کې تر (۸۰۰) بېلابېلو غونډو اوړي.

د ملي او اسلامي هویت د خوندیتابه لپاره یې ټینګه او متواتره مبـارزه د ملي او سیاسي مبارزو یوه بېلګه ده.

**ج- فرهنګي برخه کې:** یون د یو خپلواک لیکوال په توګه په تېرو دېرشو کلونو کې ګڼ شمېرفرهنګي، علمي او اکاډمیک خدمتونه ترسره کړي،په ګڼو چاپي، رادیویي او ټلویزیوني مرکو کې یې د و اقعیتونو او حقایقو د څرګند بیان  له امله د خلکو په زړونوکې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي؛ د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم  غلط رنګ  او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه  یې په ټینګه مخالفت کوي. هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



منفي غبرگونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع گټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبت غبرگونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو یون په دغسې سختو اغزنو او تنگو شرایطو کې بیا هم خپلو فرهنگي، سیاسي او ټولنیز کارونو ته دوام ورکړی دی.

د ټولو هغو لیکنو، مرکو او ویناوو شمېر چې استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې د هېواد په داخل او بهر کې له چاپي، غږیزو، لیدنیو او برېښنایي رسنیو سره کړي تر (۱۲۰۰) عنوانو لیکنو، مرکو او ویناوو اوړي.

د استاد یون اوسنی فرهنگي کارونه، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول گورئ، د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې ترسره شوي دي. استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار لیکلي چې نږدې ټول یې چاپ شوي، دا اثار یې هم په برېښنایي ډول، هم په کتابي ډول او هم په (CD) کې لوستونکو ته وړاندې کړي دي. استاد یون پر خپلو فرهنگي کارونو سربېره د گڼو فرهنگي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توگه هم خپل فرهنگي رول ادا کړی دی، په پېښور کې یې د دوو المان مېشتو فرهنگي ټولنو (دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او(د پښتني فرهنگ د ودې پراختیا ټولنې) د همکار په توگه د بېلابېلو لیکوالو په لسگونو اثار، ایډیټ او چاپ کړي دي. دغه راز یې د سلگونو کورنیو مشاعرو، ادبي غونډو او سیمینارونو په جوړونه کې ونډه اخیستې ده، خپله یې هم په سلگونو مشاعرې،سیمینارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رسنیزه برخه کې یې د (ژوندون) په نامه یو رسنیز مرکز جوړ کړی چې ژوندون راډیو ټلوېزیون په کې فعالیت لري، دا راډیو ټلوېزیون د ټول هېواد په کچه نشرات لري او د سټلایټ او وېبسایټ له لارې یې هم ټولې نړۍ ته نشرات رسېږي.

په اکاډمیکه برخه کې یون د ( کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسیس کې اساسي نقش لوبولی دی او اوس دا دواړه پوهنتونونه په زرگونو محصلین لري، دغه راز د یو شمېر خصوصي ښوونځیو او پوهنتونونو په جوړونه کې یې هم مرسته کړې ده. یون د (هیلې، شمشاد او کابل پوهنتون) په نامه د درېو مجلو د مسول مدیر په توگه هم خپله دنده اجرا کړې ده. پر خپلو کتابونو سربېره یې د بېلابېلو لیکوالو نږدې (۴۰۰) عنوانو بېلابېلو اثارو ته د چاپ زمینه برابره او د یو شمېر نورو د سمون چارې یې هم پر مخ وړي دي.

په سیمه ییزه او ملي کچه یې د (۳۰) کلونو په بهیر کې تر (۱۱۰۰) زیاتې ادبي، علمي او فرهنگي غونډې، سیمینارونه او ورکشاپونه جوړ کړي دي.

## چاپ شوي اثار یې په دې ډول دي:

## الف- پنځونې:

| کتاب نوم | ځرنگوالی | چاپکال |
|---|---|---|

- متکور (لومړی شعري ټولگه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- په اورونو کې سندرې (دویمه شعري ټولگه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب- راټولونې:

- هیلې (ګډه شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- نیمګړي ارمانونه (د حیران شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د لوونو فصل (ګډه شعري ټولګه)دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د نازو انا یاد (د سیمینار د لیکنو ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د الفت نثري کلیات (د الفت نثرونه) درېیم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- سیندونه هم مري (د اسحق ننګیال شعري منتخبات) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو ادب لرغونې دوره (لومړی ټولګی) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

## ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه، د (پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- .د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه (د نینسي دوپرې اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه(د پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- فلسفه او فلسفي بهیر (د استاد افغانیار اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## د- یونلیکنې:

- د اماراتو سفر (د اماراتو یونلیک) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که یون دی یون دی (د اروپا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دېنټاګون ترخنډو (د امریکا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د کرملین په زړه کې (د روسیې یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.
- د ډیلي تخت هېرومه (د هند یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- درېِ ورځې د افسانو په وطن کې (د هلمند یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د خدای تر کوره (د حج یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمدګل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- دکابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د افغانستان فرهنګ ته اوښتي زیانونه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو شعر هندسي جوړښت (علمي اثر) شپږم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- ساینسي پرمختیاوې (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- بېړنۍ لویه جرګه ولسواکي او زورواکي (سیاسي څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- اندیال خوشال (د څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې (د تحلیلي لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- کلتوري یون(د ادبي څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- فرهنګي فقر (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مرکه او مرکې (له بېلابېلو لیکوالو سره د مرکو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- خوشال په خپل ایډیال (د څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دکتابونو په ورمو کې (پر بېلابېلو اثارو د لیکل شویو سریزو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- پښتو لیکنی سمون (ژبنی څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- اوسنۍ رسنۍ(څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که نړیوال ماته وخوري؟ (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د سمون په لټه (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کتاب الشعر (د علمي څېړنیزو لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کره کتنه (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ادب تاریخ (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ملي درسونه (د سیاسي لیکنو ټولګه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ل کال.
- د نجات خلی (څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ ل کال
- د ارګ نا ویلې خبرې (سیاسي څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- د زمانې په کړلېچ کې (څېړنیز او تحلیلي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- ملي هویت او ملي عزت (څېړنیز او تحلیلي اثر) ۱۳۹٦ل کال.
- د خادم نړۍ لید (څېړنیز اثر) ناچاپ ۱۳۹٦ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد یون د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه په تذکره کې د لیکل شوي عمر له مخې پوره پنځوس کلن شو، ژوند یې د نیمې پېړۍ وروستي حد ته ورساوه. خو دا نیمه پېړۍ له منډو، تړړو، ستونزو، کړاوونو، جنجالونو او همدارنگه له بریاوو سره مله وه. له لومړي ټولگي څخه مخکې دوران خو بېخي د ماشومتوب دوران وي، په هغه کې انسان له زیاترو مسوولیتونو څخه بې غمه وي. له لومړي ټولگي څخه بیا تر دولسم ټولگي پورې د زده کړې زمانه وي، یون سره له دې چې په دې دوران کې د پلرنۍ مینې له نعمته محروم شو، د کور د سرپرستۍ دروند مسوولیت ورپه غاړه شو، خو دې سره سره یې خپلو زده کړو ته یې دوام ورکړ، په همدې بهیر کې یې ادبي پنځونې وکړې او د (۱۲) ټولگي په بهیر کې یې د خپلو ادبي هڅو یا راټولونو لومړی ثمر (هیلې) گډه شعري ټولگه چاپ کړه. د ژوند دربیم پړاو یې د تحصیل دوره ده چې د څلورو کلونو په ترخ کې یې په ښه ډول ترسره کړه. په دې بهیر کې یې (مټکور)، (د لوونو فصل)، (نیمگړي ارمانونه) او (د نازو انا یاد) اثار ټولنې ته وړاندې کړل. د ژوند بله مرحله یې د گټو خدمتونو مرحله ده چې له (۱۳۷۱ل) کال څخه پیل بیا تر دې دمه (۱۳۹٦ل) کال پورې رارسېږي.

دا نو د گټو خدمتونو مرحله ده چې پوره شپږ ویشت کاله وخت یې ونیو او ده هم په کې ښې ډېرې هلې ځلې وکړې چې مور یې دمخه یادونه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یوازې په فرهنګي برخه کې د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې مـوږ د استاد یون له خـوا تـول لیکـل شـوي، ژبـاړل شـوي او راتـول شـوي اثـار محاسبه کړو، نو تر (۱۵۰۰۰) کتابي مخونو یې شمېر اوړي او دا بیا کـه دده د لیکوالۍ پر (۳۰) کلن عمر ووېشو نو د ورځې لږ تر لـږه یـو نـیم مخ کـار کېږي. یانې استاد په (۳۰) کلونو کې یوه ورځ هم بې لـه لیکـوالۍ نـه ده تېره کړې. دا په داسې حال کې ده چې پـه سـلګونو بېلابېـل لیکـل شـوي پیغامونه، ویناوې، مرکې، مباحثې، منـاظرې او لکچرونـه لا پـه دې کمیـت کې شامل نه دي. ددې ترڅنګ هغه په سلګونو غونډې، مظـاهرې، تـولنیز او سیاسي خدمتونه ترسره کړي، چې موږ یې دمخه یادونه وکړه، هغه لا لـه دې فرهنګي کار څخه جلا دي، که دا تـول کارونـه سره محاسـبه کـړو، نـو رښتیا هم سړی فکر کوي چې دا دومره کارونه د هـر چـا پـه وس پـوره نـه دي. هغه چا چې استاد یـون سره لـه نـږدې کارونـه کـړي وي، هغـو تـه د استاد د کار اوسېله، زغم، هوډ او اراده معلومېږي. هر سړی ورسره کار هـم نه شي کولای، یو ستړی، ستومانه او سرګردانه خو ګټور او مثمر ژوند لـري، زه ورسره له (۱۳۸۳ل) کال راهیسې کار کوم، د کار او فشار کچه یـې ماتـه تر هر چا زیاته معلومه ده. د همدغو کارونو برکت و چـې افغانسـتان کـې د ملتپالنې یوه نوې جذبه، روحیه او ولوله راپیدا شوه. داسې یو وخـت هـم دلته تېر شو چې د واکمنو جنګسالارانو پـر وړانـدې چـا سـوې هـم نـه شـو کولای، خو استاد یې په مقابل کې ودرېد، ځوانانو یې ملاتړ وکړ او بیا یـې ولس هم ملاتړ ته راودانګل. د هېواد ملي او اعتقادي هویت په خطـر کـې و، د ملي هویت تذکرو کې د (دین) او (ملت) د سـترو ارزښـتونو د لیکلـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخنیوی کېده، خو استاد یون او ملگرو یې د اسلامیت او افغانیت غږ اوچت کړ او ان د کرزي او غني حکومتونو هم د دې رسا غږ او داعیې مخه ونه شوه نیولی. په داسې حال کې چې افغانستان پردیو ایډیالوژیو سخت زیانمن کړی و، د یوه ملي فکر رغول او ځلول اسانه کار نه و، خو د استاد یون او دده په شان د ځینو نورو شخصیتونو برکت و چې د ملي هویت، ملي فکر او ملي ویاړونو ولولې تر هرې بلې ایډیالوژۍ زیاتې ځلیږي. زه نه غواړم دا لیکنه تر دې زیاته اوږده کړم، ځکه د استاد مبارزه دده په فعالیتونو او همدارنگه د استاد په ټولو اثارو کې انځورېږي. خو ددې څو ټکو یادونه مې ځکه وکړه چې زموږ راتلونکی نسل د استاد د ملي او فرهنگي مبارزو او د هغه د زمانې له چاپېریال څخه خبر شي.

استاد یون ته د اوږد عمر او لا زیاتو بریاوو په هیله

ضیاء الرحمن ضیاء

کابل- ژوندون راډیو ټلوېزیون

(۱۳۹٦ل) کال د کب، (۲۷)مه نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما د نیمې پېړۍ یون

ژوند یو سفر دی، پیل، منځ او پای لري. د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه زه د تذکرې د رسمي سن له مخې پوره پنځوس کلن شوم. په دې مانا چې په دې نړۍ کې مې پوره پنځوس کاله مزل وکړ. دا مزل به گوډ و مات و، له ستونزو او کړاوونو به ډک و، هدفمن او بې هدفه به هم و، خو هر څه چې و، ژوند و نو. له کومې ورځې چې مې ښي او کیڼ لاس پېژندلی، کوښښ مې کړی چې هدفمن ژوند ترسره کړم، خو ټول کارونه د انسان په وس پوره نه دي، چاپېریال کله پر سړي داسې کانې وکا چې د ژوند بهیر او د فکر مسیر یې وربدل کا. له کومې ورځې چې مې قلم گوتو کې نیولی، نو بیا پر ځان پوه شوی یم چې نه هر څه چې وي، هر څومره ستونزې چې وي، وي دې، ملت ته باید یو څه وکړم. د شعر په لیکلو مې شعور نور هم وده وکړه، خوشال بابا وایي چې شعر مشتق دی له شعوره، نو کېدی شي شعور مې وده کړې وي او احساس مې ځورېدلی وي چې د ژوند دې بلې نړۍ ته یې هم متمایل کړم. د ښوونځي په لسم ټولگي کې وم چې د وخت په اخبارونو کې مې شعرونه چاپ شول، دا زما د زیاتې هڅونې سبب شول. پر همدې مهال په خوشال خان لېسه کې د ادبي انجمن مسول وم. دې سره مې د خپل وخت له ځینو اخبارونو سره قلمي همکاري پیل شوه او په دې ډول مې په رسمي ډول ادبي سفر هم پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو. خو له شعر او شاعرۍ سره مې مینه ان له هغه وخته وه چې په ښوونځي کې شامل شوم.

په دولسم ټولګي کې وم چې د (هیلې) په نامه مې د لرو او برو پښتنو افغانانو د ځوانو لیکوالو یوه تذکره یا غورچاڼ برابر کړ او پر (۱۳٦٦ل) کال چاپ شو، د پوهنځي پر وروستي کال مې د (نیمګړي ارمانونه) ، (د لوونو فصل) په نامه دوه راټولونې او هم مې د خپل شعرونو ټولګه (متکور) چاپ کړې. په دې ډول نو له (۱۳٦٦ل) کال څخه بیا تر (۱۳۹٦ل) کال پورې چې پوره دېرش کاله کېږي، ما له فرهنګي دایرې بهر ژوند نه دی کړی او که د چا خبره ووایم چې یوه ورځ هم له فرهنګي کار او روزګاره بهر نه یم پاتې شوی، مبالغه به مې نه وي کړې. البته په دې تېر دېرش کلن بهیر کې ځینې سیاسي کارونه له ناچارۍ څخه راباندې تحمیل شوي او ځینې ټولنیز کارونه مې په خپله خوښه ترسره کړي، خو دا کارونه مې هم د خپل ولس د سوکالۍ، د ملي واکمنۍ د ټینګښت او د فرهنګي کارونو د ملاتړ لپاره ترسره کړي دي. په (۱۳۸۵ل) کال زه د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو رییس وم. دا مهال زما له منظم فرهنګي کار څخه څه باندې دوه لسیزې عمر تېر شوی و، په څنګ کې د نورو هغو ملي، سیاسي او ټولنیزو کارونو پر وړاندې چې ما یې د سرته رسولو هیله لرله، سخت خنډونه موجود وو، له خپلو ملګرو؛ ضیاءالرحمن ضیاء او وفاالرحمن وفا سره مې مشوره وکړه چې راځئ فرهنګي کار ته اړم شو، دا کارونه جانبي عوارض نه لري او که لري یې هم کم دي، تنګنظره سیاسي اشخاص ورسره ژر حساسیت نه ښیي او که دوی حساسیت ښکاره هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، نو موږ به خپل کار ترسره کړی وي. ددې فرهنګي کار لپاره مو یو پلان جوړ کړ، په څه باندې دوو کلونو کې مو د نږدې دوویشتو کلونو په ترخ کې شوي فرهنګي کارونه راټول او منظم کړل. زما له خوا ټول پخواني لیکل شوي کتابونه او راټولونې مې له سره منظم او تر سمون وروسته مو چاپ ته تیار کړل، دا کار که څه هم ډېر ستونزمن و، خو پخې ارادې موږ خپل هدف ته ورسولو. ټول (۳۳) عنوانه بېلابېل اثار مو پر یوه وخت چاپ کړل. (۱۳۸۷ل) کال زما لپاره د فرهنګي کارونو یو غوره کال و. د خوږې خاطرې په توګه مې په ذهن کې دی. هغه وخت مې هم په یادښتونو کې لیکلي او ملګرو ته مې هم ویلي وو چې هېواد کې حالات ترینګلي دي، پر ژوند یوه شېبه هم باور نه شته، نو هر چا چې هر څومره فرهنګي کارونه کړي یانې اثار یې لیکلي دي، باید په خپله یې راټول او چاپ کړي.

زما کار یوه نوې تجربه وه، ځینو نورو لیکوالو هم هڅه وکړه دا تجربه تکرار کړي، خو په لاره کې ټکني شول، خپل کارونه یې بشپړ نه کړای شول. زما د خپلې تجربې له مخې ترڅو چې کار ته کار ونه وایې او خپله یې ترسره نه کړې، کارونه په خپل سر نه خلاصېږي. کله چې مې د عمر نیمه پېړۍ مزل وواهه، نو یو ځل بیا مې زړه کې راتېره شوه چې د خوشال بابا په وینا چې د عمر اساس پر باد ایښی دی، نو بیا خو پرې اعتماد هم په کار نه دی، راځه دا ځل د خپل ټول فرهنګي ژوندانه کړي کارونه چې دا وخت پوره دېرشو کلونو ته رسېږي، بیا له سره منظم او کلیاتو په بڼه چاپ کړه. له دې کار څخه مې هدف دا و چې په ژوند کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې نه دي غوښتي څوک راڅخه ازار شي او یا د چا د اوږو پېټی شم، هسې نه چې تر مرګ وروسته زما لیکنو او اثارو پسې، ښه دي، که خراب، کمزوري دي که قوي، هنري دي که ناهنري، څوک سرګردانه شي او پر راټولونې یې ځان ستړی کړي. له خدایه شکر کاږم چې ژوند یې راته د نیمې پېړۍ وروستي حد پورې راورسوه، دا د هغه لوی ذات پېرزوینه ده، که نور یې راته وغځوي، نو هم لویه مهرباني به یې وي او که نه برخلیک یې راته وخته لیکلي وي، نو ژوند خو د هغه لوی ذات ډالۍ ده، هر وخت یې اخیستلای شي. په دې خاطر مې یو ځل بیا پر ټولو پخوانیو چاپ او وروسته پر ځینو ناچاپو اثارو ګوتې ووهلې او د محتوایي وېش له مخې مې سره منظم کړل، ټول پنځوس عنوانه شول چې راټولونې، پنځونې، ژباړنې او څېړنې ټولې په کې شاملې دي. دا ټول پنځوس عنوانه بیا د شکل او محتوایي وېش له مخې په (۱۴) بېلابېلو ټوکونو کې تنظیم شول او (نیمه پېړۍ یون) نوم ورته ورکړل شو.

دا پنځوس بېلابېل اثار چې ښه مې پورته ورته یاده کړه زما د نیمې پېړۍ په تېره بیا (۳۰) کلونو فرهنګي سفر پایله او ثمره ده چې خپلو قدرمنو هېوادوالو ته یې وړاندې کړم. که چېرې په هېواد کې جګړه او ناورین نه وای، نو کېدی شول تر دې زیات کار ترسره شوی وای، خو موږ بدمرغه نسل وو چې له ډېر تنکي زلمیتوبه مو جګړه پیل شوې او دادی تر نږدې سپینږیرتوبه لا دوام لري. زه د ښوونځي په شپږم ټولګي کې وم چې جګړې د پلار له خواږه نعمته محروم کړم. له هغې ورځې بیا تر دې لیکنې پورې (۳۸) کاله تېرېږي، خو د پلار مرګ مې د پرونۍ ورځې د ترخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاطرې په شان په ذهن کې انځور دی. ما غوندې په ملیونونو افغانانو د جګړې ټپونه او دردونه لیدلي دي.

نږدې دوه نسلونه په جګړه کې راګیر شول او لوی شول. د جنګ نسل د فرهنګ نسل نه دی. جګړه ډېره بدمرغه پدیده ده، د فرهنګ او تمدن د عمرونو مېوه او ثمره په یوه ساعت کې پوپناه کړي، نو په داسې یوه جګړه ییز چاپېریال کې چې هر څوک د ټوپک تر واکمنۍ لاندې د قلم د حاکمیت لپاره کار کوي، له اور سره د لوبو په مانا دي. له دې معترضه جملې څخه مې هدف دادی چې زموږ راتلونکی نسل باید پر دې پوه شي چې که ما او زما د عمر ټول پښت راتلونکي نسل ته څه ډېر بډایه فرهنګي سوغات نه دی ډالۍ کړی، نو په دې کې زیات قصور د زمانې دی. خدای(ج) دې وکړي چې زموږ راتلونکی پښت زموږ په شان د ډول ډول انقلابونو د ژرندو تر پلونو لاندې ګیر نه شي، چې د غنم د دانې په شان یې ژوند محوه شي او یا یې هم اغزن چاپېریال د ژوند مېوه پخېدو ته پرې نه ږدي. الله تعالی دې وکړي زموږ راتلونکی پښت زموږ د زمانې له تاوجن چاپېریال څخه ښه پند او عبرت اخیستی وي او د یوه سوکاله ژوند او پرمختللي افغانستان لپاره ورته مناسب فرصتونه برابر شي.

ددې لیکنې په دې برخه کې غواړم د خپل ژوند په پنځوس کلن بهیر او په تېره بیا په (۳۰) کلن فرهنګي ژوند کې له ټولو هغو دوستانو څخه مننه وکړم چې په یو نه یو ډول یې زما د فرهنګي مبارزې لاسنیوی کړی دی. خپل مرحوم پلار ته د دعا لاسونه پورته کوم چې زما مزل یې تر شپږم ټولګي پورې راورساوه او بیا یې د خپل ابدي سفر لمنه ونیوه، خو ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې د جنازې بازو ته اوږه ور نه کړای شوه او نه مې د مرګ پر مهال د هغه مبارکه څېره ولیده، د پلار قبر مې معلوم نه دی. د ژوند یو ارمان مې دا و چې کاشکې یې قبر معلوم وای چې لکه د مرغۍ د بچي په شان مې پرې وزرې غوړولای وای، ځو شپې ورسره ارام غځېدلای وای، د هغه د هغو مهربانیو قدر مې کړی وای چې زه یې پر اوږو ګرځولای وم. بازار ته یې بیولی وم، مېلې ته یې بیولی وم، ډاکتر ته یې بیولی وم، پټې به یې جیب کې راته پیسې ایښودلې، له نورو پټې. اوس مې نو له خدایه لویه هیله همدا ده چې تر مرګ وروسته مې لومړی ملاقات له خپل پلار سره وشي، په پښو کې ورته ورغړم راورغړم او خپله مینه پرې ماته کړم.

مور مې راسره ډېره په تکلیف شوې، د ژوند ټول ارمان یې خپل زوی ته و، زه یې د یوازیني زوی په توګه ډېر نازولی یم، ځان یې په تکلیف کړی، خو زه یې سختتو ته یې نه یم پرې ایښی، ماته یې د تعلیم زمینه برابره کړې، د ټیکري په پیڅکې پورې تړلې پیسې یې راته رالېږلې، خو زه یې بې خرڅه کړی نه یم، بختور وم چې د مور جنازې ته مې په خپله اوږه ورکړه، د وفات پر وخت مې د هغې جنازې ته ځان ورساوه، لکه د مرغۍ بچي چې د خپلې مور پښو ته رغړي، داسې ترې تاو راتاو شوم، سترګې مې ورته ښکل کړې، سترګې یې رڼې وې، لکه چې د خپل یوازیني زوی لیدو ته په طمع وې، مور مې ډېر وخت غېږ کې ونیوله، داسې چې زه به یې کلک غېږ کې نیولی وم، ایا څوک به وي چې د داسې یوې صحنې پوره انځور وکاږي.

له جلال اباده تر لغمانه مې د مور د تابوت سر ته ناست وم، ډېر مې ورته وکتل، په لیدو یې نه مړېدم، له حج څخه مې ورته کفن راوړی و، د خدای په کور مې موښلی او د زمزم په اوبو مې مینځلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپلو خوږو خویندو مې هم ډېره مننه کوم چې زما په روزنه او پالنه کې یې ډېر زیات زیار گاللی، له مشرانو او کشرانو خویندو ټولو څخه ډېره مننه، خو ما یې لا د خدمت حق نه دی اداکړی، له خپلو ټولو استادانو څخه چې له لومړي ټولگي څخه بیا د دوکتورا او پوهاندۍ تر کچې یې گام پر گام زما معنوي ملاتړ کړی، له خپلو ټولو هغو دوستانو، ملگرو، لیکوالو، د مال او عزت له خاوندانو څخه هم ډېره مننه چې په دې نیمه پېړۍ کې یې له ماسره مادي مرسته او لاسنیوی کړی دی.

له خپلې مېرمنې او اولادونو څخه ډېره مننه کوم چې په تېرو (۲۲) کلونو کې یې راسره د ژوند ډېرې سړې او تودې وگاللې او زما فرهنگي چارو کې یې له ما سره تر وروستي بریده مرستې وکړې.

له قلموالو، لیکوالو او نورو هغو دوستانو چې زما د اثارو په کمپوز، سمون او چاپ کې یې په یو نه یو ډول مرسته کړې له ټولو منندوی یم، خدای(ج) دې ټولو ته اجرونه او ثوابونه ورکړي، که ددغو ټولو دوستانو مالي او معنوي ملاتړ نه وای، نو خدای خبر چې زه د دغومره کارونو د سرته رسونې جوگه شوی وای او یا دغه اثار تر تاسو دررسېدلي وای او هم نور فرهنگي، ټولنیز او ملي کارونه ترسره شوي وای.

له ټولو یوه نړۍ مننه


ستاسو د ټولو یون

(۱۳۹٦ل) کال د کب (۱۹)مه

کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# استاد زيار

# د پښتني فرهنګ يو ځلاند ستوری

## ليکوال

## محمد اسمعيل يون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

**پخپله استاد زیار ته!**

**چې د پښتنې مینې راکښون یې زما په**

**زړه کې ددغه اثر د کښلو هیله وروزله.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه


د کتاب نوم: استاد زیار دپښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری

لیکوال: محمد اسمعیل یون

خپرندوی: یون کلتوري یون

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

لومړی چاپ: ۱۳۷۸ل کال

دویم چاپ: ۱۳۸۷ل کال

د لیکوال
پرله پسې نومره: (۷)

د خپرندوی
پرله پسې نومره: ( ۷ )

کمپوزر: ضیاءالرحمن ضیاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ددې اثر دويم چاپ

دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی، ما د خپل تحصيل په بهير کې ليکلی دی. زه د پوهنځي د لومړي ټولگي محصل وم، چې دا کار مې پيل او تر څلورم ټولگي (۱۳۷۰ل کال) پورې مې بشپړ کړ، هغه وخت په کابل کې کتابتونو او ځينو نورو اخځونو ته لاسرسی څه ناڅه اسانه و، نو ځکه ما وکړای شول گڼ شمېر اړتيا وړ مواد پيدا کړم. که هغه مهال مې دا کار نه وای کړی، نو په دې اثر کې، چې د کومو اخځونو يادونه شوې، تر ډېرو وروسته يې پيدا کول ناشوني وو. ددې کتاب هر څپرکی چې ما بشپړاوه، نو استاد زيار ته مې د بيا کتنې او تدقيق لپاره سپاره، هغه په کې زياتون او سمون راوسته او په پای کې ترې دغه اثر جوړ شو. کله چې څوک دا اثر لولي، نو ليکنې سبک کې به يې، د استاد زيار د ژبنې سبک سيوری څه ناڅه حس کړي، ددې علت دا و، چې ددې اثر د کتنې پر وخت زيار صيب په کې ځينې کلمې اړولې را اړولې دي.

دا اثر بيا وروسته پر (۱۳۷۲ل) کال په لاهور کې چاپ شو. ددې کتاب له ليکلو بيا تراوسه (۱۳۸۷ل) کال وروستۍ مياشت) پورې، نږدې شل کاله تېرېږي، د شلو کلونو په بهير کې استاد زيار گڼ شمېر نور اثار هم ليکلي، لکه پښتو سيندگی، پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې، پښتو ليکلار ښود او ځينې نور څېړنيز او تخليقي اثار، دغه راز د استاد نورې گڼ شمېر ليکنې هم په چاپي او برېښنايي خپرونو کې خپرې شوي دي، چې ددې کتاب د دويم چاپ پر وخت پر هغو بحث او بيا دلته ددې بحث ځايونه ماته شونې نه وه، نو ځکه مې د دې کتاب د تېر شلکلن تاريخي اصالت له مخې، په خپله بڼه د هغه بيا چاپ مناسب وگاڼه. زه دا يادښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نور نه غځوم، یوازې دومره یادونه کوم، چې ځوان لیکوال باید د خپلو مخورو او محسنو لیکوالو زیات قدر وکړي او که غواړي د هغو په باب څه ولیکي، نو ښه به دا وي، چې د هغوی د ژوند پر مهال، پر هغوی څه ولیکي، ددې ډول لیکنو ګټه داده، چې یو خو به زموږ مشران پر ژوندوني، خپل قدر او ارزښت ویني او بله دا چې دا ډول لیکنه یا لیکنې به له خپل نظره تېرې کړي، د نیمګړتیاوو او غلطیو مخه به یې ونیسي او تېروتنې به یې په خپله سمې کړي.**

**د مړو ستاینې د زړې عنعنې د بدلانه، د ژوندي ستاینې د نوي دود د پیل په هیله.**

**په درنښت**

**پوهندوی محمداسمعیل یون**

**ارګ، د جمهوري ریاست ودانۍ**

**کابل- افغانستان**

**د (۱۳۸۷ل) کال د سلواغې، (۲۶)مه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

## د خوشال قدر که اوس پر هېچــا نــه شــته
## پس له مرګــه بــه یــې یــاد کــا ډېــر عــالم

نن راته د هغه چا د احساس تاو قلم په ګوتو کې راکړی، چې ډېر کلونــه دمخه ورسره په نا اشنایۍ کې اشنا وم، زه لا کوچنی وم، چې د هغه نوم مې اورېدلی و. خلکو به یې ډېره ستاینه کوله. له همغه مهاله مې په زړه کــې د هغه مینې او پښتني ولولو ځای نیولی و. په زړه کې به مې دا هیله څو ځلې د خیال او خوب په شان وګرځېده، چې ګوندې داسې وخت راشــي چــې استاد زیار مې ښوونکی شي او د هغه له اورنیو پښتني ولولو څخه مې زړه تودوخه او فکر روښانتیا ومومي.

ډېر وخت تېر شوی و، خو هیله مې لا نه وه زړه شوې. یو وخــت مــا پــه خوشال خان لېسه کې زده کړه کوله، له شعر او ادبیاتو سره مې زیاته مینه پیدا شوې وه، کله کله به زه هم هغو فرهنګي ځانګو، چې ادبي غونــډې او مشاعرې یې جوړولې، خبرولم.

یوه ورځ د افغانستان د لیکوالو انجمن له خوا د کره کتنې یــوه غونــډه جوړه شوې وه او د یوه شاعر پر شعرونو خبرې کېدلې. زه هم هلته تللی وم، له نېکه مرغه مې هلته استاد زیار هم ولید، چې له بهر څخه تــر یــو اوږده سفر وروسته تازه راغلی و، دده عالمانه لوښې او کمینې زما هیله لا پیاوړې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ورځې وروسته مې ورسره د ليکوالــو انجمــن د ځوانــو شــاعرانو او ليکوالو په کانون کې بيا وکتل، دا ځل ورسره پوره بلد شوم. خپله پته يــې ماته راکړه، بيا نو زه ادبياتو پوهنځي ته ډېــر ورتللــم او خپلــې ليکنــې او شعرونه به مې وراورول او ده به په ډېره سړه سينه راته اصلاح کــول. زمــا هيله خو پوره شوې وه، ځکه چې هغه زما ښوونکی شوی و، يو ډېر خوږ او مهربانه ښوونکی.

خو زما هيلې هغه وخت لا پسې د خوښۍ په اوبو ولامبل چې زه د ژبو او ادبياتو پوهنځي محصل شوم، لومړی ټولګی و او لومړی ساعت، کله چــې ټولګي ته ننوتم، پر يوې څوکۍ کېناستم، څو شېبې لا نه وې تېرې شــوې، چې استاد زيار ټولګي ته راننوت او تر پېژندګلوۍ وروسته يې پر لوست پيل وکړ.

اوس نو چې زما هيله پوره شوې ده، پرځای بولم، چــې ددغــه پيــاوړي استاد د ژوند په باب د خپل توان په کچه يو څه وليکم. سره له دې چې دا کار بايد هغه ليکوال او څېړونکي کړی وای چې د ځواکمن قلم خاوند وای، خو هغه څه چې د استاد پر ما حق دی، بايد ادا يې کړم. سره له دې چې دا کار زما لپاره ډېر ګران دی او نه شم کولای څنګه چې ښايي، د استاد د ژوند او اثارو د څرنګوالي په باب وړنده معلومات وړاندې کړم او د هغه پــر ټولــو ادبي، هنري او علمي کارونو باندې په ټول ټال او کره ډول خپل ځان او نور خبر کړم.

زه دا کار ددې لپاره سرته رسوم، يو دا چې د استاد حق مې ادا کړی وي او بل دا چې تراوسه پورې پرته له (استثناتو) په پښتو ادب، فرهنګ او زموږ په ټولنه کې دا خبره باب ده، چې په ژوندوني د شاعر، اديــب او هنرمنــد درناوی نه شته. هغه د افغان سيد جمال الدين خبره چې وايي: (( په شرق

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ادیب د ژوند پر وخت مړ دی او تر مرګه وروسته ژوندی کېږي)). بېځي پرځای خبره ده ( دوکتـور عبـدالحکیم طبیبـي: تـلاش هـای سیاسـی سیدجمال الدین افغان، (۱۳۵۵ل) کال (۲۰) مخ).

زما موخه داده، چې د یوه شاعر یا لیکوال د ژوند په لړ کې د هغه پر اثارو لیکنه او د هغه پر ژوند لیکنه به له څو اړخونو څخه غوره او مثبته پرېوځي.

یو دا چې شاعر یا لیکوال او یا هنرمند به په ژوندوني د خپل کار ثمره په خپلو سترګو ویني، دویم دا چې لیکوال به د خپلې دغې ثمرې د لیدلو په پایله کې لا نور هم ددې زغم او ځواک پیدا کړي، چې خپلـې پنځـونې او نوښتونه لا پسې زیات کړي، دریېم دا چې موږ به د لیکوال او هنرمند حق ادا کړی وي او څلورم دا چې موږ به په څېړنو او لیکنو کې له تېروتنو سـره مخامخ نه شو او که مخامخ هم شو، هغه به ډېرې کمې وي.

خواوس اوس دا خبره باب ده، چې کله شاعر یا لیکوال له نـړۍ څخـه سترګې پټې کړي، بیا ټول د قلمونو څوکې تېرې کړي او متې راونغاړي او تر هغه چې یې له لاسه کېږي، زړونه تش کړي او داسې شیان ولیکـي، چـې ارواښاد په ګور کې نا ارامه کړي.

په ځینو ځایو کې خو لا داسې هم لیدل شوي دي، چې د یوه شاعر یـا لیکوال د ژوند او مرګ نېټې دمعلومولو په باب کتابونه لیکل شوي، رسالې کښل شوي، خو بیا هم په بشپړ او جوت ډول د هغه د ژوند یا مرګ نېټه نه ده زباته ((ثابته)) شوې.

په دې توګه به ښه دا وي، چې په خپله د لیکوال په ژونـدوني د هغـه د ژوند او اثارو په باب څه ولیکل شي او د تېروتنو پر وخت په خپله لـه هغـه څخه مرسته وغوښتل شي. بیا به نو ددې اړتیا نه وي، چې یـوازې د یـوه شاعر یا لیکوال د ژوند او مرګ نېټې د جوتیا لپاره کتابونه او رسالې ولیکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېخرته غونډېږ پرې جوړې کړو او له دې سره سره پرې بېځایــه لګښـــتونه وکړو.

دا زما لومړنی کار دی، چې ښايي نیمګړتیاوې به ولري، خو زما هیلــه دا ده، چې نور لیکوال په دې برخه کې په پوره ځیرتیا کار وکــړي او د خپلــو مشرانو او نوښتګرو لیکوالو حق ادا کړي. زه په دې لیکنه کې د استاد زیار د ژوند او اثارو په باب غږېږم، هیله ده، هغه څه چې مې راټول کړي دي، څــه ناڅه د استاد له اندو ژوند سره سمون ولرلای شي.

په پښتنه مینه

اسمعیل یون

د ژبو او ادبیاتو پوهنځي محصل

(۱۳٦۸ل) کال، پسرلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژوند ليک

پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار د عجب ګل زوی پر (۱۳۱۴ل) کال د سپين غر د مزينې رود پر غاړه د اخون کلي په يوه بېکوره او بې ځمکه بزګره کورنۍ کې وزېږېد. د ښوونځي په درېيم ټولګي کې يې د يوازيني ګټندوی پلار سيوری له سره پرېوت. پاتې درې ټولګي يې لـه کوچـاني بېوزله ژوند سره د يو بل په مزدورۍ پای ته ورسول. تـر ځلـور کلنـې خوارۍ مزدورۍ وروسته ورته د کابل د ليليه ښوونځي چانس برابر شو، له (۱۳۳۵ل) تر (۱۳۳۶ل) کال يې د زده کړې ترڅنګ د هلمند په ناوه کې کار کوه.

پر (۱۳۳۷ل) کال يې دولس کلنې زده کړې پای تـه ورسـولې او پـر (۱۳۳۸ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي کې پر زده کړه بوخت شو. پر(۱۳۴۱ل) کال يې له دغې ځانګې څخه ليسانس واخيست او د همدغه پوهنځي په کدر کې پر تدريس او ژبنيو څېړنو بوخت شو.

پنځه کاله يې د هېواد په غرو، رغو، ځنګلو، ميرو، کليو او باندېو کې د (۱۴) ژونديو او نيم ژوندويو ژبو (۱۰۴) ټوکه ګړدودي څېړنې ترسره کړې. بيا سويس ته واستول شو او هلته يې د ((برن)) پوهنتون د ژبپـوهنې، ادب پوهنې او وګړپوهنې په ځانګه کې د علومو دوکتورا واخيسته. پـر (۱۳۵۱ل) کال يې هېواد ته له راستنېدو سره خپلې اسـتادۍ تـه دوام ورکړ او ترڅنګه يې د ځانګې (۲) مياشتنۍ مجله (وږمه) وچلوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر( ۱۳۵۷ل) کال ورته د استادۍ ترځنګ د پښتو څېړنــو د نړیــوال مرکز ریاست دنده ورترغاړې شوه. څه مهال وروسته زنداني شو. بیا یې د سولې او پیوستون د سازمان د رئیس او مرستیال په توګه دنده ترسره کړه. څلور کاله د ژبو او ادبیاتو پوهنځي رئیس پاتې شو. بیا یې د المان په هومبولت پوهنتون کې د مېلمه استاد په توګه د افغانستان پوهنې د تدریس دنده پرمخ یوړه او د (۱۳۶۵ ل) کال له مني راهیسې بیا د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې د ژبپوهنې او ادب پوهنې پر تدریس بوخت شو.

دوکتور زیار له ننه اووه ویشت کاله دمخه واده کړی دی، یو زوی او یوه لور لري. زوی یې په المان کې د لوړو ریاضیاتو او لور یې دلته د طب په څانګه کې زده کړه کوي او مېرمن یــې د ژبــو او ادبیــاتو پــوهنځي دالماني څانګې استاده ده.

استاد زیار یو ډېر کاري او څو اړخیز انسان دی. کله چې د ده د ژوند پاڼې اړوو را اړوو، ان له وړکینې څخه یې څو څو کاره پرمخ وړي دي، هم به یې له ځمکوالو سره مزدوري کوله او هم به یې ورسره د ښوونځي او جومات زده کړه غبرګه پرمخ وړله. لو او لــور او نــورې راز راز موســمي خوارۍ او ورځ مزدورۍ خو یې په هره توګه د زیــار کښــې لوښــې نــه بېلېدونکی توک و. د منځنیو زده کړو په دوره کې یې دغې بوختیا بیــا نوې بڼه موندله. د تعلیمي کال په بهیر کې یې د شعر لیکنې او ژباړنې له لارې مطبوعاتي فعالیت کاوه.

د ورزش په برخه کې له اووم ټولګي څخه د بېلابېلو ورزشي ډولونــو لېوال و او د بایسکتبالر په توګه د کابل او ان د برن پوهنتون د اړوندې لوبډلې (ټیم) رسمي غړی پاتې شوی دی. د ښوونځي په رخصتیو کــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې پرځای چې کلي ته ستون شي او له خپلې کورنۍ سره په ارامه واوسېږي، د هېواد په ځینو پروژو، لکه د هلمند وادي په هغه کې پر کار بوخت شوی او په گټلو پیسو یې هم د خپل تعلیمي ژوند جیب خرڅ برابر کړی او هم یې له خپلې بېوزلې کورنۍ سره مرسته کړې ده.

د پوهنتون په دوره کې یې لږ تر لږه شپږ دوله بوختیاوې (مصروفیتونه) پرمخ وړل. د هېواد د ورځپاڼې خبریال، د اصلاح، انیس، ژوندون، عرفان او پوهنې او د مرکز او ولایاتو د خپرونو قلمي همکار، د پوهنې مطبعې مصحح، د رحمان بابا، بیهقي ښوونځي او پښتو کورسونو حق الزحمه یي ښوونکی، د پوهنځي د پښتو مجلې (وړمې)) مرستیال، د پوهنتون د بایسکتبال د ټیم غړی، په کابل کې د مصر سفارت د عربي کورس شاگرد او د ثقیله ورزش د کلوپ غړی او داسې نور.

استاد زیار په دې گروهه دی، چې ژوند د زمانې د بهیر پر وړاندې ډېر لنډ او تنگ دی او هغه څه چې یو انسان یې باید په خپله ژوند کې ترسره کړي، نه ترسره کېږي، نو له همدې کبله تل په تلوار او منډو رامنډو کې دی او نه غواړي د ژوند یوه شېبه خوشې تېره کړي. هېڅکله یې په یاد نه دي، چې د زینې پوړۍ یې یو په بل پسې تر پښو لاندې کړې وي، بلکې تل یې کله یوه او کله دوه په منځ کې پرې ایښې دي. پلی تگ یې له نورو سره توپیر لري. پر پلیو لارو هم، چې هر څومره گڼه گوڼه وي، د شتې غوندې خپله لاره باسي او له ټولې پاملرنې سره سره یې له یو بل سره ټکر هم راځي، همداسې یې بایسکل ځغلول او موټرسایکل چلول هم درواخله.

په ژبنیو څېړنو کې یې پوره څلور کاله له دغو دوه ارابه یي وسیلو ښخه تر وروستي بریده کار اخیستی او ډېر یې ژوبل کړی هم دی. له

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې کبله یې موټر اخیستو ته مېړمن نه پرېږدي. له دې ټولــو منــدو رامندو او بېړندویۍ سره بیا هم یو روغتیایي اوډلې او مهالوېشی ژوندون لري او دا هم په دې موخه چې وخت یې هسې خوشې لــه لاســه ونــه وځي. خوب و خوراک، کار، ورزش او هوساینه هر څه یې پر مهــالوېش برابر دي.

په الکولي څښاک، ځکاک، توندو، تورشو خوراکونــو او نــورو نــاوړو عادتونو، نه خپل اقتصاد ویجاړوي او نه روغتیا. په ټولیز (کُلي) ډول یې ساده ژوند خوښ دی، خو دومره هم نه چې څوک ورته ســاده ووایــي. سهارنی کړاو (جمناستیک) او تشناب تر وسې وسې، که پر کور وي که پر بیدیا، نه قضا کوي.

شعر او شاعري او نور زېرندویه فعالیت یې له هوساییزو (تفریحــي) بوختیاوو څخه ګڼل کېږي، د سفر او ان د ناروغۍ د وخت بوختیــا یــې همدا ده. د یادښت کتابچه یې خو ټول عمر ملګرې ده.

استاد زیار له اوډلي، بیړندویــه، تــرور، خوځندویــه (ډینامیــک) او دودیال (اخلاقي) ژوند دود سره یو سرکښ، سرغړانده او ناړامه خــوی خصلت لري او له هر راز دودیزو او ټولنیزو بندیزونو او اجبارونو سره نه پخلاکېدونکی دی. کله چې استاد زیار ته جوته شي، چې په یوه خبــره کې د حق پر خوا دی، د دوست و دښمن ورم و پند او زور زاري پرې څه اغېزه نه لري. په سپین ویلو او ګوتې نیولو کې نه ډار پېژني او نه لــورو وپاس اوزړه سوی او هغه هم زیاتره بیا د خپلو نژدې اړوندانو او دوستانو پر وړاندې. استاد زیار له ټول کلکوالي، ناړاموالي او انتقادي او انتقامي لوښې سره سره بیا هم د لوی زغم او سپېڅلي احساس څښــتن او پــه دوستۍ او اشنایۍ کې ډېر ټینګ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مېرمنې، زوی او لور سره که څه هم په ټولو چارو کې مرستندوی دی، خو بیا هم ترې دومره خوشاله نه برېښي، ځکه په بدل کې ترې دا سترگې لري، چې هغوی هم دده اوډلی بېړندویه ژونـد دود ومنـــي، د ساري په توگه یې مېرمن د کور په اوډون، سمون، پاک کارۍ او لوښـــو پرېوللو کې د مرستې پاسلنه پرځان نـــه اخلـــي او هغـــه یـــې زیـــاتره د سپېڅلتیایي او اوډلې لوښې او آر (اصل) یوه برخه بولي.

ان تر دې چې د نوي ازاد پښتو شعر او په ځانگړي ډول بیا د پښتو د لیکني معیار لپاره د استاد زیار دا شل کلنې پرله پسې هلې ځلې یوازې دده له پښتونولۍ یا څانگوالۍ څخه نه، بلکې زیاتره د ده له اوډونـــي او ډینامیکي لوښې څخه سرچینه اخلي، دی وایي:

(( هغه بې شمېره ځیلونه (وراینتونه) یا گړدودونه، چـــې پـــه گړنـــۍ (گفتاري) پښتو کې دود لري، باید په لیکنۍ پښتو کې یـــووالی او کـــره والی ومومي. یا په بله وینا- جوړښتي او گرامري وارینتونه توحید کـــړ شي او لغوي وارینتونه تکثیر کړ شي. په بله وینا خـــولې ډېـــرې او بـــې شمېره دي او کنټرول یې ناشونی، څه چې یو بې سرو بوله کار دی، مگر قلمونه هغومره ډېر نه دي، چې کنټرول نه شي)). دی لکه څنگه چې د ټولو پښتنو ټبرونو لپاره د یوه ملي یووالي یا (ملیت) په بله وینا د یوه لوړ ټولنیز پرمختگ او بشپړتیا غوښتونکی دی. دغسې د لیکني ژبیووالي لپاره هم ټینگار کوي او څنگه چې لومړۍ موخه د یو واریز (اوښتون) له لارې کېدونکې ده، دغسې دغه ژبنۍ بشپړتیا هم یوې اگاهانه او ټینگر هاند او هڅې ته اړتیا لري.

د استاد دا خبره، چې ټولنیزه بشپړتیا او ژبنۍ بشپړتیا سره یو له بله نه شلېدونکې بهیرونه دي، یوه پرځای او په نوي علمي نړۍ لیـــد کـــره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې خبره ده. د نړۍ نورې يادې ژبې، لکه (انګليسي، الماني، پرانسي، يا روسي هغه مهال معياري بڼې پيدا کـړي، چـې ببلابېلـو ټبرنيـو او فيوډالي ډلو ټپلو يې پانګوالي اړيکو ته لوړتيا موندلې ده،يا په بله وينـا (ملت) ته رسېدلی دي. استاد زيار پر دې ټينګار کوي، چې (له ټولنيز-اقتصادي انقلاب سره بايد فرهنګي انقلاب هم له ياده ونه ايستل شي او ژبه خو د دواړو بيخبنايي- مخبنايي جوړښتونو يو ګډ آر او اړيکی بلل کېږي (د استاد زيار ژوند ليک چې د اکبر کرګر له خوا د استاد زيـار د زېږېدنې د پنځوسمې کاليزې په غونډه کې اورول شوی و).

استاد زيار تراوسه (۱۳۷۰ل) پورې (۳۰) کاله د ژبو او ادبياتو پوهنځي او په علومو اکاډمۍ کې اکاډيميک خدمت کړی دی. د سويس له بـرن پوهنتون څخه يې د ژبپوهنې، ادبپوهنې او وګړپوهنې لـومړۍ درجــه دوکتورا اخيستې ده. په انګليسي، الماني، روسي، عربي او نورو لرغونو هندو اروپايي ژبو هېږي.

استاد زيار د ښوونځي له نهم ټولګي (۱۳۳۴ل) راهيسې د شاعرۍ او ليکوالۍ ډګر ته راوتلی دی، د ټولو ادبي، علمي او تحقيقي اثارو شــمېر يې (۱۳۰) ټوکو (کتابونو) او( ۱۱۰۰) ليکنو ته رسېږي. په دې کې د ګڼـو علمي، تحقيقي ليکنو ترڅنګ هغه ژورنالستيکي ليکنې هم راځي چې له (۱۳۳۸ل) کال راهيسې يې د هېواد، ننګرهار، وړانګې، اصلاح او د ثور انقلاب حقيقت (پيام) ورځپاڼو او د پوهنې مجلې د خبريال او د هېواد د نورو ټولو مهالنيو خپرونو او راډيو تلويزيون د همکار په توګه د هېواد په دننه او بهر کې په پښتو، دري، انګريزي او الماني ژبو خپرې کړې دي. د پوهاند زيار ادبي، علمي او تحقيقي اثار په لاندې ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱- نومتړنګونه یا اسمي ترکیبونه، په الماني ژبــه د ســویس د بــرن پوهنتون د (۱۹۷۴ل) کال خپرونه.**

**۲- پښتو پښویه (ګرامر) د کابل پوهنتون د (۱۳۶۲ل) کال خپرونه.**

**۳- پښتو لیکلار د ننګرهار د بایزید روښان پوهنتون د (۱۳۶۰ل) کال خپرونه.**

**۵- زنداني نغمې، د چاپ او خپرونې د دولتي کــومېټې د (۱۳۵۹ل) کال خپرونه.**

**۶- سوزونه او سازونه ( د شعرونو غونډ)، د چاپ او خپرونې د دولتي کومېټې د ریاست د (۱۳۶۴ل) کال خپرونه.**

**۷- اور او وینې ( د شعرونو غونــډ) د چــاپ او خپرونــې د دولتــي کومېټې د خپرونو ریاست د (۱۳۶۵ل) کال خپرونه.**

**۸- وینه او مینه ( د شعرونو غونډ) د ملي دفــاع وزارت د (۱۳۶۰ل) کال خپرونه.**

**۹- نظر کوتاهی بر زبان و زبانشناسی، د کابل پوهنتون ګستنر چاپ، (۱۳۶۳ل) کال.**

**۱۰- پښتانه او ورونه ملیتونــه (ژبــاړه) د چــاپ او خپرونــې دولتــي کومېټې د (۱۳۶۶ل) کال خپرونه.**

**۱۱- مینه د زړه په وینه (رومان) تر چاپ لاندې.**

**۱۲- اندو ژوند (شعري طرحې او څلوریزې) د سرحدونو چارو وزارت د (۱۳٦٨ل) کال خپرونه.**

**۱۳- پښتو- دري فرهنګ تر چاپ لاندې.**

**۱۴- ګلکڅونه (شعري غونــډ) د افغانســتان د لیکوالــو د انجمــن د (۱۳۶۷ل) کال خپرونه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵- الماني- پښتو فرهنګ- د برلین پوهنتون په غوښتنه د (۱۳۶۷ل) کال خپرونه.**

**۱۶- د پښتو الماني ژباړيز پرابلمونه ( په الماني) ناچاپ.**

**۱۷- افغان- شوروي فرهنګي اړیکي، په دوستي مجله کې یې برخه برخه چاپ شوې ده.**

**۱۸- سپین غر (شعري غونډ) ناچاپ.**

**۱۹- کارپوهه (ارګولوژي) برخه برخه په فولکور مجله کې خپره شوې ده.**

**۲۰- ټولنوال ریالیزم برخه برخه په هنر او ژوندون مجلو کې خپور شوی دی.**

**۲۱- پښتو ګړدودونه (لهجې) په وړمې مجله کې چاپ شوي دي.**

**۲۲- پښتو آر پوهه (اتمولوژي) تر ((ژ)) پورې په وړمه مجله کې خپره شوې ده.**

**۲۳- پښتو بدلمېچ یا پښتو شعر څنګه جوړېږي؟ د اطلاعاتو او کلتور وزارت د (۱۳۶۹ل) کال خپرونه.**

**۲۴- لیکونه (په پښتو- دري- انګلیسي او الماني) ناچاپ.**

**۲۵- ځان پېښې (په پښتو- دري- انګلیسي او الماني) ناچاپ.**

**۲۶- د هېواد پر (۱۴) ژبو ( پښتو-دري، اوزبکي، ترکمني، بلوڅي، براهوي، واخي، پشه یي، پاراسوني، کتي ((نورستاني))، ګوجرو ((ګجراتي))، تیرو ((تیراهي))، شغني، کشمونډي (۱۰۴) ټوکه ګړدودودي (لهجوي) څېړنې، چې د سویس د ملي فونډ له خوا د یونسکو په سپارښتنه، د افغانستان ( د ژبپوهنې اتلس) په نامه په برن پوهنتون کې تر کار لاندې دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۷- پښتو، دري، پشه يي فولکوري څېړنې.**

**۲۸- تر (۱۱۰۰) زياتې علمي، ادبي، تحقيقي او ژورناليستيکي ليکنې يې په پښتو، دري، انگليسي او الماني، تر هېواد دننه او د باندې خپرې شوي دي. دغه راز يې يو لړ ادبي اثار د شوروي اتحاد په څو ژبو او مجاري، الماني، انگليسي، بلغاريايي او داسې نورو ژبو اړول شوي او په اړوندو هېوادو کې خپاره شوي دي.**

**د اثارو ټول شمېر يې له مقالو پرته:**

**ـ ادبي (۱۰) اثره.**

**ـ علمي (۱۶) اثره.**

**ـ تحقيقي (۱۰۴) اثره.**

**ـ مجموعي (۱۳۰) اثره.**

**( ژوندون مجله، (۱۳۶۷ل) کال د ميزان او عقرب گڼه).**

**استاد زيار د پورتنيو ياد شوو اثارو په درلودلو سره په ټول هېواد کې تر ټولو لوړ ملي ريکارډ ټينگ کړی دی. استاد د هېواد په نويو او زړو ژبو کې پوره تخصص لري. استاد د اروپايي او بين المللي ژبپوهانو د ټولنې، د کابل پوهنتون او د ژبو او ادبياتو د پوهنځي د علمي شوراگانو او د علومو اکاډمۍ د ژبنيو او ادبي علومو د انسجام د کمېټې غړی دی او د علامه سيد جمال الدين افغان د فرهنگي ټولنې مشر هم دی.**

**همدارنگه استاد زيار په گڼو ملي او بين المللي علمي او سياسي غونډو کې گډون کړی او ليکنې او ويناوې يې په کې اورولې دي.**

**دا و د استاد زيار د اندو ژوند لنډ جاج. په دې ډول استاد زيار لــه زيـاتو ناخوالو سره سره په خپل کارو زيار او هاند وهڅې نن دې ځای ته رارسېدلی دی، چې هېڅکله يې پښتانه او پښتانه ليکوال او اديبان نه شي هېرولای.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد زیار ډېرې لیکنې کړې دي، د ژبې او ادب په هره برخه کې یې هر هر څه لیکلي دي، زیار یې کښلی دی، منډې یې وهلې دي، ستړی شوی او د پښتو ادب او پښتني فرهنګ هرې برخې ته یې یو څه ورکړي دي. فکـر کوم، دی په خپل ټول عمر کې ډېر کم وخت او که په زغرده ووایو یوه ګړۍ هم بې قلمه او بې کاغذه نه دی پاتې شوی، خو دا ټول یې د چا لپـاره او د څه لپاره؟ ځواب یې روښانه دی، چې دا هر څه یـې د خپلـې ژبـې، ادب، فرهنګ او خپلو وګړو لپاره کړي دي.

زیار د خپل ژوند زیاته برخه د خپلو خلکو ادبیاتو ته ورکړې ده، دی وایي:

(( لیکنه زما د ژوند نه جلاکېدونکی ټوک دی، له هغې راهیسـې چـې خپل ښي او کیڼ لاس مې پېژندلی دی، زه لیکنه کوم او لیکنه مې د ژوند ملګرې شوې ده)).

یو لیکوال دده په باب لیکي: (( زه استاد زیار د یـو پرکـاره خـو دقیـق لیکوال او محقق په توګه پېژنم. دی چې هر څه لیکي، په ژوره توګـه یـې لیکي، ښه یې لیکي، ښکلی یې لیکي او له یـوه ژور احسـاس او پښـتني احساس سره یې وړاندې کوي، دده هڅه په دې کې ده، چې په لیکنه کې د اړوندې موضوع ټولې پوښتنې اواروي او نه پرېږدي، چې لوستونکی په تیاره کې پاتې شي ( د نورمحمد سهیم مقاله، د استاد زیـار پنځوســمه کـالیزه، ناچاپ).

د هند یو لیکوال ((سادهن مکرجي)) د خپل کتاب ((افغانســتان زوال سی عروج تک))، چې پر (۱۹۸٤م) کال د هند په نوي ډهلي کې چاپ شوی دی. په (۱۲۶) مخ کې د پوهاند زیار یادونه کوي او هغه د پښتو یو ستر عالم بولي. همدارنګه په ((تاریخ نوین افغانستان)) کې هم د یوه ستر فرهنګي او ټولنیز شخصیت په نامه یاد شوی دی، نو باید د داسې ستر انسان درنـاوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشي او په درنه سترګه ورته وکتل شي، چې د خپــل زړه پــه وینــو خپــل فرهنګ او ادب ته د زمانې له ناخوالو سره سره کار کوي او پرمخ ځي. لکــه څنګه چې د استاد زیار له لنډ نوم (تخلــص) څخــه څرګنــدېږي، دی یــو زیارکښ انسان دی، له همدې امله خو یې نن تر دې ځایه ځان رارسولی دی او پر موږ پښتو مینانو باندې یې د احسان سـیوری پــروت دی. زه دلتــه د استاد په باب له زیاتو خبرو تېرېږم، ځکه که هر څــومره خبــرې وربانــدې وکړم، بیا به هم کمې وي. هغه د شاعر خبره دلته سمه راځي چې وایي:

کتاب وصف ترا آب بحر کافی نیست

که ترکنم سر انګشت و صفحه بشمارم

او یا دا پښتو لنډۍ:

ستا د ښایست ګلونه ډېر دي

ځولۍ مې تنګه زه به کوم کوم ټولومه

تر دې وروسته راځو، د پوهاند زیار لیکوالۍ، اثارو او دده اثارو څرنګوالي ته.

لکه څنګه چې دمخه مو وویل، پوهاند زیار د خپلې لیکوالۍ له پیل نــه، یانې له هغه وخت نه، چې دی لا پنځلس کلن و، بیا تر ننه پورې د ادبیاتو په بېلابېلو برخو کې یې خپل قلم ازمویلی او د پښتو ادب په بڼ په هر ګــوټ کې یې زرغون نیالګي ایښي دي. د یوه لیکوال خبره ده چې وایي:

(( استاد زیار د خپلې هغې مینې له مخې چې د خپل فرهنګ له غوړېدا او سمسورتیا سره یې لري، د پوهې او ادب هېڅ یوه خوا بې برخــې نــه ده پرېښې او د هغې هر نیالګی یې د زړه په وینو خړوب کړی دی، روزلی یــې دی، پاللی یې دی او ثمر ته یې د رسېدو په هیله پــر خپــل ځــان بانــدې کړاوونه ګاللي دي او اوس هم لګیا دی، کړاوونه ګالي، پر ځان سختۍ تېروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بې خوبۍ زغمي، چې په دې توګه دغه نیالګی زموږ راتلونکو پښتونو (نسلونو) ته له خوږو او په زړه پورې مېوو سره وسپاري)).

لکه څنګه چې ښکاره ده، استاد زیار د ژبې، ادب او فرهنګ په بېلابېلو برخو کې ډېر ګټور او ارزښتمن کارونه کړي دي. نو که موږ اوس د استاد ټولې لیکنې او اثار په ځیر سره وګورو، ویې څېړو او مطالعه یې کړو، نو د هغو څرنګوالی او شننه به موږ ته استاد زیار په لاندې نومونو راوپېژني:

۱- ژورنالیست زیار ۲- شاعر زیار ۳- څېړنیال زیار ۴- کره کتونکی زیار - ۵- داستان لیکونکی زیار ۶- ژبپوهاند زیار ۷- ژباړونکی زیار.

دا ډلبندي ما له خپل فکره کړې ده، ښایي نور یې پر نورو برخو ووېشي، خو له دې سره سره بیا هم د استاد نورې لیکنې شته، چې د څرنګوالي له مخې د استاد په پورتنیو نومونو کې نه راځي، خو په ټولیز (عمومي) ډول یې زیاتې لیکنې په پورتني نومونو کې په یوه نه یوه کې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژورنالیست زیار

استاد زیار د خپلې وینا له مخې لومړی ژورنالیستیکي کارونه پـرمخ وړل او ژورنالیستیکي لیکنې به یې کولې، هغه هم په ډېره زیاته کچـه. دې کار بېلابېل لاملونه (عوامل) درلودل، یو دا چې استاد زیار د هغـه وخت د ځینو لیکوالو، چې دا کارونه یې پرمخ وړل، تر اغېزې لاندې و او بل دا چې د خپلو اقتصادي ستونزو له کبله دې ته اړ و، چې له ورځپاڼو سره همکاري وکړي، د هغوی د خوښې مطالب وربرابر کړي او ورســره ورسره خپله پښتني مینه څرګنده کړي.

یوه بله د یادولو وړخبره داده، چې پر یـوه مهــال د ژورنالیســتیکي لیکنو ترڅنګه د ده شعرونه هم چاپېدل او له راډیو خپرېدل او ځینې لا تر ژورنالیستیکي لیکنو دمخه چاپ شوي دي، یانې استاد زیار مخکې تر هغه چې ژورنالیست شي، شاعر و، خو اصلي خبره چې موږ ورباندې ټینګار کوو، هغه داده چې استاد زیار له (۱۳۳۵ل) کال راهیسې د هېواد اخبارو او مجلو ته بې کچه ژورنالیستیکي مطالب کښلي او تیار کړي دي او له (۱۳۳۸ل) کال څخه یې د (هېواد) د ورځپاڼې د لومړي خبریال په توګه دنده ترسره کړې ده.

استاد زیار پر (۱۳۳۵- ۱۳۴۵لمریز) کلونو له انیس ورځپــاڼې ســره قلمي همکاري لرله او همدارنګه به یې اصــلاح ورځپــاڼې تــه مطالــب برابرول. له (۱۳۳۷- ۱۳۴۳ل) کلونو پورې د عرفــان او پــوهنې مجلــو خبریال او قلمي همکار و. هغه وخت او راوروسته یې د هېواد په بېلابېلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځپاڼو، جریدو او مجلو کې زیاتره مرکې، راپورتاژونه، لیدنې کتنې، هنري او ورزشي لیکنې، خبرونه، ګزارشونه، یونلیکونه او داسې نورې ژورنالیستیکي لیکنې خپرې شوې دي.

سره له دې چې استاد زیار تراوسه پورې کوم ځانګړی تیوریک ژورنالیستیکي اثر نه لري، خو د ژورنالیستیکي لیکنو شمېر یې خورا زیات دی. زه یې دلته د ځینو لاسته راغلو ژورنالیستیکي لیکنو سرلیکونه له اخځونو سره راوړم او پر څرنګوالي یې غږېږم. چې استاد زیار د خپلې لیکوالۍ له پیل څخه تراوسه پورې د هېواد په مطبوعاتو کې چاپ کړي دي. خو د یوه ټکي یادول یې ضرور دي، چې استاد زیار ډېرې زیاتې ژورنالیستیکي لیکنې چاپ کړي دي او د ټولو راټولول یې لا ډېر ګران کار دی او لا بېخي کېدون (امکان) نه لري، په خپله وایي: (( ما به خپل ژورنالیستیکي مطالب په خپله د مرکز ورځپاڼو او مجلو ته ورکول، چې همکاري مې ورسره لرله همدا راز مې په (۱۳۳۵ل) او (۱۳۳۶ل) کلونو کې یو زیات شمېر ژورنالیستیکي لیکنې د مطبوعاتو مستقلې ادارې ته ورکولې چې کریم ((روهینا)) یې مسوول او سلیمان لایق یې مرستیال و. هغو زما دا لیکنې د هېواد زیاترو ولایتونو او مهالنیو او ورځپاڼو ته لېږلې او ماته به یې ځای پرځای حق الزحمه راکوله، په دې ډول زما یو زیات شمېر ژورنالیستیک مطالب د هېواد د ټولو خپرني ارګانونو له خوا چاپ شوي دي)). خو زما هیله دا وه، چې زه د استاد ټولې لیکنې راټولې کړم، خو پر دې کار بریالی نه شوم. زه لومړی عامه کتابتون ته ولاړم هلته مې پر کار پیل وکړ، ځینې مطالب مې پیدا کړل زیاتره کلکسینونه نیمګړي وو او د ځینو کلونو خو لا هېڅ نه شته او د ولایتونو د ځینو خپرونو خو لا هېڅ پته نه لګي. بیا مې د علومو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکاډمۍ کتابتون ته مخه وکړه، هلته مې هم دا حال ولید، په خپلــه لــه استاد زیار سره هم د هغو ورځپاڼو، مجلو او جریــدو ګنــې، چــې د ده لیکنې په کې چاپ شوي، نه شته او له دې کبلــه یــې د ټولــو لیکنــو راټولول او د هغو اخځ ورکول یو ناشونی کار دی، نو زما دلتــه هماغــه ورځپاڼې، مجلې او جریدې چې په ځینو کتابونو کې او یا له ځینو کسانو سره خوندي دي، تر څېړنې لاندې ونیولې او پر همدې مې بسنه وکړه.

## ۱- د میدان کتنه:

دا د استاد زیار د هغه ژورنالیستیکي لیکنې نوم دی، چې د وردګــو ولایت د یوه راپور تاژ په بڼه لیکل شوی دی. په دې لیکنه کې د وردګو ولایت د میدان د خلکو دود دستور په باب معلومات ورکــړ شــوي دي. همدارنګه له دې لیکنې سره یوځای د کرکیلې پر وخت ځینې عکسونه چاپ شوي، چې په خپله یې اخیستې دي. دا لیکنه د وړمې مجلــې د (۱۳۴۲ل) کال د ۵-۶ ګڼې په ۳۵-۴۳ مخونو کې خپره شوې ده.

## ۲- د سرې کال د ښوونکي د ورځې ګزارشونه:

د پوهاند زیار د هغه ژورنالیستیکي لیکنې نوم دی چې د یوه خــورا اوږد ګزارش په بڼه برابر شوی، په دې لیکنــه کــې یــې د (۱۷) غونــډو ګزارشونه راغلي، چې د ښوونکي دورځې په ویاړ جوړې شــوې وې. دا لیکنه د پوهنې مجلې د (۱۳۳۹ل) کال د (۹) ګڼې په (۶۷-۷۴) مخونو کې خپره شوې ده.

## ۳- د ازموینو ګزارشونه:

دا د استاد زیار د یوې ژورنالیستیکي لیکنې نوم دی، چې په هغه کې له ۹ تعلیمي موسسو څخه د نهایي ازموینو د اخیستلو ګزارشونه برابر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي دي. دا لیکنه د پوهنې مجلې د (۱۳۳۹ل) کال د لسمې ګڼې پــه ۵۷-۶۲ مخونو کې چاپ شوې ده.

## ۴- د خوښۍ او سوله ییز ژوند یوه بېلګه:

دغه لیکنه د المان په دیموکراتیک جمهوریت کې پر فاشیزم باندې د برې د څلوېښتمې کالیزې په ویاړ د جوړو شوو خوشالیو او جشنونو یو لنډ راپورتاژ دی، چې د ثور انقلاب حقیقت ورځپاڼې د (۱۳۶۴ل) کال د (۲۵۵)مې ګڼې په (۵) مخ کې چاپ شوی دی.

## ۵- اګاهانه هرکلی:

دا لیکنه چې د اساسي قانون د طرحې د اعلان په اړوندتیا له ننګرهار ولایت څخه د یوه راپورتاژ په بڼه کښل شوې ده. په دې راپورتاژ کــې د اساسي قانون په باب خبرې شوي دي. دا راپورتاژ د ثور انقلاب حقیقت ورځپاڼې د (۱۴-۷-۶۶) نېټې په لومړي او درېیم مخ کې چاپ شوی دی.

## ۶- د استاد میوندي ویرمن شهادت:

دا د پوهاند زیار بله ژورنالیستیکي لیکنه ده، چې د پوهاند میوندي د شهادت په باره کې لیکل شوې ده او په هغه کې د میونــدي د ژونــد او شخصیت په باب معلومات ورکړ شوي دي. دا لیکنه د وږمــې مجلــې د (۱۳۵۱ل) کال د (۴-۵) ګڼې په (۱-۲) مخونو کې خپره شوې ده.

## ۷- د سویس له برن څخه لیک:

د پوهاند زیار یو لیک دی، چې د سویس له برن پوهنتون څخه یــې کابل مجلې ته رالېږلی دی، دا لیک د کابل مجلې د (۱۳۴۹ل) کال د (۴) ګڼې په (۵۷-۵۸) مخونو کې چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸- د وړمې اتلسم خپرنی کال:

د استاد زیار یوه سرلیکنه (سرمقاله) ده چې د وړمې مجلې په بــاب يې کښلې ده. دا لیکنه د وړمې مجلې د (۱۳۵۳ل )کال د لومړۍ ګڼې په (۱-۲) مخونو کې خپره شوې ده.

## ۹- زموږ ملي واکمني بل الترناتیف نه لري:

دا د هغه ژورنالیستیکي لیکنې نوم دی، چې د یوې مرکې په ترڅ کې وړاندې شوی او د کابل پوهنتون اوونیزې د (۱۳۶۷ل) کال (۱۶) ګڼې په (۲) مخ کې چاپ شوې ده.

## ۱۰- د ثور انقلاب لسمه کالیزه د افغانانو د نېکمرغۍ کالیزه:

دا هم یو ډول ژورنالیستیکي لیکنــه ده، چــې د کابــل پوهنتــون د اوونیزې د (۱۳۶۷ل) د ثور د اوومې نېټې په ګڼه کې خپره شوې ده.

## ۱۱- جنګیالي ځوانان باید د پوهې او زده کړې په ډګر کې هم مخکښ اوسي:

یوه ژورنالیستیکي لیکنه ده، چې د ( درفــش جوانــان) جریــدې د (۱۳۶۰ل) کال د (۱۱) مې میاشتې په ګڼه کې خپره شوې ده.

## ۱۲- د ثور انقلاب او افغاني مېرمنې:

یوه ژورنالیستیکي او څېړنیزه لیکنه ده، چې د ((زنــان)) مجلــې د (۱۳۶۰ل) کال د (۲) ګڼې په (۱۹) او (۲۰) مخ کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳- ټول ملي او هېوادپال ځواکونــه دې د یــوې نــوې نېکمرغې ټولنې د جوړولو لپاره سره یو موټی شي:** دا هم د پوهاند زیار یوه ژورنالیستیکي لیکنــه ده، چــې د هېــواد ورځپــانې د ۱۳۵۹ل کال د (۱۰) میاشتې د (۲۳) نېټې په گڼه کې خپره شوې ده.

## ۱۴- پراخه پلار وطنه ملي جبهه:

د ملي جبهې په باب د پوهاند زیار یوه ژورنالیستیکي لیکنه ده، چې د هېواد ورځپانې د (۱۳۶۰ل) کال د درېیمې میاشتې د (۱۹) مې نېټې په گڼه کې خپره شوې ده.

## ۱۵- د شوروي لیدنه کتنه:

د استاد زیار په وینا تر یاد شوي سرلیک لاندې یې د وږمــې مجلــې د (۱۳۵۶ل) کال په یوه گڼه کې یو راپورتاژ خپور کړی دی. خو ددغه کال د اړتیا وړ گڼه زما لاس ته رانغله. همدارنگه اســتاد زیــار وایــي: د هېــواد ورځپانې د (۱۳۵۹ل) کال په یوه گڼه کې یې د هند ســفر پــه نامــه یــو راپورتاژ خپور کړی دی.

## دیموکراتیک المان د سولې او سوسیالیزم په سنگر کې:

دا هم د پوهاند زیار یو بل راپورتاژ دی، چې د المان له دیموکراتیــک جمهوریت څخه برابر شوی دی او د ثور انقلاب حقیقت ورځپانــه کــې چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دیموکراتیک المان د تېرو تاریخي خوړو ترخو د پاتوړي (وارث) په توګه:

د پوهاند زیار یو بل راپورتاژ دی، چې د هېواد ورځپـانې د (۱۳۶۱ل) کال په یوه ګڼه کې خپور شوی دی.

## ټولنیزه هوساینه:

د استاد زیار یو بل راپورتاژ دی، چې له ختیز المان څخه یې برابر کړی او د هېواد ورځپاڼې د (۱۳۶۱ل) کال په یوه ګڼه کې خپور شوی دی.

## هیتلري وژنځایونه:

د پوهاند زیار یو بل راپورتاژ دی، چې د المان له ختـیځ جمهوریـت څخه برابر شوی دی او د هېواد ورځپاڼې د هماغه کال په یوه ګڼه کـې خپور شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاعر زیار

شعر زموږ د ادب یوه غوره برخه ده او ځانګړی ځېرکی تراوسه پورې په پښتو ادب کې تر نورو ټولو ادبي ژانرونو او برخو د شعر برخه زیاته ده، زیات مینه وال لري، زیات لیکونکي لري او زیات لوستونکي. استاد زیار زموږ د ادب په دغه برخه کې نه هېرېدونکي کارونه کړي دي او کوي یې. ده زیات شعرونه لیکلي، د وخت حالات یې په کې ښه ترا انځور کړي دي او تل ترتله د پښتو شعر د بهیر د مخکښانو په ډله کې پاتې شــوی او لا کله ترې دمخه شوی هم دی.

استاد زیار د اوسني لیکوال لیکونکي استاد ((بېنوا)) په غوښته پــر (۱۳۴۱ل) کال خپل ژوند لیک داسې کښلی و:

(( له لسم ټولګي څخه نوی بریالی شوی وم، چې د تېــر بــا مشــقته کړکېچن یا له خواږه سوزه ډک ژوند خاطراتو مې د تحت الشعور له پردو څخه د شعور صحنې ته پرله پسې په راوتلو پیل وکړ، چې ورو ورو یــې زما له معصومانه عشقي احساساتو سره اړخونه بدل کړل. دې احساساتو زما له فطري او کسبي انکشاف څخه الهام واخیست، لومړی یې زما ژبه وخوځوله او بیا د قلم په ژبــه د (شــعر) پــه نــوم راڅرګنــد شــول)). (عبدالروف بېنوا: اوسني لیکوال (۳) ټوک، (۱۳۴۶ل) کال، (۱۱۰۸) مخ).

استاد زیار په زیاته کچه شعرونه لیکلي او وخت پر وخت یې د هېواد په مطبوعاتو کې چاپ کړي دي. د ده لومړنی شعر پر (۱۳۳۵ل) کــال د زیري جریدې له خوا خپور شوی او وروسته یې بیــا د هېــواد، انــیس،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اصلاح، ننګرهار... ورځپاڼو او د پوهنې، کابل، عرفان په مجلو کې په زیاته کچه شعرونه چاپ کړي او له راډیو څخه یې خپاره کړي دي او په دې توګه د څومره والي (کمیت) له پلوه هم له خپلو هم مهالو څخه وروسته نه دی پاتې شوی. په دې ډول استاد له پښتو شاعرۍ سره یوځای- پارسي شاعري هم کړې ده، خو راوروسته یې پرې ایښې ده.**

**استاد لومړی پارسي شعر د(۱۳۳۳ل) کال د کب پر میاشت ویلی او د (۱۳۳۴ل) کال د نوروز پر ورځ یې د ابن سینا منځني ښوونځي له خوا په جوړه شوې غونډه کې اورولی دی. د سر مصرع یې په دې ډول ده:**

**اوان وقت گل رسید بشگفت گلها تازه تر**

**استاد زیار په بېلابېلو برخو کې خپل قلم ازمویلی دی او د پښتو شعر په زیاتو برخو او زیاتو فورمونو کې یې شعرونه لیکلي دي. څلوریزې یې کښلې دي، نظمونه یې لیکلي او اوس خو یې په زیاته کچه د ازاد شعر د مخکښۍ دنده پر غاړه اخیستې ده.**

**دلته د ده د شعر پر ټولو اړخونو باندې غرېدل او خبرې کول ډېر کار غواړي او زما غوندې د کم منګي او کم ازمېښتي کار هم نه دی او غټو غټو لیکوالو او کره کتونکو ته اړتیا لیدل کېږي، چې د استاد زیار د شاعرۍ د اړخونو د څرنګوالي په باب څېړنې او لیکنې وکړي، خو زه دلته یوازې دومره څه لیکم، چې نورو ته یې لږ تر لږه د شاعرانه هلو ځلو د پرله پسې بهیر یو لنډ انځور هومره وړاندې کړم.**

**استاد زیار له ډېر پخوا راهیسې، یانې له (۳۶) کلونو راهیسې شعرونه لیکي، خو بیا هم تر ډېره وخته پورې یې د شعرونو ځانګړې مجموعه نه وه چاپ شوې. متې یې پر (۱۳۵۹ل) کال لومړی شعري غونډ ((زنداني نغمې)) چاپ شو. دغه کار البته ځینې عوامل لري، چې زه یې دلته له**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځېړلو ډېره کوم، یوازې د ده پر شاعرانه فعالیتونو رڼا اچوم او هغه شعري غونډونه یې درپېژنم، چې تراوسه پورې چاپ یا چاپ ته چمتو دي.**

**یو بل ټکی هم د یادولو وړ دی او هغه دا چې استاد زیار یو زیات شمېر شعرونه په بېلابېلو وختو کې دبېلابېلو جریدو، مجلو او ورځپاڼو او راډیو له لارې خپاره کړي دي، د هغو ټولو راټولول یو ناشونی کار دی، خو یــو زیات شمېر یې په شعري غونډو کې راغلي دي. له همدې کبله یې یوازې د شعري غونډونو پر پېژندنه بسنه کوو. خو تر دې مخکې، چې د هغــه شعري غونډونه وښیو، ښه به وي چې د پښتو شعر او شاعرۍ په برخــه کې یې ستر نوښت یانې د ازاد شعر مساله هم له یاده ونه باسو.**

**زیار د هغو مخکښو شاعرانو سرلاری دی، چې په پښتو کــې د شــعر نویوالي او نړیوالي لپاره سرسخته مبارزه، هاند او هڅه کوي، کله خــو دی د خپلې دغې سرسختې مبارزې او د هغې بې کچه مینې له مخــې، چې د شعر له دې ځانګړي فورم سره یې لري، د ادبي چاپېریال د ځینو لنډ اندو او لنډ پارو دود پالو ( عنعنه پسندانو) له ناوړه چلند او د ځینو نورو له ګونګسیو سره مخامخېږي. خو زیار هغه دومره ســتر خنــډ نــه بولي، لکه څنګه چې د ده په پېژندنه کې مو ویل، دی په ډېره ګڼه ګونه کې هم خپله لار باسي او همدا راز په دې برخــه کــې هــم د هــېڅ راز خنډونو خیال نه ساتي.**

**دی په ځانګړې توګه زیاتره ځوان شاعران دېتــه هڅــوي، چــې ازاد شعرونو ته مخه وکړي، خو دا په دې مانا نه ده، چې ګڼې زیار زموږ د ادب او په ځانګړي ډول د شعر له پخوانیو فورمونو سره دښمني ښیي، بلکې دی وايي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(( موږ باید د شعر په نورو پخوانیو جولو (فورمونو) کې داسې شعرونه ولیکو، چې تر مخکنیو غوره وي او قافیه او ردیف زموږ فکر او سوژې ته ضرر پېښ نه کړي. خو که چېرې د غزل غوندې د شعر په نورو پخوانیو چوکاټونو کې مو شعر لیکنه زموږ ترمخه شاعرانو ته نه شي رسېدی، نو ښه به دا وي، داسې یوه لاره وسنجوو، چې هم تر پخوانیو شاعرانو دمخه شو او هم زموږ لپاره نوی وي او هم په کې خپل فکر او خیال په ښه ډول ځای کړو)).

د استاد زیار پورتنۍ خبرې که ځینې غزل بول او دودیزوال شاعران راباندې راونه پارېږي، تر ډېره ځایه درستې دي. همدا اوس زه د یوه غزل بول شاعر، چې تر ټولو زیات ازاد شعر د رامنځته کېدو مخالف دی، تر ۸ ټوټو څخه زیات تش په نامه غزلې وړاندې کولای شم، چې په یوه قافیه، یوه ردیف په یوه محتوا او مانا او هغه هم په لا ډېره زړه او سولېدلې بڼه چې په سلګونو پلا زموږ په ادب کې تکرار شوې خپرې شوې دي.

خو له دې سره جوخت موږ له ښه مرغه داسې شاعران هم لرو، چې د غزل په فورم کې یې ډېر پیاوړی اندو خیال رانغښتی دی او داسې شاعران بیا د ازاد شعر د رامنځته کېدو خنډ کېږي هم نه او د هر ادبي ژانر رامنځته کېدو ته په درنه سترګه ګوري. په هره توګه هر څوک چې د شعر په هر چوکاټ کې څه لیکي، باید ښه یې ولیکي او تر پخوانیو یې ډېر ښه ولیکي.

ازاد شعر په پښتو ژبه کې یوه نوې پدیده ده، نوې پدیده که هر څومره د خلکو په ګټه هم وي، په پیل کې بیا هم له مخالفتونو سره مخامخېږي. په هر ډول استاد زیار په پښتو کې د ازاد شعر د یوه مخکښ او زړور مبلغ په توګه باید له مخالفتونو سره مخامخ شي. خو راتلونکې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



روښانه ده او د پښتو ازاد شعر د لومړۍ مستقلې چاپي مجموعې د چاپوونکي او درلودونکي په توګه دا حق لري، چې د خپلې ټاکلې لارې دفاع وکړي او پر مخ ولاړ شي. لوی استاد ((حبیبي)) لا هغه وخت د استاد زیار په باب کښلي وو:

(( د پښتو د اوسني شعر د تنکي بڼ یو بل غوړېدلی ګل دوکتور زیار دی. په زړو قالبونوکې نوي موضوعات ځایوي، خو په دې وروستیو کې یې د شعر فورم هم اوښتی او د فورم او فون په لحاظ منظومې نوی والی لري...)). ( د اصف بهاند مقاله- د استاد زیار پنځوسمه کالیزه، ناچاپه.)

اوس راځو د استاد زیار شعري غونډونوته:

خو تر دې مخکې چې د هغه د شعري غونډونو پر پېژندنه پیل وکړم، خپله یاده شوې خبره بیا راغبرګوم، هغه دا چې استاد ګڼ شمېر شعرونه پخوا په ورځپاڼو، مجلو او جریدو کې خپاره کړي دي. د هغو ټولو راټولول یو ناشونی کار دی، ځکه چې د ورځپاڼو، جریدو او مجلو کلکسینونه نیمګړي دي، دا دی دلته بیا یو ځل د هغو خپرونو نومونه اخلم، چې د استاد شعرونه په کې په زیاته کچه په انفرادي ډول خپاره شوي دي:

د هېواد، انیس، پیام ورځپاڼې، د پوهنې او عرفان مجلې، د ننګرهار، کندهار او پکتیا مجلې، زیري جریده او نورې زیاتې خپرونې، چې له دېرشو کلونو راهیسې یې خپرونې کړې دي. اوس یې دلته یوازې پر هغه شعري غونډونو، چې تراوسه پورې چاپ او یا ناچاپ دي، رڼا اچوو:

تر ټولومخکې یې د لومړي شعر لومړۍ او وروستۍ مسره چې د زیري اوونیزې د (۱۳۳۵ل) کال په مني کې خپور شوی، راوړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځو به یو موړه له کاروانه پاتې**

**(لومړۍ مسره)**

**د وطن غم کې شه کوشانه پاتې**

**(وروستۍ مسره)**

## زنداني نغمې:

**زنداني نغمې د استاد زیار د شعرونو لومړی چاپي غونډ دی چې پــر (۱۳۵۹ل) کال د بیهقي موسسې له خوا په ښکلې کچه او سکښت چاپ شوی دی. په دغه شعري غونډ کې، چې ټول (۱۰۰) مخونــه لــري (۳۵) ټوټې شعرونه راغلي دي. د دې مجموعې په شعرونو کې هم د استاد زیار د نورو شعرونو په شان د ده سیاسي کړنلاره او سیاسي مفکوره له ورایه ښکاري. د دې مجموعې شعرونه د فورم له مخې ازاد او ځینې نیمه ازاد او ځینې یې په نوروفورمونو کې راغلي دي. پر دغه شعري غونډ باندې د (زنداني نغمې) تر سرلیک لاندې د اکبر کرګر له خوا په (۴) مخونو کې یوه سریزه کښل شوې ده.**

**همدارنګه دمجموعې په پیل کې په ۶ مخونو کې د (زنداني نغمې) په نوم په خپله د استاد زیار یادښت راغلی دی. د ا دی دلته له دغه شعري غونډ څخه یو دوه بېلګې را اخلو:**

### ازاده مینه

**ســــتا لـــه خـــوا نـــه بېلیـــدی نـــه شـــمه زه**
**ســــتا لـــه مینــــې صـــبرېدی نـــه شـــمه زه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چــــې نیـــــولې مـــــې ده ســـــتا د وفـــــا لاره
لــــــه دې لارې کړېــــــدی نــــــه شــــــمه زه
نـــــا امیـــــده ســـــتا د ســـــترګو لـــــه ککونـــــه
لکـــــه اوښـــــکه څڅېـــــدی نـــــه شـــــمه زه
یـــــم رنځـــــور ســـــتا د پېغلوټـــــو کرشـــــمو زه
بـــــې وصـــــال دې رغېـــــدی نـــــه شـــــمه زه
لـــــه خپـــــل ځانـــــه تېرېـــــدل ماتـــــه اســـــان دي
خـــــو لـــــه تانـــــه تېرېـــــدی نـــــه شـــــمه زه
زه یـــــم ســـــتا هغـــــه ازاده مینـــــه زیـــــاره
چـــــې پـــــه جېـــــل کـــــې ځایېـــــدی نـــــه شـــــمه زه!

## د زندان پسرلی

راغلـــــه مـــــې خواتـــــه غلـــــې غلـــــې وړمـــــه
د تـــــور زنـــــدان لـــــه وســـــپنیزو پنجـــــرو
د ننګرهـــــــــار د ســـــــــپرلنیو ګلـــــــــو
دلمـــــــر دوړانګـــــــو پـــــــر زرینـــــــو وزرو
دلتـــــه پراتـــــه دېـــــر د فاشـــــیزم دښـــــنه
د مېنـــــې مینـــــې پـــــه ګنـــــاه بنـــــدیان
د یـــــو ولـــــس د یرغملـــــو پـــــه نـــــوم
د ســـــتر بـــــري پـــــه هیلـــــه ګـــــالي زنـــــدان
دلتـــــه بنـــــدیان د هغـــــو زړو څښـــــتنان
چـــــې د وطـــــن پـــــه عشـــــق ټوپونـــــه وهـــــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــــې ســـــر ترپایــــه یــــې پــــه رگ رگ کــــې
انســــــاني مینـــــــه غورځونگونـــــه وهــــــي.

## وینه او مینه

وینه او مینه د پوهاند زیار دشعرونو هغه غونډ دی، چې پر (۱۳۶۰ل) کال د ملي دفاع وزارت په چاپ خونه کې د (۱۰۰۰) ټوکو پــه تیــراژ پــه ښکلې کچه او سکښت چاپ شوی دی.

په دغه شعري غونډ کې د استاد ځینې هغه شعرونه راغلي دي، چې د (۱۳۳۹- ۱۳۶۰ل) کلونو په اوږدو کې یې ویلي دي. دا مجموعــه پــه ښکلي ډیزاین او انځور ښکلې شوې ده او د نورو کتابونو په پرتلــه پــه وړوکي (جیبي) کچه له چاپه راوتلې ده.

ددې غونډ په پیل کې د (سخن کوتــاهی در بــاره وینــه او مینــه) د دوکتور اسدالله حبیب له خوا پــه درې مخونــو کــې د شــاعر او د دې مجموعې د شعرونو د څرنگوالي په باب یوه سریزه کښل شوې ده. پــه دې شعري غونډ کې چې ټول (۱۳۲) مخونه لري، (۱۱۹) ټوټې شــعرونه ځای شوي دي، چې زیات شمېر یې څلوریزې او ځینې یې ازاد شعرونه او اډانې یا سپین شعرونه دي.

دا شعرونه د استاد زیار د اندو ژوند د څو اړخونو هنداري بلل کېږي. په تېره یې بیا د سیاسي ژوند، لکه چې وایي:

(( زما دغه وینه او مینه زما د (۲۲) کلن ژوند او اند د بشپړتیایي بهیر یو نیمگړی غوندې انځور دی. له یوه لنډ تنگ ولسوال نړی لیده نیولې تر ټولنوال او پرگنوال هغه پورې...)).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته به له دغه شعري غونډ سره د لا بلــدتیا پــه موخــه دوه ټــوټې شعرونه را واخلو:

## سم هوډ

ســـــازېدل لــــه زمـــانې ســــره اســـان دي
زمانــــه ســـازول ځـــان ســــره زه غـــواړم
ســـاز ناســـازې زمـــانې ســــره بـــه نـــه شـــم
څـــه پـــروا کـــه راغلـــم راغلـــم، لاړم لاړم.

## چپه زمانه

زمانـــــه راتــــه چپــــه غونـــدې ښـــكارېږي
چپ ته ښي او ښــي تــه چــپ چــې ویــل كېــږي
((لېـــونی خانـــدي پـــر كلـــي پـــر ده كلـــی))
د هوښــــیارو دا متـــــل دلتـــــه جـــــوړېږي.

## سوزونه او سازونه:

د پوهاند زیار د شعرونو یو بل ښكلی غونډ دی، چې پر (۱۳۶۴ل) كال د چاپ او خپرونې د دولتي كومېټې له خوا په دولتي چاپخونه كې پــه افسېټ ډول د (۲۰۰۰) ټوكونو په تیراژ له چاپه راوتلی دی. د اســتاد دا شعري غونډ د كمیت او كیفیت له پلوه پوره بډایه دی. پــه دې شــعري غونډ كې (۷۳) ټوټې شعرونه راغلي دي، چې د فورم له مخې ازاد- نیمه ازاد او یو شمېر یې په پخوانیو شعري فورمونو كې ویل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغه شعري غونډ په پیل کې د پیلامې په توګه د ((زما سوزونه او سازونه)) تر نامه لاندې په درو مخونو کې په خپله د استاد زیار یو یادښت راغلی دی، چې د دغه شعري غونډ په باب وایي:

(( هسې خو د مانا او محتوا له مخې دغه شعري انځورونه د یوه ربړېدلي او کړېدلي انسان د ژوند یو داستان دی، چې د رنګارنګو مهالونو او چاپېریالونو رنګارنګیو په کې اړخونه بدل کړي، هر سوز یې د یوه مهال او هر ساز یې د یو چاپېریال ښکارندویي کوي، د هر هغه مهال او چاپېریال چې زه یې ستاسې او نورو ملیونونو همځېلو (همنوعانو) د یوه استازي په توګه یو نه جلا کېدونکی توک یم او له همدې کبله یې اوس د همدغه رنګین داستان آر لوبغاړی او اتل یم)).

پر دې شعري غونډ باندې په شپږو مخونو کې د ((زیار شاعري)) په نوم د اجمل ختک له خوا یوه سریزه کښل شوې او همدارنګه ( د سوزونه او سازونه په باره کې څو خبرې) تر سرلیک لاندې په درېو مخونو کې د دوست شینواري له خوا هم یوه سریزه کښل شوې ده.

اجمل ختک د استاد زیار په باب وایي:

(( زیار په سینه کې د شاعر زړه هم لري او ژبه هم، د یو داسې شاعر زړه چې د ښکلا او مینې خوندونه او دردونه هم محسوسولای شي او د ژوند او محنت ارمانونه او محرومیتونه هم. دی داسې شاعر دی، چې ژبه یې د خپلو خواهشاتو له تاوه نه تاوېږي، بلکې د خپل محیط او انسانیت په غم ککړه ده، د انسان د ژوند له هرې موضوع، مضمون او کار سره خپل تعلق څرګندوي او له هر تعصب او تنګ نظرۍ نه پرته په خلوص، بلکې لېونتوب سره خدمت کوي.)) دی همدارنګه زیاتوي: (( زیار د خپلو شخصي خواهشاتو په خوب ویده شاعر نه دی، د خپل هېواد او ولس په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غم لړلی، بیدار لیکوال دی. زه هر وخت زیــار صــاحب او د ده ذهــن د تحقق او څېړنې په کار کې مصروف ویــنم. د ده شــعرونه د ده د ذهــن پیداوار دي...)).**

**یوه بله خبره چې د دغه شعري غونډ په باب د یادولو وړ ده، هغــه دا ده چې په دغه شعري غونډ کې راغلي دوه سریزې د کتاب په پای کــې راغلې دي، یانې د شعرونو تر پای ته رسېدو وروسته. که چېرې له دود سره سم دا سریزې د کتاب په پیل کې راغلی وای، ښــه بــه وای او لــه لوستونکو سره به یې ډېره مرسته کړی وای. داستاد زیار دا یاد شــوی شعري غونډ د خپل هغه دروند ارزښت له مخــې چــې لــري یــې، پــر (۱۳۵۸ل) کال دخوشال خان لومړۍ درجه جایزه وګټله.**

**دا شعري غونډ له سریزو او ویي پانګې پرته ۲۶۵ مخونه لري. د کتاب پای ته په شعري غونډ کې د راغلو وییونو ۲۲ مخه ویي پانګه هم راغلې ده، چې له لوستونکو سره د ستونزو په حل کې پوره مرسته کولای شي. دلته ترې یو ښکلی شعر را اخلو:**

## مین ارمانونه

**دا مې اوښکې ورتې ورتې...**
**راخوټکېږي او بهېږي**
**د لیمو له سرچینو نه**
**پر باړخو باندې مخ کښته...**
**که بهیر دی رانه لېږدي د نیمګړو ارزوګانو.**
**دا زما بېلتون ځپلې**
**ارمانژلې، ځورېدلې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرترپای ناکامه مینه
اوبو وړې شانې هیله...
په ارمان د یوه څرک د چا د مخ د رڼاګانو.
په دې زړه د تورې شپې کې
په تورتم تورو تیارو کې
د مینو ارمانونو...
برېښنا نه شته، ځلا نه شته
ورک را ورک او راورکي
نه بنداو د سونګ د شمعې نه کړاو د پتنګانو
ګوري ګوري تورې وربځې
چې دهسک مخ یې نیولی
پنا کړي یې له سترګو
دي د ستورو سترګکونه
پلوشې د ورمکۍ...
یا که سیوري دي چې ښوري د شهیدو ارواګانو!
لار لودن راځنې ورک دی
غورځم، پرځم، ټپرېږم...
لاربښودنه لرم د مینې
چې مې بوځي تر درشله
د زړه سواندي خواږه یار...
پخسوي مې، څوروي مې یاد د تېرو پېرزوګانو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اور او وینې

د پوهاند زیار د ازادو شعرونو یو ښکلی غونډ دی، چې پــر (۱۳۶۵ل) کال د چاپ او خپرونې د دولتي کومېټې له خوا د(۲۰۰۰) ټوکونو په تیراژ په دولتي چاپخونه کې په ښکلې کچه او سکښت چاپ شوی دی. په دې غونډ کې ټول (۴۳) ټوټې شعرونه راغلي او ټول یې ازاد دي.

دا غونډ (۱۹۱) مخونه لري. د شاعر دې شعرونو هم د نورو شعرونو په څېر د ده اندو خیال په ښه ډول څرګند کړی دی، چې دا یې په شعرونو کې د بریالیتوب یوه ستره نښه ده. په پیل کې د سریزې پرځــای ( ازاد شعر ته رابلنه) په نوم یو ښکلی ازاد شعر راغلی دی. د اور او وینې غونډ د ازاد نوي پښتو شعر لومړی بېلګه ده، چې د ځوانو زېږندویانو لپاره یو ګټور لارښود ګڼل کېږي.

دا غونډ د ژبني سبک له پلوه د ( یوې نره، خوږې، لنــډې، روانـــې او بشپړې کره) پښتو تر ټولو غوره بېلګه ګڼل کېــږي او نــوې رغــونې او ترکیبونه په کې زیات راغلي دي.

د هنري پرداز، ایماژونو او انځورونو او په تېره د اساتیرو له پلوه ډېــر لوړ او د فکري محتوا له مخې ډېر ژور دی په دې توګه دلته په ټوله مانا د ژوند ((شعار)) پر ((شعر)) بدل شوی دی. دلته د هنري ارمان او ټولنیز ارمان، یا په لنډ ډول د شکل اومحتوا تــرمنځ ډیالتیــک پــه رښــتینې ((ډیالیکتیکي)) مانا ټینګ دی. د ترخه ټولنیز واقعیت له ځلونې ســره سره په کې پر ارمان بری او ایمان هم یوځای انځورل کېږي.

استاد زیار په دغه شعري غونډ کې زیار کښلی، چې ( ادب د ادب یــا هنر د هنر لپاره) او بل ( ادب یا هنر د ژوند لپاره) دواړو بهیرونو ته پیوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي او په دې توگه د ښوونکي او کره کتونکي په توگه یوه نــوې لاره پرانیزي. د استاد دا شعرونه د کوم اروپايي يا شرقي ازادو شعرونو پېښې نه دي، بلکې زېږندوی او نوښتگر يې په دې گروهه دی، چــې دلتــه د فولکور او منظومو ادبي دواړو ډولــو شــعرونو لــه تونیــک ســیلابیک خصوصیت څخه گټه اخیستل شوې، له قافیې پرته چې د نړۍ دهــېڅ کومې ژبې د شعر بنیادي شرط نه دی، نور ازاد شعر له منظوم ادبــي او فولکوري هغه سره کوم توپیر نه لري، په دې مانا چې وزن او ســېلاب د نړیوال بنستیز شرط په توگه تر دا منځ یو شان واکمني لري.

دلته د شعر د څرمې (فرعي) ځانگړتيا په توگه قافيي قيد و بنديز نه شته او نه د مسرو د لنډوالي او اوږدوالي قيد. د ساري په توگه قافيه وال (يا بې قافيه ولسي شعرونه) په اوو څپيزو مسرو پيلېږي. حال دا چې په نوي ازاد شعر کې له څلورو څپيزو مسرو څخه پيل مومي او ان تــر ۳۹ څپيزو رسېږي. تر دې البته زيات (جمله) او (سا) نه شي اوږدېدلای، په تېره سا ايستنه چې مسره سره ځای پرځای دروي.

استاد زيار د دې مجموعې د نوم په باب وايي:

دا چې ما بيا هم د دې دفتر نوم شعار ډوله ټاکلی، زما د سر صــفحې شعر يې ځواب وايي:

ټول دفتر مې شو د مينې اور و وينې
ستا د سرو سکروټو شونډو له غزله!

د دغه غونډ ستر نوښت په دې کې دی، چې په پښتو ژبه کې د ازادو شعرونو لومړنۍ، ځانگړې بشپړه چاپي مجموعه ده چې شعرونو يــې د پوخوالي زياتې پوړۍ وهلې دي. يو شاعر د دې مجموعې په باب ليکي: (( د شعرونو سبک يې عاطفي او روښانفکرانه دی او د هنري ارمــان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنيز ارمـان تـرمنځ يـانې د شـعري شـکل او مضـمون تـرمنځ ژور ډياليکتيکي اړيکي شتوالی لري. د رسالت دقيق او اسـتادانه رعايـت، شاعرانه مسووليتونو (زماني مسووليت)، (مکاني مسووليت)، (ټـولنيز مسووليت) او (ادبي مسووليت) د محترم زيار شعرونه لا شـتمن کـړي دي)). ( د ثور انقلاب حقيقت ورځپاڼه، (۱۱/۳/۱۳۶۶) ګڼه، ن. سيوری، اسحق ننګيال).

په هر حال دا غونډ پښتو ژبې ته د نوي فورم او نوې محتوا په درلودلو سره د پوره ارزښت لرونکی دی. بايد زموږ ژبې داسـې يـوه مجموعـه لرلای، خو ښه ده چې لري يې.

ددغه غونډ په باب ډېر څه ويلو ته اړتيا شته او مـوږ تـرې د خپلـې ليکنې د ډېر اوږدوالي له کبله ډډه کوو. د زياتو معلوماتو لپاره وګورئ: کابل مجله (۱۳۶۶ل) کال لومړۍ ګڼه (اور او وينـې تـه يـوه کتنـه) د نورمحمد سهيم کره کتنه.

يوه بله خبره، چې د دې غونډ په باب د يادولو وړده، هغه داده، چـې په پای کې يې له (۱٦۷-۱۸٤) مخ پورې د هغو وييونو پانګه راغلې ده، چې د دې شعري غونډ په شعرونو کې کارول شوي دي، چې بې له شـکه د شعرونو په ځينو پېچلو برخو کې له لوستونکو سره مرسته کوي. دا دی، دلته له دې ښکلي شعري غونډ څخه د طلايي شګې په نامه يوه ټوټـه ښکلی شعر را اخلو:

## طلايي شګې

په وزرو د مينه وړو
او خوړو خوړو شېبو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړم گلیون د سرو گلونو
گلکځونو
دنگو دنگو چنارونو د وارنا...
د الواک نیلی مې ځغلي او راځغلي
کښته پورته
د شنه هسک و شنه دریاب په همغاړې او همبریدې
ارتې ارتې
او ناپایې شنې ورشو کې
سپینې سپینې ښکلې ښکلې
او جوړه جوړه کوترې
سره خاندې او مستي کړي
خوله پر خوله غاړه پر غاړه
پر پستو ((طلایي شگو))
تر تودو زرینو وړانگو
د لمر لاندې...
او زه ناست ورته پر غاړه
جوړوم د طلایي شگو کورونه
په پر غز، غر څپه راشي
ببړۍ ډوبه مې د اند شي
کړي را وران خیالي کورونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګلکځونه:

د پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار د شعرونو هغه ښکلی غونـډ دی، چې د افغانستان دليکوالو د انجمن له خوا په دولتي مطبعــه کــې پــه ښکلې کچه او سکښت د (۲۰۰۰) ټوکونو په تيراژ له چاپه راوتلی دی. دا غونډ ټول (۱۳۲) مخونه لري او د شاعر (۶۰) ټوټې شعرونه په کې راغلي دي. ددغه غونډ زياتره شعرونه غزل دي. يو شمېر نيمه ازاد او يو لړ يې په نورو پخوانيو فورمونو کې ليکل شوي دي. پر دې غونډ باندې د استاد عبدالروف بېنوا له خوا په څلورو مخونو کې يوه سريزه کښل شوې ده، چې په هغه کې د استاد زيار د ژوند او د ده د شاعرۍ په هکله رڼا اچول شوې ده او په خپله د همدې غونډ په باب خبرې شــوې دي. پــه دغــه غونډ کې د استاد زيار د زلميتوب د وخت ځينې شــعرونه راغلــي دي، چې استاد بېنوا په دې باب ليکي:

(( ده دا خپل ګلکځونه يوازې د زلميتوب د مينې او هوس لپاره حصار کړي نه دي، بلکې د خپل هېواد، د خپل ولس او د اوسنۍ نړۍ د ټولنيزو نابرابريو هغه نارې سورې او کوکې يې هم په کې وهلې دي، چــې د ده انساني عواطف يې لړوزلي او بشري احساسات يې راپارولي دي)).

دا دی، دلته يې يو ښکلی غزل را اخلو:

### د استاد حمزه په ژبه

پــــرون دې پرېکــــړې د جرګــــو پــــه ژبــــه
نــــن دې هــــر څــــه د ولولــــو پــــه ژبــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درنـــه پښـــتو ده هېـــره شـــوې کـــه څـــه
چـــې اوس غرېـــبې د وســـلو پـــه ژبـــه
څـــو بـــه پـــه څـــو يـــې زمـــا وينـــو تـــه ناســـت
څـــو بـــه مـــې وژنـــې د دښـــنو پـــه ژبـــه
کـــه وو تربرونـــه خـــو پـــردو تـــه يـــو وو
ولـــې پـــردي شـــو د پـــردو پـــه ژبـــه
لـــه ولـــس وځـــه خولـــه نـــرخ مـــه وځـــه
درتـــه يـــم ســـر د پښـــتنو پـــه ژبـــه
خيـــر دی کـــه کـــږم درتـــه د زړه خبـــرې
د اوښـــکو وينـــو د ســـلګو پـــه ژبـــه
وايـــم رښـــتيا درتـــه، ترخـــه کـــه هـــم وي
د اوســـــمهال د اســـــوېلو پـــــه ژبـــــه
پـــرې چـــې پيغـــام د ژونـــد درواســـتومه
د انقـــــلاب د پلوشـــــو پـــــه ژبـــــه
ځـــم د اســـتاد حمـــزه پـــه لار درســـره
ګونـــدې شـــې پـــوه مـــې د شـــعرو پـــه ژبـــه.

## ګډه نړۍ:

دا د يوې درې کسيزې مشاعرې بنه لري، چې لــه (۱۳۴۰-۱۳۴۴ل) کلونو پورې د زيار، ممنون او فنا له خوا پرله پسې تر سره شــوې او پــر خپل وخت د مېرمن مجلې او هېواد ورځپاڼې له خوا خپره شــوې ده او په راوروسته کلونو کې سېلاب ساپي او نصرالله حافظ هم په کې برخــه اخيستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته له دغو درې کسیزو مشاعرو څخه لومړۍ مشاعره، چې د استاد زیار د شعرونو په دې طرحې جوړه شوې، راوړم.

**بیا مې ښکلی یار په زړه وربېري نن**
**ګاتي مې د سترګو پسې لوېږي نن**

**د محمد جان فنا شعر په دې ډول دی:**

## اندېښنه

**ساز د محبت راته غږېږي نن**
**پېغله د هنر راته نڅېږي نن**
**یو نظر مې ستا د مخ ښایست ولید**
**یو جهان رڼا پر ما وربېږي نن**
**تش چې تصور دې د بشر وکړم**
**ټول جهان مې خیال کې نه ځايېږي نن**
**خوب کې چې مې ستا سترګې لیدلې دي**
**څاڅکی دماتم پر ما تویېږي نن**
**ویې کتل په ناز راته بڼو لاندې**
**ځکه مې اغزي په سترګو کېږي نن**
**ښکل مې کړی خورې سرې خندنۍ شونډې**
**زړه مې اور د مینې کې سوځېږي نن**
**مرګ او ژوند ((فنا)) راته جنون ښکاري**
**خیال چې د لیلی راته پسخېږي نن**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم د ممنون شعر:

## ناکامه هیله

غــم مـــې بیــا د خیــال پــه کــور ګــډېږي نـــن
هیلـــه مـــې ناکامـــه شـــوه ژړېـــږي نـــن
مـــا د زړه پـــه وینـــو چـــې ابـــاده کـــړه
دا د محبـــــت مـــــانۍ نړېـــــږي نـــــن
مســـته ښـــه ورشـــو د اســـماني مینـــې
زړه لکـــه هوســـۍ ورنـــه تېرېـــږي نـــن
ســـتا د تصـــور درشـــل بـــه پالمـــه
تېـــرې زمـــانې راتـــه غړېـــږي نـــن
ســـتا د مکېزونـــو رڼاګـــانو کـــې
پرېـــږده دا ((ممنـــون)) چـــې وســـوځېږي نـــن

## اندو ژوند:

اندو ژوند د استاد زیار د کوچنیو ټوټو د لړۍ دویمه شعري مجموعه ده، چې په هغه کې د جولې له مخې زیـاتره ځلـوریزي او ((ســپین)) شعرونه راغلي دي او انتقادي، طنزي او حماسي رنګ لري. دغه غونډ پر (۱۳٦۸ل) کال د سرحدونو چارو وزارت له خوا په اریانا چاپخونـه کـې چاپ شوی دی. دلته یې دوه بېلګې راوړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بلهاري

ما په مينه کې زده کړې له پتنګه بلهاري ده
ولـــــولـــــه مـــــې پـــــښتنه او اراده مې منصوري ده
لړم، ۴۳ کال

## نکريزې او رانجه

دزړه وينـــــې مـــــې نکريـــــزې
شـــوې د پېغلـــو هيلـــو پښـــو تـــه
شـــو رانجـــه راتـــه ګرومونـــه
غـــړ مـــې نـــه رســـي غـــوړو تـــه
۶۲ -۹-۱۸

## ګلوييونه:

د استاد زيار يو ناچاپ غونډ دی، چې په هغه کې د فورم له مخـــې د ګلکځونو شعري غونډ ته ورته شعرونه راغلي، دي چې زياتره يې غزليز رنګ لري.

## سپين غر:

د استاد زيار هغه شعري غونډ دی، چې په هغه کې د ده لــه (۱۳۳۸-۱۳۴۵) کلونو پورې ځينې شعرونه راغلي دي، چې د ((پښتونستان)) او ټولنيزو موضوعاتو په باب يې ويلي دي. په دې شعري غونډ کـــې اوړده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظمونه راغلي دي، چې یو شمېر یې په راډیویي مشاعرو کې ویل شوي او یو شمېر یې په بېلابېلو خپرونو کې خپاره شوي دي. دلته لــه دغــه شعري غونډ ځخه یوه بېلګه را اخلو:

## پښتني غمونه

زه پښـــــتون د پښـــــــتونخوا یـــــم
پښـــــتونخوا کـــــې پښـــــتون غـــــواړم
پښـــــــــتني دردونــــــــــه ژاړم
افغـــــــــاني غمونـــــــــه ژاړم

✲ ✲ ✲

بیـــــا مــــې وینــــې راخـــــوټېږي
د زخمـــــــي زړه لـــــه پرهـــــاره
ځورېـــــدلې تلوســــــې مــــــې
لــــه درد ســـوزه وهـــي ځړیکـــې..
پـــه خـــوګلن کـــې د ګوګــــل مــــې
د مـــــړو ژوانــــــدو ارمـــــانونو
آ واړه واړه بځرکــــــــــــــــــي
پــــه ورو ورو راتـــــازه کېـــــږي
اســــوېلي مــــې لمبــــه اخلــــي..
د پلرونـــــــــو او نیکونــــــــو
د آ تېـــــــــرو پرتمونــــــــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغـــــه تېـــــرې خــــــاطرې بیـــــا**
**هغـــــه هېـــــرې خــــــاطرې بیـــــا**
**زمـــــا زړه بانــــــدې وریــــــږي**
**دا لمبـــــې بــــه پټــــې پټــــې**
**نـــور پـــه زړه کـــې ځنګــــه نغـــاړم**
**پښـــــــــتني دردونــــــــــه ژاړم**
**افغـــــــــاني غمونـــــــــه ژاړم**

✵ ✵ ✵

**پـــه تړیکـــو مـــې شـــي زړه کـــې**
**پښـــــتني ســــپېڅلې مینـــــه**
**لېـــوني شــــانې احســــاس مـــې**
**کــــومې لــــور تــــه لېـــږدوي بیـــا**
**د هــــوښیـــارو پــــه نــــړۍ کـــې**
**لېونتـــــوب راتــــه پیغــــور شــــي**
**چېرتـــــه ښـــــه هلتـــــه بـــــه ځمـــــه**
**کــــه وي ســــمې او کــــه غرونــــه**
**کــــور و کلــــی بــــه پرېږدمــــه**
**وایــــم ځــــان مــــې کــــړای ازاد**
**لــــه هــــر قیــــد او لــــه جنجالــــه**
**خپــل غــم چــې د ځــان مــل کــړم**
**پــــرې بــــه پــــام غلطومــــه**
**مــــرګ تــــه شــــپې بــــه تېرومــــه**
**څــوک بــه نــه نیســي مــې ســتونی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــــه خپـــــل واک اختیـــــار بـــــه ژاړم
پښـــــــــــتني دردونـــــــــــه ژاړم
افغـــــــــاني غمونـــــــــــه ژاړم

✵ ✵ ✵

چېـــــرې مينـــــه چـــــې ګنـــــاه ده
چېـــــرې زړونـــــه چـــــې ســـــاړه دي
چېـــــرې ژبـــــه او قلـــــم چـــــې
ښـــــورول دار تـــــه ختـــــل دي
چـــــې پـــــه نـــــوم انســـــان يـــــادېږم
او انســـــان نـــــه بلـــــل کېـــــږم
يـــــو موجـــــود ددې د جهـــــان يـــــم
او جهـــــان کـــــې بـــــې اختيـــــاره
د شـــــمال پـــــه يـــــوه ربـــــړه
لکـــــه پاڼـــــه هســـــې رپـــــم
د نـــــانځکې غونـــــدې هســـــې
لـــــه هـــــوس ســـــره لـــــوبېږم
تـــــول کـــــار زيـــــار مـــــې بـــــل لپـــــاره
هـــــېڅ مـــــې واک د خپـــــل ځـــــان نـــــه شـــــته
څـــــومره شـــــرم و څـــــومره ننـــــګ دی
کـــــه پـــــر دې ژوندانـــــه ويـــــاړم
پښـــــــــــتني دردونـــــــــــه ژاړم
افغـــــــــاني غمونـــــــــــه ژاړم

✵ ✵ ✵

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــې یـــو ځـــل پـــه حقـــه مینـــه
دار پـــه خپلـــو ســـترګو ښـــکل کـــړم
د خپـــل ســـر او مـــال پـــه بیـــه
پښـــــتونواله کـــــړم ترســـــره
د خوشـــال لـــه ســـپیني تـــورې
د ایمـــل، دریـــا لـــه ننګـــه
د تیـــارو ګوګـــل شـــي ځیـــرې
د خیبـــر لـــه دنګـــې څـــوکې
د شمشـــاد لـــه هســـکه ســـره
پلوشـــې د ژونـــد خـــورې شـــي
د بـــاړې او ســـوات ســـیندونه
اباســـین لـــره بیـــا یوســـي
د خپلـــواک ژوندانـــه زېـــری
لـــه خپلـــواک پښتونســـتانه
څـــه ارمـــان بـــه مـــې بیـــا نـــه وي
لـــه دنیـــا کـــه زیـــاره ولاړم
پښـــــتني دردونـــــه ژاړم
افغـــــاني غمونـــــه ژاړم.

استاد زیار د پـورتني شـعر پـه بـاب وایـي: (( د (۴۴/۶/۹) کـال د پښتونستان په راډیویي مشاعره کې وار راونه رسېد. همداسـې مـې د موسی شفیق په غوښتنه په سـتډیو کـې واوراوه. یـو کـال وروسـته (۴۵/۶/۹) قدیر، فهیم اورولی و. په دغه کال سویس ته تللی وم. له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره سره دا زما تر ژباړلي شعر ((بلنه)) (۱۳۴۰ل) وروسته لومړی نـیم ازاد شعر دی او تر دې راوروسته مې دغې خواته ورو ورو هڅه زیاتېږي. دغه راز د ((ګلولې)) په نوم د استاد زیار د ازادو شعرونو دویم غونډ هم چاپ شوی دی.

دا شعري غونډ پر (۱۳۶۹ل) کال د افغانستان د لیکوالو د ټولنې لـه خوا د (۲۰۰۰) ټوکونو په شمېر خور شوی دی، چې د استاد (۶۰) ټوټو په شاوخوا کې ازاد شعرونه په کې خوندي دي. دغه راز یې د ازادو شعرونو د لړۍ درېیم غونډ ((د سبرونو نڅا)) او د کوچنیو ټوټو د لـړۍ درېـیم غونډ چاپ ته چمتو دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څېړنيال زيار

پوهاند دوکتور مجاوراحمد زيار د خپلې هر اړخيزې ليکوالۍ په ترڅ کې علمي څېړنې او پلټنې هم له ياده نه دي ايستلي او په دې برخه کې يې زياتې مقالې کښلي او ليکنې يې کړې دي. په حقيقت کې څېړنــه د استاد د ليکوالۍ يوه زياته برخه را اخلي. موږ به دلته له ګړدودي څېړنو پرته د ده نورې ژبنۍ څېړنې دده په ژبپوهنيزه برخه کې راوړو او دلته به يې هغه تحقيقي ليکنې له اخځ او څرنګوالي سره يادې کړو، چــې پــه بېلابېلو برخو کې يې کړي دي او بيا به يې پر خپلواکو څېړنيزو اثارو رڼا واچوو:

## په پښتو کې ازاد وګړنی او ليکنی شعر پر سېلابي تونيکــو آرونو او ويونو ولاړ دی:

دا د هغې څېړنې نوم دی، چې د پښتو شعر او پــه ځــانګړي ډول د پښتو ازاد شعر او د هغه جوړښت د څرنګوالي په باب په کې هر اړخيز او په زړه پورې معلومات وړاندې شوي دي. فکر کوم دا پــه پښــتو کــې د لومړي ځل لپاره د ازاد شعر په باب يوه ژوره علمي ليکنه ده.

دا ليکنه د ژوندون مجلې د (۱۳۶۷ل) کال د لومړۍ ګڼــې پــه (۲۲) مخونو کې خپره شوې ده، دغه راز يې د همدغې مجلې د همدغه کال په پنځمه ګڼه کې دغې لړۍ ته دوام ورکړی دی او ترڅنګه يې د همدغــه کال په کابل مجله کې يو لړ نورې ورته ليکنې هم خپرې کړې دي (دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکنه را وروسته د کتاب بڼې (پښتو شعر څنگه جوړېږي؟)) ته لوړتیـا موندلې ده).

## راوړتي او پښتو گرامر یې:

دا یوه څېړنیزه لیکنه او ژباړنه ده، چې د مستر راوړتي د ژونــد او د هغه د پښتو گرامر په باب معلومات په کې ورکړ شوي دي. دا لیکنـــه د وږمې مجلې د (۱۳۵۶ل) کال د (۴) گڼې په (۵۰-۵۷) مخونو کې خپره شوې ده او بیا پر (۱۳۵۷ل) کال د (پښتو چاپي اثار په دوو تېرو پېړیــو کې) د اطلاعاتو او کلتور وزارت د مقالو په غونډ کې هم راغلې ده.

## د امیر شېرعلي خان د پښتو بولیو یوه قلمي نسخه:

دا په متنپوهنه کې د استاد زیار یوه څېړنیزه لیکنه ده، چې د امیــر شېرعلي خان د فرهنگ پالنې او پښتو پالنې په برخه کې په کې زیــات معلومات وړاندې شوي دي، دا لیکنه د کابل مجلې د (۱۳۶۲ل) کــال د (۱۱) گڼې په (۳۴-۴۲) مخونو کې چاپ شوې ده.

## پټه خزانه د پښتو د تاریخي گړدود څېړنــې د یــوه غوره اخځ په توگه:

دغه څېړنیزه لیکنه په (( د محمد هوتک یاد)) نومي کتــاب کــې د علومو اکاډمۍ له خوا پر (۱۳۶۲ل) کال خپره شوې ده.

## د ملا درمحمد ځاځي شاعري:

د یوې بلې څېړنیزې لیکنې نوم دی، چې د یاد شوي شاعر د شاعرۍ پــه باب په کې معلومات راټول شوي دي. دا لیکنه دکابل مجلې د(۱۳۴۲ل) کال د (۷-۸) گڼې په (۲۳-۳۲) مخونو کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نومیالی نورسیب:

دا یوه بله څېړنیزه لیکنه ده، چې له ګڼو بېلګو سره په کې د نورسیب د شاعرۍ په باب هر اړخیز معلومات ورکړ شوي دي. دا لیکنه د کابــل مجلې د (۱۳۴۲ل) کال د (۹) ګڼې په (۱۴-۳۶) مخونو کې راغلې ده.

## د لال پورې شریف:

په دې تحقیقي لیکنه کې له لاسته راوړو بېلګــو ســره د لال پــورې شریف د ژوند او شاعرۍ په باب پوره معلومات ورکړ شوي دي. دا لیکنه د کابل مجلې د (۱۳۴۳ل) کال د (۴) ګڼې په (۷-۲۳) مخونو کې خپره شوې ده.

## الفت (۱۲۸۸-۱۳۵٦) د پښتو ادب د نوي ادبي سنتیز پر پېچومې:

په دې لیکنه کې  د استاد ګل پاچا الفت د لیکوالۍ په باب معلومات ورکړ شوي دي. دا لیکنه د کابل مجلې د( ۱۳۶۲ل) کال د (۲) ګڼې پــه (۱۲-۱۳)مخونو کې راغلې ده.

## د سید راحت الله راحت زاخیلي مهال او چاپېریال:

دا د سید راحت زاخیلي په باب د استاد زیار یوه تحقیقي لیکنه ده، چې د کابل مجلې د (۱۳۶۳ل) کال د لومړۍ ګڼې په (۲۹-۳۹) مخونــو کې خپره شوې ده. همدارنګه نوموړې لیکنه (( د راحــت یــاد)) نــومي کتاب په (۵۷-۶۵) مخونو کې هم راغلې ده. چې د کابــل پوهنتــون د فرهنګي شورا له خوا په (۱۳۶۳ل) کال کې خپور شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په افغانستان کې پښتو داستان لیکنه:

په دې څېړنیزه لیکنه کې په افغانستان کې د پښتو داستان لیکنې د ځرنګوالي په باب معلومات وړاندې شوي دي. دا لیکنه د کابل مجلې د (۱۳۶۲ل) کال د (۱۲) ګڼې په (۱-۸) مخونو کې چاپ شوې ده.

## د انقلابي شاعر نورمحمد غمجن د شهادت د لومړي تلين په درناوي:

په دې تحقیقي لیکنه کې د پوهندوی نورمحمد غمجن د لیکوالۍ او ژوند په باب معلومات ورکړ شوي دي. دا لیکنـــه د ژونــدون مجلـــې د (۱۳۶۲ل) کال د لومړۍ ګڼې په (۹–۱۲) مخونو کې خپره شوې ده.

## مایاکوفسکي په هاوانا کې:

د مایاکوفسکي په باب د استاد زیار یوه څېړنیـــزه لیکنـــه ده چـــې د ژوندون مجلې د (۱۳۶۲ل) کال د (۲) ګڼې په (۵۵–۶۶) مخونو کې خپره شوې ده.

## مایاکوفسکي د ستر سوسیالیستي انقلاب د شاعر په توګه:

دمایاکوفسکي په باب د استاد زیار دویمه څېړنیزه لیکنه ده، چې د ژوندون مجلې د ۱۳۶۲ل کال د ۴ ګڼې په ۹–۱۵ مخونو کې خپره شوې ده. دغه ډول دا لیکنه د دوستي مجلې د ۱۳۶۲ل کال د ۳ ګڼې په ۸۰-۸۴ مخونو کې هم را اخیستل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نومیالۍ انقلابي لیکوالـه انــازیگر بــه خپــل ادبــي شاهکارونه ژوندي وساتي:

**دا د یوې څېړنیزې او ژباړیزې لیکنې نوم دی، چــې د یــادې شــوې لیکوالې د مړینې له کبله لیکل شوې ده. دا لیکنه د ژوندون مجلــې د (۱۳۶۲ل) کال د ۲ گڼې په ۷٦-۸۰ مخونو کې خپره شوې ده.**

## د ټولنوال ریالیزم په رڼا کــې د میتــود او موضــوع ډیالکتیک:

**یوه بله علمي لیکنه ده چې په یوې اوږدې لړۍ پــورې اړه لــري او د ژوندون مجلې د ۱۳۶۲ کال د ۳ گڼې په ۵-۹ مخونو کې خپره شوې ده.**

## کارپوهه (Ergology):

**دا د پوهاند زیار د یوې بلې څېړنیزې لیکنې نوم دی، چې په هغې کې د فولکور او وگړنۍ تکنالوژۍ په باب معلومات ورکړ شوي دي او په دې لړ کې د کټ اوبدنې په باب څېړنه شوې ده. دا لیکنه د فولکور مجلې د ۱۳۵۵ ل کال د ۱۱گڼې په ۱۵۷-۱٦٦ مخونو کې خپره شوې ده.**

## د کرنې لوښي او سامان او د هغوی د کارونې چمونه:

**دا هم یوه څېړنیزه لیکنه ده، چې د کرنې سامان الاتو په باب په کې معلومات ورکړ شوي دي. دا لیکنه د فولکور مجلې د ۱۳۵۵ل کال د ۳ گڼې په ۲۵-۳۹ مخونو کې خپره شوې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کارپوهه ( اوبدنې او رغاونې):

په دې ليکنه کې د ولسي کارونو د يو ډول (اوبدنو او رغونو) په باب معلومات ورکړ شوي دي. دا ليکنه د فولکور مجلې د ۱۳۵۶ل کال د ۲ ګڼې په ۳۹-۴۳ مخونو کې خپره شوې ده.

## اوبدنه او د هغې لومړۍ لارې چارې او ډولونه:

د فولکور په برخه کې يوه بله څېړنيزه ليکنه ده، چې په هغې کې د لاسي کارونو د ځينو ډولونو په باب معلومات ورکړ شوي دي. دا ليکنه د فولکور مجلې د ۱۳۵۵ل کال د ۴ ګڼې په ۳۲-۳۵مخونو کې خپره شوې ده.

## پسته انځورګري يا رنګونه (رنګريزي):

په ولسي لاسرغاوې (لاسي صنعت) کې يوه بله څېړنيزه ليکنه ده، چې د فولکور مجلې د ۱۳۵۶ل کال د ۳ ګڼې په ۲۸-۲۹ مخونو کې چاپ شوې ده.

## کارپوهه (Ergology):

يوه بله ليکنه ده، چې په هغې کې د ولسي جامو (څادر) په باب معلومات ورکړ شوي دي. دا ليکنه د فولکور مجلې د ۱۳۵۵ل کال د ۶ ګې په (۲۶-۲۹) مخونو کې خپره شوې ده.

## اوبدنه او د هغې لارې چارې او ډولونه:

دا د تېرې يادې شوې ليکنې يوه برخه ده، چې د فولکور مجلې د ۱۳۵۵ل کال د ۵ ګڼې په ۲۹-۳۲ مخونو کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کارپوهه:

یوه بله څېړنیزه لیکنه ده، چې د (فرهنګ خلق) جریدې د ۱۳۵۷ل کال د لومړۍ ګڼې په ۱۲-۱۳ مخونو کې خپره شوې ده.

## په پاټکیزه (طبقاتي) جګړه کې د هنر ونډه:

د هنر په باب یوه علمي تحقیقي لیکنــه ده چــې د هنــر مجلــې د ۱۳۵۷ل کال د لومړۍ ګڼې په ۲۴-۲۵ مخونو کې خپره شوې ده.

## ټولنوال ریالیزم د رښــتینې ټــولنیز هنــر اســتازي (رسالت) پرځای کولای شي:

یوه علمي تحقیقي لیکنه ده چې د هنــر مجلــې د ۱۳۵۹ل کــال د لومړۍ ګڼې په ۵-۶ مخونو کې خپره شوې ده.

## رښتینی ټولنیز هنر د وګړو زېږونه ده او د همدوی د غوښتنو او اړتیاوو څرګندونه:

د هنر په باب یوه علمي تحقیقي لیکنــه ده، چــې د هنــر مجلــې د ۱۳۵۸ل کال د ۴-۵ ګڼې په ۱۸ او ۸٤ مخ کې خپره شوې ده.

## د ټولنې په ژغورتیایي بهیر کې د ټولنــوال ریــالیزم اغېزه او ونډه:

یوه علمي او تحقیقي لیکنه ده، چې د هنر مجلې د (۱۳۵۹ل) کال د ۵-۶ ګڼې په ۱۷-۱۸ مخونو کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پښتو د اوسني نظام تحلیل او څېړنه د روحیاتو له مخې:

د پورتنۍ یادې شوې لیکنې یوه برخه ده، چــې د پــوهنې مجلــې د ۱۳۴۱ل کال د ۴ ګڼې په ۳-۶مخونو کې خپره شوې ده.

## د پښتو د اوسني نظم تحلیل او څېړنه:

د یادې شوې لیکنې یــوه بلــه برخــه ده، چــې د پــوهنې مجلــې د (۱۳۴۱ل) کال د ۵ ګڼې په ۱۸-۱۹ مخونو کې چاپ شوې ده.

## سپیتامه زره توشتره یا سپین ځواکي زردښت د بامي بلخ ستر نومیالی بچی:

د یاد شوي شخص په باب یوه تحقیقي لیکنه ده، چې د بلخ مجلې د ۱۳۵۷ل کال د لومړۍ ګڼې په ۱۴-۱۵ او پاتې په ۵۱ او ۵۳ مخونــو کــې خپره شوې ده.

## د ټولنوال ریالیزم په رڼا کــې د میتــود او موضــوع دیالتیک:

یوه علمي او تحقیقي لیکنه ده چې د ژوندون مجلې د (۱۳۶۲ل) کال د ۳ ګڼې په ۵-۹ مخونو کې خپره شوې ده.

## پرده پوښي او سپېڅلتیا له ټولنوال ریالیزم او ژمنتیا څخه تېښته ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم یوه علمي تحقیقي لیکنه ده، چې د ژوندون مجلې د (۱۳۶۱ل) کال د لومړۍ ګنې په (۱۲-۱۵) مخونو کې خپره شوې ده.

## د واقعیت تشې پېښې په وزن او قافیه شعر کېدی نه شي:

یوه تحقیقي او علمي لیکنه ده، چې د ژوندون مجلې د ۱۳۶۱ ل کال د ۳ ګنې په ۱۱-۱۴ مخونو کې خپره شوې ده.

## دمعیاري لیکنۍ پښتو اړتیا، پرنسیپونه او لارې چارې:

یوه علمي او تحقیقي لیکنه ده، چې د ژوندون مجلې د ۱۳۶۱ل کال د ۴ ګنې په ۴۴-۴۷مخونو کې خپره شوې ده.

## د ګویتې پر پلونو:

ګویتې په باب یوه علمي او تحقیقي لیکنه ده، چې د ((اجتماعي علوم)) مجلې د (۱۳۶۱ل) کال د ۳ ګنې په ۱۶۳-۱۷۲) مخونو کې خپره شوې ده.

## کوشاني د یوې آرې (اصلي) باختري ژبې په توګه:

یوه تحقیقي او علمي لیکنه ده، چې د (تحقیقات کوشاني) مجلې د ۱۳۵۹ل کال د ۲ ګنې په (۱۱-۱۱۶) مخونو کې خپره شوې ده.

## د افغان- شوروي ګډ فرهنګي میراثونه:

یوه څېړنیزه لیکنه ده، چې د شوروي اتحاد او افغانستان د ګډ فرهنګ په باب په کې معلومات ورکړ شوي دي. دا لیکنه د دوستي مجلې د ۱۳۵۹ل کال د ۲-۳ ګنې په ۴-۳۸ مخونو کې چاپ شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ملي سپورتونو په لړ کې (هله داد):

د ورزش په باب يوه څېړنيزه ليکنه ده، چې په هغې کې د (هله داد) لوبه بيان شوې ده. دا ليکنه د (بدني روزنه) مجلې د ۱۳۳۹ ل کال د ۳ ګڼې په ۱۲-۱۴ مخونو کې خپره شوې ده.

## د کبډۍ لوبه:

دا هم د کبډي ورزش په باب د استاد يوه څېړنيزه ليکنه ده، چې د بدني روزنې مجلې د ۱۳۳۹ ل کال د لومړۍ ګڼې په ۱۱-۱۳مخونو کې خپره شوې ده.

## په افغانستان کې د اجباري او اختياري ودونو کړکېچونه:

دا په ټولنه کې په اجباري او اختياري توګه واده کول او د هغه د راتلونکې د څرنګوالي په باب يوه څېړنيزه او تحليلي ليکنه ده. د استاد دا ليکنه د هغه د مېرمنې په نوم ((سکينه زيار)) د مېرمن مجلې د ۱۳۴۴ل کال د اسد ګڼې په ۱۱ مخ او پاتې په ۳۳ مخ کې خپره شوې ده.

## په افغانستان کې د اختياري او اجباري ودونو کړکېچونه:

د پورتنۍ يادې شوې ليکنې دويمه برخه ده، چې د مېرمن مجلې د ۱۳۴۴ ل کال د سنبلې او ميزان ګڼې په ۲۳ مخ او پاتې يې په ۵۳ مخ کې خپره شوې ده.

دغه ډول يې د هنر په باب يوه بله علمي څېړنيزه ليکنه د اجتماعي علوم مجلې په لومړۍ ګڼه کې هم خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغان- شوروي ګډ فرهنګي اړيکي د موسيقۍ په برخه کې:

يوه څېړنيزه ليکنه ده، چې د دوستي مجلې د ۱۳۶۳ل کال د ۴ ګڼې په ۲۷-۲۹ مخونو کې خپره شوې ده.

## د افغان- شوروي ګډ فرهنګي اړيکي، د فلم او سينما په برخه کې:

يوه بله تحقيقي ليکنه ده، چې د دوستي مجلې د ۱۳۶۰ کال د ۸ ګڼې په ٤٤-٤٨ مخونو کې خپره شوې ده.

## د افغان-شوروي فرهنګي اړيکي، د فلم او سينما په برخه کې:

د يادې شوې ليکنې دويمه برخه ده، چې د دوستي مجلې د ۱۳۶۲ کال د لومړۍ ګڼې په ۵۱-۵۷ مخونو کې خپره شوې ده.

## د شوروي اتحاد په شپېته کلن پېر کې د افغان- شوروي د دوستۍ پرمختيا:

دا هم د پوهاند زيار يوه څېړنيزه ليکنه ده، چې د دوستي مجلې د ۱۳۶۱ ل کال د ۱۱ګڼې په ۵۷-۶۳ مخونو کې خپره شوې ده.

## ۷۶کلن مصري ليکوال نجيب محفوظ د نوبل سرړنې جايزه وګټله:

د استاد يوه بله څېړنيزه ليکنه ده، چې د مصري ليکوال نجيب محفوظ د اثارو او ژوند د څرنګوالي په باب په کې معلومات وړاندې شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. دا لیکنه د ژوندون مجلې د ۱۳۶۷ل کال د میزان او عقرب میاشتو د گڼې په ۵۳-۵۴ مخونو کې خپره شوې ده او همغــه مهــال پــه دري ایډیشن کې د همده له خوا په دري ژبه هم خپره شوې ده.

## ارتوگرافیک ریفورم (الفبایي سمون) زموږ له ملــي انقلابي هیلو سره سمون لري، نوې افغاني الفبا د ټولو افغاني ژبو لپاره:

دا یوه پیشنهادي ډوله څېړنیزه لیکنه ده. دلته استاد زیار د اوښتون په پلمه خپلو هغو الواکونو (نظریاتو) ته یوه ټولنیزه بڼه ورکړې، چې له کلونو راهیسې یې د پښتو د اوسنۍ لیکني یا الفبایي سیستم د ریفورم یا سمون په برخه کې خپاره کړي وو. ده په دغه وېره څېړنیزه لیکنه کې د عربي سیستم ټولې نیمگړتیاوې په گوته کړي او دا یې زیاته کړې ده چې یو یوازینی فونیمیک الفبایي سیستم کولای شي د ټولو افغاني ژبو لپاره رامنځته شي او دود ومومي. ده د همدې موخې لپاره پر بېلابېلــو لارو چارو رڼا اچولې او د دغه الفبایي اوښتون د ترسره کولو لپاره یې یو لړپلانونه په گوته کړي دي. دغه لیکنه د عرفان مجلې د ۱۳۵۷ل کال د سرطان-اسد او عقرب-قوس په گڼو کې له یوه الفبایي جــدول ســره خپره شوې او ۱۶ مخه یې نیولي دي.

## د حمید مومند لیکلار:

دا یوه شپاړس مخیزه څېړنیزه لیکنه ده چې استاد زیار د عبدالحمید مومند د شاه و گدا د ترجمې د دوه سوه اویایمې کالیزې په سیمینار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اورولې وه او بیا پر ۱۳۶۶ ل کال په اړوند غونډه کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا چاپ شوې ده.

## د حمزه ژب- ښکلاییز سبک:

دا د پوهاند زیار یوه پنځه ویشت مخیزه علمي څېړنه ده چې د حمزه شینواري د اتیایمې کالیزې په سیمینار کې یې اورولې او بیا په ((د حمزه یاد)) غونډه کې پر ۱۳۶۶ل کال د سرحدونو چارو وزارت د خپرونو له خوا خپره شوې ده.

## د رحمان بابا لیکلار:

دا یوه پنځلس مخیزه څېړنه ده، چې د کابل پوهنتون له خوا د رحمان بابا د دوه سوه اتیایم تلین له کبله په جوړ شوي سیمینار کې اورول شوې او بیا وروسته ۱۳۶۹ل کال په اړوند غونډه کې د نومورې پوهنتون له خوا چاپ شوې ده.

## د تاریخ مرصع لیکلار:

په دې نامه هم د استاد زیار یوه مقاله خپره شوې ده چې په هغې کې د تاریخ مرصع د لیکلار او لیکدود په باب خبرې شوې دي.

## هغه انقلابي لیکوال او پوهاند چې اندو ژوند یې د انسان ژغورتیا ته وبښل:

دا د هغې څېړنې نوم دی، چې استاد زیار د الماني لیکوال ګیورک بیوخنر د یو سلو پنځوسم تلین له کبله ترسره کړې ده او د بیوخنر د لیکوالۍ په باب په کې خبرې شوې دي. دا لیکنه د ژوندون مجلې د ۱۳۶۶ کال د لومړۍ ګڼې په ۴۷-۵۴ مخونو کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژباړه د پښتو پښتنۍ ماتوي او نامعیاریتوب یې کوپړۍ:

یوه علمي لیکنه ده، چې د (پښتو په ټولیزو رسنیو کې) د سیمینار په غونډ کې چې د علومو اکاډمۍ له خوا په (۱۳۶۷ل) کال چاپ شو یدی راغلې ده. همدارنگه دېته ورته مقاله د ژورنالیستانو د ټولنې لـه خــوا دهمداسې یوه سیمینار په غونډ کې راغلې ده.

## وگړپوهنه (اتنولوژي):

دیوې نیم څېړنیزې او نیم ژباړیزې لیکنې سرلیک دی چې د فرهنگ مجلې د (۱۳٦۸ل) کال په لومړۍ (وري-غویي) گڼه کې خپره شوې ده.

## د ډگریزې څېړنې لارې چارې:

دا هم د استاد زیار دیوې علمي لیکنې نوم دی چې د افغانســتان د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنــو د نړیــوال مرکــز د (۱۳۶۷ل) کــال پــه سمپوزیم کې وړاندې شوې او په اړوند غونډ کې چاپ ته سپارل شــوې ده.

Jams Darmesteter:

د استاد زیار لیکنه ده، چې په پښتو مجله کې په انگلیســي ژبــه د ۱۳۶۲ کال د ۳ گڼې په ۴۵-۵۰ مخونو کې خپره شوې ده.

## لویه جرگه:

په الماني ژبه (( Der Rat des Jirgas)) د استاد یوه لیکنه ده چــې د دیموکراتیک المان د ((ویلت بیونې)) نومي مجلې په ۱۷-٦-۱۹۸٦ گڼــه کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



" The Ethno - Linguistic

Composition of Afghanistan"

## د افغانستان وګړ- ژبیز جوړښت:

دا لیکنه استاد زیار په انګلیسي ژبه د هند ((انجمن فارسي)) اورګان ((بیاض)) د ۱۹۸۳م په لومړۍ ګڼه کې خپره کړې ده او د افغانســتان د علومو اکاډمۍ د پښتو مجلې د همدغه کال د درېیمې ګڼې په ۶۵-۶۷ مخونو کې هم خپره شوې ده.

## نوي ازاد شعر پر وړاندې:

یوه علمي تحقیقي لیکنه ده، چې د کابل مجلې د (۱۳۶۷ل) کال د ۵ ګڼې په ۳۵-۵۴ مخونو کې خپره شوې ده.

همدارنګه یې د نوي ازاد شعر په باب د همدې کال په یوه بله ګڼه کې هم یوه مخ لیکنه خپره شوې ده.

دغه راز یې دوه نورې لیکنې، یوه د سیدحسن حسن په باب او بله د سعدالله جان برق د شاعرۍ په باب د جرګې په مجله کې خپره شوې ده. همدارنګه یې د استاد خادم په باب یوه لیکنه په ژوندون مجله کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځانګړي څېړنيز چاپي او ناچاپي اثار

## کارپوهه:

یو علمي تحقیقي اثر دی، چې په پنځوسمو کلونو کې د اطلاعــاتو او کلتور وزارت د فولکور مجلې او ((فرهنګ خلق)) له خوا برخــه برخــه خپور شوی دی. مګر د خپلواک یوځایي چاپ پر وخت یې ښايي دغــه اوسنی نوم په (( د افغانانو وګړنۍ تخنیکپوهنه)) په نوم سمون ومومي.

## ټولنوال ريالیزم:

یو علمي څېړنيز اثر دی، چې د ټولنوال یا اجتماعي (سوسیالیستي) ريالیزم په باب په کې یو لړ تیوریکي څېړنې شوي دي. د دغه اثــر یــوه زیاته برخه د شپېتمو کلونو له پیل سره د هنر او ژوندون په مجلو کــې خپره شوې ده.

## د افغان - شوروي فرهنګي اړیکي:

د پوهاند زیار یو بل څېړنيز اثر دی، چې د دوستۍ په مجله کې یــې ځینې برخې خپرې شوي دي.

## د پښتو، دري، پشه يي فولکوري څېړنې:

د استاد زیار یو څېړنيز علمي اثر دی، چې په هغه کې د یادو شویو ژبو فولکوري څېړنې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګړدودي (لهجوي) څېړنې:

د پوهاند زیار تر ټولو ستر تحقیقي علمي اثر دی چې د څلورو کلو په موده کې یې کښلی دی. دا اثر (۱۰۴) ټوکه لري چـې پـه هغـه کـې د افغانستان د (۱۴) ژبو د ګړدودونو په باب هر اړخیز معلومات ورکړ شوي دي او له څو کلونو راهیسې د سویس د ملي فونډ له خوا د یونسکو په سپارښتنه (( د افغانستان د ژبپوهنې اتلس)) لپاره په برن پوهنتون کې تر کار لاندې دی.

## لیکونه:

لیکونه د استاد زیار یو بل اثر دی، چې په هغه کې پـه پښــتو، دري، الماني او انګلیسي ژبو هغه لیکونه راغلي دي چې استاد ځینو کسانو ته د بېلابېلو ادبي، هنري او سیاسي موضوعاتو په باب لېږلــي دي. دا اثــر تراوسه چاپ ته نه دی ورکړ شوی.

## پښتو بدلمیچ یا پښتو شعر څنګه جوړېږي؟

دا کتاب د استاد زیار له خورا نوښتګرانه علمي- تحقیقي اثارو څخه دی. په دغه کتاب کې د پښتو شعر ((سېلابوتونیک)) قواعــد وړانــدې شوي چې د لومړي ځل لپاره د همده له خوا را ایستل شوي او پــر درې ګونو پښتو وګړنیو (فولکوریکو) لکینیو یا دیواني او اوسنیو ازادو شعرو باندې تطبیق شو یدي.دغه کتاب چې له یادښت، ویی پانګې، سمونلیک او نیولیک پرته ۱۷۸ مخونه او یو لړ کلیشې، یوه ټټرۍ او د اوستربلونو جدول لري، د اطلاعاتو او کلتور وزارت د خپرونو له خوا د ۱۳۶۹ پر اوړي په ښکلې کچه او سکښت له چاپه راوتلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغه کتاب د ټټرۍ (واسکټ) پر یوه پیڅکه داسې کښل شوي دي: (( پوهاند زیار د یوه ژبپوهاند، ادبپوهاند او ۳۳ کلن شاعر او لیکوال په توګه تر خپلو اوږدو څېړنو وروسته دې پایلې ته ورسېد، چې د هرې ژبې او بیا پښتو پویټیکس او فونیټیکس (شعر پوهه او غږ پوهه) سـره نــه شلېدونکي اړیکي لري او په دې توګه د پښتو شعر رغښت سېلابوتونیک (څپیز- خجیز) دی، نو دا دی د لومړي ځل لپاره د همدغه سیســتم د دودونو او د ویونو (قواعد او قوانینو) پر را ایســتنه بــری مــومي او زړو ببولالو ته د پای ټکی ږدي. څنګه چې دی شعر ((موزونه او مقفی)) نــه بلکې ((موزونه او مخیله)) وینا بولي، نو ((نوی ازاد شعر)) ربښتینی شعر ګڼي او د رغښت مخبیلګه یې ولسي ازاد شعر دی (لنډۍ، سروکي...) نه اروپایي هغه. دغه کتاب د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د ادبي فنونو، عروضو او قافیې او څه ناڅه متنپوهنې د ټکسبوکونو ځای نیولای شي)).

پوهندوی عبدالحکیم د یوې کره کتنې (کابل مجله د ۱۳۷۰ دویمــه ګڼه) په ترڅ کې داسې لیکي: ((... د ژبپوهنې او ادبپوهنې د ګڼ شمېر خپرو شوو لیکنو، څېړنو او تدریس په لړ کې په همدې وروســتیووختو کې د ادبپوهنې د تیورۍ د شعر پوهنې په برخه کې د محتــرم پوهانــد دوکتور زیار یو نوی اثر چې په هغه کې د پښتو شــعر جــوړونې تیــوري وړاندې شوې ده... پوهاند دوکتور زیار د ((پښتو شعر څنګه جوړېږي؟)) د اثر په لیکلو سره د ادب تیورۍ د شعر پوهنې او شعر جوړونې په برخه کې لومړنۍ ژوره او جامع څېړنه وړاندې کړه، چې دا څېړنــه د نړیوالــو ادبي څېړنو په شان یوازې د پښتو ژبې د ځانګړنو او قواعدو پر بنســټ ولاړه ده...)).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کره کتونکی زیار

وايي چې: (( ادبي کره کتنه د ادبياتو روح دی، کره کتنه د ادبياتو د ودې او تکامل اساسي او عمده عامل دی.))(۱) او (( پــه حقيقــت کــې د تولنيز نظارت يوه مهذبه بڼه ده چې د صميميت او خواخوږۍ له مخــې روشنفکره ايجاد ګرانه لاربښوونه کوي.))(۲)

(( دا د ادبي کره کتونکي وظيفه ده، چې د يــوه ادبــي اثــر محتــوا، تکنيکي اړخونه او بديعي پرابلمونه او ځانګړنې وڅېړي، په ادبي اثر کې ژور ټولنيز پرابلمونه راوسپړي، د هغه ليکوال يا شاعر ملاتړ وکړي، چې په خپل خلاقيت سره د ژوند واقعيتونو او بشري لوړ ارمانونــه يــې پــه ښکلې او عاطفي بڼه انځور کړي دي او ددې خلاف هغو کسانو ته چــې اشتباه کوي د منطقي استدلال له لارې قناعت ورکړي.)(۳)

استاد زيار هم زموږ د ادب دغه ارزښتناکه برخه له خپل زيــاره بــې برخې نه ده پرې ايښې. سره له دې چې ده تراوسه پورې په دې برخــه کې کوم ځانګړی اثر نه دی خپور کړی، خو زيات کار يې پرې کړی دی، په لسګونو مقالې يې ليکلې دي، دکره کتنو په زياتو غونډو کې يې برخه اخيستې او زياتې ادبي غونډې او مشاعرې يې تر کره کتنې لاندې نيولې دي.

(۱) ژوندون مجله، ۱۳۲۵ل کال، ۵-۶ ګڼه، د پښتنی ځلورم مخ.
(۲) محمد صديق روهي، ژوندون مجله، ۱۳۲۳ل کال، ۵ګڼه، ۸مخ.
(۳) محمد صديق روهي، ژوندون مجله، ۱۳۲۳ل کال، ۵ ګڼه، ۱۳مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته به يې هغه ليکنې راوړم، چې په دې باب يې په بېلابېلو وختونو کې ليکلي او په بېلابېلو خپرونو کې خپرې شوې دي:

## ځوان ژمن (متعهد) پښتو ادب ته يوه کره کتنه:

د استاد د هغې ليکنې نوم دی، چې د پښتو ادب بېلابېل فورمونــه، چوکاټونه او ليکنې په کې تر کره کتنې لاندې نيول شوي دي. دا ليکنه د کابل مجلې د ۱۳۶۲ل کال د ۹-۱۰ گڼې په ۲۵-۳۷ مخونو کې خپــره شوې ده.

## کره کتنه:

د پوهاند زيار د هغې کره کتنـــې نـــوم دی، چـــې د وږمـــې مجلـــې د (۱۳۵۲ل) کال د ۱-۲ گڼې په ۱۷٤-۱۸۰ مخونو کې خپره شوې ده. په دې ليکنه کې درې کتابونه تر کره کتنې لاندې نيول شوي دي.

لومړی د ((فردي او اجتماعي ژوند لارښوونکی)) د سيدحکيم کمال شينواري اثر دی.

دويم د چار گل په نوم د همېش خليل د لنډو کيسو مجموعه ده.

درېيم روسي- پښتو قاموس دی چې (نژدې ۳۲۰۰۰ لغتونه) لري.

## د پښتو غزل مشاعرې ته يوه کتنه:

د کره کتنې په برخه کې د استاد زيار د يوې ليکنې نوم دی چې پــه هغې کې د پښتو ژبې يوه مشاعره تر کره کتنې او ارزونې لاندې نيــول شوې. دغه مشاعره د همده په هڅه د سعدالله جان برق په يوه شعر:

((بيا مې په تيارو کې ستا د خيال لمنه ونيوه
بيا يو سېلاب وړي د يـــو جـــال لمنه ونيوه))

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سرحدونو چارو وزارت د خپرونو ریاست له خوا جوړه شوې وه او د کابل مجلې د ۱۳۶۲ل کال د ۸ ګڼې په ۱۵-۴۱ مخونو کې خپره شــوې ده.

## نوی قاموس او نوې لار:

د کره کتنې په برخه کې یوه بله لیکنــه ده، چــې د کابــل مجلــې د ۱۳۴۹ل کال د (۸) ګڼې په ۴۴-۵۱ مخونو کې خپره شوې ده.

## لیکنې که ژباړنې! ولې زموږ لیکنې د پردیو ژبو رنګ لري!؟

د کره کتنې په برخه کې د پوهاند زیار یــوه بلــه لیکنــه ده، چــې د ننګرهار مجلې د ۱۳۵۴ل کال د حوت ګڼې په ۱۰ مخ او ۳۲ مخ کې خپره شوې ده. دغلته تر پورتنۍ کلیشې لاندې استاد د کره کتنې په برخــه کې نورې لیکنې هم کړې دي.

## لیکنې که ژباړنې! ولې زموږ لیکنې د پردو ژبــو یــو رنګ لري!؟

د کره کتنې په برخه کې یوه بله لیکنه ده، چې د ننګرهار مجلــې د ۱۳۵۴ل کال د سلواغې د ګڼې په ۱۵ او ۳۹ مخ کې خپره شوې ده.

## ټولنپوهنه یا د پښتو علمي کېدو یوه غوره بېلګه:

دا هم د کره کتنې په برخه کې یوه علمي لیکنه ده، چې د ننګرهــار مجلې د ۱۳۵۳ل کال د مرغومي او سلواغې د ګڼې په ۲۷ او ۳۰ مخ کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژبنیو آرونو (اصولو) په رڼا کې د لیکنۍ او خپرنۍ پښتو کره کتنه:

د کره کتنې په برخه کې د پوهاند زیار یوه علمي لیکنــه ده، چــې د پکتیا مجلې د ۱۳۵۶ل کال د ۳ ګڼې په ۴ مخ کې خپره شوې ده. دلته تر پورتنۍ کلیشې لاندې د کره کتنې په برخه کې د استاد زیاتې لیکنې راغلي دي.

## د ژبنیو آرونو (اصولو) په رڼا کې د لیکنۍ او خپرنۍ پښتو کره کتنه:

د کره کتنې په برخه کې یوه علمي لیکنه ده، چې د پکتیا مجلــې د ۱۳۵۶ل کال د ۴ ګڼې په ۲۲-۲۳ مخونو کې خپره شوې ده.

## د ژبنیو ارونو (اصولو) په رڼا کې د لیکنۍ او خپرنــۍ پښتو کره کتنه:

د کره کتنې په برخه کې یوه علمي لیکنه ده چې د پکتیــا مجلــې د ۱۳۵۶ل کال د ۶ ګڼې په ۱۲ مخ کې چاپ شوې ده.

## کره کتنه:

د کره کتنې په برخه کې د پوهاند زیار د یوې بلې لیکنې نوم دی، چې د وړمې مجلې د ۱۳۵۴ل کال د ۳ ګڼې په ۱۷۳-۱۷۷ مخونو کې خپــره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژبنیو آرونو په رڼا کې د لیکنۍ او خپرنۍ پښتو کره کتنه:

د کره کتنې په برخه کې یوه علمي لیکنه ده، چې د پکتیا مجلــې د ۱۳۵۶ل کال د ۷ ګڼې په ۸ مخ کې خپره شوې ده.

## د ژبنیو آرونو په رڼا کې د لیکنۍ او خپرنۍ پښتو کره کتنه:

د یادې شوې لیکنې یوه بله برخه ده، چې د پکتیا مجلې د ۱۳۵۷ل کال د ۱-۲ ګڼې په ۱۶ مخ کې خپره شوې ده.

## د ژبنیو آرونو په رڼا کې د لیکنۍ او خپرنۍ پښتو کره کتنه:

د یادې شوې لیکنې یوه بله برخه ده، چې د پکتیا مجلې د ۱۳۵۷ل کال د ۳ ګڼې په ۲۸ مخ کې خپره شوې ده.

## د ژبنیو آرونو په رڼا کې د لیکنۍ او خپرنۍ پښتو کره کتنه:

د یادې شوې لیکنې یوه برخه ده، چې د پکتیا مجلې د ۱۳۵۷ل کال د ۷ ګڼې په ۲۳ مخ کې خپره شوې ده.

## د ژبنیو آرونو په رڼا کې د لیکنۍ او خپرنۍ پښتو کره کتنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یادې شوې لیکنې یوه برخه ده، چې د پکتیا مجلې د ۱۳۵۷ل کال د ۴ ګڼې په ۱۵ مخ کې خپره شوې ده.

## د ژبنیو آرونو په رڼا کې د لیکنۍ او خپرنۍ پښتو کره کتنه:

د یادې شوې لیکنې یوه برخه ده، چې د پکتیا مجلې د ۱۳۵۶ل کال د ۵ ګڼې په ۱۵ مخ کې خپره شوې ده.

### ټولپوهنه یا د پښتو د علمي کېدو یوه غوره بېلګه:

د کره کتنې په برخه کې د استاد زیار یوه علمي لیکنه ده، چې د کابل مجلې د ۱۳۵۳ل کال د مرغومي او سلواغې د ګڼې په ۲۷ مخ او ۳۰ کې خپره شوې ده.

### کره کتنه:

بیا هم تر دغې کلیشې لاندې د پوهاند زیار درې لیکنې راغلي، چې په هغو کې د وږمې مجلې د ۱۳۵۱ل کال د ۳ ګڼې په ۱۱۱-۱۱۶ مخونو کې د پښتو لیکونه، مطبوعاتو ته یوه کتنه او برشنا کتابونه تر کره کتنې لاندې نیول شوي دي.

دغه راز یې د کره کتنې په برخه کې څو بېلابېلې لیکنې د وږمې مجلې د ۱۳۵۱ ل کال د ۴-۵ ګڼې په ۱۶۴-۱۷۸ مخونو کې چاپ شوي، چې په هغو کې د عصبي جهاز توصیفي تشریح، نننۍ ادبي پښتو، دویې پوهنې یادښتونه، د تورې شرنګ، مظلومه دنیا، د ملګرو ملتو منشور او مرغلرې کتابونه تر کره کتنې لاندې نیول شوي دي.

دا راز د کره کتنې په برخه کې د استاد زیار دوه لیکنې د وږمې مجلې د ۱۳۵۱ ل کال د ۶ګڼې په ۱۷۶-۱۷۶مخونو کې خپره شوې ده، چې دلته هم دوه کتابونه (کندهار او کاکړي سندرې) تر کره کتنې لاندې نیول شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا راز د وړمې مجلې د ۱۳۵۲ل کال د ۳-۴ ګڼې په ۱۵۲- ۱۶۴ مخونو کې بیا هم د کره کتنې په برخه کې د استاد زیار دوه لیکنې خپرې شوي، چې په هغې کې ابدالۍ توره او غورځنګ کتابونه تر کره کتنې لاندې نیول شوي دي.

د کره کتنې په برخه کې یې دوه لیکنې د وړمې مجلې د ۱۳۵۲ل کال د ۵ ګڼې په ۱۲۱-۱۲۹ مخونو کې خپرې شوي، چې په هغې کې د ((مزارات)) او بلې کې د((تلوسې)) کتابونه تر کره کتنې لاندې نیول شوي دي.

د کره کتنې په لړ کې یې د نجیب دېوان او زما سندرې کتابونه هم تر کره کتنې لاندې نیولي دي، دا لیکنه یې د وړمې مجلې د ۱۳۵۲ل کال په ۶ ګڼه کې خپره شوې ده.

## نصر الله حافظ دودیزوال وګړنی شاعر:

د کره کتنې په برخه کې د پوهاند زیار یوه بله علمي لیکنه ده، چې په هغې کې د نصرالله حافظ د شعرونو د ځرنګوالي په باب خبرې شوي دي. دا لیکنه د سباوون مجلې د ۱۳۶۶ل کال د ۵ ګڼې په ۳۵ او ۶۳ مخ کې خپره شوې ده.

## پیوند د اسطورو او تلمیحو شاعر:

دا د استاد زیار هغه کره کتنه او ارزونه ده، چې پر ۱۳۶۸ل کال یې د علي ګل پیوند پر شعرونو او بیا پر ((سیلۍ)) نومي شعري غونډ بانـدې کړې وه او د لیکوالو د انجمن په کلوپ کې یې یوې غونډې ته اوړولې وه. دا چې ولې ژوندون له چاپه لرې کړه او تري تم یې له منځه یوړه، تراوسه یې کومه پته ونه لګېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داستان لیکونکی زیار

وایي چې: (( کیسه ژوند دی او ژوند کیسه. پــه ژونــد کــې کیســې جوړېږي او کیسې له ژونده جوړېږي. ژوند د پېښو یو بهیر دی او پېښې د کیسو اساسي شرط. ژوند پېښې جوړوي او پېښې کیسې. کیســې د ژوند یو تصویر دی او د تصویر یو اړخ په کیسو کــې ژونــدی کېــږي او کیسې هستېږي. یون د ژوند یو نوم دی او که یون نه وي کیســه هــم حرکت نه شي کولای او نه شي جوړېدلای.

ژوند او د ژوند هره شېبه تنظیم او برابرۍ ته سخت ضرورت لــري او کیسه د همدغسې یو تنظیم لپاره تلاش دی او باید وي.

ژوند د خپل وړاندې تګ په سلسلو کې قهرمانان خلقوي، قهرمانان بیا کیسې جوړوي او په کیسو کې قهرمانان باید خلــق شــي. ژونــد د غورځو پرځو یو نوم دی او کیسې له همدغو حالاتو څخه ایجادېږي.)) [1]

نو استاد زیار هم د کیسې دغومره ستر ازرښت په پام کې نیولو سره کیسه هېڅکله له یاده نه ده کښلې، تل یې په دې برخه کې کار کــړی دی، د کیسو په باب یې علمي او تحقیقي لیکنې کړي، د هغو پر شکل او محتوا پوره غړېدلی دی او ان که ووایو پوره استادي په کې لري، زیاته به مې نه وي ویلي، نو څکه یې کیسې لیکلي دي، ډېرې یې لیکلي دي او ښې یې لیکلي دي.

دلته په لنډ ډول د ده پر چاپي او نا چاپي کیسو رڼا اچوو:

---

(۱) زرین انځور، کابل مجله، ۱۳۴۲ کال، لومړۍ ګڼه، ۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د یوولسم پوړ کړکۍ ( مینه د زړه په وینه):

دا یو رومان دی، چې استاد زیار په دیموکراتیک المان کې پر ۱۳۶۴ل کال کښلی دی. په دغه رومان کې له یوې الماني پېغلې سره د یوه مېلمه افغاني استاد مینه انځور شوې او په دې ترڅ کې د هیټلري فاشیســتي جنګ ناخوالو او پایلو ته ګوته نیول شوې ده. له دې سره سره په کې د افغاني ټولنې جنګ ځپلی اکر هم رانغښتل شوی او په دې توګه په کې د ((ولسیتوب)) او ((ژمنتوب)) توګه له ورایه ځلېږي.

دغه رومان څه دپاسه (۲۰۰) ټایپي مخه او (۱۶) څپرکي لري چــې د سرحدونو چارو وزارت له خوا چاپ ته وړاندې شوی دی.

## او خندا یې راوبښ کړم:

د استاد زیار یوه لنډه کیسه ده، چې د سباوون مجلې د ۱۳۶۷ل کال د ۲ ګڼې په ۱۸-۱۹ مخونو کې خپره شوې ده. همدارنګه همدغه کیسه د مېرمن مجلې د ۱۳۶۴ ل کال په ۵ ګڼه کې هم خپره شوې ده.

## د غرونو او ځنګلونو شپه:

د غرونو او ځنګلونو شپه د استاد زیار یوه داستاني اړانه (طرحه) یــا تکل دی، چې په ښکلو الفاظو کې رانغاړل شو یدی. دا داستاني طرح د کتاب مجلې د ۱۳۶۵ کال د ۷-۸ ګڼې په ۷۱-۷۴ مخونو کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا ډول یې یوه بله اډانه د زېري جریدې د ۱۳۶۵ل کال په یوه ګڼه کې هم خپره کړې ده.

## پټه پلوشه:

پټه پلوشه یو منځنی داستان دی، چې استاد د څرخي پله زندان تر اغېزې لاندې لیکلی دی. دا داستان شل مخه لري او تراوسه پورې خپور شوی نه دی.

## د سترګو دروږ:

د سترګو دروږ د هغې منځنۍ کیسې نوم دی، چې د هېواد د ځــوان شاعر باقي بریال ژوند په کې بیان شوی دی. دا کیسه پر ۱۳۶۵ل کال د بریال په ویاړ لیکل شوې ده او د څارنــدوی مجلــې د ۱۳۶۷ل کــال د لسمې ګڼې په ۶۸-۷۲ مخونو کې له چاپه راوتلې ده.

په همدې ډول یې د ۳۹-۱۳۴۰ل کلونو په اوږدو کې یو شمېر نورې لنډې کیسې لیکلي او په هېواد او اصلاح ورځپاڼو کې خپرې شوي دي. دا دی، دلته یې یوه لنډه کیسه د بېلګې په توګه وړاندې کوو:

## او خندا یې راویښ کړم

د یوه لرې سفر په تکل د برلین ښار د (رڼا غر) لوی تمځي ته ورسېدم. بار بستره مې ښه پوره درانه وو. شاکځوړې مې دواړې اوږې سره ټینګې کېښکلې وې، ملا مې ورسره کړوپه کړوپه کېده او سم مې پورتــه نېــغ کتلای نه شول.

لویو او وړو کځوړو مې لاسونه هم خورا بې دمې کړي وو. په پښو کې مې متره پاتې نه وه او په ډېره خوارۍ مې په ځــان پســې راکښــلې. دا اندېښنه هم راسره وه، چې که لږه دمه ونیسم او سا هومره واخلم، نــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ټاکلی اورګاډی به راڅخه وخوځېږي. په دې کې مې ناڅاپه پر یوې ښکلې نجلۍ سترګې ولګېدې، چې زما غوندې دا هم له یوه ښاري ګاډي څخه نوې پلې شوې وه او د اورګاډي په هڅه لېږداوه غبرګ بکسونه د تمځي پر وچې کانکریټي ډیوډۍ ورو ورو کښوي او پـاپی پـاپی پلونـه ورسره اخلي، په هغه ګڼه ګونه کې یو زړه سواند لاروی نه پیدا کېـده، چې د بکسونو په لېږد کې ورسره مرسته وکړي او تر یوې بلې ډیوډۍ یې ورسره ورسوي.

ما په دغه ښار او ټول هېواد کې وخت ډېر تېر کړی و، ډېرې رنګیزې څېرې مې لیدلې وې، مګر د دغې ښکلې پېغلـې سـره سـپینه او زړه راکښونکې څېره یوازې ماته نه، بلکې ټولو ښاریانو ته نـوې برېښـېده، دومره چې تا به ویل له ارمه کومه ښاپېرۍ راغلې او یا له اسمانه کوهم پرښته راکښته شوې ده.

زما غوندې پرې د هر چا دا اټکل راته، چې یا خو د کوم بـل هېـواد ګرځندویه ده او ښایي د کوم یار اشنا یا خپل خپلوان تر لیدنې وروسته بېرته خپل ټاټوبي ته ځي. زړه مې ډېر غوښتل ورسره مرسته وکړم، نه یوازې د هغې د بې سارې ښکلا او بې کچه پېغلتوب په پار، بلکې د یوې پردېسې ښځمنې په توګه، مګر خپل درانه پېټي له دغه ویاړه بې برخې کړی وم. خو نورو تش لاسو او هوسا لارویانو ته مې له پخساکه یینګـۍ ایشیده چې ولې پر هغې ښلکې پردېسې زړه نه سېزي او پېټې ورسره نه سپکوي.

زه هله پوه شوم، چې لودیځیان له پرمختللي کولتور سره سره بیا هم کلک زړي دي. خپلې پردېسۍ ته مې زړه خټه شو چې نه چېرې زه هم له داسې تنګسې سره لاس و ګرېوان شم او خپل بار پر خپلـو اوږو تـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



منزله ونه شم رسولای. سره له دې مې هم خپل پېټی دومره نه ژاړه او ځانته مې ډاډ ورکاوه، مګر د هغې ښکلې پردېسې او بېوسۍ مې یوه شېبه هم له زړه نه وته او همدا سودا راسره وه، چې کېږي خپل ګاډی لاندې نه کړي او بل ورپسې ګاډي ته یوه ګړۍ دوه سترګې پر لار پاتې شي.

زما ګاډی پر خپلې ټاکلې شېبه له تمځي وخوځېد او زړه مې له هغې پردېسې سره په تمځي کې تم پاتې شو. اورګاډی لکه د ژوند بهیر ډېر ګړندی او بېړندی له ښکلو غرونو، سیندونو او ګلکځونو څخه تېرېده. خنډ و ځنډ یې نه پېژندل او د سیمه ییزو ګاډو غونډې هر کلي او باندې ته نه ودرېده په ښکاره د نورو سپرلیو غونډې ما هم پر ښکلو شا او خوا منظرو سترګې ښخې کړې وې، خو له زړه مې یو خدای خبر و. د پاتې نیمې ورځې له تېرېدو سره د کوربه هېواد تر پولو واوښتو، مګر د ((ایلبې)) ښکلی سیند مو له خپل ښکلي چاپېریال سره هماغسې ملګری و. تر څو یې د دو ناو په څپانده سیند او د الپ په ننداریزو ځنګلي ګلکځونو وسپارلو. لمر راڅخه خپلې تودې طلایي وړانګې ورو ورو لېږدولې او د اسمانڅکو غرنیو ونو د څوکو په ښکلولو یې له موږ سره هم مخه ښه کوله او بېرته راڅخه مخ پر لویدیځ ستنېده، تر څو د سکنې ماښام تیاره ولګېده، تورې تروږمۍ شپې رانه هر څه له سترګو پنا کړل، سپرلۍ هم په خپلو څوکیو او سفري کټونو کې ځای پر ځای شوې. ما په خپل کټ کې هسې پښې غځولې وې او کمپله مې نیمکښه غونډې پر ځان راکښلې وه. هرڅه چې مې ځان تلقیناوه، د خوب نړۍ ته پناه یوسم، خو خوب چېرې و. یوازې د ګاډي د ګړب ګروب له کبله

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه، بلکې د پردېسې پېغلې اندېښنې مې هم لکه ماران په زړه کې کښته پورته ځغلېدې راځغلېدې.

شپه به نیمایي ته رسېدلې وه او سترګې مـې سـره سـمې نـه وې ورغلې، چې ناڅاپه د ګاډي یوې بوړنوونکې کړیکې بېرته راويښ کـړم. کوم همخوني مې د کړکۍ پرده یوې خواته کړه او سترګې مې د پراګ د ښکلي ښار په څراغان تمځي ولګېدې. له تمځي او بیا له ټول ښار څخه له وتو سره مې چې هر څو هڅه وکړه، تښتېدلی خوب مې سـترګو تـه بېرته کډه راوکړي، خو بریالی نه شوم او هسې مې له نیمکښې کړکـۍ څخه د تور مخي اسمان په ناپایه ورشو کې د یونیم ستوري ننداره کوله. په همدې همدې کې ورو ورو د ختیځ له خوا د شلمې یا دوه ویشـتمې سپوږمۍ نیمزالې غوندې رڼا د کړکیو ښیښې راوبرېښولې او له یوه اوږده تورتم تونل څخه له وتلو سره بیا د شپې نوراني پېغله د اسمان نیمایي ته رانېغه شوې وه او د هسک په ارته ورشو کې یې راسره تېز تېز ځغاستل. زما لپاره دا رومانتیکه شاعرانه او شپېنۍ ننداره تر ورځنۍ هغې هم ډېره په زړه پورې وه، ځکه له کومه راهیسې چې د یو ګڼ مېشتي اروپايي ښار په اسمانڅکو کې مېشت شوی وم. سپوږمۍ ته مې هډو پام شوی نه و او د چا خبره ببخي یې راڅخه ونګه هېره شوې وه.

شپه به متی پار نیمه پاتې وه، چې سخت خوب راغلی و، یو له ډېرو رنګینو ډک خوب چې له ډېرو خوږو خوږو خوبونو سره ملګری و. له زړه مې هغه ټولې ورځینۍ اندېښنې او ستړیاوې لښېدلې وې او د یـوه زړه راکښونکي روښان سباوون هیله منو ولولو مې په زړه کې غځونې کولې. خدایزده چې نور به مې څه خواږه خواږه خوبونه کتل او خپلې مرورې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمبېدلې هیلې او اسرې مې پرې غولولې او پخلا کولې، چې یو ناڅاپه یوې مستې زړه وړونکې خندا راویښ کړم.

له کته مې ورو ورو ځان راښوی کړ، د کړکۍ هنداره مې په بیړه بیړه راکښې ایسته او د باندې مې سر وکیښ. ګورم چې لمر نوی څرک راوهلی او د پسرلني سباوون خوشبویه او پسته وږمه د غرنیو ګلانو عطرونو زمور پر ګاډي راشیندي.

ترور ترور مې ګاونډیو کړکیو ته غلچکي غلچکي وکتل او سم مې په هماغسې پرونۍ پېغلې سترګې ولګېدې، چې سپینه نرۍ غاړه یې له کړکۍ راکښلې وه او اوږدې وریښمینې طلایي څڼې او اوربل یې د اورګاډي د توند باد له څپو سره شیند پر شیند اخوا دېخوا اوښتل را اوښتل.

همدا چې یې هوسۍ وږمه ترندې او برندې سترګې پرما ولګېدې، نو ما پرې هم بېواکه غږ وکړ: سهار مو نېکمرغه! هغې هم لکه ټول عمر چې لیدلی او کتلی اوسم، په یوه پېژندویه او مینه وړې شان ګړدود زما د سلام غبرګون وکړ او بېرته د لمر څرک په ښکلې ننداره بوخته شوه، زه هم ترې را شا کوچ شوم. یخ یخ پرځای کېناستم، تندې ته مې یو تس ورکړ او په زړه کې مې له ځان سره وویل: (( هغه مې چې پر اسمان غوښتله، خدای پر ځمکه راکړه!)).

هو، ما نوره خپله ورکه او د لارې مله موندلې وه، داسې مې انګېرله چې د لمر وړانګې او د سباوون زړه راکښونکې وږمه او بیا شاوخوا غرونه، ځنګلونه، سیندونه او ګلکځونه طلایي کورونه او پرتمین ښارونه راسره یوځای ځغلي او د لمرین ختیځ پر لور زما د پردېسو هیلو بدرګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي. نور مې نو د ارمانونو غوټۍ باغ باغ غوړېدلې وې او ټوله نړۍ راته د ګل په څېر موسکۍ موسکۍ کېده.

✵ ✵ ✵

له کیسه لیکنې پرته استاد زیار یو زیات شمېر ادبي ټوټې هم لیکلي چې ځینې د تکلونو بڼه لري او چاپ کړي یې دي. دلته یې د لاسته راغلو ټوټو یادونه کوم.

## د توبې ورونه:

د توبې ورونه د استاد زیار د هغې ادبي ټوټې نوم دی، چې (افراطینو ته) تر سرلیک لاندې د کابل پوهنتون اوونیزې د ۱۳۶۶ کال د ۵ میاشتې د ۲۱ نېټې په ګڼه کې خپره شوې ده.

## تلک:

د پوهاند زیار یوه بله ادبي ټوټه ده، چې د ورمې مجلې د ۱۳۵۱ کال د ۳ ګڼې په ۶۹-۷۱ مخونو کې خپره شوې ده. دغه ډول د ژېرې جریدې د ۶۵- ۶۶ کلونو په ګڼو کې د استاد زیار ځینې نورې ادبي ټوټې هم خپرې شوې دي.

## خوب کالي:

خوب کالي د پوهاند زیار د یوې بلې ادبي ټوټې نوم دی چې لاندې به یې متن په بشپړ ډول راوړو:

زه په ختیځ کې وم،
ته په لویدیځ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی
پر ما ورغ راغله
او بیا پر تا
خو ته،
تر ما دمخه راوینښ شوې
او دمخه ولښېدې
او زه
ځای پر ځای ویده پاتې شوم
ستا د کاروان د غړو غوږ
زما په غوږو کې
هسې خوبولې انګازې شوې
او زما خوب یې نور هم پسې لا درون کړ
تا
زما له خوبولتیا ناوړه ګټه واخیسته
بېرته راپسې راستون شوې
په خوب کې دې رانه هر څه ولجه کړل
او زه دې
پر وچ ډاګ
میرات او کور ګډی
ویده پرېښودم...
هو
تر څو چې زما د راویښېدو وار راسېده
او عقل مې سرته راته
بیا پېړۍ اوښتې وې
او پړاوونه پړاوونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر تا لرې پاتې وم**
**اوس نو**
**که یو خوا**
**له ډېرې بېوسۍ او نهیلۍ نه**
**زما د پښو سپینې غوټې شوې**
**نو بل خوا**
**تا هم راباندې داسې کوډې کړې دي**
**چې په سپېره خاورینه کنډواله کې**
**پر سپینه رڼا ورځ**
**په غړېدلو سترګو**
**خوب وړی یم**
**له کار او ژوند سره هماغسې مرور یم**
**او خوب کالي مې لا**
**پر کار کالیو نه دي بدل کړي!!؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژبپوهاند زیار

وايي چې (( ژبپوهنه هغه علم دی، چې د يوې ژبې داخلي ساختمان او جوړښت تر څېړنې لاندې نيسي)). [1] پوهاند زيار هم په دې برخه کې دومره زيات کار کړی دی، چې کله په هېواد کې څوک د ژبې يا ژبنيو مسايلو په باب غږېږي، نو د استاد زيار نوم به يې تر ټولو لومړی په خوله کې وي.

ده تراوسه پورې په سلګونو علمي او تحقيقي مقالې د ژبپوهنې په برخه کې په ملي او هم بين المللي کچه ليکلې دي او ځکه خو يې بايد ليکلی وای، چې د ده رسمي څانګه او مسلک همدا ژبه ده او په دې برخه کې يې لومړۍ درجې او علمي رتبې هم اخيستې دي.

ده د ژبپوهنې په برخه کې دومره زيات کار کړی دی، چې ګرد يې د ده پر نورو ادبي کارونو او نوښتونو هم پرېوتی دی. ټول خلک لومړی دا فکر کوي، چې د يو ستر ژبپوهاند نوم اخلي او د هغه په باب خبرې کوي، خو ځينې خلک لا په دې پوه نه دي، چې استاد زيار نه يوازې په ژبپوهنه کې استاد دی، بلکې په شعروشاعرۍ او داستان ليکنه کې هم استادي لري. موږ دلته دده په باب له زياتو خبرو څخه تېرېږو. د ده کار ټولو ته ښکار او څرګند دی، زموږ ډېرو خبرو او نه خبرو ته حاجت او اړتيا نه شته، هغه د خوشال بابا خبره:

(۱) پوهندوی نوراحمد شاکر، ژبنۍ څېړنې، ۱۳۵۰ کال، مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لمر پــه ګوته پټاوه نه شي خوشاله**
**هېڅ منکر مه شه له خپلې عاشقۍ**

**اوس به دلته لومړی د پوهاند زیار هغه ژبنۍ لیکنې چې پر بېلابېلـو وختو یې په بېلابېلو جریدو، مجلو او ورځپاڼو کې خپرې کـړې دي لـه اخځ سره یادې کړو او د هغو پر څرنګوالي به لنډه رڼا واچوو او بیا د هغه په ځانګړو ژبنیو اثارو وغږېږو.**

## د ژبپوهنې نومونې:

**د ژبپوهنې نومونې د استاد زیار د یوې اوږدې ژبنۍ لیکنې نـوم دی، چې د وږمې مجلې په بېلابېلو ګڼو کې خپره شوې ده. استاد زیار د دې لیکنې د لومړۍ برخې په پیل کې وایي:**

**((د لوی څښتن په نامه د ژبپوهنې په نومونو لاس پورې کوم او په دې توګه په پښتو کې لومړی پلا د نومونپوهنې (Terminology) بنسټ ږدم دا ځکه یوه اړتیا ګنم، چې زموږ ژبه نن سبا د نړۍ له سترو ژبـو سـره سیالۍ ته ملا تړلې ده.)).[1]**

**په دې لیکنه کې د ژبپوهنې نومونې (اصطلاحات) پــه پښــتو، دري، الماني او انګلیسي ژبو کښل شوي دي. د دې اوږدې ژبنۍ لیکنې لومړۍ برخه د وږمې مجلې د ۱۳۵۰ل کال د ۵-۶ ګڼې په ۱۱۲-۱۱۵ مخونو کې خپره شوې ده.**

---

(۱) دوکتور زیار، د وږمې مجله، ۱۳۵۰ل کال، ۵-۶ګڼه، ۱۱۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ترکیبات اسمی در زبان دری:

ترکیبات اسمی در زبان دري د هغې ژبنۍ لیکنې نوم دی چې په دري ژبه کښل شوې ده. په دې لیکنه کې د دري ژبې د نومونو د جوړښت او ځرنګوالي په باب ګټور معلومات وړاندې شوي دي. دا لیکنه د خراسان مجلې د ۱۳۶۰ل کال د ۵ ګڼې په ۱۵۰-۱۵۳ مخونو کې خپره شوې ده.

## د ژبپوهنې نومونې:

د پورتنۍ یادې شوې لړۍ بله برخه ده، چې د وږمې مجلې د ۱۳۵۱ل کال د ۶ ګڼې په ٤٧-٤٨ مخونو کې خپره شوې ده.

## د ژبپوهنې نومونې:

د یادې شوې لیکنې یوه برخه ده، چې د وږمې مجلې د ۱۳۵۲ل کال د ۶ ګڼې په ۵۵-۵۶ مخونو کې خپره شوې ده.

## پښتو ګړدودونه ((لهجې)):

پښتو ګړدودونه د هغې اوږدې لیکنې نوم دی چې د پښتو ژبې د بېلابېلو ګړدودونو (لهجو) په باب په کې ګټور معلومات وړاندې شوي دي. دا لیکنه چې تر ۷۰ ځخه زیات مخونه لري، د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز د نړۍ وال سیمینار د مقالو په مجموعه کې، چې پر (۱۳۵۴ل) کال جوړ شوی و، راغلې ده.

## د ژبپوهنې نومونې:

د یادې شوې لیکنې بله برخه ده، چې د وږمې مجلې د ۱۳۵۲ل کال د ۵ ګڼې په ۵۷- ۵۹ مخونو کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژبپوهنې نومونې:

د یادې شوې لیکنې بله برخه ده چې د وږمې مجلې د ۱۳۵۱ل کال د ۱-۲ گڼې په ۱۳۹-۱۴۰ مخونو کې خپره شوې ده.

## پښتو آرپوهه:

پښتو آرپوهه د استاد زیار د هغې ژبنۍ علمي څېړنېزې اوږدې لیکنې نوم دی، چې د وږمې مجلې په زیاتو گڼو کې په پرله پسې توگه خپره شوې ده. په دې لیکنه کې د هغو لغتونو ریښې له نورو ژبو، لکه هندي، پارسي، بلوڅي، مونجي، سوغدي... سره څېړل شوي دي، چې اوس په پښتو کې کارول کېږي. دا لیکنه د وږمې مجلې د ۱۳۵۱ل کال د ۱-۲ گڼې په ۹۸-۱۰۲ مخونو کې خپره شوې ده.

## پښتو آرپوهه:

د یادې شوې لیکنې څلورمه برخه ده، چې د وږمې مجلې د (۱۳۵۱ل) کال په (۶) گڼه کې په (۸) مخونو کې خپره شوې ده.

## پښتو آرپوهه:

د یادې شوې لیکنې اوومه برخه ده، چې د وږمې مجلې د (۱۳۵۲ل) کال د (۵) گڼې په (۶۳-۷۲) مخونو کې خپره شوې ده.

## پښتو آرپوهه:

دیادې شوې لیکنې اتمه برخه ده، چې د وږمې مجلې د (۱۳۵۲ل) کال د ۶ گڼې په ۸ مخونو کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښتو آرپوهه:

د یادې شوې لیکنې بله برخه ده، چې د وږمې مجلې د ۱۳۵۲ ل کال د ۱–۲ ګنې په ۸۹-۹٦ مخونو کې خپره شوې ده.

## پښتو آرپوهه:

د یادې شوې لیکنې بله برخه ده، چې د وږمې مجلې د ۱۳۵۱ل کال د ۶ ګنې په ٤۷-٤۸ مخونو کې خپره شوې ده.

## پښتو آرپوهه:

د یادې شوې لیکنې یوه برخه ده، چې د وږمې مجلې د ۱۳۵۱ل کال د ۴–۵ ګنې په ۱۱۷–۱۲۶ مخونو کې خپره شوې ده.

## د زیات پیاوړتوب په هیله یوه نوې هڅه:

دا د استاد زیار د هغې لیکنې نوم دی، چې هغې کې ده پر خپلې نوې وظیفې باندې د ټاکل کېدو له امله خپل هوډ ښوولی او د لیکلار په برخه کې یې لږ و ډېر معلومات وړاندې کړي دي. دا لیکنه د وږمې مجلـې د ۱۳۵۱ل کال د ۳ ګنې په ۱–۳ مخونو کې خپره شوې ده.

## پښتو آرپوهه:

د یادې شوې لیکنې یوه بله برخه ده چې د وږمې مجلــې د ۱۳۵۱ل کال د ۳ ګنې په ۸٦-۸۸ مخونو کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ارتوگرافیک ریفورم (الفبایي سمون) زموږ له ملـــي انقلابي هیلو سره سمون لري، نوې افغاني الفبا د ټولو افغاني ژبو لپاره:

د ژبپوهنې په برخه کې د پوهاند زیار یوه علمـــي لیکنـــه ده چـــې د عرفان مجلې د ۱۳۵۷ل کال د ۴-۵ گڼې په ۶۱-۶۷مخونو کې یې یـــوه یوه برخه خپره شوې ده. همداسې یې یوه وړه لیکنه کال دوه دمخه په جمهوري پلوشه کې هم وړاندې شوې ده ( زیاته څرگندونه: د لـــومړي څپرکي وروستۍ برخه).

## د تذکره الاولیا ژبنۍ خوا:

دتذکره الاولیا  ژبنۍ خوا د پوهاند زیار د یوې بلې ژبنۍ لیکنې نـــوم دی، چې په ((د امیر کروړ یاد)) نومي کتاب کـــې چـــې د افغانســـتان د علومو اکاډمۍ له خوا پر ۱۳۴۶ل کال خپور شوی، په ۳۹۰-۳۹۹ مخونو کې راغلې ده.

## پښتو آرپوهه:

د یادې شوې لیکنې یوه برخه ده، چې د وږمې مجلې د ۱۳۵۲ل کال د ۳-۴ گڼې په ۱۲۵-۱۳۲ مخونو کې خپره شوې ده.

## پښتو څنگه په پښو ودرېږي او څنگه پل واخلي:

یوه ژبنۍ علمي لیکنه ده چې د کابل مجلې د ۱۳۴۶ل کال د ۹ گڼې په ۲۰-۳۰ مخونو کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژبپوهنه د پښتو په چوپړ کې:

یوه ژبنۍ لیکنه ده، چې د کابل مجلې ۱۳۵۷ل کال د ۲ ګڼې په ۱۶۰-۱۷۰ مخونو کې خپره شوې ده.

## پښتو ويي پوهنې ته یوه لنډه کتنه:

یوه علمي ژبنۍ لیکنه ده، چې د کابل مجلې د ۱۳۵۹ل کال د ۳ ګڼې په ۱۳-۱۸ مخونو کې خپره شوې ده.

## لنډون د لیکنۍ پښتو د یوه معیار په توګه:

یوه علمي ژبنۍ لیکنه ده، چې د کابل مجلې د ۱۳۵۵-۱۳۵۶ل کال د ۲ ګڼې په ۱-۵ مخونو کې چاپ شوې ده. همدارنګه د زېري جریدې د ۱۳۵۵-۱۳۵۶ل کال په ګڼو کې هم خپره شوې ده.

## مختصری پیرامون و جه تسمیهٔ خراسان:

دا یوه علمي ژبنۍ څېړنه ده، چې په پارسي ژبه کښل شوې او د خراسان مجلې د ۱۳۶۲ل کال د ۱۲ ګڼې په ٥٤-۸۲ مخونو کې خپره شوې ده.

## د ويي پانګې په پراختیا کې د کړ نومونو (فعلي مشتقاتو) ونډه:

یوه ژبنۍ مقاله ده، چې د ننګرهار مجلې د ۱۳۵۳ ل کال د لومړۍ ګڼې په ۳۰ مخ کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ويي پانګې په پراختيا کې د کـړ نومونـو (فعلـي مشتقاتو) ونډه:

د يادي شوې ليکنې يوه بلـه برخـه ده، چـې د ننګرهـار مجلـې د ۱۳۵۳ل کال د غويي مياشتې د ګڼې په ۲۸ مخ کې خپره شوې ده.

## په ويي پانګه کې د ستاينومونو (صفتونو) ونډه:

يوه ژبنۍ ليکنه ده، چې د ننګرهار مجلې د ۱۳۵۳ل کال د غبرګولي د ګڼې په ۳۷-۳۸ مخونو کې خپره شوې ده.

## د پکتيا ګړدودونه:

په دې ليکنه کې د پکتيا ګړدودونه تر څېړنې لاندې نيول شوي دي دا ژبنۍ ليکنه د ننګرهار مجلې د ۱۳۵۵ د وږي مياشتې ګڼې په ۱۵ مخ کې خپره شوې ده.

## د پښتو ويي پانګې په پراختيا کې د بيا ځلي تړنګونو (تکراري ترکيبونو) ونډه:

يوه ژبنۍ ليکنه ده چې د ننګرهار مجلـې د ۱۳۵۳ل کـال د لـړم د مياشتې د ګڼې په ۲۹ او ۳۶ مخ کې خپره شوې ده.

## د ګډې ليکنۍ معياري پښتو پرېکړه د نوې تـاريخي اړتيا په توګه:

يوه ژبنۍ ليکنه ده چې د ننګرهار مجلې د ۱۳۵۶ل کال د لينـدۍ د ګڼې په ۱۳ مخ کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پښتو ویي پانګې په پراختیا کې د جوړه ترړنګونــو (جفتو ترکیبونو) ونډه:

یوه ژبنۍ لیکنه ده چې د ننګرهار مجلې د ۱۳۵۳ل کال د لینــدۍ د ګڼې په ۲۳ مخ کې خپره شوې ده.

## د پښتو ویي پانګې په پراختیا کې د ټاکنترړنګونو (تعیني ترکیبونو) ونډه:

یوه ژبنۍ څېړنه ده چې د ننګرهار مجلې د ۱۳۵۳ل کال د مرغومي او سلواغې د ګڼې په ٤۸ مخ کې خپره شوې ده.

## د پښتو دایره المعارف بشپړېدل:

یوه علمي او ژبنۍ لیکنه ده، چې د عرفان مجلــې د ۱۳۵۶ل کــال د لومړۍ ګڼې په ۱۴۱-۱۴۶مخونو کې خپره شوې ده.

## راځئ کلیو، باندېو او غرو رغو ته ووځو او خپله هېره کړې پښتو بېرته یاده کړو:

یوه ژبنۍ مقاله ده، چې د پکتیا مجلې د ۱۳۵۶ل کال د لومړۍ ګڼې په ۱۶ او ۳۷ مخ کې خپره شوې ده.

## ګړدودونه (لهجې):

د استاد زیار د ګړدودونو د مقالې دویمه برخه ده، چې د پکتیا مجلې د ۱۳۵۵ل کال د ۲ ګڼې په ۶ مخ کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اسمي مشتقات (نوم بېلنگونه) زموږ د لیکنۍ پښتو ستره برخه ده:

یوه علمي ژبنۍ لیکنه ده، چې د پکتیا مجلې د ۱۳۵۶ل کال د ۲ گڼې په ۱۸ مخ کې خپره شوې ده.

## موږ او ژبه:

دا یوه بله ژبنۍ څېړنه ده، چې د ننگرهار مجلې د ۱۳۵۲ل کال د وړي د گڼې په ۳۷-۳۹ مخونو کې خپره شوې ده.

## خپلسرې معیاري پښتو به څنگــه وي؟ پښــتو کــه ناپښتو؟

یوه علمي ژبنۍ لیکنه ده، چې د وږمې مجلې د ۱۳۵۳ل کال د لومړۍ گڼې په ۱۲۲-۱۲۴ مخونو کې خپره شوې ده.

## له ثور انقلاب راهیسې په پښتو کې نوې ویې رغاونه (نیولوگیزم):

دا یوه بله ژبنۍ لیکنه ده، چې د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا په یوه جوړ شوي سیمینار کې اورول شوې او بیا په (پښتو څېړنې) نــومي غونډ کې پر ۱۳۶۷ل کال په ۴۱۲-۴۵۹ مخونو کې خپره شوې ده.

## د سویس له برنه رالېږل شوی لیک:

کابل مجلې ته د پوهاند زیار رالېږل شوی لیک دی، چې په هغه کې د ژبپوهنې د اصطلاحاتو په باب خبرې شوي دي. دا لیک د کابل مجلې د ۱۳۴۷ل کال د ۱۱-۱۲ گڼې په ۱۰۹ مخ کې خپور شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پښتو پرمختګ د هغې د پرابلمونو پــه حــل کــې نغښتی دی:

دا د هغې ژبنۍ لیکنې نوم دی، چې د ننګرهار مجلې د ۱۳۵۳ل کال د وري د میاشتې د گڼې په ۲۳مخ او پاتې په ۳۳ مخ کې خپره شوې ده.

## سم یې لیکئ او سم یې لولئ، (په) او (پر) یو د بل پر ځای مه کاروئ:

دا هم یوه ژبنۍ لیکنه ده چې د دوو سربلونو (پــه) او (پــر) د کــارولو د څرنگوالي په باب په کې څرگندونې شوې دي. دا لیکنه د هېواد ورځپاڼې د وري په ۱۳ گڼه کې خپره شوې ده. دا لکینه د هغې لړۍ یو ټوک دی چې په نوموړي ورځپاڼه کې کله نا کله خپرېده.

## سربلونه او ستربلونه:

دا هم د استاد زیار د یوې ژبنۍ لیکنې نوم دی، چې د پښتو ژبــې د لیکلار په باب لیکل شوې ده. دا لیکنه د یوې مرکــې پــه تــرڅ کــې د ((جوانان امروز)) مجلې د ۱۳۶۶ل کال په گڼه کې راغلې ده او هم پــه ځانگړي ډول په یوه جلا پاڼه کې هم چاپ شوې ده.

## ((په اوسنۍ لیکنۍ پښتو کې د نوې ویــي رغــاونې اړتیا)):

د استاد یوه ژبنۍ لیکنه ده، چې د پښتو مجلــې د ۱۳۶۰ل کــال د ۱ گڼې په ۴۵-۴۷ مخونو کې په الماني ژبه خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (( پښتو ژبې او ادب ته یوه لنډه کتنه)):

د استاد زیار لیکنه ده، چې د ۱۳۵۸ل کال په کالنۍ کې خپره شوې، په الماني ژبه عبدالغفار ژباړلې او د پښتو مجلې د ۱۳۵۹ل کال د ۴ ګڼې په ۱۱۸-۱۳۰ مخونو کې خپره شوې ده.

## (پښتو ژبې او ادب ته یوه کتنه):

دا هغه لیکنه ده، چې د عطار له خوا په الماني ژباړل شوې او د پښتو مجلې د ۱۳۵۹ل کال لومړۍ ګڼې په ۹۶-۱۰۵ مخونو کې خپره شوې ده.

## نومتړنګونه- د پښتو ویي رغاونې یو خورا ډېر زېږې ډول:

د استاد زیار یوه بله لیکنه ده، چې د پښتو مجلې د ۱۳۶۰ کـال د ۳ ګڼې په ۶۵-۷۱ مخونو کې خپره شوې ده.

## ویي پانګه (لغوي ذخیره):

یوه ژبنۍ لیکنه ده، چې د کابل مجلې د ۱۳۵۹ل کال د ۳ ګڼــې پــه ۱۳- ۱۸ مخونو کې خپره شوې ده.

## پښتو لیکلار:

یوه ژبنۍ لیکنه ده، چې د پلوشې مجلې د ۱۳۵۷ل کال د ۱-۲ ګڼې په ۲۴-۲۶ مخونو کې خپره شوې ده.

## پښتو لیکلار:

یوه ژبنۍ لیکنه ده، چې د پلوشې مجلې د ۱۳۵۷ل کال د ۳ ګڼې په ۳۳-۳۵ مخونو کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښتو لیکلار:

یوه ژبنۍ لیکنه ده، چې د پلوشې مجلې د ۱۳۵۶ل کال د ۴ گڼې په ۲۹-۳۲مخونو کې خپره شوې ده.

## زموږ لیکنې او جمله رغاونې:

دا یوه ژبنۍ لیکنه ده، چې د کابل مجلې د ۱۳۶۱ل کال د ۱۰-۱۲ گڼې په ۷۵-۸۰مخونو کې خپره شوې ده.

## له اساطیري ضحاکه تر رښتیني تاریخي سهاکه:

دا یوه ژپنۍ او تاریخي څېړنه ده، چې استاد د ابوالقاسم فردوسي تلین په ویاړ د جرگې مجلې د ۱۳۷۰ل کال په لومړۍ گڼه کې خپره کړې ده.

## افغاني فرهنگ د پلورالیزم په رڼا کې:

دغه لیکنه د وخت د فرهنگي او په تېره د هنري زېږونو د یوې ارزونې په توگه د وطن میاشتنۍ د ۱۳۷۰ل کال په دویمه گڼه کې خپره شوې ده.

## زموږ په هنري زېږندویۍ کې د نویو هڅو یو لنډ جاج:

دغه لیکنه هم پاسنۍ لیکنې ته ورته منځپانگه را اخلي او د وطن مجلې د ۱۳۷۰ل کال په څلورمه گڼه کې چاپ شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځانګړي ژبني چاپي او ناچاپي اثار

## ويي رغاونه:

ويي رغاونه د پوهاند زيار يو ژبنی اثر دی چې په هغه کې ځينې ژبني مسايل په ځانګړي ډول پښتو وييونه (لغتونه) څېړل شوي دي. دا اثر د کابل پوهنتون له خوا په ۱۳۵۵ل کال کې په ګستتنر ډول خپور شوی او په ادبياتو پوهنځي کې د درسي مضمون په توګه ورڅخه ګټه اخيستل شوې ده.

## د ژبپوهنې بنسټونه:

دا هم د استاد يو ژبنی اثر دی، چې د کابل پوهنتون له خوا په ۱۳۵۳ل کال کې په ګستتنر ډول چاپ شوی دی. له دغه اثر څخه د ژبو او ادبياتو پوهنځي کې د درسي مضمون په توګه ګټه اخيستل شوې ده.

## نظر کوتاهی بر زبان و زبانشناسی:

(( نظر کوتاهی بر زبان و زبانشناسی)) د پوهاند زيار يو بل ژبنی اثر دی، چې پر ۱۳۵۶ل کال د کابل پوهنتون له خوا په ګستينر ډول په دري ژبه کښل شوی، په عمومي ډول په کې د ژبې او ژبنيو مسايلو او ژبنيو کورنيو په باب معلومات راغونډ شوي دي او د فلسفې څانګې شاګردانو ترې د درسي مضمون په توګه ګټه اخيستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښتو- دري فرهنګ:

پښتو دري فرهنګ يو علمي او سيستماتيک فرهنګ دی که څه هم دغه فرهنګ د دولس زرو (۱۲۰۰۰) پښتو ويیو په درلودلو سره منځنـــۍ کچه لري، خو نژدې ټوله پښتو ويي پانګه په بنسټيزه او کليدي توګه را اخلي. دا اثر ټايپستي ۱۵۰۰ مخونه لري.

دغه فرهنګ له ۱۳۵۳ل کال راهيسې حروفي چاپ ته چمتو دی، خو استاد زيار نه غواړي، د چاپي تېروتنو بلهـاري شـــي او داســې کښـاند (خطاط) هم ډېر کم پيدا کېږي، چې د غرېزې (فونيميکي) ابېځـې لــه توغه يې ووتلای شي.

## ويي پوهنه:

ويي پوهنه يا علم اللغت د پوهاند زيار د هغه کتاب نوم دی، چې پــر ۱۳۶۰ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي له خوا د لــوړو او مسلکي ښوونو د وزارت په چاپخونه کې د شوکت حسيني په خطاطۍ په افيست ډول او په ښکلې کچه او ډېزاين د ۱۰۰۰ ټوکونو په تيــراژ لــه چاپه راوتلی دی. دا کتاب د استاد زيار له خوا د پښتو ويي پوهنې او ملي ژغورنې د لارې شهيد عبدالرحمن لودين ته ډالی شوی دی.

نوموړی کتاب ټول ۳۵۱ مخونه لري او د استاد د څو کلونو د کار يیبره (ثمره) ده. په دې کتاب کې د پښتو ژبې يو ګڼ شمېر وييونه (لغتونه) له پارسي انډول سره يوځای راغلي دي. په ياد شوي اثر کې د پښتو ژبې د لغتونو د جوړښت او ځرنګوالي په باب پوره پوره معلومات وړاندې شوي دي. ددغه کتاب په پيل کې په درېو مخونو کې د دوکتور زيار يو يادښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**راغلی او وروسته بیا په دوو مخونو کې د پوهندوی نوراحمد شاکر یــوه کتنه راغلې ده.**

**پوهندوی شاکر د دغه اثر په باب لیکي:**

**(( دغه کتاب د دوکتور زیار د څو کلونو د څېړنو او پلټنو محصول دی او د پښتو ویي پوهنې (لیکزیکولوژۍ) په برخه کې یو لومړی جــامع او سیستماتیک اثر دی. نوموړی همدارنګه زیاتوي: (( زیار دا عیني مساله په خورا ښه توګه دلته څېړلې او شرح کړې ده چې پښتو غوندې د یوې نوې علمي کېدونکې ژبې کار باید د لغوي زېرمې له برسېرونې، ټولونې او پر کار اچونې څخه بېل شي او په دې توګه د محاوري، د متني، مصنوعي او مستعارو برخو ترمنځ یو اندول ټینګ شي)).**

**د نور احمد شاکر تر کتنې وروسته په دوو مخونو کې د هغه وخــت د انګلیسي ژبې او ادبیاتو د رشتې استاد پوهندوی محمد عمــر زاهــدي تقریظ راغلی دی، چې ددې کتاب د څرنګوالي په باب یې رڼا اچولې ده. ښه به وي چې د دغه ارزښتمن کتاب د زیاتې پېژندنې په هڅه د هغــه نیولیک (فهرست) راوړو:**

## د وییونو ډولونه:

- ویي پانګه (لغوي ذخیره)
- ویي پیدایښت، ویي جوړښت، ویي جوړونه
- د پښتو کولتوري کولو لیار...
- پلټنه، ټاکنه، پورونه
- نیولوګیزم یا لغت جوړونه
- د لیکنۍ پښتو یوه تاریخي اړتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د خپلې پانگې ترویج، تصفیه نه گڼل کېږي.
ـ هممانیز (مترادف) وییونه
ـ پور وییونه (مستعار لغات)
ـ وییکي (ادوات)
ـ گړنې یا اصطلاحات
ـ د ویي رغاونې له مخې د کړ ډولونه
(کړ نومونه (فعلي مشتقات)
ـ ننوم بېلنگونه (اسمي مشتقات)
ـ ستاینومونه (صفتونه)
ـ چار نومونه
ـ اړیکنومونه (نسبتي اسماء
ـ لوښنومونه
ـ ځاینومونه
ـ مانا نومونه
ـ ووړنومونه
ـووړ نوم ډوله، څیزنومونه
ـ ډېر گړي (جمع) څیز نومونه
ـ تړنگونه
ـ ستاینوم تړنگونه
ـ جوړه تړنگونه (بشپړاند، هممانیز، کړول، څیزنوم، ستاینوم)
ـ ټاکنتړنگونه (لوښنوم،څیزنوم، ستاینوم، څیزنوم)
ـ بیاځلي تړنگونه
ـ یومخیز

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ بر خیز
ـ برخیز سمغړي
ـ ورته مانیز- مقفی
ـ ورته مانیز- مقفی
ـ مقفی- مهمل
ـ نوي نومونې (اصطلاحات)
ـ راز راز ترنګونه.

د یادونې بل ټکی دا دی، چې ځینې خلک داسې فکر کوي چې ګنې دکتور زیار یوازې داسې سوچه پښتو غواړي، چې ببخي د بلې ژبې یوه کلمه هم په کې راغلې نه وي، خو په حقیقت کې داســې نــه ده. دا دی ددغه ټکي د روښانیتا په موخه د یاد شوي کتاب څو مخونه را اخلو:

## د خپلې پانګې ترویج تصفیه نه بلل کېږي:

زموږ غوندې په یوه وروسته پاتې ټولنه کې هر نوی ګام زوږ عنعنــي ذهنیت پاروي، که څه هم دا نوی ګام د نوي ژوند زېــری وي او د نــړۍ والې سیالۍ سریزه. دلته د نوي ګام اخیستونکي ته یوازې زغمنه نــه، چې سربښندنه او قرباني په کار ده چې یې د خپلې ټولنې د نوي کولو په خاطر د بري شرط او آړ وګڼي، دلیل او منطق په دلیل او منطق ځــواب کړي او هسې بې منطقي او سر زوري په ((قالو سلاما))، نو ځکه مو دغه د تخنیکي خبرو پرځای د پښتو لیکلار په برخه کې د نوي ګــام دفــاع غوره وګڼله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکونکي په ژبپوهنه کې لوړو زده کړو او پــه هېــواد کــې د پښــتو گړدودونو (لهجو) اوږدو څېړنو تر هر څه لومړی دېته ځیــر کــړي چــې پښتو بنه نوي علمي او کلتوري ژوند ته ورتمبول کېږي او گړۍ پر گړۍ او ورځ پر ورځ د بې کچه عربیزم په منگولو کې په لوی لاس ورښــکېل کېږي، تر دې چې یې کور ته هستي له ډار سره مخامخوي او پــه ډېــره لنډه موده کې یې د گډوله کېدو او بیا د بېخي پــردي کېــدو کېــدون رامنځته کوي.

ددغه ستر خطر د مخنیوي لپاره د څو نورو خواخوږو پښتو لیکوال په ننگه او ملاتړ مې وپتېیله چې په همدې (نوي علمي او کلتوري ژونــد) پیل کې چې په منځوال (اوسط ډول) لا د شلمې پېړۍ په یوه پوهنه او فن کې هم یو لیکلی یا ژباړلی اثر نه لري او د چا خبره کار له کاره تېر نه دی، په ډېره چټکۍ او هر اړخیزه توگــه د پښــتو آره او اصــیله پانگــه رابرسېره خوندي او جوته شي او د دودولو او کارولو لپاره یــې ســیخه شي.

د نورې علمي او کلتوري نړۍ ازمېښتونه او چمونه هم په واک کې وو، هغه دا چې دلته له مورې سره د نوي ژبپوهنې د بنسټونو او څېړندودونو ترڅنگه لکه څنگه چې انگرېزي، جرمني، پرانسي، روسي او نورو یــادو ژبو د خپل علمي ژوند په پیل  او اغاز کې له درو، په بله وینا څلورو لارو څخه خپله پانگه رابشپړه کړې او هغه دا چې لومړی خپله آره پانگه له گړدودو (لهجو) څخه راټولاسه کړي، بیا یوازې په علمــي تخنیکــي او مدني ډگر کې د پښتو د ویې پوهنې او ویي رغاونې بنسټونو له مخــې نوې ټاکنې وکړي او تر ټولو وروسته بیا پردیو ژبنیو (وارداتو) تــه غبــرږ پرانیځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په دې هڅه مو تر دا منځ د يوه انډول او تناسب د ټينگولو لپاره سمدلاسه د ( يوې- نگه بشپړې- کره ليکنۍ يا علمي پښتو) د رامنځته کولو لپاره د فيصدي آر او معيار وټاکه:**

**ــ په سلو کې (۲۵) له اوسنيو گړدودو (لهجو)، (۲۵) له زړو ادبي متنو، (۲۵) له ټاکنو او (۲۵) له نورو ژبو څخه د پورونو په توگه. هو، د هرې عصري ژبې پانگه پر دغو څلور گونو بنسټونو ولاړه ده. (لهجوي، متني، مصنوعي، عاريتي).**

**پښتو هم حق لري له نړيوال دود سره سم د پردۍ پانگې ترڅنگه خپله پانگه په کار واچوي او د نورو ژبو غونډې علمي او مدني اصطلاحات وټاکي.**

**ــ پښتو د خپلې پانگې ترويج غواړي، نه تصفيه او د نورو ژبو غوندې د علمي اصطلاحاتو ټاکنه.**

**ژبنۍ خبرې په ژبپوهانو پورې اړه لري. يو ژبپوهاند پوهېږي چې کوم اړخ ولسي دی او کوم علمي.**

**ــ د پښتو پانگې تثبيت د نوي علمي ژوند لپاره د وخت اړتيا ده، ټولونه او پکار اچونه.**

**ــ پښتو هم حق لري، همدومره د غربيزم او عربيزم مخنيوى وکړي چې له خپلې ټولنې پردۍ نه شي.**

**او تر ټولو وروسته پښتو پردۍ پانگې ته په سلو کې (۲۵) زياته اړه نه ده او د خپلې پانگې ترويج تصفيه نه گڼل کېږي.**

**دا شعارونه د هغو بې منطقيو او بې ځايه تورونو غبرگون دی، چې له علمي، عيني او افاقي حقايقو څخه سترگې پټې کړي او څه يې چې پر خوله ورځي، هغه ووايي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



له تنګ نظرو، ځان ساتو او ځان ښکارو سره لومړۍ درسته او حربه داده، چې ګونديې زموږ دغه کار تصفیه او پیوریزم دی او دا یو زوړ رټلی او فاشیستي مسلک دی.

یوه ډله داسې پوهېدلې ده، چې موږ ګونديې د خلکو (ګړنۍ) پښتو سموو، نه د لیک او علم پښتو، ځینې دا سپسته رامنځته کوي، چې د نړۍ ژبې او بیا زموږ د ګاونډ دا دغه کار نه کوي، نوي څېزونه نه دودوي، موږ یې ولې دود کړو؟ او له دې ناخبره چې که نورو ژبو یو څو پېړۍ مخکې دا هڅه کړې او زموږ ګاونډیانو (تورکې او ایران) که پخوا دومره نه وه کړې، همدا اوس یې کوي او روان دي او حق هم لري، څکه یو هېواد چې هر څومره ځان نړیوال او بشروال ګڼي، خپله ژبه او کلتور سل په سلو کې پردي کول نه غواړي، ځینو دا اورېدلي دي چې ژبه په دې ډول سوچه کول د ژبې عامه استفاده راټیټوي او زموږ په راډیویي او اخباري پښتو باید هر سړی پوه شي. حال دا چې دلته د هر سړي پوهېدل په یوې داسې بې لیک لوسته ټولنه کې بې له هغې کوم امکان نه لري، نه د لهجوي لغاتو له پلوه او نه د علمي لغاتو له پلوه او یو څه لږ پراخ الواکي بیا په داسې حال کې چې د آرو وییونو او ټاکنو دودول د یوه آر (اصل) په توګه مني، مګر ټوکونه او جزئیات یې نه. دا نو په رښتیا هماغه ډله ده چې دلیل او منطق ته غوږ نیسي او سړی ورسره یوې روغې ته رسېدای شي.

## پښتو نومترنګونه (اسمي ترکیبونه):

پښتو نومترنګونه یا (اسمي ترکیبونه) د استاد زیار د دوکتورا تیزس دی، چې د سویس د برن پوهنتون له خوا پر (۱۹۷۴م) کال خپور شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. دغه علمي ژبنی اثر چې په الماني ژبه کښل شــوی او ۱۱۶ مخونــه لري، د هند و اروپايي ژړو او نويو ژبو د ويي رغاونې (لغوي ساختمان) په رڼا کې د پښتو ويي رغاونه او بيا نومترړنګونه تر څېړنې لاندې نيســي او بېلابېل ډولونه يې په بېلابېلو څېرکو او لښــتليکونو (جــدولونو) کــې وړاندې کوي پر دغه کتــاب بانــدې د سويســـي، المــاني، فرانســـي او امريکايي پوهانو له خوا ارزونې او کره کتنې شوې دي، چې يو لړ يې زموږ په خپرونو کې هم انګازه موندلې ده.

## الماني- پښتو فرهنګ:

دغه فرهنګ د استاد زیار د يوه شپږ ژبيز فرهنګ يوه برخه ده چې په ختيــز المــان کــې د بــرلين د هومبولــت پوهنتــون د ايرانپــوهنې او افغانپوهنې د څانګې له خوا د څو کلونو راهيسې تر کار لانــدې دی او تراوسه لا چاپ ته استول شوی نه دی. دا اثر څه دپاسه ۱۵۰ مخونه لري.

## پښتو ليکلار:

پښتو ليکلار د دوکتور مجاور احمدزيار يو بل درونډ ژبنی اثر دی، چې د ۱۳۶۰ ل کال د کب پر مياشت د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې د پوهنځي له خوا په ښکلې کچه او صحافت له چاپه راوتلی دی.

دا اثر ټول ۲۶۷ مخونه لري او د پښتو ژبې د ليکنې لپاره يو ګټور اثر دی. په دې اثر کې د پښتو ژبې د معياري ليکنې لارې چارې په مفصله توګه څېړل شوې دي. دغه اثر (( د يوې يوازينۍ کره (معياري) ليکنـــۍ پښتو)) (( مانيفيست)) بلل شوی دی ( د هيله  من د ماسترۍ تيزس). د کتاب په پيل کې په درو مخونو کې په خپله د پوهاند زيار يادښت راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. نوموړی اثر د غلام محی الدین افغان د شپېتم تلین په ویاړ خپــور شوی دی.

د کتاب له ۱۷۹-۲۰۲ مخونو پورې هغه لغتونه راغلي دي، چــې پــه پارسي او پښتو کې کارول کېږي او د پارسي مانا ترڅنګ یــې د پښــتو درسته او نادرسته مانا هم راغلې ده.

له ۲۰۳-۲۱۰ مخونو پورې ځینې هغه لغتونه راغلي دي چې د دري او پښتو ژبې ترمنځ ګډ دي او په پښتو کې یې سمه او ناسمه کارونه ښوول شوې ده.

تر دې وروسته بیا له ۲۳۷-۲۶۲ مخونو پورې د ځینو لغتونــو ویــي پانګه راغلې، چې په پارسي ژبه هم مانا شوي، دلته له دغه با ارزښته اثر سره د زیاتې بلدتیا په هڅه د هغه نیولیک او یو مطلب را اخلو:

ـ څو نومونې (ترنومونه)

ـ یوه نګه، بشپړه او کره لیکنۍ پښتو.

ـ معیاري کېدنه د پښتو لومړنۍ ربړه

ـ لنډون د لیکنۍ پښتو د یو معیار په توګه

ـ پښتو پردۍ پانګې ته په سلو کې...

ـ نیولوګیزم (ویي رغاونه)

ـ هممانیز (مترادف) وییونه

ـ همجولیز او ډېر مانیز وییونه

ـ وییکي (ادوات)

ـ ګړنې (اصطلاحات)

ـ (څو) یا ( تر څو)

ـ له (چې) سره (کوم، چا...، مه ملګري کوئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ سم، سوچه، لنډه، روانه او اسانه پښتو

ـ د معیاري لیکنۍ پښتو اړتیا

ـ ټکي پر ټکي یې مه راژباړئ!

ـويي پانګه (لغتنامه)

دا دی، ددې کتاب له ۶۱-۶۴مخونو پورې یو مطلب را اخلو:

## له (چې) سره (کوم-څوک- چېرې...) بې ځایه مــه یوځای کوئ!

لکه څنګه چې په کابلۍ پښتو کې د دري ژبې ((تا)) تر اغېزې لاندې (څو) او (ترڅو) یا ( څو چې) او (تر څو چې) بې ځایه دود موندلی، دغه راز په پېښوری پښتو کې د اردو ژبې له لوري د انګرېــزي اړیکنــومځرو (ارتباطي ضمیرو) تر اغېز لاندې (کوم چې)، ( څوک چې)، (څومره چې)، (کله چې)....، هسې بې ځایه کارېدنه موندلې ده. ښایي دلته له انګرېزي پرته د نورو اروپايي ژبو مخامخ اغېزه هم بې څه نه وي او کوم پښــتانه لیکوال، چې تر زده کړې وروسته خپل هېواد ته راستنېږي او تــازه پــه پښتو لیکنه یا ژباړنه پیل کوي، نو په ناځانخبري (غیر شــعوري) ډول د خپلې زده کړې ژبې په پېښو د پښتو له آر (اصیل) او ســاده ارتبــاطي ضمیر (چې) سره (کوم)، (څوک)، (چا)، (چېرې) او داسې نور استفهامیه ضمیرونه ملګري کوي او په دې توګه خپله پښتو کړکېچنوي، لکه په دې وروسته جملو کې:

۱- ما هغه نجلۍ ولیده (څوک) چې په کابل ننداري کې کار کوي.

۲- نن مې هغه سړی ولید، ( چا) چې له ما سره مرسته کړې وه.

۳- زه په داسې کور کې اوسېږم، (کوم) چې دوه ورونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په سمه پښتو:**

**۱- ما هغه نجلۍ ولیده چې په کابل ننداري کې کار کوي.**

**۲- نن مې هغه سړی ولید چې له ما سره یې مرسته کړې وه.**

**۳- ما یو کتاب واخیست چې له چاپه نوی راوتلی دی.**

**۴- زه په داسې کور کې اوسېږم چې دوه ورونه لري.**

**د پورتنیو تقلیدي مرکبو ارتباطي ضمیرونو داسې نورې بېلګــې لــه پېښور، مسکو او بي بي سي راډیــو څخــه اورېــدل کېــږي چــې دوی خپلواکې جملې سره په وچ زور یوځای کوي، لکه په دې وروسته بېلګو کې:**

**۱- د هند د بهرنیو چارو وزیر شوروي اتحاد ته ولاړ، څوک چې د هغه هېواد له مشرانو سره خبرې کوي.**

**۲- ما پښتو ګرامر ولیکه، کوم چې اوس تر چاپ لاندې دی.**

**۳- زه ژمی په ننګرهار کې تېروم، چېرې چې هوا ډېره په زړه پــورې وي.**

**۴- زه ماښام کورته راغلم، کله چې هوا خرابه وه.**

**په سمه پښتو:**

**۱- د هند د بهرنیو چارو وزیر شوروي اتحاد ته ولاړ، دی بــه هلتــه د هغه هېواد له مشرانو سره خبرې اترې وکړي.**

**۲- ما پښتو ګرامر ولیکه، دغه کتاب اوس تر چاپ لاندې دی.**

**۳- زه ژمی په ننګرهار کې تېروم، هلته ژمی ډېر په زړه پورې وي.**

**۴- زه ماښام کورته راغلم، دغه مهال هوا خرابه وه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ښه مرغه دغه ډول جملو لا زموږ لیکنو او خپرونو تــه لاره نــه ده پیدا کړې او هیله ده پښتو لیکونکي ترې مخکې له مخکې ډډه وکړي.

ددې بې ځایه پېښو په لړ کې دا وروسته بېلګې هم د پاملرنې وړدي:

۱- ما هغه سړی ولید د چا په باره کې چې ما ډېر څه اورېدلي وو.

۲- د نړۍ پرمختللي ځواکونه به د نړیــوال امپرالیــزم هغــه ټــولې دسیسې شنډې کړي د کومو له مخې چې د اتومي جنګ خطر رامنځته کېږي.

۳- توریالی له کندهاره په هغه الوتکه کې راغی، په کومه کــې چــې ځلمی هم و.

۴- زه له لغمانه راغلم، له کوم ځایه چې ډېرې ښې وریجې راځي.

۵- زه په کابل کې اوسېږم، له کله راهیسې چې په کار ګومارل شوی یم.

په دې توګه پښتو (چې) پر بیانیه، علنیه، ارتباطیه او داسې نورو دندو سربېره لکه د (ترڅو) په برخه کې یې چې یادونه شوې، د اروپایي ژبو د ټولو ارتباطي ضمیرونو دنده هم پرځای کوي، هغه هم په دې شرط چې په ملګرې جمله کې ورسره بل ارتباطي ادات (اړیکوییکي) هم راغلــي وي، لکه (یو، هغه، داسې...). لکه په پورتنیو پنځو لومړیو جملو کې. که نه، (چې) په ځانته ډول د نورو ژبو غوندې هېڅکله د دوو خپلواکو جملو د یوځای کولو لپاره د ارتباطي ضمیرونو په توګه کارېدلای نه شي، لکه په تېرو دویم ډول پنځه ګونو جملو کې. همدا خبره ده چې په پښتو کې ډېرې جملې سره لرې کول یا په بلــه وینــا ډېــرې پېچلــې مرکبــې او مختلطې (ګډې او ګډلې) جملې جوړول سم نه دي او که څوک یې لــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو ژبو نه په پېښو جوړې هم کړي، یو نادوده کار به وي، لکه د (څــو)، (ترڅو) ، (کوم چې)، (چا چې) او داسې نورو ځیزونو بې ځایه کارونه.

که کوم لیکوال نه غواړي یو مطلب په بېلابېلو خپلواکو جملــو کــې څرګند کړي، بلکې د دوو یا زیاتو جملو ته سره اړیکي ورکړي، نو ورته په کار دي چې پورتني ارتباطي شرطونه پرځای کړي او که وغواړي، ګــرد سره د دوو یا زیاتو خپلواکو مطلبونو لپاره سره دوې یا زیاتې خپلواکې جملې وتړي هم کولای شي، د پښتو د ګرامري جوړښت دننه له راز راز ارتباطي وییکو (صله او موصول) څخه کار واخلي، بــې لــه دې چـــې د اروپايي ژبو تقليد وکړي، لکه په دې وروسته جملو کې:

((زه د سپین غر په لمن کې زیږېدلی یم (چېرې چې) څپاند رودونــه بهېږي او سمسور کڅونه خړوبوي)). دلته ګران لوستونکي ښه قضاوت کولای شي چې کومه بېلګه له پښتو رغاوني سیستم سره ښه تــرا اړخ لګوي؟ د اجمل ختک په دې لاندې شعر کې که څه هم د (څوک چې) د کاروني یو شرط پرځای شوی نه دی او هغه دا چې د هغې فرعي جملې په سر کې یې ځای نیولی دی چې تر اصلي جملې وروسته راغلــې ده، مګر د شعري اړتیا له مخې دومره نادوده نه برېښي، که نه په نثر کې باید د پښتو ګرامر له دود سره سم دغسې څرمه جملې تل تــر آرې دمخــه راشي.

ځـــــئ هــغـــــو خــوارو تـــه جــنت وګټو
څــوک چـــــې له موره دوزخیان پیدا دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پښتو الماني ژباړيز پرابلمونه:

**دا هم د پوهاند زیار یو علمي ژبنی اثر دی، چې استاد زیار له ۱۳۶۳ل کاله تر ۱۳۶۶ل کال پورې د برلین په هومبولت پوهنتون کې د استادۍ د دندې د ترسره کولو پر وخت لیکلی دی او اوس چاپ ته تیار دی، پـه دې اثر کې د پښتو او الماني ژبې پرتله شوې ده. دا اثر په المـاني ژبـه کښل شوی او تر ۱۰۰ زیات مخونه لري.**

## پښتو پښویه (ګرامر):

**پښتو پښویه (ګرامر) د استاد زیار یو ژبنی اثر دی، چـې پـه ۱۳۶۲ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له خوا په ښه ډیـزاین او کچه د لوړو او مسلکي ښوونو په چاپخونه کې چاپ شوی دی. دا اثـر د نوې علمي ژبپوهنې پر بنسټ لیکل شوی دی او په پښتو ژبه کې دګرامر په برخه کې یو نوی او ستر اثر ګڼل کېږي.**

**دا اثر له یوه یادښت او دوو کتنو پرته ټول ۲۷۴مخونه لري. دا اثـر د پښتو ګرامر بنسټ ایښودونکي پیرمحمد کاکړ تـه اهـدا شـوی دی. د کتاب په پیل کې د استاد زیار خپل څلور مخیز یادښت راغلی دی، چې یوځای لیکي: (( ما د ژبپوهنې د یوه نوي زده کوونکي او پښتو ګـړدود څېړونکي په توګه د سویس له زده کړو نه له بېرته راستنېدو سـره لـه زړې ژبپوهنې او زړې ژبښودنې سره یو مخیز نـه پخلاکېـدونکي سـر غړاوي ته راودانګل او خپله لومړنۍ دنده مې دا وبلله چـې لـه پښـتو ځانګې څخه نور د زړې ژبښودنې ټغر وبلېږدوم...)).**

**پر دې اثر باندې د استاد زیار تر یادښت وروسته په ۳ مخونو کـې د پوهاند محمد رحیم الهام یوه کتنه راغلې ده چې وایي: ((پښتو پښویه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ګرامر) د پښتو په تشریحي ژبپوهنه کې یو نوی د پام وړ او ګټور اثر دی. له دې ګرامر نه ړومبی د پښتو ځینې ګرامرونـه د بهرنیـو ژبپوهـانو او کورنیو څېړونکو له خوا لیکل شوي دي، خو زیاتره یې عنعنوي څېړندود لري او معاصر علمي څېړندود په کې نه دی کارول شوی او ځینې یـې چې علمي څېړندود لري، مکمل او مشرح نه دي. نوموړی زیاتوي: ((دغه کتاب اوس د ازموینې له ډګر څخه په هسکه غاړه راوتلی دی او بلـه دا چې په دې کتاب کې د ژبپوهنې معاصر بین المللي اصطلاحات ټول پر پښتو اړول شوي دي)).

د محمد رحیم الهام تر کتنې وروسته په دوو مخونو کې د پوهنمـل محمد صابر خویشکي له خوا یوه کتنه شوې ده، چې نوموړی پـه یـوه برخه کې وایي:

(( ددې کتاب په تالیف کې چې د لیکوال د اوږدو مودو د څېړنـې او مطالعاتو نتیجه ده، له ډېرو سترو معتبرو کورنیو او بهرنیو اثـارو څخـه استفاده شوې او په ډېر دقت او د یوه منظم پلان لـه مخـې او زمـوږ د زمانې د علمي مقتضیاتو په پام کې نیولو سـره لیکـل شـوی دی او د محصلانو او نورو څېړونکو لپاره یو ارزښتناک او ګټور اثر دی...)).

په پښتو پښویه (ګرامر) اثر کې په درو څپرکو کې تـر دغـو لانـدې سرلیکونو لاندې بېلابېل ژبني مسایل څېړل شوي دي:

- ژبه
- غږ او لیک
- ژبه او ګړهار
- نومونې
- ځنځیري واحدونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اواز
ـ د اواز ډولونه
ـ بلغږ- فشار
ـ څپه
ـ گړ
ـ ويی- غونډله
ـ نومونه
ـ کړ
ـ وييکي
ـ ژبوهنه
ـ گړدود پوهه- پښويه
ـ غږ پوهه
ـ مورفولوژيکي اوښتنې
ـ ويناييز غړي
ـ ويند غړي
ـ زېږ ډولونه
ـ پورويي
ـ زيرځي- وتوځي
ـ پښتو اواز پوهه
ـ تم بېواک
ـ د خپلواکو لښتليک
ـ نيمواک غږونه
ـ غبرگغږونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ د بېواکو لښتلیک
ــ کوچنۍ ترینه جوړه
ــ پښتو ګړپوهه (صرف)
ــ نوم ګړپوهه
ــ د نوم اوړون اړخونه
ــ نرینه نوم- ښځینه نوم
ــ د ګڼې نښې
ــ پېر (حالت)
ــ ناوښتوني نومونه
ــ څیز نوم
ــ ستاینوم
ــ شمېر نوم
ــ نومځری (ضمیر)
ــ ځانګړنومځري
ــ تولنومځري
ــ پوښتنومځري
ــ پلوي نومځري
ــ اړیکنومځري
ــ غبرګون- ناتیکنومځري
ــ ګډ ټولنومځري
ــ ټول- ځانګړي نومځري
ــ کړ ګړپوهه
ــ د مصدر جوړښت او دنده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ کړ اوړون توکونه

ــ کم اوړوني (حکمي متعدي)

ــ اوړونونه- تېرمهال

ــ لنډ تېرمهال

ــ لر تېر مهال

ــ ګوماني تېر مهال

ــ ارماني تېر مهال

ــ اړوتی تېر مهال

ــ تواني او ټينګاري تېر مهال

ــ نالبېړند کړ- خبري

ــ لنډ او لر تېر مهال

ــ روږدني او ارماني تېر مهال

ــ تواني تېر مهال

ــ ټينګاري تېر مهال

ــ ګوماني تېر مهال

ــ پوښتني تېر مهال

ــ هيښني او اړوتی تېر مهال

ــ د اوسمهال کړاوون- لبېړند

ــ اړوتی، ارماني او پوښتني...

ــ هېښني او تاني

ــ امري- ټينګاري اوغوښتنې

ــ نالبېړند- بشپړ وسمهال

ــ د اوستر مهال کړاوون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ــ د کړ رغاونې ډولونه
ــ ناوړېدني ګړونه
ــ وییکي
ــ سربلونه او اوستربلونه
ــ وینا واښتي
ــ د پښتو ګړونو انځور لیک
ــ غونډله پوهه- غونډله
ــ د غونډلې رغنده ټوکونه
ــ اوډون
ــ د ایښي او ایښوني سمون
ــ نومواله او کړواله غونډله
ــ یوه ستوې غونډله
ــ غبرګغونډله
ــ ګډه غونډله
ــ ګډلې غونډله
ــ ګړنې یا اصطلاحات
ــ غونډله پوهیزه شننه.

همدارنګه د کتاب په پای کې له ۲۵۷-۲۷۳ مخونو پورې د هغو نویو نومونو (اصطلاحاتو) او وییونو مانا راغلې ده چې په نومـوړي اثـر کـې کارول شوي دي.

ددې کتاب د چاپ یا د ټوکونو شمېر ناڅرګند دی، خو د استاد زیار په وینا ۱۰۰۰ ټوکه چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښتو ګړدودونه:

پښتو ګړدودونه د استاد زیار یو بل ژبنی اثر دی، چې څه دپاسه ۷۰ مخونه لري. دا اثر یو ځل د ((پښتو څېړنې)) د ۱۳۵۶ کال په غونډ کې خپور شوی. همدارنګه د وړمې مجلې په ځینو ګڼو کې یې ځینې برخې خپرې شوې دي په دې اثر کې د بېلابېلو پښتو ګړدودونو په باب معلومات ورکړل شوي دي.

## پښتو آر پوهه:

پښتو آر پوهه د استاد زیار یو بل ژبنی اثر دی، چې د وړمې مجلې په ځینو ګڼو کې یې ځینې برخې خپرې شوي، خو د ځانګړي اثر په توګه لا تراوسه نه دی چاپ شوی.

## دري- پښتو فرهنګ:

دري پښتو فرهنګ د استاد زیار یو بل ژبنی اثر دی، چې تراوسه نه دی خپور شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژباړونکی زیار

ژباړه سره له دې چې په خپله هغې ژبې ته چې ژباړه پرې کېږي، ګټوره نه پرېوزي، بلکې ژبې ته لا ډېر زیان او تاوان پېښوي. په خپله د استاد زیار خبره ((ژباړه د پښتو پښتۍ ماتوي)) او له همدې کبله پر پردو بهرنیو ژبو له لاسبري سره سره ژباړې ته زړه نه ښه کوي او پرځای یې څېړنې او پنځونې ته زیات ارزښت ورکوي. خو بیا هم د ژباړې له لارې کېدی شي، موږ له نړیوالې پوهې او فرهنګ سره اړیکي ټینګ کړو، نور له خپل فرهنګ څخه خبر کړو او د نورو له هغه څخه خپل ځان. بیا هم استاد زیار د ژباړنې په برخه کې د کتنې وړ کار کړی دی، خو د ده ژباړه هسې ژباړه نه ده چې ګنې زموږ د ژبې پښتۍ به ماتې کړي. ده چې له هرې ژبې څخه پښتو ته څه راژباړلي دي، ښه یې ژباړلي دي، په ښه پښتو یې ژباړلي دي، په معیاري پښتو او سوچه پښتو. دا ځکه چې ژبه د ده رسمي ځانګه ده، دی په ژبه کې استاد دی. د هېواد پر لرغونو او اوسنیو خوارلسو ژوندیو او نیم ژوندیو ژبو یې څېړنې کړي دي او په علمي ډول پر الماني، روسي، انګلیسي، عربي او نورو بهرنیو ژبو پوهېږي او باید هم د ده په ژباړنه کې د ((خو)) ځای نه وي.

په ژباړه کې هر ګوره له هغو کسانو څخه زیاته تېروتنه کېږي، چې په پردۍ او بیا په ځانګړي ډول پر خپله ژبه علمي لاسبری ونه لري. دا دی، دلته د استاد زیار پر ژباړیزو فعالیتونو رڼا اچوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهاند زيار له خپل ژورناليستيک فعاليت سره سم پــه ژباړنــه لاس پورې کړی دی، چې له ۱۳۳۵ څخه تر ۱۳۳۷ل پورې يې له دري څخه او بيا راوروسته له انګريزي او الماني څخه راز راز موضوعګانې د مقــالو او کتابو په بڼه په پښتو ژباړلې دي.

دلته د استاد د ژباړو يو لنډيز راوړم، خو بيا هم يادونه کوم، چې د ده د ټولو ژباړو موندل اوسمهال يو ناشونی کار دی، ځکه چې ده لــه ډېــر پخوا څخــه پــه ژبــاړو لاس پــورې کــړی دی او لکــه څنګــه چــې د ژورناليستيک فعاليت په برخه کې يې يادونه شوې ده، دمخکې کلونو د جريدو، مجلو او ورځپاڼو کلکسينونه په کتابتونونو کې نيمګــړي دي. د ده د خپلې وينا له مخې له دري ژبې څخه يې لومړنۍ ژباړې پر ۱۳۳۵ ل کال په انيس ورځپاڼه کې خپرې شوې دي.

له انګليسي څخه يې لومړنۍ ژباړه پــر ۱۳۳۷ل کــال د هېــواد پــه ورځپاڼه کې خپره شوې ده، چې د دغو کلونو د يــادو شــويو ورځپــاڼو کلکسينونه اوس په کتابتونونو کې نه پيدا کېږي.

دا يې هم د لاسته راغلو ژباړو لنډيز:

## طب او حکمت په اسلام کې:

(( طب او حکمت په اسلام کې)) د هغه اثر نوم دی، چې استاد زيار پر ۱۳۳۶ل کال کله چې د ښوونځي د يوولسم ټولګي زده کوونکی و، لــه پارسي ژبې څخه ژباړلی دی او پــر ۱۳۳۷ل کــال د ښــوونې او روزنــې موسسې له خوا د خپلواکې رسالې په توګه افسيت شوی دی، د مخونو شمېر يې څه دپاسه ۶۰ ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سره کوتل ډبر لیک:

**د سره کوتل ډبر لیک یوه بله ژباړه ده، چې استاد زیار له الماني ژبې څخه کړې ده. دا ژباړیز اثر د علومو اکاډمۍ له خوا د ۱۰۰۰ ټوکو په تیراژ پر ۱۳۶۹ل کال له چاپه راوتلی دی، چې د مخونـو شـمېر یـې ۱۰۰ تـه رسېږي.**

## پښتانه او ورونه ملیتونه:

**پښتانه او ورونه ملیتونه د دیموکراتیک المان د یـوه ختیځپوهانـد ((بورخارد)) اثر دی چې استاد زیار هغه په پښتو ژباړلی دی. دا اثر پـر ۱۳۶۶ل کال د چاپ او خپروني د دولتي کومېټې له خوا په ښکلې کچه او سکښت له انځورونو او عکسونو سره د ۲۰۰۰ ټوکونو په تیراژ په دولتي چاپخونه کې چاپ شوی دی.**

**د نوموړي اثر متن ۹۲ مخونـه لـري او څـه دپاسـه ۲۰۰ عکسـونه، انځورونه او نقشې لري. له دې پرته یې په ۱۷ مخونو کـې ویـې پانګـه راغلې، یو مخ یې د تېروتنو سمونلیک او یو مخ یې نیولیک(فهرسـت) نیولی دی. د کتاب سرته په دوو مخونو کې په خپله د ژبـاړن یادښـت راغلی دی. دلته د ده د پېژندګلوۍ لپاره ددغه اثر نیولیک راوړم:**


| مخنۍ خبرې | | مخګنه |
|---|---|---|
| لومړی څپرکی: | د اسیا ناسپړلې غوټې | ۳ |
| دویم څپرکی: | پښتانه، تاجک او نورستانیان | ۱۳ |
| درېیم څپرکی: | د غرنیو هېوادونو لرغونی مهال | ۲۳ |
| څلورم څپرکی: | د زرتشت په هېواد کې | ۴۸ |
| پنځم څپرکی: | د اسلام په څپان کې | ۶۷ |
| شپږم څپرکی: | د افغانستان پر لوري لار | ۸۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



اووم څپرکی: یوه ګرانه پاتمړې (میراث) ۹٦

**دلته به د استاد له ژباړې سره د پېژندګلوۍ په موخه د دغه اثــر لــه اووم څپرکي څخه ۹۵ مخ راواخلو:**

## ((یوه ګرانه پاتمړې (میراث)):

**کله چې (( وسپنیز امیر)) پر ۱۹۰۱م کال ومړ، افغانستان تر بخارا هم وروسته پاتې و، دلته د راپاتې دودیزې (عنعني) ښوونې ترڅنګه اروپايي فرهنګ او پوهې پښې هومره ټینګې کړې وې. انګرېزانو هم د کرګــري فیوډالي ټبرینو ډلو ټپلو په کچه (سطح) د خپل ((ســرحدي ولایــت)) پښتانه او د سویل بلوڅان له ځان سره وساتل.**

**د ړنګېدونکې قاجاري واکمنۍ ختیځ چې بلوڅو او پښتنو په کې ژوند کاوه، له هر راز پرمختګه لرې پاتې و. په دې توګه منځنۍ اسیا په یوه بد اکر (حالت) په شلمه پېړۍ کې پل کېښود، چې تاریخ یې په کې د نړیوال تاریخ هغه برخه راخیسته چې د جنګ جګړو او اړپېچونو له لاسه څیرې ویرې وه، دا هغه برخه ده چې سپړنه یې زموږ ددغه کتــاب لــه موخــو (هدفو) څخه تېرې کوي او هغه زموږ د شپو ورځو د جنګ جګړو دمخه تاریخ انځورول وو او دا دی زموږ د پېړۍ په پای کې د خوشال خان هغه ارمان رښتیاینه مومي چې درې سوه کاله مخکې یې داسې انځورلی و:**

**تـــر مـغولـــو پښـــتانه پــه تـــوره ښــه دي**
**کــه پــه پوهــه پښـــتانه وای څــه هوښـــیار**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسونــــــه چـــــې سندوبـلـــــــه وکـــــا
پادشـاهان ورتــه سـجود کانـدي اختیـار

که نفـاق کـه اتفـاق کــه جـــهل پـــوهـــه
د هر چـا د خـدای پـه لاس ده هـره چـار

دا چې نن سبا د هندوکش پرګنو له شاهانو سره نوره شلولې ده، نو دا هیله غځونې کوي چې دوی به یوځل بیا د خوشال خان شعرونه په نوې مانا راواخلي...)).

## بلنه:

بلنه د انګلیسي شاعر الفرید د شعر پښتو ژباړه ده، چې د شعر په نیم ازاد کالب کې اچول شوې او دوه درې کاله وروســته د کابـل مجلــې د ۱۳۴۳ل کال په ۳ ګڼه کې خپره شوې ده او پــه ((ګلکځونــه)) نــومي شعري غونډ کې یې هم راغلې ده. داسې ښکاري چې دا د استاد زیار د ازاد شعر لومړۍ ازمېښتي بېلګه ده. دلته یې بشپړ متن وړاندې کېږي، چې د کابل مجلې د یادې شوې ګڼې ۴۷-۴۸ مخونه یې نیولي دي.

## بلنه

پرېږدئ
پرېږدئ
زوړ جرس د نهیلو مه کړنګوئ نور
راشئ یه د نړۍ خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا نغمې مه غړوئ نور**
**پرېږدئ**
**پرېږدئ**
**بدمرغۍ او ناخوالې چې تېرېږي**
**وروستۍ شپه د زاړه کال ده**
**ورته ګورئ سبا کېږي**

❋ ❋ ❋

**په ناوړه فکر مه ځئ**
**نوي نوي شیان واخلئ**
**د خوښۍ په شورو زوږ کې**
**نور په سر دا جهان واخلئ**

❋ ❋ ❋

**پرېږدئ**
**ځئ پر خپله مخه**
**کال زوړ شوی اوس تېرېږي**
**ربښتیا مل کړئ د خپل ځان**
**چې:**
**په درواغ کلي ورانېږي**

❋ ❋ ❋

**پرېږدئ، پرېږدئ**
**چې تېر شوي**
**زاړه شوي**
**او ترې نه وینو هېڅ اوس**
**آ چې غل و پرېږدئ درومي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې اوس خلاص شو له هغه اوس

❋ ❋ ❋

نور یې هېر کړئ

اخ و ډب د نیستمنانو، بې شتو پرېږدئ

پر ناسورو پرهرونو د همځېلو ملهم کېږدئ

❋ ❋ ❋

راشئ بس کړئ

د مړ ژواندي حال څه فکر مه کوئ نور

پرېږدئ پرېږدئ

زوړ جرس د نهیلو مه کړنگوئ نور

❋ ❋ ❋

مه کړئ

مه کړئ

یو د بل مخ ته گوزار

خپلو منځو کې

راشئ وکړئ تل لپاره

ښه روزگار خپلو منځو کې

❋ ❋ ❋

په ښه خوی او ښو کړو وړو او

په خوږو پښتو خبرو

شئ راپورته په جگړه

د تورو تبو سړه لرو

تنگ نظر کړئ لرې پراخه

له بېځای خوشې کارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور مو ژوند په هوسایۍ کړئ
په زرو زرو کلونو

✵✵✵

د زرګونو کلو جنګ او
هم نفاق مه یادوئ نور
پرېږدئ پرېږدئ
زوړ جرس د نهیلو مه کړنګوئ نور
راشئ
یه دنړۍ خلکو
دا نغمې مه غږوئ نور

( ګلکځونه، ۳۴-۳۷مخونه.

## د کنېشکا د سره کوتل ډبرلیک:

دا د استاد زیار بل ژباړیز اثر دی، چې پر ۱۳۶۹ل کال د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا په ښکلې قطع او صحافت د پوهنې په چاپخونــه کې چاپ شوی دی.

## د افغان شوروي فرهنګي اړیکي (د ورزش په برخــه کې):

له روسي منابعو څخه د استاد زیار ژباړه ده، چې د دوستي مجلې د ۱۳۶۰ل کال د ۷ ګڼې په ۴۳-۵۲ مخونو کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغان شوروي فرهنګي اړیکي ( د ورزش په برخه کې):

د استاد یوه ژباړه ده چې له روسي منابعو څخه شوې ده او د دوستۍ مجلې د ۱۳٦۲ل کال د ۲ ګڼې په ۵۲-۵۸ مخونو کې خپره شوې ده.

له انګلیسي ژبې څخه چې استاد کومې ژباړې کـړي دي، د هېـواد ورځپاڼې د ۱۳۳۷ او ۱۳۳۸ کلو په ګڼو کې خپرې شوې دي، خو د یـادو شویو کلونو ګڼې اوس په کتابتونو کې نه شته.

د استاد بله ژباړه یو چیني داستان دی، چې یې د چیني اخځونو له انګلیسي متن څخه په پښتو ژبـاړلی دی، چـې د اصـلاح ورځپـاڼې د ۱۳۳۹ل او یا د ۱۳۴۰ل کال په څو ګڼو کې خپور شوی، خو ما د اړتیا وړ دا ګڼې پیدا نه کړای شوې.

## د واخي ژبې ټولنیز دریځ:

دا د فرانسي افغانپوهاند (شارل کیفر) د هغې وینا پښتو ژباړه ده، چې په الماني ژبه یې د ۱۳۵۷ل کال د تلې پر څلورمه د ژبو او ادبیـاتو پـه پوهنځي کې اورولې وه. په دې لکینه کې د واخي ژبې پېژندګلوي، لـه نورو ژبو سره د هغې اړیکي او همدارنګه د ژبې د جوړښت او څرنګوالي په باب معلومات ورکړل شوي دي. دغه ژباړه د وږمې مجلې د ۱۳۵۷ل کال د ۳ ګڼې په ۱۱۸-۱۳۰ مخونو کې خپره شوې ده.

## د هنري تندې د ماتولو لپاره چوپړ وهل:

دا د هغې ژباړې نوم دی، چې پوهاند زیار له یوې امریکایي خپرونـې ((ریډر ډایجست)) څخه په پښتو کړې ده او د پوهنې مجلې د ۱۳۳۹ل کال د لومړۍ ګڼې په ۳۳–۳٦ مخونو کې خپره شوې ده.

## د ساو ژبه په ختیځ افغانستان کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا یوه ژبنۍ څېړنیزه لیکنه ده، چې د الماني افغانپوهانـد ګیـورګ بودروس له خواکښل شوې او استاد هغه په پښتو ژپاړلې ده. دا ژباړه د کابل مجلې د ۱۳۵۳ل کال د ۲ ګڼې په ۱۰-۱۵ مخونو کې خپره شوې ده.**

## په زړه پورې خبرونه:

**په زړه پورې خبرونه د پوهاند زیار هغه ژباړې دي، چې له الماني ژبې څخه په پښتو ژباړل شوي دي او د کابل پوهنتـون (پوهنتـو کابـل) اوونیزې د ۱۳۶۶-۱۳۶۷ کلونو په ځینو ګڼو کې خپرې شوې دي.**

**دغه راز د پوهنې مجلې د ۱۳۳۸-۱۳٤۰ل کلونو په ځینو ګڼو کې هم له بهرنیو سرچینو څخه د استاد زیار ځینې ژباړې خپرې شوې دي.**

**همدارنګه یې د (ګوند) لپاره له الماني او انګلیسـي څخـه ځینـې ځانګړې لیکنې په پښتو ژباړلي دي، په تېره بیا د ۱۳۵۵-۱۳۵۷ل کلونو ترمنځ د ګوند ((د ژباړې بورډ)) د غړي په توګه ((تاریخي ماتریالیزم)) په پښتو ژباړلی، چې یو نقل یې د ((انقلاب)) له راتګ سره له منځه تللی او بل یې له ځانه سره ساتلی دی او همدا ډول یې د ګوند پـه سپارښـتنه وخت ناوخت له ((واشنګټن پوست)) او ((زویدد ایجلند څایتونګ)) څخه یو لړ مطالب په پښتو او دري را اړولي دي. دغه راز یې یوه بله ژبـاړه د زېري جریدې د ۱۳۶۴ل او یا ۱۳۶۵ل کال په یوه ګڼه کې خپره شوې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یادښت (سریزه) لیکونکی زیار

## د غرونو څوکې:

دغرونو څوکې کتاب د عبدالکریم پتنگ له خوا اوډل شــوی او پــر ۱۳۵۹ل کال د کابل پوهنتون د هغه وخت د ژبو او ادبیاتو بشري علومو د پوهنځي له خوا خپور شوی دی چې په درېو مخونو کې یې د کتاب د ارزښت او د لیکوال د هڅې په باب د استاد زیار یو یادښت راغلی دی.

## نومورکي مؤرخین:

نومورکي مؤرخین د لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي اثر دی، چې پر ۱۳۵۹ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له خوا چــاپ شوی او په دوو مخونو کې پرې د استاد زیار یو یادښت راغلی دی.

## د میا فقیرالله جلال ابادي فواید فقیرالله:

دا کتاب د پوهاند استاد عبدالشکور رشاد پــه ســریزه، تعلیقــاتو او لغتنامې پر ۱۳۵۹ل کال د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له خوا چاپ شوی او د استاد زیار له خوا پرې یو یادښت کښل شوی دی.

## د پټې خزانې فرهنگ:

د پټې خزانې فرهنگ د پوهاند استاد عبدالشکور رشاد یو ژبنی اثــر دی، چې په هغه کې د پټې خزانې د ځینو لغتونو څرنگوالی ښوول شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. دا اثر پر ۱۳۶۲ل کال د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له خوا چاپ شــوی دی او د استاد زیار له خوا پرې په دوو مخونو کې یو یادښت کښل شوی دی.

## د میا فقیرالله پېژند لیک:

دمیا فقیرالله پېژند لیک د پوهاند عبدالحی حبیبي اثر دی چې پــر ۱۳۵۹ کا د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له خوا خپور شــوی دی. پــر دې اثــر باندې د پوهاند زیار له خوا په درېو مخونو کې یو یادښت کښــل شــوی دی.

## د احمد شاه بابا د دېوان غورچاڼ:

دا د هغه کتاب نوم دی، چې د پوهاند استاد عبدالشکور رشاد له خوا ترتیب شوی دی. په دې کتاب کې د احمدشاه بابــا د دېــوان د ځینــو شعرونو انتخاب راغلی دی. دا کتاب پر ۱۳۵۷ل کال د علومو اکاډمۍ له خوا چاپ شوی دی او د پوهاند زیار له خوا پــرې پــه دوو مخونــو کــې یادښت راغلی دی.

## د چینیانو یونلیکونه:

دا کتاب د عبدالکریم محب له خــوا ژبــاړل شــوی دی او د علومــو اکاډمۍ له خوا پر ۱۳۵۷ل کال خپور شوی دی. په دې کتاب کې په دوو مخونو کې د پوهاند زیار یو یادښت راغلی دی.

## دا لیکوال دا څېرې:

(( دا لیکوال دا څېرې)) د هېواد د شاعرانو او لیکوالو تذکره ده، چې د ځوان شاعر او لیکوال افضل ټکور له خوا ترتیب شــوې ده. دا اثــر د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قومونو او قبایلو چارو وزارت د نشراتو او فرهنگي چارو د ریاست له خوا پر ۱۳۶۶ل کال خپور شوی او د استاد له خوا پرې په ځلورو مخونو کې یو یادښت راغلی دی.**

## مقدمه یی بر زبانشناسی:

**دپروفیسور دوکتور عبدالظهور او پوهنمل عین الدین نصر لــه خــوا لیکل شوی او د کابل پوهنتون له خوا پر ۱۳۶۳ل کال چاپ شوی دی. پر دې اثر باندې د استاد زیار له خوا په ۴ مخونو کې یوه پارســي ســریزه کښل شوې ده.**

## زړه پانگه:

**د دوست شینواري اثر دی، چې پر ۱۳۶۳ل کال خپور شوی دی او د استاد له خوا پرې په ۴ مخونو کې د ( زړه پانگه د نــوې پــانگې د یــوه بشپړاند توک په توگه) په نوم یوه سریزه کښل شوې ده.**

## د خوشال ختک فراقنامه:

**د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له خوا پر ۱۳۶۳ل کال خپره شوې ده او د استاد له خوا پرې په ۲ مخونو کې یو یادښت کښل شــوی دی.**

## د کوشنیانو ژبه:

**د پروفیسور سیال کاکړ یو اثر دی، چې پر ۱۹۷۹م کال په کوټه کــې خپور شوی دی. پر دې اثر باندې په ۶ مخونو کې د (کوچنیانو ژبه) تــر سرلیک لاندې د استاد یو یادښت راغلی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ټولنپوهنه:

دا اثر له الماني څخه د عبدالروف خپلواک له خوا په پښتو ژباړل شوی او پر ۱۳۵۲ل کال د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي له خوا خپور شوی دی. پر دې اثر باندې د استاد له خوا یو تقریظ کښل شوی دی.

## مینه نه مري:

د باقي بریال د شعرونو دویم غونډ دی، چې پر ۱۳۶۷ل کال خپور شوی دی. پر دې شعري غونډ باندې د (تلپاتې بریال او شعر یې) په نوم په ۷ مخونو کې د استاد سریزه راغلې ده.

## پوځ د پېړیو په پوړیو کې:

دا د محبوب سنګر اثر دی، چې پر ۱۳۶۵ل کال خپور شوی دی. پر دې اثر باندې د استاد زیار له خوا یو یادښت کښل شوی و، خو له چاپه پاتې شوی دی.

## پښتو روزنه:

د استاد عبدالروف بېنوا اثر دی، چې پر ۱۳۵۷ل کال د پښتو څېړنو د نړۍ‌وال مرکز له خوا خپور شوی دی. پر دې اثر باندې په ۶ مخونو کې د استاد زیار له خوا یو یادښت کښل شوی دی.

## د غلام محی الدین افغان افکار او اثار:

د هغه کتاب نوم دی، چې پر ۱۳۶۰ل کال د کابل پوهنتون له خوا خپور شوی او په ۴ مخونو کې پرې د استاد زیار یادښت راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ستا د چم گلونه:

((ستا د چم گلونه)) د ښاغلي نصرالله حافظ د شعرونو مجموعه ده، چې پر ۱۳۶۵ل کال د چاپ او خپروني د دولتي کومېټې له خوا خپره شوې ده. پر دې مجموعه باندې د استاد له خوا په ۵ مخونو کې د (حافظ او د ده نظم او غزل) په نوم سریزه کښل شوې ده.

## د افغان یاد:

د محی الدین افغان د شپېتم تلین د سیمینار د لیکنو مجموعه ده، چې پر ۱۳۶۰ل کال د کابل پوهنتون له خوا خپره شوې ده او د استاد زیار له خوا پرې یو یادښت کښل شوی دی.

## شگې او گلونه:

دا د صدیق کاوون د یوه شعري غونډ نوم دی، چې پر ۱۳٦۸ل کال د افغانستان د لیکوالو انجمن له خوا خپور شوی او استاد پرې یو اته مخیزه سریزه (ازمېښتونه او نوښتونه) کښلې ده.

## د پښتني قبایلو اصطلاحي قاموس:

د ابراهیم عطایي اثر دی، چې د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز له خوا پر ۱۳۵۷ل کال خپور شوی دی او د استاد زیار له خوا پرې یو یادښت کښل شوی دی.

## دکوزې پښتونخوا په معاصر شعر کې دملي او مترقي افکارو انعکاس:

دا د بریالي باجوړي اثر دی، چې د ماسترۍ د پوهنلیک (تیزس) لپاره یې کښلی و، چې د استاد له خوا پرې یوه ارزونه کښل شوې ده. دا اثر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تراوسه پورې ناچاپ دی.

## ادبي ژانرونه او مکتبونه:

دا د دوکتور محمد ګل نورزي اثر دی، چې پر ۱۳۶۲ل کال یې کښلی او پر ۱۳۷۰ل کال د کابل پوهنتون له خوا افسیتي چاپ شوی دی. پـر دې اثر باندې د استاد له خوا یوه اوږده ارزونه کښل شوې ده.

( A Camparison of Tani dialect with the standard Pashto)

دا د تنیو د ګړدود په برخه کې په انګرېزي ژبه د سـید کـریم شـاه نېکمل دماسټرۍ او پوهنملۍ تیزس دی، چې په ۱۳۶۷ل کال کې پـرې دلارښود استاد په توګه د استاد له خوا یو یادښـت کښـل شـوی دی. همدارنګه یې د نوموړي د ترفیع لپاره یوه جلا ارزونه هم کښلې ده.

## ګیتا نجلي:

دا د بنګالي لیکوال رابندرانات ټاګور د اثر پښتو ژباړه ده چې د استاد عبدالروف بېنوا له خوا ترسره شوې ده. دا اثر پر ۱۳۳۶ل کال د راډیو د نشراتو د څانګې له خوا خپور شوی او استاد زیار پرې یو یادښت کښلی دی.

## د لمر شغلو ته:

د لمر شغلو ته د کمال الدین مستان د شعرونو غونـډ دی، چـې پـر ۱۳۶۷ل کال خپور شوی او د استاد زیار له خوا پرې یـو ارزونـه کښـل شوې ده.

## ارمانونه:

ارمانونه د حبیب الله زړه سواند د شـعرونو مجموعـه ده، چـې پـر ۱۳۶۷ل کال خپره شوې ده. پر دې غونډ باندې د استاد زیار له خوا یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سریزه کښل شوې وه، خو په مجموعه کې چاپ شوې نه ده.

## نوي څنډونه:

نوي څنډونه د فاروق فردا د شعرونو غونډ دی چې لا تراوسه چاپ شوی نه دی. پر دې غونډ باندې د استاد زیار له خوا یوه سریزه کښل شوې ده.

## په انګلیسي ژبه دحبیب الله تږي ګرامري اثر:

په انګلیسي ژبه د حبیب الله تږي ګرامري اثر دی، چې پر ۱۳۵۶ل کال د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز له خوا چاپ شوی او استاد زیار پرې په انګلیسي ژبه یو یادښت کښلی دی.

## تلوسې:

د برکت الله کمین د شعرونو غونډ دی، چې استاد زیار پرې یوه وړه سریزه کښلې ده. دا اثر پر ۱۳۵۲ل کال خپور شوی دی.

## خاوره:

د امین افغانپور داستاني غونډ دی، چې استاد پرې یوه وېړه سریزه کښلې، که څه هم دغه کتاب پر ۱۳۶۷ل کال چاپ شوی، خو سریزه له آره پر ۱۳۵۳کال هغه مهال کښل شوې وه چې افغانپور غوښتل، دغه داستاني غونډ چاپ ته وسپاري. لکه څنګه چې په خپله په غونډ کې کمی زیاتی راغلی، نو پر سریزه کې هم وړنده بدلون او سمون راوړل شوی دی.

## ډولۍ:

دا د پوهنمل خالق رشید داستاني غونډ دی چې پر ۱۳۶۸ل کال د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغانستان د لیکوالو انجمن له خوا خپور شوی دی. استاد زیار پر دغه اثر یوه هر اړخیزه سریزه کښلې ده چې په هغه کې د پښتو پر اوسني داستاني بهیر هم یوه لنډه کتنه شوې ده.**

**همدارنګه استاد د عزیز رویش پر شعري غونډ په دري ژبه یوه وړه سریزه کښلې ده. دغه غونډ پر ۱۳٦۸ل کال د کورنیو چارو وزارت د خپرونو په لړ کې له چاپه راوتلی دی. دغه راز استاد زیار یو ګڼ شمېر تقریظونه د (کتنه، ارزکتنه، ارزونه، یوه لنډه ارزونه...) په نومونو د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي، اقتصاد پوهنځي، انجنیري پوهنځي، د ننګرهار د بایزید روښان پوهنتون د ښوونې او روزنې او پښتو ادبیاتو پوهنځي د لوستلیکیو (درسي کتابونو)، علمي ترفیعاتو او د ماسترۍ پر اثارو کښلي دي، چې یو شمېر یې په کې په دري ژبه هم دي.**

**پر دغو ټولو لیکنوسربېره یې یو ګڼ شمېر ازادې او لیکلې راډیویي مرکې او ویناوې کړي، چې زیاتره یې چاپ شوي نه دي، چې زه یې دلته د څو بېلګو لنډه یادونه کوم.**

## راډیویي مرکې:

**له ۱۳۵۱- ۱۳۵۳ل کال پورې یې په ((مور او اورېدونکي)) پروګرام کې هره اوونۍ یو ځل د ژبنیو مسالو په باب رسېدلو پوښتنو ته ځوابونه ویلي دي.**

**همدا ډول یې له ۱۳۵۱ل کال راهیسې تراوسه په ((کره کتنه))، بوډۍ ټال، ولولو او داسې نورو پروګرامونو کې لړ و ډېره په لیکنۍ یا ګړنۍ توګه برخه اخیستې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تلویزیوني پروګرامونو کې يې د ۱۳۵۸ل کال لــه مرغــومي څخــه تراوسه پورې په ځینو ادبي او سیاسي مرکو او ((ګرد مېزونو) کې برخه اخیستې ده.

د کابل پوهنتون، د علومو اکاډمۍ او د اطلاعاتو او کلتــور وزارت، د لیکوالو انجمن او ژورنالیستانو ټولنې په یــو لــړ علمــي کنفرانســونو، سیمینارونو او سمپوزیمونو کې یې د لیکنو ترڅنګه ځینې ازادې ویناوې هم کړي دي.

همدا راز د ژوندون او هنر مجلو، هېواد، انیس او کابل ټایمز ورځپاڼو او ځینو نورو مهالنیو خپرونو په ګردیو مېزونو او مرکو کــې یــې برخــه اخیستې ده. د ((یوې یوازینۍ بشپړې، نګه او کره لیکنۍ پښــتو)) پــه برخه کې یې له ۱۳۵۱ل کال څخه تراوسه پورې د مخامخ خبــرو اتــرو، لکچرونو او ویناوو له لارې د باختر اژانس، راډیو، تلویزیون او د هېواد د زیاترو مهالنیو چاپي خپرونو پښتو لیکونکو او ژباړونکو ته وخت پر وخت لارښوونې کړي دي.

پر ۱۳۶۶ل کال یې د اساسي قانون، ملي سولې او پخلاینې په تبلیغ کې کارنده ونډه اخیستې او په کابل او ننګرهــار کــې یــې پــه یــو لــړ کولکتیفونو، فرهنګي، علمي او ټولنیزو سازمانونو کې ویناوې کړي دي.

همدا راز یې د افغانستان د سولې، پیوستون او د دوستۍ سازمان د رئیس او مرستیال او د لیکوالو د ټولنې د استازي په توګه په بېلابېلــو سیاسي ادبي او ټولنیزو غونډو کې ویناوې اورولې دي.

## تر هېواده د باندې:

۱- پر ۱۳۴۹ل کال چې په سویس کې یې د لوړو زده کړو وروســتۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپې ورځې تېرولې او په خپل هېواد (افغانستان) کې يې د وچکالۍ له کبله سخته ولږه رامنځته شوې وه، د سويسيانو د انساني مرستو او خواخوږيو د هڅونو لپاره يې د برن ښار په يو کليسا کې ګنو لمونځغاړو ته په الماني ژبه ليکلې او ازاده وينا کړې ده.**

**۲- د ۱۳۵۹ل کال د غبرګولي پر درېيمه يې د افغانستان د سولې او پيوستون د سازمان د مشر او فوق العاده استازي په توګه په هغه نړۍ واله غونډه کې په انګليسي ليکلې وينا اورولې ده چې د ناپييلو هېوادونو د غورځنګ د پنځه ويشتمې کاليزې د نمانځنې لپاره د سريلانکا په مرکز کولمبو کې جوړه شوې وه.**

**۳- د ۱۳۵۹ل کال د تلې پر اتلسمه يې د افغانستان د سولې او پيوستون د سازمان د پنځه کسيز هئيت د مشر په توګه د مجارستان په مرکز بوداپست کې د صنفي اتحادې يوې غونډې ته دوه ساعته اوږده وينا کړې ده.**

**۴- د ۱۳۶۰ل کال دوري له پنځمې تر اتلسمې يې د ژبو او ادبياتو پوهنځي د رئيس په توګه د هند د اتلس ورځني سفر په ترځ کې د ډيلي پوهنتون، جواهر لال نهرو پوهنتون، پنجاب پوهنتون، حيدراباد پوهنتون او ممبيي پوهنتون او ځينو فرهنګي موسسو او سازمانونو د کتنې پر وخت ويناوې او مرکې کړې دي. ددغه سفر يو ګزارش يې هماغه مهال په هېواد ورځپاڼه کې هم خپور شوی دی.**

**۵- پر ۱۳۶۵ او ۱۳۶۰ل کال يې د شوروي اتحاد د علمي او فرهنګي سفرونو په ترځ کې د اذربايجان په راډيو او د ازبکستان په تلويزيون کې خبرې اترې او مرکې کړې دي او دغه راز يې د ((شوروي ادبيات)) او ((نوويستي)) له خبريالانو سره يو لړ مرکې کړې دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۶- د ۱۳۶۵ کال د زمري میاشتې پر شلمه یې په برلین کې د المــان دیموکراتیک جمهوریت د متحد سوسیالیست ګونــد خپرنـــي اورګــان ((نوایزددایچلند)) پازوالو ته د افغانستان د وخت د بدلونونو په باب په الماني ژبه یونیم ساعته لکچر ورکړی دی.**

**۷- د المان متحد سوسیالیستي ګوند په یوولسمه کنګره کــې یــې ((دثور انقلاب حقیقت ورځپاڼې)) د افتخاري خبریال په توګــه ګــډون کړی دی، چې د ۱۹۸۶م د اپریل له ۱۸-۲۰ د برلین په جمهوري ماڼۍ کې جوړه شوې وه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یادونه

لکه څنگه چې ښکاره ده او موږ هم دمخه ورته گوته ونیوله، د پوهاند زیار د لیکنو شمېر پرته له ځانگړو اثارو (۱۱۰۰) ټوټو ته رسېږي او کېدی شي له دغو څخه لا زیاتې وي. استاد زیار خپلې دا لیکنې لـه ۳۰-۳۵ کلونو راهیسې په هېواد او بهر کې په پښتو، دري، انگلیسي او الماني ژبو د بېلابېلو مهالنیو (چاپي، راډیویي او تلویزیوني) خپرونو له لارې خپرې کړې دي. د دغو لیکنو یو شمېر مې د خپلو نژدې ملگرو او په خپلــه د استاد په مرسته پیدا کړي، هغه هم په ډېره ستونزه، هغه جریدې، مجلې او ورځپاڼې چې د علومو اکاډمۍ، عامه کتابتون او د کابل پوهنتون پــه مرکزي کتابتون کې موجودې وې، پوره پوره مې ورڅخه گټه واخیسته، چې یو اوږد زماني واټن یې ونیو، خو بیا هم زه په دې بریالی نــه شــوم، چې د استاد زیار یو لړ چاپي لیکنې له اخځلیک سره دلته راوړم دا ځکه چې په کتابتونونو کې د ډېرشمو کلونــو د جریــدو، مجلــو او ورځپــاڼو کلکسینونه نیمگړي دي او په تېره بیا د هېواد ورځپاڼــه چــې ۳۷-۴۳ کلونو پورې په کې د خبریال په توگه د استاد ډېرې لیکنې او راپورتاژونه خپاره شوي دي او د ځینو خو لا هېڅ نه شته. استاد زیار د خپلو چاپي لیکنو یو اخبار هم له ځانه سره نه دی ساتلی. زه له ځینو نورو لیکوالو سره چې ځانگړي کتابتونونه لري هم په تماس کې شوم، له هغوی سره هم زما د اړتیا وړ مواد نه وو. نو په دې وجه مې ونه شو کــړای، چــې د پوهاند زیار ټولې چاپي لیکنې دلته راوړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا دی دلته د هغوجریدو، مجلو او ورځپاڼو یادونه کوم چې د استاد د لیکنو یوه زیاته برخه په کې خپره شوې ده، خو په کتابتونونو کې نه پيدا کېږي او په یوځایي ډول یې موندل ډېر زیات زماني واټن غواړي او ځینې بیا هم ښایي هېڅ پيدا نه شي:**

١- د ثور انقلاب حقیقت ورځپاڼې ځینې اړتیا وړ ګڼې.

٢- د (هېواد) ورځپاڼې د ٤٠-٤١ او ٤٢ ځنې اړتیا وړ ګڼې.

٣- د اصلاح ورځپاڼې د ٣٥-٤٣ کلونو ګڼې.

٥- د ننګرهار ورځپاڼې د ٤٣ او ٤٤ کلونو د حمل او ثور د میاشتو ګڼې.

٦- د (پکتیا وړانګه) ورځپاڼې د ٤٢ کال ګڼې.

٧- د (پلوشه) مجلې د ٥٢-٥٧ کلونو ګڼې.

٨- د زېري جریده د ٣٥ کال ګڼې او ځینې نورې اړتیا وړ ګڼې.

٩- د مېرمن مجلې ځینې اړتیا وړ ګڼې.

١٠- د (پوهنتون کابل) اوونیزې د ١٣٦٦ کال ځینې اړتیا وړ ګڼې.

١١- د کابل پوهنتون خبرونه د ١٣٣٨-١٣٤١ کال ګڼې.

١٢- د (بدني روزنه) مجلې د ١٣٤١ کال ګڼې.

١٣- د کهول مجلې ځینې اړتیا وړ ګڼې.

١٤- درفش جوانان اوونیزې ځینې اړتیا وړ ګڼې.

١٥- د حقیقت سرباز جریدې ځینې اړتیا وړ ګڼې.

١٦- د (ننداره)) مجلې ځینې اړتیا وړ ګڼې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په خپله دغه څېړنیزه لیکنه کې له خپل واک و وس سره سم هڅه وکړه، چې د استاد زیار پر اند وژوند او فرهنګـي شخصـیت، د لاسـته راغلو اخځونو او توکونو له مخې رڼا واچوم، خو بیا هم هاغسې چې مـا غوښتل او ښایي نور یې هم وغواړي، ونه شو کړای او ډېر څه نا سپړلي او ناجوت پاتې شول. له دې کبله مې غوره وګڼله، په خپله له استاد زیـار سره هم یو لړ خبرې اترې او مرکې وکړم، چې ګوندې له دغې لارې زما د څېړنې پاتې تشې او نیمګړتیاوې څه ناڅه بشپړوالی او کره والی ومومي. دا هم زما پوښتنې او د ده غبرګونې:

۱- پوښتنه: ښاغلی استاد زیار! ما څو ځایه ستا د ژوند لیکونو پـه ترڅ کې چې ستا د چاپ شویو کتابونو پر دوتنـو (پښـتیو) او ژونـدون مجلې د ۱۳۶۷ل کال په ۴ ګنه کې خپاره شوي دي، سـتا د خپلواکـو څېړنیزو، ژباړیزو او زېږندویزو (تخلیقي) اثـارو شـمېر ۱۳۰ او د لیکنـو (مقالو) هغه ۱۱۰۰ ښوول شوی دی، خو زما د لړو ډېرې پلټنې له مخـې لومړی شمېر تر ۱۳۰ ټوکو هم تېری کوي، مګر ستا د بېلابېلو لیکنو ټول شمېر مې د ورځپاڼو، جریـدو او مجلـو د کلکسـینونو د نشـتوالي او نیمګړتیا له کبله پوره نه شو کړای په دغه برخه کې ستا غبرګون څـه دی؟

ځواب: څنګه چې زما د بېلابېلو لیکنو(مقالو) شمېر هم زیاتره پـه ژورنالستیک فعالیت پورې اړه لري او په تېره بیا دا چې له ۱۳۳۸ل څخه مې تر ۱۳۴۵ل کال پورې د هېواد ورځپاڼې د خبریال په توګـه زښـتې ډېرې لیکنې خپرې شوې، نو دا کومه هېښـنده خبـره نـه ده، چــې د کلکسینونو نشتوالی او نیمګړوالی یې تا دغې پوښتنې ته اړ باسـي. زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره باور لرم چې که دغه کلکسینونه په لاس درغلي وای، هرو مرو دې زما ((شمېر)) ته د مننې سرخوځاوه، ځکه ښه مې په یــاد دي چــې د ۱۳۳۸ل کال له ژمي بیا د ۱۳۴۱ل کال تر پایه د هېواد ورځپاڼې یوه ګڼه هم بې زما له لیکنې خپره شوې نه ده. ان داسې وخت راغلی چــې پــه بېلابېلو پورنومو (لکه مزینه وال، اخترخېل...) مې په کې تر درو لیکنــو هم خپرې شوې دي: یو راپورتاژ، یوه مرکه او یا هم ورزشــي او هنــري تبصره، که نه یو ښاري خبر خو به مې بې نومه هم په کې خپرېده. نو که په منځنۍ کچه مې یوازې په هېواد ورځپاڼه کــې د کــال ۳۰۰ لیکنــې خپرې شوي وي، نو یوازې مې په نوموړو درو کلونو کې د ژورنالیستیکو لیکنو شمېر نهو سوو ته رسېږي او همزمان ورسره په نورو ورځپــاڼو او مهالنیو کې هم لږ تر لږه ۵۰ لیکنې ورســرباري شــوي دي او دغــه راز ژورنالستیک فعالیت مې لږ و ډېر تر دې دمه رارسېږي.

زه دا باتې نه وهم چې ګوندې زما ټولې (۱۱۰۰) لیکنې دې یو مخیــزه علمي او څېړنیزې وي، دغه راز په پورتني شمېر کې زما ځینو هغو لیکنو هم غبرګون (دوبلکیت) موندلی چې په علمي سیمینارونو او غونډو کې مې اورولي او بیا وروسته په اړوندو غونډونو (مجموعو) کې چاپ شوي دي او یا لکه ژبنۍ هغه چې یوه زیاته برخه یې پــه (لــیکلار) او (ویــي پوهنه) کې راغلې ده.

نور واړه واړه مطلبونه لکه سریزې، یادښــتونه، کتنــې، ارزونــې یــا تقریظونه هم په پورتني شمېر کې راځي چې پر ځینو علمي تیزســونو، څېړنیزو اثارو، پوهنتوني لوستلیکیو (درسي کتابونو) او یــا شــعري او

(c) ketabton.com: The Digital Library



داستاني غونډونو مې کښلي دي او دا هم باید ووایم چې زما د لیکنو شمېر په دوه مخکې کلو اړه لري او نورې لیکنې مې همداسې روانې دي.

هوګوره، زما ادبي زېږندويي (تخلیقات) تر نوموړي شمېر د باندې دي چې تا هم ورته ځانته جلا څپرکی ورکړ ی دی.

۲- پوښتنه: ستا د ((ملي ریکارډ)) خبره ښايي پر ځینو کسانو دومره ښه ونه لګي، په دغه باب مو څه نظر دی؟

ځواب: (( اختر څه پټ مېږه نه دی)) ترڅو چې پوهاند حبیبي ژوندی و، دا حق مې ځانته نه ورکاوه، ځکه هغه د یوه افغاني لیکوال او پوهاند په توګه په ټول افغاني فرهنګي تاریخ کې نه یوازې د مقالو او کتابونو د شومره والي له پلوه یو ملي ریکارډ ټینګ کړی و، بلکې په ځینو علمي څانګو، لکه تاریخ لیکنه او متن پوهنه کې یې څرنګوالی (کیفیت) هم په برخه و. خو تر ده وروسته په ټوله پازوالۍ (مسوولیت)، په نورو مړو او ژوندیو لیکوالو او څېړنوالو کې په څه دپاسه ۱۳۰ خپلواکو اثارو او ۱۱۰۰ مقالو سره ځان د ((ملي ریکارډ)) څښتن بولم، که څوک یې نه مني، ((دا ګز او دا میدان))، ((که شپه تیاره ده، منې په شمار دي)) په دې کې شک نه شته چې زما په خپلواکو ((کتابي)) اثارو کې ۱۰۴ توکه هغه ډګر څېړنې (فیلډ ریسرچونه) هم راځي چې د هېواد د ۱۰-۱۴ ژبو پر ۱۰۴ ګړدودونو مې ترسره کړي دي او د چا خبره یوازې څېړنیزه او دیتایي بنه لري، همداسې مې څرمه (ضمیمي) فولکوریکي څېړنې هم درواخله! خو بیا هم دا په زغرده ویلای شم چې ما د دغو اومو توکونو د علمي اوډون په لومړني پړاو کې هم هغه مهال کارنده

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه اخیستې چې د برن پوهنتون د شپږ کلنې زده کړیزې استوګنې په ترڅ کې مې له خپل استاد پروفیسور ژارژ ردار او دوکتور شــارل کیفــر سره پرځای کړې ده او هر تړوک به یې تر بشپړ اوډون وروسته زما په نامه له چاپه راووځي(د افغانستان د ژبپوهنې اتلس د پروژې په باب خو مې په خپل ځای کې څرګندونه کړې ده). له بلې خوا مې په خپلو ورځنیو لیکنو، څېړنو او کتابونو کې هم له پورتنیو دیتاوو څخه تل ګټه اخیستې او زما د ژبنیو او فولکوریکو څېړنو یوه غوره سرچینه بلل کېږي.

که ځینې راسره رخه لري او د ((ملي ریکارډ)) خبره پرې بده لګي، نه یې ته خوله تړلای شې او نه زه. دغه رخه یوازې له دې سرچینه نه اخلي چې ګوندې د چا خبره اړوندو کسانو ته زور ورکــوي، بلکــې لــه هغــه ناباندیوالي تومنه اخلي چې دوی یې زما له خوا د ((پښتو لیکنې معیار)) او ((ازاد شعر)) له راپیل کړي غورځنګ او بیا نه ایلېــدونکې انتقــادي لوښې سره یې لري. له اروابښاد استاد حبیبي سره زما د پرتلې په بــاب ستا بله پوښتنه هم دلته ځواب موندلای شي.

۳- پوښتنه: له ډېرو ښاغلو مې اورېدلي دي، چې تــه د ځــانګړي سیاسي او فرهنګي تګلارې له کبله تل ((چپی)) پاتې شوی یې او همدا ناړامه او نه ایلېدونکی چپي دریځ دې د لوړو دولتي څوکیو لپاره خنــډ ګرځېدلی دی، ایا دا خبره سمه ده؟

ځواب: زه به دا هم زیاته کړم، کله چې په ناڅاپي توګه یوې لــوړې څوکۍ ته رسېدلی هم یم، د همدغه دریځ له کبله ترې نه یوازې بېرته ژر لرې شوی یم، بلکې جزا مې هم لیدلې ده، یا زندان ته تللی یم او یا بهر ته. د خپلې ګروهې او دریځ، یا پــه بلــه وینــا لــه تــاکلو ژونــد آرونــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



(پرنسيپونو) د څوکی، بلکې د ژوند پروا مې هم ساتلې نه ده. زه به هېڅکله داسې شرايطو ته سر کښېږده نه کړم چې زما د ځانګړې سياسي او فرهنګي تګلارې او ټاکلي دريځ په بيه پرېوځي. ښايي ډېر فرهنګيالان لږ و ډېر دغه راز نه ايلېدونکی دريځ ولري، مګر ما په کړن کې زباته کړې ده او چاته مې شک او خرخشه پرې ايښي نه دي. له بلې خوا په ټوله مانا د ټولنې او ژوند د رښتينې څېرې په ځلونه کې زما ناړامه او بې پروا ((زړورتيا او رښتينتيا)) بس دي چې د وخت واکمنان رابانـدې کومه پوړۍ او څوکۍ ونه لوروي.

۴- پوښتنه: لکه څنګه چې تا ويلي دي (( ليکوالي زما د ژوند يو نه جلاکېدونکی ټوک دی)) همدا اوس زمـا د منـګ پـه انـډول سـتا روغتيايي حالت ښه برېښي، ايا کېدی شي، دا خبره د عمر تر پايه پورې پر ځان ومنۍ!؟

ځواب: هسې خو هر څوک دا هيله لري، په پوره روغتيا سره يو اوږد ژوند په مخ کې ولري او خپلې نيمګړې هيلې او ارمانونه د بري تر بريده ورسوي، مګر له ما سره د روغتيا او ژوند اوږدتيا هيله د همدې لپـاره ملګرې ده چې وکړای شم، د ژوند تر وروستۍ ساه پـورې لـږ تـر لـږه نوموړی شمېر اثار په چاپ ورسوم او د خپل پښتني، افغاني او بيا يې د جهاني فرهنګ تاريخ ته وسپارم.

هو ګوره، له دې سره به زما ټوله کازمني (ازمندي) خړوبتيا ونه مومي او غواړم د دغه اوډوني (تدويني) کار تر څنګه په درو ګونو (څېړنيـزو، ژباړيزو او زيږندويزو) ډګرونو کې هم خپل نه ستړي کېدونکي کار و زيار

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرمخ یوسم. په ځانګړي ډول په ناپیلې (منثورې) زېړندویزۍ برخه کې همدا اوس بې شمېره اډانې (طرحې) او یادښتونه له ځان سره کښلي لرم چې په کور ناستۍ سره ورته د لنډ، منځني او اوږد داستان (رومان) په بڼه رښتاینه وبښم، هغه هم په دې آړ (شرط) چې تر هغې مې د ((پښتو لیکنې معیار)) او هم ((پښتو ازاد شعر)) غورځنګ یو غوڅ بشپړتیایي پړاو ته رسولی وي، د اګاهانه او نا اګاهانه ((مخالفینو)) غوړونه دې کانه وي.

۵- پوښتنه: ځینې کسان وایي: (( استاد زیار په خپله علمي-ادبي او همدارنګه سیاسي تګلاره کې له ښندې (افراط) څخه کار اخلي)) ته په دې کې څه وایې؟

ځواب: په یوه وروسته پاتې ټولنه لکه افغاني او په تېره پښتني ټولنه کې هر نوی ټولنیز او فرهنګي بدلون او غورځنګ هرومرو له نابانډۍ سره مخامخېږي او ذهنیتونه راپاروي که به څه هم د دغې نابانډۍ او پارونې آر لاملونه (اصلي عوامل) ساده او نالوستې پرګنې نه، بلکې تش په نامه ((روښاندان)) وي، چې د خپلو ارتجاعي ګټو په پار د دغو پرګنو له ساده ګۍ او نالوستۍ ناوړه ګټه اخلي. د ساري په توګه د ثور اوښتون ضد پارونې له آره له همدغه راز شاتګ پالو او ځانساتو ((روښاندانو)) څخه سرچینه اخلي او فرهنګي بدلون یا اوښتون خو چې د ټولنیز اوښتون یو نه جلاکېدونکی ټوک بلل کېږي، بیا په ځانګړي او سیده ډول د همدوی په خپل لاس له خنډو ځنډ سره مخامخېږي. له کلو راهیسې چې ما د ((پښتو لیکنې معیار)) د رامنځته کولو لپاره غږ پورته کړی او ټولې هاندو هڅې مې ورته راګومارلې دي، د وخت د پښتو ټولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټیکه والو راپسې د مخالفت بیرغ راپورته کړی او هماغومره پلویان یې د ځان ملګري کړي، لکه څومره چې ما د ځان ملګـري کـړي دي. نـو دا څرګنده وه، چې هغوی دغه غورځنګ د خپلې ټیکې لپاره خطر انګېره او څه یې چې له لاسه کېدل، دډه یې ترې ونه کړه.

د دوی همدومره پروپاګند بس و، چې د ((ژبنـي معیـار)) جـاج لـه ((ژبني تصفیې (پیوریزم) )) سره په سپسته یې توګه ګډ کړي او د وخت واکمن ځواکونه او ځان ساتي توکونه اګاهانه یا نااګاهانه زمـا او زمـا د لارویو پر ضد راوپاروي. (ددغې ربړې په بـاب زمـا اړونـدې لیکنـې او کتابونه هم په پام کې ونیسئ، همداسې د نوي او ازاد پښتو شعر هاندو هڅې هم درواخله چې په را وروستو څو کلونو کې مې ورته اوړه ورتـه کړې ده او ته یې ګورې چې تر پایه پورې مې څومره ځوان استعدادونه ملګرتیا کوي او یوازې څو زوړ خوښي مې مخې ته درېږي. د پښتو ټولنې د وخت ټیکه وال چې له لرو دېر واک و ځـواک سـره د افغانسـتان د علومو اکاډمۍ ته په میراث پاتې دي، سره له دې چې له شعر او شاعرۍ سره دومره سرو کار هم نه لري، خو بیا هم له دغو زوړ خوښیو سره خپل پخواني ګرومونه (کمپلکسونه) ګډوي. نو ته سوچ وکړه چې که دغه راز کسان راته ((افراطي)) ونه وایي، نور به راته څه ووایي. په سیاسي برخه کې هم د هر راز ((افراط)) تور بیا هم تر بل هر چا زیات له همدغو څخه آره اخلي او تصادفي نه ده چې دوی بېلابېلې سیاسي ډلې ټپلې سـره اچوي، ما له تا سره او تا له ما سره او خپله د ((اپولوتیستانو)) په توګه د خیر پر غونډۍ کېني. پاچاخان (عبدالغفار خان) چې په خپل ژغورنده

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي غورځنګ کې د ((عدم تشدد)) لار نیولې وه، بیا هم ګوډاګیانو ورته همدغه ټکی پلمه کاوه.

زه له دې هم منکر نه یم چې نژدې شل کاله (( د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند)) غړی پاتې شوی یم او د دوران سازې ایډیولوژۍ یو سخت پلوی، مګر کله چې دغه ګوند دولتي ځواک په واک کې راوست، له لومړۍ ورځې یې په بېلاریو پیل وکړ او زه یې هم په زندان وسپارلم. تر شل میاشتني زندیو او زندانونو وروسته چې د ګوند شـــړل شــوې څانګه ((پرچم)) ډګر ته راغله او له ((خلق)) څانګې سره یې په ســمه سمیا (فیفتي- فیفتي) کې درېیم ځلې نیم بند یووالی وکــړ، زمـا پــر سترګو هم یو څه رڼا راغله او ازاده ساه مې واخیسته. د لومړي ځل لپاره مې د خپلو کتابونو په چاپولو لاس پورې کړ او ۳-۴ کاله مې یوه نیمــه څوکۍ هم وچلوله. دلته پرچمیانو د ((امینیانو- تره کیانو) ضد سیاست د ټولو پښتنو پر وړاندې راواخیست او د انتي پشتونیزم او پرو تاجکیزم بازار یې تود کړ. ما ولیدل چې نورې دواړې ډلې راته د زغم وړې نه دي، (( نه اشه ښه ده نه ګله، دوی دې وخوري یو تر بله)) او په برلین کې مې د استادۍ په پلمه خپله استوګه غوره وګڼله. پر ۱۳۶۵ل کال مــې لــه راستنېدو سره چې دوکتور نجیب د ګوند و دولت مشرتابه ته رسېدلی و، بیا هم په ګوند کې خپل غړیتوب وساته، خو کومه ورته څېره چــې د مخه راپیل شوې وه، نوره هم پسې تونده شوه او ورسته د شتو ټولونې سیالي د بډو او چور، غلا او خیانت، جاسوسي، هېواد پلورنې او په پای کې د هېواد د ټوټه کېدو پلان په خپله د مشرتابه د غړیو له خوا شــورو زور وموند، نور راته په ګوند کې پاتې کېدل پــه همــدغو جرمونــو کــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شریکېدل وبرېښېدل او د همدغو لاسوندونو په راوړنه مې خپله استعفا وړاندې کړه. مگر د ((ایډیولوژۍ)) د مثبتو او انساني اړخونو پلوی به مې د ژوند ترپایه کومه وټه ونه مومي.

له دې کبله بې سیاسته ژوند، په ژوند کې نه شمېرم او هنر و ادب هم د ژوند د یوه ټوک په توگه په سیاست پورې تړلی بولم.

۶- پوښتنه: پر تا باندې تل دا انتقاد هم دی چې ستا لیکلار ډېره گرانه ده او په اسانه پرې څوک نه پوهېږي ایا دا انتقاد تـر کـوم ځایـه سمون لري؟

ځواب: لکه پاس مې چې وویل، ما په خپله د ((یوې، یوازینۍ، نگه، بشپړه، کره لیکنۍ پښتو)) یا په لنډ ډول ((معیاري پښتو)) غورځنـگ راپیل کړی دی، نو باید زما لیکلار د همداسې پښتو یوه څرگندویه بېلگه وي او جوته ده چې زما لیکنۍ پښتو د نورو غوندې یوه لنډه تنگه سیمه ییزه پښتو نه ده، بلکې د ټولو سیمو، تاریخي متنونـو او نویـو رغـاونو استازې کوي او یوازې په سلو کې پنځه ویشت پورویيونه (دخیل لغات) را اخلي. ځکه د نورو سترو نړیوالو ژبو غوندې د معیاري پښتو لیکلار هم باید پر جوړښتي (گرامري) یووالي او لغوي رنگارنگوالي ولاړه وي. دا هم باید ووایم چې ددغه انتقاد آره چېرې ده (( که ملحد یم د دښنه یم)) په ادبي زېږونو کې پر دغه ژبنۍ خوا سربېره فکري او بدیعي پېچلتیا هـم کېدی شي، د انتقاد لپاره پلمه شي خو دا پلمه هم بې سرو بوله ده پـه دې چې هنر زېږونه له گزارش سره همدا توپیر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۷– پوښتنه:** د نوي ازاد شعر په باب ځينې پسي شا او ځينې لا مخامخ ستا هلې ځلې انتقادوي، ستا په نظر د دوی دغه کار زموږ ادب ته زيان نه رسوي؟

**ځواب:** لکه څنګه مې چې ستا د مخنۍ پوښتنې په غبرګون کې پر دغه باب رڼا واچوله، له عيني پلوه هېڅ رښتينی پرمختللی غورځنګ بې ګټې نه وي او جوته ده چې هر راز ناباندي يې بې ځايه او بې ګټې وي. دلته له دې پرته چې دغه متل راياد کړم، بل ور ځواب ورته نه ګورم: ((کاروان به تېرېږي او سپي به غپېږي.)) هيله ده چې زما دغه غبرګون ته په خپله ((افراط)) ونه بولې.

**۸- پوښتنه:** ستا په نظر د يوه ليکوال هغه هم ستا غوندې د يوه ستر ليکوال لپاره په سياست کې سيده ګډون ښه برېښي او که څه دول؟

**ځواب:** که يو ليکوال او بيا اديب غواړي، پرګنو ته لار پيدا کړي او ټولنيز ګرانښت او منښت يې په برخه شي، بايد د خپلې ټولنې په پرمختللې مبارزه کې کارنده ګډون ولري او لا هڅه يې تل دا وي چې په مخکښانو کې يې ځای ونيسي. ((ادب د ادب لپاره)) نن سبا هډو هېڅ ارزښت نه لري او ((ادب د ژوند لپاره)) په خپله سياست دی. دا خبره چې ځينې ليکوال وايي (( له سياست سره کار نه لرو يا مو سياست نه خوښېږي)) په خپله يوه سياسي خبره ده. داسې کسان هم له سياسي ګروهې ځان پاکولای نه شي، هرومرو يوه سياسي لار او تګلار لري او په کړن کې ليدل شوي دي، چې تل د پرمختللي سياست او مبارزې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخالف سنګر کې تیکاو لري او د دې لپاره چې د خپل ارتجاعي سیاسي دریځ د پټولو هڅه یې کړې وي، سیاست او ادب سره نه پخلاکېدونکی بولي او له دې انګروزې سره سوچ کوي، نور به وغولوي،له دې نــاخبره چې خپل ځان غولوي. هره ادبي زېږنــده کــه شــعر دی یــا داســتان، ننداریک دی، که فلملیک، هرومرو یو سیاسي، یا په بله وینا یو ټولنیز ارمان او پیغام لري، خو که دغه ارمان او پیغام یو خوا له له هنري ارمان سره اخښلی را اخښلی وي او بل خوا د ټولنې له پرمختګ او پرمختیایي بهیر سره سمون ولري، داسې چې د اندو جاج (فکرو مفهوم) له پلــوه پوره ژور او د ژبنۍ او هنري جولې له پلوه لــه یــوه ښــکلاییز خونــد او راکښون څخه ډک وي او له دې سره سره یې د انساني ټولنې او ژوند په انځورنه او ځلونه کې پوره رښتینولي نغښتې وي، هغه زېږندې بــه پــه رښتیا سره منښت او ګرانښت ولري او له دې سره به یې زېږندوی هم له دغه ویاړ څخه برخمن وي.

د نړۍ نومیالي شاعران او لیکوال تل پرمختللي او جنګیالي وي. دلته د سیده او ناسیده پوښتنه سمه نه ده که ستا موخه ګونــدي غړیتــوب وي، نو ((شنې په غلا نه چیچل کېږي))، د یــوه تــش ((اپولوتیســت)) لیکوال یا په بله وینا د یوه ارتجاعي دریح لید توګې او نړۍ لید لرونکي لیکوال پرمخ د پرمختګ ورشو ډېره لنډه تنګه ده او کوم ارت او په زړه پورې څنډونه او لر لیدونه په مخ کې نه لري او د چــا خبــره ((د جــولا غوندې یې منډه تر مړوي پورې وي)) او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۹- پوښتنه: ځینې کسان وايي چې (( د استاد زیار د پښتو پالنې روحیه د ده له سیاسي تګلارې سره ټکر خوري)) ستا په اند دا خبــره سمه ده؟**

**ځواب:** دا چې زما پښتو پالنه د ټولنې له کوم ناپښتو ملیت یا ډلې ټپلې په تاوان نه ده، بلکې د افغان ولس د ټولنیز او فرهنګي پرمختګ په ګټه ده او له بلې خوا زما له سیاسي تګلارې او اند پوهې سره پــوره اړخ لګوي، نو ولې تر دا منځ ټکر پېښ شي او که کوم ټکر دلتــه لیــدل کېږي، آره (منشا) يې له ما سره نه، بلکې له هماغو لنډ اندو پښتنو او نا پښتنو یا ګوندیانو او ناګوندیانو سره ده چې پښتنو ته د مشــر ورور یــا اکثریت په سترګه نه ګوري، کاشکې دوی لــه مــا ســره، نــه یــوازې د مارکسیستي- لینیستي آرونو (اصولو) له مخې، بللکې لــږ تــر لــږه د ټولمنلیو نړیوالو آرونو پر بنسټ استدلال کولای، هسې بې آرو بې دلیله ادعاوې ماته کوم ارزښت درلودای نه شي.

**۱۰- پوښتنه: لکه څنګه چې څرګنده ده، ته د نورو ټولو مخینه والو او ازمېښتکارو لیکوالو په انډول له ځوانو شاعرانو او لیکوالو سره زیات نږدېوالی او لورېینه لرې او له همدې کبله در نه ډېر ګڼ شمېر تاو راتــاو هم دي، علت څه دی؟**

**ځواب:** ما د ( نوي- زوړ) د مبارزې سختې شېبې لیدلې او تر اوسه يې لا ګورم، له دې کبله زه نه غواړم زوړ خوښی پاتې شم او د ((زوړ)) د خوشالونې په بیه ((ځوانان)) له ځانه بېزاره کړم. ما له هغو ((زړو)) څخه ستر لوست اخیستی، چې تل يې پر خپلو ((زړو)) ټینګار کړی او د نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پښت د نوښتونو پر ضد درېدلي، یا په بله وینا د نوي او ځوان استعداد په غوړېدا کې خپله نیستي ویني. دا ســې زاړه خپــل ځانونــه پــه خپلــه منفوروي او کوم درناوی چې ځوانان یې ورته باید وکړي، په لوی لاس له لاسه ورکوي. زه د همدغه رمز په پوهېدو سره دې پایلې ته رسېدلی یم چې نه یوازې ځوانانو ته په کمه سترګه ونه ګورم، بلکــې د اســتعداد د غوړېدا او هڅونې مرسته یې وکړم. همدا سبب دی چې تر ((زړو)) مې له ځوانانو سره ناسته پاسته زیاته ده، لیکنې ورسموم او سمه لارښوونه یې کوم، نو ښکاره ده چې تر بل هر چا پر ما ډېر تاو راتاو وي او همــاغومره پرې ګران یم، لکه څومره چې دوی پر ما ګران دي. زه که هرڅومره زوړ شم، فکرو خیال، هیله او ارمان به مې زړښت ته پرې نــږدي او پــه دې ډول به تر مرګه له ځوان پښت سره واټن ونه لرم. د نوي ازاد شعر لپاره زما هاند وهڅه د همدې لوښې ښکارندوی دي. زه ددې څه پروا نه ساتم چې زوړ خوښي زاړه دې رانه خوښ وي یا ناخوښ، ځکه بې له هغې دوی د ګور پر څنډه ولاړ دي او له دې سره ســره یــې بــې ګټــې اندونــه او ازمېښتونه هم یوځای ورسره له منځه تلونکي دي.**

**حال دا چې ځوانان یوه ویړه راتلونکې په مخ کې لري او زما د پښت د نورو لیکوالو او فرهنګیالانو ورمندون (قضاوت) او ارزونــه (ارزیــابي) د همدوی په لاس کې دي.**

**۱۱- پوښتنه: لکه څنګه چې ښکاره ده، اقتصادي حالت د ژوند په ټولو برخو کې خپلې اغېزې ښندي، ستا اقتصادي اکر پر اوس وخت څه ډول دی؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: زما اقتصادي اکر سمدلاسه په دې بد نه دی چې کـار ډېـر کوم او له دې سره مې ورځنۍ اړتیاوې هم خړوبېږي. د زېرمــې خیــال دومره نه ساتم، تش همدومره بو بچت هومره په پام کې نیسم چې زما او زما د کورنۍ غړیو کومې نابېرې پېښې ته ځواب وویلای شي. زه په دې برخه کې د المانیانو نه ، بلکې د فرانسیانو لیاره خوښوم، لکه چې وایي: ((المانیان ددې لپاره ژوند کوي چې کار وکړي او فرانسیان ددې لپــاره کار کوي چې ژوند وکړي)).

۱۲- پوښتنه: لکه ځنګه چې برېښي، ستا روغتیایي حالت ډېر ښه دی او لا تراوسه ځوان ښکارې او د همدغې روغتیا په برکت دې په ۳۵- ۳۶ کلن لیکوالي ژوند کې دا دومره کار کړی دی، نو که همداســې روغ پاتې شې او یو اوږد ژوند ولرې، کله دې دا هیله هم په زړه کې غځــونې کوي، چې په لیکوالۍ کې پر ملي کچه سربېره نړیوال ریکارډ هم ټینګ کړای شې؟

ځواب: لکه چې وایي: (( نړۍ په امید خوړل کېږي))، نــو زه هــم د خپلو ټاکلو ژوند آرونو (پرنسیپونو) د چوکاټ دننه له یوه امید سره ژوند کوم او هغه امید هم دا دی چې په خپل ژوند کې ستر فرهنګي بــري او بریاوې ترلاسه کړم. لومړی مې په ملي او بیا په نړیواله کچه، یا مې لږ تر لږه د خپل ملي او بیا جهاني فرهنګ په تاریخ کې نوم پــه غټــو تــورو وکښل شي. زه په همدغه هیله او ارمان د یوه روغتیــایي اوږده ژونــد پلوی یم او له همدې لامله په پرتلیزه توګه تر ډېرو همزولو ځوان پــاتې یم. زه د بې خرته دماغي کــار ترڅنګــه جســمي کــار او ورزش، پلــې ګرځېدل او هوساییز پروګرام او بیا سم او ارام خوب او وړنده خــوراکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



رژیم هم له یاده نه باسم د سویس شپږ کلنې تحصیلي استوګنې زما د مادي او مانیز ژوند کچې په لوړونه کې خورا ستر نقــش لوبــولی دی او همدغه شپږ کاله مې په خپل ژوند کې شمېرلي دي چـــې هغــه هــم د څرخي زندان یو کلن بند راته بېرته له صفر سره ضرب کړل، خو بیا هم د ناخوالو او بېلابېلو رواني فشارونو او اندېښنو زغم مې د رواني تلقین له لارې تل لوړ ساتلی او د ((خوږو)) په پرتله ((ترخه)) ژر ژر هېروم. زمــا زیات شعرونه له همدغه تلقین څخه رنګ اخلي، که نه هسې خو مـــې ژوند سر ترپایه رنځ او کړاو، درد او څړیکې دي او د چا خبره هسې ځان غولوم او زړه خوشالوم.

((چې په ناز لوی شي په زیار زړېږي))

زه پــه زیــار لوی شوم، په ناز زړېږم

۱۳– پوښتنه: لکه څنګه چې وایــي، د لــوړ اســتعداد او ذکــاوت خاوندان، یا په بله وینا نابغه د ښکاره کړو وړو او ناستې پاستې له پلوه زیاتره نارمل نه وي، یا په ډاګه وویم له نبوغ سره یو راز لېونتــوب هــم ملګری وي، نو ته له دغه پلوه د خپل ځان په باره کې څه نظر لرې، ایــا لومړی ستا دا دومره فرهنګي او علمي برياوې د همداسې لوړ استعداد یا ((نبوغ)) ښکارندویي نه کوي او دویم دا چې که دا خبره سمه وي، نــو ستا ځینې ناړامۍ او نه سازښتونه یو ډول (لېونتوب) نه ګڼل کېــږي او باور لرې چې ته هېڅ راز جسمي او رواني یا دماغي ناروغي نه لرې؟

ځواب: زه څنګه چې د لوړ استعداد، ذکاوت یا نبوع دعوا نه لرم، نو د لېونتوب تور راباندې هم لګېدای نه شي. زه ګومان نــه کــوم، زمــا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکاوت کچ و مېچ یا (I.Q) دې دومره لوړه وي او دومره نــومرې ووړلای شم چې زما د فوق العاده ذکاوت یا نبوغ تر بریده ورســـي. زه د نــژدې دېرش کلنو رسمي او نا رسمي زده کړو په اوږدو کې هماغه مهال د لوړې درجې یا لومړۍ درجې په اخیستلو بریالی شوی یم چې زیاته خواري او زیار مې ګاللی دی، که نه کله کله د بې پروایۍ او ناغېړۍ له کبله مې نه یوازې اول نمره ګي بایللې چې لا بېخي په منځنۍ او ټیټه درجه کامیاب شوی یم. زه د کرکټر لوژۍ د آرونو له مخې ((دمــاغي)) کرکټــر ارزول شوی او ډلبندي شوی یم ( د پوهاند سید بهاوالدین مجروح د شننې له مخې) او له همدې کبله چې له هرڅومره ګرانې او پېچلې علمي موضوع او مسالې سره مخامخ شوی یم، د پوهېدنې او شننې له توغه یې پــوره وتلی یم، خو بیا هم د پرله پسې هاندو زیار په پایلــه (نتیجــه) کــې. زه همدومره پوهېږم چې دومره تېز هوشه نه یم او یو څه وخت ته اړتیا لرم چې یوه علمي یا فلسفي پوښتنه او مساله په هر اړخیزه توګه حل کړم او هرو مرو پرې بریالی کېږم. زما پرتلیزه روغتیا زما د خپلې پاملرنې او اوډلي ژوند زېږنده ده. یوه نیمه روغتیایي ستونزه به هرومرو ولرم چې یا خو به مور زېږلې وي او یا خو به مې د ژوند په لومړنیو پنځلسو کلونو کې راپېښه شوې وي، ځکه دغه کلونه مې له سختې بېوزلۍ او بدویت سره ملګري وو. زه له څو کلو راهیسې پوه شوی یم چې ښي غــوږ او کینــه سترګه مې کمزوري دي او له دې سره متې پر دې هم ورسېدم چــې دا دومره عمر او بیا د زده کړو په بهیر کې هرومرو زیانمن شوی یم او ډېــر څه مې چې باید لاسته راوړي وای او ژر مې لاسته راوړي وای، له لاسه وتلي دي. حافظه مې هم دومره پیاوړې نه ده او د ټولو په پای کــې لــه ارثي پلوه زما د پزې د څوکې یو څه کږوالی هم تل زما د ناپــامۍ او نــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځيرتيا سبب شوی دی. زما نه ژبورتيا هم ښايي د پاســنيو طبيعــي او کسبي روغتيايي نيمگړتياوو زېږنده وي او له همدې کبله مــې د زده کړو په گړنيو ازموينو کې تل پوره نومرې نه دي اخيستې او په ليکنيــو (تحريري) هغو کې مې بيا پوره پوره وړې دي. اوس هم زه تــر وينــا پــه ليکنه کې ځان ډېر پياوړی ننگيرم که دا خبره سمه وي چې د هر چا د استعداد او ذکاوت له لوړوالي سره هماغومره د لېونتوب لــوړوالی هــم وي، نو کېدای شي، دغه غبرگ وياړ زه هم ولرم. خو رښتيا رښتيا دا ده چې زه ټول فرهنگي او علمي بري او برياوې د خپل لوړ استعداد زېږنده نه، بلکې تر هر څه دمخه د خپلو هاندو هڅو او خولې تويونو ييبره بولم، زه دلته د نوميالي مخترع اډيسن د خبرې پخلی کوم چې د اختراعاتو په باب يې د يوې پوښتنې په ځواب کې کړې وه:**

**(( نبوغ په سلو کې ۹۹ په خولې توينه اړه لري او يوازې يو په الهام)).**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځانپېښې

(Autobiography)

د ځانپېښو ثبت د لیکوال د ځاني، ټولنیز، سیاسي او فرهنگي ژوندانه په څېړنه او سپړنه کې ډېر رول لري، په تېره بیا دا چې دا پېښې په خپله د لیکوال په قلم ثبت شوي وي. دا لیکنه یا ځانپېښې، چې دلته یې لولئ، پوهاند استاد زیار په خپل قلم لیکلي، نو ځکه دده د ژوند په تشریح کې ډېره مرسته کوي.

کله چې سړی د همېشه بهار ننگرهار له منځي جلال اباد څخه مخ پر سویل یو دېرش څلوېښت کیلومتره د مزینې په ښکلې او سمسوره دره کې پورته ولاړ شي او د سپین غر شنې لمنې ته ورنژدې کېږي، په هر نیم کیلومتري واټن کې یوې لوېې ویالې ته رسي چې لوی لوی کلي او لوړې برجورې کلاوې، شنې کروندې، بنې دېرې او ښېرازې باغچې وراندې لکه د مرغلرو لړ پرله پسې پرتې دي. دغه ویالې له پسرلي نیولې، د اوړي تر وروستیو شپو ورځو له مست څپاند ((مزینې)) رود څخه د لویو لویو دودیزو بندونو له لارې اوبه را اخلي او ډکې ډکې بهېږي او بیا وروسته یې د چینو او کارېزونو نرۍ نرۍ اوبه ځای نیسي؛ له همدې کبله یې د لرنیو (وروستي ورخو) برخو منگني کښتونه د برنیو (سر ورخو) هغو هومره گڼ سمسور او ښېرازه نه وي- مزینې رود له خپلې ښکلې او اوږدې درې سره د سپین غر له هغو سویلي سر درو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځخه سرچینه اخلي، چې د شینوارو او خوګیانو ترمنځ تېرنی او اداري برید جوړوي او شمالي هغه یې د کورمې سیند سرچینه؛ د مزینې رود پر نویو اوبو (باریکاب) باندې پر کابل سیند پای ته رسي.**

**دغه رود له کوټ او چپرهار هغو سره د ((روداتو ولسوالۍ)) رغوي چې لومړی ترې په ((تور راغه)) او دویم ترې په ((سپین راغه)) جلا کېږي.**

**د همداسې یوې ویالې له سر ورخ ځخه پر شمال د ((اخون کلی)) د کلاوو لړۍ رانښلي چې ځلورمه یې د ملک میرسید کلا نومېږي او ځینې یې د ملا رحمت الله کلا هم بولي، ځکه د دواړو مخورو ترمنځ سمه پر دوو برخو وېشل شوې او دواړه یو برابر اړوندان او ګاونډیان لري. دغه کلا تر ټولو هملړو کلاوو ډېره لوړه او برجوره ده او مخه یې د تلبهاندې ویالې له کبله تل په شنو کروندو، بڼو دېرو او بنکیو ښکلې او ښېرازه برېښي. د مزینې رود منځ لار چې اوس سړک شوی دی، د دغې کلا لـه سـویلي اړخه تېرېږي.**

**زما مور وپلار تر یوه لانجمن واده دولس- دیارلس کاله وروسته له یو زوی لور سره له پاسني حصارک، میدانک او بیا روغانیو ځخه دغې کلا ته رالېږدېدلي وو او د ملک میرسید د ګاونډي په توګه یې په یو خونیز کور کې استوګنه غوره کړې وه، چې له ځارویو سـره پـه کـې یوځـای اوسېدو. زه د خپلې مور د وینا له مخې په همدغه کورګي کې د ۱۳۱۵ل کال پر دویمه یا درېیمه میاشت زېږېدلی یم، چې د صفرې له میاشتې او د مندتو (زردالو) له موسم سره یې سمون درلود؛ دا ځکه چې دغه تازه راوتې مېوه یې راباندې وېشلې وه دا هغه شپې ورځې وې چې زما د دوو خویندو ترمنځ یوازینی اووه- اته کلن ورور د کوي د ناروغۍ له کبله له**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړۍ څخه تازه سترګې پټې کړې وې. له دې لامله زما زېږېـدنې دغــې کوچنۍ کورنۍ ته نوې رڼا وبښله او له ټولې بېوزلۍ سره سره يې د ناز او هوسايۍ په غېږ کې رالوييدلم او په مينه مينه يې پاللم او روزلم. پلار به مې په هر اختر کې په ښايسته کاليو پټولم او په کال کې به يې د سيالۍ په توګه د ولسوالۍ بازار (شيرشاهي) ته پر شا لېږدولم او يــوه ښــکلې چرمه يي ټټرۍ (سدرۍ) به يې راته پر درزي باندې ګنډلــه. د پــلار د ځوانۍ د ځواکمنو متو او نه ستومانېدونکي کارو زيار په برکت مــو يــو شډل، مګر څه ناڅه هوسا او بسيا ژوند درلود. له کرګرۍ او جــولاګرۍ سره يې د غوا خوسي او مېږې وزې ساتنه پالنه هم کوله. له همدې کبله مو د شودو، شړومبو کوچو او غوړيو کمی نه و او هېڅ ژمی مو بې لاندي نه تېراوه.

له فرهنګي پلوه ميرسيد کلا تر نورو کلاوو پوره دمخه وه، هسې خو ټول اخون کلی، لکه څنګه يې چې له نامه ښکاره وه، يو ديني- فرهنګي کلی و او د سيمې د يوه مخور او ستر ځمکوال اخون پــه نامــه نومــول شوی و چې شاهي دربار ته يې هم لار درلوده او امير حبيــب الله خــان ورته د ورځې تر اوو وژنو (قتلونو) فرمان ورکړی و. خو کله چې ورباندې د اوبښرې (حقابې) د بلوسنې له کبله يو سر تېر بزګر غليلاک راوړ او له غټو زامنو سره يې يوځای بلې نړۍ ته ولېږه او ساتندوی امير يــې هــم هممهال د خپلو چړچو بلهاري شو، نو يوې نوې را لېږدېدلې فرهنګي (( قاضي امين جان)) کورنۍ يې ځای ونيو. دغې کورنۍ هم نژدې شل کاله پر اسکيرلي ولس باندې د يوه ځبېښاکګر په توګه خپله واکمني وچلوله، تر څو يې د جاسوسۍ په تور له چوچو پوچو سره د کابل دهمزنګ ځای شو او ترې راپاتې سمسور باغ او دېره يې د يــوه لــومړني ښــوونځي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پرانیستنې لپاره په زړه پورې انګېـزه شــوه چــې د مزینـــې حصــارک ښوونځي په نامه یې د تېر فرهنګي برم یوازینی پاتوړی او ځای ناستی وګرځېد.**

**زموږ کوچنی کورنۍ د نورو دوه درو ګاونډیو کورنیو غونډې د کـلا د دواړو ځمکوالو دیني فرهنګي کورنیو له اغېز سره سره زما نورو خویندو ورونو له لیک لوست سره کومه لېوالتیا نه درلوده. خو کله چــې زه تــر شپږ کلنۍ واوښتم او د کال مخکې جوړ شوي ښوونځي پلټونکي راپسې راغلل، نو پلار مې له ټولو هلو ځلو سره ونه شو کړای، ما تــرې د کــلا د یوازیني ښوونځي منګي هلک په توګه وژغوري. له دې سره یوه اندېښنه دا وه چې زه نه چېرې د یوه نارامه هلک په توګه کوم ســرکاري کتــاب څیرې کړم او ده ته خطره پېښه شي. یوه همداسې ورته اندېښنه ورتــه بله هغه مهال پیدا شوه چې ما ترې د سرښوونکي په سپارښتنه د یوې بغدادۍ سیپارې د رانیونې غوښتنه وکړه. دا یې بیــا داســې انګېرلــه، ګوندې چې هغه راڅخه څیرې یا تر پښو لاندې شي، غاړه به یې راسره بنده شي، خو مور مې دغه کار یو ستر ثواب ګاڼه، سیپاره یې راته پیدا کړه. د هغې له پای ته رسولو سره یې راته (عم) سپیاره او بیا یې په هغې پسې قران شریف هم د ملا او ملک له کورنیو څخــه راتــه پــه ســوال وغوښتل او د هماغو کورنیو له ښځمنو سره مې لوستل. پلار مې له دغه کار څخه متې هماغه مهال خبر شو چې زما تربور استاد ترې د مبارکۍ ویلو په ترڅ کې د پګړۍ غوښتنه وکړه، بیا یې نو په هسکه غاړه هغه ته پګړۍ ورکړه او زه یې ونازولم. مګر تر څو چې ژوندی و، د ښــوونځي د یوې سلیټ تختې اخیستنه یې را باندې ونه لوروله. دریم ټولګي ته نوی بریالی شوی وم چې د پلار سیوری مې له سره پرېوت او ما ددې لپــاره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې متې راته مور سليټ تخته واخيسته، مړينې يې دومره اندېښمن نه کړم. له دې ناخبره چې يوازينی رزمنه وال (نفقه رسان) مو له لاسه ورکړ او د مشروټې نرينه غړي په توګه د درو نورو غړو ( مور او دوو کشــرانو ورونو) کالخوايي همدا زما تر غاړې شوه. زه اړوم چې په هماغه نه کلنۍ کې تر ژرندې او لو و لور پورې ټولې بهرنۍ چارې پرمخ يوسم. له پــلاره راته دومره پانګه پاتې وه چې متې مو پرې يوه وزه واخيسته، نور نــو د خدای اسرې ته کېناستو. له بده مرغه هماغه ژمی له سختو واورو سره ملګری و او بل کال ته ورپسې پر ټوله سيمه د يوې بېسارې وچکالۍ او قحطۍ ناتار راخپور شو. ځوانې جانې کونډې مور مې نوره اړووته چې د کور ځلور دېوالي پرېږدي، تور ټيکری پر سر کړي او له مــورې درو ســرو زامنو سره په کوچياني ژوند پيل وکړي؛ دواړې مشرې خويندې مو خو لا د پلار پر ژوند په خپل بخت پسې تللې وې. مور به مــې د لــو و لــور او مزدورۍ لپاره کشروټی درې کلن ورور په غېږ کې ونيو او مــورې دوه لــرې شان غوټکي (نه کلن او شپږ کلن) ورونه به يې له لاسه ونيوو او د کامې، جلال اباد او نورو لريو نژديو سيمو په تکل به مو خپل ((عاريتي)) کورو کلي پرېښوول. يا به مو د غنمو وږي ټولول، يا کودي، يا به مو د جــوارو وږي سپينول، يا به مو پومبه اوبله او يا خو به مو له چا سره په يوه خېټه مزدوري کوله.

ما له دغو ټولو خواريو مزدوريو او لولنګريو سره سره بيــا هــم د زده کړې لړۍ نه پرېښووه او له ځلورم ټولګي ځخه مې تر شــپږمه ځــه پــر مزينه او ځه پر کامه د يوه او بل په مزدورۍ پرمخ بوتلــه. دغــه مهــال (۱۳۲۸ل) مو له ميرسيد کلا ځخه خپل پلرني کلي حصارک ته کډه وکړه. هلته مو د خپل پخواني ځای ځايګي او پولې پټي ځه نښه نښانه او قباله

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاتې نه وه او تر کلونو کلونو ګاونډیتوب وروسته مو متې په خپلو متـو ځانته کلاګۍ جوړه کړه او جریب نیم ځمکه مو ورسره هـم وپېرلـه. د ښوونځیوالې زده کړې ترڅنګه مې هر سهار او مازیګر دیني هغـه هـم پرې نه ښووه او تر شپږم ټولګي وروسته راته د همدې مزدکي زده کړې کېدون راترلاسه شو او د چړي په توګه مې پوره څلور کاله د ننګرهار په بېلابېلو لریو نژدیو سیمو کې عربي او پارسي زده کړې پـرمخ یـووړې، ترڅو راباندې د کوم زړه سواند فرهنګيالي زړه وسوه او په جلال اباد کې یې تر ازمویننې وروسته د ۱۳۳۲ل تعلیمي کـال لپـاره د کابـل لیلیـه ښوونځي ((دارالمعلمین)) ته راواستولم. دا زما په ژوند کې لومړی اوړون ټکی و چې هم یې له بېوزلۍ او لولنګرۍ وژغورلم او هم یې له ناپوهۍ او بې لیک لوستۍ.

کابل د هېواد د یوازینۍ غورې فرهنګي منځۍ په توګـه زمـا د هـر اړخیزې روحي او ذهني ودې او غړېدا لپاره لیاره اواره کړه او زما پرمخ یې د پراخو علمي- فرهنګي پرمختیاوو روښانه څنډونـه او لرلیدونـه پرانیستل. په ابن سینا ښوونځي او دارالمعلمین کې زما شپږ کلنې زده کړې له ډېرو بریو او بریاوو سره ملګرې وې. له اتم ټولګي څخـه مـې د شاعرۍ او لیکوالۍ وړتیا غځونې وکړې او زه یې دېته وهڅولم چې پـه ټولو پوهنتوني څانګو کې له چانس درلودنې سره سره ژبې او ادب تـه مخه وکړم او همدا مې تر پایه د ژوند یو نه بېلېدونکی ټوک وګرځي. له دې سره سره مې له لسم ټولګي څخه تر دولسمه د ژمنۍ رخصتۍ لـه خوا د هلمند ناوې په پروژه کې له امریکایانو سره لومړی کال د ډیزاینر او پر دویم کال د افیس انجنیر په توګه کار کاوه چې پـر جیـب خـرڅ سربېره مې خپله انګلیسي زده کړه هم پراخواله د تعلیمي کال په اوږدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې مې هر ګوره ادبي او ژورنالیستي لړۍ هم پرمخ وړه او د بایسکټبال د ټیم د غړي او مشر په توګه مې وزګار وخت هم هسې وزګار نه تېراوه. پر ورځپاڼو، مهالنیو او اوونیزو سربېره مې سر له دولسم ټـولګي ۱۳۳۷ل څخه له راډیو افغانستان سره د همکارۍ لړۍ هم رانښــلولې وه او پــه پوهنتوني دوره کې مې پرې د څو ورځپاڼو او مجلو پرله پیيلې خبریالي هم ور زیاته شوه.

پر ۱۳۴۱ل کال له پوهنځي څخه له وتلو سره سم له سمونې په علمي کدر کې ونیول شوم او د ژبپوهنې د نــوې پرانیســتل شــوې څــانګې (موسسې) په چوکاټ کې راته (( د افغانستان د ژبپوهنې اتلس)) لپاره د ژبنیو څېړنو کار را تر غاړې شو چې پر ۱۹۶۰م کال په ویانا کې د یونسکو د ختیځپوهنې د څلیرویشتمې کانګرې له خوا یې سپارښت شوی و او د اروپایي ژبپوهانو په علمي تخنیکي او مالي مرسته د یوې اوږد مهــالې پروژې په توګه پرمخ وړل کېده. ما نژدې پنځه کاله د هېواد په غرو رغو او کلیو باندېو کې د هېواد د څوارلسو ژبو څه دپاسه سل ګړدوده د جلا جلا اثارو په بڼه وڅېړل او وکښل. دغه ډګر څېړنې (فیلډ ریســرچونه) چې د هېواد او سیمې په کچه یې مخینه نه درلوده، زما د راتلونکو لورو څانګیزو زده کړو په بریالۍ پرمخوړنه او علمي فرهنګي بشپړتیا کې یو بېساری غوره نقش ولوباوه.

ما په دغه ترڅ کې د نورو دوه درو ملګرو په توپیر یوازې د ګړدودو پر څېړنه، کښنه او ټولونه بسنه نه کوله، بلکې ورسره ورسره مې د هــرې اړوندې ژبې او سیمې فولکور او دودونه جالونه هم کښل او راټولول. له دې سره سره مې ژورنالیستي هڅې هم پرمخ وړې او د بېلابېلو خپرونو د همکار او په تېره د هېواد ورځپاڼې د لومړني او همېشني خبریال پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه مې د هر څېړنيز سفر يو اوږد انځوريز راپورتاژ هــم را برابــراوه. د علمي او فولکوريکو څېړنو يوه برخه مې علمي خپرونو لکه کابل مجلې او ورځمې مجلې ته سپارله او بله مې له ځان سره په ځانګړو څرمه کتابچو کې راخوندي کوله؛ ثبت کړې هغه خو مې له ژبنيو څېړنو سره يوځای د پروژې د امانت په توګه د اړوندو ځانګو په واک کې ورکوله چې آر (اصل) يې سويس ته استول کېده او کاپي يې د پوهنځي د ژبپوهنې په موسسه کې خوندي کېدله.

زما د علمي- فرهنګي بشپړتيا دويم اوږون ټکی د لوړو ځانګيزو زده کړو لپاره هغه بورس و چې د نوموړو پنځه کلنو څېړنو د پاداش په توګه د سويس ملي فونډ راپه برخه کړ. ما ددغه هېواد د پايتخــت بــرن پــه دولتي پوهنتون کې شپږ کاله د ټــوليزې (عمــومي) ژبپــوهنې هنــدو اروپايي او هندو ارياني فيلولوژۍ او پــه څرمــه توګــه د وګــړ پــوهنې (اتنولوژۍ) او ادبپوهنې زده کړې پرمخ بوتلې. چې لومړي درې کاله مې د الماني او انګليسي ژبو زده کړې او پياوړتيا او ماسترۍ ونيول او درې وروستي مې د يفل دوکتورا. ما د سويس په ښکلي هېواد کې له شــپږ کلنې استوګنې څخه نه يوازې د خپلې ځانګيزې پرمختيا او بشــپړتيا لپاره ګټه واخيسته چې لا تر څنګه مې لــه خپــل اســتاد پروفيســور ژارژردار سره د افغانستان د ژبپوهنې اتلس د تياروني په بهير کې هــم خپله مرسته ونه سپموله، په تېره د خپلو څېرليو او کښليو ګړدودو په برخه کې. پروفيسور ژاردار د سويس د ناسيونال فونډ درې- څلور ټوکه چاپ ته چمتو کړي او پاتې کار ته له کور ناستې سره سره دوام ورکوي. له هېواد سره مې پرله پيبلي ژورناليستي او ادبي اړيکي دپخوا په څير پالل. د شعر په برخه کې مې ببخي يوه نوې ليارە ونيوله او دا نه يوازې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي لامله چې د اروپايي ادبي او شعري بهير تر اغېزې لاندې راغلی وم، هغه هم زياتره له جوليز (فورمال) پلوه، بلکې نوي طبيعـــي، ټــولنيز او فرهنګي چاپېريال راباندې نوې اغېزې وښندلې، پــه تېــره د ســـويس بېساري ښکلي او الهام ښونکي پنځ زما پــر شــاعرانه ولولــو يــو نـــه اټکلېدونکی اثر واچاوه. ما په وزګار او ازادو ورځو کې لــه غــر ګرځيـــو اوسکي لوبغاړو سره يوځای پر واورينـــو الپونـــو او ښـــېرازو ځنګلونـــو، سيندګيو او سيندونو او ټولو جنتي منظرو ګرځېدم او د ايشيا د جنت ((افغانستان)) په ياد به مې ترې شاعرانه الهامونه اخيستل، په سويس او نورو اروپايي هېوادو کې زما د شعرونو بېلګې په بېلابېلو غونډونو کې له ځای او نېټې سره راخوندي شوې دي. ما د سويس له ديموکراسۍ څخه په ګټه اخيستنه د خپل يوه شعر الماني ژباړه د پوهنتون په يــوه کـــېن لاسې اوونيزه ((برنرستيوډنټ)) کې خپره کړه چې ډېره هنګامه او انګازه يې پيدا کړه او د اړونـــدو زده کړيـــالو (محصـــلينو) د ټـــولنې ((فـــوروم پوليتيکوم)) له تاوده هر کلي سره سره راباندې په وروستيو دوو کلو کې يو نيم زريز بورس پر پنځه سويز بدل شو. هماغه وو چې لــه سياســـي شعرونو سره مې هغه پخوانۍ لېوالتيا کمه شوه او له ټولنـــوال ريـــاليزم سره مې د روماټنتيسيزم او سمبوليزم راګډولو ته  هڅه ډېره شوه، يا د چا خبره د ((شعريت)) په هڅه کې شوم. که څه هم زما دغه هڅه هېواد ته له راستنېدو او ګوندي فعاليت سره نيمزالې غوندې پاتې شوه او متې يې د شپېتمو کلونو له پيل سره بېرته ساه واخيسته. هسې خو سياست زما له شعر سره نه بېلېدونکی پيوند لري. ځکه زه شعر او هر هنـــر پــه ژوند پورې تړلی بولم او سياست ور پورې د ژوند د يوه واقعيت په توګه اړوند ګڼم خو دومره نه چې هغه د شعار تر بريده ورسوي. ما د همـــدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستۍ لسيزې په سر کې پاسني آر ته خپله پاملرنه زباته کړه او په پای کې مې هم کره کتونکو ته زباته کړه چې نور مې وچ او سپېره شعار تــه پای ټکی ایښی دی او دا دی د همدې لړۍ تر دوه ګونو غونډونو ( اور او وينې - ګلولې) پسې مې درېیم غونډ چاپ ته چمتو دی چې په یو مهال کې د ازاد پښتو شعر لومړنۍ بشپړې بېلګې هم ګڼل کېږي او له دې سره سره زما د شل کلن ازاد شعر غورځنګ له عملي او لارښودو بېلګو څخه شمېرل کېدای شي. د ۱۳۵۱ل په درشل کې مې له ســویس څخــه لــه راستنېدو سره د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څــانګې د ژبپــوهنې د استاد په توګه خپله رسمي او مسلکي دنده له سره پیل کړه او د تدریس ترڅنګه مې د څېړنو او لیکنو او له دې سره د ژورنالیستي فعالیت لړۍ هم په نوي دود او سبک راونښلوله. د پوهنځي د دوې میاشتنۍ مهالنۍ (وږمې) را تر غاړه کېدل مې د دوو غبرګو غورځنګونو د سیستماتیکولو او رښتیاینې لپاره ښه فال وګاڼه چې لومړی مې د (( یوې یوازینۍ ګډې نړه بشپړې کره لیکنۍ پښتو)) او دویم مې د ((نوي ازاد پښتو شعر)) په نامه ان د سویس د استوګنې په وروستیو کلو کــې د کابــل مجلــې او ځانګړو لیکونو له لارې اعلام کړی و. په دغه (وږمې) مجله کې مې ټولې رارسېدلې لیکنې له پورتني آرو معیار سره سمې کره کولې او بیا مــې چاپ ته سپارلې او همداسې یې د ازادو او نیم ازادو شعري بېلګو خپرول درواخله. له هماغې لومړۍ ګنې څخه مې پر وړاندې ټینګار (مقاومــت) پیل شو، خو ما خپله درسته پر ځمکه ونه غورځوله، کتــونکې ډلــه او همکاران مې په منطق او استدلال له ځان سره ملګري کړل او د پښتو ټولنې رسمي او نیم رسمي ګواښونه مې د پوهنتوني اتاریتۍ او علمــي ځوابیه لیکنو سره شنډ کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مهال چې لومړۍ ډله ییز تکر مې پر ۱۳۵۴ل کال د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز په پرانیستونکي نړیوال علمي سیمینار کې لــه دودیــزو پښتو پوهانو او ټیکه والو سره پېښ شو او ځوان زده کړوال پښــت او د ارواښاد نارویژي استاد پروفیسور مورګن ستیرن تر مشرۍ لاندې مــې ټول مېلمانه اروپايي ژبپوهان او ختیځپوهان پر خوا ودرېــدل او د چــا خبره هغو ته مې علمي او رواني ماته ورکړه. نور مې زوږ اندو بــډانو لــه ډاګیزې (علني) مخامختیا څخه لاس واخیســت او لــه هغــې ورځــې راهیسې یې چې له سرکاري واک وویسا څخه په ګټه اخیستنه زما مخې ته هر څومره کرکنډې راغورځولې، له پښو یې غورځولای نه شوم، کــه څه هم توکیز او مانیز زیانونه یې ډېر راورسول، نه مې کوم اثــر جــایزه وړای شوه او نه یې د چاپ کابو پیدا کوله، مګر یو مخیزه یې زما د علمي او ژورنالیستي هلو ځلو مخه نیولای نه شوه. هغه ټول څېړلي او لیکلي اثار مې پرله پسې زېرمه کول او متې مې د ثور اوښتون له دویــم پــړاو راهیسې د هغو د چاپ لړۍ راونښلوله چې اوس یې شمېر ۱۶ ته رسېږي. دا زما د ګوندیتوب یوازینۍ ګټه وه چې د نورو لیکوالو او پوهانو غوندې زما اثارو ته هم د چاپ لاره اواره شوه. نور خو یې تر اوښتونه پوره اووه کاله د سر په کاسه اوبه راکړې او را وروسته مې هم یو کلن څرخي زندان د همدغه ګوند پر سر وګاله چې په جنتي سویس کې یې زما د رښتیني ژوند شپږ کاله بېرته له صفر سره برابر کړل او دا باید اعتراف وکړم چې ګوندیتوب زما د ((معیاري پښــتو)) او ((ازاد پښــتو شــعر)) د غبرګــو غورځنګونو د خنډ و ځنډ تل یو غوره لامل بلل شوی دی. پــه علمــي، ژورنالیستي او زېږندویي (ایجادي) ډګر کې هر ګوره زه ډېر لږ د ګوند د دیکتې او دوکتورین اړوند شوی یم او که په یوه لیکه کې ورسره راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یم، هغه مې ورسره له ښه یا بدمرغه اند پوهیز (ایډیولوژیکي) ګډوالی و. اوس چې مې د واکمن ګوند له لیکو څخه د وتو دوه کاله تېر شوي هم دي، د خپل پاټکیز رغښت او د افغان ولس د وروسته پاتېوالي په غوښتنه له خپلې اند پوهې او نړۍ لید څخه تېرېدونکی نه یم. زه د یوه نړیوال سیستم په توګه د ستالیني سوسیالیزم د راپرځېدنې هر کلی کوم، خو کپیتالیزم یې هېڅکله یوازینی الترناتیف او ځایناستی نه بولم او د یوه منځګړي هومانیستي ژغورنده نړیوال غورځنګ منځته راتګ ته سترګې پر لار یم له دې سره په زړېږندویي ډګر کې هم د سوسیالیستي ریالیزم پر ځای د یوه رښتیني هومانیزم لاروي خوښوم او د هېڅ بېلارې کوونکي پانګوالي (ایزم) لاره به ونه نیسم.**

**زه ځان پوره بریالی ننګیرم چې زما شل کلنو غبرګو غورځنګونو نن سبا خپلې ییبرې او اغېزې ښندلې له یوې یوازینۍ کره پښتو سره په لره بره پښتونخوا کې ((ازاد)) یا په بله وینا ((نوي ازاد پښتو شعر) نور له هغې کړغېړنتیا (ابتذاله) را ژغورل شوی دی چې تر شپېتمو کلونو دمخه ورسره لاس و ګرېوان و. دا کومه پوچه او بې سرو بوله ادعا نه ده، بلکې د زبات لپاره یې عیني لاسوندونه لرم. د ساري په توګه د نوي او نوي ازاد شعر او ان نوي داستان هېڅ یو ځوان نوښتګر زما له سیده او ناسیده شاګردۍ او لارښوونې څخه انکار نه شي کړای. دا ماته نور کوم ارزښت نه لري چې څوک مې د شاګردۍ یا لارښوونې پاسلنه مني یا نه مني مګر د غورځنګ ویاړ راځنې هېڅکله اخیستلای نه شي.**

**زما ټولې لیکنې، څېړنې، علمي، ژورنالیستیکي او زړېږندویي کارونه په لومړي سر کې په خپله مورنۍ ژبه دي او کله نا کله مې په کې له پارسي، انګلیسي او الماني څخه هم کار اخیستی. لومړی شعري ازمېښت مې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په پارسي ژبه و چې د اتم ټولګي په پای کې مې ویلی و او د ۱۳۳۴ل کال د ابن سینا ښوونځي په پسرلنۍ غونډه کې مې اورولی و. همدارنګه له پارسي څخه زما لومړۍ پښتو ژباړه له لسم ټولګي، له انګلیسي څخه له دولسم ټولګي او له الماني څخه له ماسترۍ مهاله راپیلېږي دا چې پارسي شعر مې دومره نه دی پاللی، ښایي چې چا به ورهڅولی نه یم، خو هڅه مې کړې چې په هر شعري غونډ کې یې یوه نیمه شعر ډوله بېلګه را واخلم. په کتابي بڼه زما لومړۍ ژباړه هم له دري څخه په پښتو وه چې د ((طب او حکمت په اسلام کې)) تر سرلیک لاندې مې په یوولسم ټولګي کې پر ۱۳۳۶ل کال تر سره کړې او پر ۱۳۳۷ل کال د وخت د ښوونې او روزنې د موسسې له خوا په افسیټ چاپ خپره شوې ده.

زما ادبي ژباړې له انګلیسي څخه پر ۱۳۳۹ کال د الفردو موسس د یوه شعر او د یوه چیني لیکوال د داستان له پښتو کولو سره پیل کېږي او له الماني څخه پر ۱۳۴۸کال د سویسي ګتهیلف، الماني ګویټې، برتولت برېښت او داسې نورو شاعرانو د شعرونو له ژباړې سره. د پارسي شعر را اړونه مې خو تېک له هماغه شپږم ټولګي څخه رانښلي چې په جومات کې مې د سعدي ګلستان او بوستان، د جامي یوسف و زلیخا، د نظامي سکندر نامه او د داسې نورو کلاسیکو شاعرانو او ناثرانو اړوند اثار د یوه ټاکلي دودیز کریکولم په چوکاټ کې له عربي هغو سره یوځای یو بل پسې لوستل او ورسره ورسره مې پارسي لیک زده کاوه. د همدغه کار له برکته مې وکړای شول، کابل ته له رسېدو او د اووم ټولګي له پیلونې سره مې پر پارسي باندې د لاسبرې بهیر تر نورو پښتو ژبیو ډېر ګړندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و، تر دې کچې چې دوه کاله وروسته مې په کې خپل لومړی شعر هــم وکښه.

زه دا خپله ستره نېکمرغي ګڼم، تر هغې مخکې چې له بهرنیو ژبــو سره مې پېژندویي پیدا شي، د مورنۍ ژبې ((پښتو)) تــر څنګــه دغــې دویمې غورې هېوادنۍ ژبې زما په علمي- فرهنګي بشپړتیا کې یوه نه هېرېدونکې اغېزمنه ونډه اخیستې ده او پر دې ډېر ویاړم او ښاځم چې د ناپلیون له خبرې سره سم دغې دویمې زده کــړې ژبــې ماتــه دویــم شخصیت رابښلی دی.

ما په ۲۹ کلنۍ کې د یوې اوږدې سوځنده مینې تر بریــالنۍ پــایلې وروسته واده کړی او د همدغه بریالیتوب له کبله یې راته د ((پښتیان)) او ((پښتیانا)) په نومونو دوه غبرګ نښانونه د مینه وړي برخلیک پر ټټر راځړولي دي.

دا دی، په څرمه ډول خپل ژوند لیک له یوې لنډې کرونولوژۍ سره د خپلو لیکنو څېړنو، ژباړو او ادبي زېږونو بشپړ لیکلو ستاسې مخ ته ږدم چې په لنډ ډول زما له پېچلي، مګر ویاړلي اندو ژوند سره پېژنــدګلوي پیدا کړئ.

په تووله فرهنګي او شاعرانه مینه

پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار

کابل، مرغومی، ۱۳۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځونه

ددغه اثر په کښلو کې له دغو لاندې اخځونو او یادښتونو څخه ګټه اخیستل شوې ده:


۱- دوکتور عبدالحکیم طبیبي، تلاشهای سیاسی سید جمال الدین افغاني، ۱۳۵۵ل کال، ۲۰مخ.

۲- د پوهاند زیار پنځوسمه کالیزه، د اکبر کرګر له خوا د استاد زیار اوروال شوی ژوند لیک.

۳- ژوندون مجله ۱۳٦۷ل کال، د میزان-عقرب ګڼه، ۷۸-۸۰مخونه او د پښتۍ څلورم مخ.

٤- د نورمحمد سهیم مقاله، د استاد زیار پنځوسمه کالیزه، ناچاپه.

۵- وږمې مجله، ۱۳٤۲ل کال، ۹ ګڼه، ۳۵-٤۳ مخونه.

٦- پوهنې مجله، ۱۳۳۹ل کال، ۹ ګڼه، ٦۷-۷٤ مخونه.

۷- پوهنې مجله، ۱۳۳۹کال، ۱۰ ګڼه، ۵۷-٦۲ مخونه.

۸- د ثور انقلاب حقیقت ورځپاڼه، ۱۳٦٤ل کال ۲۵۵ ګڼه، ۵ مخ.

۹- د ثور انقلاب حقیقت ورځپاڼه،۱۳٦٦ل کال د ۷ میاشتې د ۱٤ نېټې ګڼه، لومړی مخ او درېیم مخ.

۱۰- وږمه، ۱۳۵۱ل کال، ٤-۵ ګڼه، ۱-۲مخونه.

۱۱- کابل مجله، ۱۳٤۹ کال، ٤ ګڼه، ۵۷-۵۸ مخونه.

۱۲- وږمه، ۱۳۵۳ ل کال، لومړۍ ګڼه، ۱-۲ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳- پوهنتون کابل ( اوونیزه)، ۱۳۵۳ل کال، ۱٦ ګڼه، ۲مخ.

۱٤- درفش جوانان (اوونیزه) ۱۳٦۰ل کال، د ۱۱ میاشتې د ۲۷ نېټې ګڼه.

۱۵- پوهنتون کابل (اوونیزه) ۱۳٦۷ کال د ثور د اوومې نېټې ګڼه.

۱٦- زنان مجله، ۱۳٦۰ل کال، ۲ ګڼه، ۱۹ مخ او ۳۳ مخ.

۱۷- هېواد (ورځپاڼه)، ۱۳٦۰ل کال، ۱۰ میاشت، ۲۳ نېټې ګڼه.

۱۸- هېواد (ورځپاڼه)، ۱۳٦۰ل کال، ۳ میاشت، ۱٦ نېټې ګڼه.

۱۹- عبدالروف بېنوا، اوسنی لیکوال، ۳ ټوک، ۱۳٤٦ کال، ۱۱۰۸ مخ.

۲۰- د اصف بهاند مقاله، د پوهاند زیار پنځوسمه کالیزه، ناچاپه.

۲۱- وینه او مینه (شعري غونډ) پوهاند زیار، ۱۳٦۰ل کال.

۲۲- اور او وینې (شعري غونډ) پوهاند زیار، ۱۳٦۰ل کال.

۲۳- د ثور انقلاب حقیقت ورځپاڼه، د ۱۳٦٦ل کال، ۳مه میاشت، د ۱۱ نېټې ګڼه، د ن. سیوري یا (اسحق ننګیال) لیکنه.

۲٤- زیار، مجاوراحمد: ګلکڅونه (شعري غونډ)، ۱۳٦۷ل کال.

۲۵- پوهاند زیار: زنداني نغمې (شعري غونډ)، د چاپ او خپرونې د دولتي کومېټې خپرونه، ۱۳٦٤ ل کال.

۲٦- سوزونه او سازونه (شعري غونډ)، د چاپ او خپرونې د دولتي کومېټې خپرونه، ۱۳٦٤ل کال.

۲۷- پوهاند زیار: اند و ژوند (شعري طرحې او څلوریزې) د سرحدونو چارو وزارت، ۱۳٦۸ل کال.

۲۹- ژوندون مجله، ۱۳٦۷ل کال، ۱ ګڼه، ۵-۲۲مخونه.

۳۰- وړمه، ۱۳۵٦ل کال، ٤ ګڼه، ۵۰-۵۷ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۱- د عبدالحمید مومند یاد، د علومو اکاډمۍ خپرونه، ۱۳٦٦ ل کال.
۳۲- ژوندون مجله، ۱۳٦٦ل کال، لومړۍ ګڼه، ٤۷-٥٤ مخونه.
۳۳- د حمزه یاد، ۱۳٦٦ل کال، ۱۱ ګڼه، ۲۹-٦۸ مخونه.
۳٤- کابل مجله، ۱۳٦۲ل کال، ۱۱ ګڼه، ۳٤-٤۲ مخونه.
۳٥- د محمد هوتک یاد، ۱۳٦۲ل کال، ۱٤٥-۱٥۲مخونه.
۳٦- کابل مجله، ۱۳٤۲ کال، ۷-۸ ګڼه، ۲۳-۳۲ ګڼه.
۳۷- کابله مجله، ۱۳٤۲ل کال، ۹ ګڼه، ۱٤-۳٦ګڼه.
۳۸- کابل مجله، ۱۳٤۳ل کال، ٤ ګڼه، ۷-۲۳مخونه
۳۹- کابل مجله، ۱۳٦۲ل کال، ۲ ګڼه، ۱۲-۱۳ مخونه
٤۰- کابل مجله، ۱۳٦۳ ل کال، لومړۍ ګڼه، ۲۹-۳۹ مخونه
٤۱- کابل مجله، ۱۳٦۲ل کال، ۱۲ ګڼه، ۱-۸ مخونه
٤۲- ژوندون مجله، ۱۳٦۲ل کال، لومړۍ ګڼه، ۹-۲۱مخونه
٤۳- ژوندون، ۱۳٦۲ل کال، ۲ ګڼه، ٥٥-٦٦ مخونه
٤٤- ژوندون، ۱۳٦۲ل کال، ۲ ګڼه، ۷٦-۸۰مخونه
٤٥- ژوندون، ۱۳٦۲ل کال، ۳ ګڼه، ٥-۹ مخونه.
٤٦- ژوندون، ۱۳٦۲ل کال، ٤ ګڼه، ۹-۱٥ مخونه.
٤۷- فولکور مجله، ۱۳٥٥ل کال، ۱۱ ګڼه، ۱٥۷- ۱٦٦ مخونه.
٤۸- فولکور، ۱۳٥٥ ل کال، ٦ ګڼه، ۲٦-۲۹ مخونه
٤۹- فولکور، ۱۳٥٥ل کال، ۳ ګڼه، ۳٥-۳۹ مخونه.
٥۰- فولکور، ۱۳٥٥ل کال، ۲ ګڼه، ۳۹-٤۲مخونه.
٥۱- فولکور، ۱۳٥٥ل کال، ٤ ګڼه، ۳۲-۳٥ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵۲- فولکور، ۱۳۵٦ل کال، ۳ ګڼه، ۲۸-۲۹ مخونه.

۵۳- فولکور، ۱۳۵۵ل کال، ۵ ګڼه، ۲۹-۳۱ مخونه.

۵٤- فرهنګ خلق مجله، ۱۳۵۷ل کال، لومړۍ ګڼه، ۲٤-۲۵ مخونه.

۵۵- هنر مجله، ۱۳۵۷ل کال، لومړۍ ګڼه، ۲٤-۲۵ مخونه.

۵٦- هنر، ۱۳۵۹ل کال، لومړۍ ګڼه، ۵-٦ مخونه.

۵۷- هنر، ۱۳۵۸ل کال، ٤-۵ ګڼه، ۱۸ او ۸٤ مخ.

۵۸- هنر، ۱۳٦۱ل کال، قوس، حوت، ګڼه، ۳-٦مخونه.

۵۹- هنر، ۱۳۵۹ل کال، ٤ ګڼه، ۵-۷ مخونه.

٦۰- هنر، ۱۳۵۹ل کال، ۵-٦ ګڼه، ۱۷-۱۸ مخ.

٦۱- پوهنې مجله، ۱۳٤۱ل کال، ٤ ګڼه، ٦۳ مخ.

٦۲- پوهنې مجله، ۱۳٤۱ل کال، ۳ ګڼه، ۲۰-۲۳ مخونه.

٦۳- پوهنې مجله، ۱۳٤۱ل کال، ۳ ګڼه، ۱۸-۱۹ مخونه.

٦٤- بلخ مجله، ۱۳۵۷ ل کال، لومړۍ ګڼه، ۱٤-۱۵ مخونه.

٦۵- ژوندون مجله، ۱۳٦۲ل کال، ۳ ګڼه، ۵-۹ مخونه.

٦٦- ژوندون، ۱۳٦۱ل کال، لومړۍ ګڼه، ۱۲-۱۵ مخونه.

٦۷- ژوندون، ۱۳٦۱ل کال، ۳ ګڼه، ۱۱-۱٤ مخونه.

٦۸- ژوندون، ۱۳٦۱ل کال، ٤ ګڼه، ٤٤-٤۷ مخونه.

٦۹- اجتماعي علوم مجله، ۱۳٦۱ل کال، ۳ ګڼه، ۱٦۳- ۱۷۲ مخونه.

۷۰- تحقیقات کوشاني مجله، ۱۳۵۹ل کال، ۲ ګڼه، ۱۱-۱۱٦ مخونه.

۷۱- دوستي مجله، ۱۳۵۹ل کال، ۲-۳ ګڼه، ٤-۳۸ مخونه.

۷۲- بدني روزنه مجله، ۱۳۳۹ کال، لومړۍ ګڼه، ۱۲-۱٤ مخونه.

۷۳- بدني روزنه، ۱۳۳۹ کال، لومړۍ ګڼه، ۱۱-۱۳ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷۴- مېرمن مجله، ۱۳٤٤کال، د اسد د میاشتې ګڼه، ۱۱ او ۱۳ مخونه.

۷۵- مېرمن، ۱۳٤٤ل کال، د سنبلې- میزان ګڼه، ۲۳ او ۵۳ مخ.

۷٦- دوستي مجله، ۱۳٦۲ل کال، ۳ ګڼه، ۸۰-۸٤ مخونه.

۷۷- دوستي، ۱۳٦۳ل کال، ٤ ګڼه، ۲۷-۲۹ مخونه.

۷۸- دوستي، ۱۳٦۰ل کال، ۸ ګڼه، ٤٤-٤۸ مخونه.

۷۹- دوستي، ۱۳٦۲ل کال، لومړۍ ګڼه، ۵۱-۵۷ مخونه.

۸۰- دوستي، ۱۳٦۱ل کال، ۱۱ ګڼه، ۵۷-٦۳مخونه.

۸۱- ژوندون مجله، ۱۳٦۷ل کال، میزان-عقرب ګڼه، ۵۳-۵٤ مخونه.

۸۲- ژوندون، ۱۳٦۵ل کال، ۵-٦ ګڼه، د پښتۍ څلورم مخ.

۸۳- محمد صدیق روهي، ژوندون مجله، ۱۳٦۳ل کال، ۵ ګڼه، ۸ مخ.

۸٤- محمد صدیق روهي، ژوندون مجله، ۱۳٦۳ل کال، ۵ ګڼه، ۱۳ مخ.

۸۵- کابل مجله، ۱۳۵۲ل کال، ۱-۲ ګڼه، ۲۵-۳۷-۱۸۰مخونه.

۸٦- وږمې مجله، ۱۳۵۲ل کال، ۱-۲ ګڼه، ۱۷٤-۱۸۰ مخونه.

۸۷- کابل مجله، ۱۳٤۹ل کال، ۸ ګڼه، ٤٤- ۵۱ مخونه.

۸۸- کابل مجله، ۱۳٦۲ل کال ۸ ګڼه، ٤۱-۵۱ مخونه.

۸۹- ننګرهار مجله، ۱۳۵٤ل کال، د حوت میاشتې ګڼه، ۱۰ او ۳۲ مخ.

۹۰- ننګرهار مجله، ۱۳۵٤ل کال، د سلواغې ګڼه، ۱۵ او ۳۹ مخ.

۹۱- ننګرهار، ۱۳۵٤ل کال، د مرغومي او سلواغې ګڼه، ۲۷ او ۳۰ مخ.

۹۲- پکتیا مجله، ۱۳۵٦ل کال، ٤ ګڼه،٤ مخونه.

۹۳- پکتیا، ۱۳۵٦ل کال، ٤ ګڼه، ۲۲-۲۳ مخ.

۹٤- پکتیا، ۱۳۵٦ل کال، ٦ ګڼه، ۱۲ مخ.

۹۵- وږمه، مجله ۱۳۵٤ل کال، ۳ ګڼه، ۱۷۳-۱۷۷ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹٦- پکتيا مجله، ۱۳۵٦ل کال، ۷ گڼه، ۸ مخ

۹۷- پکتيا، ۱۳۵٦ل کال، ۸ گڼه، ۱۲ مخ

۹۸- پکتيا، ۱۳۵٦ل کال، ۹ گڼه، ۸ مخ.

۹۹- پکتيا مجله، ۱۳۵۷ل کال، ۱-۲ گڼه، ۱٦ مخ.

۱۰۰- پکتيا مجله، ۱۳۵۷ل کال، ۳ گڼه، ۲۸ مخ.

۱۰۱- پکتيا مجله، ۱۳۵۷ل کال، ۷ گڼه، ۲۳ مخ.

۱۰۲- پکتيا مجله، ۱۳۵۷ل کال، ٤ گڼه، ۱۵ مخ.

۱۰۳- پکتيا مجله، ۱۳۵٦ل کال، ۵ گڼه، ۱۵ مخ.

۱۰٤- ننگرهار مجله، ۱۳۵۳ل کال، مرغومي-سلواغې گڼه، ۲۷او ۳۰ مخ.

۱۰۵- وږمه مجله، ۱۳۵۱ل کال، ۳ گڼه، ۱۱-۱۱٦ مخونه.

۱۰٦- وږمه مجله، ۱۳۵۱ل کال، ٤-۵ گڼه، ۱٦٤- ۱۷۸ مخونه.

۱۰۷- وږمه مجله، ۱۳۵۱ل کال، ٦ گڼه، ۱۷٦-۱۷٦ مخونه.

۱۰۸- وږمه مجله، ۱۳۵۲ل کال، ۳-٤ گڼه، ۱۵۲-۱۹٤ مخونه.

۱۰۹- وږمه مجله، ۱۳۵۲ل کال، ۵ گڼه، ۱۲۱- ۱۲۹ مخونه.

۱۱۰- وږمه مجله، ۱۳۵۲ل کال، ٦ گڼه.

۱۱۱- سباوون مجله، ۱۳٦٦ل کال، ۵ گڼه، ۳۵او ٦۳ مخ.

۱۱۲- زرين انځور، کابل مجله، ۱۳٦٤ل کال، لومړۍ گڼه، ۱ مخ.

۱۱۳- سباوون مجله، ۱۳٦۷ل کال، ۲ گڼې، ۱۸-۱۹- مخونه.

۱۱٤- مېرمن مجله، ۱۳٦۷ل کال، ۲ گڼې، ۱۸-۱۹ مخونه.

۱۱۵- کابل مجله، ۱۳۵۵ل کال، ۷-۸ گه، ۷۱-۷٤ مخونه.

۱۱٦- پوهنتون کابل، (اوونيزه)، ۱۳٦٦ل کال، ۵ مياشت، ۲۷ نېټې گڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱۷- وږمه مجله، ۱۳۵۱ل کال، ۳ گڼه، ٦۹-۷۱ مخونه.
۱۱۸- ژبنۍ څېړنې، نوراحمد شاکر، ۱۳۵۲ل کال.
۱۱۹- وږمه مجله، ۱۳۵۰ل کال، ٥-٦ گڼه، ۱۱۲-۱۱٥ مخونه.
۱۲۰- خراسان مجله، ۱۳٦۰ل کال-، ٥-٦ گڼه، ۱٥۰-۱٥۳ مخونه.
۱۲۱- وږمه مجله، ۱۳٥۲ل کال، ٦ گڼه، ٤۷-٤۸ مخونه.
۱۲۲- وږمه، ۱۳٥۲ل کال، ٦ گڼه، ٥٥-٥٦ مخونه.
۱۲۳- پښتو څېړنې، (د مقالو مجموعه) د علومو اکاډمۍ خپرونه، ۱۳٥٦ل کال.
۱۲٤- وږمه مجله، ۱۳٥۲ل کال، ٥ گڼهو ٥۷-٥۹ مخونه.
۱۲٥- وږمه مجله، ۱۳٥۲ل کال، ۱-۲ گڼه، ۹۰-۹۱ مخونه.
۱۲٦- وږمه مجله، ۱۳٥۱ل کال، ۱-۲ گڼه، ۹۸-۱۰۲ مخونه.
۱۲۷- وږمه مجله، ۱۳٥۱ل کال، ٦ گڼه، اته مخیزه.
۱۲۸- وږمه مجله، ۱۳٥۲ل کال، ٦ گڼه، اته مخیزه.
۱۲۹- وږمه مجله، ۱۳٥۲ل کال، ٥ گڼه، ٦۳-٦۷ مخونه.
۱۳۰- وږمه مجله، ۱۳٥۲ل کال، ۱-۲ گڼه، ۱۱۳-۱۲۲ مخونه.
۱۳۱- وږمه مجله، ۱۳٥۱ل کال، ۱-۲ گڼه، ۱۳۹-۱٤۰ مخونه.
۱۳۲- وږمه مجله، ۱۳٥۱ل کال، ٦ گڼه، ۸۹-۹٦ مخونه.
۱۳۳- وږمه مجله، ۱۳٥۱ل کال، ٦ گڼه، ٤۷-٤۸ مخونه.
۱۳٤- وږمه مجله، ۱۳٥٤ل کال، ٤ گڼه، ۸۷-۱٦۰ مخونه.
۱۳٥- وږمه مجله، ۱۳٥۱ل کال، ٤-٥ گڼه، ۷۳-۷٦ مخونه.
۱۳٦- وږمه مجله، ۱۳٥۱ل کال، ٤-٥ گڼه، ۱۱۷-۱۲٦ مخونه.
۱۳۷- وږمه مجله، ۱۳٥۱ل کال، ۳ گڼه، ۱-۳ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



١٣٨- ٣ ګڼه، ٨٦-٨٧ مخونه.

١٣٩- عرفان مجله، ١٣٥٧ل کال، ٤-٥ ګڼه، ٦١-٦٧ مخونه.

١٤٠- د امیر کروړ یاد، د علومو اکاډمۍ خپرونه، ١٣٦٤ل کال، ٣٩٠-٣٩٩ مخونه.

١٤١- وږمه، ١٣٥٢ل کال، ٣-٤ ګڼه، ١٢٥-١٣٢ مخونه.

١٤٢- وږمه مجله، ١٣٥٢ل کال، ٦ ګڼه.

١٤٣- وږمه، ١٣٥٢ل کال، ٣-٤ ګڼه، ٦٩-٧٠ مخونه.

١٤٤- کابل مجله، ١٣٤٦ل کال، ٩ ګڼه، ٢٠-٣٠ مخونه.

١٤٥- کابل مجله، ١٣٥٧ل کال، ٢ ګڼه، ١٠٦-١٠٧ مخونه.

١٤٦- کابل مجله، ١٣٥٩ل کال، ٢ ګڼه، ١٩-٣٥ مخونه.

١٤٧- کابل مجله، ١٣٥٩ل کال، ٣ ګڼه، ١٣-١٨ مخونه.

١٤٨- کابل مجله، ١٣٦١ل کال، ٢ ګڼه، ٥٤-٨٢ مخونه.

١٤٩- خراسان مجله، ١٣٦٢ل کال، ١٢ ګڼه، ٥٤-٨٢ مخونه.

١٥٠- ننګرهار مجله، ١٣٥٣ل کال، لومړۍ ګڼه، ٣٠ مخ.

١٥١- ننګرهار مجله، ١٣٥٣ل کال، د ثور میاشتې ګڼه، ٢٨ مخ.

١٥٢- ننګرهار مجله، ١٣٥٣ل کال، د غبرګولي میاشتې ګڼه، ٣٧-٣٨ مخونه.

١٥٣- ننګرهار مجله، ١٣٥٥ل کال، د وږي میاشتې ګنه، ١٥ مخ.

١٥٤- ننګرهار مجله، ١٣٥٣ل کال، د وږي میاشتې ګنه، ٣٤ مخ.

١٥٥- ننګرهار مجله، ١٣٥٥ل کال، د لړم میاشتې ګنه، ٢٩ او ٣٦ مخ.

١٥٦- ننګرهار مجله، ١٣٥٦ل کال، د لیندۍ میاشتې ګنه، ١٣ مخ.

١٥٧- ننګرهار مجله، ١٣٥٣ل کال، د لیندۍ میاشتې ګنه، ٢٣ مخ.

١٥٨- ننګرهار مجله، ١٣٥٣ل کال، د مرغومي او سلواغې میاشتو ګنه، ٤٨ مخ.

١٥٩- عرفان مجله (میاشتنۍ)، ١٣٥٦ل کال، لومړۍ ګنه، ١٤١-١٤٦ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱٦۰- عرفان مجله، ۱۳۵۵ل کال، ۱۱ ګڼه، ۱۵۷-۱٦٦ مخونه.

۱٦۱- پکتیا مجله (میاشتنۍ)، ۱۳۵٦ل کال، لومړۍ ګڼه، ۱٦ او ۳۷ مخ.

۱٦۲- پکتیا مجله، ۱۳۵۵ل کال، ۲ ګڼه، ٦ مخ.

۱٦۳- پکتیا مجله، ۱۳۵٦ل کال، ۲ ګڼه، ۱۸ مخ.

۱٦٤- وږمه مجله (درې میاشتنۍ)، ۱۳۵٤ل کال، ٤ ګڼه، ۸۷-۱۰۸ مخونه.

۱٦۵- وږمه مجله، ۱۳۵۱ل کال، ٦ ګڼه، ۳۷-٤۲ مخونه.

۱٦٦- وږمه مجله، ۱۳۵۱ل کال، ٦ ګڼه، ۸۵-۹۲مخونه.

۱٦۷- ننګرهار مجله (میاشتنۍ)، ۱۳۵۲ل کال، د وړي میاشتنۍ ګڼه، ۳۷-۳۹ مخونه.

۱٦۸- ننګرهار مجله، ۱۳۵۷ل کال، ٦ ګڼه، ۲٦ مخ.

۱٦۹- ننګرهار مجله، ۱۳۵۷ل کال، ٤ ګڼه، ۲٦ مخ.

۱۷۰- ننګرهار مجله، ۱۳۵۷ل کال، ۱-۲ ګڼه، ۱۵ او ٤۹ مخ.

۱۷۱- ننګرهار مجله، ۱۳۵۷ل کال، ۳ ګڼه، ۱۳ او ۲۸ مخ.

۱۷۲- ننګرهار مجله، ۱۳۵۷ل کال، ۵ ګڼه، ۱۳ مخ.

۱۷۳- وږمه مجله، ۱۳۵۳ل کال، لومړۍ ګڼه، ۱۰٤-۱۰٦ مخونه.

۱۷٤- وږمه مجله، ۱۳۵۳ل  کال، لومړۍ ګڼه، ۱۲۲-۱۲٤ مخونه.

۱۷۵- وږمه مجله، ۱۳۵۳ل کال، لومړۍ ګڼه، ۱۳۱-۱٤۰ مخونه.

۱۷٦- وږمه مجله، ۱۳۵۳ل کال، ۳ ګڼه، ۱۲۹-۱۳۱ مخونه.

۱۷۷- وږمه مجله، ۱۳۵۳ل کال، ٤ ګڼه، ۱۵۹- ۱٦۲ مخونه.

۱۷۸- وږمه مجله، ۱۳۵۳ل کال ۱۲۱- ۱۳۵ مخونه.

۱۷۹- پښتو څېړنې، د علومو اکاډمۍ خپرونه، ۱۳٦۷کال، ٤۱۲-٤۵۹ مخونه.

۱۸۰ کابل مجله، ۱۳٤۷ل کال، ۱۱-۱۲ ګڼه، ۱۰۹ مخ.

۱۸۱- ننګرهار مجله، ۱۳۵۳ل کال، د وړي میاشتې ګڼه، ۲۳ او ۳۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸۲- بیاض، فارسي هندوستاني خپرني اورګان، ۱۹۸۳م کال، لومړۍ ګڼه،
۱۸۳- هېواد ورځپاڼه، ۱۳۵۹ل کال، وږی، ۱۳۱ نېټې ګڼه.
۱۸٤- پوهاند زیار: ویي پوهنه، کابل پوهنتون خپرونه، ۱۳٦۰ل کال.
۱۸۵- پوهاند زیار: ویي رغاونه، د کابل پوهنتون ګستنر چاپ، ۱۳۵۵ل کال.
۱۸٦- پوهاند زیار: د ژبپوهنې بنسټونه، د کابل پوهنتون ګستنرچاپ، ۱۳۵۳ل کال.
۱۸۷- پوهاند زیار: نظر کوتاهی بر زبان و زبانشناسی، د کابل پوهنتون ګستنر چاپ، ۱۳۵٦ل کال.
۱۸۸- پوهاند زیار: پښتو لیکلار، ننګرهار پوهنتون خپرونه، ۱۳٦۰ل کال.
۱۸۹- پوهاند زیار: پښتو نومتړنګونه، د سویس د برن پوهنتون خپرونه، ۱۹۷٤م کال.
۱۹۰- وږمه مجله، ۱۳۵۷ل کال، ۳ ګڼه، ۱۱۸-۱۳۰ مخونه.
۱۹۱- پوهنې مجله، ۱۳۳۹ل کال، لومړۍ ګڼه، ۲۳-۳٦ مخونه.
۱۹۲- کابل مجله، ۱۳۵۳ل کال، ۲ ګڼه، ۱۰-۱۵ مخونه.
۱۹۳- پوهاند زیار: پښتانه او ورونه ملیتونه،ژباړه، ۱۳٦٦ل کال.
۱۹٤- کابل مجله، ۱۳٤۳ل کال، ۳ ګڼه، ٤۷-٤۸ مخونه.
۱۹۵- دوستي مجله، ۱۳٦۰ل کال، ۷ ګڼه، ٤۳-۵۲ مخونه.
۱۹٦- دوستي مجله، ۱۳٦۲ل کال، ۲ ګڼه، ۵۲-۵۸ مخونه.
۱۹۷- عبدالکریم پتنګ: د غرونو څوکې، د کابل پوهنتون خپرونه، ۱۳۵۹ل کال.
۱۹۸- عبدالحی حبیبي: نومورکي مورخین، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي خپرونه، ۱۳۵۹ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹۹- میـا فقـیر الله جـلال ابـادي: فوایـد فقـیرالله، د ژبـو او ادبیـاتو پوهنځي خپرونه، ۱۳۵۹ل کال.

۲۰۰- عبدالشـکور رشـاد: د پټـې خزانـې فرهنـګ، د ادبیـاتو پـوهنځي خپرونه، ۱۳٦۲ل کال.

۲۰۱- عبدالحی حبیبي، د میا فقیرالله پېژنـد لیـک، د ادبیـاتو پـوهنځي خپرونه، ۱۳۵۹ل کال.

۲۰۲- عبدالشکور رشاد: د احمدشاه بابا د دېوان غورچاڼ، ۱۳۵۷ کال.

۲۰۳- عبدالکریم محب: د چینیانو یونلیکونـه، ژبـاړه، د علومـو اکـاډمۍ خپرونه، ۱۳۵۷ل کال.

۲۰۴- افضل ټکور: دا لیکوال دا څېرې، د قومونو او قبایلو چـارو وزارت د نشراتو او فرهنګي چارو د ریاست خپرونه، ۱۳٦٦ل کال.

۲۰۵- عبدالروف خپلواک: ټولنپوهنه، ژباړه، ۱۳۵۲ل کال.

۲۰٦- پروفیسور دوکتورعبدالظهور او پوهنمل عین الدین نصر: مقدمه بر زبانشناسی، د کابل پوهنتون خپرونه، ۱۳٦۳ل کال.

۲۰۷- دوست شینواری، زړه پانګه، د افغانستان د علومو اکاډمۍ ۱۳٦۳ل کال.

۲۰۸- پروفیسور سیال کاکړ: د کوشنیانو ژبه، د کوټې چاپ، ۱۹۷۹م کال.

۲۰۹- باقي بریال: مینه نه مري، شعري غونډ، ۱۳٦۷ل کال.

۲۱۰- عبدالروف بېنوا: پښتو روزنه، د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز خپرونه، ۱۳۵۷ل کال.

۲۱۱- د غلام محی الدین افغان افکـار او اثـار، د کابـل پوهنتـون خپرونـه، ۱۳٦۰ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱۲- نصر الله حافظ: ستا د چم ګلونه، د چاپ او خپروني د دولتي کومیټې خپرونه، ۱۳٦٥ل کال.
۲۱۳- کاوون توپاني: شګې او ګلونه، د چاپ او خپروني د دولتي کومیټې خپرونه، ۱۳٦٦ل کال.
۲۱٤- ابراهیم عطایي: د پښتني قبایلو اصطلاحي قاموس، د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز خپرونه، ۱۳٥۷ل کال.
۲۱٥- دوکتور ګل محمد نورزی: ادبي ژانرونه او مکتبونه، ۱۳۷۰ل کال.
۲۱٦-پوهاند زیار: ګلکځونه، د لیکوالو انجمن خپرونه، ۱۳٦۷ل کال.
۲۱۷- کابل مجله، ۱۳٤۳ل کال، ۳ ګڼه، ٤۷-٤۸ مخونه.
۲۱۸- د خوشال خټک فراق نامه، د کابل پوهنتون خپرونه، ۱۳٦۳ل کال.
۲۱۹- د راحت یاد، د کابل پوهنتون خپرونه، ۱۳٦۳ل کال، ٥۷-٦٥ مخونه.
۲۲۰- پښتو پښویه (ګرامر)، پوهاند زیار، د کابل پوهنتون خپرونه، ۱۳٦۲ل کال.
۲۲۱- مېرمن مجله، ۱۳٦٤ل کال، ٥ ګڼه.
۲۲۲- ځارندوی مجله، ۱۳٦۷ل کال، ۱۰ ګڼه.
۲۲۳- پوهنتون کابل اوونیزه، ۲۱-٥-۱۳٦٦ل نېټې ګڼه.
۲۲٤- وږمه مجله، ۱۳٥۱ل کال، ۳ ګڼه، ٦۹-۷۱ مخونه.
۲۲٥- پښتو مجله، ۱۳٦۰ل کال، لومړۍ ګڼه، ٤٥-٤۷ مخونه.
۲۲٦- پښتو مجله، ۱۳٥۹ل کال، ٤ ګڼه، ۱۱۸-۱۳۰ مخونه.
۲۲۷- پښتو مجله، ۱۳٥۹ل کال، لومړۍ ګڼه، ۹٦- ۱۰٥ مخونه.
۲۲۸- پښتو مجله، ۱۳٦۰ل کال، ۳ ګڼه، ٦٥-۷۰ مخونه.
۲۲۹- پښتو مجله، ۱۳٦۲ل کال، ۳ ګڼه، ٤٥-٥۰ مخونه.
۲۳۰- کابل مجله، ۱۳٥۷ل کال، ۲ ګڼه، ۱۰٦-۱۰۷ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۳۱- کابل مجله، ۱۳۵۹ل کال، ۳ گڼه، ۱۳-۱۸ مخونه.
۲۳۲- پلوشه مجله، ۱۳۵۷ل کال، ۱-۲ گڼه، ۲٤-۲٦ مخونه.
۲۳۳- پلوشه مجله، ۱۳۵۷ل کال، ۳گڼه، ۳٤-۳٥مخونه.
۳۳٤- پلوشه مجله، ۱۳٥٦ل کال، ٤ گڼه، ۲٥- ۳۲ مخونه.
۲۳٥- پلوشه مجله، ۱۳٥٥ل کال، ۲ گڼه، ۲۳-۲۸ مخونه.
۲۳٦- برکت الله کمین: تلوسې، شعري غونډ، ۱۳٥۲ل کال،
۲۳۷- کابل مجله، ۱۳٦۷ل کال، ٥ گڼه، ۳٥-٥٤ مخونه.
۲۳۸- زیار: د کنیشکا د سره کوتل ډبرلیک (ژباړه)، ۱۳٦۹ل کال.
۲۳۹- خاوره، امین افغانپور، ۱۳٦۷ل کال.

**یادښت:** ما په پورتنیو یاد شویو اخځونو کې د هغوی ټول یاد شوي مخونه نه دي را اخیستي، یوازې مې د لیکنــو څرنگــوالی او د هغــوی سرلیکونه را اخیستي دي او په ځینو ځایو کې مې د هغوی ټول مخونه هم را اخیستي دي. د پوره مخونو راوړنه مې په دې خاطر کړې ده، چې شمېر او څومره والی یې څرگند شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وروستۍ بشپړونه

د کتاب د چاپ چمتو کېدنې په وروستیو شېبو کې د استاد زیـار د تازه زیږونو او خپرونو دا لنډیز برابر کړای شو:

۱- په ادبي برخه کې یې څلور شـعري غونډونـه ( د سـبرونو نڅـا، ګلوییونه، رزم و بزم، څڅواکي) او یو داستاني اثر (مینه د زړه په وینه) له چاپه راووتل. همدارنګه یې یو نندارلیک (ډرامه) چې پر ۱۳۵۷ کال یې کښلې وه او چاپ و نندارې ته لا نه ده وړاندې شوې، دلته د یاد وړ ده.

۲- په څېړنیزه برخه کې یې یوه نوې څېړنه ((د پټې خزانې لیکزیکي شننه)) چې برخه برخه د ((وفا)) په اوونیزه کې خپـره شـوې ده، پـه همدغه روان کال کې په کتابي بڼه چاپ ته سترګې پر لار ده. د پېښـور پوهنتون پښتو څانګې او پښتو اکېډمۍ د باړه ګلۍ د تېر او سږ کال په غبرګو سیمینارونو کې یې اوږدې اوږدې څېړنې وړاندې کړې دي. همدا راز یې د بېلابېلو غونډو او خپرونو لپاره یو لړ لیکنې څېړنې، کره کتنې او سریزې کښلې دي او د لوی احمد شاه بابا د ۲۲۰ تلین په نمانځنه کې یې یوه لیکنه په وفا اوونیزه او بله د خلیل ولسي ادبي جرګې د اړونـد سیمینار په غونډ کې چاپ شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library




۳- په ژباړیزه برخه کې یې (( د هند و اروپایي ژبو لرغونی تاریخ)) د یادونې وړ دی چې له الماني سرچینو څخه یې را ژباړلې او د کابل مجلې د ۱۳۷۰ کال د دریمې گڼې برابر ۳۴ مخه یې پرې نیولي دي.

د فرانسې افغانپوهاند کیفر لپاره یې (( د پټې خزانې الماني ژبـاړه او گرامري شننه)) خو تراوسه کورته هېره وه، همداسې یې په څلورو ژبو لیکلې ((  ځانپېښنې)) هم درواخله.

یون، ۱۳۷۲ل کال، مرغومی

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي

د پنځوسو (۱۳۲۳-۱۳۷۳) کلونو

# پښتو کتابښود

## لیکوال

## محمد اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه



| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود |
| لیکوال: | پوهیالی محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۷٦ل کال |
| دویم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د لیکوال | |
| پرله پسې نومره: | (۹) |
| د خپرندوی | |
| پرله پسې نومره: | (۹) |
| کمپوزر: | ضیاءالرحمن ضیاء |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دې اثر د دويم چاپ په اړه څو ټکي

دا اثر ما پر ( ۱۳۷۳ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي، د پنځوسمې کليزې په وياړ ليکلی و، هغه وخت کابل کې سخت جنگونه وو، پوهنتون په واقعيت کې تړلی و او يوازې په کابل ښار کې شپږ اووه ځله له يوه ځايه بل ځای ته مهاجر شوی و. درې کاله وروسته ددې زمينه برابره شوه، چې دا اثر چاپ کړم، هغه وخت په ټول کابل کې يو کمپيوټر هم نه و، چې ما پرې دا اثر کمپوز کړی وای، نو ځکه مې له گران ورور او خوږ ژبي شاعر صديق الله بدر




څخه هيله وکړه چې که دا راته په خپلو مبارکو گوتو وليکي، بدر چې زما د فرهنگي مبارزې يو پخوانی ملگری او د سختې ورځې يار دی، په ورين تندي يې زما غوښتنه ومنله، دا اثر يې د څو مياشتو په بهير کې خطاطي کړ، هغه هم يوازې د ثواب په بدل کې، دا کتاب درې کاله له ما سره پاتې شو، ځکه چې مالي لگښت ورته نه برابرېده، بيا مې د همدې پوهنځي له خپل يو ټولگيوال (احمدالله) څخه هيله وکړه چې دا کتاب چاپ کړي، د هغه اقتصاد ښه و، په تاجکستان او نورو هېوادونو کې يې تجارت هم کاوه، هغه هم زما خبره په خلاصې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټنډې ومنله. کله چې مې کتاب پېښور ته یووړ، نو له نورو کاغذونو سره مې په یوه ځانګړې پلاستیکي کڅوړه کې خوندي کېښود، څو ورځې راسره په ګل حاجي پلازا کې و، له ځان سره به مې ګرځاوه، ددې اثر همدا یوازېنۍ خطاطي شوې نسخه راسره وه، هغه کاغذونه چې بدر ورڅخه دا کتاب خطاطي کړی و، هغه متفرقه کاغذونه وو، ډېر منظم نه وو او د همدې څو کلونو په بهیر کې مې له لاسه وتي وو.

پر هغه ورځ چې مې دا اثر له ګل حاجي پلازا څخه قصه خوانۍ کې دانش چاپخونې ته ورووړ، نو سخته ګرمي هم وه، ددې ترڅنګ ما سره نورې کڅوړې هم وې، چې نور ناچاپ کتابونه او یادښتونه هم په کې وو. ګل حاجي پلازا کې مې یوه سیوري ته پر کټاره ډډه لګولې وه، کله چې تلم نو کڅوړې مې ځان سره واخیستې، موټر کې کېناستم، ((ګوره قبرستان)) ته لا نه وم رسېدلی چې زړه کې مې څه ټکه پرېوته، ما ویل راځه دا کڅوړې وګوره، نه چې څه شی پاتې نه وي، کله چې مې کڅوړې راجګې کړې، لږ سپکې رابښکاره شوې، دننه مې ولټولې اخوا دېخوا مې ښې واړولې، هر څومره چې ګورم کتاب نه شته، زړه مې ډېپ ولوېد، ما ویل لکه چې د څو کلونو خواري مې اوبو یووړه، حیران وم چې چېرته به رانه لوېدلی وي، ځان سره مې فکر وکړ راځه ګل حاجي پلازا ته لاړ شه، د هیلې یوازېنی ځای همغه دی، که هلته نه و نور نو زړه صبر کړه، له (صدر بازار) نه بېرته راوګرځېدم، ګرمي نو دومره زور اخیستی و، چې د چا خبر خوله یې لګوله، خو زه پر داسې غم اخته وم، پوه نه وم، چې پر څومره وخت بېرته ګل حاجي پلازا ته رسېدلی یم. همغه ځای کې چې ساعت دمخه ولاړ وم، څو ځله کښته و پورته تېر شوم، بیا هملته غلی ودرېدم، وروستی امید مې هم له لاسه ورکړ، لس پنځه لس دقیقې همداسې ځای پر ځای ولاړ وم، چورت وړی وم، چې ترڅنګ مې یو ځوان ودرېد، ماته یې وویل یون صیب خو به نه یې؟ ما ویل ولې نه یون یم، بیا یې راته وویل څه خو به درنه پاتې نه وي؟ ما ویل والله چې دغسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو کتاب مې چاپ ته وړه، تیار په ترس کې خطاطي شوی و، هغه راځخه ورک شوی دی، ځکه بېرته راغلم، دې وخت کې هغه لږ موسکی غوندې شو، کڅوړه یې رابښکاره کړه، دا خو به نه وي، ما ویل ولې نه والله همدا دی، د کڅوړې منځ مې وکوت، کتاب په کې ایښی و، پر سترگو مې رڼایي راغله، وجود مې یخ شو، ارام شو، ما ویل کور دې ودان چې پر ما دې څومره غټ زېری وکړ. هغه وویل: زه همدلته په هغه دفتر کې کار کوم، پر دې لاره تېرېدم چې دا کڅوړه مې ولیده، راجگه مې کړه، چې ومې کتل، کتاب په کې و او بیا ستا نوم پرې لیکل شوی، نو ځکه مې ځان سره وساته، ما ویل حتمي بېرته همدلته ورپسې راځې، زه خپله کتابونه کمپوزوم، ماته د کتاب درد او ستونزې معلومې دي، چې څومره سخت کار دی، خو څه ښه شو چې کوم بل ځای کې درنه نه دی پاتې شوی، ما ویل ډېره مننه وروره ما سره دې ډېره زیاته نېکي وکړه، څه خدمت درته وکړم، هغه ویل نه مننه، ښه کار دا وشو چې کتاب پیدا شو، ما ویل خفه ورته په دې وم، چې دا یې یوازېنۍ نسخه ده او بله یوه پاڼه هم ما سره نه شته. هغه ځوان نه مې یو ځل بیا مننه وکړه، کڅوړې مې ټولې ځان سره ښې چک کړې او ژر د قصه خوانۍ پر لوري رهي شوم، د دانش چاپخونې مسئول اسدجان ساپي ته مې وویل: دا کتاب راته ژر چاپ کړه، هغه خپل ماشین ورپسې راووېست، ماته یې وویل: څومره او په کوم کاغذ؟ ما ورته وویل مه په کاغذ پسې گرځه او مه یې شمېر پسې، همدا اوس یې چاپ ته ورکړه، دا ټوله کیسه مې ورته وکړه، هغه ویل خدای درسره ډېره نېکي کړې ده، سملاسي یې نورزي ته وویل، ژر دا کتاب یوسه چې پسټنگ یې کړي او سبا اول همدا چاپ کړه. دا و ددې اثر یو داستان. اوس چې له هغه وخته نږدې دولس کاله تېرېږي، زه یو ځل بیا خپل اثار په دې نیت چاپوم، چې د مرگ له خطره یې وژغورم. طبیعي خبره ده، چې دا اثر څرگندې نیمگړتیاوې لري، خو د هغه وخت ظرفیتونه هم باید په پام کې ونیول شي، لکه د انساني مغز محصول هر اثر چې له نیمگړتیاوو خالي نه وي، دا اثر هم خپلې نیمگړتیاوې لري، خو اوس چې یې زه بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاپوم، د همدې مشخص کلکتیف د پنځوس کلن فعالیت د څرنګوالي په انعکاس کې ماته بې ګټې نه ښکاري. تر چاپ وروسته به (که ژوند مو ملګری و) طبعاً ددې اثر یاد شمار ګڼې د کابل پوهنتون ادبیاتو پوهنځي ته هم ورکوم، هلته به له دې اثر څخه ګټه اخیستل کېږي، په تېره بیا د مونوګرافو په تنوع کې به مرسته وکړي؛ تر یوه حده به د تکراري او کلیشه یي مونوګرافو مخنیوی وکړي. دا اثر به د ادبیاتو پوهنځي د محصلینو او استادانو مخ ته پروت وي، کله چې ددې پوهنځي لسیزې او یا شلیزې پوره کېږي، کېدی شي څوک پرې نور څه زیات کړي او سمونې په کې وکړي. اوس چې د کمپیوټر زمانه ده او د لاس خواري کمپیوټر ته انتقال شوې، نو ټولو لیکوالو ته بویه چې خپل اثار نه یوازې د بیاچاپ له لارې خوندي کړي، بلکې د انټرنیټ څپو ته یې هم وروسپاري، چې هم د مرګ له خطره خوندي شي او هم یې ګټه اخیستنه عامه او اسانه شي. ما د خپل کار د بشپړاوي او خوندیتوب لپاره همداسې یو لړۍ پیل کړې او له نورو لیکوالو هم هیله لرم، چې خپل کارونه په خپله تنظیم کړي او خپل اثار له ټولو احتمالي خطرونو څخه وژغوري، که چېرې دوی په خپلو اثارو کې د بیا سمون او زیاتون غوښتونکي هم وي، نو د خوندیتوب په حالت کې ورته دا کار لا اسانه کېږي. له ټولو افغان لیکوالو د همدې فرهنګي هیلې د تطبیق په هیله.

په درناوي

پوهندوی محمد اسمعیل یون

ارګ، د جمهوري ریاست ودانۍ

کابل- افغانستان

د ۱۳۸۷ل کال د کب ۲۰مه نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څو خبرې او د لیکوال پېژندګلوي

دغه رساله (د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پنځوسو کلونو پښتو کتابښود) د (۱۳۷۵ل) کال په لومړنیو ورځو شپو کې، یون صاحب د کتابت په خاطر ماته راکړه، ما هم په خوشالۍ سره د کتابت پر چارو پیل وکړ او تر څه مودې ځنډ وروسته مې خپل کار سرته ورساوه. کله چې د کتاب چارې ترسره شوې، رساله مې د هغه لیکوال ته ور وسپارله. د رسالې د ورسپارلو په جریان کې یون صاحب پر خپلې رسالې د څه لیکنې پېرزوینه راباندې وکړه، چې دا دی د همدغې پېرزوینې له مخې غواړم څو شېبې د یادې شوې رسالې او بیا د ګران یون پر پېژندګلوۍ درسره وغږېږم.

تر دغې رسالې دمخه دوه نور کتابونه په دغه برخه کې د چاپ له ډګره راوتلي دي. لومړنی کتاب د ښاغلي لیکوال رازمحمد ویښ دی، چې (پښتو کتابونه) نومېږي. په دغه کتاب کې د برتش موزیم د پښتو کتابونو د معرفۍ ترڅنګ دننه په هېواد کې د چاپ شویو کتابونو یو فهرست هم ورکړل شوی دی. دویم کتاب د هېواد نومیالي لیکوال او محقق ښاغلي حبیب الله رفیع په دوو ټوکونو کې لیکلی، چې (پښتو پانګه) نومېږي.

همدارنګه په دغه برخه کې عتیق الله پژواک هم یوه بریالۍ هڅه کړې ده، چې په خپل وار د یادونې وړ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه رساله چې اوس ستاسو په لاس کې ده له یادو شویو کتابونو څخه یو څه توپیر او نوی والی لري او هغه دا چې دا رساله د یو مشخص کلکتیف د استفادې په غرض لیکل شوی او هم په ځانګړې ډول د پنځوسو کلونو په بهیر کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د استادانو او فارغانو له پېژندګلوۍ سره سره د هغوی د اثارو او هم د مونوګرافونو بشپړه معرفي نامه ده.

دغه رساله په داسې وخت او حالاتو کې لیکل شوې ده، چې په وطن کې د اور او وینو سیندونه جاري وو، د ډاډ او اطمینان هېڅ څرک نه لګېده او د پوره نهیلیو ورځې شپې وې، څو ک چې په هغو حالاتو کې دلته مېشت وو، سره له ډېرې وېرې او ترهې یې د ورځني ژوند بارونه کاږل. زموږ لیکوال د هغې اورنۍ مینې له مخې چې له خپلې ژبې او خپل فرهنګ سره یې لري، په همدغو اور وړینو شېبو کې خپله رساله ولیکله او د هغه د بشپړتیا په خاطر د ګولیو، راکټونو او بمونو په باران کې کتابتون په کتابتون وګرځېد او ډېر کتابونه یې پسې وکتل.

ددغې رسالې ژبه ډېره خوږه او روانه ده، بې ځایه حاشیه روي په کې نه را ترسترګو کېږي، په ډېرو لنډو او وړو جملو کې ډېر څه په کې بیان شوي دي. کومه وروستۍ خبره چې غواړم ددغې درنې رسالې په باب وکړم، هغه داده چې کېدی شي د ځینو تخنیکي ستونزو له امله لا هم د ډېر شمېر لیکوالو او د هغو د اثارو او هم مونوګرافونو یاد په دې رساله کې راغلی نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې هیله څرګندوم، چې دغه رساله لکه څنګه چې ښايي همداسې ډېره ګټوره او اغېزمنه ثابته شي او هغه ستونزې چې له دې امله راپېښې دي له دې سره له منځه لاړې شي.

یون صاحب په خپلې رسالې کې د ګڼ شمېر وتلو او نومیالیو لیکوالو او د هغو د پښتو اثارو پېژندګلوي درسره کوي او زه غواړم چې د یون صاحب د ژوند هېنداره درته وځلوم.

پر افغانستان او افغاني فرهنګ او خپلې ژبې اورنی مین پوهیالی محمد اسمعیل یون د اروابناد محمدخان زوی د ۱۳٤٦ل کال پر کب میاشت د لغمان ولایت د الینګار ولسوالۍ د نیازیو په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې په الینګار ولسوالۍ کې سرته رسولي، پر ۱۳٦٦ل کال کې له خوشال خان لېسې  نه فارغ شوی دی. تر فراغت وروسته پر ۱۳٦۷ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګې ته لاړ او پر ۱۳۷۰ل کال له نوموړې څانګې فارغ او پر همدې کال د پښتو څانګې د علمي کادر غړی شو.

یون صاحب تراوسه پورې دا لاندې ادبي فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱- هیلې، ګډ شعري جونګ، راټولونه، ۱۳٦۷ل کال چاپ.

۲- نیمګړي ارمانونه، د حیران د شعرونو جونګ، سریزه او راټولونه، ۱۳٦۹ل کال چاپ.

۳- د لوونو فصل، ګډ شعري جونګ، راټولونه، ۱۳٦۹ل کال چاپ.

٤- د استاد الفت نثري کلیات، سریزه او راټولونه، ۱۳۷۰ل کال چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- استاد زیار د پښتني فرهنگ یو ځلاند ستوری، څېړنیز اثر، ۱۳۷۳ل کال چاپ.

٦- مټکور، د شعرونو مجموعه، د لیکوالو انجمن، ۱۳٦۹ل کال چاپ.

۷- د نازو انا یاد، سریزه او د مقالو راټولونه، ۱۳۷۰ل کال چاپ.

۸- د محمدگل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه، ۱۳۷۳ل کال چاپ.

۹- د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پنځوسو کلونو پښتو کتابښود، همدا رساله.

همدارنگه د شعرونو دویمه مجموعه یې هم چاپ ته تیاره ده، چې یوه زیاته برخه یې په ځینو پښتو خپرونو کې چاپ او خپره شوې ده.

په سپېڅلې پښتني مینه

صدیق الله بدر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ددې اثر اړتیاوې، نیمګړتیاوې او بریاوې

د (۱۳۷۳ل) کال پر لړم میاشت ، چې پوهنتون د څووم ځل لپاره د پرله پسې جګړو له امله، له تجارت، جمهوریت، زرغونې لېسو، له پلان وزارت، کابل پولیتخنیک او د امام زمان له تکیه خانې څخه د خیرخانې مېنې په درېیمه برخه کې د سرور کاینات مسجد ته په مهاجرت مجبور شوی و، نو په همدې ترینګلي او جګړه ییز حالت کې د پوهنځي د هغه وخت د مشرتابه له خوا وپتېیل شوه، چې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي (پنځوسمه کلیزه) ونمانځل شي.

په همدې نیت ما ته هم بلنه راکړل شوه، چې د ادبیاتو پوهنځي د ټول ژوند په بهیر کې د دې پوهنځي د ځینو نامتو استادانو پر ادبي خدمتونو په ځانګړې ډول پر اثارو لیکنه وکړم. ما چې کله په دې باب د کتابونو پاڼې واړولې نو خدای(ج) شاهد دی، چې لیکنه وار په وار اوږدېدله. یو ځل بیا راته هغه اړتیا رادمخه شوه، چې موږ ورسره په پوهنځي کې د زده کړې پر وخت مخامخ وو. زموږ د تحصیل په وخت کې د محصلینو غټه ستونزه دا وه، چې هېڅ داسې کیلي موجود نه وه، چې د هغې په زور دې محصلین د ادبیاتو د لویې نړۍ ور پرانیزي او په دې لویې دنیا کې دې د خپل اند، ذوق او موخې نیلي وځغلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هر چا چې به کومه وړه لیکنه هم کوله، نو اخځونو او کتابونو پسې به سرګردانه و، ان دا چې استادانو به په رسمي توګه سیمینار او کورنۍ دنده وروسپارله، بیا به هم د کتابونو په لټون او پیداکېدن کې پاتې راغلل، کله کله خبره تر دې بریده هم رسېدله چې استادان به هم د پوره اخځونو په ورکړه کې له ستونزو سره مخامخېدل.**

**دا ستونزه د پای لیکونو (مونوګرافونو) د لیکلو پر وخت لا ډېره ځرګندېدله، فارغان به یو او بل ماخذ پسې لالهانده وو. ځرنګه چې په پښتو ځانګه کې د تېرو کلونو دمونوګرافونو بشپړ کتابښود او نومښود موجود نه و، نو داسې هم شوي چې یوه ټاکلې موضوع څو تنو فارغانو ته ورکړل شوې ده. د کتابونو او یا هم د اخځونو نشتوالي له کبله ځینو استادانو خپلو فارغانو ته ډېره ساده او بسیطه موضوع هم ټاکله، چې له آره په یو پایلیک لیکلو نه ارزي.**

**ځینې داسې اشخاص هم له ادبیاتو پوهنځي څخه فارغېدل، چې په پای کې یې د (شلو) ادبي کتابونو نومونه هم په پرله پسې ډول اخیستلی نه شول، هغه چا چې له ادبیاتو سره یې پوره مینه لرله، د هغو لپاره هم دا امکان موجود نه و، چې په خپله ټاکلې ځانګه کې تېر شوي کارونه ترسترګو تېر او پر نورو کېدونکو باندې غور وکړي.**

**همدغو نیمګړتیاوو ما کې دا ولوله پیاوړې کړه، چې لږ تر لږه په دې برخه کې داسې یوه هڅه وکړم، چې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي ځانګړي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول په پښتو ځانگه کې دغه تشه که پوره ډکه نه شي، نو د محصلینو یو څه اړتیا خو حل کړي.

لکه څنگه چې ددې رسالې له نامه څخه ښکاري په دې کتابگوتې کې هڅه شوې، چې د پښتو کتابونو پېژندنه وشي، خو ځای نیم په کې د ځینو لیکوالو د یو نیم فارسي کتاب یادونه هم راغلې. داسې ټاکل شوې وه، چې د یو بشپړ کتابښود په څېر به د هر کتاب څه ناڅه پوره پېژندنه راځي، خو د تخنیکي ستونزو او د ځینو تذکرو د نابشپړ ثبت په وجه دا هیله پوره نه شوه. ځینو ځایونو کې د کتاب د چاپ کلونه او خپرندوی ارگانونه هم پاتې شول. یوازې د لیکوالو په همهغې پېژندنې بسنه وشوه چې په ادبیاتو پوهنځي پورې اړه لري. څرنگه چې د ادبیاتو پوهنځي تراوسه پورې بېلابېل پړاوونه وهلي او بېلابېل نومونه یې غوره کړي، ځینې ځانگې یو وخت په ادبیاتو پوهنځي پورې تړلې، خو وروسته بیا خپلواک پوهنځي ورڅخه جوړ شوي، دلته هم د هغو د استادانو او نورو لیکوالو د هغو اثارو یادونه شوې، چې دوی د ادبیاتو له پوهنځي سره وخت ناوخت تړښت لرلی دی.

د یو شمېر هغو استادانو د یادون امکان هم میسر نه شو، چې په بېلابېلو وختونو کې یې په پوهنځي کې د استادۍ دنده سرته رسولې او اثار یې لیکلي، همدارنگه د ځینو هغو فارغانو یاد چې د اثارو خاوندان دي. دا ددې اثر بله نیمگړتیا ده. له علمي او د کتابښودنې له میتود سره سم هم د دې کتاب محتویات برابر شوي نه دي. یوازې د وخت اړتیا په پام کې نیول شوې ده او همدا ډول نورې ډېرې نیمگړتیاوې، خو د پښتو مل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی: (( تور توتان- له یاره قربان)) خو زه په دې خوښ یم، چې ما د خپل احساس بار تر دې دمه راورساوه، دعلمي نیمګړتیاوو د بشپړاوي لپاره نورو ته خپله هیله ورغځوم. خو له دې سره سره که زما دا نیمګړی زیار د پښتو ژبې او ادب مینانو، پالونکو په ځانګړي ډول د ادبیاتو پوهنځي د راتلونکو محصلینو د ګټې اخیستنې، د هغوی د ادبي کړاو په اسانۍ او نورو ادبي چارو کې په درد ولګي او له اړتیاوو یوه اړتیا پوره کړي، نو دا به زما ددې او هغې بلې نړۍ د روحي ارامتیا او ډاډ سبب شي.

په ټوله انساني او پښتني مینه

پوهیالی محمداسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژبو او ادبياتو پوهنځي لنډه تاريخچه

((د ژبو او ادبياتو پوهنځی د ۱۳۲۳ل کال د لړم (عقرب) پر مياشت جوړ شو. پر دې وخت د ژبو او ادبياتو پوهنځی ((د ادبياتو فاکولته)) په نامه يادېده. دغه مهال په کابل پوهنتون کې يوازې درې پوهنځي (طب، حقوق او ساينس) جوړ شوي وو.

پر ۱۳۲۷ل کال ښځينه قشر ته هم ددې زمينه برابره شوه چې په ادبياتو پوهنځي کې زده کړې وکړي. پر دې مهال دې برخې د نارينه وو له برخې څخه جلا او بېلې خپلې درسي چارې پرمخ وړلې.

پر ۱۳۲۹ل کال د ادبياتو د فاکولتې د محصلينو شمېر تر (۸۰) تنو څخه زيات و، پر ۱۳٦٥ کال دا شمېر (۱٤۰۰) تنو ته ورسېده، پر ۱۳٥۹ کال د هغو کسانو لپاره چې د ورځې يې د ځينو ستونزو له کبله نه شول کولای درسي چارو ته حاضر شي، د ادبياتو د شپې پوهنځی جوړ شو.))[۱]

د ادبياتو پوهنځي د جوړولو موخه دا وه، چې د هېواد ځوان نسل د فرهنگپالنې او فرهنگيالۍ په روحيه وروزي، د خپل هېواد له تاريخ او ثقافت څخه يې خبر کړي او په دې ډول د خپل هېواد له فرهنگ څخه بهرنيان او د هغو له فرهنگ او ژبو سره خپل هېوادوال اشنا کړي. له دې پرته د مسلکي ښوونکو روزنه او په بېلابېلو پوهنيزو او ادبي برخو کې د مسلکي کادرونو، څېړونکو او ليکوالو روزنه د پوهنځي بله موخه وه.

---

[۱] اسدالله حبيب: د اجتماعي علومو مجله، کابل پوهنتون، ۱۳۲۵ل کال، (۱-۱۸ مخونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(( د ۱۳٤۰ او ۱۳٤٤ل کلونو ترمنځ د ژورنالیزم، الماني او فرانسوي ژبو څانګې هم په دې پوهنځي کې جوړې شوې. څرنګه چې پر دې وخت په ادبیاتو پوهنځي کې پر ژبو او ادبیاتو سربېره نور علوم، چې بشري علوم هم په کې شامل وو، تدریسېدل، نو پر ۱۳٤٤ لمریز کال (( د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي)) په نوم ونومول شو او پر ۱۳٥۸ل کال (( د ژبو او ادبیاتو پوهنځي)) په نوم یاد شو.

د ۱۳٥۲- ۱۳٦۲ ل کلونو په واټن کې په ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي کې یو لړ بدلونونه رامنځته شول، پر ۱۳٥۳ل کال کله چې د تعلیم او تربیې پوهنځی لغوه شو، نو د هغه پوهنځي د انګلیسي ژبې او ادبیاتو څانګه، د اجتماعي علومو ډیپارټمنټ، د تعلیم او تربیې ډیپارټمنټ او نور تشکیلات د ادبیاتو او بشري علومو په پوهنځي پورې وتړل شول او په دې ډول ددې پوهنځي علمي فعالیتونه نور هم زیات شول.

وروسته ډیپارټمنټونو او ځینو نورو څانګو زیاته پراختیا وکړه او ځینې ډیپارټمنټونه له دغه پوهنځي څخه بېل شول او د یوه ځانګړي پوهنځي بڼه یې غوره کړه.

پر ۱۳٥۸ل کال د ادبیاتو او بشري علومو له پوهنځي څخه د جغرافیې ډیپارټمنټ بېل او د علومو پوهنځي له جیولوژي اوسرولوژي ډیپارټمنټ سره یوځای شو او په ګډه یې له ځمکپوهنې څخه د ژورنالیزم، تاریخ او اجتماعي علومو ډیپارټمنټونه بېل او پر ۱۳٥۸ل کال یې د ((اجتماعي علومو پوهنځی)) جوړ کړ، وروسته پر ۱۳٦٥ل کال د تاریخ او فلسفې پوهنځي پر کار پیل وکړ، دغه راز د ۱۳٦۳ل کال د چنګاښ پر ۱۸مه نېټه د ښکلو هنرونو اختصاصي ډیپارټمنټونه له ژبو او ادبیاتو پوهنځي څخه بېل او ((د ښکلو هنرونو پوهنځي)) په نوم یې مستقل پوهنځی جوړ کړ.[1]

[1] پوهنتون کابل در ده سال اخیر، ۱۳۲۷ل کال، کابل پوهنتون، ۱۲-۱۴ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ۱۳۷۰ل کاله پورې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په تشکیلاتي جوړښت کې (۹) ډیپارټمنټونه: (پښتو، دري، اوزبکي، روسي، هسپانوي، فرانسوي، الماني، عربي او انګلیسي) موجود وو.

پښتو څانګه د ۱۳۳۵ل کال په وروستیو کې (( د فلسفې او ادبیاتو له څانګې څخه بېله او مستقله څانګه شوه)).

د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د خپل عمر د (۵۰) کلونو په واټن کې په زرګونو علمي او کاډمیک کادرونه ټولنې ته وړاندې کړي دي.

(( یوازې په یوه لسیزه (۵۷-٦۷) کې په ادبیاتو پوهنځي کې (٤۵۹۲) تنه محصلین شامل شوي او (۱۷۱۷) تنه فارغ التحصیلان یې هېواد ته وړاندې کړي دي.

دلته به د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د فارغانو یو لښتلیک (جدول) راوړو، چې د هغو فارغانو د څرنګوالي څرګندویي کوي:

| د فراغت کال | د فارغانو شمېر |
|---|---|
| ((۱۳۲۷ل کال لومړۍ دوره | ۳ تنه |
| ۱۳۲۸ل کال | ۷ تنه |
| ۱۳۲۹ل کال | ۹ تنه |
| ۱۳۳۰ل کال | ۱۹ تنه |
| ۱۳۳۱ل کال | ١٤ تنه |
| ۱۳۳۲ل کال | ۲۰ تنه |
| ۱۳۳۳ل کال | ۲٦ تنه |
| ۱۳۳٤ل کال | ۲۵ تنه |
| ۱۳۳۵ل کال | ۱۵ تنه |
| ۱۳۳٦ل کال | ۱۸ تنه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| ۱۳۳۷ل کال | ۲۷ تنه |
| ۱۳۳۸ل کال | ۲٦ تنه |
| ۱۳۳۹ل کال | ۳۲ تنه |
| ۱۳٤۰ل کال | ۳٥ تنه |
| ۱۳٤۱ل کال | ٤۱ تنه |
| ۱۳٤۲ل کال | ٦۲ تنه |
| ۱۳٤۳ل کال | ٥٦ تنه |
| ۱۳٤٤ل کال | ٦۳ تنه |
| ۱۳٤٥ل کال | ٥۸ تنه |
| ۱۳٤٦ل کال | ۷۱ تنه |
| ۱۳٤۷ل کال | ۹٥ تنه |
| ۱۳٤۸ل کال | ۱٤۲تنه |
| ۱۳٤۹ل کال | ۱٤۳تنه |
| ۱۳٥۰ل کال | ۷۱ تنه |
| ۱۳٥۱ل کال | ٦۷ تنه |
| ۱۳٥۲ل کال | ۷۷ تنه |
| ۱۳٥۳ل کال | ۱٥۸ تنه |
| ۱۳٥٤ل کال | ۱٤٤ تنه |
| ۱۳٥٥ل کال | ۲٥٦ تنه |
| ۱۳٥٦ل کال | ۱٦۷ تنه |
| ۱۳٥۷ل کال | ۲۳٥ تنه |
| ۱۳٥۸ل کال | ۱۸٤ تنه |
| ۱۳٥۹ل کال | ۱۲۸ تنه |
| ۱۳٦۰ل کال | ۱٥٥ تنه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| ۱۳٦۱ل کال | ۱٤۹ تنه |
| ۱۳٦۲ل کال | ۱۸٤ تنه[1] |
| ۱۳٦۳ل کال | ۱۲۰ تنه |
| ۱۳٦٤ل کال | ۸۸ تنه |
| ۱۳٦۵ل کال | ۱٦٤ تنه |
| ۱۳٦٦ل کال | ۱٤٤ تنه |
| ۱۳٦۷ل کال | ۹۱ تنه |
| ۱۳٦۸ل کال | ۱۵۲ تنه |
| ۱۳٦۹ل کال | ۱۱۹ تنه |
| ۱۳۷۰ل کال | ۱۸۵ تنه |
| ۱۳۷۱ل کال | ؟ |
| ۱۳۷۲ل کال | ؟ |
| ۱۳۷۳ل کال * | ؟ |

(( پر ۱۳٦۷ل کال د ادبیاتو پوهنځي د استادانو شمېر (۱۳٦) تنه ته رسېده، چې له هغې جملې څخه (۱۰) تنه د دوکتورا د درجې لرونکي، (٤۵) تنه د ماسټرۍ درجې لرونکي او پاتې يې ليسانس و))[1]

د ۱۳٦۳ل کال په دويمه نيمايي کې د ژبو او ادبياتو پوهنځي په پښتو او دري څانګو کې د ماسټرۍ پروګرام پيل شو، چې د يو څو دورو تر فراغت وروسته دا پروګرام له خنډ سره مخامخ شو. پښتو، دري او روسي

[1] پوهاند عبدالرزاق زهیر، پوهنځی ادبیات در (۴۰) سال اخیر، ۱۳۲۴ل کال، ۳۰-۳۱ مخونه.

[1] پوهنتون کابل در ده سال اخیر، ۱۳۲۷ل کال، کابل پوهنتون، ۱۲-۱۴ مخونه.

*- ۱۳۷۱-۱۳۷۳کلونو کې د جګړو له امله د پوهنځي د فارغانو شمېر دقيق معلوم نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګو د يو ټاکلي وخت په جريان کې د ماسترۍ پروګرام پر مخ وړې دی.

تر ۱۳۷۰ ل کال پورې د ژبو او ادبياتو پوهنځي په منځني ډول هر کال (٦٠) تنه فارغان ټولنې ته وړاندې کړي دي.

د ژبو او ادبياتو پوهنځي له ۱۳۵۸ل کال څخه تر ۱۳٦٥ل کاله پورې پر مستقلو کتابونو سربېره د ليسانس دورې لپاره (۱۷۰) عنوانه لکچرنوټونه چاپ او خپاره کړي دي، دغه راز د ژبو او ادبياتو پوهنځي د خپل (٥٠) کلن فعاليت په بهير کې يو شمېر بهرني محصلين هم روزلي، دا محصلين اکثراً له بهر څخه د پښتو او دري ژبو د زده کړې په خاطر راتلل، هغو بهرنيانو چې د ژبو او ادبياتو پوهنځي په پښتو څانګه کې زده کړې کړي دادي:

| ګڼه | نوم | په پوهنځي کې د شاملېدو نېټه | ملت | څانګه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | عارف عثمانوف | ۱۳۳۷ل کال | ازبک-شوروي | پښتو |
| ۲ | حسن الشيخ | // | مصري | // |
| ۳ | فنګ ګواتای | ۱۳۳۸ل کال | چينايي | // |
| ٤ | وانګ خوخای | // | // | // |
| ٥ | تونګ شن يانګ | // | // | // |
| ٦ | چن مين | // | // | // |
| ۷ | تولی کن | // | // | // |
| ۸ | چي ده ون خای | // | // | // |
| ۹ | تاکشی کتو فوجي | ۱۳۳۸ل کال | جاپانی | پښتو |
| ۱۰ | دلترفل لاوس فيشرارکيالوجسات | // | المانی | // |
| ۱۱ | نواته | ۱۳۳۹ل کال | جاپانی | // |
| ۱۲ | عبدالرحيم | ۱۳٤۰ل کال | شوروي | // |
| ۱۳ | بيک مراد | // | // | // |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱٤ | پریت پتنګهـ کتیوریا | ۱۳٤۳ل کال | هندي | // |
| ۱۵ | مګنی ګراس نیید | ۱۳٤٤ | امریکایي | // |
| ۱٦ | لین چانګ پاو | // | چینایي | // |
| ۱۷ | شنګ توشینګ | // | // | // |
| ۱۸ | موتی فو | // | // | // |
| ۱۹ | توسترلایس راس موسنت | // | ډنمارکی | // |
| ۲۰ | مسن راسه مارکو ویس | ۱۳٤۵ل کال | یوګوسلاویایي | // |
| ۲۱ | هرلندنا ایالایز | ۱۳٤٦ل کال | امریکایي | // |
| ۲۲ | جي پل کوپریت لویز | // | // | // |
| ۲۳ | سموت پتریسا | // | انګلنډی | // |
| ۲٤ | جني کانیوا | // | شوروي | // |
| ۲۵ | چي پوسو روزبا | // | // | // |
| ۲٦ | کارنیکوف | // | // | // |
| ۲۷ | میرزاګیروا | ۱۳٤٦ل کال | // | // |
| ۲۸ | کرولیف | // | // | // |
| ۲۹ | میکولویچ ترنول ولیکی | // | // | // |
| ۳۰ | ولادیمیر کولویویچ دوکوف | // | // | // |
| ۳۱ | نانچینکو | // | // | // |
| ۳۲ | یارکو | // | // | // |
| ۳۳ | اسپرنابلینا | // | // | // |
| ۳٤ | د- ن چیوا | ۱۳٤۷ل کال | بلغاریایي | // |
| ۳۵ | جناسولیتر | // | چلکوسلواکیایي | // |
| ۳٦ | پخلیناتاتانیانیکو لینا | ۱۳٤۹ل کال | شوروي | // |
| ۳۷ | میکرون حرګالینا چولیا | // | بلغاریایي | // |
| ۳۸ | ګولد یکرویز | // | امریکایي | // |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳۹ | مگنی گوردن کی | // | // | // |
| ٤۰ | عضاف السید زیران | ۱۳۵۱ | مصري | // |
| ٤۱ | کونیکن اینا ماروتا | // | فنلندي | // |
| ٤۲ | انترابرت ستی چن ارتر | // | برتانیایي | // |
| ٤۳ | اینابما ریاتا | // | فنلنډي | // |
| ٤٤ | ماریاتا | ۱۳۵۲ل کال | بلغاریایي | // |
| ٤۵ | الین | ۱۳۵۲ل کال | بلغاریایي | // |
| ٤٦ | برناردس کنگه | ۱۳۵٤ل کال | بلغاریایي | // |
| ٤۷ | گنرین ای نوراس | ۱۳۵۲ل کال | امریکایي | // |
| ٤۸ | رونالد چترنگی | // | کاناډایي | // |
| ٤۹ | ماریاششتز | // | کاناډایي | // |
| ۵۰ | اسکره شنیده | ۱۳۵۲ل کال | امریکایي | // |
| ۵۱ | فلپ هرزیج | // | // | // |
| ۵۲ | وپر اپاستواله | // | // | // |
| ۵۳ | وزیلا زخاراوایا | // | بلغاریایي | // |
| ۵٤ | کارتیرو | // | برازیلی | // |
| ۵۵ | یادویکه | ۱۳۵۳ل کال | پولنډي | // |
| ۵٦ | برنارد گنگ | ۱۳۵۵ل کال | برتیانیایي[۱] | // |

[۱] پوهنځی ادبیات در چهل سال اخیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژبو اوادبیاتو پوهنځي چاپ کړي کتابونه

له (۱۳۲۳-۱۳۷۰ ل) کاله پورې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له خوا یو زیات شمېر علمي، ادبي او هنري غونډې او سیمینارونه جوړ شوي، دغه راز د ادبیاتو پوهنځي له خوا یو شمېر علمي موضوعات تحقیق او څېړل شوي او یو لړ کتابونه خپاره شوي، چې موږ به دلته ددې ډول اثارو نومونه واخلو:

۱- د پښه یانو شفاهي ادبیات.

۲- په افغاني ټولنو کې د ښځو اجتماعي وضع.

۳- انګېرنې، کرکې او کړنې: زېورالدین زېور او سپوږمۍ نوري، ۱۳۴٦ل کال چاپ.

٤- د خوشال د کلیاتو انساني قاموس.

۵- پښتو ویي پوهنه؛ مجاور احمدزیار، ۱۳۵۷ل کال چاپ.

٦- پښتو پښویه (ګرامر)، مجاوراحمد زیار، ۱۳٦۲لمریز کال چاپ.

۷- د غلام محی الدین افغان افکار او اثار، ۱۳٦۲ل کال چاپ.

۸- د پښتو ادبیاتو تاریخ (دویم ټولګي لپاره)، ډاکټر زېورالدین زېور، ۱۳۵۸ل کال.

۹- د پښتو ادبیاتو تاریخ (درېیم ټولګي لپاره)، ډاکټر زېورالدین زېور، ۱۳٦۸ل کال چاپ.

۱۰- د پښتو ادبیاتو اوسنۍ دوره، (درېیم ټولګي لپاره)، ډاکټر زېورالدین زېور، ۱۳٦۰ل کال چاپ.

۱۱- اوسني ادبیات، ډاکټر زېورالدین زېور، ۱۳٦۱ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲- د پښتو اصطلاحي قاموس، ډاکټر زېورالدين زېور، ۱۳۶۱ل کال چاپ.
۱۳- د پښتو گرامر، زرغونه زېور، ۱۳۶۰ل کال چاپ.
۱٤- د پښتو نحو، زرغونه زېور، ۱۳۶۶ل کال چاپ.
۱۵- د پټې خزانې فرهنگ، پوهاند عبدالشکور رشاد.
۱٦- د پښتو ادبي سبکونه،
۱۷- د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی ټوک، پوهاند حبیبي، ۱۳۵٤ل کال چاپ.
۱۸- د گولډ شتیت پښتو فرهنگ، پوهاند رشاد، ۱۳۵٦ل کال چاپ.
۱۹- د جبر او اختیار ډیالکټیک، پوهاند مجروح ، ۱۳۵٦ل کال چاپ.
۲۰- ژبنۍ څېړنې، پوهندوی شاکر.
۲۱- د وږمې مجلې د تاریخي مضامینو فهرست، تدوین لامان مراد.
۲۲- تاریخي پېښې، عبدالروف بېنوا.
۲۳- پښتو متون، لومړی ټوک، عبدالرزاق زهیر.
۲٤- پښتو متون، دویم ټوک، عبدالرزاق زهیر.
۲۵- د بایزید روښان خیرالبیان.
۲٦- پښتو مصادر، محمداعظم ایازی.
۲۷- انشا او پښتو ادب، پاینده محمد زهیر.
۲۹- د تاریخ په باره کې، محمد حسن ضمیر ساپی.
۳۰- د پښتو گرامر، هربرت پنزل، د محمد رحیم الهام ژباړه.
۳۱- خلاصة المریدن، شمس الدین کاکړ، د پوهنوال میرحسین شاه اهتمام او مقدمه.
۳۲- د افغان یاد
۳۳- د خلکو تجربې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳٤- د غرونو څوکې، عبدالکریم پتنګ.

۳۵- پښتو نوی مصدر.

۳٦- نوموړکي مورخين، پوهاند حبيبي

۳۷- فوايد فقيرالله.

۳۸- د ميا فقيرالله پېژند ليک.

۳۹- اسماء الحسنی.

د ژبو او ادبياتو پوهنځي پر پښتو کتابونو سربېره د وږمې مجله هم په پښتو ژبه تر ۱۳۳٦ل کال راهيسې بيا تر شپېتمو کلونو پورې خپره کړې ده.

(( د وږمې مجلې لومړۍ ګڼه د ۱۳۳٦ل کال د تلې پر مياشت چاپ شوه)) [۱]. همدغه راز دغه پوهنځي د علمي، ادبي او هنري مسايلو په باب په لسګونو سيمينارونه جوړ کړي او يو زيات شمېر لکچرنوټونه او نور درسي مواد يې چاپ او خپاره کړي دي.

[۱] پوهنځی ادبیات در چهل سال اخیر، ۱۲۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استادان او د هغوی کتابونه

## ۱- پوهاند عبدالحی حبیبي:

لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي زموږ د هېواد د معاصر فرهنګ او ادب د لویو خدمتګارانو له جملې څخه دی. استاد له یوې خوا د هېواد د فرهنګ د پرمختګ او زرغونتیا لپاره ګڼ شمېر اثار ولیکل او له بلې خوا یې د فرهنګي او علمي مرکزونو په جوړولو کې هم کارنده ونډه واخیستله، استاد د یو شمېر نورو فرهنګي بنسټونو ترڅنګ د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د رغښت په کار کې هم خپلې هلې ځلې نه دي سپمولي او د هېواد ددغه فرهنګي بنسټ په جوړښت او فعالیت کې یې سترياوې ګاللي دي. استاد پر ۱۳۲۳ل کال (د ژبو او ادبیاتو پوهنځی د تاسیس له کال څخه) تر ۱۳۲۵ل کال پورې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د رئیس په توګه پاتې شوی[1]) او تر دې وروسته یې هم پر بېلابېلو وختونو د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو او دري ژبو او ادبیاتو استاد پاتې شوی دی.

تراوسه پورې د هېواد په دننه او بهر کې د استاد تر (۱۰۰)زیات ادبي او علمي اثار چاپ شوي دي، د استاد زیات اثار په دري ژبه خپاره شوي دي او یو شمېر یې هم په عربي او اردو ژبو خپاره شوي دي.

[1] پښتانه شعرا، پنځم ټوک، ۱۲۲۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرنګه چې موږ دلته د پښتو اثارو کتابښود ترتيبوو، نو دلته به د استاد د هغو کتابونو نومونه واخلو، چې په پښتو ژبه ليکل شوي او پر بېلابېلو وختونو خپاره شوي دي.

(( ۱- د خوشال خټک مرغلرې ( د خوشال خټک کليات) سمون مقابله، تعليقات او مقدمه، کندهار، ۱۳۱٦ل کال چاپ.

۲- د عبدالقادر خټک دېوان؛ سمون، مقابله، تعليقات او مقدمه، کندهار، ۱۳۳۷ل کال چاپ.

۳- پښتو او پښتونواله: کندهار، ۱۳۳۷ل کال چاپ.

٤- پسرلنۍ سندره، پښتو منظومه: کندهار، ۱۳۱۷ل کال چاپ.

۵- د احمدشاه بابا دېوان: سمون، مقابله او مقدمه، کابل، ۱۳۲۲ل کال چاپ.

٦- پټه خزانه: تصحيح، تعليق او دري ترجمه، کابل، ۱۳۲۲ ل کال چاپ، تهران، ۱۳٤۰ل کال چاپ، کابل، ۱۳٥٤ درېيم چاپ، کابل، ۱۳٥۷ل کال څلورم چاپ، کابل پوهنتون.

۷- د پښتو ادبياتو تاريخ لومړی ټوک.

۸- د پښتو ادبياتو تاريخ دويم ټوک، کابل ۱۳۲٤ل کال چاپ.

۹- پښتانه شعرا لومړی ټوک؛ کابل، ۱۳۲۰ل کال چاپ.

۱۰- د پښتو ادبياتو تاريخ: د ادبياتو پوهنځي د درېيم ټولګي لپاره، ۱۳٤۷ ل کال چاپ.

۱۱- د افغانستان پېښليک (کرونولوجي)) کابل، ۱۳٥۳ل کال چاپ.

۱۲- د پښتو ادبياتو تاريخ: د ادبياتو پوهنځي د څلورم ټولګي لپاره، ۱۳٤۷ل کال چاپ.

۱۳- د البيروني کتابښود: کابل ۱۳٥۲ل کال چاپ.

۱٤- په اوسني پښتو شعر کې د ژوند څپې: کابل ۱۳٦۰ل کال چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵- پير روښان، د خيرالبيان مقدمه: کابل ۱۳۵۳ل کال چاپ.
١٦- د پښتو ادب په تاريخ کې قصيده: کابل ۱۳۵۷ل کال چاپ.
۱۷- پښتو د تاريخ او لغت په رڼا کې: کابل ۱۳۴۷ل کال.
۱۸- د پښتو ژبې او ادب موقف د مرکزي اسيا د خلکو په تمدونونو کې: ( په پښتو او انگليسي ) ژبه خپور شوی، کابل، ١٣٥٦ل کال چاپ.
۱۹- د شيخ الاسلام عبدالله انصاري سيرت او شخصيت: کابل ۱۳۴۱ل کال چاپ.
۲۰- د خوشال سواتنامه: مقدمه او تعليقات، کابل ۱۳۵۸ل کال چاپ.
۲۱- د امير علي شېر فکري او سياسي شخصيت: کابل ١٣٦٠ ل کال چاپ.
۲۲- پښتو نثر ته کره کتنې: کابل، ١٣٦٠ل کال چاپ.
۲۳- اسماني نغمې او لاهوتي سرودونه: کابل ١٣٦١ل کال چاپ.
٢٤- تذکرة الاوليا، کابل ١٣٦٢ل کال چاپ. ))[1]

دغه راز د استاد حبيبي يو شمېر نورې ليکنې د هېواد په بېلابېلو خپرنيو ارگانونو کې لکه: وږمه، کابل، عرفان مجلو، زېري، ازاد افغانستان جريدو او ځينو نورو خپرونو کې خپرې شوي دي او هم يې د يو شمېر ليکوالو پر ادبي، تاريخي او نورو اثارو ليکنې، حاشيې، تعليقات او سريزې ليکلي دي.

## ۲- غلام جيلاني جلالي:

نوموړی هم د هېواد د ملي فرهنگ له لويو خدمتگارانو څخه و، پر خپل وخت يې يو زيات شمېر اثار ليکلي، د اثارو زياته برخه يې په پارسي

[1] پښتانه شعرا، پنځم ټوک، ( ۱۲۷۰-۱۲۷۵) مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبه لیکلې، خو په پښتو ژبه کې یې هم د یادونې وړ اثار لیکلي دي. نوموړی ((پر۱۳۲۵ل کال په ادبیاتو پوهنځي او منځني دارالمعلمین کې د پښتو او دري ژبو استاد پاتې شوی دی [1].)) دا دی دلته ددغه استاد د پښتو اثارو یادونه کوو:

((۱- د مصر مختصر تاریخ له ۵۰۰ ق م څخه تراوسه: د کابل کالنۍ ۳ ګڼه کې چاپ شوی دی.

۲- د اولي اعدادې تاریخ، ناچاپ.

۳- د افغانستان د طبیعي جغرافیې په باب یوه رساله: د ۱۳۱۳ل کال د کابل کالنۍ چاپ.

٤- د پنځم ټولګي حساب: د پوهنې د وزارت له خوا چاپ شوی دی.

۵- د پښتو ادبیاتو اجمالي تاریخ: ۳ ټوک (اریانا دایرة المعارف) کې پر ۱۳۳۷ کال چاپ شوی دی.

٦- د پښتو ځانتنۍ ادب او موسیقي: پر ۱۳٦۰ل کال چاپ شوی دی.

۷- د اندلس مدنیت: د پوهنې وزارت له خوا چاپ شوی دی.

۸- د پښتو ملي ادب او موسیقي: ناچاپ.

۹- د علم صوت رساله: په کابل مجله کې خپره شوې ده.[2]))

## ۳- استاد ګل پاچا الفت:

استاد ګل پاچا الفت ((پر ۱۳۳۵ ل کال په لومړۍ رتبه د پښتو ټولنې رئیس شو او د پوهنې (ښوونې او روزنې) وزارت د عالي شورا په غړیتوب

[1] پښتانه شعرا، پنځم ټوک، ۱۲۱۳ مخ.

[2] پښتانه شعرا: پنځم ټوک، ۱۳۲۷ل کال چاپ، ۱۲۱۴-۱۲۱۵ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومنل شو، همدارنګه د کابل پوهنتون د حقوقو او ادبیاتو پوهنځیو د پښتو استادي هم ورپه غاړه شوه.[1])) د استاد الفت اثار په دې ډول دي:

(( ۱- د پسرلي نغمه: د شعرونو لومړۍ مجموعه، ۱۳۲۰ل کال چاپ.

۲- ښه لمسون: د شعرونو دویمه مجموعه، چې د هغه په خپل لیک ملي ارشیف کې خوندي ده.

۳- عالي افکار: د شعرونو درېیمه مجموعه، د ننګرهار مطبعه، ۱۳۲۷ل کال چاپ.

٤- د ازادۍ پیغام: د شعرونو څلورمه مجموعه، کابل افیسټ چاپ.

٥- غوره اشعار: د شعرونو پنځمه مجموعه، کابل، ۱۳٤۱ل کال چاپ.

٦- د زړه وینا: د شعرونو شپږمه مجموعه، کابل، ۱۳٤۱ل کال چاپ.

۷- بله ډیوه: د نثرونو لومړنۍ مجموعه، د پښتو قرائت درسي مرستیال مجموعه، کابل، ۱۳۲۰ل کال.

۸- نوی سبک او نوی ادب: د هنري نثرونو دویمه مجموعه، کابل چاپ.

۹- غوره نثرونه: د ادبي نثرونو درېیمه او بشپړه مجموعه، کابل، ۱۳۳٦ل کال چاپ.

۱۰- څه لیکل یا لیک پوهه: څېړنه، ننګرهار مطبعه، ۱۳۳۸ل کال چاپ.

۱۱- املا او انشاء: څېړنه، کابل ۱۳۳۸ ل کال چاپ.

۱۲- لیکوالي، (املا اوانشاء: کابل، ۱۳۳۹ ل کال چاپ.

۱۳- لغوي څېړنه: کابل ۱۳۲۱ل کال .

۱٤- پښتو سندرې: څېړنه، کابل، ۱۳۲۵ل کال.

۱٥- ملي قهرمان: (د خوشال خټک په باره کې)، کابل ۱۳٤٤ل کال چاپ.

۱٦- منطق: علمي اثر، کابل، ۱۳۳٥ ل کال.

[1] پښتانه شعرا: پنځم ټوک، ۱۳۲۷ل کال چاپ، ۷-۱٥ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷- پښتو کلي پنځم جلد، لومړی ټوک: درسي، کابل، ۱۳۲۱ل کال.

۱۸- پښتو کلي پنځم جلد، دویم ټوک: درسي، کابل، ۱۳۲۱ل کال چاپ.

۱۹- لوړ خیالونه او ژور فکرونه: د ادبي نثرونو ترجمه، کابل ۱۳۳۵ل کال.

۲۰- احمدشاه بابا: له دري نه پښتو ته ترجمه، کابل مجله، ۱۳۲۳ل کال.

۲۱- نوی څرک: ( د پښتو لغاتو مقایسه له نورو ژبو سره).

۲۲- څه ګورم او څه اورم؟

۲۳- اجتماعي نظریات: په پېښور کې چاپ شوی دی.

۲٤- د ټولنې علم: (ترجمه)

۲۵- د موفقیت لار: (ترجمه) [1]

۲٦- اسلام او د اسلام نقش د فرد او جامعې په جوړولو کې: پر ۱۳۵۸ل کال په لاهور کې چاپ شوی دی.

۲۷- د استاد الفت نثري کلیات: پر ۱۳۷۰ل کال په کابل کې چاپ شوی دی.

## ٤- استاد عبدالروف بېنوا:

استاد عبدالروف بېنوا هم یوه موده د ادبیاتو پوهنځي استاد پاتې شوی دی.

پښتو اثار یې دادي:

۱- پښتو کلي: څلورم جلد، لومړی ټوک، ۱۳۲۰ل کال، پښتو ټولنه.

۲- پردیس: د علامه اقبال د ((مسافر)) نومي منظوم کتاب، په پښتو نظم ترجمه ده، پر ۱۳۲۱ ل کال په انیس ورځپاڼه کې خپره شوې ده.

---

[1] پښتانه شعرا، پنځم ټوک، ۱۳۷۰-۱۳۷۲ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- پښتو د شاهانو په دربار کې: (رساله)، ۱۳۲۲ل کال، کابل کالنۍ.

٤- پښتنې مېرمنې: (تذکره) ۱۳۲۳ل کال، د مطبوعاتو رياست.

۵- د هوتکو په دوره کې پښتو: (رساله)، ۱۳۲٤ل کال، کابل مجله کې خپره شوې ده.

٦- میرویس نیکه: ۱۳۲۵ل کال، پښتو ټولنه.

۷- اريايي، فارسي، پښتو مرثيې او وېرنې: تحقیقي رساله، ۲٦-۱۳۲۵ کلونه، کابل کالنۍ.

۸- د غنمو وږی: تاریخي منظومه رساله ده، په دې رساله کې د احمد شا بابا د جلوس د ورځې منتظره ترسیم شوې ده، ۱۳۲۵ل کال چاپ.

۹- د پیرمحمد کاکړ د دېوان تدوین، تصحیح او مقابله، ۱۳۲۵ل کال پښتو ټولنه.

۱۰- ادبي فنون: دا کتاب پر ۱۳۲٦ل کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی او دا لاندې ادبي فنون يې په پښتو بیان کړي او په پښتو کې يې تطبیق کړي دي: معاني بیان، بدیع، عروض، قافیه، خطابه او د لیکنې اصول، دا کتاب دهغو درسونو مجموعه ده، چې استاد بېنوا د ادبياتو پوهنځي دافتتاح پر لومړي کال د هغه پوهنځي لومړي ټولګي ته ورښودلي وو.

۱۱- ویښ زلمیان: ۱۳٦٦ل کال پښتو ټولنه.

۱۲- د ډارمستتر پښتو څېړنې: دا کتاب فرانسوي مشهور لیکوال او مستشرق جیمس ډارمستتر، په فرانسوي ژبه لیکلی، ښاغلی سیدقاسم رښتیا په پارسي ترجمه کړی او استاد حبیبي او استاد بېنوا په پښتو ترجمه کړی دی، پر ۱۳٤٦ل کال د پښتو ټولنې له خواچاپ شوی دی.

۱۳- د رحمان بابا د دېوان تدوین، تصحیح او مقابله، وړه جیبي قطع، ۱۳۲۸ل کال چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱٤- خوشال خټک څه وايي؟ يو وار په هند کې چاپ شوی او دويم ځل پر ۱۳۲۹ل کال د مطبوعاتو دمستقل رياست له خوا چاپ شوی دی.

۱۵- پښتونستان: ۱۳۳۰ل کال، د مطبوعاتو مستقل رياست.

۱٦- د کاظم خان شيدا د دېوان تدوين، تصحيح او مقابله، ۱۳۳۳ل کال، پښتو ټولنه.

۱۷- پرېشانه افکار: د شعرونو مجموعه، ۱۳۳۵ل کال، د کابل راډيو نشراتي څانګه.

۱۸- ګيتانجلي: د رابندرنات ټاګور اثر، پښتو ترجمه، ۱۳۳٦ل کال، د کابل راډيو نشراتي څانګه.

۱۹- لنډۍ: يو شمېر پښتو منتخبې لنډۍ له پارسي او انګرېزي ترجمې سره، انګرېزي ترجمه يې ښاغلي شريقي کړې ده، دغه ترجمه له ښو رنګه تابلوګانو سره پر ۱۳۳۷ل کال د کابل راډيو له خوا چاپ شوې ده.

۲۰- خوشال او پسرلی: پر ۱۳۳۷ل کال د کابل راډيو د پښتون ږغ مجلې له خوا چاپ شوې ده.

۲۱- د زړه خواله: ادبي نثرونه، پر ۱۳۳۸ل کال په اصلاح ورځپاڼه کې خپاره شوي او هم د يومستقل اثر په توګه چاپ شوي دي.

۲۲- پښتو قرائت: د لسم ټولګي لپاره، ۱۳۳۹ل کال چاپ.

۲۳- زوړ ګنهکار: ۱۳۳٦ل کال چاپ.

۲٤- اشتباه: (ډرامه)

۲۵- اوسني ليکوال، لومړی ټوک، ۱۳٤۰ل کال، د مطبوعاتو مستقل رياست.

۲٦- اوسني ليکوال، دويم ټوک ، د مطبوعاتو مستقل رياست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۷- اوسني ليکوال، درېيم ټوک، ۱۳٤٦ل کال، د پښتو د تعميم او انکشاف لوی مديريت[۱].**

## ۵- قيام الدين خادم:

**استاد قيام الدين خادم هم د يوې مودې لپاره په ادبياتو پوهنځي کې تدريس کړی دی، اثار يې دادي:**

### چاپ شوي اثار:

**۱- معلم پښتو: د کندهار چاپ.**

**۲- پښتو کلی: ۱-٤ ټوکونه (له مګرو سره).**

**۳- د کوچنيانو اخلاقي پالنه: (ترجمه)**

**٤- نوی ژوندون: ( د ادبي نثرونو مجموعه)**

**۵- پښتونولي: (د پښتو دودونه او اخلاق).**

**٦- بايزيد روښان: ( تاريخي، تحقيقي رساله)**

**۷- د شريف سرګذشت: ( له اردو نه ترجمه شوی ناول)**

**۸- د مرغلرو امېل: (د شعرونو لومړۍ مجموعه)**

**۹- ځاروان: (د شعرونو دويمه مجموعه)**

**۱۰- خيالي دنيا: ( د ادبي نثرونو دويمه مجموعه)**

**۱۱- نبوغ او عبقريت: ( اجتماعي فلسفي څېړنه)**

**۱۲- نوې رڼا: ( د مقالو مجموعه)**

**۱۳- د پښتو ننني ليکوال: تذکره پر ۱۳۱۷ او ۱۳۱۸ل کال په کابل کالنۍ کې چاپ شوې ده.**

**۱٤- د پښتو د تاريخ يوه سره پاڼه.**

---

[۱] اوسني ليکوال، ۳ ټوک، ۱۵۱۰-۱۵۱۲ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵- د خوشال او رحمان موازنه.
۱٦- مکارم الاخلاق: (له عربي څخه ترجمه)
۱۸- پښتانه شعرا: د لومړي او دویم ټوک ځینې برخې.
۱۹- پارسیان څوک وو؟: (تاریخي څېړنه)
۲۰- په تذکرة الاولیا تبصره.
۲۱- کوشانیان څوک وو؟: (تاریخي څېړنه).
۲۲- د بابا نصیحت نامه: (منظومه).
۲۳- سیدکمال او ببوجانه: (داستان).
۲٤- د پښتو پټۍ: ( د پښتو الف بې په باره کې).
۲۵- لوی اصحابان: (مذهبي تاریخ او سیره).
۲٦- نشنیلیزم او انتر نشنلیزم: ( ملیت او بین المليت).
۲۷- افغاني حکومت.
۲۸- د پښتو نثر تاریخي تطورات او د نثر لیکونکو تذکره: کابل کالنۍ ۱۳۱۹-۱۳۲۰ کلونه.
۲۹- معیاري پښتو.
۳۰- لرغوني پښتانه قومونه.
۳۱- پښتو قرائت د دویم ټولګي لپاره.
۳۲- پښتو قرائت د درېیم ټولګي لپاره.

## ناچاپ اثار:

۱- د پښتونخوا قیصې.
۲- مکالمات.
۳- عزیزه حب خیر.
٤- سورګل.
۵- کانفرانسونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- کره پښتو.
۷- پښتو زده کړه.
۸- نصوص الحکم.
۹- د پښتو شاعري.
۱۰- پښتو په غربي لیکدود.
۱۱- پښتني پور.
۱۲- پېړۍ او پښتانه.
۱۳- د پښتنو قامولي.
۱۴- غوره سندرې.
۱۵- د پښتو مشاعرې.
۱۶- اینده پښتنو ته.
۱۷- د تنقید حق.
۱۸- ساتلې خزانې
۱۹- د پښتو ولسي ادب.
۲۰- د شعرونو درېیمه مجموعه.
۲۱- د ادبي نثرونو مجموعه
۲۲- د داستانونو مجموعه
۲۳- مجلسي شاعران.
او نور...[1]

## ۶- پوهاند صدیق الله رښتین:

[1] پښتانه شعرا، پنځم ټوک، ۱۲۰۰-۱۲۰۳ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهاند صدیق الله رښتین د پښتو ادب یو لوی خدمتګار اوعالم دی. رښتین صاحب زیاته موده د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد پاتې شوی او زموږ د ځوان نسل د روزنې لپاره یې د یادونې وړ هلې ځلې کړي دي. د استاد رښتین اثار په دې ډول دي:

۱- پښتانه شعرا: دویم ټوک.

۲- پښتو کلي لومړی لیار ښوونکی.

۳- پښتو کلي شپږم سمستر

٤- د پښتو ادب تاریخ.

۵- پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه.

٦- د پښتو لومړی ګرامر (فارسي)

۷- نوی ژوند: ( د پښتونستان په باره کې)

۸- د پښتنو مجاهدې: (تاریخي اثر)

۹- د مومند عبدالحمید دېوان.

۱۰- د پښتو قیصې.

۱۱- پښتونیار.

۱۲- د میوند هنداره: (ژباړه)

۱۳- دهند سفر.

١٤- د خوشال خټک بازنامه.

۱۵- دمعارف د دویم او درېیمو ټولګیو قرائت.

١٦- د معارف د شپږم ټولګي دینیات.

۱۷- د پښتونستان واقعات: (رساله).

۱۸- پښتو ادبیات: (رساله)

۱۹- پښتو نثر.

۲۰- د پښتو ادب درې مشهورې کورنۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱- د پښتو او سانسکریت نژدېوالی.

۲۲- پښتو ژبښودنه.

۲۳- نومیالي شاعران.

۲٤- ادبي اوتاریخي سمونې.

۲۵- گرامري اصطلاحات.

۲٦- دیني هنداره: (له عربي نه ژباړه)

۲۷- د خوشال طب نامه: (چاپونه،کتنه او سمونه)

۲۸- د حمید نیرنگ عشق: ( چاپونه، کتنه او سمونه).

۲۹- د میا شرف عروض: (چاپونه، کتنه او سمونه).

۳۰- پښتنې مېرمنې: (ډرامه، ناچاپ).

۳۱- د ژوند وظیفې: (ترجمه، ناچاپ)

۳۲- ځلاندې پلوشې: (ترجمه، ناچاپ).

۳۳- د پښتو اشعارو قسمونه: ناچاپ

۳٤- پښتو خېړنه: ناچاپ

۳۵- د ننگرهار او قطغن سفر: ناچاپ

۳٦- د پښتونستان مقالې: ناچاپ

۳۷- د معارف د دویم ټولگي پښتو قرائت: ناچاپ.

۳۸- د ژوند سندره: ناچاپ

۳۹- د مصر سفر: ناچاپ.

٤۰- د شوروي اتحاد سفر: ناچاپ.

٤۱- د قلمي نسخو د څېړنې لار: ناچاپ

٤۲- پښتو پېژندنه: ناچاپ

٤۳- روښان ستوري: ناچاپ

٤٤- سبک پېژندنه: ناچاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۵- د هېواد ننداري: ناچاپ

۴۶- نوميالي پوهان: ناچاپ

۴۷- پښتني لارښود: ناچاپ

۴۸- د هند کتابخاني: ناچاپ

۴۹- د پښتو قلمي نسخې: ناچاپ

۵۰- د مهتمم پېژندنه: ناچاپ

۵۱- د خپلواکۍ هڅې: ناچاپ

۵۲- د پښتو تاريخي څېړنه: ناچاپ

۵۳- تاريخي ليکونه: ناچاپ

۵۴- د فکر پلوشې: ناچاپ

۵۵- د شعرونو مجموعه: ناچاپ

۵۶- پښتو گرامر: ناچاپ، دوه ټوکه کې.

۵۷- خوږه وږمه: ناچاپ

۵۸- نړۍ وال کنفرانسونه: ناچاپ

۵۹- رنگارنگ گلونه: ناچاپ

۶۰- د پښتو نثر هنداره: چاپ.[۱]

## ۷- اکاډميسين پوهاند عبدالشکور رشاد:

استاد عبدالشکور رشاد د هېواد له نومياليو پوهانو څخه يو پوه دی. ډېره موده د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانگې د استاد په توگه پاتې شوی دی او زموږ د اوسني ادبي بهير زيات ليکوال د استاد له پوهنيزو وړانگو څخه برخمن شوي دي. دا دی دلته د استاد د پښتو اثارو يادونه کوو:

[۱] اوسني ليکوال: عبدالروف بېنوا، لومړی ټوک.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**((۱- لودي پښتانه: پښتو ټولنه، ۱۳۳٦ل کال چاپ.**

**۲- د تولستوي درې نکلونه: ژباړه، د هېواد ورځپاڼې له خوا پر ۱۳۳۹ کال کې چاپ.**

**۳- د زړه وینې: شعرونه، ۱۳۷۰ل کال چاپ.**

**٤- د بېلتون غږ: ناچاپ.**

**۵- لاله: ناچاپ**

**٦- روڼې اوښکې: ناچاپ**

**۷- ملحد شاهي او ملاشاهي: شعرونه، ناچاپ.**

**۸- پښتو قرائت: د (۱۱) ټولګي لپاره، د ښوونې او روزنې وزارت له خوا چاپ شوی دی.**

**۹- پښتو قرائت: د (۱۲) ټولګي لپاره، د ښوونې او روزنې وزارت له خوا چاپ شوی دی.**

**۱۰- د احمدشاه بابا د شهنامې تحشیه او تعلیق.**

**۱۱- د قیصه خوانۍ خونړۍ پېښه: د سرحدونو چارو وزارت له خوا چاپ شوی دی.**

**۱۲- مکتبي قاموس چې له (٦-۱۲) ټولګي پورې د ښوونځیو د پښتو کتابو د پنځو او شپږو زرو لغاتو تشریح کوي.))**[1]

**۱۳- ډیلی د پښتنو په وخت کې: ۱۳۳۹ ل کال چاپ.**

**۱٤- دامیر خسرو دهلوي هندي شاعري: ۱۳۵۳ل کال**

**۱۵- دخیرالبیان په سریزه کې درې مقالې: ۱۳۵۳ل کال**

**۱٦- دخیرالبیان لغتونه: په ۱۲۲ مخونو کې د ۱۳۵۳ل کال چاپ.**

**۱۷- د دولت لواڼي د دېوان سریزه: د ۱۳۵۳ل کال چاپ.**

---

[1] اوسنی لیکوال، لومړی ټوک.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸- د واصل روښاني د څو شعرونو سريزه او سموونه، د ۱۳۵۳ل كال چاپ.

۱۹- پاڼي نې، ابنت او هيايي او په هغه كې پښتو كلمې، د ۱۳۵٤ ل كال چاپ.

۲۰- گيتانجلي سريزه په ۱۰٤ مخونو كې د ۱۳۵٤ل كال چاپ.

۲۱- دتاج سريزه: د ۱۳۵٤ل كال چاپ.

۲۲- د گولډن شتت د فرهنگ سريزه، د ۱۳۵٦ل كال چاپ

۲۳- د گلشن روه سريزه، په ۱۹۲ مخونو كې د ۱۳۵٦ل كال چاپ.

۲٤- د احمدشاه بابا د څو اشعارو د پښتو شرحې سريزه، د ۱۳۵٦ل كال چاپ.

۲۵- د احمدشاه بابا د دېوان غورچاڼ د ۱۳۵۷ل كال چاپ

۲٦- بديع: درسي كتاب د دارالمعلمين له خوا پر ۱۳۵۹ل كال كې چاپ شوی دی.

۲۷- د پښتو تجديدونو تاريخچه، په ۷٤ مخونو كې د ۱۳۵۹ل كال چاپ.

۲۸- د ابن سينا د مخارج الحروف پښتو ژباړه.

۲۹- د اسماالحسنی سريزه، د ۱۳۵۹ل كال چاپ.

۳۰- د څمكنو ميا عمر، د ۱۳٦۰ل كال چاپ.

۳۱- د حاجي جمعه باركزي د دېوان سريزه او لغتنامه د ۱۳٦۱ل كال چاپ.

۳۲- پر افغانستان او هند برتانوي څو خبرې، د ۱۳٦۱ل كال چاپ.

۳۳- د پټې خزانې فرهنگ.

۳٤- درباره ظفرنامه اكبري و ناظم ان، د ۱۳٦۵ل كال چاپ.

۳۵- لس مقالې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳٦- سوبهیاش چند رابوس.

## د استاد ناچاپ اثار:

۱- پښتانه شعرا (په اردو کې): په دغه اثر کې هغه په خټه پښتانه شاعران معرفي شوي، چې په اردو ژبه یې شعرونه ویلي دي، په دغه اثر کې (۳۸۳) تنه شاعران راغلي دي.

۲- پښتانه شعرا: (په فارسي ژبه کې) په دغه اثر کې (۲۰۰) تنه شاعران معرفي شوي دي.

۳- ایا؟ ، په دغه اثر کې هغه تېروتنې په گوته شوي، چې هغه په پښتو او فارسي ادبیاتو او تاریخ کې د پاملرنې وړ دي.

٤- غالب جنگ نواب احمدخان بنگښ او د هغه کورنۍ.

۵- د پښتني قومونو او قبایلو په باب یاداښتونه، په ۲۰۰ مخونو کې.

٦- مستشرقین: په دغه اثر کې (۲۰۰) ختیځپوهان چې د افغانستان پښتو او فارسي ژبو په باب یې څېړنې کړي، معرفي شوي دي.

۷- امین الملک گل محمدخان غوریاخېل بابړ او د هغه کورنۍ (چې د استاد له نیکونو څخه دی).

۸- ملي قهرمان غازي محمداکبرخان.

۹- سوري پښتانه (لکه لودي پښتانه چې مخکې مو یاد کړل).

۱۰- د کندهار دمدرسو تدریسي نصاب.

۱۱- حضرت ابوبکرصدیق(رض) په پښتو ژبه، ۱٤۰ مخونو کې.

۱۲- په زړه فارسي او اوستا کې پښتو کلمې (د ماسترۍ دورې لپاره).

۱۳- د کندهار زیارتونه.

۱٤- ادبي قاموس: دغه اثر شپږ ټوکه دی:

لومړی ټوک: (۱۰۰۰) مخه.

دویم ټوک: (۵۰۰) مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېیم ټوک: (۱۰۰۰) مخه

څلورم ټوک: (٤٧٠) مخه

پنځم ټوک: (٤٨٠) مخه

شپږم ټوک: (۹۲) مخه، چې تراوسه هم ترلاس لاندې دی.

۱۵- جغرافیایي یادښتونه: دغه اثر دوه ټوکه دی.

۱٦- د کندهار تاریخي یادښتونه: په دوه ټوکه کې:

لومړی ټوک: تر مغولو دمخه د کندهار په باب.

دویم ټوک: تر مغولو وروسته د کندهار په باب.

۱۷- د احمدشاهي عصر نومیالي، په دوه ټوکه کې:

لومړی ټوک: هغه برخه ده، چې د احمدشاهي شاهنامې د تعلیقاتو په نامه راغلي دي.

دویم ټوک: له احمدشاهي شاهنامې پرته نور نومیالي دي.

۱۸- پښتانه مشاهیر: دا اثر درې ټوکه دی:

لومړی ټوک: (۱۵۰) مخه، دویم ټوک(۲۰۰) مخه او درېیم ټوک تر لاس لاندې دی.

۱۹- د طریقت شجرې: د هغو طریقو په باب دی، چې په افغانستان او پښتنو کې مشهورې دي.

۲۰- نسبي شجرې: دغه شجرې څلور ټوکه دي:

لومړی ټوک: په هندوستان کې د پښتنو نوابۍ او مشهورې کورنۍ.

دویم ټوک: د سدوزیو پاچهانو او شهزاده ګانو په باب.

درېیم ټوک: د محمدزیو پاچهانو او شهزاده ګانو په باب.

څلورم ټوک: د پښتنو قومونو په باب عمومي شجرې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۱- سل متله په اوو ژبو: دغه اثر په څلورو ټوکو کې تراوسه کښل شوی دی. دغه متلونه، په پښتو، فارسي، عربي، روسي، انګرېزي او اردو ژبو لیکل شوي دي.

۲۲- دوه زره (۲۰۰۰) پښتو متله په روسي ژبه.

۲۳- د خوشال فرهنګ: دغه اثر په اوو ټوکو کې دی:

لومړی ټوک: طب نامه، دویم ټوک: بازنامه، درېیم ټوک: رباعیات او قطعات، څلورم ټوک: دستارنامه، پنځم ټوک: غزلیات او قصاید، شپږم ټوک: رباعیات او قطعات، اووم ټوک غزلیات او قصاید.

۲٤- د پټې خزانې فرهنګ دویمه برخه.

۲۵- د ګلشن روه لغتنامه.

۲٦- د خیرالبیان لغتنامه.

۲۷- د فرهنګونو په باب: په دغه اثر کې ټول هغه فرهنګونه چې په ختیز کې کښل شوي دي، معرفي شوي :

_ پښتو فرهنګونه د الفبا په ترتیب.

_ پارسي فرهنګونه د الفبا په ترتیب.

_ عربي فرهنګونه د الفبا په ترتیب.

_ ترکي فرهنګونه د الفبا په ترتیب.

_ هندي فرهنګونه د الفبا په ترتیب.

۲۸- بدیع: په (۲۷۱) مخونو کې.

۲۹- بیان: په (۳۱۷) مخونو کې.

۳۰- قافیه: په (۳۰۰) مخونو کې.

۳۱- عروض: په دوو ټوکو کې، لومړی ټوک (۷٦۷) او دویم ټوک (۳۵۰) مخونو کې.

۳۲- معاني: په (۳۸۳) مخونو کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۳- نقد: د پښتو، پارسي او عربي ادبیاتو په تاریخي او علمي برخو کې په (۲۹۳) مخونو کې.**

**۳٤- په گلشن روه کې د بابوجان منتخباب نثر نه دی (دپوهاندی اثر).**

**۳۵- لوی احمدشاه بابا د خلکو له نظره)). [1]**

**۳٦- د کارنامو مېرمنې، ناچاپ.**

## ۸- حبیب الله تږی نیازی:

**حبیب الله تږی یوه ټاکلې او یوه د یادونې وړ موده د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانگې د استاد په توگه پاتې شوی دی.**

### پښتو اثار یې په دې ډول دي:

**۱- ژبه خپله سرته پرېږدئ: د کارنل پوهنتون د پروفیسور ښاغلي جان هال تالیف دی، چې استاد تږي ترجمه کړی، خو چاپ شوی نه دی.**

**۲- د شعرونو یوه مجموعه: چاپ شوې نه ده.**

**۳- د لیک تاریخ او تحول: په متفرق ډول په کابل مجله کې چاپ شوی دی.**

**٤- معاصر افغاني ادب: ډېره مختصره برخه یې د ۱۳۳۹ل کال په کابل کالنۍ کې خپره شوې ده.)) [1]**

## ۹- پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار:

**پوهاند دوکتور مجاور احمدزیار د هېواد له مخکښو لیکوالو او وتلو ژبپوهانو څخه دی. استاد د خپل ژوند یوه زیاته برخه د کابل پوهنتون د**

---

[1] خالق رشید، قلم جریده، ۱۳۷۰ل کال د لیندۍ ۳۴-۳۵ گڼه، ۵-۷ مخونه.

[1] اوسنی لیکوال، عبدالروف بېنوا، لومړی ټوک، ۱۹۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګه کې د استاد په توګه تېره کړې ده او تر اوسه یې یو زیات شمېر اثار او لیکنې د هېواد په دننه او بهر کې خپرې شوي دي، دلته یې د ځانګړو اثارو یادونه کوو:**

**۱- نومترنګونه یا اسمي ترکیبونه: په الماني ژبه د سویس د برن پوهنتون د ۱۹۷٤م کال خپرونه.**

**۲- پښتو پښویه (ګرامر): د کابل پوهنتون د ۱۳٦۲ل کال خپرونه.**

**۳- پښتو ویي پوهنه (لکزیکولوژي): د کابل پوهنتون د ۱۳٦۰ل کال خپرونه.**

**٤- پښتو لیکلار: د ننګرهار د بایزید روښان پوهنتون د ۱۳٦۰ل کال خپرونه.**

**۵- زنداني نغمې: د شعرونو مجموعه، ۱۳۵۹ل کال چاپ.**

**٦- سوزونه او سازونه: شعري غونډ، د چاپ او خپرونې د دولتي کمېټې ریاست، ۱۳٦٤ل کال چاپ.**

**۷- اور او وینې: د شعرونو غونډ، د چاپ او خپرونې د دولتي کمیټې ریاست، ۱۳٦٤ل کال چاپ.**

**۸- وینه او مینه: شعري غونډ، د ملي دفاع وزارت، د ۱۳٦۰ل کال خپرونه.**

**۹- نظر کوتاهی بر زبان وزبان شناسي: د کابل پوهنتون ګستنر چاپ ۱۳٦۳ل کال.**

**۱۰- پښتانه او ورونه ملیتونه: ژباړه، د چاپ او خپرونې د دولتي کمېټې ریاست، ۱۳٦٦ ل کال.**

**۱۱- مینه د زړه په وینه: رمان، ۱۳۷۲ل کال چاپ، لاهور.**

**۱۲- اندو ژوند: شعري طرحې او څلوریځې، د سرحدونو چارو وزارت، ۱۳٦۸ل کال چاپ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳- پښتو-دري فرهنګ: د برلین د پوهنتون په غوښتنه کښل شوی دی.
۱٤- ګلکڅونه: شعري غونډ، د افغانستان د لیکوالو د انجمن خپرونه، ۱۳٦۷ل کال.
۱۵- الماني- پښتو فرهنګ: د برلین پوهنتون په غوښتنه کښل شوی دی.
۱٦- د پښتو الماني ژباړیز پرابلمونه ( په الماني ژبه، ناچاپ
۱۷- سپین غر: شعري غونډ، ناچاپ.
۱۸- کارپوهه (رارګولوژي): برخه برخه په فولکور مجله کې خپره شوې ده.
۱۹- ټولنوال ریالیزم: برخه برخه په هنر او ژوندون مجلو کې خپور شوی دی.
۲۰- پښتو ګړدودونه (لهجې): په وږمې مجله کې چاپ شوی دی.
۲۱- پښتو آر پوهه (اتمولوژي): تر ((ژ)) پورې په وږمه مجله کې خپره شوې ده.
۲۲- پښتو بدلمېچ یا پښتو شعر څنګه جوړېږي؟: د اطلاعاتو او کلتور وزارت، ۱۳٦۹ل کال.
۲۳- لیکونه ( په پښتو،دري،الماني او انګلیسي) ناچاپ.
۲٤- ځان پېښې ( په پښتو، دري، الماني او انګلیسي، ناچاپ
۲۵- د هېواد پر ١٤ ژبو (پښتو، دري، ازبکي، ترکمني، بلوڅي، براهوي، ورخي، پشه یي، پاراسوني، کتي (نورستان)، ګوجرو، ((ګجراتي)) تیرو ((تیراهي))، شغني، کشمونډي، ۱۰٤ ټوکه ګړدودي (لهجوي څېړنې چې د سویس د ملي فونډ له خوا د یونسکو په سپارښتنه د افغانستان ( د ژبپوهنې اتلس) په نامه په برن پوهنتون کې ترکار لاندې دي.
۲٦- پښتو، دري، پشه یي فولکوري څېړنې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۷- د سبرونو نڅا: شعري غونډ، د سید جمال الدین افغان فرهنګي ټولنه، ۱۳۷۲ل کال.

۲۸- ګلوییونه: شعري غونډ، د سید جمال الدین افغان فرهنګي ټولنه، ۱۳۷۲ل کال.

۲۹- رزم و بزم: شعري غونډ، د سید جمال الدین افغان فرهنګي ټولنه، ۱۳۷۲ل کال.

۳۰- څڅواکي: شعري غونډ، د سید جمال الدین افغان فرهنګي ټولنه، ۱۳۷۲ل کال.

۳۱- نندارلیک (ډرامه): پر ۱۳۵۷ل کال کښل شوې، خو چاپ او نندارې ته نه دی وړاندی شوی.

۳۲- د پټې خزانې لیکزیکي شننه (پټه خزانه، لغوي خزانه)، ۱۳۷۵ل کال چاپ.

۳۳- د هندو اروپایي ژبو لرغونی تاریخ ( له الماني سرچینو څخه ژباړه)، دکابل مجلې د ۱۳۷۰ل کال د ۳ ګڼې برابر ۳٤ مخونه یې نیولي دي.

۳٤- د پټې خزانې الماني ژباړه او ګرامري شننه، دا ژباړه د فرانسوي افغانپوهاند (کیفر) لپاره شوې ده.

۳۵- سیندګی (جیبي قاموس) ۱۳۷۳ل کال چاپ.

۳٦- تر ۱۱۰۰ زیاتې علمي، ادبي، تحقیقي او ژورنالیستیکي لیکنې په پښتو، دري، انګلیسي او الماني د هېواد دننه او د باندې خپرې شوي دي. دغه راز یې یو لړ ادبي اثار ( د شوروي اتحاد) په څو ژبو او مجاري، الماني، انګلیسي، بلغاریایي او داسې نورو ژبو اړول شوی دی.

د ژوندون مجلې د ۱۳٦۷ل کال د میزان او عقرب د ګڼې له مخې د زیار صیب د اثارو شمېر په دې ډول ښوول شوی دی: داثارو ټول شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې له مقالو پرته ادبي (۱۰) اثره، علمي (١٦) اثره، تحقيقي (١٠٤) اثره، مجموعي (۱۳۰) اثره.))[1]

## ۱۰- پوهاند محمد رحيم الهام:

استاد محمد رحيم الهام د علومو اکاډمۍ د غړي او يوه زياته موده د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د دري او پښتو څانگو د استاد په توگه پاتې شوی دی. استاد خپلې زياتې ليکنې په دري ژبه کړي دي. موږ به يې دلته د پښتو اثارو پېژندنه وکړو:

۱- په اسلامي تصوف يوه مقدمه، ناچاپ.

۲- د تشريحي ژبپوهنې مقدمه، په کابل مجله کې چاپ شوې ده.

۳- د ژبڅېړنې مقدمه، په کابل، وږمه او رهبر مجلو کې خپره شوې ده.

٤- د پښتو ژبې فونيمي جوړښت تحليل (د پوهندوی علمي رتبې ته) ناچاپ.

۵- د پښتو گرامر طرح: په وږمه مجله کې چاپ شوی دی.

٦- د پښتو گرامر، هربرت پنزل، ژباړه، د ادبياتو پوهنځي له خوا چاپ شوی دی.

۷- تطبيقي ادب: (پښتو ژباړه) په کابل مجله کې چاپ شوی دی.

۸- د پښتو او انگرېزۍ مقابله يي فونيم پېژندنه ( د ماسټرۍ تيزس) ناچاپ.

۹- د سانسکريت د دوو ټوټو شعرونو ترجمه او تحليل، ۲ ټوکونو کې، ناچاپ.

۱۰- ادبي مسالې: د ليکوالو انجمن خپور کړی دی.

---

[1] استاد زيار د پښتني فرهنگ يو ځلاند ستوری. محمد اسماعيل يون، ۱۳۷۲ل کال، لاهور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱- پښتو خجخښړنه، یرژي پیچکا، ژباړه، ۱۳٦۸ل کال چاپ.

## ۱۱- پوهاند سید بهاوالدین مجروح:

استاد مجروح پر ۱۹۵۹م کال د ادبیاتو پوهنځي رئیس او هم پر ۱۹۷۰م کال د دویم ځل لپاره د نوموړي پوهنځي رئیس و. همدا راز استاد مجروح زیاته موده د ادبیاتو پوهنځي د تاریخ او فلسفې د څانګې استاد پاتې شوی دی.

د مجروح صیب پښتو اثار دادي:

۱- د جبر او اختیار ډیالکټیک: د ادبیاتو پوهنځي چاپ.

۲- ځانځاني ښامار: د ادبیاتو د پوهنځي چاپ.

۳- د مور پیغام: پښتو منظومه، د پېښور چاپ.

٤- دښمن وپېژنئ: یوه تحلیلي لیکنه ده، د پېښور چاپ.

۵- نا اشنا سندرې: د پېښور چاپ.

استاد مجروح په دري او فرانسوي ژبو هم یو شمېر اثار لیکلي دي.

## ۱۲- پوهاند عبدالرزاق زهیر:

عبدالرزاق زهیر هم یو وخت د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد پاتې شوی دی، دلته یې د اثارو یادونه کوو:

۱- د اروپا ادبي لیکونه: پر ۱۳۳۵ل کال یې تالیف کړی او ادبیاتو پوهنځي ته یې سپارلی دی.

۲- د پښتو ادب سخنوران: پر ۱۳۳٦ل کال یې د مطبوعاتو په کالنیو جایزو کې د خوشال خټک جایزه اخیستې.

۳- د انشا فن او لیکوالي: په عرفان مجله کې، پر ۱۳٤۱ل کال خپور شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٤- پښتو ادب: پر ۱۳٤۱ل کال په پوهنې مجله کې خپور شوی دی.**

**٥- شهلا: ټولنیز- اقتصادي داستان، ۱۳۳۲ل کال په انیس کې خپور شوی دی.**

**٦- پښتو متلونه: چاپ شوي نه دي.))** [1]

## ۱۳- پوهاند دوکتور محمد حسن کاکړ:

**(( ښاغلی محمد حسن کاکړ هم یو وخت د ادبیاتو پوهنځي د بهرنیو ژبو کوونکو په کورس کې ښوونکی و. دغه لاندې اثار یې لیکلي دي.**

**۱- سود او زیان: ناچاپ**

**۲- د لرغوني یونان ژوند او فکر: ناچاپ**

**۳- پښتو د باندنیو لپاره: ناچاپ**

**٤- د ماکسیم گورگي ادبي نکلونه: (ژباړه) پر ۱۳۳۹ل کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی.**

**٥- د برتانیې سیاسي سیستم: ژباړه، ناچاپ،**

**٦- اوسنۍ سیاسي فلسفې: ژباړه، ناچاپ.))** [1]

## ۱٤- عبدالباري اشنا:

**نوموړی هم (( یو وخت د ادبیاتو پوهنځي استاد پاتې شوی دی تراوسه یې دغه اثر لاسته راغلی دی:**

**۱- ادبیات: پر ۱۳٦٦ل کال په طلوع افغان اوونیزه او هم په ځانګړي ډول خپور شوی دی.))** [2]

---

[1] اوسنی لیکوال، ۲ ټوک، ۱۳٤۱ل کال، ٥۷۱-٥۷۲ مخونه.

[1] اوسنی لیکوال، دریېم ټوک، ۱۳٤۲ل کال، ۱۰۲۹-۱۳۷۰ مخونه.

[2] اوسنی لیکوال، دریېم ټوک، ۱۳٤۲ل کال، ۱۰۲۹-۱۰۷۷ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## گل محمد نورزی:

د زيات وخت لپاره د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانگې استاد پاتې شوی دی، دغه لاندې اثار يې لاسته راغلي دي:

۱- د مغلو په دولت کې د وروستيو کودتاوو تاريخ: له روسي ژبې نه پښتو ته ژباړل شوی او په دوو ټوکو کې پر ۱۳۵۲ل کال، د کابل پوهنتون له خوا چاپ شوی دی.

۲- د درانيانيو امپراتوري: ژباړه، ۱۳۵۸ل کال، پښتو ټولنه.

۳- مفتش: د گوگول د يو اثر ژباړه،د ليکوالو ټولنه.

٤- د ماشومانو قيصې: د ماشومانو لپاره دوه واړه کتابونه دي چې له روسي ژبې څخه ژباړل شوي او دواړه په شوروي کې چاپ شوي دي.

٥- خوشال پېژندنه: درسي نوټ دی، لنډيز يې په گستز ډول چاپ شوی دی.

٦- د پښتو ادبياتو ژانرونه: ناچاپ

۷- ادبي مکتبونه: ناچاپ

## سعدالدين شپون:

سعدالدين شپون د ادبياتو پوهنځي فارغ التحصيل دی او هم په نومورې پوهنځي کې استاد پاتې شوی دی، تراوسه يې دغه اثار ليکلي دي:

۱- پرخه په ترخه: د شعرونو جونگ، په پېښور کې چاپ شوی دی.

۲- د بنگي غاړه ((ناول)): په سپېدې مجله کې يې ځينې برخې خپرې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- لیکوالي: ۱۳۵۲ل کال، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې له خوا.

## نور احمد شاکر:

استاد نوراحمد شاکر څه دپاسه پنځه ویشت کاله د ادبیاتو پوهنځي استاد پاتې شوی دی. دغه اثار یې تراوسه چاپ شوي دي:

۱- بدیع او بیان: د لسمو او دولسمو ټولګیو لپاره، د ښوونې او روزنې د وزارت له خوا، پر ۱۳٦٥ل کال خپور شوی دی.

۲- ژبنۍ څېړنې: د ادبیاتو پوهنځي له خوا چاپ شوی دی.

## _ پاینده محمد زهیر:

یوه موده د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د استاد په توګه پاتې شوی دی. اثار یې په لاندې ډول دي:

۱- د افغانستان د معارف تاریخ: پاینده محمد زهیر او ډاکتر محمدیوسف علمي په ګډه ترتیب کړی او پر ۱۳۳۹ل کال د پوهنې وزارت له خوا چاپ شوی دی.

۲- پښتو خبرې: کابل، ۱۳۱٤ل کال چاپ.

۳- د پښتولغات: (٤۰۰ لغات)، ۱۳۱٤ ل کال چاپ.

٤- د پښتو زر متلونه: کابل مطبوعات،۱۳۱۷ل کال چاپ.

٥- د پښتو یو زر لنډۍ.

٦- پښتو فولکوري مجموعه: (په درېیو رسالو کې)، ۱۳۲۷ل کال چاپ.

۷- د پښتوادب او انشاء: ادبیاتو پوهنځی، ۱۳۲٥ل کال.

۸- د پښتو تحلیلي او مقایسوي ګرامر.

۹- پښتو منثورې ادبي ټوټې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰- د پښتنو يرغل: (ژباړه).**

**۱۱- په پښتو ژبه د معارف وزارت لپاره د ځينو درسي کتابونو لکه: (فزيک، کيميا، جغرافيه، رياضي، هندسې، دينياتو، تاريخ او بيولوژي ژباړه.**

**۱۲- د راډيو درسونه: په پښتون ژغ مجله کې چاپ شوي دي.**

**۱۳- د پښتو رهنما: په نوي طرز د پښتو زده کوونکو لپاره.**

**۱٤- د پښتو بول چال: په پښتو او فارسي په نوي طرز.**

**۱۵- د کليوالو ښوونځيو لومړی کتاب: په نوي طرز، ۱۳۲۸ل کال، کابل.**

**۱٦- د پښتو قرائت: د لومړيو ښوونځيو لپاره.**

**۱۷- د پښتو قرائت: د منځنيو ښوونځيو لپاره.**

**۱۸- د پښتو قرائت: د ثانوي ښوونځيو لپاره.**

**۱۹- د دايرة المعارف د رسالو ژباړه: ټولې ۱٤ رسالې.**

**۲۰- د مرحوم مستغني د کلياتو تدوين او د سريزې ليکنه.**

**۲۱- د پښتو الفباء: د مجلې او تحليل په اصولو د لومړيو ټولگيو لپاره پر ۱۳۲٦ل کال ليکل شوې ده.))[1]**

## محمداعظم ایازی:

**محمد اعظم ايازی يو وخت د ادبياتو پوهنځي استاد پاتې شوی دی، پښتو اثار يې دادي:**

**۱- قواعد پښتو: په کابل کې چاپ شوی دی.**

**۲- الفاروق: له اردو څخه ژباړل شوی، ناچاپ.**

---

(۱) اوسنی ليکوال دويم ټوک، ۵۵۸-۵۵۹ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- رياضي او جغرافيه له لومړي څخه بيا تر څلورم جماعته پورې چاپ شوي دي.

٤- الانسان: له اردو څخه ژباړه، ناچاپ.

۵- لس زره لغاتونه: کابل چاپ.

٦- د پښتو گرامر: چاپ. [۲]

## طاهر علمي:

د ادبياتو پوهنځي استاد پاتې شوی دی. اثار يې دادي:

۱- د روښانيانو د تصوف په باب: ناچاپ.

۲- د پښتو معاصر ادب: لکچر نوټ.

## نصرالله سوبمن:

نوموړی هم يوه موده د ژبو او ادبياتو پوهنځي استاد پاتې شوی. اثار يې دادي:

۱- د لرې شرق او جنوبي شرقي اسيا جغرافيه: پر ۱۳۵۲ل کال د کابل پوهنتون له خوا چاپ شوی دی.

۲- د کابل سلطنت بيان (ژباړه): د پښتو څېړنو بين المللي مرکز، ۱۳۵۹ل کال چاپ.

۳- دراني احمدشاه: ژباړه، د علومو اکاډمۍ، ۱۳٦٦ل کال چاپ.

## عبدالروف خپلواک:

پوهندوی خپلواک د يو وخت لپاره د ادبياتو پوهنځي د تاريخ څانگې استاد پاتې شوی دی.

---

[۲] اوسنی ليکوال، لومړی ټوک، ۱۱۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱- د پرمختیایي هېوادونو ټولنیز، اقتصادي او سیاسي تحلیل: له الماني ژبې څخه ژباړه، ۱۳۵۸ل کال چاپ.**

## نورمحمد غمجن:

**ارواښاد نورمحمد غمجن زیاته موده، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد و. نوموړي استاد د خپل لنډ عمر په بهیر کې د یادونې وړ ادبي فعالیتونه ترسره کړي دي، دلته یې د پښتو اثارو یادونه کوو:**

**۱- د پشه یانو د محیط ژبې، خلکو، د ځینو شاعرانو او متلونو معرفي (مونوګراف).**

**۲- د پشه یانو شفاهي ادبیات.**

**۳- د پښتو او پشه یي ژبو د ګرامر نږدېوالی (د پوهنملی علمي ترفیع لپاره).**

**٤- پشه یي-پښتو قاموس ( چې تر لسو زرو زیات لغتونه لري.)**

**۵- د پشه یانو متلونه (ناچاپ).**

**٦- د پشه یانو پیداوار (ناچاپ).**

**۷- د پشه یانو د جغرافیایي محیط معرفي (ناچاپ).**

**۸- د پشه یي ژبې د ادبیاتو تاریخ.**

**۹- پشه یي کیسې، روایتونه، (ناچاپ).**

**۱۰- د پښتو شعرونو مجموعه. (ناچاپ)**

**۱۱- په پښتو ژبه مقالې، (ناچاپ)**

**۱۲- پښتو خواږه نثرونه. (ناچاپ)**

**۱۳- د پشه یي ژبې تاریخچه: (ناچاپ)**

**۱٤- د نورستاني ژبې تاریخچه: (ناچاپ)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵- د روښاني دورې منظوم متون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د درېیم ټولګي لپاره درسي کتاب. ګستسنر چاپ.

۱٦- د روښاني دورې منظوم او منثور ادب تاریخ: د پښتو د دویم ټولګي لپاره (د دوکتور زېورالدین په ګډون).

۱۷- پښتو متلونه، راټولونه. [1]

## سرمحقق محمدصدیق روهي:

کاندید اکاډمیسین سرمحقق محمدصدیق روهي یوه زیاته موده د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد و. د استاد اثار په لاندې ډول دي:

۱- د څېړنې لارښود: د ۱۳۵٤ل کال چاپ.

۲- پښتو په بېلګه یي جملو کې: د ۱۳۵۷ل کال چاپ.

۳- ادبي څېړنې: ۱۳٦۰ل کال چاپ.

٤- د ژبښودنې مسلې: د ۱۳٦۰ ل کال چاپ.

۵- د ادب او فلکور په باره کې: د ۱۳٦۵ل کال چاپ.

٦- فلکور پېژندنه: د ۱۳٦۵ل کال چاپ.

۷- پښتو معاصر ادبیات: دوه جزوې: د ۱۳٦٦ل کال چاپ.

۸- د روښاني غورځنګ ماهیت: ناچاپ

۹- شعر پېژندنه:

۱۰- د نصیحت اکسیر: یوعلمي، انتقادي اثر، ناچاپ.

۱۱- د دولسم ټولګي لپاره د ادبیاتو تاریخ: ناچاپ.

[1] پښتانه شعرا، پنځم ټوک، عبدالله بختاني خدمتګار، ۱۲۴۴-۱۲۴۲ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بایزید اڅک:

ډېره زیاته موده د ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد پاتې شوی دی.

۱- پښتو فونولوژي او مورفولوژي (پوهنملی رتبې لپاره): ژباړه.

## دوکتور زېورالدین زېور:

پوهنوال دوکتور زېورالدین زېور هم ډېره زیاته موده د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد پاتې شوی دی، دغه اثار یې تراوسه پورې لیکلي دي:

۱- پښتو ادبیاتو تاریخ: د پښتو څانګې د دویم ټولګي لپاره، کابل پوهنتون، ۱۳۵۹ل کال چاپ.

۲- پښتو ادبیاتو تاریخ اوسنۍ دوره: د پښتو څانګې څلورم ټولګي لپاره، کابل پوهنتون، ۱۳٦۰ل کال چاپ.

۳- پښتو معاصر ادبیات: د ماسترۍ دورې د محصلینو لپاره، کابل پوهنتون، ۱۳٦٥ل کال چاپ.

٤- انګېرنې: یو درسي کتاب دی، چې پر ۱۳٦٤ل کال چاپ شوی دی.[1]

٥- پولاد څنګه کلکېده: په دوو ټوکو کې د نامتو لیکوال استروفسکي د رومان ژباړه، ۱۹۷۷م کال د مسکو چاپ.

٦- پښتو ادبیاتو تاریخ: د پښتو څانګې د درېیم ټولګي لپاره، کابل پوهنتون، ۱۳۵۷ل کال.

---

[1] دا لیکوال او دا خبرې: افضل ټکور، ۱۳۲۲ل کال، ۲۲۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- د ښاغلي ډزه: دا د مختار عوزوف رومان دی، چې په پښتو ژباړل‌ی شوی، مسکو چاپ.

۸- د ادبياتو اصطلاحي قاموس: كابل پوهنتون خپور كړی دی.

## ډاكتره زرغونه زېور:

نوموړې هم له ډېرو كلونو راپدېخوا د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانګې استاده پاتې شوې او تراوسه د پوهندوی علمي رتبې ته رسېدلې ده، دغه اثار يې كښلي دي:

۱- د پښتو ژبې ګرامر، لومړی برخه (فونولوژي) لومړی چاپ، ۱۳٦۱ل كال، دويم چاپ، ۱۳٦۳ل كال ګستنر .

۲- پښتو ژبه كې د لرې او برې پښتونخوا د لهجې خصوصيات او د اجمل ختک ژبه، د ډاكترۍ تېزس، ناچاپ.[۱]

۳- د پښتو ژبې نحوه: (ګستنرچاپ).

## پوهندوی عبدالخالق رشيد:

استاد عبدالخالق رشيد تر ۱۳۵۸ل كال راهيسې د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد دی. دغه لاندې اثار يې تراوسه پورې ليکلي دي:

۱- پښتني لنډۍ: دا د پښتو لنډيو يوه كوچنۍ رساله ده، چې چاپ شوې ده.

۲- د پښتو ژبې تاريخي متون: يو درسي كتاب دی، چې په ګستنر ډول چاپ شوی دی.

---

[۱] دا ليكوال دا خبرې: افضل ټكور، ۱۳۲۲ل كال، ۲۰۳ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- ډولۍ: د لنډو کیسو مجموعه ده، پر ۱۳٦۷ل کال د لیکوالو انجمن خپره کړې ده.**

**٤- د پښتو هنري کره کتنې تاریخچه: پر ۱۳٦۹ل کال د لیکوالو انجمن خپور کړی دی.**

**۵- د خطر زنګ: ناچاپ.**

**٦- مخکښه هیله: ناچاپ.**

**۷- مرسله (ناول):**

**۸- بارانونه او سېلابونه: ناچاپ.[1]**

**۹- استوګن او نا استوګن ادبي بهیر: ( د پوهندوی علمي ترفیع لپاره)، ناچاپ.**

**۱۰- کنګل ژمی، کنګل لاسونه (د لنډو کیسو مجموعه) دغه مجموعه د خوشال فرهنګي ټولنې له خوا پر ۱۳۷۳ل کال په پېښور کې چاپ شوې ده.**

## پوهنوال جلال الدین:

**استاد جلال الدین خان هم له ډېرو کلونو راهیسې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد دی، دغه اثار یې تراوسه پورې لیکلي دي:**

**۱- پښتو مثنوي: ناچاپ، ( د پوهندوی علمي ترفیع لپاره)**

**۲- دپښتو نظم شکلي ډولونه، (د پوهنوالۍ علمي ترفیع لپاره).**

## پوهنمل محمد رفیق:

[1] دا لیکوال او دا څېړې، افضل ټکور، ۱۳۲۲ل کال، ۱۹۴ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنمل محمد رفیق له ۱۳۵۸ل کال راهیسې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد دی. تراوسه یې دغه لاندې اثار لیکلي دي:

۱- وزن پوهنه، درسي نوټ، ۱۳٦۱ل کال، ګستتنر.

۲- د بدیع علم څېړنه او اوډنه، درسي نوټ، ۱۳٦۲ل کال، ګستتنر.

۳- ادبي فنون، درسي نوټ، ۱۳٦۳ل کال، ګستتنر.

٤- قافیه، درسي نوټ، ۱۳٦۲ل کال ګستتنر.

۵- د عبدالحی حبیبي د ژبنیو ادبي چاپي اثارو څېړنه، د پوهنیارۍ تیزس.

٦- د پښتو اوسني شعر سبک، د پوهنملۍ علمي ترفیع لپاره.

۷- د پښتو هنري نثر.

## بخت میر وزیري:

بخت میر وزیری د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد دی. تراوسه یې دغه لاندې لیکنې کړې دي:

۱- د وزیرو د لهجې مقایسه له معیاري لهجې سره (د ماسترۍ تیزس).

۲- د وزیرستان د وزیرو پېژندل، ( د لیسانس دورې مونوګراف).

## محمد صابر خویشکی:

نوموړی هم له شلو کلونو راهیسې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد دی او تر دې وخته د پوهندوی علمي رتبې ته رسېدلی دی.

۱- په پښتو ادبیاتو کې ریالیزم. (د ماسترۍ تیزس).

## بریالی باجوړی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوهنمل بریالی باجوړی له ۱۳٦۰ل کال راهیسې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتوڅانګې استاد دی. تراوسه یې دغه اثار لیکلي دي:**

**۱- تښتېدلی خوب: د لنډو کیسو مجموعه ده، چې پر ۱۳٦٤ل کال د لیکوالو انجمن خپره کړې ده.**

**۲- منزلونه: (تدوین او سریزه) د مصري خان خاطر د شعرونو مجموعه، ۱۳٦٥ل کال چاپ.**

**۳- ګیلې: د لنډو کیسو دویمه مجموعه، د قومونو او قبایلو وزارت له خواچاپ شوې ده.**

**٤- سندریز شفقونه: (تدوین او سریزه) د سیف الرحمن سلیم د شعرونو مجموعه ده، چې پر ۱۳٦٥ل کال د چاپ او خپرولو د دولتي کمېټې له خوا چاپ شوې ده.**[1]

**۵- د خاطر د شعر څېړنه او تحلیل له ژوند لیک سره ( د پوهنیارۍ تیزس).**

**٦- د کوزې پښتونخوا د معاصر شعر څانګړنې ( د پوهنملۍ تیزس).**

**۷- زما د کلي لېوني بادونه ( د خان بهادر حسرت د شعرونو مجموعه).**

**۸- د ناپښتو څانګو لپاره د پښتو ژبې ګرامر او ادب، د آصف بهاند په ګډون.**

## احمد شاه ویښ:

**احمدشاه ویښ له ۱۳٦٤ کال راهیسې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد دی. تراوسه د پوهنملۍ علمي رتبې ته رسېدلی دی، دا یې اثار دي:**

[1] دا لیکوال او دا څېړې، افضل ټکور، ۱۳۲۲ل کال، ۵۹-۲۰ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- پښتو ازاد شعر، د پوهنیارۍ علمي رتبې ته، ناچاپ.
۲- د شعرونو لومړۍ مجموعه، ناچاپ.
۳- د شعرونو دویمه مجموعه، ناچاپ.
٤- د شعرونه درېیمه مجموعه، ناچاپ او هم یو شمېر نورې ادبي ټوټې او طنزونه.

## لطیف بهاند:

پوهنیار لطیف بهاند هم د یو وخت لپاره د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد پاتې شوی دی. نوموړي تراوسه پورې دغه اثار کښلي دي:

۱- ناول د ماه رخې: ( د راحت زاخیلي)، دغه اثر پر ۱۳٦۳ل کال کابل پوهنتون خپور کړی دی.

۲- د اشرف خان هجري منتخبات: دا د هجري د شعرونو منتخب دی، چې پر ۱۳٦٤ل کال د اشرف خان هجري د علمي سیمینار په ویاړ د قومونو او قبایلو وزارت د نشراتو او فرهنګي چارو د ریاست له خوا چاپ شوی دی.

۳- د رڼا ناوې: د کوزې پښتونخوا د نامتو شاعرانو د شعرونو منتخب، لیکوالو انجمن، ۱۳٦٥ل کال.

٤- د پښتو ژبې ګرامر: دغه اثر پر ۱۳٥۹ل کال د کابل پوهنتون له خواچاپ او خپور شوی دی.

٥- څلور اورني کلونه: دا د کورنیو چارو وزارت له خوا پر ۱۳٦٥ل کال خپور شوی دی.

٦- د خیرالبیان منتخبات: پر ۱۳٦۱ل کال چاپ شوی دی.

۷- ریالیزم او د ریالیزم ضد (پښتو ژباړه) په ګستنر ډول د قومونو او قبایلو وزارت د نشراتو او فرهنګي چارو د ریاست له خوا چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۸- پل: د شعرونو مجموعه ده، چې پر ۱۳۶۹ل کال د لیکوالو انجمن له خوا چاپ او خپره شوې ده.**

**۹- ماتې کړۍ: د کوزې پښتونخوا د نامتو شاعرانو د ازاد شعر منتخب، ناچاپ.**

**۱۰- د هنر ټولنپوهنه: ژباړه، ناچاپ.**

**۱۱- لس مقالې: د مقالو مجموعه، ناچاپ.[۱]**

## محمد آصف بهاند:

**محمد آصف بهاند له ۱۳۶۵ل کال راهیسې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې استاد دی. تراوسه یې دا لاندې اثار لیکلي دي:**

**۱- د پښتو ژبې ګرامر، دویم کتاب، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د ناپښتو څانګو درسي کتاب.**

**۲- د پښتو ژبې ګرامر، دریم کتاب، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د ناپښتو څانګو درسي کتاب.**

**۳- د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې منظوم متون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې درسي کتاب، ۱،۲،۳ ګستسنر چاپ.**

**۴- د کوچنیانو ادبیات: د لیکوالو انجمن له خوا پر ۱۳۳۶ل کال کې چاپ شوی دی.**

**۵- شعر د پښتو د کلاسیکو شاعرانو له نظره: د پوهنیارۍ تیزس، ناچاپ.**

**۶- پښتو ادبیات له ۱۲۵۰ څخه تر ۱۲۹۷ پورې، د لیسانس مونوګراف، ناچاپ.[۱]**

---

[۱] دا لیکوال او دا خبرې، افضل ټکور، ۱۳۲۲ل کال، ۷۵-۷۲ مخونه.

[۱] دا لیکوال او دا خبرې، ۱۳۲۲ل کال، ۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژبو او ادبیاتو پوهنځي فارغان او د هغوی کتابونه

## زلمی هېوادمل:

زلمی هېوادمل پر ۱۳۵۲ل کال د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي د ژورنالیزم له څانګې څخه فارغ شوی دی او تراوسه پورې یې دغه لاندې اثار پښتو ادب ته وړاندې کړي دي.

### الف- لیکنې: زاړه متون:

۱- حکایت رسول: د ارزاني روښاني یوه منظومه رساله ده، چې له څرګندونو او یادونو سره پر ۱۳۵۵ل کال د وږمې مجلې له خوا چاپ شوې ده.

۲- د قلندر دېوان: ترتیب، سریزه او تعلیقات، ۱۳۵٦ل کال چاپ، پښتو ټولنه.

۳- د سره غره ګلونه: د جانان هوتک او جان محمد کاکړ منتخبات او اثار دي ( له حبیب الله رفیع سره یې په ګډه ترتیب کړی دی) د زېږي کالنۍ لومړۍ ګڼه، ۱۳۵۷ل کال چاپ.

٤- اسماء الحسنی: میافقیرالله جلال ابادی (تدوین او د متن لارښود) ۱۳۵۹ل کال، کابل پوهنتون.

۵- فواید فقیرالله: (تدوین)، ۱۳۵۹ل کال، کابل پوهنتون.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- د حاجي جمعه بارکزي دېوان: (سریزه او تدوین)، ۱۳۶۰ل کال چاپ، پښتو ټولنه.

۷- د خانګل خلیل څو شعرونه: (تدوین، سریزه، لغتنامه او شرح)، ۱۳۶۰ل کال، پښتو ټولنه.

۸- حسن و دل، مسافر مروت، (مقدمه، لغتنامه او فهرست)، ۱۳۶۱ل کال، پښتو ټولنه.

۹- د عبدالحمید مومند دېوان: (سریزه، لغتنامه او فهرست)، ۱۳۶۱ل کال، پښتو ټولنه.

۱۰- د خوشال منظومه بازنامه: (سریزه او فهرست)، ۱۳۶۲ل کال، پښتو ټولنه.

۱۱- د خوشال فراقنامه: (شرح او تعلیق)، ۱۹۸۴م کال، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي چاپ.

۱۲- نافع المسلمین، نور محمد علي: (سریزه او تعلیق) ۱۳۶۳ل کال، د کلتور دولتي کمېټې چاپ.

۱۳- د مست منتخبات: د ملا مست له سلوک الغزات او نورو رسالو څخه د ده د اثارو انتخاب ( له سریزې او تعلیقاتو سره)، ۱۳۶۴ل کال د علومو اکاډمۍ له خوا چاپ شوی دی.

۱۴- د سکندر خان خټک شمایل نامه او پند نامه: (سریزه، شرح او تعلیقات)، ۱۳۶۴ل کال.

۱۵- د شمس الفلک دېوان: پښتو اکاډمۍ پېښور، ۱۹۹۳م کال.

۱۶- د خوشال پارسي منثوره بازنامه: (سریزه، ترتیب، شرح او تعلیقات)، ۱۳۶۵ل کال، خراسان مجله.

۱۷- رابعه او بکتاش: ۱۳۷۱ل کال، پېښور چاپ.

۱۸- د واصل روښاني دېوان: (تدوین)، ۱۳۶۵ل کال چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹- رستم او سهراب: د ملا نعمت الله نوښاري د رستم او سهراب د متن چاپ ته برابرول له سریزې سره، ۱۳٦۱ل کال، ناچاپ.

۲۰- د عبدالرحیم هوتک دېوان: د موجودو معلومو خطي او چاپي منتخبو نسخو له مخې چاپ ته تیارول.

۲۱- هدایت المبتدي: د پیرمحمد کاکړ د هدایت المبتدي د متن چاپ ته تیارول له سریزې او شرحې سره، ناچاپ.

۲۲- یاقوت السیر: د محقق العلما عبدالحق خروټي د یاقوت السیر د لومړي ټوک چاپ ته تیارول، پر ۱۳٦۰ل کال چاپ شوی دی.

## ب- د معاصرو ادبیاتو پر مجموعو کار:

۱- د غلام محی الدین افغان افکار او اثار: د سراج الاخبار له پاڼو څخه د غلام محی الدین افغان د اثارو راټولونه، د ده ژوند، اثارو افکارو په باب له یوې څېړنې سره، ۱۳٦۰ل کال، د کابل پوهنتون چاپ.

۲- د عقیدت گلونه: د ارواښاد محمد نواز خټک پر مزار د یوې مشاعرې د نظمونو ترتیب له سریزې سره، ۱۳٦۳ل کال.

۳- داغستان، راحت زاخیلي، (سریزه او راټولونه) د هېواد ورځپاڼې له خوا، ۱۳٦۳ل کال ( د عبدالله بختاني خدمتگار مقدمه هم ورسره مله ده).

٤- د غني کلیات: (تدوین)، ۱۳٦٤ل کال، د قومونو او قبایلو وزارت د نشراتو ریاست.

٥- خوشال نامه: د مرحوم سرفراز خان عقاب د څلورو لیکنو مجموعه له سریزې او تعلیق سره چاپ ته برابرول، پر ۱۳٦٥ل کال چاپ شوی دی.

٦- د کره کتنې ډولونه، د لیکوالو انجمن، ۱۳۷۰ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ج- د کتابپوهنې او ادبي تاريخ په باب اثار:

۱- فرهنگ زبان و ادبیات پښتو، ۱ ټوک، ۱۳۵٦ل کال چاپ، د ښوونې او روزنې وزارت.

۲- د محمد هوتک ژوند او مزار: ۱۳٦۲ل کال، د بايزيد روښان پوهنتون.

۳- بيدياني گلونه: (تذکره)، ۱۳٦۲ل کال چاپ، پښتو ټولنه.

٤- د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې: د هند په کتابتونونو کې د پښتو د اثارو يوه بيليوگرافي ده، له سريزې او تعليقاتو سره، ۱۳٦۳ل کال، پښتو ټولنه.

٥- فرهنگ زبان و ادبيات پښتو، ۲ ټوک، ۱۳٦٥ل کال، د چاپ او خپرولو دولتي کمېټه.

٦- فرهنگ زبان و ادبيات پښتو، ۳ ټوک،کابل چاپ.

۷- په هند کې د پښتو ادبياتو د ايجاد او ودې پړاوونه، ۱۳۷۳/۱۳۷۰ل کال چاپ، پېښور.

۸- د پښتو د ادبي تاريخ خطي منابع: ( د تاشکند، دوشنبې، ماسکو، لیننگراد او ايران) په کتابتونونو کې د پښتو خطي فهرست، د ۱۳٦٦ل کال په نشراتي پلان کې شامل و.

۹- د پښتو شاعرانو تذکره: هېوادمل صيب وايي: (( دا تذکره اوس زما تر کار لاندې ده، نوم مې ورته نه دی خوښ کړی، د چاپ او خپرونو د دولتي کمېټې د ۱۳٦٦ل کال په نشراتي پلان کې شامل وه)).

۱۰- د جاج په تله: د قومونو او قبايلو وزارت د نشراتو د رياست له خوا، ۱۳٦٥ل کال چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د- د مقالو مجموعې چې ښاغلي هېوادمل راټولې کړې دي:

**۱- د پښتو ټولنې تاريخچه: پر ۱۳۵٦ل کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی.**

**۲- تاريخي پلټنې: پر ۱۳۵۷ل کال دعلومو اکاډمۍ له خوا چاپ شوی دی.**

**۳- اميرعلي شېر نوايي: د نوموړي پر ژوند او اثار د مقالو مجموعه، ۱۳٦۰، پښتو ټولنه.**

**٤- د افغان ياد: د غلام محی الدين افغان د مړينې د شپېتمې کاليزې په درنښت د مقالو مجموعه، ۱۳٦۰ل کال، کابل پوهنتون.**

**۵- شيخ بوستان بړيڅ: د شيخ د څلورم سوم تلين په مناسبت مقالې، ۱۳٦۰ل کال، د اطلاعاتو او کلتور وزارت.**

**٦- د الفت ياد: د استاد الفت د پنځم تلين په مناسبت د مقالو مجموعه، ۱۳٦۱ل کال، د قبايلو وزارت خپرونه.**

**۷- د زرغونې ياد: د مقالو مجموعه (تدوين)، ۱۳٦۲ل کال، پښتو ټولنه.**

**۸- د محمد هوتک ياد: د محمد هوتک د نمانځنې د غونډې په وياړ د مقالو مجموعه، ۱۳٦۲ل کال، پښتو ټولنه.**

**۹- د نوري ياد: د محمدگل نوري د لسم تلين په وياړ د مقالو مجموعه، ۱۳٦۲ل کال، پښتو ټولنه.**

**۱۰- د راحت ياد: د نوموړي د زوکړې دسلمې کليزې په وياړ د مقالو مجموعه، ۱۳٦۳ل کال، کابل پوهنتون.**

**۱۱- د استاد ياد: د علامه لوی استاد پوهاند حبيبي د مړينې په مناسبت د مقالو مجموعه، ۱۳٦٤ل کال، پښتو ټولنه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲- د امیر کروړ یاد: د امیر کروړ سوري د دولس سوه پنځوسم تلین په مناسبت مقالې، ۱۳٦٤ل کال چاپ.

۱۳- د ننګونو شاعر: د ارواښاد محمد اکبر خادم د زوکړې د سلمې کالیزې په مناسبت مقالې، ۱۳٦٤ل کال چاپ.

۱٤- غني او اجمل: د نومورو د زوکړې دکلیزو په مناسبت مقالې، د قبایلو وزارت، ۱۳٦٥ل کال چاپ.

۱٥- تاریخ مرصع د څېړنو په بهیر کې: کابل پوهنتون، ۱۳٦٦ل کال چاپ.

۱٦- د حمزه یاد: د قومونو او قبایلو وزارت د نشراتو او فرهنګي چارو ریاست، ۱۳٦۹ل کال چاپ.

۱۷- د عبدالحمید مومند یاد: د پښتو څېړنو نړیوال مرکز، ۱۳٦٥ل کال چاپ.

## ح- د نورو پر اثارو مقدمې:

۱- فولکوري مرغلرې: مولف یې عبدالکریم پتنګ دی او هېوادمل پرې یوه اوږده سریزه کښلې، ۱۳٥٦ل کال چاپ.

۲- د خلکوتجربې: دا اثر هم ښاغلي پتنګ لیکلی چې هېوادمل صیب پرې اوږده سریزه کښلې، کابل پوهنتون، ۱۳٥۷ل کال.

۳- پښتو روزنه: د استاد بېنوا اثر دی، د هېوادمل (۳۸) مخه مقدمه یې په پیل کې راغلې ده، ۱۳٥۷ل کال چاپ.

٤- نومورکي مورخین: د لوی استاد حبیبي صاحب اثر دی، د هېوادمل پر سریزه، کابل پوهنتون، ۱۳٥۹ل کال چاپ.

٥- د غرونو څوکې: مولف یې عبدالکریم پتنګ دی، په (٥٠) مخونو کې هېوادمل پرې سریزه کښلې ده، کابل پوهنتون، ۱۳٥۹ل کال چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦- غرنۍ سندرې: د ښاغلي (م،ع،غ) اثر دی، هېوادمل پرې (٧٠) مخه سريزه کښلې ده، پښتو ټولنه، ١٣٦٠ل کال.

٧- قصې او افسانې: د سليمان لايق اثر دی، هېوادمل پرې سريزه کښلې ده، پښتو ټولنه، ١٣٦١ل کال چاپ.

٨- د ښکارندوی غوري پر قصيده مشاعره: د استاد الفت ټولونه ده، هېوادمل پرې سريزه کښلې، ١٣٦٢ل کال چاپ.

٩- اريايي، پارسي، پښتو ويرنې: د استاد بېنوا اثر دی، هېوادمل پرې سريزه کښلې، پښتو ټولنه، ١٣٦٢ل کال چاپ.

١٠- د رضواني منتخب نثرونه: ښاغلي ځدراڼ ټول کړي دي، هېوادمل پرې سيزه کښلې، پښتو ټولنه، ١٣٦٢ل کال.

١١- د خوشال په باب د خارجي پوهانو اثارو ته ژوره کتنه: د استاد کامل مومند د يو اثر پښتو ژباړه ده، چې ډگروال کريمي ترسره کړې ده، هېوادمل پرې سريزه کښلې ده، پښتو ټولنه، ١٣٦٣ل کال چاپ.

١٢- اميرکروړ سوري اور چند پښتو شاعران: د اردو رساله ده ښاغلي متين چاپ ته تياره کړې ده، هېوادمل پرې سريزه کښلې ده، د قومونو قبايلو وزارت، ١٣٦٣ل کال چاپ.

**يادونه:** پر ٤،٥،٦،٧، نومره کتابونو چې د هېوادمل کومې سريزې راغلي، بې نومه چاپ شوي دي، پر ١١،١٠،٩،٨ او ١٢ نومرو کتابونو چې کومې سريزې راغلي په پای کې د اميرکروړ سوري د بين المللي سيمينار د علمي سکرتريت امضا ليدل کېږي دا ځکه چې ددغه سيمسينار علمي سکرتر ښاغلی هېوادمل و.

١٣- د هجري منتخبات: لطيف بهاند تدوين کړی، هېوادمل پرې سريزه کښلې، ١٣٦٤ل کال چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱٤- د زنځیرونو شاعر: زرین انځور لیکلی او هېوادمل پرې سریزه کښلې، پښتو ټولنه، ۱۳٦٤ل کال چاپ.

۱۵- د پټې خزانې پر ځلورم چاپ یوه مقدمه ( د کتابپوهنې)، ۱۳۵۷ل کال، کابل پوهنتون.

د هېوادمل صیب د سریزو یادون مې ځکه وکړ چې دده سریزې هم د یوې رسالې یا کتابګوټې، په انډول او تناسب دي.

## ط- د شفاهي ادبیاتو او فولکور په باب لیکنې:

۱- په ولسي شعرونو کې اړونه: دا رساله په فولکور مجله کې پرله پسې نشر شوې ده، ۱۳۵٦ل کال.

۲- پښتو سندرې د تاریخ د یوې منبع په توګه: د دې رسالې څو برخې متفرقې چاپ شوي دي، ۱۳۵٦ل کال.

۳- ولسي سندرې: لومړی ټوک یې پر ۱۳٦۱ل کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی، په دې مجموعه کې د ۲۲۰ په شاوخوا کې سندرې له مقدمې او تعلیقاتو سره راغلي دي.

٤- په پښتني فولکور کې د تصنیف مساله: ددې رسالې لنډیز د جاج په تله نومي اثر کې چاپ شوی دی.

۵- د پښتني فولکور ټولونې رېړې: ددې رسالې لنډیز ( د افغان یاد) نومي مجموعه کې چاپ شوی دی.

٦- پښتني هنداره: د ختیز ولایت (لغمان) دودونه دي ( له زانګو تر هدیرې) چاپ ته تیاره ده.

۷- ولسي سندرې: دویم ټوک، ۱۳٦٦ل کال چاپ.

۸- پښتو ځانتني ادب او موسیقي: دا د مرحوم جلالي یوه رساله ده، چې هېوادمل پرې یوه هر اړخیزه مقدمه او حاشیه لیکلې او اصلي متن یې هم ایډېټ کړی او چاپ ته تیار کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ی- ژباړې:

۱- د پټې خزانې د درېیم چاپ د مقدمې پښتو ژباړه: لوی استاد حبیبي په پارسي کښلې او هېواد مل په پښتو ژباړلی او پر ۱۳۵٤ل کال د پټې خزانې د درېیم چاپ په سریزه کې چـــاپ شوې
ده او ژباړه یې پر ۱۳۵۷ل کال د څلورم چاپ د سریزې په توګه راغلې ده، کابل پوهنتون چاپ.

۲- د بوعلي سینا ژوند لیک: دا د (زنده گی نامه بوعلي سینا) پښتو ژباړه ده، چې لوی استاد حبیبي یې پارسي متن ترتیب کړی او پښتو ژباړه یې هېوادمل کړې ده، اصل پارسي متن او پښتو ژباړه یې پر ۱۳۵۹ل کال د علومو اکاډمۍ له خوا چاپ شوې ده.

۳- د میا فقیرالله ژوند لیک: دا رساله هم د (شناخت نامهٔ فقیرالله) پښتو ژباړه ده، پارسي متن یې استاد حبیبي تهیه کړی دی. ۱۳۵۹ل کال، کابل پوهنتون چاپ.

٤- امیرکروړ او دده کورنۍ: دا رساله د (امیر کروړ و دودمان او) پښتو ژباړه ده، چې لوی استاد حبیبي په پارسي ژبه کښلې ده، دا ژباړه له پارسي متن او انګرېزي ژباړې سره یوځای پر ۱۳٦۱ل کال د علومو اکاډمۍ له خوا چاپ شوې ده.

۵- متن پوهنه: هېوادمل د متن پوهنې او نسخه پوهنې د بېلابېلو څانګو په باب له اردو ژبې څخه تر شلو زیاتې مقالې راژباړلي دي، چې په کابل مجله، عرفان مجله، کتاب مجله او زېري جریده کې نشر شوي دي.

٦- دملتان لودي شاهي کورنۍ: د لوی استاد حبیبي یوه اردو رساله ده، چې هېوادمل یې لنډیز په پښتو ژباړلی دی.

۷- خوشال خان خټک: دا ژباړه د ننګرهار مجلې په څو ګڼو کې خپره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸- د شوروي د مطبوعاتو سیستم: د پوهاند حبیب الرحمن هاله د پوهندوی اثر، پښتو ژباړه. د لیسانس دورې مونوگراف، ۱۳۵۲ل کال.

## ک- مقالې:

هېوادمل تراوسه پورې تر دوو سو زیاتې اخباري او تحقیقي مقالې کښلي، چې دغو لاندې خپرونو کې خپرې شوي دي: اصلاح، هېواد، جمهوریت، ژوندون، (پخوانی، اوسنی) وږمه، پلوشه، اریانا، کابل، زېری، ننگرهار مجله، کندهار مجله، پکتیا مجله، کتاب، عرفان، فولکور او خراسان.

## ل- تخلیقي اثار:

۱- بېوزلي گوجر (لنډه کیسه) وږمه مجله، ۱۳۵۰ل کال، ٦ گڼه.

## م- د کتابونو چاپ.

کومو موسسو ته چې هېوادمل کتابونه چاپ کړي دي دادي:

۱- بایزید روښان پوهنتون: درې کتابونه.

۲- د اطلاعاتو او کلتور وزارت او کلتور کمېټه: درې کتابونه.

۳- د قومونو او قبایلو وزارت: دېرش کتابونه.

٤- پښتو ټولنه او د علومو اکاډمی: تر اتیاوو زیات کتابونه او رسالې.

۵- کابل پوهنتون: دېرش کتابونه.

٦- د هېواد ورځپاڼه: دوه کتابونه.

۷- د چاپ او خپرونې دولتي کمېټه: دوه کتابونه.

ټول تر (۱۲۰) څخه زیات بېلابېل عنوانه کتابونه.

## ن- د جغرافیا په باب څېړنې:

۱- د لغمان اقتصادي جغرافیا: دا رساله پر ۱۳۵۱ل کال د ننگرهار ورځپاڼې د یوې میاشتې په گڼو کې پرله پسې نشر شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د لغمان تاريخي جغرافيا: دا رساله پر ١٣٦٤ل کال د کابل پوهنتون د اجتماعي علومو د پوهنځي له خوا چاپ شوې ده.[۱]

۳- د ننگرهار تاريخي جغرافيه: پر ١٣٦٧ل کال د کابل پوهنتون له خوا چاپ شوې ده.

## خالد روښان:

نوموړی د ادبياتو پوهنځي فارغ دی او د لسو په شاوخوا کې اثار يې ليکلي دي. روښان خپل اثار په انگرېزي او تر هغې وروسته په پارسي ژبه ليکلي دي. دلته به يې د پښتو اثر يادونه وکړو:

۱- د شېرشاهي پېښه (پښتو ډرامه).[۲]

## محمد حسن ساپی:

محمد حسن ساپی هم د ادبياتو پوهنځي ليسانسه فارغ التحصيل دی او ددغو اثارو نومونه يې موږ ته د مطبوعاتو له لارې رارسېدلي دي:

۱- سلطان شهاب الدين غوري: ( د ليسانس دورې مونوگراف).

۲- دتاريخ په باره کې: د ادبياتو پوهنځي له خوا په ۱۳۷مخونو کې پر ۱۳۳۸ل کال چاپ شوی.

۳- برېښنا: د برېښنا په باب يوه رساله ده، چې له انگرېزي څخه ژباړل شوې ده.[۱]

---

[۱] دا ليکوال او دا خبرې، افضل ټکور، ۴۴۹-۴۲۳ مخونه.

[۲] اوسني ليکوال، لومړی ټوک، ۵۱۳مخ.

[۱] اوسني ليکوال، دويم ټوک، ۲۰۴ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محمد ظاهر افق:

دی هم د ادبیاتو پوهنځي فارغ التحصیل دی او تراوسه یې دا لاندې اثار لیکلي دي:

۱- لیک نښې:

۲- هنر او ښکلا پېژندنه:

## سلیمان لایق:

ښاغلی لایق هم د ژبو او ادبیاتو پوهنځي فارغ دی، اثار یې دادي:

۱- کېږدۍ: د شعرونو مجموعه، چاپ.

۲- چونغر: د شعرونو مجموعه، چاپ.

۳- ساحل: د شعرونو مجموعه، چاپ.

٤- یادونه او درمندونه: د شعرونو مجموعه، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، ۱۳۵۷ل کال.

## عبدالرحیم هاتف:

ښاغلی هاتف هم له ژبو او ادبیاتو پوهنځي څخه فارغ شوی دی، پښتو اثار یې دادي:

۱- د حمید ماشوخېل احوال او اشعار: ناچاپ.

۲- د روزنې د نفسیاتو اساس: ناچاپ.[1]

## عبدالقدوس تندر:

د ادبیاتو له پوهنځي فارغ شوی دی او د (مینې سوغات) په نوم یې د لنډو کیسو یوه مجموعه لیکلې ده، چې تراوسه چاپ شوې نه ده.

---

[1] اوسني لیکوال، دویم ټوک، ۱۳۵۰-۱۳۵۱ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محمد اسماعیل زاهل:

د ادبیاتو له پوهنځي څخه فارغ شوی دی او د (کلي ژوند) په نوم یې یو اثر لیکلی دی، چې تراوسه چاپ شوی نه دی.

## محمد زرین انځور:

پر ۱۳۵٦ل کال کې د ژبو او ادبیاتو د ژورنالیزم له څانګې څخه فارغ شوی او دا لاندې اثار یې لیکلي دي:

۱- دا سرونه او دا رسمونه: د لنډو کیسو مجموعه، ۱۳٦۳ل کال، د لیکوالو انجمن.

۲- د غزل په اننګو کې: (تدوین او سریزه)، ۱۳٦٤ل کال، د قومونو او قبایلو چارو وزارت د نشراتو او فرهنګي چارو ریاست.

۳- د شریف دېوان: راټولونه او سریزه، ۱۳٦۳ل کال، کتاب مجله.

٤- اشرف خان هجري د زنځیرونو شاعر: ۱۳٦٤ل کال، د علومو اکاډمي.

۵- اباسین کیسې کوي: (تدوین او سریزه)، ۱۳٦٤ل کال، د لیکوالو انجمن.

٦- شعرونه او نقدونه: ۱۳٦۵ل کال، د لیکوالو انجمن.

۷- د افغانستان د ژورنالیزم مخکښان: ۱۳٦۵ل کال، د چاپ او خپرونې دولتي کمېټه.

۸- د مهدي داستاني کلیات: (تدوین او سریزه) د لیکوالو انجمن.[1]

۹- تروږمۍ: د لنډو کیسو مجموعه، پېښور چاپ.

۱۰- د ثور په تراژیدي کې ادبیات:...

---

[1] دا لیکوال او دا خبرې، ۳۳-۳۴ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱- زموږ د کلي پانې: د لنډو کیسو مجموعه، پېښور چاپ.

۱۲- د پښتو کیسو تاریخ: په دوه ټوکه کې، ناچاپ.

## نورالله ولسپال:

نوموړی هم د کابل پوهنتون له ادبیاتو پوهنځي څخه پر ۱۳۵۱ل کال فارغ شوی، اثار یې دادي:

۱- د خوشال کلیات: ۳،۲،۱ ټوکونه تیارول او چاپ ته برابرول (ګډه پروژه) لومړی ټوک یې پر ۱۳۵۸ل کال چاپ شوی دی.

۲- د عبدالقادر خان خټک دېوان. [۲]

## عزیزي تحریک:

عزیز تحریک د ادبیاتو پوهنځي له انګلیسي څانګې څخه فارغ شوی دی او تراوسه یې دغه لاندې اثار لیکلي دي، خو د مجموعې په شکل نه دي چاپ شوي:

۱- رنګینه شعرونه، د شعرونو مجموعه.

۲- اوښتون: د شعرونو مجموعه.

۳- انقلابي تحفه: د شعرونو مجموعه.

٤- د اوښکو باران: د شعرونو مجموعه. [۱]

۵- الینګاري شاعران: (ادبي تذکره).

---

[۲] دا لیکوال او دا خبرې، ۴۱-۴۲ مخونه.

[۱] دا لیکوال او دا خبرې، ۹۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شاه محمود حسین:

شاه محمود حسین د ادبیاتو پوهنځي له تاریخ څانگې نه فارغ شوی دی، نوموړي په پښتو او دري ژبو یو شمېر اثار لیکلي، پښتو اثار یې په دې ډول دي:

۱- د هیلو غوټۍ: ( د شعرونو مجموعه)، ۱۳۶۳ل کال، د لیکوالو انجمن.

## بسم الله حقمل:

نوموړی هم د ادبیاتو پوهنځي فارغ التحصیل دی، اثار یې په دې ډول دي:

۱- لنډې کیسې: دا رساله د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا خپره شوې ده.

۲- د ځارندوی غږ: دا رساله پر ۱۳۶۲ل کال کې د ځارندوی مجلې له خوا چاپ شوې ده.

۳- حماسه هستوونکي: دا رساله هم د ځارندوی مجلې له خوا خپره شوې ده.

٤- د خوست د خلکو اتنوگرافیک جوړښت، ناچاپ.

٥- ورکه دې وي وسله او جنگ: ناچاپ.

٦- هغه انسان چې د ځان دښمن دی: ناچاپ.

۷- د شعرونو مجموعه: ناچاپ.[۱]

---

[۱] دا لیکوال او دا خبرې، ۱۲۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبدالرحیم ځدراڼ:

ځدراڼ هم د ادبیاتو پوهنځي فارغ دی، تراوسه یې یو شمېر اثار لیکلي دي:

۱- په خارج کې پښتو څېړونکي: ۱۳٦۵ل کال، پښتو ټولنه.

۲- روهیله پښتانه: ۱۳۵۷ل کال، پښتو ټولنه.

۳- په ملي ازادي ښوونکو نهضتونو کې د ښځو برخه: پر ۱۳۵٤ل کال په کابل مجله کې په پرله پسې توگه چاپ شوې ده.

٤- دشعر او شاعرۍ په باب یې یوه رساله هم پر ۱۳۵٦ل کال د کابل مجلې له لارې چاپ شوې ده.

۵- شېرشاه افغان: دغه رساله پر ۱۳۵۷ل کال په زېري کالنۍ مجله کې چاپ شوې ده.

٦- د شرق د تمدن تاریخ: پر ۱۳٦٤ل کال یې ژباړلی او د ادبیاتو پوهنځي د درسي کتاب په توگه د کابل پوهنتون له خوا چاپ شوی دی.

۷- د ادب مطالعه: دا د لیکوال ژباړل شوی اثر دی، د قومونو او قبایلو وزارت چاپ.

۸- د رضواني منتخب نثرونه: د افغانستان د علومو اکاډمۍ چاپ.

۹- پښتو-پښتو تشریحي قاموس، گډه پروژه، د افغانستان د علومو اکاډمۍ چاپ.

۱۰- پښتو کلي، درېیم، څلورم او پنځم ټوک کې یې هم له یو درې کسیز هئیت سره کار کړی دی.

۱۱- خوشال او د هغه ادبي کورنۍ: ژباړه، د کابل مجلې له لارې چاپ شوی دی.

۱۲- د ملا لتاړ دېوان: په کابل کې چاپ شوی دی.

۱۳- نژادي توپیر: ناچاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۴- د نړۍ د غوره لیکوالانو او ادبیاتو معرفي: ناچاپ.

۱۵- مادي او معنوي کلتور: ناچاپ.

۱٦- د لنډې کیسې فني او تخنیکي خواوې، پر دې سربېره یې یو شمېر لیکنې او مقالې هم د هېواد په مطبوعاتو کې چاپ شوي دي.[۱]

## سهراب دیدار:

دیدار پر ۱۳۵٦ل کال له پښتو څانگې څخه فارغ شوی دی، اثار یې دادي:

۱- د لنډو کیسو مجموعه، ناچاپ.

۲- د فولکوري کیسو مجموعه، ناچاپ.

۳- ولسي لوبې: ناچاپ.[۱]

## داد محمد راسا:

راسا پر ۱۳٦٤ل کال د ادبیاتو له شپې پوهنځي څخه فارغ شوی دی او د (رڼا استازی) په نوم یې د شعرونو یوه مجموعه خپره شوې ده.

## محمد نعیم سالارزی:

سالارزی پر ۱۳٤٦ل کال له ادبیاتو پوهنځي څخه فارغ شوی دی او دا لاندې اثار یې لیکلي دي:

۱- پښتو-پښتو تشریحي قاموس، گډه پروژه، پنځه ټوکه، ۳ ټوکه چاپ شوی دی.

---

[۱] دا لیکوال او دا څېړې، ۱۲۳-۱۲۴مخونه.

[۱] دا لیکوال او دا څېړې، ۱۷۲مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- شیخ ملي او د ځمکو وېش: ۱۳٦۳ل کال، د قومونو او قبایلو وزارت چاپ.**

**۳- د خوشال فرهنګ: ۱۳٦٥ل کال چاپ.**

**٤- پخوانیو پښتو چاپي دېوانونو کې متلونه او اصطلاحات، د کابل مجلې له لارې په متفرق ډول خپور شوی دی.[۱]**

## محمد اسماعیل سړه بن:

**سړه بن پر ۱۳٤٥ل کال له ادبیاتو پوهنځي څخه فارغ شوی دی او دغه اثار یې تراوسه پورې پښتو ادب ته وړاندې کړي دي:**

**۱- د خوشال رباعیات: چاپ.**

**۲- د دولت لواڼي دېوان، چاپ.**

**۳- د خوشال خټک دېوان لومړی او دویم ټوک، چاپ.**

**٤- پښتو لنډۍ، چاپ.**

**٥- فولکوري طب، چاپ.**

**٦- د خوشال خټک فرهنګ، چاپ.**

**۷- د پښتو ادب په تاریخ کې د اخوند درویزه او دده د پیروانو ادبي مقام، چاپ.**

**۸- د اماني دورې ریفورمونه، چاپ.[۱]**

[۱] دا لیکوال او دا څېړې، ۲۳۰مخ.
[۱] دا لیکوال او دا څېړې، ۲٤۳مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نورمحمد سهیم:

**سهیم پر ۱۳۵۵ل کال د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د ژورنالیزم له څانګې څخه فارغ شوی دی، اثار یې په دې ډول دي:**

**۱- د څراغ ارمان: د لنډو کیسو مجموعه، ۱۳٦٤ل کال، د لیکوالو انجمن.**

**۲- په پښتو لنډو کیسو کې ریالیستیکي افکار، چاپ.**

**۳- څلور مقالې پر فردوسي او شهنامه (ژباړه).**

**٤- د محمد رسول د جغتو د دېوان تحقیقي متن، ناچاپ.**

**۵- د برې پښتونخوا اوسنیو لنډو کیسو ته کره کتنه، ناچاپ.**

**٦- په پښتو اوسني شعر کې د نوښت مسئله، ۱۳٦۹ل کال، د لیکوالو انجمن.[۲]**

## شریفه شریف:

**نوموړې پر ۱۳۵٤ل کال د کابل پوهنتون له ادبیاتو پوهنځي فارغه شوې ده، دغه اثار یې لیکلي دي:**

**۱- د ژوند انځور (د پښتو د نثر او شعر منتخب)، ۱۳۵٦ل کال، پښتو ټولنه.**

**۲- د لنډې کیسې تیوري (ژباړه).[۱]**

---

[۲] دا لیکوال او دا خبرې، ۲۲۲مخ.
[۱] دا لیکوال او دا خبرې، ۲۸۱مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محمد نبي صلاحي:

صلاحي پر ۱۳٦۱ل کال له ادبیاتو پوهنځي څخه فارغ شوی او اثار يې دادي:

۱- نوې ادبي تیوري، پر ۱۳٦۹ل کال د علومو اکاډمۍ له خوا چاپ شوې ده.

۲- ادبي گلشن (شعرونه او مقالې) ناچاپ.

۳- د حافظ کاڼي، د لنډو کیسو مجموعه.

٤- په پښتو شعر کې د انځور مسئله: ناچاپ.[۲]

## فرهاد ظریفي:

ظریفي پر ۱۳۵٦ل کال له ادبیاتو پوهنځي څخه فارغ شوی، اثار يې دادي:

۱- حیات افغاني: لطیف طالبي او ظریفي په گډه ژباړلی، د قومونو او قبایلو وزارت چاپ.

۲- د غازي امان الله خان سقوط، له اردو نه په پښتو ژباړل شوی دی.

۳- د صفاري کورنۍ تر مشرۍ لاندې د افغانستان د خلکو د ازادۍ غوښتلو مبارزه، (رساله) ناچاپ.

٤- همدا ډول يې د پکتیا د دودونو په باب يو څه معلومات راټول کړي دي، چې تراوسه لا چاپ شوي نه دي.[۱]

---

[۲] دا لیکوال او دا خبرې، ۳۰مخ.

[۱] دا لیکوال او دا خبرې، ۳۲۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محمد عیان عیان:

عیان پر ۱۳٤۹ل کال د ادبیاتو پوهنځي د ژورنالیزم له څانګې څخه فارغ شوی دی، اثار یې په لاندې ډول دي:

۱- علمي سوسیالیزم: په پښتو یې ژباړلی او تر ۱۳۵۷کال دمخه چاپ شوی دی.

۲- چپه کبښ: یوه کیسه ده، چې پر ۱۳۵۷ل کال چاپ شوې او په روسي ژبه ژباړل شوې ده.

۳- کوچۍ: د لنډو کیسو مجموعه ده، چې پر ۱۳٦٤ل کال د لیکوالو انجمن له خوا خپره شوې ده.

٤- د ډیالکټیکي ماتریالیزم لنډ کورس په نوم یې یو اثر هم ژباړلی، چې تراوسه چاپ شوی نه دی.[1]

## غوټۍ خاورې:

غوټۍ خاورې پر ۱۳٦۲ل کال د کابل پوهنتون له ادبیاتو پوهنځي څخه فارغه شوې او دا یې اثار دي:

۱- د ننګرهار نکلونه، چاپ.

۲- د پښتو په شفاهي ادب کې شکل او مضمون.[1]

## عاشق الله فریاد:

فریاد پر ۱۳٦٤ل کال د ژبو او ادبیاتو له شپې پوهنځي څخه فارغ شوی دی، اثار یې په دې ډول دي:

۱- ډیوې: د شعرونو مجموعه، د لیکوالو انجمن چاپ.

---

[1] دا لیکوال او دا خبرې، ۳۲۲مخ.
[1] دا لیکوال او دا خبرې، ۳۳۰ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د چاربیتو د پیدایښت او جوړښت په باب یې تحقیقي څېړنه هم کړې ده، چې تراوسه چاپ شوې نه ده.
۳- د لغمان د ځینو شاعرانو شعرونه یې هم راټول او د مجموعې په شکل ترتیب کړي دي.[۲]

## محمداکبر کرگر:

کرگر پر ۱۳۵٦ل کال د ادبیاتو پوهنځي له فلسفې څانګې څخه فارغ شوی دی او تراوسه یې لاندې اثار ټولنې ته وړاندې کړي دي:

۱- کیسې او حماسې (څېړنه او ژباړه)، چاپ.

۲- د اگست یودېرشمه یا بلشویکا: چاپ.

۳- شپېږ: د لنډو کیسو مجموعه، ۱۳٦٤ل کال چاپ.

٤- لیننیزم په تیورۍ او عمل کې (ژباړه) چاپ.

۵- غني د شګو په محل کې: ۱۳٦۵ل کال چاپ.

٦- څو ادبي یادونې، ۱۳٦٦ل کال چاپ.

۷- سینده څه، سینده بهېږه، د لنډو کیسو مجموعه، چاپ.

۸- استتیک مقولې، چاپ.

۹- په حالنامه کې د بایزید روښان عرفاني افکار، چاپ.

۱۰- د ثور انقلاب او د ملي او قبایلي مسایلو مقدماتي څېړنه، ناچاپ.

۱۱- د پښتو ګړنې یا اصطلاحات، ناچاپ.

۱۲- منځنۍ پېړۍ او سکولاستیکي افکار، ناچاپ.[۱]

---

[۲] دا لیکوال او دا څېړې، ۳۲۴-۳۲۷مخونه.

[۱] دا لیکوال او دا څېړې، ۳۵۹مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فضل الهي ګران:

ګران پر ۱۳٦۰ل کال د ادبیاتو پوهنځي له پښتو څانګې څخه فارغ شوی دی، اثار یې دادي:

۱- د هیلو ګودرونه: دشعرونو مجموعه، د لیکوالو انجمن.

۲- د برېښنا پړک: ناچاپ.

۳- افغاني غورځنګ، ناچاپ.

٤- د ننګرهار غږ: ناچاپ.

۵- شنې لوخوړې: ناچاپ.

٦- لګېدلی اور: ناچاپ.

۷- سرې سکروټې: ناچاپ.

۸- د خپګان څپې: ناچاپ.

۹- د پیوستون نغمې: ناچاپ.

۱۰- د ګران شاهیکوټې شاعري (حالنامه).

۱۱- لاسنیوی.

۱۲- د شاهیکوټ دودونه او رواجونه.

۱۳- د پښتنو د تاریخ میتودولوژي.[۱]

## میراحمد ګوربز:

نوموړی پر ۱۳٤۸ل کال له ادبیاتو پوهنځي څخه فارغ شوی او ( د ګوربزو نکلونه) په نوم یې اثر لیکلی، چې د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا خپور شوی دی.

---

[۱] دا لیکوال او دا څېړې، ۳۷۱مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عبدالمتين متين:

متين پر ١٣٤٥ل کال له ادبياتو پوهنځي څخه فارغ شوی او دغه لاندې اثار يې ټولنې ته وړاندې کړي دي:

١- د کامګار خټک دېوان انتقادي متن: ١٣٥٨ل کال چاپ.

٢- د خوشال کليات لومړی ټوک: ١٣٥٨ل کال چاپ.

٣- د خوشال خان خټک سواتنامه.

٤- د خوشال خان خټک دستار نامه.

٥- امير کروړ او چند شاعران، يوه کوچنۍ رساله ده، چې د نوموړي په زيار چاپ شوې ده.[1]

## کمال الدين مستان:

مستان پر ١٣٦٤ل کال د ژبو او ادبياتو له شپې پوهنځي څخه فارغ شوی دی، دغه يې اثار دي:

١- ولسي پانګه: د فرهنګ مجلې له لارې خپره شوې ده.

٢- ولسي شاعران: د هنر مجلې له لارې يې ځينې ولسي شاعران معرفي کړي دي.

٣- د خوږ ژبي شاعر بهايي جان ژوند ليک: د رسالې په شکل چاپ شوی دی.

٤- توفان: دګورکي د لنډو کيسو ژباړه ده، ١٣٦٣ل کال چاپ.

٥- د لمر شغلو ته: د شعرونو لومړۍ مجموعه، چاپ.

٦- د شهادت پاڼې: د شعرونو دويمه مجموعه، چاپ.

٧- زما پوهنځی: د ګورکي د يو اثر ژباړه ده، چې چاپ شوی دی.[1]

---

[1] داليکوال او دا څېرې، ۳۹۸ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نصرالله خان ناصر:

نوموړی پر ۱۳۵۷ل کال د ادبیاتو پوهنځي له پښتو څانګې څخه فارغ شوی دی او (د پښتني فولکور د ترجمو تاریخي سیر ته یوه کتنه) تر نامه لاندې یو اثر لیکلی چې چاپ شوی نه دی.

## نظري اريانا:

له ادبیاتو پوهنځي فارغ شوی دی او تراوسه یې د (لیکوال) په نامه یو اثر په پښتو ژبه ژباړلی دی او چاپ کړی دی.

## تاج محمد ياري:

نوموړی د ژبو او ادبیاتو له شپې پوهنځي څخه فارغ شوی دی او د (ستوری او سیوری) تر نامه لاندې یې د شعرونو یوه مجموعه د لیکوالو د انجمن له خوا چاپ شوې ده.

## سیدالشاه پولاد:

نوموړی پر ۱۳۴۰ل کال د ادبیاتو پوهنځي له پښتو څانګې څخه فارغ شوی دی او د (ښکلاپېژندنه) په نوم یې یوه رساله د زېري جریدې له خوا په متفرق ډول خپره شوې ده.

## نورالله ولسپال:

ولسپال پر ۱۳۵۱ل کال له ادبیاتو پوهنځي څخه فارغ شوی دی او دغه ادبي کارونه یې ترسره کړي دي:

---

(۱) دا لیکوال او دا خبرې، ۳۹۸مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د خوشال کلیات، ۳،۲،۱ ټوک (ګډه پروژه) چې لومړی ټوک یې پر ۱۳۵۸ل کال چاپ شوی دی.

۲- د عبدالقادر خان خټک دېوان، د علومو اکاډمۍ چاپ.

## معروف شاه خان:

نوموړی له ادبیاتو پوهنځي څخه فارغ شوی او اثار یې دادي:

۱- د حمید په دېوان کې د تلمیح صنعت ډولونه ( د پوهنیارۍ تیزس) ناچاپ.

۲- په پښتو کې د فاعلي جملو د استعمال جوړښت او ځانګړتیاوې ( دماسټرۍ تیزس) ناچاپ.

۳- پښتو پښویز سمونونه یا پښتو ګرامري مطابقتونه ( د پوهندوی رتبې ته)، ناچاپ.

## خان سلام:

د ادبیاتو له پوهنځي پښتو څانګې څخه فارغ شوی او دا لاندې اثار یې لیکلي دي:

۱- د میرزاخان انصاري د دېوان قافیوي نیمګړتیاوې (پوهنیارۍ رتبې ته) ناچاپ.

۲- د حمید په دېوان کې د استعارې او کنایې ادبي صنعتونو لټونه او تحلیل، ناچاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محبوب شاه ارزومند:

د ادبياتو پوهنځي له پښتو څانګې څخه فارغ شوی دی، اثار يې دادي:

۱- د امانت او اور لمبې: د داستانو نقد ( د پوهنیارۍ تیزس) ناچاپ.

۲- د پښتو نظم کلاسیک ژانرونه (د پوهنملۍ تیزس)، ناچاپ.

## شاه ولي خان:

نوموړی د ادبياتو پوهنځي له پښتو څانګې څخه فارغ شوی دی او دا لاندې اثار يې ليکلي دي:

۱- پښتو ويي پانګه ( د پوهنملۍ تیزس) ناچاپ.

۲- د پښتو نثر ډولونه او بشپړتيايي پړاوونه ( د پوهندوی تیزس) ناچاپ.

## پري اقبال:

د ادبياتو پوهنځي له پښتو څانګې څخه فارغه شوې ده او اثار يې دادي:

۱- د خوګیانو د وزیرو ګړدود ( د ماسټرۍ تیزس)، ناچاپ.

۲- د لوی ننګرهار نوموړکي شاعران، ناچاپ.

## فیاض:

نوموړی د ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې فارغ التحصیل دی، اثار يې دادي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- په پښتو لنډو کیسو کې د ریالیزم څرنگوالی ( د پوهنملۍ تیزس) ناچاپ.

۲- د روښاني ادبیاتو په هنداره کې د روښاني نهضت په باب د بېلابېلو نظریو کره کتنه ( د پوهندوی تیزس) ناچاپ.

## عزیزالله جبارخېل:

جبارخېل د ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانگې فارغ التحصیل دی او د (غلجایي حصارک گړدودونه) په نوم یې یو اثر لیکلی، خو چاپ شوی نه دی.

## سید محی الدین هاشمي:

هاشمي پر ۱۳٦۱ل کال د کابل پوهنتون له ژبو او ادبیاتو پوهنځي څخه فارغ شوی دی، اثار یې دادي:

۱- ابدي ژوند، چاپ.

۲- د سردرو توتیان، ( د ولسي شاعرانو تذکره) چاپ.

۳- پښتو گرامر (ژباړه) چاپ.

٤- د ادبي- هنري او کلتوري اصطلاحاتو تشریحي فرهنگ (دوه ټوکه) ناچاپ.

٥- په پښتو لنډیو کې انگېرنې، چاپ.

٦- لیدلی خوب ( د اشعارو مجموعه) ناچاپ.

۷- د سرمنزل په لور، د ادبي ټوټو مجموعه، ناچاپ.

۸- د کونړ سادات، ناچاپ.

۹- په کوز کونړ کې د جهاد پیلامه او ادامه، ناچاپ.

۱۰- د روسانو د مزدور رژیم په زندانو کې لیدلي او اورېدلي حالات، ناچاپ.

۱۱- د ادب پوهنې بنسټونه (درسي کتاب).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲- د هجرت پر لار او دیار (سفرنامه) ناچاپ.
۱۳- د پښتو معاصر ادب تاریخ ( د ادبیاتو درسي کتاب)
۱٤- د لیکوالۍ فن، چاپ.
۱۵- د جهاد او مقاومت فرهنګي مرکزونه او خپرونې.[1]

## توریالی ځاځی:

پر ۱۳۵۳ل کال د ادبیاتو پوهنځي له ژورنالیزم څانګې څخه فارغ شوی دی، اثار یې دادي:

۱- د شعرونو مجموعه: چاپ.
۲- جهادي لنډۍ: چاپ.
۳- د لنډو کیسو مجموعه: چاپ.

## سیدګلاب سباوون:

پر ۱۳۵۵ل کال د ادبیاتو پوهنځي له ژورنالیزم څانګې نه فارغ شوی دی:

۱- د حمزه ژوند و اند: ناچاپ.

## محمد نسیم ستانیزی:

پر ۱۳۵۵ل کال له ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي څخه فارغ شوی دی. پښتو اثار یې دادي:

۱- ځاله او طوفان ( د لنډو کیسو مجموعه).
۲- د لارې مشال (ژباړه).

[1] د لیکوالۍ فن: سید محی الدین هاشمي، پېښور، چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- دمارکسیزم اشتباه، چاپ.
٤- د اسلام څلور ستر فاتحین.
۵- د توحید، نبوت او له مرگه وروسته ژوند عقلي ثبوت، ژباړه.
٦- جونگړه او ماڼۍ ( دلنډو کیسو مجموعه) چاپ.
۷- د اسلامي انقلاب هنداره: (ژباړه) چاپ.
۸- هغه ټول پسې لیواله وو: د لنډو کیسو مجموعه. چاپ.
۹- تورې حاشیې: د لنډو کیسو مجموعه، چاپ.
۱۰- ځلایي کونجې: د لنډو کیسو مجموعه، چاپ.
۱۱- د اسلامي دعوت اصول: (ژباړه).
۱۲- سور ښامار: (ژباړه).
۱۳- د ایشیا په زړه کې طوفان، چاپ.
۱٤- د اسلام اقتصادي اصول، ناچاپ.
۱۵- څلور زندانونه، ناچاپ.

## محمد آصف صمیم:

پر ۱۳۵٦ل کال د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي عربي څانگې څخه فارغ شوی دی. اثار یې دادي:

۱- رښتیانۍ کیسې (ژباړه) چاپ.
۲- د رحمان بابا دېوان نوم ښود، چاپ.
۳- مړه یې مه بولئ ژوندي دي، ۲ ټوکه، چاپ.
٤- توحیدي ټولنه او ټولنیز عدالت، (ژباړه) ناچاپ.
۵- د حضرت علي(رض) لنډې ویناوې (ژباړه)، ناچاپ.
٦- رښتیا خبرې، درې جلده، (ژباړه) ناچاپ.
۷- خوشال او قران.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸- خوشال ياد کړي شاعران.
۹- شاعر د شاعر په هنداره کې.
۱۰- خوشال نومښود.
۱۱- د رحمان بابا فرهنگ.
۱۲- پښتو درسي کتاب د ٤ او ٦ ټولگي لپاره.
۱۳- وهابيت د قران او سنتو په رڼا کې (ژباړه) چاپ.
۱٤- د اسلام په جامه کې د استعمار مزدوران، چاپ.
۱٥- د پټې خزانې ميزان رښتيا ميزان دی (گډ اثر) چاپ.
۱٦- په کلاسيکو ادبياتو کې پښتو گړنې، ناچاپ.
۱۷- زندان خوړلي يادونه (ژباړه). ناچاپ.
۱۸- گام پر گام له خوشال سره، (پوهه) مجله کې چاپ شوی دی.
۱۹- د شعرونو مجموعه (سانگې).
۲۰- پښتو نامې.
۲۱- زړه ويې پانگه.
۲۲- د خوشال د ژبې ټوپک.
۲۳- د لرغونې شاعرۍ غورچاڼ.
۲٤- په پښتو لرغونې شاعرۍ کې متلونه.
۲٥- شعرونه اياتونه.
۲٦- شعرونه حديثونه.
۲۷- د پښتو د ليکنۍ ژبې د معياري اړخ يوجاج.
۲۸- رښتيني اتلان (ژباړه).
۲۹- د ملا لتاړ د دېوان د چاپي او خطي نسخو مقابله.
۳۰- خوشال ياد کړي کتابونه.
۳۱- د حمزه ليکونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۲- په انساني غړو پورې اړوند ګړنې.
۳۳- روهیلې په هندوبار کې.
۳٤- ځان پېښې له (۹٤-۸٤) پورې.
۳٥- روښاني روحاني فرهنګ.
۳٦- رښتیانی خبرې.

## محمدعارف غروال:

پر ۱۳٤۷ل کال د ادبیاتو پوهنځي له پښتو څانګې څخه فارغ شوی دی. اثار یې دادي:

۱- د دولت لواڼي د دېوان انتقادي متن، چاپ.
۲- د رحمان بابا د دېوان انتقادي متن، چاپ.
۳- د خوشال خټک د کلیاتو د لومړي ټوک انتقادي متن، چاپ.
٤- د سید جمال الدین افغان العروة الوثقی، چاپ.
٥- د حبیب الله دېوان، چاپ.
٦- غرنۍ سندرې، چاپ.
۷- د بنګړو شرنګ ( د معاصرو شاعرانو د اشعارو مجموعه) چاپ.
۸- د وینو فوارې، د جهادي شعرونو مجموعه، چاپ.
۹- تورزن تورن افغان، د جهادي شعرونو مجموعه، چاپ.
۱۰- بمونه او غمونه، د جهادي شعرونو مجموعه، چاپ.
۱۱- راه عمل فارسی ترجمه، چاپ.
۱۲- منظر مرګ، فارسی ترجمه، چاپ.
۱۳- انګلیسي پښتو ورځنۍ خبرې (ژباړه) چاپ.
۱٤- د خوشال خټک د کلیاتو د دویم ټوک انتقادي متن، ناچاپ.
۱٥- اختیارات بدیعي د پښتو یوناني طب، ناچاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱٦- د پکتیا ولسي شاعران، ناچاپ.**
**۱۷- د وطن مینه د شعرونو مجموعه، ناچاپ.**
**۱۸- کورنی طب، (ژباړه). ناچاپ.**
**۱۹- غوټی نامه د شعرونو مجموعه، ناچاپ.**
**۲۰- قصص الانبیاء (ژباړه)، ناچاپ.**

**فدا محمد فایض:**

**پر ۱۳۵٦ل کال د ادبیاتو پوهنځي له دري څانګې څخه فارغ شوی دی، یوه د شعرونو مجموعه لري، چې تراوسه نه ده چاپ شوې.**

## ذکریا ملاتړ:

**پر ۱۳۵٦ل کال د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي له پښتو څانګې څخه فارغ شوی دی، اثار یې دادي:**

**۱- د پښتو متلونو او اصطلاحاتو قاموس لومړی ټوک، (تالیف).**
**۲- په پښتو ادب کې د طالب په نوم شاعرانو تذکره، (تالیف)**
**۳- چې نه غواړم مه یې راپېښوې، دزندان کیسه، (تالیف).**
**٤- د پښتو په ولسي ادب کې د ماشومانو شاعري، (تالیف)**
**۵- تیرایان او تیرایي ژبه، (تالیف).**
**٦- پر افغانستان باندې د روسانو د تېري اساسي علتونه، (تالیف).**
**۷- عملي لار او علمي فلسفه، (ژباړه).**

## فضل ولي ناګار:

**د ادبیاتو پوهنځي له پښتو څانګې څخه فارغ شوی دی، ((دا هغه بالا حصار دی)) په نوم یې د شعرونو یوه مجموعه خپره شوې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محمد حسن ولسمل:

پر ۱۳٤۲ل کال له ادبیاتو پوهنځي فارغ شوی دی.

۱- ظاهر شاه د قضاوت په تله کې، (د ګډو مقالو مجموعه)، چاپ.

۲- زنداني سوغات، چاپ.

## محمد معصوم هوتک:

پر ۱۳٦٦ ل کال د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له پښتو څانګې څخه فارغ شوی دی. اثار یې دادي:

۱- پاشلې ویناوې، د مولوي صالح محمد هوتک، ترتیب، سریزه، تحشیه او تعلیقات، ۱۳٦۹ل کال چاپ.

۲- سرامنې اوښکې، (شعرونو مجموعه)، ۱۳٦۹ل کال چاپ.

۳- د میرزا حنان بارکزي دېوان، ترتیب، سمون، سریزه، مقابله او ویي پانګه، ۱۳۷۰ل کال چاپ.

٤- میرزا عبدالودود هوتک، ناچاپ.

٥- ښکار او کندهار، ناچاپ.

٦- احمدشاهي کندهار، ناچاپ.

۷- پښتنې قبیلې او روایتي شجرې، ناچاپ.

۸- بحرالعلوم، دوست محمد خټک، ۱ ټوک، ترتیب، سریزه، سمون او حاشیه، ناچاپ.

۹- خیرالبیان او درېیم قرائت، چاپ، (ګډ هېواد).

۱۰- د ملا امیر دېوان، ترتیب او سریزه، ناچاپ.

۱۱- د غره او دوره (ژوند لیک)، ناچاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲- د زړه ایشناو، د شعرونو مجموعه، ناچاپ.[1]

## وسیع الله سیار:

د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له پښتو څانګې څخه فارغ شوی دی.

۱- په پښتو کې د مسجع نثر د پیدایښت او پایښت مسئله، پر ۱٤۱۳هـ ق کال لیکل شوی.

## افضل شېرزاد:

د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له انګلیسي څانګې څخه فارغ شوی دی، د شعرونو یوه مجموعه لري، چې تراوسه لا چاپ شوې نه ده.

## عبیدالله محک:

محک د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي انګلیسي څانګه لوستې، نوموړی په پښتو او دري ژبو یو شمېر اثار لیکلي دي، پښتو اثار یې دادي:

۱- د نیمو شپو چغې: د لنډو کیسو مجموعه، د لیکوالو انجمن، کابل چاپ.

۲- ګل په جبه زار کې (ناول)، ۱۳۷۰ل کال چاپ.

[1] پوخ کانی، محمد معصوم هوتک، ټورنټو، کاناډا، ۱۳۷۵ل کال چاپ د پښتنی ځلورم مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لعل پاچا ازمون:

ازمون تر درېیم ټولګي پورې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګه لوستې او بیا یې د جګړو له امله خپل وروستی کال د ننګرهار په پوهنتون کې بشپړ کړ، تراوسه یې دغه ادبي فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱- د ملنګ جان خوږې نغمې له نویو زیاتونو سره، ۱۳۷۰ل کال چاپ.

۲- د سیند غاړې ګلونه، د محمد نور د شعرونو راټولونه او سریزه، لاهور چاپ.

۳- پرهرونه دي چې خاندي: د شعرونو مجموعه، پېښور، ۱۳۷۲ل کال چاپ.

٤- کابل د وینو او لمبو په سین کې: د کابل په باب د شعرونو مجموعه، راټولونه، پېښور، ۱۳۷۳ل کال چاپ.

۵- د خسرو شعرونه: سریزه او راټولونه، ناچاپ.

## غلام نبي فراهي:

غلام نبي فراهي د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له پښتو څانګې فارغ شوی او بیایې له همدې څانګې ماسټري هم ترلاسه کړې ده. د لیسانس دورې پر مونوګراف سربېره ( د استاد بېنوار ژوند او اثار په نامه یې د ماسټرۍ دورې د تیزس په توګه یو بل اثر هم لیکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو مونوگرافونه

## ۱- د رحمان بابا او خوشال شعر او شاعري:

د شریفې خوگیانۍ (اسلمي) له خوا پر ۱۳۴۲ل کال د پوهاند صدیق الله رښتین تر لارښوونې لاندې لیکل شوی، د مخونو شمېر یې (۲٤) دی. په دغه مونوگراف کې د رحمان بابا د اشعارو پر اخلاقي، ټولنیزو، تصوفي او د خوشال د اشعارو پر اخلاقي، ټولنیزو، عشقي او حماسي خواوو لنډې خبرې شوي دي.

## ۲- بلوڅ او بلوڅي:

عبدالرحمن بلوڅ د پوهاند صدیق الله رښتین تر لارښوونې لاندې پر ۱۳۴۳ل کال لیکلی دی، د مخونو شمېر یې (٤٤) دی. دغه مونوگراف پر شپږو څپرکو وېشل شوی، چې په هره برخه کې یې د بلوڅو او بلوڅي ژبې په باب لنډه رڼا اچولې.

## ۳- د باختري او ایرانیو تاریخي انکشاف:

د محمد کریم اڅکزي له خوا پر ۱۳۴۳ل کال لیکل شوی، لارښود استاد یې حبیب الله جاج پښتون زوی دی، د مخونو شمېر یې (۲۰) ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ٤- د کوچنیانو شفاهي ادب یا د کوچنیانو فولکور:

د شاه ولي له خوا پر ۱۳٤٤ل کال په ۹۷مخونو کې لیکل شوی، په مونوگراف کې د کوچنیانو شفاهي ادب ته پر کتنې سربېره د هغو پر روزنیز اړخ هم رڼا اچول شوې ده.

### ٥- پښتنې شاعرانې:

د زرغونې زېور له خوا پر ۱۳٤٥ل کال په (۷٥) مخونو کې د لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي تر لارښوونې لاندې لیکل شوی دی. په دغه مونوگراف کې ټولې (۳۳) پښتنې شاعرانې معرفي شوي او د شعرونو بېلگې یې راوړل شوي دي.

### ٦- د ننگرهار د سیمې ولسي شاعران:

د زېورالدین زېور له خوا پر ۱۳٤٥ل کال په (٥۱) مخونو کې لیکل شوی، لارښود استاد یې پوهاند عبدالحی حبیبي دی، په دغه مونوگراف کې د (۳٦) تنو شاعرانو ژوند لیک او د شعرونو بېلگې خوندي دي.

### ۷- د ادبي تاریخ تیوري:

پر ۱۳٤٦ل کال په (٤۸) مخونوکې د حبیب الله تږي له خوا لیکل شوی دی. په دې مونوگراف کې د ادب تاریخ تیوري، تاریخي سیر او د تیورۍ د میتود په باب خبرې شوي دي.

### ۸- د تگاب د سیمې ولسي شاعران:

لیکوال یې سیدامیر دی، پر ۱۳٤٦ل کال د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې لیکل شوی دی. د مخونو شمېر یې (۸۱) ته رسېږي، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مونوگراف کې د تګاب د څلورو تنو شاعرانو ژوند لیک او د شعرونو بېلګې راغلي دي.

### ۹- د ننګرهار مجله:

دا مونوگراف د شاه ولي قرار له خوا پر ۱۳۴٦ل کال د استاد محمد حسین راضي تر لارښوونې لاندې لیکل شوی، د مخونو شمېر یې (٤٧) ته رسېږي. دا مونوگراف شپږ څپرکي لري او د ننګرهار مجلې د موضوعي نیولیک (فهرست) په باب په کې خبرې شوي دي.

### ۱۰- د کونړ د سیمې اجتماعي دودونه:

د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې د جلال الدین کونړي له خوا پر ۱۳٤٦ل کال په (٦٧) مخونو کې لیکل شوی دی. په دې مونوګراف کې د کونړ د خلکو په ځینو دودونو او رواجونو لنډه رڼا اچول شوې ده.

### ۱۱- بازارک او څځوبی:

د عبدالباقي (شینواري) له خوا پر ۱۳٤٦ل کال لیکل شوی، د مخونو شمېر یې (۲۷) دی. یاد شوی مونوګراف دوه برخې لري، په لومړۍ برخه کې یې د بازارک او په دویمه برخه کې یې د څځوبي سیمو په باب خبرې شوي دي.

### ۱۲- د افغانستان په تاریخ او ادبیاتو کې د روښانیانو دنهضت مقام:

د عبدالقیوم نورزي له خوا په (٦٤) مخونو کې پر ۱۳٤٧ل کال لیکل شوی، په دغه مونوګراف کې د روښانیانو د نهضت ماهیت، اصولو او عقایدو په باب خبرې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۳- د شگې پخواني شاعران:

عبدالمجيد زاخېل د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې پر ۱۳۴۸ل کال ليکلی، د مخونو شمېر يې (۵۱) ته رسېږي. په دې مونوگراف کې د شگې د څو تنو شاعرانو ژوند ليک او د شعرونو بېلگې راوړل شوي دي.

### ۱۴- پښتني دودونه-کړنې او فالونه:

د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې علي محمدمنگل پر ۱۳۴۸ل کال ليکلی دی. دغه مونوگراف (۷۰) مخونه لري او د پکتيا د خلکو د ځينو دودونو په باب په کې لنډه رڼا اچول شوې ده.

### ۱۵- د لغمان بشري جغرافيه:

اسدالله (رويا) پر ۱۳۴۸ل کال په (۲۷) مخونو کې ليکلی دی. لارښود استاد يې حميدالله امين دی، په ياد شوي مونوگراف کې د لغمان ولايت پر ځينو دودونو، رواجونو او ځينو سپورتي لوبو لنډه رڼا اچول شوې ده.

### ۱۶- مېرمن حميده او د هغې ژوند او اشعارو ته يوه کتنه:

عبدالصبور مليار په (۴۰) مخونو کې پر ۱۳۴۸ل کال د حبيب الله جاج تر لارښوونې لاندې ليکلی دی. په نوموړي مونوگراف کې د مېرمن حميدې ژوند ليک او د شعرونو نمونې راوړل شوي دي.

### ۱۷- د شيدا په فکر او شعر لنډه څېړنه:

خيرمحمد شينواري پر ۱۳۴۹ل کال ليکلی دی، (۳۸) مخه لري د کاظم خان شيدا د ژوند پر حالاتو او د شعر پر ځينو ځانگړنو خبرې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۸- د پکتیا ولایت د گوملې پېژندنه:**

محمدعلم نواب خېل د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې پر ۱۳٤۹ل کال لیکلی دی، (۷۹) مخونه لري. په دې مونوگراف کې د پکتیا ولایت د گوملې د سیمې پر لنډې پېژندنې سربېره د نومړې سیمې پر ځینو قوانینو او دودونو هم لنډې خبرې شوي دي.

**۱۹- د پکتیا ولایت د ځاځیو ولسي شاعران:**

دسید محمد کارگر له خوا د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې پر ۱۳٤۹ل کال لیکل شوی دی. (۵۵) مخونه لري، په نومړي مونوگراف کې د پکتیا ولایت د هاشم خېلو او عمرخېلو د سیمو (۷٦) تنه شاعرانو پېژندگلوي او شعري بېلگې راغلي دي.

**۲۰- د نوزاد رواجونه:**

نصر الله نوزادي پر ۱۳٤۹ل کال په (۲۸) مخونو کې لیکلی دی. په نومړي مونوگراف کې په دریو برخو کې د نوزاد د خلکو پر ځینو رواجونو خبرې شوي دي.

**۲۱- خوشال خان او د پښتنو د ازادۍ تحریک:**

عبدالمالک شهبازخېل پر ۱۳۵۰ل کال د پوهاند میرحسن شاه تر لارښوونې لاندې لیکلی، (۵۰) مخونه لري. په نومړي مونوگراف کې د خوشال خان پر ژوند، اقتصادي او ټولنیزو حالاتو باندې لنډه رڼا اچول شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۲- د راډیو افغانستان د پروګرامونو شکل او څرنګوالي ته یوه کتنه:**

شاه محمود زیارمل پر ۱۳۵۰ل کال په (۲۰) مخونو کې لیکلی، په نوموړي مونوګراف کې د کابل راډیو د پروګرامونو او دهغو د نشر او خپرېدو د وختونو په باب معلومات ورکړل شوي دي.

**۲۳- د پښه یي د خلکو محیط او د ژبې معرفي:**

نورمحمدغمجن الینګاري په (٦٨) مخونو کې پر ۱۳۵۰ل کال لیکلی، په یاد شوي مونوګراف کې د پښه یي ژبې او د پښه یانو د محیط په باب رڼا اچول شوې ده.

**۲٤- د افغانستان کالنۍ د مضامینو فهرست:**

سید عبدالستار رازي پر ۱۳۵۰ل کال په (۵۵) مخونو کې لیکلی، لارښود استاد یې محب الله رحمتي دی.

**۲۵- د اندړو دودونه:**

د محمد اسلم قربانخېل له خوا د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (۵۱) مخونو کې پر ۱۳۵۰ل کال لیکل شوی دی، په یاد شوي مونوګراف کې د غزني د اندړو ولسوالۍ دخلکو د ټولنیزو دودونو په باب خبرې شوې دي.

**۲٦- د احمدشاه بابا لښکر کشي او دده د امپراطورۍ حدود:**

امان الله ایازي پر ۱۳۵۱ل کال د پوهاند میرحسین شاه تر لارښوونې لاندې بشپړ کړی دی. په دغه مونوګراف کې د احمدشاه بابا د واکمنۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدودو او لښکر کشیو په باب په لنډیز سره خبرې شوې دي.

## ۲۷- د پښتونستان مسئله د تاریخ په اوږدو کې:

عبدالشاه ظفرخېل پر ۱۳۵۱ل کال د پوهنوال حبیب الرحمن هاله تر لارښوونې لاندې لیکلی دی. (۵۲) مخونه لري.

## ۲۸- پښتونستان:

لیکواله یې حفیظه ده، پر ۱۳۵۱ل کال یې د پوهاند میرحسین شاه تر لارښوونې لاندې بشپړ کړی دی. (۸۲) مخونه لري، په یاد شوي مونوګراف کې د پښتونستان پر جغرافیایي موقعیت خبرې شوي او د پښتونستان د ځینو ملي مبارزو لکه خان عبدالغفار خان پېژندګلوي په کې راغلې ده.

## ۲۹- عربي ژبه د پېړیو په بهیر کې:

عبدالغفور رسول پر ۱۳۵۲ل کال د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې بشپړ کړی دی، (۳۰) مخونه لري. مونوګراف درې برخې لري او د عربي ژبې د پرمختګ او څرنګوالي په باب په کې خبرې شوي دي.

## ۳۰- د قره باغ پښتني دودونه:

محمد حسن پر ۱۳۵۲ل کال په (۵۸) مخونو کې لیکلی، د غزني ولایت د قره باغ د سیمې د پښتنو د ځینو دودونو په باب په کې معلومات وړاندې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳۱- د لغمان ولایت د ملي شاعرانو په شعرونو کې د ځایونو نومونه:**

محب الدین محب پر ۱۳۵۲ل کال په (۵۱) مخونو کې لیکلی، په دې مونوگراف کې د یادې شوې سیمې د اتو تنو شاعرانو د شعرونو له مخې سیمه ییزو نومونو ته گوته نیول شوې ده.

**۳۲- وړانگې ورځپاڼه:**

محمدانور پر ۱۳۵۲ل کال د حبیب الرحمن هاله تر لارښوونې لاندې لیکلی، (۳٦) مخونه لري. په دغه مونوگراف کې د یادې شوې خپرونې او د هغې د مضامینو په باب معلومات وړاندې شوي دي.

**۳٤- د قرغیو د ولسوالۍ جغرافیه:**

محمداعظم حیدري پر ۱۳۵۲ل کاې د پوهاند حمیدالله امین تر لارښوونې لاندې بشپړ کړی دی، (۷۵) مخونه لري، په دې مونوگراف کې د لغمان ولایت د قرغیو سیمې د یو شمېر غرونو او سیندونو په باب معلومات وړاندې شوي دي.

**۳۵- ۱۸۹۳م څخه راپدېخوا د تاریخ په اوږدو کې د پښتونستان مسئله:**

د جان محمد، دوړ له خوا پر ۱۳۵۲ل کال لیکل شوی دی. لارښود استاد یې برهان الدین حساس دی، مخونه یې (٤۸) دي. مونوگراف څلور څپرکي لري او په هر څپرکي کې د پښتونستان په باب معلومات وړاندې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳٦- په افغاني ټولنه کې د ښځو دریځ:

لطیفې پر ۱۳۵۲ل کال د زرغونې زېور تر لارښوونې لاندې لیکلی، (۳۵) مخونه لري. په دغه مونوګراف کې په افغاني ټولنه کې د ښځو د دریځ په باب خبرې شوي او هم د ځینو افغاني ښځمنو شاعرانو پېژندګلوي او د شعرونو بېلګې راغلې دي.

## ۳۷- د خوست لهجې او مروج لیکدود:

حضرت محمد ویاړ پر ۱۳۵۲ل کال د شیریندل ګردیوال تر لارښوونې لاندې لیکلی دی. دغه مونوګراف (۲۷) مخونه لري.

## ۳۸- د پروفیسور ډاکتر برنارډورن د پښتو منتخباتو او د رحمان بابا د چاپي دېوان مقایسه:

د میرزامحمد له خوا پر ۱۳۵۲ل کال په (۷۹) مخونو کې لیکل شوی دی.

## ۳۹- په کندهار کې د ډله ییزو مفاهیمو وسایلو تاریخي سیر:

احمدالله پر ۱۳۵۲ل کال د عنایت الله تر لارښوونې لاندې لیکلی دی، (٦۲) مخونه لري. په دې مونوګراف کې د کندهار د مطبوعاتو او خپرو شویو مطالبو په اړه خبرې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٤٠- پښتني جرګې او دودونه:

سهراب مومند پر ١٣٥٢ل کال د مجاوراحمدزيار تر لارښوونې لاندې ليکلی، (٢٦) مخونه لري. په دغه مونوګراف کې د پښتني جرګې پر اهميت او په اولسمه او اته لسمه پېړۍ کې د پښتنو د ځينو دودونو په باب خبرې شوې دي.

## ٤١- د سراج الاخبار او هېواد مقايسوي مطالعه:

لعل پاچا ځدراڼ پر ١٣٥٣ل کال د حبيب الرحمن هاله تر لارښوونې لاندې ليکلی، (٤٢) مخونه لري. په دغه مونوګراف کې د سراج الاخبار او هېواد د ورځپاڼو پرتلنه شوې ده او د دواړو ورځپاڼو توپيرونو ته ګوته نيول شوې ده.

## ٤٢- د هسکې مېنې جغرافيه:

د سيدبادشاه له خوا پر ١٣٥٣ل کال د حميدالله امين تر لارښوونې لاندې ليکل شوی، (٣٠) مخونه لري. په دغه مونوګراف کې د شينوارو دهسکې مېنې د ولسوالۍ پر جغرافيه لنډه رڼا اچول شوې ده.

## ٤٣- د پښتو فولکور او ادب:

حفيظ الله جمالي پر ١٣٥٣ل کال د دوکتور مجاوراحمد زيار تر لارښوونې لاندې ليکلی، (٣٦) مخونه لري. په دغه مونوګراف کې د پښتني فولکور پر ځينو اړخونو رڼا اچول شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٤٤- پښتونستان وپېژنئ:**

**محمد نعیم پر ۱۳۵۳ل کال د دوکتور مجاوراحمد زیار تر لارښوونې لاندې په (۳۰) مخونو کې بشپړ کړی دی. په مونوګراف کې د پښتونستان د سیمې په باب ځینې معلومات راغلي دي.**

**٤٥- د جمعې مفاهیمې وسایل په کندهار کې:**

**حبیب الله حبیب پر ۱۳۵۳ل کال د استاد حبیب الله تر لارښوونې لاندې په (۲٦) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د کندهار د خپرونو په باب یو لړ معلومات وړاندې شوي دي.**

**٤٦- د پښتونستان په مسئله کې د هېواد ورځپاڼې رول:**

**شیخ محمد پر ۱۳۵۳ل کال د پوهنوال حبیب الرحمن هاله تر لارښوونې لاندې په (٤۹) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې هغو لیکنو ته نغوته شوې ده، چې د پښتونستان په باب په هېواد ورځپاڼه کې خپرې شوې دي.**

**٤٧- د انګولا مسئله:**

**رحیم داد همزولي پر ۱۳۵۳ل کال د حبیب الرحمن هاله تر لارښوونې لاندې په (۳۷) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د نوموړي هېواد جغرافیا او تاریخ ته لنډه کتنه شوې ده.**

**٤۸- د مطبوعاتو رول د هېواد او ازادۍ په برخه کې:**

**خان زمان پر ۱۳۵۳ل کال د حبیب الرحمن هاله تر لارښوونې لاندې په (۲۸) مخونو کې بشپړ کړی دی. دغه مونوګراف پر څلورو برخو وېشل او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هېواد د ازادۍ په برخه کې د مطبوعاتو پر اغېز او تاثیر خبرې کوي.

**۴۹- تربګني:**

د استاد عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې (وزیر) لیکلی دی، د لیکلو کال یې ۱۳۵۳ل دی، (۳۸) مخونه لري او د لنډې کیسې، ډرامې او تربګنۍ په باب په کې معلومات راغلي دي.

**۵۰- له جغرافیایي نومونو سره د روایاتو تړون:**

د وزیر محمد له خوا پر ۱۳۵۳ل کال لیکل شوی، (۳۵) مخونه لري، په دغه مونوګراف کې د ځینو روایاتو په باب خبرې شوي دي.

**۵۱- ژبه او د ژبې د پیداکېدو سرچینه:**

د الله باز له خوا د دوکتور مجاوراحمدزیار تر لارښوونې لاندې پر ۱۳۵۳ل کال په (۲٦) مخونو کې لیکل شوی دی. په دغه مونوګراف کې د ژبې د پیداکېدو پر علتونو او عواملو لنډې خبرې شوې دي.

**۵۲- د پښتو څېړنو بین المللي مرکز:**

عبدالهادي هاند پر ۱۳۵۳ل کال په ۲۳ مخونو کې لیکلی دی، په دغه مونوګراف کې د پښتو ژبې د بین المللي مرکز په باب معلومات وړاندې شوي دي.

**۵۳- د تصوف اغېز پر ټولنه باندې:**

مصرخان پر ۱۳۵۳ل کال د زیورالدین زیور تر لارښوونې لاندې په ۳۳ مخونو کې بشپړ کړی دی او د روښانیانو د غورځنګ په باب په کې خبرې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ٥٤- د ملنګ جان ورک اشعار:

اخندخان پر ۱۳۵۳ل کال د مجاوراحمدزیار تر لارښوونې لاندې بشپړ کړی دی. ۲۵ مخونه لري، په نوموړي مونوګراف کې د ملنګ جان پر پېژندګلوي سربېره د هغه ځينې شعرونه او د هغه په باب د کورنيو او بهرنيو ليکوالو ځينې اشعار راغلي دي.

### ٥٥- د کندهار د سيمې فکاهيات:

د بريالي پکتا له خوا پر ۱۳۵۳ل کال د حبيب الله جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې ليکل شوی. دغه مونوګراف (۲٦) مخونه لري او په کې د کندهار د سيمې ځينې ټوکې ټکالې راټولې شوې دي.

### ٥٦- د پښتو ټولنې نشراتي فعاليتونه:

زمري محقق پر ۱۳٥٤ل کال د حبيب الرحمن هاله تر لارښوونې لاندې بشپړ کړی. دغه مونوګراف (۳۰) مخونه لري او په کې د پښتو ټولنې لنډه تاريخچه بيان او ددې ټولنې پر خپرنيو فعاليتونو رڼا اچول شوې ده.

### ٥٧- د پښتونستان د مطبوعاتو وضع د صدر بوټو د حکومت په دوره کې:

محمد زمان پر ۱۳٥٤ل کال د حبيب الرحمن هاله تر لارښوونې لاندې ليکلی دی. نوموړي مونوګراف کې د ذوالفقار علي بوټو د واکمنۍ پر وخت د پښتونستان د غورځنګ او د پښتنو د مطبوعاتو د څرنګوالي په باب خبرې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۵۸- د کټواز د سیمې دودونه:

محمدنواز پر ۱۳۵٤ل کال د دوکتور مجاوراحمد زیار تر لارښوونې لاندې بشپړ کړی، (۳٤) مخونه لري. په دغه مونوګراف کې د غزني د کټواز د سیمې پر ځینو دودونو او پښتني رواجونو لنډه رڼا اچول شوې ده.

### ۵۹- مقلوبې پښتو کلمې:

محمد قاسم سالمي پر ۱۳۵٤ل کال د استاد عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (۱۹) مخونو کې لیکلی. په دغه مونوګراف کې د پښتو د مقلوبو کلمو په باب معلومات راغلي دي لکه: اغزی agzay ، ازغی azgay

### ٦۰- د مومندو ورزشي لوبې:

د سرفراز له خوا د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې پر ۱۳۵٤ل کال په (٦۱) مخونو کې لیکل شوی دی. په یاد شوي مونوګراف کې د مومندو پر ځینو سیمه ییزو لوبو رڼا اچول شوې ده.

### ٦۱- په افغانستان کې د مطبوعاتو لوړ او ځوړ او د هغو پرمختیا:

نام حق ځیرک پر ۱۳۵٤ل کال د حبیب الرحمن هاله تر لارښوونې لاندې لیکلی دی، (٤۲) مخونه لري. په دغه مونوګراف کې په افغانستان کې د مطبوعاتو پر څرنګوالي او همدارنګه پر ځینو اقتصادي، فرهنګي، سیاسي، مذهبي او ټولنیزو حالاتو هم لنډه رڼا اچول شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ٦٢- د جمهوري پلوشه د مطبوعاتو په لمن کې:

پر ١٣٥٤ل کال د حبیب الرحمن هاله تر لارښوونې لاندې عبدالشکور لیکلی دی، (٣٥) مخونه لري. په نوموړي مونوگراف کې د پلوشې جریدې د مضامینو او همدارنگه له کابل مجلې سره د نوموړې جریدې پرتلنه شوې ده.

### ٦٣- د پښتو په گړني (شفاهي) ادب کې د ښځو ونډه:

شریفې شریف پر ١٣٥٤ل کال د مجاوراحمد زیار ترلارښوونې لاندې بشپړ کړی دی، (٥٥) مخونه لري. په دغه مونوگراف کې په لنډیو کې د ښځو پر ونډې او دریځ خبرې شوې دي.

### ٦٤- د زده کوونکو د درسي وروسته والي علتونه:

محمد نسیم قسیمي پر ١٣٥٤ل کال د ډاکتر گل جانان ظریف تر لارښوونې لاندې لیکلی دی، ٦٤مخونه لري. دا مونوگراف اته څپرکي لري، چې د زده کوونکو پر درسي ستونزو او د هغو پر د عواملو خبرې شوي.

### ٦٥- د سرخرورد په پارسي کې د پښتو گډون او اغېزه:

جمال الدین وطنمل پر ١٣٥٤ل کال د استاد عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (١٦) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوگراف کې په ورځنیو خبرو کې په یاد شوې سیمه کې پر پارسي باندې د پښتو ژبې اغېزې ته نغوتې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٦٦- د میرویس هوتکي او احمدشاه دراني زمام داري ته مقایسوي کتنه:

محمد صدیق خالقي پر ١٣٥٤ل کال د پاینده محمد (سرهنګ) تر لارښوونې لاندې لیکلی او (٣٦) مخونه لري. په دغه مونوګراف کې د میرویس نیکه او احمدشاه بابا د جګړو، اتلولیو او واکمنیو په باب لنډه رڼا اچول شوې ده.

## ٦٧- د خوشال خان خټک عصر ته یوه کتنه او د هغه معاصرین:

ذکریا پر ١٣٥٤ل کال لیکلی دی، (٣١) مخونه لري، په دغه مونوګراف کې د خوشال خان خټک پر پېژندګلوۍ سربېره د هغه وخت پر حالاتو هم لنډه رڼا اچول شوې ده.

## ٦٨- د ماشومانو د بد اخلاقۍ سببونه:

زرشاه حق یار پر ١٣٥٥ل کال د پوهاند محمد فاضل تر لارښوونې لاندې لیکلی، نوموړی مونوګراف شپږ څپرکي لري او د ماشومانو د روزنې او همدارنګه پر ناوړه چارو د هغو د اخته کېدو پر سببونو خبرې شوې دي.

## ٦٩- د افغانستان د ثانوي ښوونځیو ازمویني:

شېرخان رښتین پر ١٣٥٥ل کال د پوهندوی عطاالله روف تر لارښوونې لاندې په ٤٢ مخونو کې لیکلی دی. پر دغه اثر کې د افغانستان د ثانوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونځیو په درسي میتود خبرې شوې دي.

### ۷۰- ښوونه او روزنه د اسلام له نظره:

عبدالقیوم وزیر پر ۱۳۵۵ل کال د استاد دانش تر لارښوونې لاندې په (۷۹) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د اسلام له نظره پر ښوونه او روزنه خبرې شوې دي.

### ۷۱- د وردګو د قبیلې د واده او مړي دودونه:

محمد مبارک پر ۱۳۵۵ل کال د دوکتور مجاوراحمد زیار تر لارښوونې لاندې په ٤۹ مخونو کې لیکلی دی. په یاد شوي مونوګراف کې د ودرګو د قبیلې د مړي او ژوندي او د واده پر دودونو او رواجونو رڼا اچول شوې ده.

### ۷۲- په ننګرهار کې فولکوریکې کیسې:

عبدالروف پت یار پر ۱۳۵۵ل کال د دوکتور مجاوراحمد زیار تر لارښوونې لاندې په (۱۲۰) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د ننګرهار ولایت (۹) فولکوریکې کیسې راټولې شوې دي.

### ۷۳- سرې لمبې:

سعدالله فیضي پر ۱۳۵۵ل کال لیکلی دی، (۸۳) مخونه لري او په دغه مونوګراف کې د ملا عبدالحنان حیرت پر ژوند او ټولنیزو شرایطو او اشعارو خبرې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷٤- د اماني دولت د سقوط سببونه:

غلام احمد واک پر ۱۳۵۵ل کال د پوهندوی سید سعدالدین هاشمي تر لارښوونې لاندې لیکلی دی. (٦۳) مخونه لري، په نوموړي مونوگراف کې د اماني دولت د ظهور په مقابل کې د بریتانوي ښکېلاک د مخالفتونو عوامل ترکتنې لاندې نیول شوي دي.

## ۷۵- زیتون په افغانستان کې:

بخت جمال پر ۱۳۵۵ل کال لیکلی دی. لارښود استاد یې محب الله رحمتي دی. په دغه مونوگراف کې په افغانستان کې د زیتون د حاصلاتو په باب معلومات راټول شوي دي.

## ۷٦- د لغمان ولایت د کلمان د سیمې معرفي:

عبدالمومن پر ۱۳۵۵ل کال د استاد عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (٤٦) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوگراف کې د کلمان د سیمې، اقتصادي څرنگوالی او جغرافیایي موقعیت او د سیمې د ځینو دودونو په باب څرگندونې شوې دي.

## ۷۷- د امان افغان جریدې خپرونې په سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او کلتوري ساحه کې:

محمد صفر خواریکښ پر ۱۳۵٦ل کال لیکلی، لارښود استاد یې حبیب الرحمن هاله دی. (۳۹) مخونه لري. په نوموړي مونوگراف کې د (امان افغان) جریدې د خپر شوو لیکنو په باب ځینې معلومات راټول شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۷۸- سیکان او د هغوی دودونه:

شفیق الله دردمل پر ۱۳۵٦ل کال د حبیب الرحمن هاله تر لارښوونې لاندې په (۷۲) مخونو کې لیکلی دی. په یاد شوي مونوګراف کې د هندوستان سیکانو د کلتور او د هغو د دودونو په باب ځینې معلومات راټول شوي دي.

### ۷۹- د مرکخېلو دود او دستور:

محمد صابر پر ۱۳۵٦ل کال د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (۲۷) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د مرکخېلو د دود او دستور په باب په لنډه توګه رڼا اچول شوې ده.

### ۸۰- د پاینده محمد کرېه وال ژوند او ځینې شعرونه:

محمد سراب پر ۱۳۵٦ل کال د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (۳۵) مخونو کې لیکلی دی. په یاد شوي مونوګراف کې د پاینده محمد کرېه وال د ژوند او شاعرۍ په باب څرګندونې راغلې دي.

### ۸۱- د غزني د قره باغ د سیمې منطقوي جغرافیه:

د قیوم داد حکیمزي له خوا پر ۱۳۵٦ل کال لیکل شوی، لارښود استاد يې پوهنوال حمیدالله امین دی. د یادې شوې سیمې جغرافیایي موقعیت يې څېړلی دی.

### ۸۲- د ګوجري ژبې لغوي ذخیره:

عبدالطیف دلسوز پر ۱۳۵٦ل کال د استاد عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (۳٦) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د گوجرو د ژبې (گوجري) په باب لنډ معلومات راغلي دي.

## ۷۳- په افغانستان کې د ښوونې او روزنې د ښه والي لپاره لازمې طریقې:

گلبدین نېکمل پر ۱۳۵٦ل کال د عطاالله روف تر لارښوونې لاندې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې د یادې شوې موضوع په باب څرگندونې شوې دي.

## ۸٤- د پکتیا ولایت د سید کرم ولسوالۍ عمومي جغرافیه:

اشرف شریفي پر ۱۳۵٦ل کال د پوهنوال حمیدالله امین تر لارښوونې لاندې  لیکلی دی، چې د سیدکرم ولسوالۍ عمومي جغرافیه په کې تشریح شوې ده.

## ۸۵- د منځنۍ پېړۍ او اسکولاستیکي افکار:

د محمد اکبر ارینمل له خوا پر ۱۳۵٦ل کال په (۳۲) مخونو کې لیکل شوی دی. په دغه مونوگراف کې د افغانستان د منځنیو پېړیو د ټولنیز، اقتصادي جوړښت او د ښوونې او روزنې په باب لنډ معلومات وړاندې شوې دي.

## ۸٦- د ساووجي ژبې لغات:

محمد نادر مشوانی پر ۱۳۵٦ل کال د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې لیکلی دی. په نوموړي مونوگراف کې د ساووجي ژبې ځینې ویيونه (لغات) د هغو فونیټیک شکل او پښتو مانای‌ې راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۸۷- خبر په امان افغان کې:

سیدامین مجاهد پر ۱۳۵٦ل کال د محمد کاظم اهنگ تر لارښوونې لاندې بشپړ کړی دی، (۳٤) مخونه لري. په نوموړي مونوگراف کې د امان افغان جریدې د ځینو لیکنو فهرست او د نوموړي جریدې لنډه تاریخچه راغلې ده.

### ۸۸- د مزار درې د ادیت او شماش دودونه:

رحمت سید پر ۱۳۵٦ل کال د دوکتور مجاوراحمد زیار تر لارښوونې لاندې په (۳٤) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې د مزار درې د ادیت او شوماش د جغرافیې پېژندگلوي او د هغو د ځینو دودونو په باب معلومات راغلي دي.

### ۸۹- د گوشتې ولسوالۍ دودونه:

عبدالجبار پر ۱۳۵٦ل کال د پوهنمل محمد طاهر علمي، تر لارښوونې لاندې په (۱۹) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوگراف کې د گوشتې ولسوالۍ د ځینو دودونو په باب خبرې شوې دي.

### ۹۰- د خوست محلي گړنې:

شازالي پر ۱۳۵٦ل کال د محمد طاهر علمي تر لارښوونې لاندې په (۳٦) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې د خوست د خلکو یو شمېر عامیانه گړنې څېړل شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۹۱- د ښاغلي محمد داود سفرونه بهرنیو هېوادونو ته:**

محمد شریف شاذ پر ۱۳۵٦ل کال د محمدکاظم اهنگ تر لارښوونې لاندې په (۳۲) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د سردارمحمدداود د سفرونو یادونه راغلې او هم د دې سفرونو د موخو په باب رڼا اچول شوې ده.

**۹۲- د سید عبدالخالق کندهاري پېژندګلوي او د اشعارو مجموعه:**

عبدالطیف پر ۱۳۵٦ل کال د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې لیکلی دی، (٦۸) مخونه لري. په نوموړي مونوګراف کې د سید عبدالخالق کندهاري ژوند لیک او د هغه د شعرونو بېلګې راغلي دي.

**۹۳- د چپرهار د سیمې د ولسي شاعر امیرزاده (خاکسار) د اشعارو مجموعه:**

شېرزاده پر ۱۳۵٦ل کال د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (۳۰) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د امیرزاده لنډ ژوند لیک او د هغه د شعرونو بېلګې خوندي دي.

**۹٤- د کونړونو ولایت بشري جغرافیه:**

سیداحمد پر ۱۳۵٦ل کال د پوهنمل دوکتور عبدالله (روحاني) تر لارښوونې لاندې په (٤٦) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د کونړونو د عمومي جغرافيې، ټولنيز څرنګوالي او د اداري تشکيلاتو په باب يو لړ معلومات راغلي دي.

**۹۵- د محمد باقي بادل (بارکزي) اشعار:**

د عوذ بالله له خوا پر ۱۳۵٦ل کال د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (۵۱) مخونو کې ليکل شوی دی. په نوموړي مونوګراف کې د ياد شوي شاعر لنډه پېژندنه او د کلام بېلګې خوندي دي.

**۹٦- په شينوارو کې د کونه تير غزا:**

معروف شاه خان پر ۱۳۵٦ل کال د استاد رشاد تر لارښوونې لاندې په (٤۳) مخونو کې ليکلی دی. په دغه مونوګراف کې د شينوارو د غزا علتونه او د غزا د ګډون کوونکو په باب معلومات راغلي دي.

**۹۷- د محمد نواب اشعار:**

محمد ظاهر (همت) پر ۱۳۵٦ل کال د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (۵۰) مخونو کې ليکلی دی. په دغه مونوګراف کې د محمد نواب پېژندګلوي، دهغه اشعارو په باب تبصره او د شعرونو بېلګې راغلې دي.

**۹۸- د شينوارو د سيمې اصطلاحات:**

سيد عيسی نېکمل پر ۱۳۵٦ل کال د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (۵۵) مخونو کې ليکلی دی. په دغه مونوګراف کې د شينوارو د سيمې يو لړ عاميانه اصطلاحات ځای شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۹۹- د اشرف خان هجري په شعر کې ادبي تصلفات (باتې):**

محمد گل کوچي پر ۱۳۵٦ل کال د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (۳۳) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې د اشرف خان هجري په شعر کې تصلفات څېړل شوي دي.

**۱۰۰- د یوه ولسي شاعر پېژندنه:**

د عبدالاحد ښکاره له خوا پر ۱۳۵٦ل کال د دوکتور مجاوراحمد زیار تر لارښوونې لاندې لیکل شوی دی. په نوموړي مونوگراف کې د ولسي شاعر حاجي محمد پر ژوند لیک او شاعرۍ رڼا اچول شوې ده.

**۱۰۱- د حضرت ولي پېژندنه او نظمونه یې:**

فضل ولي ناگار پر ۱۳۵٦ل کال د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (۳٦) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې د حضرت ولي پېژندنه او د هغه د نظمونو په باب معلومات راغلي دي.

**۱۰۲- د ارچې تجارت د کونړونو په ولایت کې:**

د غلام قادر جلیلي له خوا پر ۱۳۵٦ل کال د عبدالله روحاني تر لارښوونې لاندې په (۲۸) مخونو کې لیکل شوی دی. په نوموړي مونوگراف کې د کونړونو ولایت پېژندنه، د ولایت جغرافیایي موقعیت او د ارچې د لرگیو د سوداگرۍ په باب معلومات راغلي دي.

**۱۰۳- د تگاب د سیمې نوي او زاړه شاعران:**

گلداد بېژني پر ۱۳۵٦ل کال لیکلی دی. لارښود استاد یې پوهاند عبدالشکور رشاد دی، (٦۸) مخونه لري. په نوموړي مونوگراف کې د تگاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سيمې د څلورو تنو شاعرانو پېژندنه او د شعرونو بېلګې راغلې دي.

## ۱۰۴- د جانان فدوي هوتک پېژندنه او اثار:

محمد حنيف پر ۱۳۵۶ل کال د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (۵۰) مخونو کې ليکلی. په دغه مونوګراف کې د جانان فدوي پېژندګلوي او د شعرونو بېلګې خوندي دي.

## ۱۰۵- د زابل ولايت د بادامو او انګورو توليد او تجارت:

د سيد علي هوتک له خوا پر ۱۳۵٦ل کال د حميدالله امين تر لارښوونې لاندې په (۳٦) مخونو کې ليکل شوی دی. په دغه مونوګراف کې لومړی د زابل ولايت د جغرافيې په باب خبرې شوي، بيا د اوسېدونکو د اقتصادي حالت او هم په اقتصاد کې د بادامو پر اهميت او د هغو پر تجارت خبرې شوې دي.

## ۱۰٦- د ولسي شاعر بهاوجان پېژندنه:

محمدعارف پېژاند پر ۱۳۵٦ل کال د استاد عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې ليکلی دی، چې په کې د سيدبهاوجان پېژندګلوي او د شعرونو بېلګې خوندي دي.

## ۱۰۷- د پښتو ادب طالبان:

ذکريا ملاتړ پر ۱۳۵٦ل کال د پوهندوی دوکتور ګل محمد نورزي تر لارښوونې لاندې په (۲۳) مخونو کې ليکلی دی. په دغه مونوګراف کې د پښتو ادب (۲۲) طالبانو په باب معلومات راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۰۸- د پښتو ژبې د ځینو ولسي شاعرانو پېژندګلوي:

محمد معین باجوړي پر ۱۳۵٦ل کال د ګل محمد نورزي تر لارښوونې لاندې لیکلی دی، چې (٤١) مخونه لري. په نوموړي مونوګراف کې د پښتو ژبې د (۱۸) تنو شاعرانو پېژندګلوي او د کلام بېلګې راغلي دي.

### ۱۰۹- د کندهار په سیمې کې کرکې:

محمد رحیم سلطاني پر ۱۳۵۷ل کال د حبیب الله جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د کندهار د خلکو په فولکور کې کرکې څېړل شوې دي.

### ۱۱۰- د بېسوادۍ د مسلې حل په افغانستان کې:

خوشحال یاسیني پر ۱۳۵۷ل کال لیکلی دی. دا مونوګراف پنځه برخې لري، په هره برخه کې یې د سواد د ګټې او د بېسوادۍ د له منځه وړلو لارې چارې څه نا څه په ګوته شوې دي.

### ۱۱۱- د نوم صرف (نوم ګړپوهه):

نصرالله ناصر پر ۱۳۵۷ل کال د پوهاند دوکتور مجاوراحمد زیار تر لارښوونې لاندې په (۳۹) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د نوم پر صرف باندې خبرې شوې دي او د نوم ډولونه هم په ګوته شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۱۲- د شینوارو ولسي ادب:

تاج محمد پر ۱۳۵۷ل کال د نورمحمد غمجن تر لارښوونې لاندې په (۵۵) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې د شینوارو ولسوالۍ پر ولسي ادب رڼا اچول شوې ده.

### ۱۱۳- د گرشک د خلکو گړنی ادب:

سخیداد هلمندي پر ۱۳۵۷ل کال د پوهاند دوکتور مجاوراحمد زیار تر لارښوونې لاندې په (٤١) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې د گرشک د خلکو ولسي اصطلاحات څېړل شوي او بېلگې یې راوړل شوې دي.

### ۱۱٤- ټولنیزه پراختیا:

فیض محمد فیاض پر ۱۳۵۷ل کال د حبیب الله جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳۳) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوگراف کې ټولنیزه پراختیا له علمي نړۍ لید او د هغه د مخالف فکر دواړو له مخې څېړل شوې ده.

### ۱۱۵- اجتماعي انقلابونه او ښوونې روزنې سره د هغو اړیکي:

سراج الدین پر ۱۳۵۷ل کال د رڼا گل رڼا تر لارښوونې لاندې په (۲۱) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوگراف کې پر ښوونه او روزنه باندې د ټولنیزو بدلونونو اغېزې څېړل شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۱٦- د تره خېلو ګړدود:

مصطفی نژدې پر ۱۳۵۷ل کال د دوکتور مجاوراحمد زیار تر لارښوونې لاندې په (۳۱) مخونو کې لیکلی دی، چې د تره خېلو د ګړدود په باب معلومات په کې راغونډ شوي دي.

## ۱۱۷- د شوروي اتحاد د مطبوعاتو سیستم:

زلمي هېوادمل پر ۱۳۵۷ل کال د حبیب الرحمن هاله تر لارښوونې لاندې په (۱۷) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د شوروي اتحاد د مطبوعاتو، راډیو او ټلویزیون په باره کې په لنډیز سره معلومات راوړل شوي دي.

## ۱۱۸- د ممتاز کارګر اشعار:

نادرخان پر ۱۳۵۷ل کال د دوکتور مجاوراحمدزیار تر لارښوونې لاندې په (٤٤) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د ممتاز کارګر ژوندلیک او د شعرونو بېلګې راغلې دي.

## ۱۱۹- د حیات الله بشري اشعار:

نورمحمد پر ۱۳۵۷ل د مجاوراحمدزیار تر لارښوونې لاندې په (۲۱) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د شاعر پېژندګلوي او د شعرونو بېلګې راغلې دي.

۱۲۰- د حصارک د ځانپېښو ثبت د لیکوال د ځاني، ټولنیز، سیاسي او فرهنګي ژوندانه په څېړنه او سپړنه کې ډېر رول لري، په تېره بیا دا چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښې په خپله د لیکوال په قلم ثبت شوي وي. دا لیکنه یا ځانپېښې، چې دلته یې لولئ، پوهاند استاد زیار په خپل قلم لیکلي، نو ځکه دده د ژوند په تشریح کې ډېره مرسته کوي.

## غلجایي د ولسوالۍ بشري جغرافیه:

زلمي داد پر ۱۳۵۷ل کال د لطف الله ساپي تر لارښوونې لاندې په (۳٦) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د حصارک د ولسوالۍ پر ټولنیز ژوند، اداري تشکیلاتو، دود او دستور باندې رڼا اچول شوې ده.

## ۱۲۱- ښځه په پښتو منثورو ادبیاتو کې:

امیرمحمد پاځون پر ۱۳۵۷ل کال د حبیب الله جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳٤) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د ښځې د ټولنیز او طبقاتي ژوند په باب معلومات راغلي دي.

## ۱۲۲- د شغني ژبې فولکور (ګړنی ادب):

دلبرشاه سرچشمه پر ۱۳۵۷ل کال د مجاوراحمدزیار تر لارښوونې لاندې په (٤۱) مخونو کې لیکلی دی. نوموړی مونوګراف درې څپرکي لري، چې په هر څپرکي کې یې د شغنان د خلکو د ولسي ادب او ټولنیز ژوند په باب معلومات راغلي دي.

## ۱۲۳- د تګاو ولسوالۍ د خلکو ګړنی ادب:

محمد ابراهیم پر ۱۳۵۷ل کال د حبیب الله جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (٤۱) مخونو کې لیکلی دی. نوموړي مونوګراف کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تګاو ولسوالۍ جغرافيايي موقعيت، ټولنيزه او اقتصادي بڼه او پر ولسي ادب رڼا اچول شوې ده.

## ۱۲٤- د حميد د شاه ګدا په مثنوي کې د قافيې د عيبونو مطالعه:

خان اباد پر ۱۳۵۷ل کال د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (۲۷) مخونو کې ليکلی دی. دې مونوګراف کې د حميد د ياد شوي اثر د قافيې نيمګړتياوې په ګوته شوې دي.

## ۱۲۵- د غلام حسين پېژندګلوي او اشعار:

محمد عمر دايمزي پر ۱۳۵۷ل کال د نورمحمد غمجن تر لارښوونې لاندې په (۵۱) مخونو کې ليکلی دی. په دغه مونوګراف کې د غلام حسين ژوند ليک او د شعرونو بېلګې راغلې دي.

## ۱۲٦- په پکتيا کې ډله ييزه مفاهمه او د هغې وسايل:

عزيزخان عدلي پر ۱۳۵۷ل کال د حبيب الرحمن هاله تر لارښوونې لاندې په (۳۸) مخونو کې ليکلی دی. نوموړی مونوګراف پنځه څپرکي لري او د پکتيا ولايت د مطبوعاتو په باب په کې معلومات راغونډ شوي دي.

## ۱۲۷- د سيداباد د ولسوالۍ انګېرنې او کږنې:

محمد اصف پر ۱۳۵۷ل کال د دوکتور مجاوراحمد زيار تر لارښوونې لاندې په (۳۱) مخونو کې ليکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د سيد

(c) ketabton.com: The Digital Library



اباد د ولسوالۍ لنډه پېژندنه او د هغې سیمې د کرڼو او انګېرنو په باب معلومات راغلي دي.

**۱۲۸- د ګلستان د ولسوالۍ جغرافیایي څېړنه:**

**عبدالعزیز اکرمي پر ۱۳۵۷ل کال دمحمد ظریف ظریفي تر لارښوونې لاندې په (۶۰) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د ګلستان د ولسوالۍ جغرافیایي موقعیت او بشري او اقتصادي بڼې په باب معلومات راغلي دي.**

**۱۲۹- د ننګرهار ولایت د غني خېلو د ولسوالۍ اصطلاحات:**

**داودشاه خوشال پر ۱۳۵۷ل کال د حبیب الله جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې لیکلی دی، چې د غني خېلو د ولسوالۍ عامیانه اصطلاحات په کې راغلي دي.**

**۱۳۰- کیسې:**

**عاصم شرر پر ۱۳۵۷ل کال د زېورالدین زېور تر لارښوونې لاندې په (۳۸) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې څلور فولکوریکې کیسې راټولې شوې دي.**

**۱۳۱- د دولت تطبیقي شکل په افغانستان کې:**

**د مسافر له خوا پر ۱۳۵۷ل کال د لطف الله ساپي تر لارښوونې لاندې په (۳۵) مخونو کې لیکلی شوی دی. په دغه مونوګراف کې د دولت د تاسیس، منشا، ماهیت او بڼو په باب معلومات راټول شوي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳۲- د نجونو او هلکانو روابط د پوهنتون په ساحه کې:

عالیې تنویر پر ۱۳۵۷ل کال د حبیب الله جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (٤١) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د تحصیل په دوره کې د پوهنتون په ساحه کې د هلکانو او نجونو، یا ښځو او نارینه وو اړیکي تر بحث لاندې نیول شوي دي.

## ۱۳۳- د محمد عثمان د اشعارو مجموعه او ژوند پېښې:

نظام الدین پر ۱۳۵۷ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (٥٧) مخونو کې لیکلی دی، چې د شاعر ژوندلیک او د شعرونو بېلګې په کې خوندي دي.

## ۱۳٤- بالابلوک د ولسوالۍ ګړنی ادب:

غلام سخي پر ۱۳۵۸ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۲۸) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د یادې شوې ولسوالۍ پر جغرافیایي موقعیت، ټولنیزو اړخونو او ځینو عامیانه اصطلاحاتو خبرې شوې دي.

## ۱۳۵- د وزیرستان د برملې پښتني دودونه:

الیاس وزیري پر ۱۳۵۸ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳۸) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د وزیرستان د برملې ځینې پښتني دودونه معرفي شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳٦- د تاریخي ماتریالیزم د څلورو مفاهیمو لنډه توضیح:**

داود سرلوړي پر ۱۳۵۸ل کال په (۵۵) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د ماتریالیزم ځینې موضوعات څېړل شوي دي.

**۱۳۷- د چک ولسوالۍ شفاهي ادبیات:**

خرم دل پر ۱۳۵۸ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۲۸) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د وردګو د ولایت پېژندنه، د چک ولسوالۍ پېژندنه او همدارنګه د نوموړي ولسوالۍ د خلکو پر شفاهي ادبیاتو خبرې شوې دي.

**۱۳۸- د حمید په دېوان کې تلمیح:**

رحمت الله پر ۱۳۵۸ل کال د زېورالدین زېور تر لارښوونې لاندې په (٦٤) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د حمید مومند پر پېژندنې سربېره د هغه په شعرونو کې د تلمیح ادبي صنعت په ګوته شوی دی.

**۱۳۹- د کارګرې طبقې نوی ډول ګوند:**

مثل خان نثار پر ۱۳۵۸ل کال د توریالي (دایم) تر لارښوونې لاندې په (۵۲) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د کارګرې طبقې ګوند په باب معلومات راغلي دي.

**۱٤۰- په سراج الاخبار کې د پښتو ادبیاتو ونډه:**

حبیب الرحمن زلمي پر ۱۳۵۸ل کال د زېورالدین زېور تر لارښوونې لاندې په (۵۷) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د سراج

(c) ketabton.com: The Digital Library



الاخبار لنډه تاریخچه او په دې جریده کې د پښتو لیکنو نیولیک راغلی دی.

۱٤۱- مېرمن حمیده او د هغې اشعار:

بریالي زهیر باجوړي پر ۱۳۵۸ل کال د زېورالدین زېور تر لارښوونې لاندې په (٤٦) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د مېرمن حمیدې د نثر او نظم بېلګې راغلي دي.

۱٤۲- د ښځینه لنډیو غنایي غشقي برخه:

د سپوږمۍ له خوا پر ۱۳۵۸ل کال د نورمحمد عمجن تر لارښوونې لاندې په (٤٤) مخونو کې لیکل شوی دی. په نوموړي مونوګراف کې د ښځینه لنډیو عشقي برخه د الفبا په ترتیب (بېلتون، وصال، د یار خاطر، سپوږمۍ او د مینانو دنیا) په باب معلومات وړاندې شوي دي.

۱٤۳- د الینګار ولسوالۍ د نیازیو د قوم کلیوالي لوبې:

د صدیق راشوجان له خوا پر ۱۳۵۸ل کال د نورمحمد غمجن تر لارښوونې لاندې لیکل شوی ، چې د نیازیو د قوم یو شمېر سیمه ییزې لوبې یې تشریح کړي دي.

۱٤٤- د شوروي اتحاد د ځینو معاصرو لیکوالو بیوګرافي:

شاه صنم پر ۱۳۵۸ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۵۲) مخونو کې لیکلی دی. په یاد شوي مونوګراف کې د ((شوروي اتحاد)) د څوارلسو لیکوالانو بیوګرافي راغلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۴۵- د کونړ ولایت د نرنگ علاقه داری کلیوالي ورزشي لوبې:

غلام حسین پر ۱۳۵۸ل کال دنورمحمد غمجن تر لارښوونې لاندې په (۵٦) مخونو کې لیکلی دی او د یادې شوې علاقه داری ځینې ورزشي لوبې یې په کې راوړې دي.

### ۱۴٦- د خراسانیانو نهضت د عربو په مقابل کې:

ظابط الله پر ۱۳۵۸ل کال د پاینده محمد سرهنگ تر لارښوونې لاندې په (۸۴) مخونو کې لیکلی دی، چې د عربو پر وړاندې د خراسانیانو د مبارزو څرگندونه په کې شوې ده.

### ۱۴۷- دنارینه وو له خوا ښځو ته غنایي لنډۍ:

وړانگې پر ۱۳۵۸ل کال د نورمحمد غمجن تر لارښوونې لاندې په (٦۱) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوگراف کې د الفبا په ترتیب د نارینه وو له خوا ښځو ته غنایي لنډۍ راوړل شوې دي.

### ۱۴۸- وزیرستان وپېژنئ:

بخت میر وزیري پر ۱۳۵۸ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۲۰) مخونو کې لیکلی دی، چې د وزیرستان جغرافیایي موقعیت، د هغه ځای ژبه، کرنه او ځینې دودونه په کې بیان شوي دي.

### ۱۴۹- د گیلان په ورځنیو خبرو اترو کې ځینې نادر لغتونه:

عبدالرزاق پر ۱۳۵۸ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



(٤٥) مخونو کې لیکلی دی، چې د ګیلان د سیمې ځینې نادر لغتونه په کې راغلې دي.

## ١٥٠- پښتو ادبیات له ١٤٥٠ څخه تر ١٢٩٧پورې:

آصف بهاند پر ١٣٥٨ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (٤٣) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د یاد شوي عصر عمومي وضعې ته یوه کتنه، د پښتو د نثر او نظم ځانګړتیاوې، د صنعتي انقلاب اغېزې او د ځینو لیکوالو د نظم او نثر بېلګې راوړل شوي دي.

## ١٥١- د خوشال خان سیاسي موضع:

محمد اسمعیل پر ١٣٥٨ل کال د زېورالدین زېور تر لارښوونې لاندې په (٥٢) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د خوشال خان ژوند لیک، د بند دوره، د ځوانۍ دوره، مبارزې، د بند علتونه، له مغلو سره جنګ او د خوشال سیاسي او ټولنیز موقف بیان شوي دي.

## ١٥٢- د شیګل په شینوارو کې د ځمکې د وېش سیستم:

شېرزمین پر ١٣٥٨ل کال د حکیم تڼیوال تر لارښوونې لاندې په (٣٩) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د کونړ ولایت د شیګل د سیمې جغرافیایي موقعیت تاریخچه او د ځمکو د وېش سیتسم څېړل شوی دی.

## ١٥٣- پښتو ادبیاتو ته د ثور انقلاب په رڼا کې یوه کتنه:

خالق رشید پر ١٣٥٨ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې لیکلی دی، (٤٤) مخونه لري. دا مونوګراف دوه برخې لري چې له لرغونې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دورې څخه تر ۱۳۵۷ل کال او بیا له ۱۳۵۷ څخه تر ۱۳۵۸ کاله پورې پښتو ادبیاتو ته په کې کتنه شوې ده.

**۱۵٤- د ورګون د ولسوالۍ سیمه ییزه جغرافیه:**

حفیظ الله وزیر پر ۱۳۵۸ل کال د محمد ظریف تڼیوال تر لارښوونې لاندې په (۷۲) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د ورګون بشري، فزیکي او اقتصادي بڼې بیان شوي دي.

**۱۵۵- د خلق په جریده کې د علمي مضامینو فهرست:**

مکمل پر ۱۳۵۹ل کال دجاج پښتون زوی تر لارښونې لاندې په (۳۳) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې په یاد شوې جریده کې د علمي لیکنو عنوان، لنډیز او د لیکوال نوم راوړل شوي دي.

**۱۵٦- د تعلیمي نصاب په رڼا کې د پښتو ژبې تاریخي سیر ته یوه کتنه:**

ګل محمد پر ۱۳۵۹ل کال د نوراحمد شاکر تر لارښوونې لاندې په (۳٤) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د تعلیمي نصاب په باب خبرې شوي او هم د ځینو لیکوالو د تعلیمي نصاب کتابونه معرفي شوي دي.

**۱۵۷- د پښتو په شفاهي ادبیاتو کې د حماسي لنډیو یوه برخه:**

د وږمې یوسفي له خوا پر ۱۳۵۹ل کال د نورمحمد غمجن تر لارښوونې لاندې په (۲۰) مخونو لیکل شوی دی، چې په کې یو شمېر حماسي لنډۍ او د هغو د ځینو لغتونو مانا راوړل شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۵۸- د پښتنې ښځې تصویر په لنډیو کې:**

زرغونې عزیز وردګ پر ۱۳۵۹ل کال په (۵۸) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې هغه لنډۍ راوړل شوي چې د ښځو د ژوند څېره په کې ځلېږي.

**۱۵۹- د پښتنو ښځو مبارزې:**

الینیس قیوم پر ۱۳۵۹ل کال په (۵۳) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د افغانستان د ښځو ټولنیز موقف، په ملي مبارزو کې د هغوی ونډه او بیا د (۱۳) مبارزو ښځو معرفي د دوی فکري او ادبي کارونه او د هغوی د شعرونو بېلګې راغلې دي.

**۱۶۰- پښتنې شاعرانې:**

حبیبي پر ۱۳۵۹ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۲۰) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې (۱۷) تنه پښتنې شاعرانې معرفي شوي دي.

**۱۶۱- په کندهار کې پښتني دودونه:**

د زینب فروغ له خوا پر ۱۳۵۹ل کال د نورمحمد غمجن تر لارښوونې لاندې په (۵۱) مخونو کې لیکلی شوی دی، چې د کندهار ولایت ځینې پښتني دودونه په کې معرفي شوي دي.

**۱۶۲- د فراه د سمیې پښتني دودونه:**

پر ۱۳۵۹ل کال د عبدالرزاق له خوا په (۳۵) مخونو کې لیکل شوی دی، چې دفراه ولایت ځینې دودونه په کې معرفي شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱٦۳- د خوشال په غزلیاتو کې ښکلا:

غلام مصطفی نږدې پر ۱۳۵۹ل کال د ډاکتر زېورالدین زېور تر لارښوونې لاندې په (۵۸) مخونو کې لیکلی دی، چې د خوشال په شعرونو کې حسن، مینه، عشق، هنر او اقتصادي موقف په کې څېړل شوی دی.

### ۱٦٤- د دولت لوانې په دېوان کې د نومونو برخه:

محمدصابر حقمل پر ۱۳٦۰ل کال د زېورالدین زېور تر لارښوونې لاندې په (۵۳) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې د دولت لوانې په دېوان کې د راغلیو نومونو لکه د مېړیو، گلانو او مرغانو یادونه شوې ده.

### ۱٦۵- سترگې:

فاطمې اسد حسیني پر ۱۳٦۰ل کال د نورمحمد غمجن تر لارښوونې لاندې په (٤٦) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې هغه لنډۍ د الفبا په حساب راوړل شوي، چې سترگې په کې یادې شوې دي.

### ۱٦٦- د خوست په خبرو اترو کې نادر لغات:

گلاب خان پر ۱۳٦۰ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳۳) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوگراف کې په ورځنیو خبرو کې د خوست ځینې نادر لغات په گوته شوي او بیا تشریح شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱٦٧- یو لړ هغه لنډۍ چې د ښځو له لوري په محرومیت کې ویل شوي:

هما اختري پر ۱۳٦۰ل کال د نورمحمد غمجن تر لارښوونې لاندې په (۳۵) مخونو کې لیکلی دی او هغو لنډیو ته په کې اشاره شوې، چې د ژوند د ځینو برخو د محرومیت په نتیجه کې د ښځو له خوا ویل شوي دي.

## ۱٦۸- دکونړ ولایت په باره کې عمومي معلومات:

محمدقدیر پر ۱۳٦۰ل کال د نورمحمد غمجن تر لارښوونې لاندې په (۳٤) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې د کونړ ولایت جغرافیایي موقعیت، د خلکو پېژندنه، تاریخي سوابق، زراعت، کرنې، اداري تشکیلات او ټولنیزو دودونو په باب ځینې معلومات راغلي دي.

## ۱٦۹- د کرکو او کږو د پیدایښت عوامل او ډولونه:

نواز پر ۱۳٦۰ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳۳) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوگراف کې د کرکو او کږنو په باب ځینې معلومات راغلي دي، لکه: له یو چا څخه کرکه، له ناروغۍ څخه کرکه او داسې نورې بېلگې.

## ۱۷۰- فولکوري طب:

حضرت گل احساس پر ۱۳٦۰ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (٤٤) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې د فولکوري طب په باب یو لړ معلومات راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۷۱- د مقر د ګیلان علاقه داری د واده دودونه:**

محمد عمر ګیلاني مقري پر ۱۳٦۱ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۲۸) مخونو کې لیکلی دی او د یادې شوې سیمې د واده دودونه په کې بیان شوي دي.

**۱۷۲- په پښتو لنډیو کې شونډې، خوله، خالونه او مخ:**

نظیفې پر ۱۳٦۱ل کال د بایزید اڅک تر لارښوونې لاندې په (۲۷) مخونو کې لیکلی دی او هغه لنډۍ په کې راغلي دي، چې یاد شوي موضوعګانې په کې یادې شوې دي.

**۱۷۳- د محمدجان فنا ادبي ټوټې:**

کاملې پښېمان پر ۱۳٦۱ل کال د لطیف بهاند تر لارښوونې لاندې په (٤۰) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې دمحمد جان فنا ژوند لیک د هغه اثار او تالیفاتو پېژندنه او د هغه یو لړ ادبي ټوټې راغلي دي.

**۱۷٤- د لوګر دودونه:**

آصفې احمدزۍ پر ۱۳٦۱ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳۰) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د لوګر جغرافیایي موقعیت او د هغه ځای ځینې پښتني دودونه بیان شوي دي.

**۱۷۵- د کونړونو ولسي شاعران:**

سیدمحی الدین پر ۱۳٦۲ل کال د زېورالدین زېور تر لارښوونې لاندې په (۵۰) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د کونړ د سیمې یو شمېر ولسي شاعران او د هغوی د ځینو شعرونو بېلګې راوړل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۷۶- د کلیوالو پر ورځني ژوند د فولکور اغېزه:

غوټۍ خاورې پر ۱۳۶۲ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۱٦) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې د کلیوالو د مېړانې، اتلولۍ، زړورتیا او ټولنیز ژوند په باب معلومات راغلي دي.

### ۱۷۷- په فولکور کې د کیسې ماهیت او وظیفه:

زرغونې احمدزۍ پر ۱۳٦۲ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳۲) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوگراف کې د اتلانو د کیسو په باب یو لړ معلومات راغلي دي.

### ۱۷۸- خوشال خان د پخوانیو او اوسنیو شاعرانو په نظر کې:

خدایداد پر ۱۳٦۳ل کال د زېورالدین زېور تر لارښوونې لاندې لیکلی دی، (۵۳) مخونه لري. په دغه مونوگراف کې لومړی د خوشال د ملي مبارزو په باب یو لړ معلومات راغلي او بیا د خوشال په باب د پخوانیو او اوسنیو شاعرانو نظرونه راوړل شوي دي.

### ۱۷۹- د دولت لواڼي په دېوان کې قافیوي نیمگړتیاوې:

عزیزالله پاک جبارخېل پر ۱۳٦۳ل کال د جلال الدین خان تر لارښوونې لاندې په (۵۰) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې د دولت لواڼي د دېوان ځینو قافیوي نیمگړتیاوو ته نغوته شوې ده.

### ۱۸۰- په اندړو کې د واده دودونه:

مهتاب الدین وحدت پر ۱۳٦٤ل کال د پوهنیار جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (٤۰) مخونوکې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ د واده دودونه تشریح شوي دي.

### ۱۸۱- کلمه داره روپۍ:

عزیزي شېرزاد پر ۱۳٦٤ل کال د دوکتور زېورالدین زېور تر لارښوونې لاندې په (۲۲) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې کلمه داره روپۍ (ډرامې) خبرې شوي.

### ۱۸۲- د خوشال په دېوان کې د ځینو ځایونو نومونه:

ذکریا پر ۱۳٦٤ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۲۹) مخونو کې لیکلی دی. په دې مونوگراف کې د خوشال په غزلونو، رباعیاتو او قصایدو کې د مهمو ځایونو نومونه په گوته شوي دي.

### ۱۸۳- د روښاني نهضت بېل بېل اړخونه:

محمدرسول باوري پر ۱۳٦٤ل کال د استاد ضمیر ساپي تر لارښوونې لاندې په (۳۵) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې د بایزید روښان ژوند لیک، مبارزې، اثار، مذهبي عرفاني اړخ او ملي فکر بیان شوي دي.

### ۱۸٤- د خوشال خان ژوند لیک:

محمد قدوس پر ۱۳٦٤ل کال د گل محمد نورزي تر لارښوونې لاندې په (٤۰) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې د خوشال د کوچنیوالي دوره، د ژوند ځینې پېښې او د کورنۍ په باب معلومات راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۸۵- د خوشال خان په اشعارو کې د ازادۍ انعکاس او د ازادۍ له اوسني مفهوم سره د هغه پرتله:**

حکیم محمد خاورین پر ۱۳٦٤ل کال د ګل محمد نورزي تر لارښوونې لاندې په (۵۵) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د خوشال خان په شعرونو کې د ازادۍ موضوع څېړل شوې ده او د هغه یو شمېر حماسي شعرونه هم راوړل شوي دي.

**۱۸٦- د تاریخ په پوړیو کې د پښتو هنري ادبیاتو ته یوه کتنه:**

دادمحمد راسا پر ۱۳٦٤ل کال د جلال الدین خان تر لارښوونې لاندې په (۲٦) مخونو کې لیکلی دی. په یاد شوي مونوګراف کې د لرغونې دورې د ادبیاتو او شاعرانو او همدارنګه د معاصرې دورې د ادبیاتو او شاعرانو په باب یو لړ معلومات راغلي دي.

**۱۸۷- د سید جمال الدین افغان ژوند او مبارزې:**

پر ۱۳٦٤ل کال محمد عارف طاهر د محمد صابر خویشکي تر لارښوونې لاندې په (۳۱) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د سیدجمال الدین افغان د ژوند او مبارزو په باب یو لړ معلومات راغلي دي.

**۱۸۸- د لرغوني مصر، یونان او روم په افسانو کې د خلقت مفکوره:**

محمدقاسم هیله من پر ۱۳٦٤ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳۹) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د لرغوني مصر تاریخچه او په افسانو کې د ارباب الانواعو خلقت څېړل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱۸۹- په پښتو معاصرو ادبیاتو کې ځینې ریالستیکي موضوعات:

د شمس الله مجمر له خوا پر ۱۳٦٤ل کال د محمد صابر خویشکي تر لارښوونې لاندې په (۳٦) مخونو کې لیکلی شوی دی. په دغه مونوګراف کې د ریالیزم په هکله، د ریالستیکي هنر او د رنساس د دورې د ریالیزم په باب معلومات لیکل شوي دي، دغه راز د استاد الفت، اجمل ختټک او سلیمان لایق په اثارو کې ځینې ریالستیکي افکار څېړل شوي دي.

### ۱۹۰- په پښتو ادب کې د مولوي صالح محمد ونډه:

اسدالله کاروان پر ۱۳٦٤ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳۵) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د مولوي صالح محمد ژوند لیک او اثارو په باب معلومات راغلي دي.

### ۱۹۱- دلعل ګل شاعر پېژندنه:

محمدنذیر بري پر ۱۳٦٤ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳۱) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د لعل ګل د کورني ژوند او د شعر د ویلو د عواملو په باب معلومات راغلي دي او هم د شاعر د شعرونو بېلګې په کې راوړل شوي دي.

### ۱۹۲- د حمید په دېوان کې بدیع صنایع:

حضرت یوسف افتخار پر ۱۳٦٤ل کال د جلال الدین خان تر لارښونې لاندې په (٤۲) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د حمید

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دېوان کې بديع صنايع په ترتيب سره ښوول شوي دي.

### ۱۹۳- پښتو منظومې کیسې:

عبدالغني اقبال پر ۱۳٦٤ل کال د جلال الدين خان تر لارښوونې لاندې په (۳۲) مخونو کې ليکلی دی. په دغه مونوګراف کې (۹) منظومې او مشهورې فولکوري کيسې ليکل شوي دي.

### ۱۹٤- په پښتو منظوم ادب کې د نظم شکلي ډولونه:

سيدکريم ملګري پر ۱۳٦٤ل کال د جلال الدين خان تر لارښوونې لاندې په (٤۷) مخونو کې ليکلی دی. په دغه مونوګراف کې ځينې شعري فورمونه لکه: مربع، رباعي، مثنوي، قصيده، مخمس او داسې نور تشريح شوي دي.

### ۱۹۵- چاربيته او د هغې ډولونه:

عاشق الله فرياد پر ۱۳٦٤ل کال د جلال الدين خان تر لارښوونې لاندې په (۳۹) مخونو کې ليکلی دی. په دغه مونوګراف کې د چاربيتو پر فورم باندې رڼا اچول شوې ده او هم د چاربيتو بېلګې راوړل شوي دي.

### ۱۹٦- د لنډۍ داستان پيدايښت:

نفيسې طوطاخېل پر ۱۳٦٤ل کال د زېورالدين زېور تر لارښوونې لاندې په (۳۵) مخونو کې ليکلی دی. په دغه مونوګراف کې د لنډۍ کيسې ځانګړنې او پړاوونه بيان شوي دي او اوسنۍ لنډۍ کيسې ته په کې هم کتنه شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۹۷- د اديپوس افسانه او پر هغې يوه انتقادي تبصره:**

گل غوټۍ نایب خېل پر ۱۳٦٤ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (٤١) مخونو کې لیکلی دی، په دغه مونوگراف کې د یونان لنډه تاریخچه او د ادیپوس پاچا د کیسې مضمون لیکل شوی دی.

**۱۹۸- په ولسي ادب کې د جمعه گل د اشعارو دريځ:**

د احمدشاه ویښ له خوا پر ۱۳٦٤ل کال د زېورالدین زېور تر لارښوونې لاندې په (۳۷) مخونو کې لیکل شوی دی. په نوموړي مونوگراف کې دشاعر پېژندگلوي، د هغه چاپېریال، د هغه په شعر کې انځورونه بیان او د شعرونو بېلگې راوړل شوي دي.

**۱۹۹- په پښتو ادبیاتو کې د ناول پیدایښت:**

شریفې احمدزۍ کوچۍ پر ۱۳٦٤ل کال د زېورالدین زېور تر لارښوونې لاندې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې د ناول ډولونه، ځانگړنې او په پښتو ادب کې د ناول په باب خبرې شوي دي.

**۲۰۰- پښتو د امیر شېرعلي خان په دوره کې:**

مامور مموزي پر ۱۳٦٤ل کال د جلال الدین خان تر لارښوونې لاندې په (۳۰) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې پښتو ژبه د امیر شېرعلي خان په دوره کې د پوهځي او رسمي ژبې په توگه څېړل شوې ده او د هغه وخت سیاسي او اقتصادي اوضاع هم تر څېړنې لاندې نیول شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۰۱- یوسفزي د خوشال بابا په نظر:**

عبدالغني بشردوست پر ۱۳٦٤ل کال د محمد صابر خویشکي تر لارښوونې لاندې په (۳۵) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د خوشال د ژوند حالات، د سوات یوسفزي او د هغوی ژوند او د خوشال او یوسفزیو ترمنځ مناسبات څېړل شوي دي.

**۲۰۲- د پرامېته داستان ته یوه انتقادي کتنه:**

جانانې ځاځۍ پر ۱۳٦٤ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۵۵) مخونو کې لیکلی دی او د پرومېتې پر داستان یې یوه انتقادي تبصره کړې ده.

**۲۰۳- مومن خان او شیرینو:**

هنګامې ظاهر پر ۱۳٦٤ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (٤۰) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د داستان اصلي متن، د لغتونو څېړنه، د ځایونو نومونه او د فولکوري عباراتو څېړنه راغلې ده.

**۲۰٤- نمرو او تاج محمد:**

ماه جبینې لمر پر ۱۳٦٤ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳۷) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د دغه منظوم داستان د نظم د برخې وزن و قافیه، د لغتونو څېړنه، د ځایونو نومونه، د شعر ساده ګي او د داستان د موضوع څېړنه راغلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲۰۵- د قصیدې وده او پیدایښت:

محبوبې پر ۱۳٦٤ل کال د جلال الدین تر لارښوونې لاندې په (٤۳) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د قصیدې تعریف او د غوریانو روښانیانو او خوشال په دوره کې د قصیدې په باب معلومات راټول شوي دي.

## ۲۰٦- د الفت په نثر کې د لنډې کیسې بېلګې:

نفس ګل شریفي پر ۱۳٦٤ل کال د محمد صابر خویشکي تر لارښوونې لاندې په (۳۰) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د الفت ژوند لیک، د الفت په نثر کې دلنډو کیسو ځانګړتیاوو او د نثر بېلګې راوړل شوي دي.

## ۲۰۷- اویرجل د اینیا د تحلیل او د روم تشکل:

د راحلې احمدي وردګ له خوا د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې پر ۱۳٦٤ل کال لیکل شوی، چې (۳۱) مخونه لري. په دغه مونوګراف کې د ټرای او سپارتا ترمنځ د لس کلن جنګ علتونه بیان شوي دي.

## ۲۰۸- په فولکور مجله کې د پښتني فولکور انعکاس:

زرلښتې اوریاخېلې پر ۱۳٦٥ل کال د پوهنمل بایزید اڅک تر لارښوونې لاندې په (٤۰) مخونو کې لیکلی دی. په نومړي مونوګراف کې هغو لیکنو ته اشاره شوې، چې د پښتني فولکور په باب په فولکور مجله کې خپرې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۲۰۹- په سراج الاخبار کې د پښتو شعر:

محمدشاه پور احمدزي پر ۱۳٦۵ل کال د دوکتور زېورالدين زېور تر لارښوونې لاندې په (۷۸) مخونو کې ليکلی دی. په دغه مونوگراف کې په سراج الاخبار کې د پښتو شعر د خپرېدو او څومره والي په باب معلومات راغلي دي.

### ۲۱۰- د کندهار مجلې فهرست د تاسيس له وخته تر ۱۳۵٦ل کال پورې:

سردار محمد راستمل پر ۱۳٦۵ل کال د دوکتور زېورالدين زېور تر لارښوونې لاندې په (٤۱) مخونو کې ليکلی دی. په دغه مونوگراف کې د کندهار مجلې نيوليک راغلی ( د ليکوال نوم او د ليکنې سرليک).

### ۲۱۱- د روښان د مبارزې تصوفي اړخ:

نسيمې فقير پر ۱۳٦۵ل کال د پوهنمل محمدصابر خويشکي تر لارښوونې لاندې په (٤۰) مخونو کې ليکلی دی. دا مونوگراف دوه څپرکي لري، په لومړي څپرکي کې يې د روښان پېژندنه او په دويم کې يې د روښاني تصوف د اتو مرحلو په باب خبرې شوې دي.

### ۲۱۲- د بي بي نېکبختې مموزۍ ژوند او ادب:

صاحب گل مموزي پر ۱۳٦۵ل کال د دوکتور زېورالدين زېور تر لارښوونې لاندې په (٤۷) مخونو کې ليکلی دی. په نوموړي مونوگراف کې د بي بي نېکبختې پر ژوند ليک سربېره د هغې پر ادبي ژوند هم رڼا اچول شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۲۱۳- د ګیلګه مېش حماسه او د هغې څېړنه:

مصري خان کلیوال پر ۱۳۶۵ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳۴) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د ګیلګه مېش د حماسې پیدایښت او مضمون شامل دی.

### ۲۱۴- د چغه سرای نرخونه او دودونه:

مرسلین روغوال پر ۱۳۶۵ل کال د پوهندوی جلال الدین تر لارښوونې لاندې په (۳۳) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د چغه سرای د پېژندګلوۍ او دودونو په باب معلومات راغلي دي.

### ۲۱۵- د کوهدامن د داودزو اجتماعي، تاریخي او ادبي فعالیت:

وجیهې داودزۍ پر ۱۳۶۵ل کال د زېورالدین زېور تر لارښوونې لاندې په (۲۶) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د سیمې د داودزیو ټولنیز، تاریخي او ادبي فعالیتونه یاد شوي دي.

### ۲۱۶- د مستورې شال شاعري:

سیدمحقق پر ۱۳۶۵ل کال د پوهندوی ډاکترې زرغونې زېور تر لارښوونې لاندې په (۴۷) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې دپښتنې شاعرې (مستورې شال) پر ادبي ژوند رڼا اچول شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۲۱۷- د خوشال په کلیاتو کې ادبي صنایع:

فهیمې هاشمي پر ۱۳٦٥ل کال د پوهندوی جلال الدین تر لارښوونې لاندې په (۳٤) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د خوشال ژوند لیک، اثار او د هغه په کلیاتو کې ادبي صنایع په ګوته شوي دي.

### ۲۱۸- د ماشوم ادبیات:

سدو ټکني پر ۱۳٦٥ل کال د جلال الدین خان تر لارښوونې لاندې په (٤۰) مخونو کې لیکلی دی. د ماشومانو د ادبیاتو په باب معلومات په کې راغلي دي.

### ۲۱۹- پر نظم باندې ختیځې کیسې او اسطورې:

میاجان مشفق پر ۱۳٦٥ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳۰) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې (۱۲) افسانوي کیسې راغلې دي.

### ۲۲۰- د پښتو ژبې باقاعده او بې قاعده مصدرونه:

نورس امرخېل پر ۱۳٦٥ل کال د نوراحمد شاکر تر لارښوونې لاندې په (۳٤) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د پښتو باقاعدې او بې قاعدې مصدرونو ته ګوته نیول شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۲۲۱- د پښتو ژبې د باقاعده او بې قاعده لغـاتو مجموعـه چـې مصدر یې په (یدل) ختمېږي:

زرغونې برېښ پر ۱۳٦٥ل کال د پوهندوی نوراحمد شاکر تر لارښوونې لاندې په (۳۱) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د پښتو ژبې د باقاعده او بې قاعده لغتونو تشریح راغلې ده.

### ۲۲۲- د بهایي جان په اشعارو کې ادبي صنایع:

محمد داود ساپي پر ۱۳٦٥ل کال د پوهندوی جلال الدین تر لارښوونې لاندې په (٤٨) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د بهایي جان پر ژوند لیک سربېره د هغه په شعرونو کې ادبي صنایع هم ښوول شوي دي.

### ۲۲۳- په معاصرو هنري پښتو ادبیاتو کې د ویښ ځلمیانو د خپرونو او اثارو تحلیل:

زرغونې درانۍ پر ۱۳٦٥ل کال د پوهنوال ګل محمد نورزي تر لارښوونې لاندې په (٤۲) مخونو کې لیکلی دی. نوموړي مونوګراف کې د ویښ ځلمیانو له جملې څخه د ښېنوا د اثارو تحلیل او په دویمه برخه کې د ګل پاچا الفت د اثارو تحلیل راغلی دی.

### ۲۲٤- د ماه رخې ناول ته لنډه انتقادي کتنه:

پروین منګل پر ۱۳٦٥ل کال د پوهنوال ګل محمد نورزي تر لارښوونې لاندې په (٥٤) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د سیدراحت زاخېلي د (ماه رخې ناول) ته یوه انتقادي کتنه شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۲۵- د ننګرهار د مجلې فهرست:**

شاه ولي پر ۱۳٦٥ل کال د دوکتور زيورالدين زيور تر لارښوونې لاندې په (۵۰) مخونو کې ليکلی دی. په دغه مونوګراف کې د ننګرهار مجلې د ليکنو فهرست ( د ليکوال نوم او د ليکنې سرليک) برابر شوي دي.

**۲۲٦- د رحمان بابا په دېوان کې ادبي صنايع:**

بي بي حيا خلازۍ پر ۱۳٦٥ل کال د پوهندوی جلال الدين تر لارښوونې لاندې په (٤٧) مخونو کې ليکلی دی. په دغه مونوګراف کې د رحمان بابا پر پېژندګلوۍ سربېره د هغه په دېوان کې ادبي صنايع هم په ګوته شوي دي.

**۲۲۷- په معاصر پښتو شعر کې ملي او مترقي افکار:**

محمد حکيم تڼيوال پر ۱۳٦٥ل کال د پوهنوال زېورالدين زېور تر لارښوونې لاندې په (۸۰) مخونو کې ليکلی دی. نوموړی مونوګراف درې څپرکي لري، چې د پښتو د معاصرو ادبياتو په ځانګړي ډول د شعر د فکري خوا (مترقي افکارو) په باب په کې خبرې شوي دي.

**۲۲۸- په پښتو لنډيو کې تاريخي پېښې:**

محمد قسيم پر ۱۳٦٦ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې ليکلی، چې په لنډيو کې تاريخي پېښې په کې څېړل شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۲۹- په پښتو ادب کې ټوکې ټکالې:**

میراجان غروال پر ۱۳٦٦ل کال د پوهنوال زېورالدین زېور تر لارښوونې لاندې په (۳٤) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د پښتو ژبې یو شمېر ټوکې او عامیانه اصطلاحات راغلي دي.

**۲۳۰- د سراجي دورې پښتو منظوم ادبیات:**

محمد علي قریشي پر ۱۳٦٦ل کال د پوهنوال زېورالدین زېور تر لارښوونې لاندې په (٤٥) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د پښتو ادبیاتو د نظم او شعر پر برخې یو څه خبرې شوي او بیا په یاد شوې دوره کې ځینې پښتو نظمونه راوړل شوي دي.

**۲۳۱- پښتانه په بلخ کې:**

عبدالقیوم پر ۱۳٦٦ل کال د جلال الدین خان تر لارښوونې لاندې په (٦٤) مخونو کې لیکی دی. نوموړی مونوګراف شپږ څپرکي لري او د بلخ د پښتنو په باب معلومات په کې خوندي شوي دي.

**۲۳۲- په پښتو ادبیاتو کې سفرنامه:**

حیات الله صبور پر ۱۳٦٦ل کال د پوهنوال زېورالدین زېور تر لارښوونې لاندې په (٤٩) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د پښتو ژبې یونلیکونو (سفرنامو) په باب معلومات راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۲۳۳- په بره او کوزه پښتونخوا کې ادبي تاریخ لیکنه:

غلام نبي فراهي پر ۱۳٦٦ل کال د پوهنوال زېورالدین زېور تر لارښوونې لاندې په (٤٦) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د یادې شوې موضوع په باب یو لړ معلومات راټول شوي دي.

### ۲۳٤- شعر او شاعري د لرغوني یونان د پوهانو له نظره:

غلام مصطفی رحیمي شلګري پر ۱۳٦٦ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۹٦) مخونو کې لیکلی دی. نوموړی مونوګراف شپږ څپرکي لري، چې د موضوع په باب معلومات په کې راغلي دي.

### ۲۳۵- مهمې فولکوري شپې او ورځې:

داکتر خان پر ۱۳٦٦ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳۰) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د فولکوري روایاتو له مخې مهمې شپې او ورځې په ګوته شوې دي.

### ۲۳٦- د منګلو د پښتونولۍ نرخ:

ګلات منګل پر ۱۳٦٦ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳۲) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د منګلو د قوم د پښتونولۍ، دود او دستور په باب معلومات راټول شوي دي.

### ۲۳۷- په پښتو ژبه کې د باقاعده او بې قاعده مصدرونو ډېټا:

شیرین شاه پر ۱۳٦٦ل کال د نوراحمد شاکر تر لارښوونې لاندې په (۳۱) مخونو کې لیکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۲۳۸- د ګودر په باره کې لنډۍ:

محمد اسحق پر ۱۳٦۷ل کال د حاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳٤) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د الفبا په ترتیب هغه لنډۍ راټولې شوي چې د (ګودر) په باب ویل شوي دي.

### ۲۳۹- لازمي افعال او د هغوی مورفولوژیکي خصوصیات:

ګل غوټۍ پر ۱۳٦۷ل کال د زرغونې زیور تر لارښوونې لاندې په (۳۷) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د فعلي کټګورۍ او لازمي فعلونو په باب معلومات راغونډ شوي دي.

### ۲٤۰- د افغانستان د لیکوالو انجمن له تاسیس (۱۳۵۹-۱۳٦٦) کلونو پورې د پښتو چاپ شویو اثارو فهرست:

تاج محمد یاري پر ۱۳٦۷ل کال د حاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۵۹) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د هغو پښتو کتابونو یادونه شوې، چې په یاد شوي زماني واټن کې د لیکوالو ټولنې خپاره کړي دي.

### ۲٤۱- د ملګرو ملتو منشور او زموږ ملي روغه جوړه:

میرزا محمد توتاخېل پر ۱۳٦۷ل کال د حاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳۱) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د یاد شویو موضوعګانو فکري نږدېوالی تر بحث لاندې نیول شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یادښت:** پر ۱۳۷۰ل کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې په امریت کې یو زیات شمېر پښتو مونوګرافونه خوندي وو، په دې لړ کې یو شمېر داسې مونوګرافونه هم وو، چې د کابل پوهنتون په مرکزي کتابتون کې یې کاپي نه وې، ددې خبرې یوه وجه شاید دا وي، چې مرکزي کتابتون ته یې کاپي نه وې استول شوې او یا هم د کتابتون د کارکوونکو د تخنیکي ستونزو او ځینو نورو لاملونو له امله د دغو مونوګرافونو نقل د پوهنتون په مرکزي کتابتون کې نه وي خوندي شوی. په هر حال دلته به د کال په ترتیب د دغو مونوګرافونو یادونه هم وکړو. د پېژندنې لپاره (د پوهنتون په مرکزي کتابتون کې د هغو د کتلاک نومره هم ثبت شوې وه خو څرنګه چې د مرکزي کتابتون اکثره خطي نسخې چور او یا سیزل شوي چې دې کې پښتو مونوګرافونه هم شامل وو، نو ځکه د کتلاک نومره یې رانه وړل شوه، اوس ددې مونوګراف یو شمېر د زیاتو سیلاوونو او ناتارونو له بلاوو سره سره په پښتو څانګه کې خوندي پاتې دي او ځینې یې کېدی شي د هغو له خپلو لیکوالو سره هم خوندي وي.

### ۲۴۲- غرځستان:

بسم الله ځیرمن پر ۱۳۳۹ل کال لیکلی، چې (۵۹) مخونه لري او د یاد شوې سیمې سیاسي، ټولنیز او اقتصادي حالات په کې څېړل شوي دي.

### ۲۴۳- د خوشال خان ادبي لار:

عزیزالله پښتونمل پر ۱۳۳۹ل کال، په (۱٦۷) مخونو کې لیکلی او د خوشال د ادبي ژوند په باب په کې معلومات ورکړل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۲۴۴- د غرب اوسنی تمدن:

نوراحمد پر ۱۳۳۹ل کال په (۴۰) مخونو کې لیکلی، چې د غرب د تمدن په باب یې یو لړ معلومات وړاندې کړي دي.

### ۲۴۵- د افغانستان د لمر ختیځو او مرکزي برخو کوچیان:

محمد عزیز کاکړ پر ۱۳۴۰ل کال په (۱۷۵) مخونو کې لیکلی او د یاد شوې موضوع په هکله په کې یو لړ معلومات ورکړل شوي دي.

### ۲۴۶- د لغمان محلي شاعران:

عبدالرشید پر ۱۳۴۱ل کال لیکلی، (۱۰۵) مخه لري او د لغمان د ځینو محلي شاعرانو ژوند لیک او د شعرونو بېلګې په کې راوړل شوي دي.

### ۲۴۷- ابدالیان:

امین الله پر ۱۳۴۱ل کال په (۵۹) مخونو کې لیکلی او د پښتنو د یوه نامتو ټبر (ابدالیانو) په باب معلومات په کې راټول کړي دي.

### ۲۴۸- د ښځې تاریخي او محیطي موقف:

صفورا پر ۱۳۴۱ل کال په (٦٤) مخونو کې لیکلی او د تاریخ په اوږدو کې او بیا تر نوي عصره پورې په ټولنه کې د ښځې پر ژوند او دریځ خبرې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۴۹- د پکتیا ولایت یو لړ ملي او اجتماعي دودونه:**

پر ۱۳۴۳ل کال محمدرحیم شملزي په (۷۰) مخونو کې لیکلی او د یاد شوي ولایت یو لړ ملي او ټولنیز دودونه په کې بیان شوي دي.

**۲۵۰- د پښتو اصطلاحات:**

حبیب الله جاج پښتو زوی پر ۱۳۴۳ل کال په (۳۰) مخونو کې لیکلی دی او د پښتو ژبې ځینې اصطلاحات یې په کې راټول کړي دي.

**۲۵۱- د نباتاتو او مرغانو په باب تحقیق:**

محمد اسمعیل پر ۱۳۴۵ل کال په (۳۵) مخونو کې لیکلی او د یاد شوې موضوع په باب په کې یو لړ معلومات راغونډ شوي دي.

**۲۵۲- د هلمند ولایت د مارجي د ناقلو حوزه:**

پایاب پر ۱۳۴۸ل کال د استاد احمدي تر لارښوونې لاندې په (۳۱) مخونو کې لیکلی او د یاد شوې موضوع په باب په کې یو لړ معلومات راټول شوي دي.

**۲۵۳- د پښتو پخوانیو گرامرونو ته یوه کتنه:**

جانباز پر ۱۳۴۸ل کال په (۵۹) مخونو کې لیکلی او د پښتو د ځینو پخوانیو گرامرونو پر معرفۍ سربېره یې پر هغوی یو لړ خبرې کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۵٤- د لوګر ولایت د فیض اخوندزاده سوانح او اشعار:**

شاه الله احمدزي پر ۱۳٤۹ل کال د استاد عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (۳۸) مخونو کې لیکلی او د یاد شوي شخص پر ژوند لیک سربېره یې د شعرونو بېلګې هم راوړي دي.

**۲۵۵- د سپرې ولسوالۍ دودونه:**

عبدالودود پر ۱۳۵۰ل کال د پوهاند عبدالحی حبیبي تر لارښوونې لاندې په (۱۵) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې لومړی د سپرې ولسوالۍ موقعیت، دکلیو نومونه او د همغه ځای د ځینو پښتني دودونو په باب معلومات لیکل شوي دي.

**۲۵٦- د کندهار سیاسي او اجتماعي اوضاع:**

حیات الله رفیقي پر ۱۳۵۰ل کال د پوهاند عبدالحی حبیبي تر لارښوونې لاندې په (٤۲) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د کندهار تاریخي اهمیت، د هغه ټولنیزه وضع، اقتصادي اوضاع او جغرافیایي حالت څېړل شوي دي.

**۲۵۷- ولسي ادب:**

محمد صابر خویشکي پر ۱۳۵۱ل کال د مجاوراحمد زیار تر لارښوونې لاندې په (۳۲) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې پښتو لنډۍ، ناول او د ولسي ادب ځینې نور ډولونه بیان شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۵۸- د باجوړ متلونه:**

پذيرګل سالارزي پر ۱۳۵۱ل کال د استاد عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (٤۳) مخونو کې ليکلی او د الفبا په حساب يو شمېر هغه متلونه په کې راټول شوي، چې د باجوړ دخلکو په خبرو اترو کې کارول کېږي.

**۲۵۹- ژوند او هنر:**

محمدجان ګياني پر ۱۳۵۲ل کال د ګل محمد نورزي تر لارښوونې لاندې په (۳٦) مخونو کې ليکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د هنر او ادبياتو ارزونې، شعر او هنر، فن او ژوند او د خلکو او هنر په باب يو لړ معلومات راټول شوي دي.

**۲٦۰- په لغمان کې لاسي صنايع او د هغو اقتصادي ارزښت:**

عبدالظاهر نوري پر ۱۳۵۲ل کال په (۵۲) مخونو کې ليکلی او د لغمان ولايت دجغرافيايي موقعيت او لاسي صنايعو په باب په کې معلومات ځای کړای شوي دي.

**۲٦۱- په افغانستان کې د ښځو د عصري تربيې تاريخ:**

فاطمې ساپۍ پر ۱۳۵۳ل کال د مجاوراحمدزيار تر لارښوونې لاندې په (۵۷) مخونو کې ليکلی او په افغانستان کې يې د ښځو د عصري تربيې او تعليم په باب رڼا اچولې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۲٦۲- د راډیو افغانستان د پروګرامونو شکل او څرنګوالي ته یوه کتنه:

شامحمود زیارمل پر ۱۳۵۳ل کال په (۳۰) مخونو کې لیکلی. په دغه مونوګراف کې د ۱۳۵۲ل کال او تر هغه وړاندې د راډیو پروګرامونه معرفي شوي او هم د دغو پروګرامونو پر مطالبو خبرې شوې دي.

### ۲٦۳- د کیسو په باره کې:

پر ۱۳۵۳ل کال د محمود ساپي له خوا د استاد عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (۵۷) مخونو کې لیکل شوی. په دغه مونوګراف کې د کیسې تعریف، مرام او بیا په بېلابېلو سیمو کې د کیسو ویل څېړل شوي او هم یې د ویلو طرز بیان شوی دی.

### ۲٦٤- د ننګرهار ولایت د بریني د سیمې فولکور:

سیمین پر ۱۳۵٦ل کال د استاد عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (٤۰) مخونو کې لیکلی او د یادې شوې سیمې پښتني دودونه لکه: واده، کوژده او ځینې نور دودونه بیان شوي دي.

### ۲٦۵- د زین الله لنډه پېژندګلوي او اشعار یې:

عزیزالله پر ۱۳۵٦ل کال د مجاوراحمد زیار تر لارښوونې لاندې په (٤۷) مخونو کې لیکلی او د یاد شوي شاعر پر ژوند لیک سربېره یې د هغه پر اشعارو خبرې کړې او د شعرونو بېلګې یې ورته راوړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۲٦٦- د لال پورې څو وګړني شاعران:

خیبر برم پر ۱۳۵٦ل کال د مجاوراحمد زیار تر لارښوونې لاندې په (۷۰) مخونو کې لیکلی او د لال پورې څلور تنه ولسي شاعران په کې معرفي شوي او د شعرونو بېلګې يې راوړل شوې دي.

### ۲٦۷- د تعلیمي نصاب په رڼا کې د پښتو ژبې تاریخچې ته یوه لنډه کتنه او د هغو د لیکوالانو پېژندګلوي:

ګل محمد شینزي پر ۱۳۵۹ل کال د پوهاند عبدالشکور رشاد تر لارښوونې لاندې په (۳٤) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د پښتو ژبې د تعلیمي نصاب میتود، د پښتو ادبیاتو د لیکوالو پېژندګلوي او د ځینې درسي کتابونو پر میتود رڼا اچول شوې ده.

### ۲٦۸- د خوشال په اشعارو کې مېړانه:

الله نظر پر ۱۳٦۱ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (٥٤) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د خوشال پر پېژندګلوی سربېره د هغه مبارزې او هم خوشال د نورو له نظره څېړل شوی او بیا يې د کلام بېلګې راوړل شوې دي.

### ۲٦۹- ادبي کره کتنه او ګټې يې:

شاه محمود زرمتي پر ۱۳٦۳ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳٦) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د پوهانو له نظره کره کتنه څېړل شوې، د کره کتنې تعریف وړاندې شوی او هم د کره کتنې ډولونه په ګوته شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۷۰- د حضرت یوسف علیه السلا قیصه:**

شریفې یونس وردګ پر ۱۳٦٤ل کال د حبیب الله جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې لیکلی. په نوموړي مونوګراف کې لومړی د اتلانو او پیریانو کیسې او بیا د حضرت یوسف علیه السلام د کیسې بیان شوی دی.

**۲۷۱- د خوشال په اشعارو کې د غیر لفظي مفاهموي خپلونو انعکاس:**

زرغونې حلیمې پر ۱۳٦٦ل کال د حبیب الله جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳۹) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د سر، وچولي، وروځو، سترګو، شونډو او داسې غړو په واسطه د غیر لفظي مفاهمې ډولونه ښوول شوي دي.

**۲۷۲- په پښتو معاصرو ادبیاتو کې د (منان ملګري) ادبي او هنري دریځ:**

عبدالشکور قیومي د زېورالدین زېور تر لارښوونې لاندې پر ۱۳٦۷ل کال په (٤٥) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د پښتو په اوسنیو ادبیاتو کې د منان ملګري پر ادبي څېړې او مقام خبرې شوې دي.

**۲۷۳- په پښتو لنډیو کې د مسافر څېره:**

میرزامحمد ګړندي پر ۱۳٦۷ل کال د جلال الدین خان تر لارښوونې لاندې په (۳۱) مخونو کې لیکلی دی. په دغه مونوګراف کې د لنډیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



محتوا، وېش او بېلګې راغلي دي او بيا په پښتو لنډيو کې د مسافر څېرې ته ګوته نيول شوې ده.

## ۲۷۴- د ماه رخې ناول او ټولنيز ارزښتونه:

زرغونې شهې پر ۱۳۶۷ل کال د خالق رشيد تر لارښوونې لاندې په (۳۱) مخونو کې ليکلی دی. په دغه مونوګراف کې د راحت زاخېلي پېژندګلوي او د هغه د اثارو د پېژندنې په باب معلومات راغلي دي او بيا د ماه رخې ناول اړتيا، ټولنيز او هنري ارزښت او د ناول ټولنيز پيغام بيان شوی دی.

## ۲۷۵- پښتو ترانې:

حبيبې پر ۱۳۶۷ل کال د زرغونې زېور تر لارښوونې لاندې په (٦٤) مخونو کې ليکلی دی. په دغه مونوګراف کې د پښتو ژبې يو شمېر ترانې راټولې شوې دي.

## ۲۷٦- په پښتو لنډيو کې د (جانان) څېره:

راحلې بابکرخېل پر ۱۳۶۷ل کال د محمد صابر خويشکي تر لارښوونې لاندې په (۳۲) مخونو کې ليکلی او هغه پښتو لنډۍ په کې راوړل شوې، چې د (جانان) ياد په کې راغلی دی.

## ۲۷۷- د پښتني پېغلو او مېرمنو ادبي او ژبنۍ هلې ځلې:

صالحې سروري پر ۱۳۶۷ل کال د زرغونې زېور تر لارښوونې لاندې په (۳۲) مخونو کې ليکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې د ځينو هغو پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېغلو او مېرمنو پېژندګلوي راغلې، چې د پښتو ژبې او ادب په پراختيا او بډاينه کې يې برخه اخيستې ده.

## ۲۷۸- د ويښتيايي پېر سياسي، ملي جريدو پښتو برخې ته يوه کتنه:

محمد حسن مطع پر ۱۳۶۷ل کال د خالق رشيد تر لارښوونې لاندې په (۸۰) مخونو کې ليکلى. په دغه مونوګراف کې د ويښتيايي پېر د جريدو پر پښتو برخې يو لړ خبرې شوې دي.

## ۲۷۹- د ازاد افغانستان پښتو برخه:

خيرمحمد شېرزي پر ۱۳۶۷ل کال د خالق رشيد تر لارښوونې لاندې په (۵۳) مخونو کې ليکلى دى.

## ۲۸۰- د انګرېزي استعمار پر ضد د پښتنو د ليکني او ګړني ادب ونډه:

نورمحمد پر ۱۳۶۸ل کال د آصف بهاند تر لارښوونې لاندې په (۵۰) مخونو کې ليکلى دى. په نوموړي مونوګراف کې د انګرېزانو راتګ، د انګرېزانو پر وړاندې د خلکو کرکه او پر هغه وخت د پښتو ادب پر څرنګوالي رڼا اچول شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۸۱- د لرغوني یونان او روم نامتو پوهان او لیکوالان:**

عاطفې حرکت پر ۱۳٦۸ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (۳٤) مخونو کې لیکلی او د یونان او روم (۲۹) نامتو پوهان او لیکوالان په کې معرفي شوي او د هغوی پر ځینو اثارو خبرې شوې دي.

**۲۸۲- د خوشال په کلیاتو کې تلمیحات:**

نسیمې ارغندیوال پر ۱۳٦۸ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (٤۰) مخونو کې لیکلی دی او د خوشال په کلیاتو کې د تلمیح ادبي صنایع په ګوته شوې دي.

**۲۸۳- په فولکوریک ولسي ادب کې د پښتنو د واده دود او دستور:**

عمر ګل پر ۱۳٦۸ل کال د جلال الدین تر لارښوونې لاندې په (۳۲) مخونو کې لیکلی دی. په نوموړي مونوګراف کې په پښتو ادبیاتو کې د فولکور اهمیت په باب خبرې شوي او ځینې پښتني دودونه بیان شوي دي.

**۲۸٤- د شپون تحقیقي او نوښتي اثار:**

نفیسې هاشمي پر ۱۳٦۸ل کال د خالق رشید تر لارښوونې لاندې په (٤۹) مخونو کې لیکلی او د سعدالدین شپون پر پېژندګلوۍ سربېره د هغه پر ادبي اثارو یې هم رڼا اچول شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۸۵- د ادب مجلې پښتو برخه:**

اصفې اندړې پر ۱۳٦۸ل کال د خالق رشید تر لارښوونې لاندې په (۳۰) مخونو کې لیکلی او د ادب مجلې د پښتو برخې نیولیک یې په کې ترتیب کړی دی.

**۲۸٦- د پټې خزانې د تاریخي متونو ببلګې: منثور، منظوم متن:**

د اسې رحماني له خوا پر ۱۳٦۸ل کال د خالق رشید تر لارښوونې لاندې په (۳۷) مخونو کې لیکل شوی دی. په نوموړي مونوګراف کې د پټې خزانې د تاریخي متونو پر ببلګو خبرې شوې دي.

**۲۸۷- د استاد زیار معرفي او د هغه اثار:**

پلوشې جبارخېلې پر ۱۳٦۹ل کال د آصف بهاند تر لارښوونې لاندې په (۵۱) مخونو کې لیکلی او په هغه کې یې د استاد زیار پر پېژندګلوۍ سربېره د هغه د اثارو په باب هم یو لړ معلومات وړاندې کړي دي.

**۲۸۸- د خوشال په اثارو کې د سواتنامې ارزښت:**

سپوږمۍ پر ۱۳٦۹ل کال د آصف بهاند تر لارښوونې لاندې په (۵۹) مخونو کې لیکلی او په هغه کې د خوشال پر پېژندګلوۍ سربېره پر (سواتنامې) هم خبرې شوې دي.

**۲۸۹- ټوټکې:**

د لیلما وردګ له خوا پر ۱۳٦۹ل کال د آصف بهاند تر لارښوونې لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (۳۳) مخونو کې ليکل شوی او په هغه کې بېلابېلې ټوټکې لکه پر زوم باندې ټوټکې، د ايرو او سپېلنو ټوټکې او داسې نورې راټولې شوې دي.

## ۲۹۰- د لرغونې دورې د شعر شکل او مضمون:

د جلات خان له خوا پر ۱۳۶۹ل کال د آصف بهاند تر لارښوونې لاندې په (۳۳) مخونو کې ليکل شوی. په دغه مونوگراف کې په لرغونې دوره کې پر ملي اوزانو برابرو شعرونو، لکه: د امير کروړ پر وياړنې، د بېټ نيکه، شيخ تيمن او داسې نورو پر شعرونو خبرې شوې دي.

## ۲۹۱- خوشال ولې دستار نامه وليکله:

محمد نعيم پر ۱۳۶۹ل کال د آصف بهاند تر لارښوونې لاندې په (۳۷) مخونو کې ليکلی دی. په نوموړي مونوگراف کې پر دستارنامه او د هغې د ليکلو پر علتونو خبرې شوې دي.

## ۲۹۲- د کاظم خان شيدا په شعر کې د غربت او مساپرۍ انعکاس:

پلوشې عمر پر ۱۳۶۹ل کال د خالق رشيد تر لارښوونې لاندې په (۳۷) مخونو کې ليکلی دی. په نوموړي مونوگراف کې د کاظم خان شيدا پېژندنه، د شيدا شاعري او د شيدا د مسافرۍ او غربت علتونه بيان شوي او هم د بېلگې په توگه د شيدا ځينې غزلونه، څلوريزې، مخمسات او قطعات راوړل شوي دي.

## ۲۹۳- د پخواني يونان او روم وتلي اثار:

عبدالرسول جبارخېل پر ۱۳۶۹ل کال د حبيب الله جاج پښتون زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر لارښوونې لاندې په (٤٠) مخونو کې لـيکلی او د لرغـوني يونـان او روم يو شمېر اثار په کې معرفي شوي دي.

**٢٩٤- د مير مهدي شاه د لنډو کيسو مهم موضوعات:**

شريفې پر ١٣٦٩ل کال د خالق رشيد تر لارښوونې لاندې په (٦٥) مخونو کې ليکلی او د مهدي پر ژوندليک سربېره يې د هغه د لنډو کيسو مهمو موضوعاتو ته گوته نيولې ده.

**٢٩٥- د سيد بهاوالدين مجروح ژوند او دده د پښتو اثارو معرفي:**

نصيرې نوري پر ١٣٦٩ل کال د خالق رشيد تر لارښوونې لاندې په (٣٨) مخونو کې ليکلی او د سيدبهاوالدين مجروح پر ژوند او پښتو اثارو يې رڼا اچولې ده.

**٢٩٦- د رحمت شاه سايل د شعر رنگين اړخونه:**

امنې پر ١٣٦٩ل کال د خالق رشيد تر لارښوونې لاندې په (٣٩) مخونو کې ليکلی او د رحمت شاه سايل د ژوند او اثارو پر پېژندنه سربېره يې د هغه د شعر پر ځينو محتوايي اړخونو رڼا اچولې ده.

**٢٩٧- د پخواني يونان پنځه اتلان:**

ناجيې مقبلې پر ١٣٦٩ل کال د جاج پښتون زوی تر لارښوونې لاندې په (٣٠) مخونو کې ليکلی او د پخواني يونان د پنځو اتلانو په باب يې معلومات په کې راټول کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۹۸- د دولت لوانې په دېوان کې د توجیه تغیر:**

جمیلې پر ۱۳٦۹ل کال لیکلی، لارښود استاد یې جلال الدین خان دی. دا مونوگراف (۳٦) مخونه لري او د دولت لوانې د دېوان په قافیه کې یې یاده شوې موضوع څېړلې ده.

**۲۹۹- د محمد گل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه:**

د محمد اسمعیل یون له خوا لیکل شوی دی. په دغه مونوگراف کې د وزیر محمد گل خان مومند د ژوند، مبارزو او افکارو په باب څرگندونې شوي دي. دا مونوگراف پر ۱۳۷۳ل کال چاپ شوی دی.

**۳۰۰- لنډیو ته یوه لنډه کتنه:**

د ارین مومندې له خوا پر ۱۳۷۰ل کال لیکل شوی، چې د لنډیو د جوړښت او د هغو د ځینو اړخونو په باب په کې څرگندونې شوې دي.

**۳۰۱- پښتو ډرامه:**

د گل غوټۍ له خوا پر ۱۳۷۰ل کال لیکل شوی، په دغه مونوگراف کې لومړی په تاریخي لحاظ د ډرامې په باب معلومات راغلي او بیا د پښتو ډرامې په باب څرگندونې په کې شوې دي.

**۳۰۲- د راحت زاخیلي ژوند او اثار:**

بلقیس اندړ پر ۱۳۷۰ل کال لیکلی دی. په دغه مونوگراف کې د راحت زاخیلي د ژوند او اثار په باب معلومات راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳۰۳- د عبدالروف بېنوا ژوند او اثار:


د شیما جبارخېلې له خوا پر ۱۳۷۰ل کال لیکل شوی دی، د مرحوم بېنوا ژوند لیک او د هغه اثارو په باب معلومات په کې راغلې دي.

### ۳۰٤- د محمد صدیق روهي ژوند او اثار:

د محمد رحیم له خوا پر ۱۳۷۰ل کال لیکل شوی او د کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي د ژوند او د هغه د ادبي فعالیتونو په باب معلومات په کې راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# ساينسي پرمختياوې

( د لومړنيو ښوونځيو د زده کوونکو لپاره مرستندوی)

لیکوال

محمد اسمعيل يون

٥٧٢٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه



| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | ساینسي پرمختیاوې |
| لیکوال: | محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۸۰ل کال |
| دویم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د لیکوال | |
| پرله پسې نومره: | (۱۸) |
| د خپرندوی | |
| پرله پسې نومره: | (۱۸) |
| کمپوزر: | ضیاالرحمن ضیا |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دې اثر په باب څو يادونې

پر (۱۳۷۹ل- ۲۰۰۱م) کال د يونېسکو د ځينو افغان مامورينو له خوا په پېښور کې له ځينو ليکوالو څخه وغوښتل شول، چې د ښوونځيو د زده کوونکو لپاره ځينې داسې درسي مرستندويه اثار وليکي، چې هغوی د اوسنيو درسي کتابونو ترڅنګ له دې اثارو هم ګټه پورته کړي. په دې ليکوالو کې يو تن زه هم شامل وم. کوم اثار چې وليکل شول، د هغوی نومونه په دې اثر کې ياد شوي دي. هغه وخت د طالبانو نظام واکمن و. هغوی خپل تعليمي نصاب درلود،چې ساينسي مضامينو او تجربه يي علومو ته يې په کې چندان توجه نه وه کړې، نو ددې ډول کتابونو چاپ هغه وخت ډېر ګټور او مرستندوی و. پر يوه اثر بايد دووتنو ليکوالو کار کړی وای، يو د اصلي ليکوال او بل د همکارپه توګه. اغلې زرغونه جبارخېله ما سره په دې کتاب کې د مرستندويې ليکوالې په توګه په پام کې ونيول شوه او زه بيا په بل اثر کې له هغې سره دمرستندوی ليکوال په توګه،




ددې ترڅنګ مې دوه اثار نور هم ورسره ايډېټ کړل. خوددې اثر په سرکې زما او د هغه بل اثر په سرکې د اغلې زرغونې جبارخېل نوم د تعامل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مخکنۍ موافقې له مخې ولیکل شو. نو اوس چې دا اثر زه بیا له سره چاپوم، د کتاب لیکنې او ترتیبونې د اصلي حقیقت او واقعیت له مخې غوره گڼم، چې هغه بل اثر یوازې د اغلې زرغونې جبارخېل په نوم چاپ شي او دا هغه زما په نوم. په دې اثر کې چې له کومو معلوماتوڅخه گټه اخیستل شوې وه، ما هغه هم یاد کړي وو، خو د ایډېټ پروخت ددې اثر په متن کې دومره تغیر او تبدیل راوستل شو، چې له گټه اخیستل شویو کتابونو د متن اصلي بڼه په کې بېخي له منځه لاړه، یوازې له محتوا څخه کار واخیستل شو. ددې علت دا و، چې د ښوونځیو ماشومانو ته باید په داسې ساده ژبه اثر ولیکل شي، چې دوی ته ترې گټه اخیستنه اسانه وي. په هر حال په پای کې همدغه متن سم وگڼل شو، چې همدا اوس ستاسو په لاس کې دی. د دویم چاپ پر وخت هم ما کوم خاص بدلون په کې نه دی راوستی، زه هیله من اوپر دې باوري یم، چې دا کتاب اوس هم د ښوونځیو په تېره بیا د لومړنیو ښوونځیو له زده کوونکو سره د یوه درسي مرستندوی اثر په توگه مرسته کولای او د هغوی په ذهني ارتقا کې تاثیر لرلای شي.

په ټول هېواد کې د تعلیم د غوړېدو په هیله

په درنښت

پوهندوی محمد اسمعیل یون

ارگ- د جمهوري ریاست ودانۍ- کابل افغانستان

د ۱۳۸۷ل کال د سلواغې ۲۹مه نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړنۍ خبرې

په افغانستان کې د زده کړې شرایط ډېر کمزوري شوي دي. د یونېسکو اوسنیو څېړنو په گوته کړې ده، چې په دې جنگ ځپلي هېواد کې، د ښوونځیو زده کوونکي پوره درسي کتابونه نه لري. نه یوازې درسي کتابونه کم دي. زاړه اونیمگړي هم دي، نو له همدې امله په ۲۱مه پېړۍ کې دماشوم اړتیاوې نه شي پوره کولای. په افغانستان کې ټلویزیوني خپرونې، ورځپاڼې او دمعلوماتو د لاس ته راوړلو نورې سرچینې نه شته، نو له همدې امله افغان ماشومان، په عام ډول له هغو پرمختیاوو څخه بې خبره دي،چې په بهرنۍ نړۍ کې منځته راځي. د لوستنې مرستندویو موادو دغه لړۍ د یونېسکو په نوښت خپرېږي. دا لړۍ به د افغان ماشومانو د معلوماتو هغه برخې پیاوړي کړي،چې خورا مهمې دي او په درسي کتابونو کې نه شته. دلوستنې مرستندویو موادو ددغې لړۍ موضوعگانې په لاندې ډول دي.

۱- ساینس- د ساینس اعجاز (نوې اختراعگانې)

۲- روغتیایي ښوونه او روزنه- د ماشوم د سالمې ودې او د لومړنیو مرستو لارښوونې.

۳- اجتماعي کېدنه- گډ ژوند (کورنۍ، همزولي او د سولې ښوونه او روزنه)

٤- د نفوسو چاودنه- د ژوندانه پر کچې د نفوسو د چټکې ودې اغېزې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلوستنې دغه مواد په پښتو او دري ژبو خپاره شوي دي. دغه کتابونه د افغانستان د ښوونې او روزنې د پیاوړو پوهانو او لیکوالو له خوا لیکل شوي دي. د افغان کډوالو \ وطن ته بېرته ستنېدونکو ښوونیزه او روزنیزه اداره(AREP) چې یوه افغان نادولتي موسسه ده، له یونېسکو سره په ګډه کار وکړ او ددې کتابونودمسودې د لیکنې، مخکیني ازمېښت، کمپوز او نهایي کولو لپاره یې اسانتیاوې برابرې کړي. دغه فعالیت او هڅې د لویې ازرې د پروژې د نوښت له مخې، چې مالي لګښت یې د جاپان د حکومت له خوا ورکړ شوی دی، ترسره شوي دي.

موږ د افغان متخصصینو له مرستې او د (AREP) له ملاتړ څخه دزړه له کومې مننه کوو. هیله کوو، چې دغه کتابونه به افغان ماشومانو ته هغه کړنلارې او بهیر روښانه کړي، چې په نړۍ کې نوی منځته راځي. دغه کتابونه به همدارنګه د زده کوونکو د پوهې افق پراخه کړي. لوستنې مواد په ازمېښتي ډول خپرېږي او دسمون لپاره ستاسې وړاندیزونو او کره کتنو ته هر کلی ویل کېږي.

مېرمن انګېبورګ براینس

د یونېسکو دفتر مدیره

اسلام اباد

د ۲۰۰۱م کال د اکتوبر ۳۰مه نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیلامه

لکه څنګه چې پوهېږئ (ضرورت یا احتیاج د نوښت مورده). انسان وخت پر وخت د خپل احتیاج د پوره کولو لپاره هڅه او هاند کړی او کوي يې.

انسان د خپل پیدایښت او ګډ ژوند له پیله خوړو، جامو او استوګنځي ته اړتیا لرله.دوی ددې لپاره د کار ابتدایي وسایل لکه یوم، تبر، کولنګ، غشی، لیندۍ، جغ او سپاره او نور جوړ کړل، چې خپلې اړتیاوې پوره کړي. د همدې وسیلو په مرسته یې وکولای شول،د طبعیت له پراخو سرچینو څخه دخپل ځان لپاره ګټه پورته کړي او کانونه راوباسي. خو له دې ټولو کارونو او بریاوو سره سره بیاهم تر هغه وخته پورې چې په نړۍ کې د بخار ماشین او صنعتي انقلاب ته لاره اواره شوې نه وه،د انسان په ژوند کې په یو ځایي ډول ډېر ستر بدلون نه و رامنځته شوی. خو کله چې د بخار ماشین رامنځته شو، تر هغه وروسته بیا په بېړني (چټک) ډول کارخونې جوړې شوې، د تولید سطحه اوچته شوه او د انسان په ژوندانه کې لوی بدلون پېښ شو.


(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بخار ماشین

گرانو او خوړو زده کوونکو!

په نړۍ کې د بخار ماشین تر جوړېدو اودصنعتي انقلاب تر راتلو دمخه، له صنعتي پلوه د انسان په ژوندانه کې لوی بدلون نه و رامنځته شوی، صنعتي انقلاب او بدلون دېته وایي، چې د ماشین گرارۍ جوړه شوه او دې سره کار له لاس څخه ماشین ته ولېږدېده او زیات کارونه ماشیني شول.



۱شکل : دبخار ماشین

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بخار ماشین نظریه لومړی ځل د یوه پوه ( لیوناردو داوینچي ) له خوا په ۱٦مه میلادي پېړۍ کې وړاندې شوه. په اوولسمه پېړۍ کې د هغه ماشین یوه بېلګه جوړه شوه، چې د بخار د فشار په واسطه به یې اوبه له کان (معدن) څخه پورته کولې. په همدې پېړۍ کې بیا یوه ایټالوي مخترع (جیوواني) یوه اوبه ګرموونکې ( اب ګرمي) جوړه کړه، خو تر ټولو مهم شخص، چې په همدې اوولسمه پېړۍ کې یې ستر کار وکړ، هغه (ینیس پاپن) دی. ده د بخار هغه دېګ جوړ کړ، چې د نړۍ په پخلنځیو کې استعمالېږي او لومړی ځل یې په کې د غویي شخه غوښه پخه کړه، ښه خوندوره غوښه او شوروا یې ترې جوړه کړه. خو (پاپن) هم د بخار انجن جوړ نه کړای شو.


تر نوموړي وروسته بیا ( توماس نیوکومن) د بخار انجن جوړ کړ. (جیمز واټ) ورته نوره وده ورکړه، وروسته بیا د بخار ماشینونه هم ډېر شول او ډېر ډولونه یې رامنځته شول، چې بیا ورڅخه د ټوکر اوبدلو، د کانونو په راوېستلو او د نورو ډول ډول فابریکو په جوړولو کې کار واخیستل شو او نړۍ د صنعتي کېدو پر لوري وخوځېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لېږد رالېږد (ترانسپورت)

خوږو زده کوونکو! تاسې چې اوس په نړۍ کې دا هر نوی څیز لکه موټر، الوتکه، راډیو، اوبتل، کمپیوټر او نور ګورئ! دا خو نو پر یوه وخت او یو ځایي توګه نه دي رامنځته شوي. دا د انسان د پېړیو پېړیو کار و زیار، تجربې، فکر، مطالعې،هڅې او هاند محصول دي.




۲شکل: خرګاډی

انسان چې د خدای (ج) په لوی طبعیت کې یو شي ته متوجه شوی، نو تر هغه وروسته یې هغه ته د ورته شي د جوړولو هڅه کړې، لکه انسان په اوبو کې له کب یا مرغابۍ څخه د کښتۍ جوړولو، له مرغۍ یا الوتونکو څخه د الوتکې او همدارنګه له نورو موجوداتو څخه د نورو مصنوعاتو جوړولو الهام اخیستی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۳ شکل: پر اوښانو بار وړل

موږ او تاسې چې اوسنی ترانسپورت یا د لېږد رالېږد وسایل وینو، دا هم پخوا داسې نه وو. پخوانیو زمانو کې به انسان زیاتره خپل بارونه خپله



٤شکل:گاډی

وړل، له غویو، خرو، اوښانو، اسونو، کچرو او نورو ډول ډول څارویو څخه یې کار اخیسته، لکه څنگه چې اوس هم په یو زیات شمېر وروسته پاتې هېوادونو کې له همدې څارویو څخه کار اخلي، خو په پرمختللو ټولنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې اوس له څارویو څخه څوک د ترانسپورت د واسطې په توګه چندان ګټه نه اخلي، ځکه چې هغوی ښه ښه او ډول ډول وسایط جوړ کړي دي. لکه ځمکني لېږدېدونکي وسایط، بحري لېږدوونکي وسایط او هوایي لېږدوونکي وسایط، چې د هر یوه بیا په سلګونو نور ډولونه جوړ شوي دي. تاسوته به دلته ددې ډول وسایطو ځینې بېلګې در وپېژنو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځمکنی ترانسپورت يا ځمکني لېږد رالېږد وسايط

ځمکنی ترانسپورت هغه ته وايي، چې د ځمکې پر مخ ترې د لېږد او رالېږد لپاره کار اخلي. لکه بايسيکل، موټرسايکل، موټر( کرولا، بسونه، نيمه بسونه او ګړندي موټر)، اورګاډی او د هغو بېلابېل ډولونه.

کله چې دا وسايط رامنځته شول، نو د چا خبره د ځمکې تنابونه سره رالنډ شول، مانا دا چې د ورځې فاصله ساعت، د مياشتې ورځې او دکال مياشتې ته راټيټه شوه او هم يې انسانانو ته ددې وس ورکړ، چې ډېر درانه شيان، چې پخوا يې له يوه ځايه بل ځای ته د وړلو وس نه درلود، اوس له کومې ستړيا پرته له يوه ځای څخه بل ځای ته ولېږدوي. ترانسپورت ډېرې اقتصادي ګټې لري، ان تردې چې ځينې پوهان ترانسپورت ته د يوه هېواد يا ټولنې د اقتصاد د ملا تير وايي، يانې څومره چې دا تير مضبوط او قوي وي، همدومره به دټولنې اقتصاد هم قوي وي، خلک به هم ارامه او سوکاله وي او هم به زياته ګټه تر لاسه کوي. له نورو ټولنو سره به يې سوداګريز اړيکي هم ښه او ټينګ وي، دلته به د ځمکني ترانسپورت يوه يوه بېلګه په لنډه توګه دروپېژنو!


(c) ketabton.com: The Digital Library



# بایسیکل او موټرسایکل

**بایسیکل ډېره کارېدونکې ځمکنۍ ترانسپورټي واسطه ده.**

**ګرانو زده کوونکو! تاسو ته به خندا درشي، چې موږ څنګه تر ټولو کوچنۍ لېږدوونکې واسطې ته ډېره لویه او ډېره کارېدونکې ترانسپورټي واسطه وایو! هو دا به ومنو چې بایسیکل ډېره کوچنۍ لېږدوونکې واسطه**



**۵شکل: بایسیکل**


**ده، خو دا خبره باید هم څرګنده کړو، چې بایسیکل په نړۍ کې داسې یوه واسطه ده، چې په سلګونو ملیونه خلک یې هره ورځ استعمالوي، خو نورې لېږدوونکې واسطې بیا دومره نه استعمالوي، نو ځکه ورته لویه او ډېره کارېدونکې لېږدوونکې واسطه وایي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بایسیکل لومړی ځل د یوه انګلیسي پوه (کنت دوسواک) په وسیله پر ۱۷۹۰م کال اختراع شو، چې دوه څرخونه او یوه تنه یې درلوده.**

**پر ۱۸۱۸م کال د (شارل فردیک سایویي برون) په نامه یوه الماني په کې نور بدلون راوست، (فنر لرونکی) زین یې پرې کېښود اویو څه نور بدلون یې هم په کې راوست. (میک بلان) سکاټلنډي پر ۱۸٤۲م کال یو بل بایسیکل جوړ کړ، چې په دوو ورځو کې یې (۷۰) کیلو متره واټن وواهه. پر ۱۸۵۲م کال یو بل الماني عالم (فلیپ موریس فیشر) یو بایسیکل جوړ کړ، چې له مخنۍ ارابې سره یې دوه پایډلونه نښتي وو.**



**٦شکل: موټرسایکل**

**په پای کې پر ۱۸۹۰م کال د (مېشلن ورونو) د بایسیکل څرخونو ته پوښ ورکړ او د بایسیکل کار بشپړ شو. اوس په نړۍ کې په لسګونو ډوله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بایسیکلونه جوړېږي، چې سپورټي، تفریحي، سورلۍ والا اود ماشومانو ډول ډول بایسیکلونه په کې شامل دي. بایسیکل نه یوازې ترانسپورټي واسطه ده، بلکې یوه ګټوره سپورټي واسطه هم ده. د بایسیکل بله ګټه داده، چې دسون مواد نه خوري، لګښت نه لري او چاپېریال هم نه ککړوي.


یوه بله واسطه چې بایسیکل ته ورته ده، خو د ماشین په مرسته فعالیت کوي او تېل لګوي موټر سایکل دی. موټر سایکل ډېر کم تېل لګوي او ډېر خلک ورڅخه ګټه اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# موټر یا بې اسه ګاډۍ

لومړنی سړی،چې یوه څلور ارابه یي واسطه یې جوړه کړه، یوهالنډی (سیمون ستوین) نومېده، دا واسطه یې په یوه بادبان پورې تړلې وه او په دوو ساعتونو کې یې (٦٨)کیلومتره مزل کاوه.



۷شکل: لارۍ

بیا (جان هوتزس) یوه داسې ارابه جوړه کړه،چې د یوه لوی فنر په وسیله یې کار کاوه. وروسته (اسفان ملر) پر ١٦٨٥م کال داسې یوه بګۍ (ټانګه) جوړ کړه، چې بې اسه یې حرکت کاوه، وروسته پر١٧٤٠م کال یوه فرانسوي پوه داسې یوه لېږدوونکې واسطه جوړه کړه،چې د یوه لوی فنر په واسطه یې حرکت کاوه، خو د فرانسې دولت یې په دې منطق،چې ګړندیتوب یې زیات دی او خطر پېښوي، د ګرځېدومخه ونیوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اتلسمې پېړۍ په دويمه نيمايي کې (سيمينگټن) داسې نقليه واسطه جوړه کړه، چې په بخار چلېدله، چې همدا واسطه دموټرو بابا گڼل کېږي.



۸شکل: سرويس


په نولسمه پېړۍ کې په انگلستان کې ډېرې نقليه واسطې جوړې شوې، خو څرنگه چې د ډېروسکاره په کې سوځېدل، ډېر لوگی يې کاوه او هم يې ډېر ټکر کاوه، نو ځکه يې پرمختگ ونه کړ. د نولسمې پېړۍ په دويمه نيمايي کې په نفتو (تېلو) تلونکي موټر جوړ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانستان ته لومړی موټر څه وخت راغی؟

کله چې د برتانوي هند د باندنیو چارو سکرتر (مسټر ډین) د ۱۹۰٤م کال د ډسمبر پر لسمه نېټه کابل ته راغی، نو د نورو سوغاتونو تر څنگ یې د وخت پاچا امیر حبیب الله خان ته یو موټر هم راوړی و، چې اووه سوه سټرلنگ پونډه بیه یې درلوده. افغانستان ته لومړی راغلی موټر هغه بخاري موټر و، چې د ډیزلو پر ځای لرگي په کې سوځېدل او دموټر ماشین به یې څرخاوه.



۹شکل: تېز رفتار(گړندی)

اوس د نړۍ په زیاترو هېوادونو کې په سلگونو ډوله موټر جوړېږي،چې بار وړونکي، سپورټي، تفریحي او نور دي. لارۍ، بسونه او گړندي (تېز رفتار) یې غوره نمونې بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اورګاډی

ثابت رېل ګاډي، چې د لرګيو پرکوندو باندې ودرېدل، پر ۱۵۵٦م کال په المان کې ترې ګټه پورته شوه اود (۱۷) پېړۍ په پیل کې، دملکې الیزابېت په دوره کې د انګلستان کارګرانو هم له هغو څخه ګټه پورته کړه. لومړني ریل ګاډي، له لرګیو، بیا چدنو، بیا له اوسپنې او وروسته له پولادو څخه جوړېدل. د ۱۸۲۵م کال د سپټمبر پر ۲۷مه نېټه یو لوی بخاري انجن، چې (۳٤) واګونونه ورپورې تړلي وو اوشپږ سوه تنه په کې سواره وو، پر اوږده سفر پیل وکړ. په دې ډول په نړۍ کې د لېږد رالېږد یوه لویه واسطه جوړه شوه.

## اورګاډی افغانستان ته څه وخت راغی؟

پر ۱۳۰۵ل کال په کابل ښار کې له دارالامان څخه د شاه دوشمشیره تر زیارته د رېل یوه پټلۍ وغځول شوه، چې د یوه بخاري انجن په وسیله به یې څو واګونونه له ځان سره کشول. ددې کرښې اوږدوالی (۸-۹) کیلومتره و، تر سقاوي دورې پورې دا کرښه جوړه وه، وروسته بیا له منځه ولاړه. کله چې اعلیحضرت امان الله خان پر ۱۳۰۷ل کال د اروپا په سفر تللی و، له فرانسې او جرمني سره یې په افغانستان کې د ریل کرښې په باب تړونونه وکړل، چې په دې کې له کشک نه تر کندهاره، له کندهاره تر کابله او له کابله تر تورخمه پورې د رېل کرښې غځول شامل وو، خو د امان الله خان د پاچاهۍ د له منځه تلو له امله دا پروژه عملي نه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱۰شکل: اورګاډی

اوس په نړۍ کې ډول ډول رېل ګاډي جوړ شوي، چې برېښنايي(برقي) ګاډي هم په کې شامل دي. داسې رېل ګاډي هم شته،چې په يوه ساعت کې تر(۳۰۰) کيلومترو زيات واټن وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بحري ترانسپورت

بحري ترانسپورت یا لېږدوونکې واسطې هغه دي، چې  په اوبو کې دانسان د کالیو د لېږد لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کېږي.
تاسو به خبر یئ، چې د نړۍ له څلورو برخو څخه درې برخې اوبو نیولې دي. په نړۍ کې داسې هېوادونه هم شته، چې ټول د اوبو ترمنځ پراته دي او وچې پورې هېڅ نښلېدلي نه دي. داسې هېوادونه هم شته، چې یوه برخه یې په بحر پورې وصل ده او نوره په وچې پورې نښتې ده. ځینې داسې  هېوادونه  هم شته، چې  په وچه کې پراته دي او د دویم  او یا درېیم هېواد له  لارې بحر ته لار لري. بحري ترانسپورت یو بل سره ددغو هېوادونو په همکارۍ، تجارتي پیوستون او د شیانو په لېږد رالېږد کې ډېره مرسته کوي او په زرګونه کیلو متره واټن لنډوي. د اوږد واټن لپاره بحري ترانسپورت تر نوور ترانسپورتي واسطو ارزان، اسان او دزیاتو شیانو د لېږد رالېږد ځواک لري، ځکه خو هغه هېوادونه چې بحر ته لار لري، تر هغو نورو، چې نه یې لري، په تجارت او ځینې نورو برخو کې ډېر پرمختللي دي.
دلته به د بحري ټرانسپورټ پر څو بېلګو لنډه رڼا واچوو او تاسو ته به یې دروپېژنو!

(c) ketabton.com: The Digital Library




# کښتۍ یا بحري بېړۍ

کښتۍ یا بېړۍ د بحري ترانسپورت اساسي برخه ده. د اسلامي روایاتو له مخې نوح (ع) لومړنی شخص و، چې د یوې کښتۍ پر جوړولو یې لاس پورې کړ. تر نوح (ع) وروسته بیا انسانانو د خپلې اړتیا د پوره کولو او په اوبو کې د تګ راتګ لپاره د لرګیو د وړو وړو کښتیو پر جوړولو پیل وکړ. وروسته بیا همدا کښتۍ لویې شوې اود څو تنو په قوت به یې د لرګیو په څپېړو حرکت کاوه. کله چې د بخار ماشین رامنځته شو، نو بیا په کښتیو کې هم له همدې ماشین څخه ګټه واخیستل شوه او کښتیو به د انساني قوې پر ځای د بخار د فشار په وسیله حرکت کاوه. د بخار تر انجن وورسته د کښتیو لپاره لکه دموټرو په شان داسې انجن جوړ شو، چې په نفتو به په حرکت راته. اوس په نړۍ کې په سلګونو ډوله لویې او وړې کښتۍ جوړېږي، چې له لرګینې یو نفري کښتۍ څخه نیولې تر داسې کښتۍ پورې ، چې لسګونو الوتکې په کې ناستې وي، جوړېږي. داسې کښتۍ هم شته، چې هوایي ډګرونه لري او دسلګونو الوتکو د لېږد وس لري، په کې ناستې وي. له همدې کښتۍ څخه پرواز کوي او بېرته همدلته کېني، په همدې یوې کښتۍ کې له هوټل او سینما نیولې د ژوند تر نورو اړتیا وړ شیانو پورې، هر ډول وسایل شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library





۱۱شکل: کښتۍ

د سرعت له مخې هم په کښتيو کې زيات بدلون راغلی اوداسې کښتۍ هم شته، چې په ډېر چټک سرعت سره حرکت کولای شي. له بېړيو څخه نه يوازې د ټرانسپورټ د يوې وسيلې په توګه کار اخلي، بلکې د بحري څېړنو، لارښوونې او نورو چارو لپاره هم ورڅخه ګټه پورته کوي.


د افغانستان او تاجکستان ترمنځه سوداګري هم په امو سيند کې د بېړيو په واسطه تر سره کېږي او همدا بېړۍ شېرخان بندر ته، چې د افغانستان په شمال کې د تاجکستان پولې ته څېرمه پروت دی، مالونه راوړي..

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوبتل

اوبتل یا تحت البحري هغه ډول بېړۍ ده، چې په بحر کې تر اوبو لاندې حرکت کوي. دا ډول بېړۍ تر نورو بېړیو ډېره وروسته جوړه شوې ده.



۱۲شکل: اوبتل

په دې بېړ ۍ کې داسې وسایل او سامان الات ځای پر ځای شوي، چې تر اوبو لاندې ټوله ځمکه، شیان، حیوانات، نباتات او ټولې لارې گودرې لیدلای شي. له دې بېړیو څخه د بحري موجوداتو د څېړنې او پلټنې لپاره کار اخلي، خو زیاتره دپوځي او سیاسي هدفونو لپاره کارول کېږي او ان داسې اوبتلونه هم شته، چې د اټومي وسلو د وړلو قابلیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هوايي ترانسپورت

هوايي ترانسپورت يا لېږد رالېږد وسايط هغه دي، چې د هوا له لارې د انسانانو او شيانو په لېږدولوکې مرسته کوي، چې هوايي بالون، الوتکې، فضايي بېړۍ او مصنوعي سپوږمۍ په کې شامل دي.


بشر د الوتکو په جوړولو سره وکړای شول، فضايي لارې تر خپل کنټرول لاندې راولي. د هېوادونو او ټولنو تر منځ په زرگونو کيلومتره واټن له منځه يوسي اود مياشتو مياشتو سخت او له خطره ډک سفرونه څو گړيو او ورځو ته رالنډ او د داسې سفر زمينه برابره کړي،چې دانسان لپاره ارام وي.

په هوايي ترانسپورت وکولای شول، خپل توليدات په ډېر لږ وخت کې له يوه ځای څخه بل ځای ته ولېږدوي او زياته گټه ترلاسه کړي، په تېره بيا د قيمتي شيانو او تازه مېوو دانتقال لپاره ډېره ښه وسيله ده. دلته به د هوايي ترانسپورت بېلگې دروپېژنو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بالون



دبالون تخيل د الوتونکو له وزرونو او پروازونو څخه پيداشو. انسان لومړی د مصنوعي وزرونو پر جوړولو پيل وکړ او ويې کولای شول، له يوه کمره څخه ټوپ کړي او تر يوه ځايه ځان ورسوي.

۱۳شکل: بالون

وروسته د يوه بالون د جوړولو په لټه کې شو، پر ۱۷۰۹م کال يې يو بالون جوړ کړ، خو بريالی نه شو، خو پر ۱۹۰۰م کال د بل بالون الوتنه بريالۍ شوه.

فضا ته د بالون د جگېدو لپاره يې د لوگي، بيا د هايدروجن او وروسته د هيليم په نامه يو گاز څخه گټه پورته کړه. نوموړي گازونه به يې په داسې کلکې پلاستيکي يا تيکه يي کڅوړه کې چې سوری يې نه درلود، ځايول. بالون هم د هيليم گاز په مرسته، چې په بالون يانې پلاستيکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کڅوړه کې خوشې کېږي، هوا ته پورته کېږي او یو شخص کولای شي،د هغو تنستو په مرسته، چې بالون له ټوکرۍ سره نښلوي او د مسافرینو یا سپرلیو د وړلو راوړلو لپاره وي، د هغه تګلوري ته بدلون ورکړي او هرځای ته یې، چې زړه غواړي هلته لاړ شي.

بالون یوه ښه تفریحي او لېږدوونکې واسطه ده، چې یو تن یا دوه تنه لېږدولای شي، خو کومه لویه ټرانسپورټي واسطه نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الوتکه


بشر له ډېرې پخوا زمانې راهیسې دا هیله لرله، چې بهرنۍ فضا تسخیر کړي او ځان پرې حاکم کړي. دا خیال د مذهبي کیسو، اساطیرو او افسانو په شکل د دوی په ذهن کې راپیدا شو. خو د الوتکې جوړولو تصور لومړی ځل په ١٦مه پېړۍ کې د (لیوناردو داوینچي) له خوا وړاندې شو، خو عملي بڼه یې ونه نیوله. پر ١٧٠٩م کال یو پرتګالي پوه (ګوسمایو) یو بالون جوړ کړ او هغه یې هوا ته خوشې کړ،خو الوتنه یې بریالۍ نه شوه.

د ١٩مې پېړۍ په پای کې د (فردینادفون زپلین) په نامه یوه الماني پوه یو ډېر لوی بالون جوړ کړ او پر ١٩٠٠م کال یې لومړۍ الوتنه ترسره کړه. پر ١٩٠٣م کال د رایټ ورونو (ویلبور او اوریل) په موټر لرونکې الوتکې، په شمالي کارولینا کې لومړنۍ الوتنه تر سره کړه او په دې کار سره د الوتکې اصلي مخترعین وګڼل شول. لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې د الوتکې جوړونې په پرمختګ کې ستر رول ولوباوه. په دویمه نړیواله جګړه کې المانیان اړ شول، داسې الوتکې جوړې کړي، چې په یوه ساعت کې (٥١٠) کیلومتره واټن ووهي.

دافغانستان حکومت لومړی ځل پر ١٩١٩م کال له جرمني حکومت څخه دوه الوتکې واخیستلې او تر (١٣٠٧ل کال) پورې په افغانستان کې دټولو الوتکو شمېر (٧٠) الوتکو ته ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library






۱٤شکل: الوتکه

اوس په نړۍ کې په لسګونو ډوله الوتکې جوړېږي. چې سپورتي، عسکري، ترانسپورتي او اکتشافي دندې ترسره کوي، داسې الوتکې هم شته، چې سرعت يې تر خپل اواز څخه چټک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فضايي بېړۍ


۱۵ شکل: فضايي بېړۍ

انسان د الوتکې تر جوړولو وروسته په دې فکر کې شو، چې داسې يوه وسيله جوړه کړي، چې ډېر ځنډ په هوا کې پاتې شي اود خارجي فضا حال و احوال ځمکې ته راولېږي او هم د ځمکې د لوړو ژورو، سمندرونو او غرونو عکاسي وکړي. د کلونو کلونو څېړنو په نتيجه کې انسان د داسې يوې فضايي بېړۍ پر توغولو بريالی شو، چې يوه ټاکلې موده په خارجي فضا کې پاتې شي. لومړنی شخص، چې خارجي فضا ته يې سفر وکړ، هغه يو روسي کيهانګرځی (يوري ګاګارين)و، چې پر ۱۹٦۱م کال يې خارجي فضا ته سفر وکړ او هلته يو ساعت او ٤۸دقيقې پاتې شو.

تر هغه وروسته بهرنۍ فضا ته سفرونه پيل شول او هلته داسې فضايي بېړۍ او مصنوعي سپوږمۍ ولېږل شوې، چې همهلته پاتې دي او د ځمکې پر مخ له جوړو شويو فضايي څېړنيزو مرکزونو سره همېشه تماس لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډله ييز اړيکي (مخابرات)

مخابرات د خبر، حال و احوال د رسولو وسيله ده. مخابراتو ته دټولنې اعصاب هم وايي، ځکه چې په ټولنه کې د فکر د لېږد رالېږد مهمه وسيله ده. په هره ټولنه او هېواد کې، چې مخابرات ښه فعال وي، داماناالري، چې د ټولنې اعصاب ښه کار کوي. کله چې اعصاب ښه کار وکړي، بدن ښه اداره کېږي او کله چې بدن ښه کار وکړي، نو ټولنه ورسره ښه پرمختګ کوي.

پوسټ، ټيلېګراف، ټلېفون، هرډول مخابرې، فکس او ان انټرنېټ ټول د مخابراتو په څانګې پورې اړه پيدا کوي، چې ټول يې د حال واحوال د لېږلو او رالېږلو دنده سرته رسوي.

په پخوانيو وختونوکې به له يوه ځای څخه بل ځای ته د اشخاصو او سړيوپه واسطه خبر لېږل کېده او رالېږل کېده. خو بشر تر پېړيو پېړيو زيار وروسته لومړنۍ پرمختللې وسيلې جوړې کړې، چې کولای شي، په څو ثانيو کې د نړۍ ګوټ ګوټ ته خبر ورسوي او يايې را ورسوي.


(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټيلېگراف

تر ميلاد (٦٠٠) کاله وړاندې اريايان پر دې بريالي شول، چې په دوو ورځو کې د (٤٠٠) کيلومترو په واټن خپل خبر ورسوي. دوی به په يوه ټاکلې فاصله کې يو يو تن پر جگ ځای ودراوه او بل پر بل ځای، هغه به خبر په لوړ اواز اواراوه او هغه به بيا بل ته رساوه، په دې ډول به فاصله لنډېدله. تر ټولو دمخه د يوه پوه (هوک) په وسيله ځينې علامې جوړې شوې،چې د الفبې ځای يې ونيو. دا علامې به يوه په بلې پسې جنگېدلې او مخابره به ترسره کېده.

وروسته (کلودشاپ) فرانسوي پر (١٧٩٠م) کال يوه نسبتاً بشپړه وسيله اختراع کړه، چې له پاريس سره يې د فرانسې نور ښارونه وصل کړل.



١٦ شکل: ټيلگراف

د ټيلېگراف يو بل مخترع د(موريس) په نامه يو امريکايي دی، چې پر ١٨٣٧م کال يې ټيلېگراف پر کار واچوه. ده تورو ته له ټکيو او خطونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه اشارې جوړې کړې، چې په برقي څپو اوښتې. ټیلېګراف لېږونکې (مرسله) او اخیستونکې دستګاه درلوده او بېرته یې په توور اړول او پر کاغذ یې لیکل.

افغانستان ته ټیلېګراف پر ۱۹۱٤م کال راغی او په بابر بڼ کې نصب شو. دا دستګاه په مارکنۍ کمپنۍ جوړه شوې وه او په دوه کیلو واټه قوه یې کار کاوه.


دا دستګاه د څارویو په وسیله له یوه ځای ځخه بل ځای ته لېږدول کېده. اساساً د عسکري مخابرې لپاره وه، چې د اړتیا پر وخت له کابل ځخه پغمان او جبل السراج ته پرې مخابره کېده. خو سیم لرونکی ټیلګراف تر بېسیم وروسته اختراع شو او افغانستان ته هم وروسته راورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټلیفون

ویل کېږي، چې ټلیفون د انګلیسي پوه (هوک) له خوا اختراع شو. همدا رنګه پر ۱۷۸۲م کال یوتن کشیش یوه غږیزه لوله جوړه کړه، چې تر ۸۰۰متره پورې یې د ویاند غږ لېږداوه. پر ۱۸۸۳م کال (چالزمیچ) امریکایي د خالصې اوسپنې میلې مقناطیسي کړې او یوه یې د بلې ترڅنګ کېښوده،چې دې کار غږ تولید کړ او وروسته دغه دستګاه نوره هم اصلاح شوه،تر هغه چې (ګراهام بل) امریکایي په خپلو زیاتو هڅو پر ۱۸۸۵ز کال ټلیفون اختراع کړ، خوبیا هم د ګراهام بل ټلیفون بشپړ نه و، وروسته د (اډیسون) او نورو پوهانو له خوا بشپړ شو او تر لرې واټن پورې یې غږ ولېږداوه.



۱۷شکل: ټلیفون

په افغانستان کې د ټلیفون د لین غځول پر ۱۸۹۹م کال پیل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټلېفون لومړی لین، چې په یولینه مسي سیم یې کار کاوه، د سردار حبیب الله خان او سردار نصرالله خان د استوګنځیو تر منځ چې یو کیلومتر واټن یې درلود، وغځول شو. دویم لین دسردار حبیب الله خان له استوګنځي څخه د کوټوالۍ قوماندانی ته تېر شو. درېیم لین د ارګ له دروازې څخه دبابر تر باغه پورې تمدید شو او په دې ډول د ټلېفون کار وغځېد.اوس په نړۍ کې ټلېفون ډېره وده کړې، بېسیم ټلېفونونه په هرځای کې فعال دي،داسې ټلیفونونه هم جوړېږي، چې د غږ پر انتقال سربېره د تصویر د انتقال قابلیت هم لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# فکس

د ټیلېګراف او ټلېفون تر اختراع وروسته انسان په دې لټه کې شو،داسې یوه دستګاه جوړه کړې، چې پیغام په لیکلې بڼه کټ مټ انتقال او را انتقال کړي.

انسان تر څو لسیزو پرله پسې هلو ځلو وروسته پر دې بریالی شو، چې د فکس په نامه د خبر رسولو یوه بله عصري وسیله جوړه کړي.

اوس تقریباً د نړۍ ټول هېوادونه او یوزیات شمېر اشخاص له دې وسیلې څخه ګټه پورته کوي.

ددې دستګاه یا ماشین خصوصیات دادي، چې مقابل لوري ته کټ مټ د اصل متن کاپي لېږدوي. فکس ماشین د مهمو اسنادو په لېږد رالېږد او دزیات شمېر ضروري پاڼو او مراسلاتو په لېږدولو کې خورا زیاتې اسانتیاوې راوستي او زیات وخت پرې سپما کېږي.




۱۸شکل: فکس

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کمپیوټر



۱۹شکل: کمپیوټر

کمپیوټر هغه پرمختللی ماشین دی، چې د بشر بې شمېره اړتیاوو ته ځواب وایي. کمپیوټر لومړی ځل پر (۱۹٤۲)م کال په امریکا کې د (الاتا سوټ بري) له خوا جوړ شو او تر هغه وروسته یې ډېره ترقي وکړه. کمپیوټر اساساً له څلورو برخو څخه جوړ شوی دی:

یوې برخې ته سکرین یا مانیټر وایي. دویمې برخې ته یې (CPU) وایي، چې د کمپیوټر اساسي برخه ده او بله برخه یې کیبورډ ده،چې توري په کې ځای پر ځای شوي دي. څلورمه برخه یې موس(موږک) دی، چې کمانډونه پرې اجرا کولای شو. کمپیوټر زموږ ټول کار په خپله حافظه کې خوندي کوي او کله چې موپه کار وي، هغه ترلاسه کولای او بدلون په کې راوستلای شو.


اوس معمولاً دوه ډوله کمپیوټرونه زیات کارول کېږي، چې یو ته ډېسکټاپ وایي او بل ته لاسي کمپیوټر یا لپ ټاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انټرنېټ

انټرنېټ د معلوماتو یوه بې شانه نړۍ ده، چې د هر چا لپاره هرڅه لري. انټرنېټ پر ۱۹۶۹م کال د امریکامتحده ایالتونو د دفاع څانګې کمپیوټرونو تر خپلمنځي تړښت اوبیا له یو بل سره د نورو اړوندو ادارو کمپیوټرونود نښلېدو له کبله رامنځته شو.



۲۰ شکل: انټرنېټ

انټرنېټ ته تر اوسه پورې ډېر پروګرامونه جوړ شوي او لا جوړېږي، چې ایمېل(برېښنالیک) د انټرنېټ ترټولو لویه سرچینه ګڼل کېږي. وخت پر وخت په انټرنېټ کې نوې اسانتیاوې راځي. څو کاله مخکې (انټرنېټ په پیل کې) یوازې پیغامونه ورباندې لېږل کېدل، اوس خو ټلېفون، ټلویزیون، راډیو او هرڅه ورباندې راځي. انټرنېټ په حقیقت کې د هغه نړیوال سیستم یا شبکې نوم دی، چې د نړۍ ټولې کمپیوټرې شبکې یوه له بلې سره تړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انټرنېټ په کم وخت کې له یوه ځای څخه بل ځای ته، خبرونه، انځورونه، معلوماتي لیکنې او پروګرامونه لېږدوي او ډېر کم لګښت پرې راځي. پر انټرنېټ پوهېدل له موږ سره په ژوند، مسلک، اداري او سوداګریزو چارو کې ډېره مرسته کوي.

د انټرنېټ له ګټو څخه یوه ګټه دا ده، هغه لیک چې به مو پخوا نورو هېوادونو ته د پینځه لسو ورځو او یا یوې میاشتې په موده کې د (۳۰-۵۰) زرو افغانیو په قیمت لېږه، اوس به یې په ډېرو کمو پیسو په (۵-۱۰) ثانیو کې لېږو.

پر ۲۰۰۰م کال (۳۰۰) ملیونو خلکو له انټرنېټ څخه ګټه اخیستله او اټکل دی، چې په ۲۰۰۵م کال کې به یو ملیارد خلک له انټرنېټ څخه ګټه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رسنۍ

## (خپرونې او مطبوعات)

رسنۍ(خپرونې یا مطبوعات) په هره ټولنه او هېواد کې د خبرونو، معلوماتو، علمي بریاوو اود خلکو د نظر د خپرولو ډېره ییزه وسیله ده، چې په هره ټولنه کې زیات اغېز لري.

ځینې کسان خو رسنیو(خپرونو یا مطبوعاتو) ته په یوه هېواد کې څلورم ځواک یا قوه وایي. په دې مانا چې دولت له درېیو قوو څخه جوړ دی، قضائیه، مقننه او اجرائیه. ځینې ورسره مطبوعات هم یو ځای کوي او دا څلورمه قوه بولي. دا په دې خاطر چې خپرونې د خلکو د ذهني سطحې د لوړتیا او د هغو د فکرونو په وده او روښانتیا کې زیاته برخه لري.د ټولنې او دولت د ودې، استحکام اود خلکو د اصلاح او سمون لپاره وړ لارې چارې، انتقادونه او نظرونه خپروي. د خلکو او حاکم نظام ترمنځ اړیکي ټینګوي او پیغام یې یو بل ته رسوي. بشر له ډېرې پخوا زمانې له حالاتو څخه د نورو دخبرولو لپاره له ډول ډول وسیلو څخه کار اخیست،خو کله چې د چاپ ماشین جوړ شو او مطبوعات رامنځته شول، نو دا خبرتیا ډېره ییزه او عامه شوه. وروسته بیا نو خپرنیز وسایل لکه راډیو، ټلویزیون، کمپیوټر او نور جوړ شول،چې دخپرونو کار یې اسانه کړ.

دلته به پورتني پرمختګونه په لنډ ډول دروپېژنو، خو تر ټولو دمخه د کاغذ جوړونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کاغذ

په طباعتي خپرونوکې  کاغذترټولو ستر رول او زياته ونډه لري، ځکه چې هر څه پر همدې کاغذ چاپېږي. که کاغذ نه وي، نو چاپي خپرونې به هم  طبعاً نه وي او يا به ډېرې لږې وي.

کاغذ اصلاً چينايانو اختراع او جوړ کړ. له چين څخه د عربو سيمې ته ورسېد او له عربو څخه بيا اروپايانو د هغه د جوړولو طريقه زده کړه. په اسيا کې کاغذ له پنبې څخه جوړېده، خو په اروپا کې د پنبې د کمښت له کبله له زړو کاليو څخه جوړېده، تر هغه پورې چې يو پوه (کرستاشافر) را پيدا شو او کاغذ يې د لرگي له مغز څخه جوړ کړ. اوس په عمومي ډول په ټوله نړۍ کې کاغذ له لرگي څخه جوړېږي.


په جاپان او ځينو نورو اروپايي هېوادونو کې  لرگي ډېر زيات دي، دوی له همدې لرگيو څخه  ډول ډول کاغذونه جوړوي او نورو هېوادونو ته يې صادروي.کله چې د چاپ ماشين جوړشو،نو له کاغذ څخه يې د خپرونو او کتابونو د چاپ لپاره زياته گټه واخيسته او ډول ډول خپرونې رامنځته شوې. دلته به لومړی دچاپ ماشين په اړه درسره وغږېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چاپ ماشین

د چاپ ډېره لرغونې وسیله مهرونه او ټاپې وې، چې نقشونه به په کې کیندل شوي وو او رختونه به پرې ښکلي کېدل. چینایانوتر ۸٦۸م کال وروسته کتابونه هم د خپلې ژبې په مهر شویو جملو ټاپه کول. پر ۱۰۵٤م کال ((بي سنگ)) نومي چیني ددې ډول چاپ لپاره نوې لاره جوړه کړه. د چیني لیک بېلابېلې تختې یې په لرگیو کې کیندلې وې، څنگ تر څنگه به یې کېښودې. جمله به یې ترې جوړه کړه او بیا به یې پر کاغذ ټاپه کړه. په دې ترتیب یې له یوه متن څخه په اسانۍ ډېر نقلونه ټاپه کولای یا چاپولای شول.



۲۱شکل: چاپ ماشین

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو الماني (گوتنبرگ) پر دې بريالی شو، چې د لرگي پر ځای له فلز څخه چپه توري جوړ کړي او پرکاغذ باندې په چاپولو سره هغه راسته ولولي.

ده لومړی پر ١٤٤٤م کال انجيل شريف په خپلو جوړو کړو حروفو چاپ کړ او له دې سره په علمي نړۍ کې ژور بدلون راغی. وروسته بيا د چاپ نورې لارې چارې جوړې شوې.


افغانستان ته لومړی ځل پر ١٨٧٠م کال د امير شېرعلي خان پر وخت يوه چاپخونه راوړل شوه او يو شمېر کتابونه يې خپاره کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# راډیو

د بېسیم ټیلېگراف تر پرمختګ وروسته راډیو رامنځته شوه، الماني (هرتس) د ریاضي دمعادلو له مخې ثابته کړه، چې په فضا کې د برېښنا قوه د څپو په بڼه لېږل کېدی شي او د انسان یا نورو غړونو څپې برېښناییزې کولای شي، چې نورو ځایونو ته ورسېږي. د همدې تجربې پر بنسټ بېسیم ټیلېگراف جوړ شو. بیا ایټالوي پوه (مارکني) د همدې تجربې په رڼا کې پر ۱۸۹۵م کال راډیو جوړه او په لندن کې یې د خلکو ننداري ته وړاندې کړه، چې په شلمه پېړۍ کې یې چټکه پراختیا وکړه.



۲۲شکل: راډیو

د اعلیحضرت غازي امان الله خان حکومت پر ۱۳۰۴ل کال، عطاالله خان د راډیو تخنیک د زده کړې لپاره المان ته ولېږه، چې پر ۱۳۰۵ل کال له څو تنو المانیانو او د راډیو له دوو لېږدوونکو دستګاوو سره بېرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادته راستون شو. دلته په چټکۍ د راډيو د سټډيو او مرسلې د جوړولو کار پيل شو. د ۱۳۰٦ل کال په تله کې راډيو خپل قانوني پړاوونه ووهل او پر همدې کال يې د خپلې ځانګړې لايحې له مخې پر خپرونو پيل وکړ.


مدير يې محمد حسن نومېده، وياند يې ښاغلی سرور ګويا و او استاد غلام حسين، استاد نتو، قربان علي ربابي او نورو به سندرې په کې ويلې او ربابونه يې په کې غږول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټلویزیون

د ټلويزيون په جوړولو کې ډېرو کسانو ځانونه ستړي کړي دي، تر هغه چې دې پړاو ته يې را ورساوه. لومړی ځل پر ۱۸۷۳ل کال يوه برتانوي ټيلېگرافر (مې) په برېښناييز جريان د رڼا د بدلون مفکوره رامنځته کړه.



۲۳شکل: ټلویزیون

پر ۱۸۸۸م کال (هالواچس) د فوټو برېښنا پر اغېزو تجربې وکړې او د انگلیسي (برد) او امريکايي(جنکنز) په هڅو پر ۱۹۲۵م کال د برېښنا په څپو کې د عکس لېږدولو تجربه کامیابه شوه او بيا یو شمېر نورو پوهانو ددې کار په بشپړتيا کې هڅې وکړې او لومړنۍ ټلويزيوني تجربې وشوې.

دټلويزيون اساسي او عمومي ننداره لومړی ځل پر ۱۹۳٦ل کال په لندن کې وښودل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په امریکا کې پر ۱۹٤۱ز کال له یوې دنګې ماڼۍ څخه د ټلویزیوني خپرونې پیل شوې اود رنګه ټلویزیون لومړنۍ خپرونه هم په همدې هېواد کې پر ۱۹٥۱م کال پیل شوه او ورپسې نورو هېوادونو ته ټلویزیوني خپرونې وغځېدې.

په افغانستان کې د ټلویزیون لپاره پر ۱۳٥۰ل کال هڅې پیل شوې، خو اساسي کار یې د سردار محمد داود خان په جمهوریت کې پیل شو. دا کار د جاپان په تخنیکي او علمي مرستو ترسره شو اود ۱۳٥٦ل کال د کب پر ۲٥مه نېټه یې پر امتحاني خپرونو پیل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انرژي


کله چې انسانانو په خپل ټولنيز ژوندانه کې پرمختګ وکړ، د طبعيت له سرچينو څخه يې ګټه اخيستنه زياته شوه، نو د داسې انرژۍ په لټه کې شول، چې زياته ګټه او کار ترې واخيستل شي او انساني قوه په کې کمه مصرفه شي. ځکه خو يې داسې وسايل جوړ کړل، چې د هغو په واسطه نوې انرژي توليد کړي. د بېلګې په توګه دوی باد ته متوجه شول، بادي ژرندې يې جوړې کړې او تر هغه وروسته يې د هغو په واسطه د برېښنا د توليد هڅه وکړه. دغه راز د اوبو په واسطه د اوبو برېښنا، د لمر په واسطه د لمريزې انرژۍ او ديورانيمو په مرسته د اټومي انرژۍ يا اټومي برېښنا د توليد په لټه کې شول او د کلونو کلونو څېړنو په نتيجه کې پر دې بريالي شول، چې دا ډول انرژي لاسته راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بادي برېښنا

بادي برېښنا دبادي ژرندو په و اسطه تولیدېږي. بادي ژرندې د غمنو وړو کولو لپاره په لرغونو زمانو کې رامنځته شوي او له ۱۲-۱۸ پېړۍ پورې په ټول غرب کې دود شوې دي. څرنګه چې په هالنډ کې زیات باد لګېږي، زیاتې بادي ژرندې په کې جوړې شوې دي، نو ځکه خو دې هېواد ته د بادي ژرندو هېواد وایي. د ۱۹مې پېړۍ په پیل کې په انګلستان کې (۱۰۰۰۰) بادي ژرندې وې.



۲٤شکل: بادي ژرنده او برېښنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته یې دې ژرندو ته توربینونه ولګول او دبادي قوې په واسطه دا توربینونه په حرکت راغلل او د برق د تولید سبب شول. تر څو کلونو وړاندې هم په انګلستان کې (۱۰۰۰) بادي ژرندې وې، چې د برېښنا له پلوه د ټول هېواد په سلو کې یوه برخه اړتیا یې پوره کوله.

د امریکا د متحده ایالتونو په لوړو سیمو کې هم داسې بادي ژرندو ته ماشینونه نصب شوي وو او دټول هېواد دبرېښنا په سلو کې پینځه برخې اسانتیاوې یې پوره کولې.


بادي ژرندې ډېرې پخوا د افغانستان د هرات په ولایت کې هم جوړې شوې وې او خلکو به غنم او جوار په کې اوړه کول. په هرات ولایت کې د کال په څلورو میاشتو کې ډېر باد لګېږي، چې د ۱۲۰ ورځنیو بادونو په نامه یادېږي. دغه بادونه د بادي ژرندو د فعالیت لپاره ښه منبع ګڼل کېږي، خو د هرات د ولایت بادي ژرندې د برېښنا د تولید لپاره نه وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوبو برېښنا

په اتلسمه پېړۍ کې د اسماني برېښنا(برق) او مقناطيس د اغېزو کشفېدلو، پر برېښنا باندې علمي تجربې چټکې کړې. د نولسمې پېړۍ په درېيمه لسيزه کې دبرېښنا له ځواک څخه په پراخه کچه گټه واخيستل شوه او راز راز ماشينونه پرې وڅرخېدل او هم د برېښنا دتوليد ماشينونه جوړ شول او بيا (اډيسون) د برېښنا د ځواک په وسيله د گروپ روښانه كول هم ايجاد کړل. دې کار سره د برېښنا ارزښت نور هم زيات شو اود گټې اخيستلو ساحه يې هم ورځ پر ورځ پراخه شوه.



۲۵شکل: اوبو برېښنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## افغانستان ته برېښنا څه وخت راغله؟

امیرعبدالرحمن خان د برېښنا لپاره لومړنۍ هڅې کړې وې او یوه داسې ډاینمو یې پر کاراچولی و، چې څلوېښت څراغونه یې بلولای شول. د امیرحبیب الله خان پر وخت له بټریو څخه دومره برېښنا تر لاسه کېده،چې د شپې به یې ارګ روښانه کاوه.

پر ۱۲۹۲ل کال(۱۹۱۳م کال) په جبل السراج کې د برېښنا د فابریکې کار پیل شو اوپر ۱۹۱۹ز کال بشپړ شو.


بیا د برېښنا دتولید لپاره دکجکي، دهلې، نغلو، سروبي، درونټې، ماهیپر، د وردګو دچک او پلخمري بندونه جوړ شول اود کابل، کندهار، جلال اباد، پلخمري، چاریکارو، ګرشک او سروبي ښارونو او ښارګوټو ته یې برېښنا ورسوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لمریزه برېښنا یا انرژي

له لمریزې انرژۍ څخه دګټې اخیستنې ابتدایي بڼه دا ده، چې یو څو نلونه په داسې بڼه سره څنګ تر څنګ ایښودل کېږي،چې په هغو کې اوبه جریان ولري. دا نلونه لمر ته ایښودل کېږي، د یوې ځانګړې ښیښې له لارې لمر د حرارت په نتیجه کې دا اوبه ګرمېږي. ددې ډول لمریزو اوبو ګرمونکو شمېر یو وخت یوازې د امریکا په فلوریډا ایالت کې (۵۰۰۰۰) کوره وو، چې خپلې ګرمې اوبه یې په دې ډول تر لاسه کولې. په اسرائیلوکې خو ان په ډېرو نویو ودانیو کې هم له همدې ډول وسیلو څخه کار اخیستل کېده.



۲٦شکل: لمریزه انرژي

له لمریزې انرژۍ څخه د ګټې بله لاره دا ده، چې په نلونو کې پر اوبو باندې د لمر دزیات حرارت په نتیجه کې اوبه پر بخار بدلېږي. دا اوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرته خپل حرارت خوشې کوي او پر مایع بدلېږي. په همدې ډول هم اوبه ګرمېدی شي او هم کور.


لمریزه انرژي پر برقي انرژي هم بدلېدی شي. ۱۹۵۰م کال امریکا د لومړي ځل لپاره یوه لمریزه بټرۍ جوړه کړه. خو انجنیرانو وروسته داسې یوه مصنوعي سپوږمۍ جوړه کړه،چې په فضا کې دځمکې پر مدار څرخي او دلمر له انرژۍ څخه تولید شوی برق ځمکې ته لېږدوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اټومي برېښنا یا انرژي

ټول اجسام له ډېرې وړو وړو ذرو څخه جوړ شوي، چې هغو ته اټوم وايي، پخوا داسې فکر کېده،چې اټوم د وېش وړ نه دی، خو اوس یې وېش امکان لري.




۲۷شکل: اټومي برېښنا

کله چې اټوم ووېشل شي، له هغه څخه ډېره انرژي ازادېږي.

اټومي انرژي له یوې ډېرې قوي سرچینې (غني شویو یوارنیمو) څخه جوړېږي. دا په طبعیت کې د انرژۍ تر ټولو قوي ماده ده. له اټومي انرژۍ څخه د زیاتې برېښنا د تولید لپاره کار اخلي،چې د همدې برېښنا په واسطه ګڼ شمېر فابریکې چلېږي او ښارونه روښانه کېږي، خو له اټومي انرژۍ څخه ځینې هېوادونه د پوځي موخو(مقصدونو) لپاره هم کار اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# هیله

# د خپلو سریزو په لمن کې

محمد اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

## د کتاب ځانګړنې


نوم: هیله د خپلو سریزو په لمن کې

لیکوال: محمد اسمعیل یون

خپرندوی: یون کلتوري یون

لیککال: ۱۳۸۰ل

چاپکال: ۱۳۸۷ل

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د لیکوال

پرله پسې نومره: (۲۲)

د خپرندوی

پرله پسې نومره: (۲۲)

کمپوزر: ضیاالرحمن ضیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ((هیله)) د ملت جوړونې فکري ځواک

د هیلې مجلې چلوونکو ددې مجلې د لومړۍ ګڼې د چاپ پر مهال له خپل ولس سره ژمنه کړې وه، چې دوی به د هېواد پالنې، اسلامپالنې، ژبپالنې او انسانپالنې لپاره هلې ځلې کوي، دوی د ډول ډول کړاوونو، ستونزو او ناخوالو په ګاللو سره مخ پر وړاندې لاړل او د خپل ټاکلي هدف لپاره یې داسې قوي او ټینګ ګامونه واخیستل چې په رښتیا هم خپلو شعارونو ته یې د عمل جامه ور واغوستله او د ملت جوړونې او استحکام لپاره یې د یو واقعي فکري ځواک په توګه پر ټولنې خپل اغېز پرېښود. د هیلې دوه میاشتینۍ مجلې ادارې د اوو کلونو په موده کې په مسلسل ډول د هیلې ګڼې خپرې کړې او ددې بېلابېلو ګڼو په پاڼوکې  یې د ټولنیزو، سیاسي، علمي او کلتوري مسایلو په باب په سلګونو لیکنې چاپ کړې.

په دې لیکنو کې د هېواد د وتلو لیکوالو او نوماندو متخصصینو لیکنې شاملې دي، هیلې مجلې ډېرو نورو پښتو خپرونو ته لاره پرانیستله، د ځوان کهول په روزنه کې یې کارنده ونډه واخیسته او د ځوانانو په هڅونه او ځلونه کې یې خپل اساسي رول ولوباوه. تر هیلې مجلې وړاندې په منظم او سیستماتیک ډول په ملي روحیه سمبال داسې خپرونې نه وې چې دومره اغېز دې ولري، که کومه یوه نیمه چاپ شوې هم وه،  د وخت په تېرېدو سره یې مخه ډب شوې او له منځه تللې وه، خو د هیلې مجلې ادارې او چلوونکو په ډېرو سختو شرایطو او حالاتو کې خپلو خپرونو ته دوام ورکړ او هیله یې خپلو مینه والو ته ورسوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افراط او تفريط پر وړاندې يې يو قوي فرهنگي مورچل جوړ کړ او د اصيل افغاني فرهنگ د بډاينې او ځلونې لپاره يې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې. د هېواد د وروستيو دوه نيمو لسيزو ناخوالو او ربړو څخه يې په زغرده پرده پورته کړه، په اوسني نظام کې يې د نا انډولۍ او بې غورۍ په باب وخت پر وخت ليکنې خپرې کړې او د ولس په ويښونې (بيدارۍ) کې يې خپل رول ولوباوه.

د ټولنې د ذهني تگلورې په بدلون، جوړښت او رغښت کې هيله مجله ځانگړی ځای او مقام لري، د قبيله يي ذهنيت د له منځه وړلو او واحد ملت د جوړونې لپاره يې فعاليت، کار او زيار له هېچا پټ نه دی.

په دې بهير کې هيلوال له ډېرو چلنجونو، گواښونو او ستونزو سره مخ شوي، خوله دې ټولو ستونزو سره سره خپل هدف او موخې ته ژمن پاتې شوي او د ذهني بيا رغونې اوږدې لارې يې وهلې ، ان تر دې چې د هيلې مجلې تر خپراوي وروسته د نړه پښتو خپرونو په شمېر کې خورا زياتوالی رامنځته شو.

د هيلې مجلې هره سرليکنه د ځانگړې ارزښت او اهميت لرونکې ده، دا سريزې چې پر هره موضوع ليکل شوې، شته ستونزې يې راسپړلې، وړانديزونه او حل لارې يې ورته په گوته کړې، يانې دا چې (هيلې) مجلې يوازې انتقادي شکل نه درلود، په هره برخه کې يې د انتقاد او نيوکې تر څنگ د حل لارې هم په گوته کړې دي. هيلې په خپلو پاڼو کې ملي او اسلامي ارزښتونه وپالل او په دې برخه کې يې موثر گامونه پورته کړل.

ډېری ځوانان يې په سياسي، فکري او فرهنگي لحاظ روزلي، چې وروسته ټولنې ته د خدمت جوگه شوي. د هيلې مجلې ډېری سرليکنې د هېواد وروستيو سياسي حالاتو ته ځانگړې شوي او ځينې يې پر فرهنگي مسايلو ليکل شوي، چې په دواړو برخو کې يې د افراط او تفريط ترمنځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندېول ساتلی او هره موضوع یې په جرئت سره په علمي او منطقي ډول څېړلې ده. د هیلې مجلې سرلیکنې، د سرلیکنې د فن لپاره دیو بنسټ او اساس حیثیت لري، چې زما له انده د هیلې مجلې سرلیکنو (سرمقالو) په کتابي بڼه چاپ څخه هدف هم همدا دی چې اوسنیو ځوانانو او راتلونکي نسل ته دا وروښودل شي، چې سرلیکنه څه ډول ولیکو؟ علمي او سیاسي سرلیکنه باید څومره قوي وي اوڅومره جرئت ورته پکار دی؟

هیلوالو د افغاني فرهنګ د ودې او بډاینې لپاره تر خپل وس او توان زیات زیار ګاللی دی، هیله مجله پر خپل وخت د هېواد د مطبوعاتو په افق کې یوه ځلنده مجله وه، چې د زرګونو افغانانو د پوهې په زیاتونه کې اغېزناکه تمامه شوې ده. هیلوالو د زورواکو د زور او زر په مقابل کې د تسلیمۍ سر نه دی ټیټ کړی، تل یې په مېړانه او جرئت غله ته غل او حق ته حق ویلي، ځکه خو یې تر نورو خپرونو په ټولنه کې ګرانښت او منښت زیات و.

هیلې مجلې په هېواد کې د ملي فکر د غوړونې لپاره روزونکی رول درلود، د ملي یووالي او واحد ملت د جوړېدو، پیاوړتیا او غښتلتیا کې یې تاثیر ډېر زیات او مهم و، ځکه چې د هیلوالو هیلې، غوښتنې، اندېښنې، وړاندوینې او فکر د ولس له هیلو او فکر سره سم او برابر وو.

د پردیپالو پر وړاندې په مبارزه کې د هیلې مجلې د ادارې او کارکوونکو هڅې او فعالیتونه د ستاینې او یادونې وړ دي. په دې برخه کې هیلوال تر نورو وړاندې اومخکښ وو او په هر وخت کې یې په پوره شجاعت او زړورتوب سره دپردیپالو او پردیو پر وړاندې قلمي او علمي مبارزه کړې او پوره باور دی چې دې مبارزې ته به د ژوند تر پایه دوام ورکوي، د هیلوالو هوډونه هدفمند او ژمن دي، هیله من یو په راتلونکي کې تر دې هم خورا غښتلې چارې او کارونه ترسره کړي. د هیلې مجلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرليکنې د سرليکنې له آرونو سره برابرې او کره دي او دا ټولګه به د سرليکنې د فن په غوړېدو کې موثره تمامه شي او هغو لوستونکو ته چې دا سرليکنې او هيله مجله يې نه ده لوستې هغوی ته به هم د يوه لاربنود حيثيت ولري،دا به هم په ډاګه شي چې د هيلې چلوونکو په څه ډول حالاتو کې څومره مهمې او قوي سرمقالې ليکلې دي. دا مجموعه د هيلې مجلې له سرليکنو جوړه ده، دا سرليکنې له ۱۳۷٦ل کال څخه تر ۱۳۸۲ل کال پورې ليکل شوي، د همدې وخت او تر هغه څخه د وړاندې حالاتو روښانه انځور لرونکې ده.

درنو لوستونکو!

ستاسې او د دې کتاب ترمنځ نه دېوال کېږم، تاسې قدرمن ددې کتاب لوستلو ته رابولم،د دې سريزو ليکوال، د هيلې هيلوال او د کابل پوهنتون استاد پوهندوی محمد اسمعيل يون ته د نورو فرهنګي خدمتونو، فعاليتونو او برياوو هيله کوم.

په مينه او درناوي
شېرعلم امله وال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ((هیلې)) پر سریزو یوه سریزه

هره ادبي، علمي، ټولنیزه او سیاسي خپرونه، پر خپل وخت او مهال خپل خپل تاثیرات لري، خو ځینې بیا داسې وي، چې د خپلو مهالنیو اغېزو تر څنګ یې، الهام او پیغام، فکر او پانګه نورو نسلونو ته هم انتقالېږي او په ټولنه کې د یو مثبت او ژور فکري بدلانه سبب ګرځي. هیله مجله هم دداسې خپرونو له جملې څخه یوه ده. سره له دې چې څه د پاسه پنځه کاله کېږي، هیله مجله نه خپرېږي، خو هغه چا چې پخوا دا مجله لوستله او یایې لوستې، اوس یې هم پر فکري ژوندانه اغېز محسوس دی. هیله پر داسې یو مهال (۱۳۷٦ل کال لومړیو کې) پیل شوه، چې په ټول هېواد کې د ټولو رسنیو پر ستوني د بندیز خپسه ناسته وه، پر تلویزیون بندیز و، رادیو یوازې د جنګ ترانې، نعتونه او دهغې دنیا خبرونه خپرول او د جګړې خبر د خبرونو ((سرخي)) جوړوله، موسیقي اود ښکلا نورې نغمې خو د کفر د تمثیل سمبولونه وو. د زیروح تصویر اخیستل څه چې ګرځول یې هم حرام وو، پر ټول هېواد د چوپتیاسیلۍ خپره وه، پر داسې یو مهال د یوې ازادې او بیا بشپړې ازادې خپرونې خپرول، نه د چا په وس پوره وه او نه حالاتو چا ته ددې جرئت ورکاوه، چې څوک دې د داسې یوې حاکمې فضا پر وړاندې پټ او ښکاره بغاوت وکړي.

خو دهیلې، هیلوالو ددغسې اغزن چاپېریال له ستونزو سره سره د یوې کره، نړه او معیاري پښتو مجلې( هیلې) د چاپ او خپراوي تکل وکړ. دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوډ د یو متساوي الاضلاع مثلث له دریو غړو (عبدالمالک بېکسیارپه ډنمارک، صفیه صدیقي په پېښور او محمد اسمعیل یون په کابل کې) څخه جوړ شو. د مجلې د لومړۍ ګڼې تر چاپ دمخه یوازې د ګوتو په شمېر څو لیکوال د مجلې پر خپراوي خبر وو او نور په چوپه خوله کار و. ددې یو علت دا و چې دا وخت ان په پېښور کې د یوې رښتینې، ازادې او نړه پښتو مجلې پر وړاندې ستونزې وې. ستونزې نه یوازې د کیڼلاسو او ښیلاسو او سرو او سپینو سیاسي ډلګیو له خوا احساسېدلې، بلکې خپله زموږ د یو شمېر هغو لیکوالو له خوا هم وې، چې د یو ((مضر احتیاط)) پر ناروغۍ اخته وو، دوی لکه د ګاډۍ اسونه له پخوا نه د ژوندانه د یوه سولیدلي میتود په اسارت کې وو، دا ورته بېخي جرم (!) او عجیبه ښکاره کېدله، چې څوک دې مجله ټوله په پښتو ژبه چاپ کړي، خود هیلوالو یو څواکمن هوډ د مضر احتیاط او دودیزو لیکوالو دا بریدونه مات کړل او تر هغه وروسته بیا د لوی خدای (ج) په فضل په لسګونو لیکوالو د نړه پښتو مجلو چاپ او خپراوي ته په ارام زړه او خلاصه فضا را ودانګل او دا لړۍ لا تر اوسه دوام لري. تر هیلې دمخه هم ځینې پښتو خپرونې خپرې شوي، خو د هیلې کوم فکري موثریت او جذابیت چې دا وخت د نورو چاپي خپرونو د نشتوالي او کموالي له امله په ټولنه کې و، دې موثریت نورو ته هم لاره خلاصه کړه.

دهیلې لومړۍ ګڼه د ۱۳۷٦ ل کال پر ثور میاشت چاپ شوه، پر لومړي مخ یې د میرویس نیکه او پر دویم مخ یې د احمدشاه بابا تصویرونه چاپ شوي وو، دا هغه مهال و چې پر کابل د طالبانو د واکمنۍ لا کال پوره نه و او طالبانو د موسیقۍ او هر ډول زیروح تصویر پر وړاندې جهاد اعلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې و، دا مجله په کابل کې، لومړۍ، دولتي طالب چارواکو ته ورسېده، هغوی که له يوې خوا له عکس سره مخالف و، نو له بلې خوا يې د ميرويس نيکه او احمدشاه بابا د عکسونو پر وړاندې د مخالفت جرئت نه شو کولای، نو په دې ډول دا مجله د طالبانو د بنديز تر دايرې بهر شوه، دا کار څه تصادف نه و، هيلوالو مخکې تر مخکې فکر کړی و چې په هېواد کې د حاکم قيد او بند نه د خلاصون يوه لاره داده، چې په پيل کې د مجلې پر پښتۍ د داسې يو چا عکس راوړل شي، چې د طالبانو دُره يې د قيدولو توان ونه لري. مجله په دې ډول په ټول افغانستان کې خوره شوه او ورو ورو دې لړۍ دوام وکړ او په دې کار سره يې په هېواد کې او تر هېواده بهر خپل ګڼ شمېر مينه وال، لوستوال او ملګري پيدا کړل، هيلې له پيل نه د خپل ملي ارمان لپاره کار ته کار ويلای و، نو ځکه خو يې د موسمي حکومتونو او سيمه ييزو چارواکو له واک نه کوم باک نه درلود. د هغه وخت سياسي، فرهنګي او ټولنيز حالت چې څرنګه وو، همغسې يې خپرول، په دې توګه د هيلې مجلې په لمن کې په لسګونو، علمي، ادبي، ټولنيزې، ديني، سياسي او نورې ليکنې چاپ شوې او په دې ډول يې د ځوان نسل په روزنه، د ملي تصور په اوچتونه او د معياري پښتو غورځنګ په پرمخبيونه کې خپله کارنده ونډه واخيسته، په هيله کې د بېلابېلو ليکوالو د ګټورو او ژورو ليکنو تر څنګ د ((هيلې سريزې)) هم د لوستونکو خوښې شوې او څو څو ځله يې له موږ څخه هيله وکړه چې دا سريزې د يوه ځانګړ ي اثر په بڼه چاپ کړو. څرنګه چې د هيلې سريزې له پيله بيا تر وروستۍ چاپي ګڼې په يوه قلم (زما په قلم) ليکل شوي، نو په دې ډول، زه تر هر چا زيات د هغو په فکري مسئوليت کې شريک يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زما د شخصیت او فکر یوه برخه په کې ځلېږي، که څوک غواړي ما وپېژني دا سریزې ورسره مرسته کولای شي، د هیلې د سریزو راټولونې او چاپ ته مې ځکه زړه ښه کړ، لکه څنګه چې د هیلې د خپراوي په پیل کې مو هېواد، ملت او ژبې ته د خدمت تعهد کړی و، زموږ له سریزو به څرګنده شي، چې موږ څه ویلي او څه مو کړي دي؟ هغو په اصطلاح لیکوالو ته به هم دا په ډاګه شي چې کله کله به یې په هیلوالو پسې ((سوی تبسم)) کاوه، خبرې به یې پسې کولې او بل کار به یې نه و، کاشکې هر لیکوال د هرې لسیزې په پای کې، په تېرې لسیزې کې دخپل کړي کار ریکارډ چاپ کړي، په دې ډول به دهغه د علمي، سیاسي او کلتوري شخصیت متزلزلې او باثباته خواوې خلکو ته څرګندې شي او بیا به په چا پسې د ((سوی تبسم)) جرئت ونه لري.

د هیلې په دې سریزو کې اوس ما هېڅ ډول بدلون نه دی راوستی، لوستونکي کولای شي د شک په حالت کې یې د لوستلو پر مهال چک کړي، یوازې کومه یوه کلمه چې املایي او انشایي تېروتنه په کې وه، هغه مې سمه کړې ده، نورې نو دا لیکنې د هیلې پانګه ده او دهمغو شرایطو محصول، هر ډول مصنوعي بدلون راوستل په کې دهیلې له تېر تاریخ سره درغلي ده.

دلته ډېره لازمه او ضروري ده، د هغو کسانو د خیر یادونه وشي چې (هیله) یې له لومړۍ بیا تر وروستۍ چاپي ګڼې را رسولې؛ که د عبدالمالک بېکسیار، صفیه صدیقي، حفیظ-الله غښتلي، احمد ویس وردګ، صالح محمد صالح، عزت الله شمسزي، بریالي ویاړ او دغه راز د نورو هیلوالو پرله پسې هلې ځلې او د فکر او تندي خولې نه وای، نو خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبر چې هیله به له یوې ګڼې بلې ته خوځېدلې وای، نو تاسو چې دا سریزې او یا د هیلې نورې لیکنې لولئ، ددې ښاغلو زیار او زحمت باید هېڅکله له یاده ونه ایستل شي،ګران ورور شېرعالم امله وال هم د ستاینې وړ دی چې وخت پر وخت به یې په زیات ټینګار سره راته ویل چې د هیلې سریزې باید راټولې او چاپ کړو، نور نو دا سریزې ستاسو مخې ته ږدم، هیله ده چې خوند ورڅخه واخلئ او په نږدې ماضي کې د هېواد د ځو تنو فرهنګیانو له کار او زیار څخه تر یوه بریده خبر شئ.**

**په درناوي**

**پوهندوی محمد اسمعیل یون**

**دهیلې یو هیلوال**

**ارګ، د جمهوري ریاست ودانۍ،کابل- افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ((هيله)) د کومو هيلو په هيله خپرېږي؟

د هېواد روانه غميزه د خپل ژوند دويمې لسيزې پوره کېدو ته نږدې کېږي. په همدې تېرو شلو کلونو کې چې څه پر هېواد او زموږ پر ولس راغلل په ذهن کې دهغو بيا تېرول او يادول انساني ذهن له سترياوو سره مخامخوي. په تېرو پنځو کلونو کې د ولس د ژوند پر رگونو د جگړو او غمونو يوه بله روې هم کېناسته.

د پخوانيو زورواکو رژيمونو په پرتله او اندېول ددې (۱۳۷۱ غويي-۱۳۷۵ تله) ترينگلي نظام نادودې او ظلمونه ډېر دردوونکي وو. نه يوازې دا چې زموږ د ولس د کړي جهاد مېوه يې وپلورله، بلکې ځينو داسې قومي، ژبنيو، تاريخي، سيمه ييزو مسايلو ته يې لمن ووهله چې د يو موټي افغان ملت د روغې ستې لپاره ډېر خطرناک تمامېدل. د کابل ښار چې د تېرو جگړو له گوزارونو سلامت پاتې شوی و، نه يوازې د هېواد سياسي مرکز، بلکې د سيمې يو ستر فرهنگي مرکز هم و، نو په همدې وجه خو د هېواد تاريخي دښمنان چې کابو څلوېښت کاله يو ناروا غلچکي او نيتبدي عمل ته منتظر وو، دا هيله چې ((کابل بايد وسوځي)) د همدې کورنيو او بهرنيو لوبغاړو په لاس، ترسره کړه.

د همدې لوبې په پايله کې د هېواد پلازمېنه په وينو ولمبول شوه او زياته فرهنگي او مادي شتمني يا لوټ او يا له مينځه يوړل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس نو موږ نه یوازې په اقتصادي ډګر کې له یو ویجاړ او سوځېدلي هېواد سره مخامخ یو، بلکې په فرهنګي او مانیزه برخه کې هم یو ړنګ بنګ فرهنګ راپاتې دی.

دا چې چا، چا موږ پر دې برخلیک اخته کړو، پورته مو په ضمني توګه ورته اشاره وکړه، اکثره افغانان یې لاملونه او ټول لوري پېژني. د پښتو متل دی (( اوبه چې تر ورخه تېرې شوې بیا نه راګرځي)) اوس چې هر چا هرڅه زموږ د هېواد پر خلکو وکړل، هغه وشول. اوس دا فکر پکار دی چې څنګه پر خپلو زخمونو پټۍ کېږدو؟ څنګه خپل هېواد بېرته زرغون او ښېراز کړو؟ څنګه خپل فرهنګ له سره ښېراز او څنګه په راتلونکي کې ددې ډول غمیزو مخه ونیسو؟

اوس اوس په کابل، پېښور او تر هېواده دباندې یو زیات شمېر افغانان دژوند دبار د اوچتولو ترڅنګ د خپل هېواد د راتلونکي او حال په باب ډېر اندېښمن او فکر وړي دي. یو شمېر فرهنګیانو د خپل وس او امکان تر بریده دخپل هېواد د فرهنګ لپاره نېکې هڅې کړي او کوي یې. دا فرهنګي هڅې زیاتره دمجلو، اخبارونو او کتابونو دچاپ په برخه کې زیاتې متمرکزې دي.

په ډنمارک کې دمېشته افغانانو له جملې څخه یو شمېر فرهنګیانو او فرهنګپالو هم دا وپتېیله چې خپل ځانونه په دې هڅو کې شریک کړي. د خپلې ژبې، هېواد او فرهنګ دخدمت لپاره یې اوس تر ټولو غوره دا وګڼله چې خپل  فکر او هیلې به د یوې خپرونې له لارې بیانوي او بیا که د وس او امکان پولې وغځېدلې، پر نورو لارو به هم فکر کوي او عملي ګام به پورته کوي. ((هیله)) زموږ د هڅو لومړی پیل دی، هیله ده چې دا پیل زموږ د ملي او اسلامي فرهنګ په وده او د افغان ولس د ذهن په روښانولو کې اغېزمن ثابت شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



((هيله)) به اوس اوس يوازې په پښتو ژبه د ليکوالو ليکنې چاپوي ځکه چې اوس پښتو ژبې او ادب ته دخدمت ضرورت زيات محسوس دی. که په راتلونکې کې وخت، امکان او اړتيا ددې ايجاب وکړ، کېدی شي په نورو ژبو هم د ليکوالو ليکنې خپرې کړي.

((هيله)) به د هېواد دملي او اسلامي فرهنگ د بډاينې او زرغونتيا لپاره خپلې پاڼې د ليکوالو په ليکنو ډکوي، هر هغه فکر چې زموږ د هېواد دلوړو ملي او اسلامي گټو لپاره وقف شوی وي، د (هيلې)) په پاڼو کې به ځلېږي.

((هيله)) به دليکنو دخپراوي او چاپ په واسطه تر هېواد دننه او تر هېواده د باندې افغان ليکوالو ترمنځ فکري او قلمي رابطه ټينگوي.

په ((هيله)) کې به پر، هر هغه فکر، ذوق او خيال بنديز او سانسور نه وي چې له اسلامي فکر او د هېواد له ملي گټو سره په ټکر کې رانه شي.

((هيله)) به په کره ليکنې، گړنۍ او معياري پښتو ليکنې خپروي، د فرهنگي ليکنو ترڅنگ به هغه سياسي ليکنې هم خپروي چې په رښتينې بڼه د هېواد د سياسي پېښو او سياسي څېرو انځور گري کولای شي.

دپښتو د ځوان پښت د ځوان ادب د سمسورتيا په هيله به د ځوانو ليکوالو د ليکنو خپراوي ته ځانگړې پاملرنه کوي. ((هيله)) غواړي د سالم انتقاد او کره کتنې روحيه پيل او دود شي، هر هغه انتقاد په ورين تندي خپروي چې تر ضرره يې گټې زياتې وي.

((هيله)) به د هېواد د ټولو وگړو له هغې جملې د ښځو د حقوقو کلک ملاتړ کوي او په دې اړه به ليکنې خپروي.

کله کله که د ((هيله)) په پاڼو کې کوم داسې مطلب راغی چې د واقعيت پر بنسټ ليکل شوي وي، خو په هېواد کې د کوم سياسي گوند او يا سياسي څېرې له ذوق، شوق او سليقې سره متضاد وي، دا به په دې مانا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وي چې له هغې ډلې او یا شخص سره دکینې او یا د بلې ډلې د پلوۍ له کبله چاپ شوی وي. بلکې آره وجه به یې هغه درد، وي چې د لیکوال د زړه رګونه یې سېځلي او هغه یې دې لیکنې ته اړ کړی دی.

خو په لنډه توګه د ((هیله)) ټولیزه موخه خپل هېواد، ولس، ژبې، فرهنګ او انساني کراماتو ته خدمت کول دي. هیله ده له موږ څخه په دې برخه کې خپلې هېڅ ډول مانیزې او مادي مرستې ونه سپموئ.

په درنښت

د هیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ((هیله)) کې د هېوادوالو هیلې انعکاس شوې او که نه؟

کله چې مونږ د ((هیلې)) لومړۍ ګڼه خپروله، نو دا وېره راسره وه چې خدای(ج) مه کړه مونږ به خپل دې نېک نیت او فرهنګي هڅې کې پاتې راشو، زمونږ هېوادوال چې نور نو د ژوند په اکثرو ډګرونو کې له زیاتو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي، ایا مونږ به په دې بریالي شو چې د هغو د هیلو او رنځونو تصویر وړاندې کړو؟ ایا دا به دهغو لسګونو افغاني خپرونو په منځ کې چې هره یوه ځانته ځانګړې ((پالیسي)) لري او تر بېلابېلو به پلمو لاندې د لیکوالو لیکنو ته د سانسور زندۍ ور اچوي، په خپلواک ډول سره راپورته او د ناوړه سانسور کړۍ به ماتې کړي؟ له دې سره سره دا وېره هم وه چې د لوستونکي ذهني شتمني او رابطه به راخپله کړي او که نه؟ خو له نېکه مرغه کله چې د ((هیلې)) لومړۍ ګڼه چاپ او خپره شوه، نو زیاتو لوستونکو یې په ډېره مینه هر کلی وکړ. له زیاتو لوستونکو څخه مو مقصد ټول لوستونکي نه دي، بلکې اکثریت مو مقصد دی. هغو افغانانو چې په جرمني، امریکا، روسیې، سویډن، ناروې او ډنمارک کې استوګن دي او ((هیله)) مجله ورته ور رسېدلې وه، ځینو یې د لیکونو او ځینو هم د ټلیفون له لارې دمجلې ستاینه وکړه. په کابل، ننګرهار او پېښور کې هم لوستونکو او لیکوالو د مجلې ډېره ستاینه وکړه، خو له ستاینو سره سره ځینې انتقادونه او وړاندېزونه هم وشول. د ځینو انتقاد دا و چې ولې ټوله په پښتو ژبه ده، ځینو ویل چې سیاسي برخه یې تونده ده، ځینو ویل چې ټوله باید ادبي وي، ځینو ویل چې په مجله کې باید هېڅ ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکري سانسور نه وي، یو شمېر ویل چې د مجلې د ژبې د معیار په برخه کې باید نور هم زیات کوښښ وشي، ځینو ویل چې د مطالبو په خپراوي خصوصاً په فکري برخه کې له ډېر احتیاط نه کار واخیستل شي، ځینو ویل چې لیکني هیئت کې باید لوی لوی پوهان او لیکوال شامل شي. ځینو دا خبره کوله چې پښتو ژبې ته د خدمت ضرورت او اړتیا ډېره زیاته ده، نو باید ټوله مجله تر پایه په پښتو چاپ شي، یو شمېر ویل چې د هغو سیاسي اشخاصو او ملي خاینینو څېرې باید رسوا شي چې زموږ پر هېواد یې دا ناورین راوستی او اوس یې هم جاري ساتي. په دې ډول د مجلې اداري او کارکوونکو ته په لیکني او ګړني ډول ډېر زیات نظرونه راورسېدل. سره له دې چې د لوستونکو په نظرونو کې زیات اختلاف و، خو یو شی چې د مجلې اداري ته ثابت شو هغه دا و چې اکثره نظرونه د مجلې د ښه والي لپاره د ښه نیت له مخې څرګند شوي وو. هر چا چې هر نظر رالېږلی و مقصد یې دا و چې د مجلې په ښه والي کې مثبت ثابت شي، خو تر کومه ځایه چې د مجلې اداري ته ددې ټولو نظریو د تطبیق پوښتنه راولاړېږي، نو په دې باب باید ووایو چې د مجلې اداره کوښښ کوي چې د امکان تر حده د اکثرو لوستونکو نظریو او غوښتنو ته دعمل جامه ور واغوندي، خو دا هم څرګنده ده چې هېڅ داسې خپرونه به نه وي چې هغه دې د ټولو لوستونکو، د فکر او ذوق له پلوه یوشان خوښه شي.

موږ لکه څنګه چې په لومړۍ ګڼه کې ددې مجلې تګلوری په ګوته کړی، په لنډېز سره وایو چې زموږ موخه او مقصد خپل ملي او اسلامي فرهنګ، ملي ژبې (پښتو) ته خدمت کول او د هېواد د ملي واکمنۍ د دښمنانو، ملي خاینینو او نورو ملت ضد اشخاصو پر ضد په قلمي او فرهنګي مبارزه کې برخه اخیستل دي. دې سره سره به موږ د ټولنیز ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بېلابېلو ډګرونو او د هغو د سمون په اړه لیکنې خپروو او د لوستونکو ذوق او فکر به هم تر ډېره حده په پام کې نیسو.

موږ له هغو ټولو لوستونکو او لیکوالو څخه د زړه له کومې مننه څرګندوو چې موږ ته یې خپل رغوونکي نظرونه، انتقادونه او وړاندیزونه راولېږل، او د نورو مشورو په انتظار یې یو.

د مجلې اداره یو ځل بیا یادونه کوي چې کله که د مجلې په پاڼو کې کوم داسې سیاسي او یا انتقادي مطلب چاپ شو، چې په هېواد کې د کوم مشخص سیاسي ګروپ او یا شخص په ضرر وي، نو دا ددې مانا نه لري، چې موږ ګنې له هغه شخص سره شخصي کینه لرو، بلکې د لیکوال د هغه درد په انعکاس کې برخه اخلو، چې هغه یې دې لیکنې ته اړ کړی دی، خو که مخالف لوری او یا شخص د خپل ځان د سپیناوي او دفاع لپاره داسې لیکنه راولېږي چې د قلم عفت او عزت پکې ساتل شوی وي، نو هغه به هم د هغه شخص د ځواب په توګه خپروو.

ستاسو د نورو نېکو نظریو، لیکنو، انتقادونو او وړاندیزونو په هیله

د هیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ((هیله)) د کومو ستونزو له پېچومو تېرېږي؟

په هغو ټولنو کې چې د پوهې او قلم پرځای د ټوپک منطق حکومت کوي، سوال او ځواب ټول د تورو په سرونو کېږي، دکتاب، مجلې او نور خپرونو فرهنگ لا د ټولنې اکثرو برخو ته نه وي خور شوی، د لوږې، فقر، تنگلاسۍ او نورو ستونزو د سیلۍ شمال د ژوند غوټۍ شېرازېدو ته نه پرېږدي، په هغو ټولنو کې چې روڼ اندي ( روشنفکر) قشر پر بېلابېلو ذهني تمایلاتو وېشل شوی وي او ډول ډول سیاسي، اقتصادي، سیمه ییزو او نورو ناروغیو یې د ذهنونو ټولې برخې نیولې وي، د افراط او تفریط او مضر احتیاط روحیې د اکثرو ذهنونه او فکرونه تسخیر کړي وي، د یوې ازادې، خپلواکې، رښتینې مجلې، اخبار او یا بلې خپرونې خپرول او دخپلواکو قلمونو چلول په رښتیا سره یو ډېر ستونزمن او له ذهني، رواني او فزیکي خطره ډک کار دی.

له بده مرغه باید ووایو، چې زموږ ټولنه اوس اوس له پورتنیو ستونزو او اندېښنو سره لاس او گرېوان ده، خو ایا د ټولو خپرونو پاڼو او د قلم نوکې ته د یو ((مضراحتیاط)) دلومې ور اچول د یو روڼفکر، لیکوال او شاعر انساني او هېوادنی مسوولیت تر پوښتنې لاندې نه راولي؟ او یا هم د بې تفاوتۍ ارام او شنه خوبونه زموږ د ټولنې د رنځور حالت درمل کېدلای شي؟ دهمدغو بد مرغیو دجاج اخیستلو له کبله موږ د یوې داسې خپرونې پر خپرونو لاس پورې کړ چې لږ تر لږه د یادو ستونزو د ځینو برخو په انعکاس کې برخه واخلي او د هېواد د ټپي فرهنگ د بیا رغونې او بډاینې لپاره په ذهني فعالیت کې ځان شریک کړو، خو ایا موږ له ستونزو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخامخ نه یو؟ هغه کسان چې پر خپرنیو فعالیتونو بوخت دي، هغه په اوسني وخت کې دیوې ازادې خپرونې، هغه هم د داسې یوې خپرونې چې د یو چا د لاس د خولو په زور چلېږي پر ستونزو ښه پوهېږي. ((هیله)) مجله دهمدغسې ستونزو او مشکلاتو، ستړیاوو او هلو ځلو له بتې ځخه راوتلې وروستۍ ثمره ده، د دې په خاطر چې راتلونکی پښت او اوسنیو لیکوالو ته د مجلې د اوسني ستونزمن حالت لږ جاج معلوم شي، په لنډیز سره ویلای شو چې دا اوسنۍ ((هیله)) د څو کسانو د منډو ترړو او د یوه واحد مقصد لپاره د څو کسانو د زیارونو او هلو ځلو د شریکېدنې پایله ده، یو تن په ډنمارک کې د خپل ژوند د هوساینې شرایط پرځان راتنګ کړي او د خپلو لاسونو، فکر او قلم د زیارونو د خولو ثمر رالېږي، یو بل تن په پېښور کې دې هلو ځلو ته اوډنه او انتظام ورکوي او د اړیکو مزي ټینګوي او بل تن له جنګ ځپلي کابل او نورو سیمو نه لیکنې او مضمونونه راټولوي او بیا یې د چاپونې زیار ګالي، په حقیقت کې له دغه مثلث څخه د ((هیلې)) مېوه لاسته راځي، خو اوس راځو دې ته چې دا زیار د ټولو لپاره د ستاینې او مننې وړ دی او که نه؟ که اختلافونه هم ورسره مله دي؟

رښتیا خبره خو داده، ((هیله)) چې د کوم مقصد لپاره خپرېږي د همدې فکر درلودونکو اشخاصو لپاره هم د مننې وړ ده او هم د ستاینې، خو په طبیعي ډول د مخالف لوري لپاره نه یوازې دا چې د مننې وړ نه ده، بلکې د غندنې سبب یې هم ده. دې منځ کې یو ډله نور خلک هم دي چې هغوی ټول عمر د مضر احتیاط په ډنډ کې ډوب دي او مضر احتیاط په ټولنه کې هغه زهر دي چې د ټولنې د پرمختګ رګونه سیزي، استاد الفت په خپل یو نثر کې د مضر احتیاط کیسه داسې بیانوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(( شمی اکا په کلي کې په احتیاط ډېر زیات مشهور و، هر چا چې به په کلي کې کوم کار کاوه نو یو ځل به یې هغه ته مراجعه کوله، دده د احتیاط یوه نښه دا وه چې ټول عمر په موټر کې نه سورېده، ځکه چې ده ویل کېدی شي موټر چپه شي او ژوند ته یې خطر پېښ شي، کور ته یې برق نه راوسته، ویل یې کېدی شي برق شارټ شي او ټول کور اور واخلي، هو، دی له عقله پیاده و، ځکه یې ټول عمر کور کې تیاره وه.))

له بده مرغه باید ووایو چې اوس هم زموږ په ټولنه کې د دې ډول اشخاصو ډېرې بېلګې شته. تراوسه پورې موږ ته یو شمېر لیکوالو او نالیکوالو چې پر همدې رنځ اخته دي، دمجلې د خپرنیو مطالبو په باب همداسې نظر راکړی، د دوی یو ستر انتقاد دا دی چې ولې تاسو ټوله مجله په پښتو ژبه خپروئ، او دا به ستاسو لپاره ((ښه راتلونکی ونه لري)).

خو که موږ هر څو ورته ویلي چې د خپلې ژبې او فرهنګ خدمت نه یوازې دا چې کوم خیانت نه دی، بلکې د ویاړ او د ډېرې نېکنومۍ خبره هم ده او دا د نړۍ د ټولو انسانانو طبیعي حق دی، نورو ته چې د خپلې ژبې د خدمت حق حاصل دی، موږ هم غواړو چې له همداسې یو حق نه ګټه پورته کړو.

بله خبره داده چې دا به د چا وجدان ومني چې یو پښتون دې د هېواد له مورنۍ غېږې نه په لرې هېوادو کې د خپل زیار د خولو په بیه د خپل فرهنګ او ژبې لپاره یوه مالي بسپنه برابره کړي او موږ هغه د بل چا د ژبې او فرهنګ د بډاینې لپاره مصرف کړو.

حقیقت دادی چې موږ د نورو فرهنګونو او ژبو ته ډېر زیات خدمتونه کړي دي، د نورو ژبه مو په خپل دربار کې ساتلې او پاللې ده او بې شمېره خدمتونه مو ورته کړي دي، د افغانستان نومیالي لیکوال استاد پوهاند عبدالشکور رشاد په دې برخه کې دوه ټوکه مهم کتابونه لیکلي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو یې (پښتانه شعرا په فارسي کې) او بل یې (پښتانه شعرا په اردو کې) نومېږي، په هر اثر کې یې تر دوو سوو زیات شاعران معرفي کړي، چې په نوموړو ژبو یې شعرونه لیکلي او خدمتونه یې ورته کړي دي، همداسې نور په سوونو پښتانه لیکوال چې د نورو د فرهنګ او ژبې لپاره یې قلمونه چلولي دي، هم در واخله!

په ټولیز ډول که موږ د هغو پښتنو شمېر چې اردو او فارسي ژبو ته یې خدمتونه کړي دي یوازې (۷۰۰) تنه لیکوال محاسبه کړو او د هر یوه دکتابونو شمېر په منځني حد (لس عنوانه) کتابونه محاسبه کړ، نو د ټولو کتابونو شمېر به (۷۰۰۰) عنوانه کتابونه شي او دا هغه شمېر دی چې تقریباً دپښتو ژبې د ټولو کتابونو له شمېر سره د انډول وړ دی، ایا همدا خدمت کفایت نه کوي؟

په نړۍ کې به هېڅوک داسې قوم پیدا نه کړي، چې د بل چا ژبې او فرهنګ ته یې دومره خدمتونه کړي وي، اوس نو که په دې خدمتونو هم له پښتنو څخه څوک خوشاله نه وي، نو خدای(ج) دې هغوی خوشاله کړي.

درنو لوستونکو!

((هیله)) مجله دهمدغسې نظرونو له ګوزارونو تېرېږي او خپله لار جوتوي. له ژبنیو نظرونو پرته، دې او هغې ډلې ته دمجلې د انتساب اوازې هم زموږ تر غوږونو راورسېدې، خو وخت به دا ثابته کړي چې ((مجله)) یوازې د افغانستان ملي ګټې په پام کې نیسي، نه دکومې ځانګړې ډلې خیال او سلیقه، خو له ستونزو سره سره د زیات شمېر هېوادوالو او په بهر کې د مېشتو افغانانو تشویق او ستاینې او په دې برخه کې همکاري هم د منني وړه ده، په ځانګړي ډول د هغو لیکوالو همکاري چې له کوم مادي امتیاز پرته یې د خپلو قلمونو مېوه موږ ته د خپراوي لپاره راسپارلې ده او موږ سره یې په ګډه په دې فرهنګي او ملي کار کې ونډه اخیستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



((هيله)) مجله به هڅه وکړي چې په خپلو پاڼو کې د دوو تېرو ګڼو په شان زموږ د ټولنيز او فرهنګي ژوند د بېلابېلو ټپونو د علاج لپاره د درنو ليکوالو افکار خپاره کړي، له درنو لوستونکو او ليکوالو څخه هم هيله لرو، چې د هېواد د هغو ناويلو او ناليدلو ټپونو او رنځونو په باب چې لا اوس هم زموږ د ولس دژوند د بېلابېلو ډګرونو شيره زبېښي، ارزښتمنې ليکنې راولېږي.

د مجلې اداره کوښښ کوي، چې تر زياته بريده په ژبني او ليکني معيار کره ليکنې درنو لوستونکو ته وړاندې کړي، په ليکنو کې به د هېواد ملي او اسلامي ګټې او د ملي فرهنګ د ښېرازۍ او بډاينې مساله ضرور په پام کې نيول کېږي، خو هېڅکله به دمنفي ځان ساتنې، ورځ چارۍ او د احتياط په پلمه له ورځني فرهنګ نه شاتګ ته غاړه کېنږدي او نه به تر دې بهانو لاندې د ليکوالو رښتيني مطالب له چاپ وغورځوي، د مجلې او درنو ليکوالو ترمنځ غټ او د پيوستون پُل همدا دی چې د هېواد ملي او اسلامي ګټې په پام کې ونيسي او د پښتو ژبې د بډاينې لپاره خپل قلمونه نور هم ګړندي کړي. له ځوانو ليکوالو نه هم په درنښت هيله کوو چې ((هيله)) د خپلو فرهنګي ليکنو او هيلو د غوړېدو چينه او تمه ځای وګڼي او په خلاص مټ او زغرده توګه د مجلې ادارې ته خپلې ليکنې او شعرونه راواستوي.

دغه راز د مجلې اداره ټولو درنو ليکوالو ته يو ځل بيا په درنښت سر بلنه ورکوي، چې د افغاني ټولنې د ژوندانه د بېلابېلو ډګرونو او اړخونو په باب موږ ته خپلې ګټورې ليکنې راولېږي.

په درناوي

د هيلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فرهنګي رغونه د لومړيتوب حق لري

د شلو کلونو په بهیر کې د هېواد د ژوند د بېلابېلو خواوو د ودانیو برجونه نړول شوي، د هېواد فرهنګي شتمني د بهرنیو او کورنیو دښمنانو له خوا په شعوري او ناشعوري ډول چور او تباه کړای شوې ده. د ټول هېواد رغنده خواوې او ودانۍ ويجاړې شوي دي، هره برخه بیا رغونې او ابادۍ ته اړتیا لري، خو دا خبره د یادولو وړ ده چې په هره ټولنه او هر ځای او وخت کې تر ضرور نه ډېر ضرور کارونه موجود وي. د اړتیا په اندول باید لومړی هغه کار تر سره شي، چې ډېره زیاته اړتیا یې محسوسه وي، په دویم ګام کې ضروري او بیا همداسې نور کارونه او هڅې، خو اوس راځو دې ته چې زموږ په ټولنه کې تر ټولو لومړی، کوم کار او چارې ته اړتیا ده؟ هغه څوک چې په هېواد کې اوسېږي او ډول ډول اقتصادي فقر او ناخوالو ځپلي، هغوی ته که دا پوښتنه وړاندې کړې، نو هغوی بې درنګه دا خبره کوي، چې تر ټولو لومړی باید د اقتصاد (ډوډۍ) غم وخوړل شي، چې یو ځل ګېډه مړه شي بیا هر څه کېږي، د دوی په فکر اقتصادي ستونزې ددې سبب کېږي، چې سړی له خپل فرهنګه لرې او ان پردی کړي، دوی وايي یو څوک چې د خپل ورځني ژوند د خړوب او تېرولو وس نه لري، نو فرهنګ خو لا پرېږده چې عادي سالم فکر هم نه شي کولای او ټول ذهن ان فکري ځواک یې د اقتصادي فقر په وربځو کې ډوب وي. ددې یادې ستونزې عملي او څرګندې بېلګې همدا اوس زموږ په هېواد کې ډېرې زیاتې دي. که د پخوانیو شمېرنو له مخې زموږ هېواد دیوې پنځه لس ملیوني بشري ټولنې په توګه په پام کې ونیسو او ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنې د مطالعې جاج واخلو، نو دا به ښه څرګنده شي چې دلته اولس د سواد او اقتصادي فقر تر څنګ له نورو ستونزو سره هم مخ دی. اوس په پښتو ژبه ډېر کتابونه چاپېږي، تقریباً د هر عنوان شمېر (۵۰۰) او یا (۱۰۰۰) ټوکه وي، خو ډېرې کمې بېلګې به پیدا کړو چې دا کتابونه دې د خرڅلاو له لارې بېرته خپل لګښت پوره کړي، نور اکثره یا خلکو ته وړیا ورکول کېږي او یا هم په کتابتونونو کې پاتې کېږي. اوس سړی له دې خبرې پوهېدلای شي، چې په یوه پنځلس ملیوني بشري ټولنه کې زر آن پنځه سوه تنه هم منظمه مطالعه نه کوي، دلته بیا همغه د کتاب پلور خبره سړي ته رایادېږي: (( هغه څوک چې پیسې لري هغه کتاب نه اخلي او هغه څوک چې مطالعه کوي هغه پیسې نه لري)) اکثره کسان اقتصادي ناخوالې زموږ د فرهنګي ودې د مخنیوي ستر عامل بولي. دهمدې اقتصادي فقر په پایله (نتیجه) کې داسې حالات پېښ شول چې زموږ د فرهنګ لپاره نا مطلوب وو. غوره بېلګه یې د کابل ښار دی، دلته د همدې ستونزو په نتیجه کې هغه فرهنګیان چې پخوا یې په ښه مینه او خلاص مټ، فرهنګي هلې ځلې کولې، د وخت په تېرېدو سره د ژوندانه پر ستونزو پر ځانګړي ډول په اقتصادي مشکلاتو اخته شول. فرهنګ او فرهنګي کار هم خپل مادي ملاتړ له لاسه ورکړ او د فعالیت کړۍ یې تنګه شوه، نو دا فرهنګیان هم په ذهني او هم په فزیکي ډول استهلاک شول او اوس یې له اکثرو د کوم نوښت او لوی فرهنګي کار هیله نه شي کېدلای.

د نوي ځوان فرهنګي کهول د ټوکېدو زمینه هم نه شته، ځکه چې مخکې پلونه ټول نړېدونکي او نړول شوي دي. ان داسې وخت هم راغی چې لیکوال د خپلو کتابتونو خرڅلاو ته کېناست. دې سره سره ځینې داسې کسان هم شته چې د هغوی فرهنګي مینه او د زړه زور تراوسه اوبه شوي نه دي او د خپل هېواد د فرهنګ ډېوه یې نیم ژواندې ساتلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس که د هېواد دننه په کابل او نورو سیمو کې د فرهنگي کار لړۍ ښه گرمه نه ده، نو په پېښور او تر هېواده بهر ځینو نورو سیمو کې د گڼو فرهنگیانو او افغانانو له خوا په خپلو شخصي هاند او هڅو گڼ شمېر فرهنگي خدمتونه او کارونه ترسره کېږي. یوازې په پېښور کې دومره گڼ شمېر بېلابېلو پښتو کتابونه چاپېږي، چې په شمېره کې ان هېواد د پخوانیو حکومتونو تر کلنیو چاپي کتابونو زیات دي، له څو کلونو راهیسې چې په هېواد کې دولتي سیستم رنگ شوی، نو شخصي او ځاني فرهنگي تشبثاتو، د دولتي فرهنگي کړنو ځای نیولی  او ورو ورو زموږ هېوادوال له کتاب سره د خپلې مینې او ملگرتیا مزي ټینگوي.

د پیداگوژۍ پوهان عقیده لري چې په یوه ټولنه کې باید د ښوونې او روزنې (فرهنگي) او اقتصادي چارې دواړه سره څنگ په څنگ وده وکړي، ځکه چې  دا یو له بل سره لازم او ملزوم دي. اقتصادي پرمختیا د یوې ټولنې د فرهنگ د ښېرازۍ او فرهنگي وده د یوې ټولنې د اقتصادي پرمختیا او پیاوړتیا لپاره لارې اواروي.

اوس چې زموږ هېواد له ډول ډول ستونزو سره مخامخ دی، نو زموږ هېوادوال باید کومې ستونزې لومړی حل کړي؟ څرنگه چې انسان لومړی فکر کوي او بیا عمل (کړنه)، نو کله چې د فکر خبره منځته راغله، نو دلته د ټولنې د ذهني اعمار مساله رامنځته کېږي او دا هم ځرگنده خبره ده چې ذهني اعمار د فرهنگ په واسطه منځته راځي، ځکه چې فرهنگ د ټولنې مغز دی، که چېرې دا مغز سالم او نورمال وي، ټولنه د خپل ژوند تگلورې په ښه توگه تنظیمولای شي او که چېرې مغز ناروغه وي، نو ټولنیز ژوند له گډوډۍ سره مخامخېږي، نو اوس چې موږ د خپلې دردېدلې، کړېدلې او سوځېدلې ټولنې د بیا رغونې او سوکالۍ په هیله یو، نو لومړی باید ذهني اعمار پیل کړو، کله چې د ټولنې د افرادو ذهنونه رڼا شول نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی کولای شي د همدې ذهني او فکري رڼا په غشو د لوږې، اقتصادي فقر او نورو ستونزو توره بلا وولي او ځان ترې خلاص کړي. دلته بیا هم پوښتنه راولاړېږي، چې ذهني اعمار او فرهنګي کار خو هم لګښت او پیسو ته اړتیا لري، دا پیسې به له کومه شي؟ د دې پوښتنې په ځواب کې باید ووایو، له نېکه مرغه یو شمېر افغانان له اقتصادي پلوه ښه ژوند کوي، دوی باید د خپلې پانګې یوه برخه فرهنګیانو ته د فرهنګي خدمتونو لپاره ورکړي چې هغوی پرې هم خپل ژوند وژغوري او هم فرهنګي خدمتونه ترسره کړي. دهمدې فرهنګي خدمتونو په پایله کې به د ټولنې د وګړیو ذهنونه روښانه شي، خپل دوست او دښمن په ښه کړي، د خپل ژوند تګلوري به په دقیق ډول وپېژني، ټولنیز فکر او هېوادنۍ مینه به یې په زړونو کې په ولولو شي او په پای کې به له ټولو ستونزو څخه مخ سور او بریمن راووزي.

په درنښت

د همداسې یوې هیلې د بري په هیله

اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فرهنگي چارو او اړتياوو په باب څو وړانديزونه

د شل کلنې جگړې په ترڅ کې بېلابېلو بهرنيو او کورنيو لاملونو او بېلابېلو ډلو هر يو په خپل وار سره د افغانستان فرهنگ او معنوي ژوند ته درانه زيانونه واړول.

دملي موزيم بېلابېل يو لک اثار چور شول، سيمه ييز موزيمونه وران شول، په زرگونو ښوونځي ړنگ شول، د لوړو زده کړو په لسگونو مرکزونه وران شول، په لسگونو مليونه ټوکه بېلابېل کتابونه چور او وسېزل شول، د راډيو او ټلويزيون دستگاوې ورانې شوې، هر کلتوري او علمي مرکز ته له يو نه يو لوري زيانونه او خطرونه متوجه شول او د دې ترڅنگ دهېواد نوره کلتوري شتمني چې په فزيکي ډول نه ترسترگو کېږي او يوازې په مانيزه توگه او دوديز ډول لکه د زړونو سپېڅلتيا، ساده ښکلا، ننگ، مېلمه پالنه، مينه، غيرت او داسې نور، زموږ په ټولنه کې موجود وو، هم له جدي گواښ سره مخامخ شول. څومره چې جگړه غځېدله، نو بيا هماغومره اقتصادي ناورين ورو ورو دومره زيات شو، چې د ټولنو د وگړو پر ستوني يې خپسې کېنولې، کله چې پر ۱۳۷۱ل کال د يوې توطيې له مخې د افغانستان دولتي جوړښت ړنگ او په هېواد کې بېلابېلې ډلې پر بېلابېلو سيمو واکمنې شوې، نو د هېواد فني او مسلکي کدرونه په تېره بيا فرهنگيان لاس تر زنې کېناستل، هغو کسانو چې فزيکي کار يې له مسلک سره اړخ لگولای شو، فزيکي خواريو او درنو کارونو او ځينو نورو يې ازاد کار او کسب ته مخه کړه، مسلک او رسمي زده کړه د ډوډۍ دگټلو له وسيلې نه ووتل او هر چا له خپلې تحصيلي څانگې جلا پر يو بل نوي کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس پورې کړ، خو لیکوال، شاعران، قلموال او په یوه مانا فرهنگیان بیا ددې کار هم نه وو، له یوې خوا له اقتصادي ناورین سره مخامخ شول، له بلې خوا یې د هنر دمینه والو او لېوالو ډګر تش کړای شو او ان د هغوی د کلونو زیار او لاسته راوړنې، کلتوري او هنري پانګې ته د بې ارزښتۍ په سترګو وکتل شول. لیکوالو او فرهنگیانو په ټولنه کې د خپل درنښت، حقوقي شخصیت او ثابت نوم په وجه هم نه شو کولای د ژوند د تغذیې یو درېیم یا دویم کار ته لاس واچوي او نه هم له ذهني، رواني او ان فزیکي پلوه د دې جوګه وو چې په دې ناوړه بیړنیو شرایطو کې د ژوند خړوبېدنې یوه بله لار ومومي. په پایله کې د ټولنې د نورو وګړو په انډول د فرهنگیانو ژوند له زیاتو ستونزو سره مخامخ شو، ډول ډول ذهني او رواني ناروغیو یې هم د ذهن رګونه ونیول، بیا داسې وخت راغی چې نه دژوند شول او نه هم د فرهنگي او پوهنیز کار.

کله چې په افغانستان کې دولت رنګ کړای شو، فرهنگي مسوولیت او فرهنگي کار یوازې دملتپالو او فرهنگپالو افغانانو پر غاړه پرېوت. دوی دامکان او خپل وس تر بریده تر هېواد دننه او تر هېواده بهر پر فرهنگي او علمي کړنو لاس پورې کړ، تر یوه حده د دوی هڅو مثبته نتیجه او ثمره ورکړه. اوس تر هېواد بهر یوازې په خپرنۍ برخه کې په لسګونو عنوانه بېلابېلې ازادې خپرونې خپرېږي او هم تر هېواد دننه د واکمنو تر واکمنۍ لاندې یو شمېر خپرونې کېږي. خو دا دواړه حالته په خپل ځای برياوې او نیمګړتیاوې لري. تر هېواد دننه خپرونې یوازې د واکمنو د اند ښکارندویي کوي او یو ټاکلی تګلوری تعقیبوي او د ټولنې د اکثرو وګړو ذهن او ذوق نه شي خړوبولای.

تر هېواده د باندې خپرونو یوه برخه پر ځینو ملي، سیمه ییزو او تنظیمي ناروغیو اخته ده او ځینې یې د سوداګرۍ او یوازې د ډوډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا کولو وسیلې دي، د دې خپرونو بله نیمګړتیا دا ده چې ډېره کمه برخه یې هم د هېواد داخل ته نه رسېږي.

تر هېواده بهر د خپرېدونکو خپرونو په باب د یاد وړ بل ټکی دا دی چې د دې یو زیات شمېر خپرونې د افغان فرهنګپالو په مالي لګښت او زیار خپرېږي، نو داسې هیله کېږي، چې دا خپرونې باید زموږ په ټولنه او کلتوري بهیر کې مثبته اغېزه وکړي. دا خپرونې چې په کوم نېک نیت او هیله خپرېږي، په عمل کې په پوره ډول همدا هیله نه پوره کوي. کله کله د دې ډول خپرونو د مالي تمویلوونکو او فني چلوونکو په نیتونو او اندودونو (د فکر طرزونو) ترمنځ واټن منځته راځي او دا خپرونې یوازې د فني چلوونکو تر انحصار لاندې راځي. ځینې وخت دا چلوونکي د دې پرځای چې زموږ د فرهنګي بهیر، ټولنیز ژوند او فرهنګیانو ورځنۍ ستونزې په پام کې ونیسي او هغو ته ځواب ورکړي. خپله ځاني سلیقه او ستونزمن فرهنګي ژوند او د دې ډول فرهنګیانو ترمنځ د احساس او اند واټن رامنځته کېږي.

ښه خبره به دا وي چې تر هر څه دمخه باید زموږ فرهنګي اړتیاوې او ستونزې په ګوته او د حل لارې یې ولټول شي، لومړی، دویم، درېیم، ضرورت باید وټاکل شي او حل یې له لومړي نه پیل شي.

زموږ د فرهنګیانو ستونزې هم یو ډول نه دي،په کابل کې د فرهنګیانو لویې ستونزې دا دي، چې د ژوند تر پېټي لاندې خپلو فرهنګي کارونو او هڅو ته وده نه شي ورکولای، د لیکوالو ذهني او فزیکي ځواک د ژوند د پایدنې په لاره کې مصروف دی، له اقتصادي ستونزو راپیدا شوي ذهني فشارونه هم د لیکوالو د فرهنګي کار ستر خنډ دی.

په پېښور کې بیا بېل کلتور حاکم دی، دلته زموږ لیکوال که د اوسني کابل په اندول له اقتصادي پلوه تر ډېر فشار لاندې نه دي، خو له ذهني

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلوه پر خپل اقتصادي ژوند ډاډه نه دي. ځینې فرهنګیان کوښښ کوي چې د خپل ورځیني ژوند د خړوب تر څنګه د سبا غمه هم وخوري، نو په دې وجه څو ځایه فرهنګي او نا فرهنګي کارونو ته لاس اچوي. د لیکوالو انرژي او فکري ځواک پر بېلابېلو کارونو وېشل کېږي او د هیلې وړ فرهنګي کار ثمره ترې لاسته نه راځي.

یو زیات شمېر فرهنګیان دلته هم د وزګارتیا په وجه له ډول ډول ستونزو سره مخامخ دي. یو شمېر نور یې له خپل مسلک نه لرې دویم او درېیم ورځیني ګټندوی کار ته لاس اچوي او په دې ډول دخپل ژوند پېټې اوچتوي. یو شمېر نور چې په ځینو موسسو او په پیسو مالامال ادارو کې د کار په پیدا کولو بریالي شوي، د پیسو په مینه کې یې ورو ورو خپل فرهنګي هویت او ارزښت ډوبېږي او د وخت په تېرېدو سره کېدی شي، لیکوال پر سوداګر واوړي.

یو شمېر نور کاري لیکوال د ژوند د مجبوریتونو له کبله د څېړنیز او تخلیقي کار پر ځای د خپرونو پر تخنیکي چارو مصروف دي، چې د دوی اصلي کار ته زیان ورپېښوي. تر ټولو د یاد وړ خبره داده چې په پېښور کې داسې یو نا مطلوب پانګوالي کلتور واکمن او واکمنېږي چې معیار یې له مشروعو او نامشروع لارو د پیسو ګټل دي. هغه ټولنیز کلتور چې په هېواد کې د فرهنګیانو او فرهنګي حلقو تر منځ موجود و، د هغو ډېره برخه دلته په پېښور کې د افغان لیکوالو او فرهنګیانو ترمنځ نه شته او لا د مسخه کېدو په حال کې دی.

یو شمېر افغان لیکوالو او فرهنګیانو چې لویدیځ او ځینې نورو هېوادو ته یې پناه ور وړې، تراوسه پورې یې تر ډېره بریده له خپل هېواد، اولس او کلتور سره خپله مینه او ذهني اړیکي ساتلي، په همدې وجه هلته هم ګڼ شمېر افغاني خپرونې او اثار خپروي. د دوی د مرستو لړۍ ان تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېښوره هم رارسي او دلته پرې ګڼ شمېر فرهنګي او علمي اثار خپرېږي. دا لیکوال او فرهنګیان کېدی شي د ژوند تر پایه له خپل هېواد او کلتور سره خپله دا مینه همداسې ګرمه وساتي، خو د هغو له راتلونکي نسل نه دا هیله کېدی نه شي.

له لویدیځ څخه د فرهنګي کار لپاره د افغانانو رالېږلې مرستې که په دقیق ډول او مناسبه توګه ونه کارول شي نو په دې برخه کې هم ستونزې راولاړېدلای شي، اوس پېښور او غرب کې د مېشتو افغان فرهنګیانو ترمنځ د فرهنګي همکارۍ ښه ګرمه لړۍ روانه ده، خو اوس دا پوښتنه راولاړېږي چې ایا دا فرهنګي هڅې څومره اغېزمنې دي او زموږ په ټولنه کې د فرهنګي خلا د ډکولو جوګه کېدی شي او که نه؟

اساسي خبره داده چې فرهنګي خلا تر هېواد دننه رامنځته شوې ده، باید داسې هڅې تر سره شي چې په یو نه یو ډول دا خلا ډکه شي، ترټولو لومړی باید د هغو فرهنګیانو غم وخوړل شي چې په هېواد کې اوسېږي. فرهنګي کار یې یا کمزوری شوی، یا پر ټپه ولاړ دی او یا هم دمسخه کېدو پر لوري روان دی، هغه اغېز چې یو فرهنګي کار یې زموږ د ټولنې په دننه کې شیندلای شي، د ټولنې د باندې یې نه شي ترسره کولای. دا خبره هم د یاد وړ ده چې که یو فرهنګي کار زموږ د ټولنې لپاره وي، نو باید کوښښ وشي چې زموږ ټولنې ته انتقال شي.

دلته کېدی شي ځینو کسانو ته دا پوښتنه راپیدا شي چې د هېواد په داخل کې خو د واکمنو دسختو او تنګو شرایطو او نورو ستونزو له امله ازاد فرهنګي کار ترسره کېدی نه شي. باید وویل شي چې یو واکمن که هر څومره د لنډ او تنګ فکر خاوند هم وي، بیا هم په څرګند ډول د یو ګټور ټولنیز او فرهنګي کار مخه نه نیسي، بله خبره دا ده چې له همدې واکمنو سره په دې اړه غږېدل او د هغوی قانع کول په خپله یو فرهنګي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار دی. که چېرې تر هېواده د باندې افغان فرهنگپال، فرهنگیال او ملي سوداگر هغه گټور علمي او کلتوري فعالیتونه چې تر هېواده د باندې یې پیل کړي، په یوه نه یو ډول د هېواد داخل ته ولېږدوي، نو گټه به یې تر اوسني حالته څو ځله زیاته شي. یو خو به یو شمېر فرهنگیانو ته چې اوس هلته له وزگارتیا او ستونزو سره مخامخ دي، یوه فرهنگي بوختیا پیداشي. له هېواده به د نورو فرهنگیانو د راوتلو او لېږد مخه ونیول شي، د افغانانو پانگه به بېرته د افغانستان غېږې ته ورشي. په دواړو خواوو کې به زموږ هېواد گټه وکړي؛ هم به زموږ ټولنې ته کتاب وړاندې شي او هم به یې لگښت بېرته زموږ هېواد ته پاتې شي.

اوس چې په پاکستان او نورو ځایونو کې څه خپرونې کېږي، نو له مالي گټې سره سره یې لگښت ټول د پاکستان او نورو هېوادو لمن ته لوېږي. کله چې یوازې کتاب موږ ته راپاتې شي نو بیا مجبور یو چې یوه برخه یې هېواد ته ولېږدوو، دهغو د پوست لگښت هم د همدې هېواد په گټه پرېوزي او نورې ستونزې خو یې لا پرېږده.

تر هېواده د باندې د افغانانو له خوا چاپېدونکې خپرونې او اثار که له یوې خوا د ورځیني چاپ په گاڼه ښکلي شوي، نوله بلې خوا باید د خپل لوستونکي او ملت دژوند اقتصادي کچه هم په پام کې ونیسي. که یو اثر ډېر مانیز ارزښت هم ولري، خو چې د اقتصادي ستونزو په وجه یې لوستونکی د اخیستو وس ونه لري، نو بیا یې هم چاپ ډېر گټور نه پرېوزي. په تېرو دوو لسیزو کې زموږ په هېواد کې تر شل ملیونو ټوکو، زیات کتابونه له منځه وړل شوي دي، نو اوس د کتابونو د زیات شمېر چاپ ته اړتیا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته باید دلومړۍ درجې کاغذ پرځای، دویمه درجه او درېیمه درجه کاغذ څخه کار واخیستل شي، چې د یو پرځای دوه ټوکه کتابونه چاپ شي او د یو تن پرځای دوو تنو ته ورسېږي.

په پای کې یو ځل بیا وایو چې موږ باید خپلې فرهنګي اړتیاوې تشخیص او د ضرورت په انډول دهغو د حل لپاره په مینه او ولوله، اند او ځواک هلې ځلې وکړو.

د همدې ارمان د پلي کېدو په هیله

د هیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هیله یو کلنه شوه

د ۱۳۷۵ کال په بهیر کې د هیلې مجلې د چاپ او خپراوي لپاره د ځو تنو پښتنو لیکوالو له خوا هلې ځلې پیل شوې، ددې هلو ځلو مقصد دا و چې په پښتو ژبه یوه داسې خپلواکه، ناپېیلې، فرهنګي او ټولنیزه مجله چاپ شي، چې هغه په رښتیا سره هم خپلواکه او ناپېیلې وي، په پای کې دا هلې ځلې یوې مثمرې پایلې (نتیجې) ته ورسېدې او د ۱۳۷٦ل کال د (وري-غويي) پر میاشت، د هیلې مجلې لومړنۍ ګڼه چاپ شوه، له هغه راهیسې شپږ ګڼې چاپ شوي چې په ټولیز ډول یې د هېواد د لیکوالو تر دوه سوو عنوانونو زیات ډول ډول لیکنې او شعرونه خپاره کړي دي.

هیله د یو کال په بهیر کې ښه وځلېده، ډېر لوستونکي یې پیدا کړل او ډېر مینه وال، ډېرو لیکوالو له هیلې مجلې سره له کوم مادي امتیاز پرته همکاري وکړه او د نورې ملګرتیا ډاډ یې څرګند کړ. یو شمېر کسانو له بهر او یو شمېر نورو په پېښور او نورو سیمو کې په مجله کې کلنی ګډون وکړ.

هیلې مجلې له خپلو بریاوو سره سره نمیګړتیاوې هم لرلې او انتقادونه هم پرې راخواره وو. د انتقادونو زیاته برخه د مجلې فني، مسلکي او علمي چارو ته متوجه نه وه، بلکې اکثرو یې ژبني تومنه لرله او د دې ډول انتقاد کوونکو نیوکه همدا وه چې تاسو ولې دا مجله ټوله په پښتو چاپوئ! دا انتقادونه یوازې د انتقاد او نیوکې تر پولې نه پاتې کېدل، بلکې د دښمنۍ، کینې او تعصب تر بریده هم رسېدل،ددې ډول انتقادونو په مقابل لوري کې بیا ډېرې ستاینې او مننې هم رارسېدلې، هغوی پر همدې خبره ټینګار کاوه، چې ټوله مجله باید پښتو وي او همدا مجله ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د زړه باد ایستلای او د زړونو غوټې مو اوارولای شي، دوی دا خبره هم کوله چې خپلې ژبې ته خدمت کول او د خپل فرهنګ پالنه د نورو د فرهنګ د دښمنۍ مانا نه لري. هر څوک حق لري چې خپل فرهنګ ته په خپله کار وکړي، په داسې حال کې چې زموږ ژبه او فرهنګ دې ډېر زړه سوي، لاس نیوي او خدمت ته اړتیا ولري او موږ دې د نورو د ژبې او فرهنګ په چوپړ لګیا یو، دا نه یوازې خپل فرهنګ سره بې پروایي ده، بلکې له هغه سره لوی خیانت هم دی. خدای پاک پښتانه لیکوال د پښتو او پښتني فرهنګ د خدمت لپاره خلق کړي  او همدارنګه د نورو ژبو فرهنګیان د خپلو ژبو لپاره، خو څوک که ددې وس لري چې د خپلې ژبې تر څنګ د نورو فرهنګي بار هم اوچت کړي نو دا د هغه په نړۍ لید او ځواک پورې اړه لري، خو موږ نه غواړو ې زموږ د لیکوالو په ځواک او انرژۍ دې د نورو فرهنګ وپړسېږي او بیا دې زموږ ژبه او فرهنګ تر ستوني تېر کړي. هیلې مجلې د همدغسې متضادو نظرونو په کړلېچونو کې خپله لاره پرانیستله او هغه څه چې وړ وو هغه یې په خپلو پاڼو کې ځای کړل. د ژورنالیستیکو او علمي معیارونو په اړه یې د لوستونکو نظریې او وړاندیزونه په ځیرتیا سره وڅېړل او د امکان تر حده یې عملي کړل او هغه نظرونه او انتقادونه چې د ځانګړې کینې او تعصب له مورچله راګوزار شوي وو، پر هغوی یې غټه تیره کښوده.

د اداري پرسونل د ډېر کم حد په پام کې نیولو سره موږ پر دې بریالي نه شولو چې د مجلې ټولو مینوالو او لېوالو ته مجله پر ټاکلي وخت ورسوو، خو بیا هم اداره تر یوه بریده په دې برخه کې بریمنه وه، موږ هیله لرله چې په بهر کې  به د ځینو افغانانو د ګډون له لارې د مجلې د مالي ستونزو زیاته برخه حل کړو، خو تراوسه پورې کم شمېر کسانو په مجله کې ګډون کړی، سره له دې چې د تېر یو کال په بهیر کې د مجلې ټول لګښت د هېواد ځوان نوښتګر شاعر عبدالمالک بېکسیار له خوا ورکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی او اوس یې هم خپل ډاډلیک رالېږلی او پکې لیکلي یې دي ((که نور هېڅوک هم له مجلې سره مالي مرسته ونه کړي نو زه خو درته لکه غر هسې ولاړ یم)).

د ښاغلي بېکسیار دا خوشال خانی هوډ د قدر وړ دی، خو ښه به دا وي چې په لویدیځ کې زموږ فرهنگیان هم د ده په شان هوډ وکړي او یا د ده مټ پیاوړی کړي.

د هیلې مجلې اداره غواړي تر وروستي بریده له ټولو مشکلاتو سره مقابله وکړي او مجله د ۱۳۷٦ کال په شان او ان تر دې لا هم ښه لوستونکو ته وړاندې کړي. خدای(ج) دې وکړي، چې د مشکلاتو بېلابېل ډولونه زموږ قلمونو، هڅو او هیلو ته زندۍ وا نه چوي تر څو زموږ هیله ناهیلې نه شي او گران لوستونکي او غمځپلي هېوادوال له خپلې کوچنۍ، خو له هیلو ډکې ((هیلې)) بې برخې نه شي.

په پای کې له ټولو هغو درنو لیکوالو، شاعرانو او پوهانو نه د زړه له کومې مننه کوو، چې په تېر یوه کال کې یې له هېڅ ډول امتیاز پرته د هیلې مجلې ادارې ته خپلې لیکنې، شعرونه او رغوونکې نظریې او وړاندیزونه رالېږلي دي.

کور مو ودان او هیلې مو له هیلو ډکې اوسه

په درناوي

اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فرهنگي چارو سمون او ملگرتیا ته اړتیا ده

که له یوې خوا زموږ د هېواد کلتور  په تېرو شلو کلونو کې له سترو ناورینونو سره مخامخ شوی او گڼ شمېر فرهنگي بنسټونه او مرکزونه له منځه وړل شوي دي،نو له بلې خوا زموږ د هېواد لیکوال، شاعران، قلموال او په ټولیزه مانا فرهنگیان هم غلي او ارام ناست نه دي. دوی د خپل وس تر بریده خپلو فرهنگي هڅو ته دوام ورکړی، په ډېر زړه چاودون و زیارېې علمي اوفرهنگي هڅې سرته رسولي دي، دا فرهنگي هڅې په هېواد کې هم ترسره شوي او تر هېواده بهر هم.

تر ۱۳۷۱ل کاله پورې چې په افغانستان کې ښارونه او په تېره لوی ښارونه او د دولت فزیکي جوړښت اوساختمان څه ناڅه روغ وو، نو یو لړ علمي او کلتوري کارونه هم تر سره کېدل، داچې له فکري پلوه واکمنو کومه ایډیالوژي تعقیبوله اود هغو لپاره یې له څه ډول دولتي امکاناتو نه گټه پورته کوله، دا یو بېل بحث دی، خو د دولت د چوکاټ د سلامتیا له کبله ډېرو زیاتو فرهنگي مرکزونو چې له سیاست سره یې تړاو نه درلود او یوه اندازه ناتنظیمي فرهنگي کارونه په پېښور کې هم په نسبي توگه په عادي ډول تر سره کېدل.

کله چې د ۱۳۷۱ل کال په لومړیو کې د گاونډیو هېوادونو په مرسته د افغانانو د کلونو کلونو حکومتي رغښت او بنسټونه ونړول شول، نو هر څه یو پناه شول، له هېواد نه د علمي کدرونو د وتلو لړۍ نوره هم گړندۍ او زیاته شوه.

څرنگه چې دولتي دستگاه سخته زیانمنه شوه، نو یو شمېر فرهنگیانو په خپلو شخصي تشبثاتو او هلو ځلو د فرهنگي کارونو ترسره کولوته ملا وتړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هڅې د دولت په اندول هېڅ د یادونې او پرتلې وړ نه دي، خو بیا هم د دوی د ځاني احساس او نیکو هلو ځلو ښکارندویې کوي.

یو شمېر نورو لیکوالو، فرهنګیانو او فرهنګپالو تر هېواده د باندې فرهنګي هڅې پیل کړې، دا فرهنګي هڅې تر یوه حده بریمنې وې، اوس ګڼ شمېر اخبارونه، مجلې او بېلابېل کتابونه چاپېږي، پېښور اوس د یو فرهنګي جهاد مرکز دی، هغه اخبارونه او مجلې چې تر هېواده دباندې خپرېږي، د هغوی شکلي جوړښت او کچه ښکلې وي، خو د ځینو لیکنو کمی په کې احساسېږي، په ځانګړي ډول د هېواد د ورځني ژوند د پېښو، فرهنګي فعالیتونو او د خلکو د ټولنیز ژوند د کړاوونو په باب ډېر زیات مطالب نه لري، د دې وجه داده چې هغوی ته په ډېرې سختۍ سره د هېواد دننه پېښو په اړه د لومړي لاس لیکنې ورسېږي.

د دې خپرونو بله ستونزه داده چې ډېر کم شمېر یې د هېواد داخل ته رسېږي، د هېواد داخل کې چې کومې خپرونې کېږي هغه هم بهر کې د ګوتو په شمېر افغانانو ته ور رسېږي، نو په دې وجه د یو بل له خپرونو او د هغو له محتویاتو څخه پوره نه خبرېږي، تر هېواده بهر چې کومې خپرونې کېږي، د هغو یوه بله ستونزه داده چې ځینې یې تکراري لیکنې خپروي، ددې تر څنګ بیابهر کې د خپرېدونکو افغاني خپرونو یوه لویه ښېګڼه دا ده چې دوی د نورې نړۍ نوی ژوند او نوې تخنیکپوهنې په اړه په زړه پورې لیکنې خپروي، چې تر اوسه د هېواد کورنۍ خپرونې ترې بې برخې دي. همدغه ستونزې او ځینې نور عوامل د دې غوښتنه کوي چې ټول افغان فرهنګیان باید خپلو فرهنګي چارو ته سمون ورکړي، دا کار د یوې فرهنګي ملګرتیا له لارې ترسره کېدی شي، داسې چې څو تنه فرهنګیان دا دنده پر غاړه واخلي چې د افغاني خپرونو د یو رنګۍ او سمون لپاره کار وکړي او نور فرهنګیان باید له دوی سره مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې کسانو دنده به دا وي چې دوی په هېواد کې دننه لیکوالو او فرهنگیانو هغه لیکنې چې د هېواد داخل کې یې د چاپ او خپراوي امکان نه وي، تر هېواد بهر خپرونو ته ورسوي او هغه لیکنې چې د نوې تخنیکپوهنې او متمدنې نړۍ د ژوند او تجربو په اړه لیکل کېږي او ځینې وخت په تکراري ډول خپرېږي، هغه دې د هېواد کورنیو خپرونو ته چې تر اوسه لا دا ډول مطالب نه لري، ورکړي، همدا راز د ژوند په نورو ډگرونو کې دې د هېواد مېشتو فرهنگیانو او په بهر کې مېشتو افغان فرهنگیانو تر منځ اړیکي ټینگ شي، چې د یو بل له ستونزو خبر شي، یو بل سره قلمي او فرهنگي همکاري وکړي او په پای کې ټولې افغاني خپرونې پر داسې لیکې روانې شي، چې هغه د هېواد د ملي واکمنۍ او ملي یو والي د ټینگښت، د اولس د ذهني کچې د اوچتیا او د خلکو د سوکالۍ په یوې اغېزمنې وسیلې بدلې شي.

د همداسې یوې فرهنگي ملگرتیا په هیله

په درنښت

اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زموږ د ازادو خپرونو ستونزې

په هره ټولنه کې ازادې خپرونې د ژوند د یو لړ مهمو اړتیاوو د پوره کولو لپاره رامنځته کېږي. د ولس په ذهني، کلتوري، اقتصادي او د ژوند د نورو برخو په لوړتیا او پرمختیا کې برخه اخلي. هغه ټولنې چې پرمختللې دي او د لوستوالو شمېر یې زیات دی په هغو کې په ټولیز ډول ټول مطبوعات او په ځانګړي ډول خپلواک مطبوعات د خلکو په ذهني پیوستون کې ستره برخه لري. دا خپرونې د خپل لګښت د دوراني حرکت په نتیجه کې نه یوازې دا چې خپل ژوند تضمینوي، بلکې ډېرې مالي ګټې هم ترلاسه کوي. د امریکا متحده ایالاتونه به د بېلګې په توګه یاد کړو. اوس په دې هېواد کې په هره میاشت کې ((یوولس زره عنوانه)) بېلابېلې دولتي او خپلواکې خپرونې خپرېږي، چې دهرې یوې مهالنۍ تېراژ ملیونونو ټوکو ته رسېږي او همدارنګه په سلګونو خپلواک تلویزیوني چینلونه پر خپرونو بوخت دي.

یوه ورځپاڼه به په پام کې ونیسو چې هره ورځ یې په ملیونو ګڼې چاپېږي، که په هره ګڼه کې لږ تر لږه پینځه ویشت سېنټه ګټه وکړي، هغه ورځپاڼه چې هره ورځ د دوو ملیونو په تیراژ چاپېږي نو ورځنۍ ګټه به یې پینځه لکه امریکایي ډالره شي او هغه بې شمېره پیسې چې دوی په هره ګڼه کې له ګڼو اعلانونو څخه ترلاسه کوي، هغه خو لاپرځای پرېږده. د دې وجه داده چې هلته اکثره خلک اخبار لولي او د ژوند یو نه یو ضرورت یې په ورځپاڼې او یا خپرونې پورې تړلی وي. پانګوال، صنعتکاران او سوداګر اخبار د خپلو اقتصادي معاملو او ګټې د تبلیغ لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه وسیله ګڼي. هغه کسان چې په دې خپرونو کې کار کوي هغوی نه یوازې دا چې کولای شي له دې لارې خپل ورځینی ژوند ښه خړوب کړي، بلکې له فکري پلوه هم خپلواک او هڅاند پاتې کېدی شي، خو په وروسته پاتې ټولنو کې بیا داسې نه ده؛ په وروسته پاتې ټولنو کې د ژوند اکثره کارونه وروسته پاتې وي. په داسې ټولنو کې خپرونې او ډله ییز ارتباطي وسایل اکثره د واکمنو تر واک لاندې وي او د هغو خپلواکي، د خپل واک د کاواکه کولو په لاره کې یو مهم فکتور ګڼي، نو تر خپله وسه کوښښ کوي چې خپرونې په خپل واک کې وساتي.

په دې کار او چار کې یوازې واکمن ملامت نه دي، هغه ټولنه چې نالوستې وي په هغه کې خپله مطبوعات هم څه دروند اغېز نه شي ښندلای؛ نالوسته شخص ته اخبار یا مجله ورکول، کټو ته د ډول وهلو مثال لري. وروسته پاتې ټولنې د لوستوالو د کمښت تر څنګ پر اقتصادي ستونزو هم اخته وي. د دوی لومړی اړتیا دا وي چې څنګه د ژوند د اړتیا وړ لومړني مواد لاسته راوړي، چې ژوندي پاتې شي. د ژوند د دویم، دریم او څلورم ضرورت د پوره کولو لپاره ورته ډېره لار پاتې وي. له همدې کبله په داسې ټولنو کې خپرونې ښه وده نه شي کولای. هغه خپرونې چې د واکمنو په لاس کې وي، لګښت یې د حکومت له خوا ورکول کېږي، پرته له دې چې خلک یې لولي او که نه؟ پیسې پرې ورکوي او که نه؟ خپل لګښت بېرته ترلاسه کوي او که نه؟ واکمن مجبور دي چې د خپلو هیلو د پوره کولو لپاره د هغو لګښت ورکړي، په دې منځ کې که یوې نیمې خپلواکې خپرونې ته هم اجازه ورکړي، نو هغه به هم د واکمنو مالي مرستې ته اړه وي، ځکه چې دا خپرونې د خرڅلاو له لارې خپل شوی لګښت نه پوره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ په ټولنه کې هم مطبوعات پر همدې رنځ اخته دي. لومړی دا چې د ټولنې ډېره زیاته برخه نالوستې ده، دویم دا چې څوک دولتي خپرونې چندانې نه لولي او په ازادو خپرونو پیسې نه ورکوي او یا یې نه شي ورکولای، نو ځکه دلته مطبوعات له سخت خنډ سره مخ دي.

اوس اوس تر هېواده بهر د یو شمېر اشخاصو او فرهنګیانو په مرسته یو شمېر خپلواکې مهالنۍ مجلې او اخبارونه چاپېږي، خو یو یې هم د خرڅلاو له لارې بېرته خپل لګښت نه شي پوره کولای. اکثره دا خپرونې په وړیا ډول وېشل کېږي او د خرڅلاو بازار یې نه یوازې دا چې ډېر سوړ دی، بلکې اصلاً بېخي نه شته.

دا خپرونې که څه هم د چاپ تېراژ یې کم وي، خو دا چې لګښت یې د یو او یا هم دوو دریو تنو له خوا ورکول کېږي، نو پر تمویلوونکو باندې ډېر دروند مالي بار پرېوزي او نه شي کولای تر پایه پورې په یوازې ځان دومره مالي بار وزغمي.

((هیله)) مجله هم یوه له هغو ازادو خپرونو څخه ده، چې ټول لګښت یې تراوسه پورې د یو شخص ( د هېواد تکړه لیکوال او شاعر عبدالمالک بېکسیار) له خوا ورکول کېږي او تراوسه پورې د هغه د لاس په خولو چلېږي.

((هیله)) (۵۰۰) ګڼې چاپېږي چې یو شمېر یې کابل، جلال اباد، پېښور کې وېشل کېږي، یو شمېر یې بهر ته لېږل کېږي او یو شمېر یې خرڅلاو ته وړاندې کېږي.

څرنګه چې د ((هیلې)) مجلې اصلي او اساسي موخه خپل افغاني فرهنګ ته خدمت کول دي او غواړي په دې وسیله د خپل فرهنګ د ژوندي ساتلو لپاره هېوادوالو ته لږ تر لږه یو فکر شانې ورکړي، نو که په هېواد کې وړیا وېشل کېږي، دا کار د یو ضرورت له مخې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه کسان چې تر هېواده د باندې اوسېږي او اقتصادي وس لري، له هغو څخه موږ ډېره هیله لرو، چې له مجلې سره به مالي مرسته وکړي، خو تراوسه پورې یوازې څو تنو په هیله کې کلنی ګډون کړی دی. اوس له هرځایه د مجلې د ستاینې په باب ګڼ شمېر لیکونه راځي، خو د هغه چا چې مالي وس رسېږي، تر اوسه یې دمجلې د ادارې مالي لاسنیوی نه دی کړی، نو په همدې وجه مجله له مالي ستونزو سره مخ ده او دا خبره هم مشکله ده چې د یوې مجلې ټول لګښت دې تر پایه پورې د یو شخص پر غاړه وي.**

**له هغو کسانو څخه چې مالي پانګه لري، دا هیله لرو چې پر خپل فرهنګ زړه وسېزي او د خپل فرهنګ د غوړېدنې لپاره د هیلې مجلې مالي ستونزې غوځې کړي او که نه ددې وېره شته چې ((هیله)) نهیلې شي.**

**د هېواد د ړنګ شوي او سېزل شوي**
**فرهنګ د رغونې او غوړېدنې په هیله**
**دهیلې اداره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هېواد ملي يووالی او د فرهنگيانو نوې هيلې

په تېرو څو مياشتو کې په هېواد کې سياسي او پوځي بدلونونو دا په ډاگه کړه چې افغانستان يو نه تجزيه کېدونکی هېواد دی او هېڅکله به هم د دې هېواد بهرني او کورني دښمنان پر دې بريالي نه شي، چې تجزيه غوښتونکي خوبونه او پلانونه عملي کړي.

هغوی چې پرون د ځينو نورو په لمسه په هېواد کې د تجزيې د لومړي گام په توگه د فدرېشن يا فدراليزم شعارونه پورته کول، نن يې هيلې شعارونه او پلانونه تر خاورو لاندې شول او پردي ملاتړي يې هم په شرمونو وشرمېدل او لا شرمېږي.

دا څرگنده خبره ده چې له ځينو پلورل شويو افغانانو پرته نور ټول افغانان له خپل هېواد سره دومره مينه لري، چې د نړۍ په ټول تاريخ کې به يې بېلگه کمه پيدا شي. افغانانو په خپلو بې ساري قربانيو او اتلوليو سره د نړۍ په سياسي او ملي پېښليک کې يو بې مثاله ريکارډ ټينگ کړی دی. هر وخت چې زموږ هېواد له کوم کورني ناورين او بهرني ناتار سره مخامخ شوی، نو د فرهنگيانو او قلم د خاوندانو ذهنونه او زړونه يې تر ټولو زيات متاثر کړي دي. دوی خپل درد او احساس د قلم په روح کې پو کړی. د خلکو ولولې يې راپارولي او په پايله کې يې ټول ولس د يو ستر فکري، ذهني، فزيکي او ولوليز ځواک په توگه د دښمن د مقابلې جوگه کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د تېرو شلو کلونو په لومړۍ لسیزه کې چې هېواد نېغ په نېغه د سره استعمار له یرغل، ښکېلاک او ناورین سره مخ و، نو د هېواد د فرهنگیانو له ژړونو څه، چې له قلمونو څخه هم وینې څڅېدلې، کله چې سره ښکېلاک زبردسته ماتې وخوړه او بیا د پاڼې بڼه بدله شوه، نو ظاهراً خو داسې برېښېده چې موخه ترلاسه شوې، خو دا لا ډېرو ته څرگنده نه وه چې ((لوبه)) ختمه نه ده، بیا د دې ((لویې لوبې)) بل پړاو پیل شو. په دې پړاو کې د هېواد اکثره هغه مادي او مانیزه شتمني چې تر دې دمه له تېرو ناتارونو څخه خوندي وه، هم تباه کړای شوه. سربېره پر دې داسې ډلې او ډلگۍ هم د سیاست ډگر ته راووتلې، چې په ښکاره او څرگند ډول یې افغانستان ضد او افغان ضد شعارونه ورکول او د پردیپالنې په لباس پوښل شوي وو. دې ډلو ته دومره ځواک او حرکت ورکړای شو چې هره یوه د هېواد ملي رغښت د ویجاړتیا او بربادۍ لپاره په ښکاره او پټه خپل پلانونه د عمل ډگر ته وړاندې کول. دوی په بهر کې هم زیات بهرني ملاتړي درلودل، په ځانگړي ډول ځینو هغو هېوادونو چې د زمانې په اوږدوکې یې یو وخت له افغانانو څخه ماتې خوړلې وه. له رواني پلوه په هغو کې یو شمېر داسې واکمنې کړۍ او انفرادي اشخاص وو چې د افغانستان له ورانۍ او د کابل له ړنگېدو نه یې خوند اخیسته او له روحي پلوه یې د خپلو هېوادونو د تېرې ماتې د تداعۍ جبران کاوه. دلته به له دې هېوادونو څخه د یوه هېواد بېلگه راوړو. یو افغان قلموال په لندن کې استوگن دی او په یوه داسې اداره کې کار کوي چې هلته ډېر قلموال انگرېزان چې خپل تاریخ او د افغانانو پېښلیک ورته ښه معلوم دی، هم کار کوي، په دې اداره کې داسې یو انگرېز هم کار کوي چې له افغانانو سره خپله ځانگړې کینه ساتي، دا افغان وایي: ((کله چې به په کابل کې خونړي جنگونه ونښتل او په سلگونو افغانان به په وینو لیت پیت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شول او دنگې ماڼۍ به ړنگې شوې او د انگرېزانو د خوښې تنظیم به د ښار په منځ یا څنډه کې کومه ویجاړه ودانۍ ونیوله، نو کله چې به دی (انگرېز) ماته مخامخ شو، نو موسکی به شو، که پر هغې ورځ به د ده له ماسره هېڅ کار هم نه و، نو ده به ضرور یو ځل له ما سره ځان مخامخوه، چې د کابل د ویجاړتیا او د افغانانو په وینو رنگ ژوند تصویر زما ذهن ته انتقال کړي، خپل ځان پرې خوشاله او ما پرې غمجن کړي، په دې منځ کې چې به چا اویا کومې ډلې د هېواد د تجزیې خبره وکړه، نو پر هغه به ډېره ښه ولگېده او بیا به یې په ټوله اداره کې هغه نوره پسې هم غټه کړه. دغه انگرېز د افغانستان دملي یووالي ضد ډلو ټپلو سره دومره مینه، لېوالتیا او اړیکي درلودل چې ان د هغو د ځینو مشرانو عکسونه هم ورسره وو او یو یې لا د خپل کار په خونه کې ځوړند کړی هم و. انگرېز به په هغه خبره ډېر خوښېده چې چا به د افغانستان دتجزیې خبره مطرح کړه. دې انگرېز ته کېدلای شي د خپل نیکه ((ډیورنډ)) هغه عمل په زړه کې گرځېدلی وي چې د لوی افغانستان واحد وجود یې پر دوو برخو ووېشه او زموږ ستر هېواد یې د اوږدې مودې له رنځونو سره مخامخ کړ، دا هم کېدی شي چې د دې ډول انگرېزانو ډېر زیات مقصدونه وي، خو ماته داسې ښکارېدله چې هر کله به دا انگرېز ماته زموږ په هېواد کې د وینو او اوښکو د رودونو د بهېدو له کبله موسکی شو، نو ماته به داسې ښکاره شوه چې دی له ما څخه د میوند، ټل او د کابل-جلال اباد په لویه لار کې د انگرېزي لښکرو د ماتې غچ اخلي، ده ته کېدی شي خپل ((مکناټن)) ور په یادېده، خو ما ته خپل ((اکبرخان)) په ذهن کې گرځېده، ده کېدی شي د خپلې ماتې مایوسه سندره زمزمه کوله، خو ماته د خپلې ((ملالۍ) ټپه رایادېده، خو زما د دې ټولو رواني لاسبریو سره سره بیاهم پرما د خواشینۍ څپې خورېدلې او د انگرېز په څېره کې د خوښۍ رڼا ځلېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو وخت بيا داسې راغی چې په کابل کې د شوکمارو، غلو او ملت ضد ډلو ټپلو ټغر ټول شو او دا خبر د نړۍ اکثرو خپرونو خپور کړ، خو دا ځل د انګرېز پرځای زما وار و، سهار چې کله دفتر ته لاړم، نو لومړی هڅه مې دا وه چې انګرېز ته دا خبر ورکړم او خپل غچ ور څخه واخلم، تصادفاً انګرېز په دهليز کې مخې ته راغی، خو نن يې په تندي کې موسکا نه وه، د پرېشانۍ يو ګرد پرې خور و، دواړه سره مخامخ شوو، پرته له دې چې خبرې سره وکړو، څو شېبې مو يو بل ته وکتل، د تورو او شنو سترګو ترمنځ يو سخت رواني جنګ پيل شو، څو شېبې لا تېرې نه وې چې انګرېز سترګې ټيټې کړې او زما له څنګه تېر شو. انګرېزان ډېر مغرور خلک دي، دا زما لپاره لومړی ځل و چې يو انګرېز په خپل وطن کې د يو افغان سترګو ته ونه شو کتلای. کله چې انګرېز سترګې ټيټې کړې، نو زما پر شونډو د موسکا يوه څپه راغله. د انګرېز له څېرې نه ما ته دهغه د زړه حالات څرګندېدل، ما د هغو لمبو او وينو رواني غچ له انګرېز نه واخيست، چې هره ورځ به يې ماته د يو پېغور په بڼه مطرح کاوه.))

درنو لوستونکو! دا د يو افغان او انګرېز د رواني، ذهني او پټ جنګ هغه تصوير و چې دلته يې څرګندونه وشوه. حقيقت دادی چې ربنتيني افغانان چې په هر ځای کې وي، له خپل هېواد سره مينه لري او د هېواد دښمنان که د هېواد په داخل کې وي او که په بهر کې، د هېواد د ورانۍ هڅې کوي، خو دا څرګنده ده چې لوی خدای(ج) تل حق پر باطل بريالی کړی. د بهرنيو او کورنيو دښمنانو هغه هڅې چې له دوه لسيزو راهيسې يې د هېواد د تجزيې او ورانۍ لپاره تر سره کولې دادی اوس د له منځه تګ په حالت کې دي، د هېواد ملي يووالی د شمال او جنوب، ختيځ او لويديځ دچغو او نارو سورو پورته کول نورې په ختمېدو دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترشلو کلونو وروسته دادی یو ځل بیا د یو واحد، سرلوړي او غښتلي افغانستان د رازرغونېدو زېری ترسترگو کېږي.

کله چې زموږ د ټولو افغانانو دا ستر ارمان (د واحد او غښتلي افغانستان دجوړېدو هیله) پوره کېږي، نو ددې ترڅنگ دهمدې ارمان د ساتنې، پالنې او ځلونې لپاره زموږ په زړونو کې نوې هیلې هم راټوکېږي. په دې هیلو کې یوه هم د فرهنگي کار ترسره کول او د هېواد سمسورول دي.

اوس چې د هېواد ملي یووالی د ټینگېدو په حال کی دی او افغانستان ته د یو نورمال او سوکاله ژوند د رارسېدو هیلې راټوکېږي، نو ورسره جوخت زموږ د فرهنگیانو په زړونو کې هم نوې فرهنگي هیلې غوړېږي. په فرهنگي هیلو کې دفرهنگي کار د څرنگوالي مسئله ډېره د غور وړ ده. په هېواد کې د بشپړې سولې په ټینگښت سره تر هرڅه لومړی د کلتوري کار پیل ته زیاته اړتیا لیدل کېږي، ځکه چې په ټولنه کې تر فزیکي اعمار څخه دمخه ذهني اعمار ته زیاته اړتیا احساسېږي. که چېرې ټولنه له علمي او فرهنگي پلوه شتمنه شي، نو د خپل هېواد زېرمې او ناڅرگندې ملي شتمنۍ په ښه توگه پر کار اچولی شي او د ټولنې د سوکالۍ لپاره لاره برابرېږي. تر هر څه دمخه د ټول هېواد لپاره یو ټاکلي تعلیمي او تحصیلي نصاب ته اړتیا ده. دا نصاب باید په ملي او اسلامي روحیې اعیار شي، چې زموږ ځوان پښت په همدې روحیه وروزل شي، که چېرې د هېواد واکمن، د وخت عصري او ضروري پوهنو ته پام ونه کړي، نو بیا خو به د هر لرې او نږدې هېواد گواښونو ته بې ځوابه پاتې وي او د هېواد دفاع او ساتنه به په ډېرو زیاتو قربانیو تمامېږي.

د تعلیمي او تحصیلي نصاب ترڅنگ لازمه ده، چې د ټول هېواد په کچه د خپرونو د سیستم بیارغونې او پرمختگ ته پام وشي، دغه راز که ازادو خپرونو ته اجازه ورکړای شي، نو ډېره به ښه شي، خو که بیاهم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوس وخت کې ازادو خپرونو ته د ځينو ((کتنو)) له کبله اجازه نه ورکول کېږي، نو لږ تر لږه خو دې د دولتي خپرونو ساحه او امکانات پراخ شي او هم دې د ډېرو هغو ليکنو د خپرونو جوګه شي، چې د هېواد، ملي او اسلامي ګټو پرضد نه دي خو اصلاحي او انتقادي بڼه لري او د ټولنيزو، سياسي او حقوقي ربړو په باب ليکل کېږي. د ټول هېواد مطبوعات بايد د څو تنو تر ذهني او فکري سانسور لاندې نه وي، د مطبوعاتو معيار بايد ملي او اسلامي ګټې وې، نه د اشخاصو د سليقه يي، ذوقي او ذهني غوښتنو انعکاس. که چېرې د هېواد دولتي خپرونې د دې جوګه شي چې د ټول ولس ټولنيزې، سياسي او حقوقي غوښتنې انعکاس کړي، نو ازادو خپرونو ته بېخي اړتيا نه پيداکېږي. که په دولتي خپرونو کې ازاده ساه وچلېږي، په شمېر کې يې زياتون راشي او همدارنګه مطبوعات ټاکلی مادي ملاتړ او ګټه ترلاسه کړي، نو يو زيات شمېر ليکوال به په خپلو ليکو کې تنظيم کړي؛ د هغو د ژوند چارې به هم له همدې لارې خړوبې شي. دولت بايد دمطبوعاتو عصري کولو او د نويو چاپخونو جوړولو ته جدي پاملرنه وکړي، د هېواد په داخل کې دې د علمي، ادبي، او نورو مسلکي اثارو چاپ ته ژور پام واړوي، که دولت په ځينو برخو کې پوره مالي امکانات نه لري، نو هغه اشخاص چې غواړي په خپل لګښت ادبي او علمي اثار چاپ کړي، دولت بايد نه يوازې دا چې هېڅ بنديز پرې ونه لګوي، بلکې لازمه مرسته هم بايد ورسره وکړي، هغوی وهڅوي چې خپل اثار د هېواد په داخل کې چاپ کړي، اوس په پېښور او ځينو نورو ښارونو کې د افغانانو له خوا ډېر زيات اثار چاپېږي او په ميليونو کلدارې پرې مصرفېږي، نو که چېرې دا کتابونه په هېواد کې چاپ شي دا ټولې پيسې به بېرته افغانستان ته پاتې شي او هم به زموږ ولس ته کتابونه ورسېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرنګه چې لیکوال دخپل هېواد د برخلیک په اړه ډېر حساس دی، نو کله چې یې هېواد د ښېرازۍ پر لوري ګام پورته کړي، نو د دوی زړونه باغ باغ شي، لازمه ده چې دولت د لیکوالو ډېر زیات قدر وکړي، نه یوازې دا چې د هغو د کار په مخ کې ستونزې رامنځته نه کړي، بلکې له ټولو هغو ممکنه امکاناتو څخه کار واخلي، چې د لیکوالو او فرهنګیانو ستونزې حلولای شي.

په درنښت

د هیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لویدیځ مېشتي افغان فرهنګیان او فرهنګي هیلې

ددې دوو لسیزو په بهیر کې د بېلابېلو لاملونو له کبله زموږ د ټولنې یو شمېر علمي کدرونه او تحصیل کړي اشخاص له هېواده وتلو ته اړ شوي او یا ایستل شوي دي. اوس په هېواد کې د پخوا په انډول ډېر کم داسې اشخاص پاتې دي، چې ډېرې لوړې زده کړې دې ولري.
د لوړو زده کړو اشخاص او په ځانګړي ډول کوم فرهنګي کدرونه چې په هېواد کې پاتې دي، د ژوند د ستونزو او د مسلکي، علمي او کلتوري کارونو د مادي ارزښت د له منځه تلو له امله له خپل آر علمي کار نه ورو ورو لرې کېږي. د ژوند تنګسیا هم د دوی پر ستوني داسې یوه خپسه کېنولې چې ارام تنفس او خوځون ته یې نه پرېږدي. کوم علمي- مسلکي کدرونه او په ځانګړي ډول فرهنګیان چې له هېواده مهاجرت ته اړ شوي او په لرې هېوادونو کې خواره واره شوي دي، داسې اټکل کېده چې د همغو ټولنو او هېوادونو په کلتور او جوړښت کې به جذب او حل شي او د ټول عمر لپاره به یې له خپل هېواد، ولس او کلتور سره اړیکي پرې شي، خو ددې اټکل د ځینو برخو د عملي کېدو ترڅنګ ځینو افغانانو، په ځانګړي ډول فرهنګیانو داسې یوه فرهنګي اتلولي څرګنده کړه چې اټکل یې نه کېده. دوی له فزیکي پلوه په همغو ټولنو کې اوسي خو روح او روان، مینه او عشق یې له خپل هېواد، ولس او کلتور سره دي. دوی پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه وخت د ژوند پر دوو سختو لارو مبارزې ته د انګلي، یو خو دا چې دوی په یوه بله ټولنه کې د خپل ژوند د خړوب لپاره مجبور دي چې ډېرې سختې وزغمي، ډېر کار او ډېره هڅه وکړي او دویم دا چې د خپلې همدوغو لاسګټلو مادي شتو له لارې د خپل فرهنګ د ژوندي ساتلو او زرغونولو لپاره کار وکړي؛ د دوی فکري ځواک هم پر یوه وخت دوه ځایه مصروف وي، د خپل هېواد غم او په همغو ټولنو کې له سره د خپل ژوند برابرول او عیارول. دا ډول افغانان اوس د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د ژوند شپې تېروي، ځینو په پوره مینې او فکر د فرهنګي کار لپاره ملاتړلې ده، فرهنګي ټولنې یې جوړې کړې دي، جریدې او مجلې خپروي او نوې هلې ځلې کوي. د دوی هلې ځلې په ډله ییز ډول هم دوام لري او په ځاني ډول هم. د همدې افغان فرهنګیانو په مالي او مانیزه مرسته د تېرو نږدې څلورو کلونو په ترڅ کې ډېر زیات علمي، ادبي، تاریخي او نور کتابونه چاپ شوي دي، خو دا لړۍ په دې وروستیو کې نوره هم ګرمه او فعاله شوې ده. د دې ټولنو په باب به، چې لا نوې جوړې شوې دي، یو څه څرګندونه وکړو:

((د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنه)) چې په جرمني کې د افغان فرهنګیانو له خوا جوړه شوې، د ښاغلو خلیل الرحمن رسولي، جمال الرحمن، خوشال روهي او نورو فرهنګیانو هلې ځلې پکې د ډېرې ستاینې وړ دي. دې ټولنې د خپل یو کلن فعالیت په بهیر کې درې مهم آثار خپاره کړي او دا لړۍ لا دوام لري. دوی د داسې آثارو خپرولو ته زیاته پاملرنه کوي، چې علمي، ټولنیز او سیاسي ارزښت یې زیات وي او زموږ د ټولنې لپاره یې چاپ ضروري وي.

دوی د یو اوږدلي پلان له مخې د هغو تاریخي، علمي او ادبي اثارو د چاپ لړ ترتیب کړی، چې تراوسه د قلمي نسخو په توګه د هېواد په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتابتونو کې او یا له ځانګړو اشخاصو او لیکوالو سره خوندي دي. د دې ټولنې یو بل کار دادی چې مهم نړیوال ادبي شهکارونه، غوره اثار د بېلابېلو لیکوالو په واسطه وژباړي او بیا یې چاپ کړي.

دوی په اوسنیو سختو او ستونزمنو شرایطو کې د افغان لیکوالو ستونزمن ژوند ته هم پاملرنه کوي او د خپلو مالي امکاناتو تر بریده دلیکوال د اثر تر چاپ وروسته د کتاب د خرڅلاو او بسپنو له لارې له هغو سره مالي مرسته کوي. د دوی کار د یو منظم پلان له مخې پر مخ ځي.

بله ټولنه چې هغه هم په جرمني کې جوړه شوې ده، هغه د هېواد د پیاوړي لیکوال او کره کتونکي زرین انځور په مشرۍ ((د افغانستان کلتوري ودې ټولنه)) ده. دا ټولنه هم نوې جوړه شوې ده، په دې ټولنه کې هم ګڼ شمېر افغان فرهنګیان راټول شوي دي. شېرولي شېر د دې ټولنې یو هڅاند غړی دی چې په نه ستړي کېدونکي ډول د خپل فرهنګ او ژبې لپاره کار کوي. دې ټولنې هم په ډېر منظم ډول کار پیل کړی دی او په ډېر لږ وخت کې د څو عنوانونو مهمو اثارو د خپراوي جوګه کېدونکې ده.

دوی هم غواړي، لومړی هغه مهم کتابونه چې په نړیواله کچه ارزښت لري او یا زموږ له ټولنې سره تړاو لري او یا ورته علمي، سیاسي او روزنیزه ګټه رسولای شي، چاپ کړي. دا ټولنه دا هڅه هم کوي چې په لویدیځو هېوادونو کې نه یوازې دا چې افغاني کلتور او ژبه ژوندۍ وساتي، بلکې غواړي چې هغو ته لا ځلا او ښکلا ورکړي او ګڼ شمېر افغانان په فرهنګي خوځون راولي. دوی په دې کار کې د ټولنې د جوړېدو د وخت په اندول ډېر بریمن دي. څو راتلونکو میاشتو کې به لوستونکي ددې ټولنې له خوا نوي خپاره شوي اثار ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه شان ملي او فرهنګي هڅې په ځینو نورو لویدیځو هېوادو کې هم روانې دي، په ډنمارک کې خو يې عبدالمالک بېکسیار یوه ژوندۍ او ځلنده بېلګه ده، نو دا مثبت ملي او فرهنګي کارونه سړي ته داسې هیلې ورکوي، چې څوک زموږ فرهنګ او ژبه نه شي وژلای، ځکه چې اوس مغزونه او ضمیرونه دواړه ویښ شوي او لا ویښېږي.

**په ډېر درنښت**

**د افغاني فرهنګ د لا غوړېدو په هیله**

**اداره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پښتو ژبې او ادبياتو يو طلايي پړاو

له هغه وخت راهيسې چې په هېواد کې د چاپ او خپرونو ماشين آلات رامنځته شوي او يا د کتابونو د چاپ لړۍ پيل شوې، نو د کتاب د چاپ او خپرولو پازوالي د حکومتونو پر غاړه وه، حکومتونو ازادو خپرونو او کتابونو ته چندان زړه نه ښه کاوه، د ولس او ليکوالو هم دومره مالي وس نه و، چې کتابونه پرې چاپ او خپاره کړي، کتابونو هم داسې بازار نه درلود، چې د خرڅلاو له لارې بېرته خپل لګښت پوره کړي.

ځينې نور لاملونه هم وو چې په ورو ورو ډول يې زموږ د ژبې او ادب د پرمختګ مخې ته خنډونه پېښ کړي وو، دا ټول لاملونه د دې سبب شول چې زموږ ژبه ډ ېره ونه غوړېږي او ادبيات مو زيات بډايه نه شي، خو اوس د ډېرې خوښۍ ځای دی چې ټول پخواني دېوالونه او بنديزونه يو په بل پسې نړېږي، حکومتونه هم د پخوا په شان د کتابونو او د اثارو چاپ ته د زندۍ اچولو جوګه نه دي، ستر او اساسي پرمختګ دادی چې اوس په خپله زموږ ليکوالو او فرهنګپالو د ژبې او ادبياتو پرمختګ او بډاينې ته دانګلي دي، نور نو حکومتونو ته لاس تر زنې ناست نه دي، خپله اثار ليکي، چاپوي يې او اولس ته يې رسوي.

په اوسني فرهګي بهيرکې د هغو افغان ليکوالو او فرهنګيانو ونډه ډېره درنه ده چې لويديځو پرمختللو او پانګوالو هېوادونو ته يې پناه ور وړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، دوی د خپل ورځني ژوند له لګښت څخه یو څه پسې سپما کوي او بیا یې د خپل هېواد د فرهنګ او ملي ژبې د ښېرازۍ لپاره لګوي، د همدې فرهنګیانو او فرهنګپالو له خوا اوس په پېښور کې ګڼ شېر اثار خپرېږي، د تېرو دوو درې کلونو په بهیر کې په پېښور کې دومره علمي، ادبي، تاریخي او هنري کتابونه په داسې ښکلې کچه او صحافت چاپ شوي، چې د هېواد په تاریخ کې یې ساری کم لیدل کېږي.

ډېره هیله منه خبره دا ده چې اوس د کتاب بازار ورځ پر ورځ ګرمېږي، او د کتاب لېوال ورځ پر ورځ زیاتېږي، اوس په مصنوعي ډول نه، بلکې په طبیعي ډول خپله فرهنګیان او فرهنګپال خپل کلتوري مسولیت ته متوجه شوي دي، د فرهنګي هڅو لپاره د پانګې شته والی او په تدریجې ډول د هغو زیاتوالی هغه بله هیله ده چې پر فرهنګي کار خپله مثبته اغېزمني ښندي.

اوس په روسیې، هندوستان، جرمني، ډنمارک، هالنډ، د امریکا متحده ایالاتونو، انګلستان، ناروې او نورو هېوادونو کې خواره واره افغان فرهنګیان او فرهنګپال پر ډېرو علمي کارونو بوخت دي، اوس هره میاشت د همدغو فرهنګیانو یا خپل اثار چاپېږي او یا د نورو لیکوالو اثارو ته د چاپ امکان برابر وي.

ددې هڅو مثبتو پایلو ته ځکه زیاته هیله پیدا کېدی شي چې دا فعالیتونه د رښتینولۍ پر بنسټ ولاړ دي، اوس د اولس بچیان په خپله د فرهنګي خدمتونو جوګه دي، هر کله چې اولس پر خپل ذهن او ځواک متکي وي نو د ستړیا او خواشینۍ احساس نه پیدا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که موږ بوازې د تېرو دوه درې کلونو د فرهنګي کارونو او اثارو د چاپ جاج واخلو، نو ويلای شو چې دا په هېواد کې د اثارو د چاپ له مخې يو ډېر طلايي پړاو دی، که چېرې د هېواد ننني او سباني واکمن په ښه ډول له دې فرهنګي هڅو سره خپله لېوالتيا او ملګرتيا وښيي، نو په ټول هېواد کې به يو ځل بيا د مړاوي فرهنګ غوټۍ وغوړېږي او هغه وخت به واکوالو ، فرهنګيانو او هم فرهنګپالو خپله دنده او پازوالي نوره هم په ښه ډول تر سره کړې، او کلتوري کار به لا ګټوره نتيجه ورکړي وي.

په درناوي

د همداسې کلتور ملګرتيا په هيله

دهيلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هیله دوه کلنه شوه

له هغې ورځې چې د هیلې لومړۍ ګڼه چاپ او د لوستونکو تنده پرې ماته شوه، دادی پوره دوه کاله تېرېږي.

له بده مرغه زموږ په ټولنه کې د ملي ا و خپلواکو خپرونو عمر خورا کم او لنډ مهاله وي، بېلابېل لاملونه ددې سبب کېږي، چې خپلواکې خپرونې خپلواکۍ ته نه پرېږدي، او ژر یې د ژوند پر ستوني د چوپتیا خپسې کېنوي، ځکه خو د هرې خپلواکې او ملي خپرونې د ژوند په پیل سره د هغې د مرګ پوښتنې هم د سړي ذهن ته را دمخه کېږي، له دې کبله د دې ډول خپرونو راتلونکی چندان ډاډمن نه برېښي، لوستونکي، لیکوال او قلمي ملګري یې هم په شک کې وي، چې دا خپرونه به څومره دوام وکړي، ځینې خو یې لا له یوې ګڼې نه بلې ته هم د پاتې کېدو هیله نه لري.

((هیله)) مجله هم د همدغسې وهم او ابهام ، ګومان او شک د ورېځو په فضا کې راوټوکېده، خو چلوونکو یې د یو ټینګ هوډ مزي نیولي وو، سره له دې چې سختو او ستونزمنو حالاتو هېلې ته هم ټکانونه ورکول، خو ستر ملي او هېوادني ارمان ته د خدمت اند او ولولو د چلوونکو متې او قلمونه غښتلي کړي وو، نیوکې، ستاینې، مننې، غندنې، لاسنیوی، مرستې، خنډونه او پاټکونه،لنډ فکرۍ او پراخ نظرۍ دا ټول د هیلې په دوه کلن ژوند کې د هغې مخې ته یو په بل پسې څرګند شول، خو هیلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله هیله منه لار وهله، د لوستونکو، مخالفینو او موافقینو ټول اصولي او رغنده وړاندیزونه او نیوکې یې د خپلو امکاناتو تر بریده په پام کې ونیول او له هغو څخه یې د مجلې په ښکلا کې پر ځای کار واخیست.

هیلې په خپل دوه کلن ژوند کې د لوستونکو ذهني رابطه او مینه خپله کړه او دهغو په زړونو کې یې ځای ونیو، ځکه خو نو لوستونکو، لیکوالو، فرهنګپالو او مینه والو ټولو خپله مرسته ونه سپموله او د هیلې په ښکلا او اغېزمنۍ کې یې برخه واخیسته.

د هیلې د سږ کال په پنځو ګڼو کې په ټولیز ډول (۲۰۰) سرلیکه بېلابېل څېړنیز، تحلیلي، سیاسي، ټولنیز،طبي، علمي، تاریخي، هنري مطالب او شعرونه خپاره شوي، چې د تېر کال په انډول په سلو کې (دولس) برخې زیاتون ښیي، د تېر کال په پرتله یې مینه وال، لېوال، لیکوال او ګډونوال زیات شوي چې دا هم د هیلې د ګرانښت او منښت څرګندوی دي.

په اداري برخه کې د تېر کال په شان سږ کال هم د هیلې اداري ستونزې پر ځای وې، د دفتر، پرسونل او نورو امکاناتو د نشتوالي له کبله موږ پر دې بریالي نه شو، چې د ټولو مینه والو او د مجلې د لېوالو ذوق او هیله خړوب کړو؛ هغوی ته پر خپل وخت مجله ور ورسوو.

د مجلې د شمېر(۵۰۰) ټوکو مقدار هم بله ستونزه وه، د لوستونکو او مینه والو په انډول دا شمېر خورا کم دی، که د مجلې له اداري سره د ځینو فرهنګپالو مالي او مانیزې مرستې تر دې لږ څه نورې زیاتې شي، نو کېدی شي، د مجلې شمېر په راتلونکي کال کې (۱۰۰۰) ټوکو ته لوړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټولیز ډول سړی ویلای شي چې د ځینو نیمګړتیاوو، کمزوریو، مجبوریو او تنګلاسیو سره سره (هیله) په تېرو دوو کلونو کې یوه بریمنه او هیله منه مجله وه. هیله له درنو قلموالو، لوستونکو، مینه والو، او لېوالو څخه هیله کوي، چې خپله هیله لا هیله منه کړي، نهیلۍ ته یې پرې نه ږدي، په خپلو رغنده وړاندیزونو او نیوکو دهیلې پاڼې لا پسې ښکلې او سینګار کړي او د خپلې ملي ژبې د خدمت دا راټوکېدلی ګل مړاوي کېدو ته پر نه ږدي، اخر هیله خو نو همداستاسې هیله ده.

د همدغسې رغنده هیلو او وړاندیزونو په هیله

په درناوي

دهیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هېواد دننه فرهنګي یون او خوځون

**تر اوږده ویرجن او قهرجن ناتار وروسته دادی زموږ ټولنه ورو ورو خپل ټپونه کوشېروي او د ارامۍ پر لوري ګامونه اخلي.**

**اوس زموږ د هېواد په زیاتو سیمو کې سوله ټینګه شوې او د ژوند بېلابېلو خواو کې نوې هیلې د راټوکېدو په حال کې دي.**

**د فرهنګي ښېرازۍ نوي څرکونه لیدل کېږي، څومره چې د جګړې لمبې سړېږي،هومره د ټولنې نوې اړتیاوې راڅرګندېږي، اوس اوس تر بل هر وخت څخه فرهنګي رغونه، بډاینه او پرمختګ دټولنې د یو ستر ضرورت په توګه ځان ښکاره کوي، له نېکه مرغه زموږ د ټولنې ددغې سترې اړتیا د پوره کولو لپاره اوس فکرونه او ګامونه ګړندي شوي دي، اوس چې په هېواد کې څومره لیکوال او شاعران د راټوکېدو او ځلېدو په حال کې دي دا یو بې ساری ریکارډ دی، ژوندۍ بېلګه به یې د پکتیا او خوست ولایتونه وګڼو چې پخوا په کې د هېواد د ځینو نورو سیمو په انډول د لیکوالو او شاعرانو شمېر کم و، خو اوس په کې ېوازې د ځوانو شاعرانو شمېر لسګونو څه چې سلګونو ته رسېږي، دغې ډله ییزې راټوکېدنې په خوست کې د فرهنګي ټولنې د جوړېدا اړتیا احساس کړه، نو ځکه خو په لنډ وخت کې د دوو ټولنو د جوړېدو امکانات برابر شول، په خوست کې د یو بډایه کتابتون جوړېدل د فرهنګي کار یو بل زېری دی، د پکتیا ولایت په ګردېز ښار او ځینو ولسوالیو کې هم د اطلاعاتو او کلتور وزرات دشعر او ادب د څانګې له خوا د ځینو فرهنګي ټولنو او کتابتونو د جوړولو لپاره هڅې روانې دي، په لوګر ولایت کې د مشاعرو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیل د یو نوي فرهنګي کار ښه پیلامه ګڼل کېدی شي، دلته هم لیکوال او شاعران په ډله ییزه توګه د راټوکېدو په حال کې دي، په وردګو ولایت کې خو اوس لیکوال او شاعران تر شمېره وتلي دي، هغوی هم د یوې فرهنګي ټولنې او خپرونې د جوړېدو په تکل کې دي، په غزني کې هم ګڼ شمېر ځوان لیکوال او شاعران چې پخوا هډو چا تصور هم نشو کولای، راټوکېدلي، اوس یې د سنایي جریدي له لارې ځینې فعالیتونه څرګندېږي، خو راتلونکي کې ترې د ډېر کار د ترسره کولو اټکل کېدی شي، کابل کې خو بېخي د چا خبره د شاعرانو او لیکوالو ګڼه ګوڼه زیاته شوې ده، د شعر او ادب اداره په هرو پنځلسو ورځو کې غونډه کوي، کله کله خو ټاکلی ځای د لیکوالو لپاره تنګ شي، د یو نوي کتابتون جوړول یې یو بل فرهنګي کار دی، د ننګرهار هره دره او ولسوالۍ له شاعرانو ډکه ده، داسې ښکاري چې ننګرهار اوس د کوکنارو د ګلونو تر څنګ د شعر او شاعرۍ بوزغلي کرلي دي، له مرکزه نیولی بیا تر سپین غره پورې له هرې ترې د شعر د ګلونو وږمې خورېږي.

که ننګرهار کې اوس څوک قلم راواخلي او پوازې تش د اولسي اولوستو شاعرانو او لیکوالو نومونه ولیکي، نو شمېر به یې تر سلو څه چې ان تر زرو هم واوړي، د ننګرهار د لیکوالو او شاعرانو ځینې هڅې په رسمي خپرونو لکه ننګرهار مجله او ورځپاڼه کې خپرېږي، خو تر رسمي خپرونو د ځینو لیکوالو شخصي تشبثات څو ځله زیات دي، ددې لیکوالو له خوا ګڼ شمېر اثار پېښور کې خپرېږي او بیا ننګرهار او د هېواد د نورو سیمو لیکوالو ته په وړیا ډول او یا هم د ډېرې کمې بیې په مقابل کې ورکول کېږي، کونړونه هم تر چا شاته پاتې نه دي، د یوې مجلې په خپرولو سره یې خپله فرهنګې مینه زباته کړه، په کونړ کې هم په لسګونوځوان لیکوال او شاعران راټوکېدلي او په خاصه ولوله خپل کلتور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته کار کوي، د اطلاعات او کلتور ادارې هڅې د ستایلو وړ دي چې د یو ښکلي او بډایه کتابتون په جوړولو سره یې د فرهنګیانو تنده ماته کړه، په کونړ کې هم داسې فرهنګي شازلمي شته چې په خپلو منډو ترړو یې فرهنګې کار ته اوږه ورکړې، تر پېښوره او نورو سیمو پورې منډې تړړې کوي، کتابونه ټولوي او کونړ ته یې رسوي، چې د ځوانو لیکوالو د مطالعې کچه اوچته کړي، په خپله هم ګڼ شمېر لیکنې چاپوي.

له کونړه که ورتېر شو، اخوا ښکلي او شینکي لغمان ته ولاړ شو، هلته نو بېخي د بلبلانو اوازونه دي، په لغمان کې نو د لیکوالو او شاعرانو شمېر دومره زیات دی چې د لغمان ولایت هېڅ اوسېدونکی به نه وي، چې هغه لوستی وي او که نالوستی چې د هغه دې یو یا څو شعرونه له یادو زده نه وي او یا دې له شعر سره اشنا نه وي، یو شاعر له کابله لغمان ته مېلمه تللی و، هغه چې د لغمان ښکلې او شنې درې، ولیدلې چې دالینګار او الیشنګ سیندونه په کې بهېدل، پر غرونو، رغونو او سیمو ټولو یې شین فرش غوړېدلی و، نوده د خندا په ترڅ کې وویل((زه اوس پوه شوم چې د لغمان خلک ولې له پوې مخې شاعران دي، دلته خو چې هر څوک راولې شاعر کېږي.)) که لغمان د خپلو جغرافیایي حدودو په رڼا کې مطالعه کړو او له لږ جرئت څخه کار واخلو نو سړی ویلای شي، چې د نړۍ په کوم ګوټ کې به داسې شاعر خېزه سیمه پیدا نه شي، لکه لغمان چې دی. د لغمان ولایت د اطلاعات او کلتور ریاست امکانات د حساب وړ نه دي، خو خپله د لیکوالو فرهنګي هڅې د یادونې وړ دي، ددې فرهنګیانو په مرسته د لغمان ولایت په مهترلام ښار کې یو ښکلی کتابتون جوړ شو او ګڼ شمېر کتابونه ورته راټول شول. په لغمان ولایت کې به یوازې د الینګار ولسوالۍ د بېلګې په توګه یاده کړو: په دې ولسوالۍ کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت دشعر او ادب ادارې په چوکاټ کې یوه فرهنګي ټولنه (( الینګار فرهنګي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یون)) جوړه شوه، چې په یوه کال کې یې د غړو شمېر تر سلو تنو پورې ورسېده او دا لړۍ لا دوام لري. ګڼ شمېر ولسي فرهنګیالو یې هم ملاتړ وکړ او د یوه کال په موده کې یې تر لسو زیاتې لویې او وړې فرهنګي غونډې جوړې کړې. الینګار فرهنګي یون تر اوسه یو مرکزي کتابتون هم جوړ کړی، چې ګڼ شمېر علمي، هنري، ادبي اثار په کې دمطالعې لپاره ایښودل شوي دي. له لغمان نه که ورتېر شو او بیا د ملالې د ټپو سیمې (کندهار) ته لاړ شو، نو هلته هم نوې فرهنګي غوټۍ په راټوکېدو دي. په کندهار کې که څه هم د سیاسي بریاوو په انډول یې فرهنګي بریاوې لږ ښکاري، خو بیا هم په وروستیو وختونو کې فرهنګي کاروونه په ګړندي ډول پرمخ روان دي. په کندهار کې د اطلاعاتو او کلتور ریاست هڅې د زیاتې ستاینې وړ دي.

دوی د کندهار د ښکلې مجلې او همدارنګه د خلافت مجلې او د طلوع افغان جریدې دچاپ له لارې په کندهار کې فرهنګي خلا ډکه کړې، خو د کندهار د عظمت له پلوه دا کار پوره نه برېښي، خو کله چې موږ په کندهار کې د اوسنیو ګڼشمېر ځوانو شاعرانو او لیکوالو د شمېر زیاتون ته ګورو، نو دا هیله مو زړه کې رازرغونېږي چې که خدای(ج) کول د کندهار فرهنګي عظمت به هم ان شاالله دهغه سیاسي عظمت ته ورسېږي. په کندهار کې د ځینو ځوانو شاعرانو ملي او اسلامي ولولې او فکري استعداد سړي ته دا هیله پیدا کوي، چې کندهار به بیا دملي ژبې ملي دربار جوړېږي او ډېرې پټې خزانې به پکې راڅرګندېږي.

له کندهار لرې په هرات کې چې له لسګونو افغان قبیلو یې خپله ژبه هېره کړې ده، دادی یو ځل بیا دفکري او ژبنۍ تداعۍ په حال کې دي او د خپل هویت د لاسته راوړلو په لټه کې دي، دهرات د اطلاعاتو او کلتور ریاست، دیوې خپرونې له لارې خپل فرهنګي فعالیت څرګندوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغو لیکوالو او شاعرانو څخه چې اثار چاپوي، هیله کړې چې دوی ته خپل اثار ولېږي چې په خپل فرهنګي کار کې ورڅخه ګټه واخلي.

د بلخ ولایت چې په وروستیو دوو کلونو کې د خونړیو پېښو شاهد و او په زرګونو هېوادمینو افغانانو یې دښتې په خپلو وینو رنګینې کړې او دهغه په ګټلو سره یې هېواد له تجزیې وژغوره، هلته هم دفرهنګي کار هیلې راټوکېدلي دي. په مزارشریف کې پوهنتون شروع دی او د نورو فرهنګي کارونو لپاره هڅې روانې دي. د بلخ ولایت یوه فرهنګي چارواکي په کابل کې له فرهنګیانو سره وویل: په یوه مناسب وخت کې به د امو دریاب پرغاړه دهېواد له بېلابېلو سیمو څخه ګڼ شمېر شاعران او لیکوال رابولو او د هېواد د تجزیې د مخنیوي په ویاړ او د ملي یووالي د تامین په مناسبت به داسې لویه او ستره مشاعره جوړوو چې تراوسه پورې د افغانستان په تاریخ کې چا نه وي جوړه کړې او دا به دهېواد د یووالي په ویاړ د یوه فرهنګي یادګار په توګه پاتې شي.

د بلخ په بل ګاونډي ولایت کندوز کې هم د فرهنګي کار څرکونه لګېدلي، هلته هم ګڼ شمېر شاعران راټوکېدلي او په دې وروستیو وختو کې یې د یوې مشاعرې په ترڅ کې خپل شتوالی ثابت کړ او چارواکو هم هغوی په مانیزو او مادي لورېینو ونازول. دغه راز د هېواد په ځینو نورو سیمو کې هم دې ته ورته فرهنګي فعالیتونه ترسره شوي ، چې موږ دا پورتني فعالیتونه یوازې د څرګندو بېلګو په توګه یاد کړل. د یادونې وړ ده چې اکثره پورتني فعالیتونه د اطلاعاتو او کلتور وزارت د شعر او ادب د ادارې په چوکاټ کې چې پر فرهنګي کار او هڅو کلک ټینګار کوي ترسره شوي، دوی فکر کوي چې په دې ډول به یو انتظام منځته راشي او د انارشۍ مخه به ونیول شي، د اطلاعاتو او کلتور مسوولین وایي چې موږ د ازاد فرهنګي کار او فرهنګي ټولنو مخالف نه یو، خو د دې خطر احساس

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته چې یو څوک دې لومړی ازاد فرهنګي کار پیل کړي او یا دې ټولنه جوړه کړي، خو وروسته دې بیا دا فرهنګي ټولنه پر سیاسي ټولنه بدله کړي او هېواد ته بیا یو سردرد جوړ کړي، لکه چې مخکې هم داسې شوي دي. دوی وایي چې هر څوک غواړي فرهنګي کار وکړي نو رادې شي د اطلاعاتو او کلتو ر وزارت د ادارو په چوکاټ کې دې کار وکړي، او یا دې په رسمي ډول ځان د اطلاعات او کلتور وزارت سره ثبت کړي او کار دې وکړي، دوی وایي هر هغه فرهنګي کار چې د اسلام او محمدي شریعت او د افغانستان ملي ګټو ضدنه وي پر هغه هېڅ ډول بندیز نه شته، خو ځینې ازاد فرهنګیان بیا دا ډول فکر کوي او وایي طالبان له شرعي اصولو او احکامو نه یو خاص تعبیر لري او نور خلک بل ډول دي، فرهنګي کار یوازې د یو تنظیم او یا حکومت مسولیت نه دی، بلکې د ټول ولس ګډ کار دی، نو دا څه جبري مسله نه ده، چې حتمي دې د یو مثبت فرهنګي کار لپاره سړی یو ځل د دولت ټولې دروازې وټکوي، له هغو دې اجازه واخلي او بیا دې کار وکړي، دوی استدلال کوي چې په دولتونو یا حکومتونو کې زیاته بېروکراسي موجوده وي، څو چې له یوې شعبې نه بلې شعبې ته او له بلې نه بلې ته یو کار خلاصوې نو په دې کې به ورباندې میاشتې تېرې وي، که حکومتونو ټول مشکلات خپله حلولای شول، نوحل کړي به یې وو، بیا خو د ولس کار او ازادو فرهنګي هڅو ته هېڅ اړتیا نه پیدا کېدله، که په وروستیو څو کلونو کې دولتي فرهنګي هڅې له شخصي او ازادو فرهنګي هڅو سره پرتله کړو، نو ریښتیا هم چې د ازادو فرهنګي هڅو تله ډېره درنه خېږي.

دلته بیا دا پوښتنه را ولاړېږي چې ایا ټولې ازادې فرهنګي هڅې زموږ د هېواد په ګټه دي او که نه د ازادۍ په نامه یې د ښکېلاک او زبېښاک

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټ مرموز زهر هم زموږ د ولس ذهن ته تېر کړي دي؟ دلته باید سړی ووایي چې ددې دواړو احتمال او شواهد شته.

اوسني واکمن استدلال کوي، زموږ ټولنه تر یوه اوږده ناتار وروسته د فکري، سیاسي، ملي یووالي او ثبات پر لور روانه ده او په دې نازک پېر کې هره نامطلوبه فرهنګي هڅه ډېر زیات زیان پېښولای شي، که سړی پورتنیو دواړو دلایلو ته انصافاً نظر وکړي، نو دواړه دلایل پر ځای دي، خو خبره داده چې څنګه به دا ستونزه حلېږي، او څنګه به دواړه لوري ګوزارې ته کېني؟ چې داسې یو کار وشي چې نه سیخ وسوځي او نه کباب. اټکل کېږي چې همداسې یوه لاره به پیدا شي، د روان کال د غويي په میاشت کې د اطلاعاتو او کلتود وزارت د وزیر امیر خان متقي په نوښت په کابل ښار کې د هېواد ګڼ شمېر لیکوالو، شاعرانو او د فرهنګي برخې د پوهانو په ګډون یوه غونډه جوړه شوې وه، په غونډه کې ښاغلي امیر خان متقي د اسلامي امارت پرکړیو کارونو او ستونزو رڼا واچوله او له لیکوالو او فرهنګیانو نه یې وغوښتل چې د کارونو په ښه والي او د ستونزو په حل کې له اسلامي امارت سره مرسته وکړي، وروسته بیا بېلابېلو لیکوالو او پوهانو نظر څرګند کړ او ځینو په ښکاره ډول د اسلامي امارت د فرهنګي کارونو پر نیمګړتیاوو انتقاد وکړ او د هغو د حل لارې یې په ګوته کړې او ځینو بیا د همکارۍ زمنه وکړه، د غونډې فضا ډېره صمیمي او ازاده وه، هر چا خپل انتقاد او نظر څرګندولای شو، له دې غونډې څخه داسې پایله اخیستل کېږي چې اوسني واکمن هم ورو ورو دیموکراسۍ پر لوري درومي، کومې خبرې چې په دې غونډه کې وشوې، یو کال وړاندې یې کېدل امکان نه درلود او همداسې نوره هیله هم کېدی شي، چې واکمن به نور هم انتقاد او نیوکې ته تیار شي، خو دا هم په دې مانا نه ده چې هر څوک به انتقاد کوي او ټول مسولیت به حکومت ته راجع

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، بلکې اصلي خبره دا ده چې څوک د انتقاد وړ وي هغو ته باید د نیوکې گوته ونیول شي، که په ټولیز ډول خپلې خبرې راټولې کړو، نو سړی ویلای شي چې د واکمنو او ازادو فرهنگیانو ترمنځ د تفاهم او همکارۍ روحیه ورځ پر ورځ پیاوړې کېږي او دا اوسنی مثبت فرهنگي خوځون چې په هېواد کې روان دی د دواړو د کړي فرهنگي کار ثمر بلل کېدی شي، که د هېواد له بهر څخه هېواد ته گڼ شمېر علمي او ادبي کتابونه نه وای ورغلي او هلته په گڼو کتابتونونو کې نه وای ایښودل شوي اویا په انفرادي ډول د لیکوالو اوشاعرانو لاسته نه وای ورغلي او یا هم په دې کې واکمنو همکاري نه وای کړې، دا اوسني فرهنگي یون به دومره گړندی او بریمن نه وای.

د هېواد د نورو فرهنگي بریو په هیله

په درناوي

اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ((چغې مه وهئ کار وکړئ!))

تېره میاشت د هېواد څو تنو ځوانو لیکوالو د افغانستان د اسلامي امارت د فرهنگي چارو له یو تن جگپوړي چارواکي سره وکتل او د هېواد د اوسني فرهنگي بهیر ستونزو، برياوو او تگلارو په باب يې ورسره خبرې وکړې.

د کتنې په بهیر کې د بحث ډېره برخه د اسلامي امارت او د ازادو فرهنگیانو د فرهنگي تگلارو او چلند په باب متمرکزه وه، لیکوالو دا خبره څرگندوله چې پر فرهنگي کار ډول ډول بندیزونه د فرهنگي یون او پرمختگ مخه نیسي او د استعدادونو غوړېدو ته لاره چاره نه برابرېږي، د اسلامي امارت مسول فرهنگي چارواکي ویل چې په هره ټولنه  او هېواد کې د هر کار لپاره ټاکلي قوانین موجود وي، د هغو درناوی او منل د ټولو وگړو دنده  او مسولیت گڼل کېږي، موږ د چا د فرهنگي کار مخالف نه یو، بلکې دا زموږ مسولیت دی، چې فرهنگیان تشویق  او وهڅوو چې خپل اسلامي او ملي فرهنگ ته کار وکړي، خوموږ له ځینو فرهنگیانو گیله لرو اودا گیله دانتقاد تر بریده ده اوکېدی شي چې خبره د هغو د کار او چلند  د بندیز تر پولې هم ورسېږي.

اصلي خبره دا ده، چې ځینې کسان د دې پر ځای چې کار وکړي چغې وهي، نور راوپاروي، خپل محکومیت او مظلویت څرگندوي او د تېرو شویو نارواوو څرگندونه کوي، فرهنگي چاوراکي زیاته کړه: ((په دې چغو او نارو نه فرهنگي کار کېږي، نه پخواني ټپونه درملېږي او نه هم مړي په ژړا باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندي کېږي، بلکې مقابل لوری او نور هم راپارېږي او په پای کې د ذهني کړکېچ تر څنګ خبره آن فزیکي ټکر ته سره ور رسېږي)) د اسلامي امارت د چارواکي نغوته هغو پښتنو لیکوالو ته وه چې د کار پر ځای یې چغې او فریادونه ډېر دي. چارواکي وویل: (( د اسلامي امارت د پالیسۍ له مخې د افغانستان ټول قومونه سره ورونه دي او د خپل څومره والي له پلوه د هېواد د برخلیک په ټاکلو کې حق لري، اسلامي امارت غواړي د ټولو کلتور ته وده ورکړي، نه یو خاص قوم او د هغه کلتور ته.

موږ هېڅ‌چا ته اجازه نه ورکوو چې د ژبې، قوم او سیمې په نوم تحرکاتو، لمسونو او کینو ته لمنې ووهي، خو ځینې پښتانه لیکوال ددې پر ځای چې خپلې ژبې او کلتور ته کار وکړي، نورو ته بد رد وایي او د کار پر ځای خپله ژبه او خپل قوم وړاندې کوي، وګورئ په افغانستان کې نور قومونه هم شته هېڅ‌چا هم د خپلې ژبې او قوم نوم نه دی اخیستی، چې زما داسې غیرتي ژبه ده او زما داسې توریالی قوم دی، بلکې غلي دي؛ خپل کلتوري کار کوي خو یو شمېر پښتنو لیکوالو د پښتو ژبې او پښتني کلتور شعار دومره ببرغي کړی چې د فرهنګي کار پر ځای نورې ستونزې ترې را ولاړېږي او آن قومي تفرقه ورڅخه راپیدا کېږي، اسلامي امارت قومي تفرقه نه شي زغملای، بلکې د افغانستان ملي یووالي او د ټولو قومونو وروري زموږ موخه ده.)) د اسلامي امارت فرهنګي چارواکي دا هم وویل: ((زما دا خبره د هېواد د اکثریت له ژبې او کلتور سره د بې تفاوتۍ په مانا نه ده، زه هم په سینه کې د زړه په نوم د غوښې یوه ټوټه لرم، دا څه بې حسه ټوټه نه ده، هرڅه احساسولای او درک کولای شي، خو پښتنو لیکوالو نه دومره هیله لرم چې ښه به وي د چغو پر ځای کار وکړي، د تشو نارو سورو له کبله به ډېر څه له لاسه ورکړئ، خو هېڅ به تر لاسه نه کړئ اخر په چغو خو کار نه کېږي.)) د اسلامي امارت له فرهنګي چارواکي سره د څوتنو لیکوالو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې ډېرې اوږدې وې، په ځینو برخو کې د لیکوالو له خوا د اسلامي امارت پر فرهنګي پالیسۍ ځینې نیوکې هم وشوې خو پر دې خبره ټول موافق وو، چې «چغې مه وهئ کار وکړئ!»

اوس نو ټولو هغو پښتنو فرهنګیانو ته چې د فرهنګي کار او ولولو تر منځ یې پوره انډول نه شته، یانې د ولولو برخه یې درنه برېښي دا خبره راجع کېږي چې دوی هم باید د خپل کار په کړنلاره کې بدلون راولي، د فرهنګي چارواکي دا خبره له ځان سره وارزوئ چې «چغې مه وهئ کار وکړئ!».

په درنښت

د ډېرو فرهنګي کارونو د سرته رسولو په هیله

د هیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هېواد د تحصیل کړو اشخاصو بهیر به همداسې روان وي؟

له هغې ورځې چې په افغانستان کې روانه غمیزه پیل شوې، نو ورسره د خلکو د ځاني او ډله ییز لېږد لړۍ هم پیل شوې ده، هر واکمن او د هغه ډلې په خپلو مخالفینو پسې اورلړوني را اخیستي او د غم په تناره کې الوهی کړي دي، څوک چې له دې چپاوه ژوندي پاتې شوي، نو د کډوالۍ لمن یې نیولې ده.

د کډوالو په ډله کې ګڼ شمېر روڼ اندي او تحصیل کړي افغانان هم وو، د وخت په تېرېدو سره د افغانستان دننه جګړې خپل هغه لومړي ارزښتونه له لاسه ورکړل، د جګړې معیارونه او ارزښتونه بدل شول،ځکه خو له افغانانو او ان تحصیل کړو افرادو څخه لاره ورکه شوه او هغه هیله یې په زړه کې مړاوې او وچه شوه چې د پردیو یرغلګرو تر ماتې وروسته به خپل هېواد ته ستنېږي، د روسي یرغلګرو تر ماتې او وتلو وروسته غمیزه نوره هم اوږده شوه، د تحصیل کړي قشر د لېږد لړۍ نوره هم وغزېده اوتر ننه دوام لري.

پېښور له افغانستانه د راوتونکو تحصیل کړو اشخاصو لومړۍ دمه ځای دی. لومړۍ دلته د کار په لټه کې شي اوبیا نورو هېوادو ته د تللو لارې چارې برابرې کړي، په همدې ډول په لسګونو زره تحصیل کړي افغانان د نړۍ په ګوټ ګوټ کې خواره شول، اوس هم داسې اوونۍ به نه وي، چې د روڼ اندو افغانانو یوه ډله دې بهر ته ولاړه نه شي، دې لړۍ هغه نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحصیل کړي افغانان هم وارخطا کړي چې په پېښور کې اوسېږي او یا لا تر اوسه په هېواد کې دننه پاتې دي.

د ټولو تحصیل کړو اشخاصو پر ذهن د هېواد د راتلونکي په باب د نهیلۍ او بې باورۍ یوه توره پرده پرته ده او د یو سیلاب په شان بهرنیو هېوادونو ته روان دي، که چېرې دا لړۍ همداسې دوام ولري، نو په راتلونکو څو کلونو کې به د هېواد په کچه د لوړو زده کړو لرونکو شمېره خورا کمه شي او د یو ولایت فني او مسلکي پرسونل به هم پوره نه کړای شي، د هېواد د اوسنیو تحصیلي موسسو ظرفیت هم دومره نه دی چې هېواد ته د اړتیا وړ علمي کدرونه وړاندې کړي او اوس هم که څوک له پوهنتونه فارغېږي نوبهر ته د تلو نیت ضرور ورسره وي.

دا چې بهرنیو هېوادو ته تللي افغانان په تېره بیا د لوړو زده کړو خاوندان به راتلونکي کې د افغانستان لپاره په ګټه وي که په زیان؟ دابېل بحث دی، خو د اوس لپاره دومره ویلای شو چې دا د هېواد لپاره یو دروند زیان دی او ستره تشه(خلا) یې را منځته کړې ده، د دې خلا د ډکولو لپاره څه هیلې او امیدونه هم شته، سره له دې چې د افغانستان اسلامي امارت دهېواد د پوهنتونو دبیا رغونې لپاره څه هڅې کړي دي، د اکثرو پوهنتونو لیلیې یې فعالې کړي او د پخوا په شان یې نارینه محصلینو ته د زده کړې یو لړ اسانتیاوې برابرې کړي، خوبیا هم ډېر مزل لا په مخ کې پاتې دی، د لوړو زده کړو وزیر څو ځله بهرنیو هېواونو ته سفرونه وکړل او د هغو په ترڅ کې یې له تحصیل کړو افغانانو او د پوهنتونو له استادانو نه وغوښتل چې بېرته خپل هېواد ته راستانه شي، د هېواد خدمت او د نوي پښت په روزنه کې برخه وخلي.

خو تر اوسه پورې په عملي ډول دغو تخصیل کړو افغانانو کومه ډله هېواد ته ستنه نه شوه، لامل یې دا و چې د اسلامي امارت د پالیسۍ او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ډول اشخاصو د ذهني چاپیریال تر منځ ډېر زیات واټن و او دوی دواړو ته د یو بل شرایط، امکانات، بندیزونه او ازادۍ د منلو وړ نه برېښېدل، نو ځکه خو یې تر اوسه کومه عملي پایله نه ده څرگنده شوې.

د اسلامي امارت دا پالیسي د قدر وړ ده، چې په بهر کې مېشت تحصیل کړي افغانان بېرته هېواد ته ستنېدنې ته وهڅوي، خو دا هڅونه یوازې د یوې بې ځواکه غوښتنې او توصیې مانا لري، ښه به دا وي کوم څه چې د اسلامي امارت په واک کې دي له هغو نه گټه واخلي چې د نورو مسلکي کدرونو د فرار مخه ونیسي.

د طالبانو د اسلامي تحریک تر بري وروسته هم، دا لړۍ تمه شوې نه ده، اوس چې هم اکثره تحصیل کړي اشخاص بهر ته ځي، نو د کیس منلو اصلي موضوع یې د اسلامي امارت له پالیسیو سره مخالفت، په افغانستان کې د تحصیل کړي قشر د مسلکي حیثیت بې ارزښتي او د هغوی ژوند ته د خطرونو او گواښ پېښېدنه وي.

د اسلامي امارت له چارواکو نه د ځینو دردمنو روڼ اندو هیله دا ده چې په اوس وخت کې د هغو تحصیل کړو افغانانو غم وخوري، چې د دوی ټوله پالیسي یې منلې او اوس هم د دهېواد د خدمت لپاره پر کار بوخت دي،د دوی لپاره دې اسانتیاوې برابرې کړي،چې دا یې له لاسه ونه وځي، تحصیل کړي افغانان چې بهر ته تللي، هغوی د هوایي مرغانو په شان دي چې د دوی له لاسه الوتلي دي، هېواد او خپلو ځالو ته یې بېرته راتگ په خپله خوښه دی، نه د اسلامي امارت په غوښتنه.

هېواد ته د ټولو افغانانو دبېرته راتگ په هیله

د هیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شلمې پېړۍ په مخه دې ښه!

شلمه پېړۍ د افغانانو لپاره د لویو بدمرغیو او لویو ویاړونو پېړۍ وه، د شلمې پېړۍ په سر کې افغانانو ستره زور واکه انگریزي دکتاتوري ړنگه کړه او د همدې پېړۍ په پای کې یې د روسیې کمونیستې امپراتوري د تاریخ کندې ته ټېل وهله. د دې امپراتوریو ړنگول او پرځول څه اسان کارنه و، په ملیونونو افغانانو ورسره خپل سرونه په تله کې کېښودل، د لومړۍ ښکېلاکیزې امپراتورۍ د ړنگولو بشري بیه د دویمې هغې په انډول کمه وه، خو د ټولنې ذهني تخریب یې تر اوسه محسوسېږي، د سرې امپراتورۍ د ړنگولو لپاره یو نیم ملیون افغانانو خپل سرونه نذرانه کړل، یو نیم ملیونه معلول او شپږ ملیونه بې کوره او مهاجر شول، د شل کلنې جگړې په ترخ کې د جگړې ټولو غاړو پر جگړې دومره پیسې ولگولې، چې تر جنگ د مخه د هېواد د عادي بودیجې په انډول د (۸۰۰) کلونو بودجه جوړوي، د ټولنې له هرو پنځو تنو څخه یو تن شهید او معلول شو، په هر کیلو متر مربع کې دافغانانو اټکل (۷۰) لېتره وینه توی شوه، په دې ډول ټول هېواد په وینو رنگ شو.

د انگریزي امپراتورۍ د ړنگولو غچ د لومړۍ سقاوي په راوستو کې په ډاگه شو او د روسیې امپراتورۍ د پرځونې غچ په دویمې سقاوۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راڅرګند شو، دواړه څله کابل او ټول هېواد له سراسري انارشۍ سره مخامخ شو.

د شلمې په پېړۍ په دویمه لسیزه کې په افغانستان کې د عصري ښوونې او روزنې بهیر پیل او د همدې پېړۍ په وروستۍ لسیزه کې په شا وتمبول شو.

دهمدې پېړۍ په بهیر کې د افغانانو د قربانیو له کبله له انګریزي ښکېلاک نه ګڼ شمېر هېوادونه خپلواک او دشوروي روسیې له زنځیره (۱٤) هېوادونه بېل شول،همدارنګه پنځلسو نورو کمونیستي هېوادونو ازادۍ نړۍ ته مخه کړه، د افغانانو د مبارزې له کبله د برلین ډبرین دېوال ونړېد خو د سیاسي بېکفایتۍ له کبله د ډیورنډ سیاسي دېوال د یو ډبرین دېوال بڼه ونیوله.

په ټولیز ډول افغانانو د دې پېړۍ (٦) لسیزې په نسبي سولې او ثبات کې تېرې کړې، خو تقریباً څلور لسیزې یې په لویو درنو جګړو او نا امنه حالاتو کې ژوند وکړ.

په پښتو او دري ژبو د اټکل له مخې (۲٥-۳٥) زره عنوانه کتابونه چاپ شول، (٦۰) کاله راډیویي او (۱٤) کاله ټلویزیوني خپرونې وشوې، د افغانانو ښاري ټولنه له نړیوال تمدن سره اشنا او ان روږدې شوه.

د همدې پېړۍ په بهیر کې تر (۲۰۰) څخه زیاتې لویې او وړې فابریکې، دستګاوې او کارخایونه جوړ چې اکثره یې بېرته تباه شول.

په هرو سلو تنو کې د ټولنې د لوستي قشر سلنه تر (۱۰) تنو پورې لوړه شوه، خو په وروستیو کلونو کې اټکل دوو فیصدو ته راټیټه شوه، د ټولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



علمي کدرونو ډېره زیاته برخه تر هېواده بهر ووتله، د مادي او تاریخي شتمنیو په لړ کې د افغانستان ملې موزیم د (۷۳) کلن ژوند او یو لک اثارو په لرلو سره تباه شو، د ملي شتمنۍ (٤٦) ټنه سره زر لوټ شول او په سلګونو تاریخي ودانۍ تباه شوې.

په ټولیز ډول شلمه پېړۍ زموږ د ملت لپاره د سترو بدمرغیو او دوو سترو ویاړونو پېړۍ وه، چې د سترو ویاړونو ګټلو لپاره افغانان دل خو اکثره نړیوال پرې سوکاله شول، په علمي ډګر کې افغانانو نه خپل ځان او نه هم نړۍ ته څه ورکړای شول، یوازې په سیاسي تاریخ کې یې دوه ستر نړیوال ویاړونه(د دوو نړۍ خورو امپراتوریو ړنګول) وګټل چې د نړۍ په تاریخ کې یې ځان ته د ویاړونو یوه زرینه صفحه پرانیسته، داسې ښکاري چې په (۲۱) پېړۍ کې یوازې نه په تاریخې ویاړونو ژوند کېږي او نه په بشپړو اخلاقي او عقیده ییې معیارونو؛ (۲۱)مه پېړۍ به د علم او تخنیک او مادیاتو پېړۍ وي، څوک چې دا ونه لري د اخلاقو او ویاړونو پېټې به یې پر سر او د خاورو پر ډېرۍ به ناست او له نورې نړۍ نه به تجرید وي، داسې ښکاري چې افغانان ۲۱مې پېړۍ ته کومه پوهنیزه ډالۍ نه لري، یوازې له ۹۸فیصده نالوستي قشر، خپلو سترو تاریخي، عقیده یي او اخلاقي ویاړونو او د نالوستۍ او اقتصادي ستونزو له درنو پېټو سره ۲۱مې پېړۍ ته داخلېږي، داسې ښکاري چې د دې پېړۍ په پیل کې به یو ځل بیا زموږ هېواد له یو ستر ښکېلاک (امریکایي ښکېلاک) سره مقابلې ته وځي او ټول جهان به یې ننداريې ته حیران ولاړ وي، خدای خبر چې بیا به خپل ژوندبایلي او نور به سوکالوي، که څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په (۲۱)مه پېړۍ کې د نړۍ جلبل او د افغانانو اسکېرلي ژوند ته سړی وګوري، نو د ارزونې تله به یې د افراط او تفریط حالت ته ورسېږي، خو کله کله داسې هم وي چې:

«خرقه پوه شو په خرقه کې دی موندلی- هغه حظ چې په دنیا یې دنیادار کا»

افغانان به د پخوا په شان په دې پېړۍ کې هم، یو ځل بیا د هغه ذات پر مینې او لورېینې تکیه وکړي، چې خپل سرونه او زړونه یې د هغه لپاره نذرانه کړي او د خپل نیکه په شان «د خوشال خان خټک تکیه پر ذوالجلال ده» دوی به هم پر ذوالجلال ډډه ولګوي.

موږ په دې هیله شلمې پېړۍ ته مخه ښه وایو چې د شلمې پېړۍ بدمرغې پېښې زموږ په هېواد کې بیا تکرار نه شي او ۲۱مه پېړۍ زموږ د هېواد او خلکو لپاره د سولې، نېکمرغۍ او پرمختګ پېړۍ وي.

د همداسې هیلې د پوره کېدو په هیله.

د هیلې داره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مسلک له خاوندانو یوه هیله

کله کله چې له ځینو افغانانو سره د خپل سوي لوي هېواد د بیا رغونې او درملونې سوچ او اند پیدا کېږي، نو دا پوښتنې هم ورسره راولاړېږي، چې څه ډول، چېرې او پر کوم وخت خپل هېواد ته خدمت وکړي او د هغه په بیا رغونه کې برخه واخلي؟

ځینې کسان چې کارونو ته یې ذهن جوړ کړی وي، د عملي امکان لاره ترې ورکه وي، ځینې چې امکان لري، مینه او هېواد پالنه یې ډېر اورني نه وي، ځینې بیا سیاسي حالات پلمه کړي، ځینو ته جګړه دېوال شي، ځینو ته ددغې یا هغې ډلې یا واکمن واک او سلیقه او ځینو ته هم نورې نورې پلمې. همدغه ټول لاملونه ددې سبب شوي، چې ټول افغانان که تر هېواد دننه دي که بهر، په پوره ډول د هېواد دخدمت پر چارو بوخت شوي نه دي.

دا منو چې په هېواد کې سیاسي جګړیز کړکېچ لا پایته رسېدلی نه دی، ځینې به له سیاسي واکمنو سره وران وي او له ځینو سره به سیاسي واکمن، ذهني او ذوقي ازادي محدوده لا څه چې ترلې به وي، کار به د کار سړي ته نه وي سپارل شوی او په لسګونو نورې ستونزې به هم وي، خو دې ټولو سره سره هېواد له هېوادوالو څخه د خدمت هیله لري او ستونزو سره مقابله کول په کار دي. که مونږ دې ته کېنو چې لومړی دې ستونزې حل شي بیا به کار پیل کړو، نو دا خو هم یو تصور دی؛ ستونزې خو هم په خپله نه اوارېږي، دهغو اوارول هم کار غواړي. ښه به داوي چې مونږ د یوعملي کار پر تیورۍ غور وکړو، هغه دا چې ځان حالاتو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تسلیم نه کړو، نه وخت ته انتظار وباسو او نه د واکمنو سیاسي چلند پورې خپل کار وتړو. هر څوک چې د هر مسلک خاوند وي که په همغه خپل مسلک کې لږه هڅه هم وکړي، نو په ټولیز ډول به هېواد ته زیات خدمت سبب شوي وي. د بېلگې په توگه، د یوه لیکوال دنده دا ده چې یو اثر ولیکي او بیا یې چاپ او هېوادوالو ته یې ورسوي. د یو انجنیر دنده داده چې عمراني کارونه وکړي، د ډاکتر دنده داده چې روغتیایي چارې سمبال کړي او ویې پالي. د تېر دوه لسیز ناورین په بهیر کې د هېواد گڼ شمېر مسلکي اشخاص له هېواده ووتل او ځینې یې اوس په یو شمېر پانگوالو هېوادو کې ژوند کوي. د افغانستان هېڅ داسې سیمه به نه وي چې له هغې څخه دې ډاکتر، انجنیر، لیکوال او د کوم بل مسلک خاوند بهرنیو هېوادو ه نه وي مهاجر شوي. ددې کسانو اقتصادي ژوند اوس د هغو کسانو په انډول ډېر ښه دی چې په خپل هېواد کې اوسېږي.

اوس نو که د هرې سیمې ( د یوې ولسوالۍ انډول) څو تنه په کوم بهرني پانگوال هېواد کې ژوند وکړي، نو دوی کولای شي دخپلې سیمې لپاره د یو روغتیایي یا ټولنیز مرکز د جوړېدو او کار لگښت برابر کړي. د بېلگې په توگه د هېواد هغه ډاکتران چې بهرنیو هېوادو ته تللي دي، کولای شي له هغو ډاکترانو سره چې په افغانستان کې اوسېږي، د طبي اړتیاوو، درملو، وسایلو، لابراتوارونو، کتابونو، د طبي اثارو په چاپ، د تجربې په لېږد او یو څه مالي برخه کې مرسته وکړي، که چېرې دا کار تر سره شي، نو پوره باور دی چې د افغانستان د طبي اړتیاوو یوه درنه برخه به پوره شي، د انجنیرانو برخه هم همداسې محاسبه کېدلای شي.

یو څو عملي بېلگې به هم وړاندې کړو: ښاغلی ډاکټر عبدالوکیل د افغانستان د کرنې یو لوی متخصص دی، ده په خپلو شخصي هلو ځلو د هېواد دکرنې په برخه کې دومره باغونه جوړ کړي او دومره خدمتونه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي دي، چې آن د دولتي خدمتونو انډول دي. دغه راز ښاغلي ډاکټر عبدالولي وردګ له خپلو څو تنو نورو ملګرو سره د (وفا) موسسې په جوړولو سره وکړای شول په وردګو کې د چک برېښناکوټ ترمیم او په ځینو سیمو کې د اوبو لګولو سیستمونه بیا جوړ کړي.

همدغه ښاغلي د کابل پوهنتون مرکزي لیلیې ته برېښنا راوسته چې هره شپه پرې د (۲۸۰۰) تنه محصلینو خونې رڼا کېږي.

د افغانستان دکلتوري ودې ټولنه او د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنه چې دواړه په جرمني کې د ځینو افغان لیکوالو په مټو تر ړو جوړې شوي، د دوو کلونو په ترڅ کې یې شل عنوانه علمي، ادبي، تاریخي کتابونه چاپ کړي او ګڼ شمېر یې په هېواد کې علمي مرکزونو او لیکوالو ته په وړیا ډول ورکړي دي.

داسې په لسګونو نورې بېلګې هم شته چې یوه بېلګه یې هم همدا (هیله) مجله ده، چې د یوه افغان لیکوال (عبدالمالک بېکسیار) په مټ دا دی ۱۷ مه ګڼه یې خپرېږي او د هېواد د مطبوعاتو په تاریخ کې یې ځانته جلا پاڼه پرانیستې ده.

که پورتنۍ بېلګې په پام کې ونیسو، نو سړي ته دا هیله پیداکېږي، چې افغانان په تېره د مسلک خاوندان که په خپله حرکت وکړي، نو خدای(ج) پاک په کې زیات برکت اچوي، پورتنیو کسانو چې کوم خدمتونه او کارونه کړي دي، په همدومره وخت کې دولتونو هم نه دي کړي، نو که دوی دې ته فکر کړی وای چې اول باید شرایط ښه شي او بیا کار پیل کړي، نو دا دومره لاسته راوړنې به یې نه درلودې. افغانان په تېره بیا د مسلک خاوندان هر یو که په خپل مسلک کې خدمت ته ملا وتړي او مسلک د سیاست تابع او مربوط نه کړي، نو باور دی چې ډېر کار به وشي، زموږ هیله هم داده چې راځئ سیاستونه یوې خواته کړو، مسلکونه مخکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو، له ستونزو نه ونه ډار شو او ځان ته د ((شرايطو)) په نوم ذهني او رواني ستونزې جوړې نه کړو، بلکې په هر ډول شرايطو کې کار ته ودانگو، د زمانې له سختيو سره ډغره ووهو، وخت له لاسه ور نه کړو، ځکه چې ((وخت لکه سره زر دي)) او چاته انتظار نه باسي.

په درناوي

هېواد ته د مسلکي خدمتونو

د سرته رسولو په هيله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هیله درې کلنه شوه

**یو درې کلن مزل او د کلونو واټن**
**اغــزنــې لارې او گلـورینې برياوې**

دهمدې گڼې په خپرېدو سره د هیلې مجلې دعمر درېیم پسرلی پوره شو. تېر درې کلونه لکه څنگه چې د هېواد په سیاسي، ټولنیز او فرهنگي ژوندانه کې تاوده او تاوجن کلونه وو، دهیلې مجلې لپاره هم د ازمون، هڅون او پرمخیون کلونه وو. په دې تېرو (۱۰۹۸) ورځو کې د هیلې هیله والو چلوونکو یوه ورځ هم بې تفاوته او ارامه تېره نه کړه او شپه ورځ یې د هیلې پاڼو د ځلا او ښکلا لپاره منډې تړړې وکړې. په دې موده کې په ټولیز ډول (۳۵۰) تنو بېلابېلو لیکوالو د هیلې په پاڼو کې د خپل اند، هیلې او خیال ستوري وځلول او اټکل (۵۰۰) تنو نورو د خپلو لیکونو، نظرونو او وړاندیزونو له لارې د هیلې لاره مستقیمه کړه.

د خوښۍ خبره داده چې د هیلې بنسټوالو هیله والو چې د هیلې د خپرولو لپاره کومه موخه ټاکلې وه، هیلې دهمغې نښې منځ وویشت؛ هېواد پالنه، ملتپالنه، ژبپالنه او انسانپالنه چې د هېواد د شل کلن ناورین په بهیر کې د رالېږل شویو او بیا سره ښکېل شویو ایډیالوژیو له خوا تر گواښ، برید او ستم لاندې وه، هیلې ورته یو ځل بیا د خپل کړېدلي ولس پام راواړوه او هغه یې د خپلې ټولنې د درملونې یوه ښه نسخه وبلله. هیلې د خپلو (۱۸) گڼو او (۱۲۰۰۰) ټوکو ټولیز شمېر په واسطه د لسگونو زرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادوالو ذهنونه روښانه کړل او هغوی یې له خپلې ملي مبنې او مینې سره لاپیوند او روږدي کړل. تر خپله وسه یې د هېواد پېښې د واقعیت او حقیقت په هنداره کې لوستونکو ته څرګندې کړې.

هیلې د یوې رښتینې، ازادې، خپلواکې او ناپېیلې خپرونې په توګه خپل رسالت لکه څنګه چې لازم و ترسره کړ، پر هېواد واکمن سیاسي او ذهني چاپېریال سره یې داسې ځان اعیار کړ چې نه د غومبسو ځالې ته لاس وروړي او نه هم د هغوی له زهرونو او قهرونو څخه سترګې پټې کړي، د یوه متناسب انډول د ساتلو له لارې یې د هڅونې، نیوکې او لازمې ستاینې ټولې چارې وکارولې خو د مضر احتیاط پر سیند یې خپل ارمانونه لاهو نه کړل. هیله د دریو سره لرې ان متضادو فرهنګي چاپېریالونو ترمنځ د وصل کړۍ شوه، داسې چې د هیلې په تېر درې کلن ژوند کې پر افغانستان باندې یو ډول ذهني، سیاسي او فکري چاپېریال حاکم و، په ټولیز ډول پر کوزه پښتونخوا د یوې متبذلې او اروړه دیموکراسۍ، دملي روح دنشتوالي او بې تفاوتۍ فضا حاکمه وه او ده او هلته په لویدیځه ټولنه کې بیا بل ډول کلتور او ذهني فضا ده چې زموږ له دې دواړو چاپېریالونو سره څرګند او ان متضاد توپیر لري. هغه افغانان او په تېره د هیلې هیله وال او مینه وال چې په دې دریو متضاوتو چاپېریالونو کې اوسېږي، طبعاً دهغوی ذهني، ذوقي، فکري اوو ان سلیقه یي یو والي راوستل یوه هغه ګرانه مسله وه چې هیلې ورته له پیل نه پوخ تکل کړی و.

له نېکه مرغه د هیلې چلوونکي په دې ستر او ستونزمن کار کې د داسې یوې خپرونې په خپرولو تر ډېره حده بریالي شول چې په درې واړو چاپېریالونو کې د چلند وړ وي. دا منو چې کله به په هیله کې داسې لیکنې هم راغلې وي، چې پر هېواد باندې د واکمنو ځینو چارواکو تندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته تریو شوی وي، خو ددې ترخنګ به یې داسې لیکنې هم تر سترګو شوې وي، چې بېرته یې تندی ورین شوی او د غوسې تاو به یې ناست وي. همداسې به یوه لویدیځ مېشتي افغان ورور ته هم کله کله داسې سرخوږی پیدا شوی وي چې دوی ته لا ګوره؛ خلک یو ویشتمې پېړۍ ته داخل شول او ټول ژوند یې کمپیوټرایز شو، خو دوی لا تراوسه د شاعرۍ او زړو ببولالو له ښکېله نه دي راوتلي او تراوسه لا وعظ او نصیحتونه کوي. په پېښوري چاپېریال کې خو پر اوسېدونکو افغانانو د دواړو چاپېریالو یخ او تود شمال لګېږي.

اساسي خبره داده چې د هیلې چلوونکي د ذهني تصادم او ذوقي اختلاف پر دغسې یوې درې لارې کې ولاړ دي او که چېرې په تلې کې یې لږه ډنډۍ ووهله، نو ضرور به له یو لوري د زیاتې نیوکې تر برید لاندې راځي.

د مجلې چلوونکو په همدغسې متصادمې درې لارې کې تراوسه پورې هم خپل ځان ساتلی او هم یې د هغه ملي ارمان لپاره کار کړی چې زموږ په هېواد کې یې دخدمت اړتیا تر بل هر کار زیاته احساسېږي.

زموږ د بهرنیو افغاني خپرونو یوه اساسي ستونزه داده چې دوی تراوسه پورې د خپلې ټولنې له دردونو او واقعیتونو سره بشپړ منطبق شوي نه دي، زموږ د ولس ځېل شوې هیلې او دهغوی سوي اهونه چې د انعکاس وړ دي په پوره ډول په خپرونو کې نه منعکسېږي او دوی یوازې په خپلو ذهني او ځانګړو یادونو او وړاندیزونو هغو ته د حل لاره ښیي او بس. د ټولنې ترمنځ هم ډېر واټن رامنځته شوی دی، د تخنیکي ستونزو شتوالی بله اساسي مسئله ده چې ددې خپرونو چلوونکي نه شي کولای پر خپل ټاکلي وخت خپله خپرونه هېواد ته ورسوي. په دې ډول په بهر کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغاني خپرونو اود هېوادم مېشتو افغانانو ترمنځ ډېر واټن رامنځته شوی دی.

خو هیله یوازینۍ افغاني خپرونه ده، چې د دریو چاپېریالونو، افغانستان، کوزه پښتونخوا او نورو بهرنیو هېوادونو کې د خپلو لوستونکو هیلې خړوبوي او تراوسه پورې په دې برخه کې ډېره بریمنه ده. (د شیطان غوږونه دې کاڼه وي). د یوې خپرونې لپاره به تر دې زیات بری چېرې وي، چې یوه ګڼه یې شل تنه ولولي. د کابل پوهنتون د محصلینو د ډېرو شکایتونو او غوښتنو او بیا بیا ټینګار له کبله د مجلې ادارې د کابل پوهنتون محصلینو ته د مجلې (٤٠) ګڼې بېلې کړې، خو څو تنو محصلینو څرګنده کړه چې دا مجلې ډېر کمې دي؛ اوس چې موږ ته هره ګڼه راشي، نو په نوبت سره یې لولو، لست ورته جوړوو، یو محصل مجله ځان سره یوسي او بیا یې راوړي، بیا یې بل یوسي، کله داسې هم شوي چې په دې لست کې د راغلو نومونو شمېر (٢٠-٢٥) تنو ته رسېدلی دی. سره له دې چې موږ مجله له (٥٠٠) ګڼو څخه (١٠٠٠) ګڼو ته اوچته کړه ، خو د یوې اټکلیزې او ولس میلیوني ټولنې لپاره دا شمېر خورا کم دی.

په اوسنیو شرایطو کې د یوې خپرونې د بري یو بل راز د هغې د چلوونکو په رښتینوالي او صداقت کې نغښتی دی، ایا ددې خپرونې چلوونکي کوم څه چې خپروي له هغو سره رښتیا هم مینه لري که هسې نور ګرموي؟ هر کله چې د صداقت او عمل ترمنځ واټن وي، پر لوستونکي څوک خپله خبره نه شي منلای. خدای پاک د وګړو ترمنځ دومره رازونه پټ کړي؛ چې پوهېدل پرې اسان نه دي، چې د زړه خبره نه وي پر زړه نه لګي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیله مجله داسې هم نه ده چې پر یوه اواره لاره روانه وي او دهغې چلوونکي به له هېڅ گواښ، نیوکې او غندنې سره نه وي مخامخ شوي او یوازې همدا ستاینې به وي او بس.

د مجلې د ادارې د شمېرنې او انگېرنې له مخې هیلې ډېره موده د ستاینو او غندنو ترمنځ خپل کار ته دوام ورکاوه.

په لومړیو وختونو کې خو اساسي نیوکه دا وه چې هیله ولې یوازې په پښتو چاپېږي؟ ایا افغانستان کې نور ((ملیتونه)) نه شته، دهغوی حقوق به څنگه شي؟ (دري) باید حتمي په کې ځای شي که نه دا خو ربښتیا(!) هم یوه نشنلیستي او فاشیستي هڅه او خپرونه ده!؟ کله چې د هیلې مجلې د ادارې له خوا په دې برخه کې جدي غبرگون وښودل شو، چې وروره خبره داسې نه ده؛ هر څوک حق لري چې خپل غم په خپله وخوري، که موږ ددې وس ولرو چې نورو ته خدمت وکړو دا خو نو ښه کار دی، خو که نه یې لرو او خپله د رنځونو په دریاب کې ډوب یو، نو ایله دومره وکړو چې خپله بېړۍ له ډوبېدو وژغورو او که خپلې ژبې او قوم ته خدمت کول نشنلیزم یا فاشیزم وي، بیا خو له پښتنو پرته د دنیا ټول قومونه نشنلیستان او فاشیستان دي. څرنگه چې هغه وخت هیله په پېښور کې یوازینۍ افغاني مجله وه چې ټوله پښتو خپرېدله، نو ځکه ژبنی عکس العمل هم زیات و، خو چې د هیلې چلوونکو ورته ځان ټینگ کړ او خلک هم له خپل مسلم حق سره روږدي شول او دا یې خپل روا حق وگاڼه نو یو کال وروسته دا نیوکې غلې شوې. که هیلې دا سپین سترگي (!) نه وای کړې نو نن به یو شمېر نورو نړه پښتو خپرونو ته لاره نه اوارېدله. څه موده وروسته ځینو کسانو بیا خپل ذهنونه سره وجنگول او په هیله کې د عیب پیدا کولو په فکر کې شول او ویې ویل: (( والله نو دې کې خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي لیکنو ته ځای نه ورکول کېږي)) سره له دې چې هر چا کومه اسلامي لیکنه رالېږلې، په هیله کې بې له ځنډه خپره شوې ده.

په کابل کې یو چارواکی هم په دې اند و چې اسلامي لیکنې په کې کمې دي، دهیلې یو چلوونکي ورته وویل چې مهرباني وکړه! هم ملا یې هم چارواکی، هم ښه مبلغ یې او هم د اسلامي شریعت د نفاذ لپاره د چارواکي درسره دي، راځه که نه هرې ګڼې ته په منظمه توګه یوه اسلامي لیکنه رالېږه او موږ به یې خپروو، تر هغه وروسته هغه هم دا ډول نیوکه ونه کړه.

ځینو نورو دوستانو ویل: (( یاره دا پښتوبازي په کې ډېره زیاته ده)). دوی ویل ښه به وي که د چغو او خبرو پرځای پښتو ته عملي کار وکړو، ځکه چغې څه ګټه نه لري. د دوی خبرې پرځای وې او دي، موږ هم په همدې نظر یو. د هیلې تګلاره اساساً داده چې داسې مطالب خپاره کړي، چې نه یوازې د اسلامي اصولو او زموږ له ملي ګټو سره ټکر، ونه کړي، بلکې دهمدغو آرونو په رڼا کې لیکل شوي وي او هم یې دا هیله ده چې د چا مثبته لیکنه د سانسور په زنځیر، ونه تړي. فکر کوو پښتنو باندې په خپرنۍ برخه کې څه ظلم شوی او تېر ستمي ناورین هم دوی ذهناً وټکل، د تېر محرومیت د جبران لپاره دوی اړ دي چې پر پښتنې مسایلو او پښتنو زیاتې لیکنې وکړي او خپل زړه تش کړي، دا کار هم کېدی شي ډېر دوام ونه کړي کله چې ټولنه نورمال حالت ته راوګرځي. لیکوال یې هم طبعاً د ژوند د نورو اړخونو په باب فکر کوي.

ښه کار خو همدا دی چې زموږ ښاغلي لیکوال د ژوند پر بېلابېلو خواو لیکنې وکړي او دهیلې مجلې پاڼې پرې رنګینې کړي.

د هیلې مجلې داسې لوستونکي هم شته چې د هیلې ټولې ګڼې یې ګام پر ګام څارلي او د کمزورو لیکنو په باب یې خپل نظر په ډېر جرئت

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره څرګند کړی دی. دساري په ډول یو شمېر لوستونکو د هیلې مجلې د ۱۳۷۸ل کال دویمه ګڼه تر نورو کمزورې وبلله او واقعیت هم همداسې و. له ډنمارک نه یو لوستونکي دهیلې مجلې د همدې ګڼې په باب په یوه لیک لیکلي وو : (( له (۷۰) مخونو څخه یې (۳۰) مخونه په لوستلو ارزېدل او نور ټول سولیدلي مطالب وو)). موږ تر خپله وسه د ټولو لوستونکو او لیکوالو نظرونه، نیوکې او لارښوونې منلي او د هغو د عملي کولو لپاره مو عملي هڅې کړې دي. یوه دا خبره ده چې ځینې شیان زموږ په وس کې نه وي او لوستونکي زموږ له ستونزو خبر نه وي او موږ نه د نورې پرمختیا هیله کوي، راځئ چې دا خبره به هم لوستونکو سره شریکه کړو: دا ټوله هیله مجله چې تاسې ګورئ دا په اوس وخت کې د دوو کسانو د زیار او خولو محصول ده.

یو تن عبدالمالک بېکسیار نومېږي چې په ډنمارک کې اوسي او د خپل تندي د خولو په بیه د هیلې پاڼو ته ساه ورکوي او بل تن اسمعیل یون دی چې په کابل او پېښور کې اوسي او د هیلې علمي او تخنیکي چارې پرمخبیایي، پخوا یوه بله میوند واله ( صفیه صدیقي) هم د هیلې یو بل مټ و، خو هغه هم اوس پردیسه او له هیلې لرې ده.

ایا څوک به داسې فکر وکړي چې داسې یوه مجله دې ( لکه هیله) نه دفتر ولري، نه مېز، نه پرسونل، آن په پېښور کې یې پوستي پته هم د بل چا وي او لنډ مهالې یې رانیولې وي. خو له دغو ټولو ستونزو سره سره موږ د خپلو هیله والو، مینه والو او درنو لیکوالو پر همېشنیو مرستو او لارښوونو ډډه لګولې، هوډ مو سست شوی نه دی او د خپل ملي ارمان لپاره مو چاته کمه هم نه ده ویلې. لکه څنګه چې د هیلې مجلې هیله والو د هیلې خیال ساتلی، داسې موږ هم د خپلو مینه والو هرې مثبتې غوښتنې ته مثبت ځواب ورکړی دی؛ غوره بېلګه یې دهیلې مجلې همدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼه ده، ښاغلي ډاکټر جاوید وردګ یو نیم کال وړاندې د هیلې مجلې د یونیم کلن عمر د ارزونې په غونډه کې هیله څرګنده کړې وه: (( هیله لرم هیله یو وخت په (٥٠٠) مخونو کې د (٥٠٠٠) ټوکونو په شمېر چاپ شي)). دادی د هیلې مجلې او خپل پښتني فرهنګ د یوه اورني مینه وال او لېوال دا هیله خو پوره شوه، د هیلې دا ګڼه خو (٥٠٠) مخه شوه نور نو خدای(ج) لوی او مهربان دی، که د درنو لوستونکو او قلموالو همکاري تر دې هم زیاته شي، نو موږ به هم تر دې زیات کوښښ وکړو چې د کالګڼې مخونه تر دې هم زیات کړو او هم د عادي ګڼو په مخ شمېر کې زیاتون راولو. دا هم کېدی شي چې دمخونو د شمېر د زیاتون پرځای دهغو د څرنګوالي د ښه والي په اړه فکر وکړو. خو په هر حال هیله مجله خپلو هیله والو ته اړتیا لري او هیله وال یې دمجلې ښه والي ته.

خو په هر ډول لازمه ده چې د یو بل په مرسته خپلې ستونزې غوڅې کړو او نیمګړتیاوې له منځه یوسو او په هېواد کې د یو مثبت فرهنګي اوښتون او خوځون لپاره په ګډه هلې ځلې وکړو. ښه به وي که د سیاسي اوښتونو پر ځای د فرهنګي اوښتون او مثبت بدلون لپاره هڅه او هاند وکړو.

دهیلې د ځلا، ښکلا او د هیلې د هیله والو د بریا اوسوکالۍ په هیله.

په درناوي

د هیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# راځئ چې سره کېنو په تغر د روغې جوړې

دوه ویشت کاله وشول چې افغانان له پردیو او هم په خپل منځ کې یو بل سره لاس وگرېوان دي، د جگړې بهرنی لوری ظاهراً د پردې پر مخ نه ښکاري، خو په حقیقت کې اوس هم بهرنی لاسوهنه د جگړې اساسي لامل دی، دا چې بهرنیان د افغانستان په جگړې کې څومره گرم دي او د افغانستان پر وړاندې څومره اخلاقي، انساني او بشري مسولیت لري، دا یو بېل بحث دی اوپه سیاسي ډگر کې څوک چا نه د گیلې حق هم نه لري، ځکه سیاست د کوم اخلاقي معیار تابع نه دی، زړه خوږی،انسانیت، مینه او ورورولي د اخلاقي کلتور برخې دي، له پردیو ان دښمنانو د ښو هیلو لرل په خپله زموږ فکري ارزونه له پوښتنو سره مخ کوي، ښه به دا وي چې هر څه له ځانه پیل کړو، ځان گرم وگڼو او له بحرانه د وتلو لار پیدا کړو.

که د افغانستان د جگړې فکري او تدارکي چارې له بهرنیو سرچینو برابرېدلې او برابرېږي، خو د عملي کولو چارې یې په خپله د افغانانو له خوا ترسره کېدې او پر افغانانو عملي کېدې،افغانستان د مختلفو گروهو او وسلو د ازمونځي حیث غوره کړی دی، ددې ازموینو زهرجن لوگي زموږ ولس تنفس کړي، خو د امتیاز ډیوې یې د نورو خونې روښانه کړي دي.

هرې ډلې او ډلواک چې د ځواک توره ترلاسه کړې او پر واک یې ډډه لگولې نو بیا یې د هېواد د ودانۍ پر ځای د خپلو مخالفانو د کور وراني لپاره توره راکښلې او په وینو یې سره کړې ده ، مقابل لوري بیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غچ اخیستنې ځواک راټول کړی او بیا یې دومره افراط کړی چې لومړۍ ډله د خلکو له یاده وتلې ده، د دوه ویشتو کلونو په بهیر کې دا کار او عملیه څو ځله غبرگ شول او اوس یوځل بیا د اوج پوړۍ ته رسیدلي دي، لویه بدمرغي داده چې زموږ د لوستي قشر د یاد وړ یوه برخه د سرو او شنو، سپینو اوتورو، خوږو او رنگینو شعارونو سراب تېر ایستې وه او په همدغه مخالفو ډلو او ډلگیو کې تنظیم شوې وه، د دې ډلو د ټکر په نتیجه کې د دې لوستو کسانو زیات شمېر هم له منځه لاړ او هېواد ته یې درانه کلتوري، اقتصادي او ټولنیز زیانونه هم واړول. نتیجه یې ان دا راووته، هرې ډلې چې دکومې گروهې د پراختیا او واکمنۍ لپاره چغې وهلې، په پای کې یې عملونه دهمغې گروهې پر ضد تمام شول او اکثر یې بیا له خپل مخالف موقعیت سره یو ځای شول.

د یوې اټکلیزې شمېرنې له مخې دهېواد په سلو کې (۹۵) وگړي نالوستي دي او د لوستي قشر یاد وړ برخه په همدې مخالفو ډلو کې تنظیم شوې وه،د یوې شېرازې ټولنې د جوړېدو لپاره باید لږ تر لږه د وگړو زیاته برخه لوستواله شي او ټول تر حده زیات کار وکړي، که اوس موږ ټول تنظیمونه راټول کړو او غړي هم ټول لوستوال حساب کړو او بیا یې څو ځله زیات محاسبه کړو، نو بیا به هم د افغان ولس لسمه برخه ترې جوړه نه شي، که چېرې دا لسمه برخه وگړي، له اختلاف پرته شپه او ورځ کار وکړي، نو بیا به هم د هېواد د ټولو وگړو ژوند پوره سوکال نه شي کړای.

مختلفو ډلو نه د ولس هیله داده چې دوی خو د نفاق تجربه وکړه، دا ځل دې اتفاق وازمويي، چې مثبته نتیجه ورکوي او که نه؟ اوس هم وخت شته، که د مختلفو فکري لارو د ټکر اوسیالۍ پر ځای مینه،انسانیت او هېوادپالنه د خپلې مبارزې تگلاره وټاکي، نو کېدی شي د نورې ورانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخه ونیول شي او ولس ته د دې امکان برابر شي چې د خپلې ناروغۍ درملنه په خپله وکړي او خپل زخمونه په خپله وګنډي.

زموږ سیاستوال باید لږترلږه یو ځل سر په ګرېوان کې ښکته کړي او خپلې تېرې ورانۍ ځان سره تداعي او محاسبه کړي او دادې هم محاسبه کړي چې دوی نور څومره عمر لري چې بېرته د هغو ورانیو عمران ته ملا وتړي؟ ایا هر تنظیم او دهغه مشر چې افغانستان ته کوم زیان اړولی؟ که اوس یې څوک له ګرېوانه ونیسي چې راشه تاوان یې ورکړه! نو دا ډله او ډلواک به یې پوره کړای شي؟

خو زموږ ولس د ډېرې اوسپلې خاوند دی، دوی ته یې ډېر زغم وکړ او د خدای (ج) دربار ته یې د خلاصون په هیله لاسونه پورته کړل، خدای پاک پر مختلفو ډلو او ډلواکو داسې طاعون خپور کړ او د شرم داسې جامې یې ور واغوستلې چې اوس په بهر کې هم له شرمه ډک ژوند تېروي او په داخل کې خو یې هډو ځای نه شته.

له نویو واکمنو هم دا ګیله کېږي، چې د تېرو، ترخې تجربې تکرار نه کړي، ټولو ته یوه د مینې او صمیمیت فضا رامنځته کړي، چې خپل ولس یې سوکاله او ارام شي:

«راځئ چې سره کینو په ټغر د روغې جوړې
په خپل وطن کړو جوړ ملي اختر د روغې جوړې»

په ټول هېواد کې د ملي خوشالۍ او سوکالۍ په هیله
دهیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا دنیا چا شل کړې ده؟

په پښتو کې (شل) له (شمېرنومه) پرته یوه داسې نومونه هم ده چې د یوه سخت اونا شوني کار د بشپړاوي لپاره کارول کېږي، یانې داچې یو چا د یو ستومزمن کار وروستی مورچل وواهه، نو بیا ورته وایي چې ده (شل) کړه، ځکه خو دډېرو دنیایي کارونو او چارو په باب ویل کېږي چې ((نولس کېږي، خو شل کېږي نه)) پښتنو په حقیقت کې (شل عدد) د هر هغه ستونزمن کار لپاره چې ترسره کول یې یو خارق العاده اند وځواک غواړي یو معیار ټاکلی، دې معیار ته رسېدل څه اسان کار نه دی، او هر څوک یې (شل) کولای نه شي.

ډېرو لسو، پنځه لسو، اوولسو او نولسو ته رسولې خو شل کړې یې نه ده، خوداسې خلک هم شته چې نه یوازې شل کړې یې ده ، بلکې تر هغه څخه د لا لوړتابه په تکل دي.

همدا ((هیله)) همدا چې تاسو یې اوس لولئ، همدا به درته بېلګه کړو، یو وخت چې مورډ هیلې لومړنۍ ګڼه د اغزن ذهني چاپېریال له ډول ډول خنډونو او فشارونو سره سره چاپ او خپره کړه، نو سم له لاسه لکه د ځینو نورو پښتنو مهالنیو خپرونو په څېر د هغې د مړینې انځور هم په ذهن کې تېر وبېر شو، خو کله کله به تخیل اوتصور د ذهن پر سترګي ارمان یو خوږ شال را خور کړ او دې ارمان به مو غځونې وکړې: ((یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت به داسې هم راشي چې د مجلې (شلمه) ګڼه خپره شي او موږ ورته د خوښۍ او نمانځنې جشن جوړ کړو)) دا دی له هغې ورځې (۱۱٤۰) ورځې تېرېږي او نن موږ هغه هدف ته رسېدلي یو، چې یوازې په تصور کې مو لاس ورته رسېدی شو او بس، پر دې مهال برې وکه نابرې، ارامۍ وې او که نا ارامۍ، دمې وې که ستړیاوې، منډې وې که ناستې، ټول له یو ډول روحي ډاډ سره ملګري وو، همدغې اروايي خوړلنۍ زموږ متې مضبوطې کړې وې، نو ځکه مو خبره له (صفره) (شلو) ته ورسوله، داچې له مانیز پلوه به شلو ته رسېدلي یو که نه؟ ګرانه به وي خو د عدد له مخې مو هغه شمېره ترلاسه کړه، چې ډېر یې په ترلاسه کولو کې پاتې راغلي دي، د هیلې د شلمې ګڼې خیرېدا موږ ته دا په ډاګه کوي، چې که د هېوادني فرهنګ لپاره مینه، ولوله، اند، مالي ځواک او صداقت ټول سره ملګري شي، نو په هېواد کې د فرهنګې رکود او سقوط مخه نیول کېدی او د بیا رغونې لپاره لارې چارې برابرېدی شي.

اوس مهال چې د ژوند د نورو ډګرونو په شان فرهنګي ډګر هم زیات کار او خدمت ته اړتیا لري، د فرهنګیانو او فرهنګپالو مسولیت هم تر بل هر وخت څخه درنېږي، اوس باید موږ د پخوا په انډول څو برابره کار وکړو، ویجاړ شوی او تالا شوی فرهنګ بېرته تر لاسه کړو، هڅه او هاند وکړو چې له فرهنګي پلوه؛ تر کودتايي او کړکېچنو نظامونو د مخه حالت ته ورسوو او بیا نوره هڅه وکړو چې د هېواد دفرهنګي پرمختیا لپاره لاره چاره برابره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لنډه دا چې فرهنگيان او فرهنگپال بايد جگړه مارو ته وښيي چې که تاسو د هېواد په ورانۍ او خيانت کې نه ستړي کېږئ، موږ يې په ودانۍ او خدمت کې نه ستړي کېږو، تاريخ به بيا پر دواړو قضاوت کوي.**

**ډېر تفاوت شته په انسان کې دمانا په لحاظ**
**واړه مشغول دي ځينې ځان ځينې جهان جوړوي**

**په درناوي**
**د زياتو فرهنگې هڅو او خدمتونو په هيله**
**دهيلې اداره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اوسنیو پښتو خپرونو موضوعي وېش

هغه فرهنګي خپرنیزه تشه چې پخوا د پښتو خپرونو د نشتوالي او کموالي له کبله احساسېدله، دادی د خدای (ج) په لورېینه او د ګڼو فرهنګپالو په همت اوس تر یوه بریده ډکه شوې او ډکېدونکې ده.

اوس د کال له لومړۍ ورځې نه نیولې بیا د کال تر وروستۍ ورځې پورې هېڅ داسې ورځ نه شته چې په هغې کې دې په پښتو ژبه کومه خپرونه چاپ نه شي، له ورځپاڼو نیولې تر کالګڼو او ځانګړو ګڼو پورې، هر ډول جریدې، مجلې او نورې خپرونې خپرېږي، که اوس یوازې د پښتو مجلو شمیر په پام کې ونیسو، نو شمېر یې تر لسو عنوانو اوړي، همدا اوس یا په منظم ډول او یا هم په لږ ځنډ سره ، سباوون، باختر، ګوربت، داستانونه،شمشاد، هیله، ګندهارا، ورځ، کونړ، ننګرهار، خوست، شمله او دوه ژبې لکه مستقبل، وطن، تعاون، معارف، رنګین کمان، سپیده، اسمایي، صدف، روزنه، کابل پوهنتون، صبا ، خلافت، کتاب او ځینې نورې مجلې خپرېږي.

د مجلو دې شمېر او څرنګوالي ته چې سړی ګوري، نو په زړه کې یې ډېرې فرهنګي هیلې راټوکېږي، که دازادو خپرونو دا ګړندی او ګڼشمېره بهیر همداسې ګړندی روان وي، نو بې له شکه به زموږ فرهنګ ته زیاته وده ورکړي، ګڼ شمېر لیکوال، شاعران او د قلم خاوندان به را وټوکېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ډېر به په کې وځلېږي، خو له دې سره سره که ازادۍ او دولتي خپرونې وخت پر وخت ونه ارزول شي او د نيمګړتياوو له منځه وړلو لپاره يې هڅه ونه شي، نو کېدی شي ځينې يې خپل ارزښت او اغېز وبايلي او ځينې آن د انحراف خواته لاړې شي.

لکه څنګه چې څرګنده ده، اکثره خپرونې ظاهراً د يو نېک کار او خدمت په هيله پر خپرونو پيل کوي او په ټوليز ډول د عقيده يي، هېوادنيو،ملي، فرهنګي، ټولنيزو او پوهنيزو مسايلو د خدمت په نوم او هيله خپرونې کوي.

اوسنۍ پښتو-افغاني خپرونې هم د همدې نومونو او موخو پر چورليز راڅرخي، په دې کې يوشمېر داسې خپرونې شته چې ټولې يوه موضوعي ليکه تعقيبوي، نه يوازې د ليکنې محتوايي بهير او رنګ له يوې بلې سره يو شان وي، بلکې د خپرونې ظاهري بڼه، استر او ډيزاين يې هم يوې بلې ته ډېر ورته وي، دا ستونزه په ازادو خپرونو کې ډېره احساسېږي او داسې ښکاري چې د ځينو خپرونو چلوونکي پر موضوعي فقر اخته دي. له موضوعي فقر،پاشلتيا، ګډوډۍ او بې ځايه رنګارنګۍ نه د خلاصون او ژغور لپاره په کار دي چې د يوې مجلې او خپرونې لپاره داسې يوه مشخصه مانيزه او آن شکلي تګلاره او کړنلاره وټاکل شي، چې نورو خپرونو تر اوسه نه وي تعقيب کړې.

په پښتو کې يې غوره بېلګه ((داستانونه)) مجله ده، چې د هېواد د پياوړو ليکوالو؛ اسدالله غضنفر او اجمل پسرلي په نوښت او هڅو رامنځته شوې ده، دا مجله يوه ځانګړې موخه تعقيبوي او هغې ته ځکه د خدمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوګه کېدی شي چې د چلوونکو ذهني او فزیکي ځواک پر یوې واحدې موضوع باندې راټول شوی دی.

هغه مجله چې په ټولیز ډول یو لوی ملي ارمان ته خدمت خپله دنده ګڼي، د ملت جوړونې بهیر ګړندی او پیاوړی کوي او د خلکو د شعور کچه اوچتوي، د هغوی د کار ساحه نسبتاً پراخه ده، ددې مجلو لپاره په کار دي چې د داسې کسانو له خوا ایډېټ او خپرې شي چې د ملي خدمت او خیانت تر منځ ټولې پولې ورته معلومې وي او خپله هم په بنه پوره ډول د ملي ولولې څښتن وي، داسې لیکنې چې دټولنې په هره برخه کې ګټورې وي، ملت رغاندې او هېواد رغاندې وي، خپرې کړي، په دې برخه کې هم د لیکنو موضوعي تسلسل ته پاملرنه په کار ده، خو اوس ځینې داسې خپرونې شته چې یا خو یې موضوعي تګلاره تته ده او یا بېخي نه شته او ځینې په کې د نورو خپرونو کاپي کوونکې دي، پر یوه موضوعي لیکه د ګڼو خپرونو خپرول د لوستونکو په ذهن کې د یو رنګۍ فکر پیاوړی کوي او په نتیجه کې د ذهني سترړیا سبب کېږي، پر ګڼو خپرونو د پخو لیکوالو د لیکنو وېش هم د مجلو مانیز ځواک سره وېشي او د یوې (بنې) پر ځای، ډېرې (کمزورې) مجلې راوځي، البته دلته باید داسې ونه انګېرل شي، چې دخپرونو زیاتون ګټه نه لري، د خپرونو زیاتون یا کمیت په حقیقت کې د هغو د کیفیت سبب کېږي، د ګڼ شمېر لیکوالو د راټوکېدو او ځینو نورو د ځلېدو لامل ګرځي، د څو تنو چلوونکو ( ور-ناوړ) انحصارماتېږي، خو اصلي موخه داده چې ګڼې خپرونې باید ګڼې موضوعګانې راونغاړي، نه داچې ټولې یوې موضوع ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړم شي، که چېرې هره خپرونه یوې مشخصې موضوع ته ځانګړې شي، نود خپرونو موضوعي وېش له مخې به د لیکنو وېش هم رامنځته شي، دې سره لیکوال اړ وزي چې هر څوک له خپلې لېوالتیا سره سم په خپله ځانګیزه برخه کې لیکنې وکړي او اړوندې خپرونې ته یې ورکړي.

د خپرونو تر منځ محسوس او نا محسوس رقابت به هم پای ته ورسېږي، ځکه چې د هر چا د کار ساحه به مشخصه شي، د کار د همدغې وېش په پایله کې به د ټولنې ټولې اړتیا وړ خواوې په متوازن او انډولیزه توګه وده وکړي، د افراط او تفریط دېوالونه به ونړول شي او د یوې بې خطره منځنۍ لارې پر لارې به خپلې هیلې ته ورسېږو.

((هیله)) د همداسې هیلې د پوره کېدو په هیله ده

په درناوي

اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فرهنګي کار جغرافيايي موقيعيتونه

ددې څو ورستيو کلونو په بهير کې د يو شمېر فرهنګيالو او فرهنګپالو افغانانو په همت افغاني فرهنګ ته د خدمت کار ښه په خوند او درز کې روان دی، کېدی شي نور هم بډايه او ګړندی شي، دې فرهنګي کار ته ډېرې هيلې شته، خو د اغېز او کار د څرنګوالي په باب يې هم له همغه پيله او هم دا اوس يو لړ پوښتنې وې او شته، ښنستيزه خبره داده چې زموږ د کار اساسي موخه افغانستان او افغاني فرهنګ ته خدمت دی، نور هدفونه د همدې اساسي هدف پر شا وخوا راڅرخي، خو اوس راځو دې ته چې زموږ فرهنګي هڅو د خپلې نښې منځ ويشتلی او که نه؟ فرهنګي هڅې په تېره بيا خپرونې افغانستان ته رسېدلي او که نه؟ که چېرې دې موخې ته نه يو رسېدلي، نو ددې مانا دا ده چې موږ په حاشيه کې يو او متن ته دننه شوي نه يو.

اوس د لوی خدای(ج) په فضل او په خپله د افغان فرهنګيانو او خدمتګارانو په همت په بهر کې ګڼشمېر فرهنګي ټولنې جوړې شوي او د ټولو په تګلار کې راغلي چې د خپل هېواد فرهنګ او ژبې ته به خدمت کوي.

دا فرهنګي ټولنې عملاً پر خدمت بوختې دي، خو د ډېرو کمو فرهنګي ټولنو اغېز په هېواد کې محسوس دی، د اغېزمنو ټولنو د بېلګې په توګه د افغانستا د کلتوري ودې ټولنه او د پښتني فرهنګ ودې او پراختيا ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادولای شو، دوی خپل ګڼشمېر خپاره کړي اثار د هېواد داخل ته لېږدولي او هلته يې د هغې فرهنګي تشې په ډکولو کې ونډه اخيستې، چې له اوږده؛ نږدې دوه نيمو لسيز ناورين څخه رازېږېدلې ده، البته يو شمېر نورې ټولنې به هم وي چې په بهر کې به ښه په ځل او بل کې کارونه کوي، هلته به يې اغېز هم زيات وي، خو په هېواد کې يې اغېز زيات محسوس نه دی، البته دا خبرې باید داسې ونه انګېرل شي چې تر هېواد د باندې فرهنګي هڅو او خدمتونو ته اړتيا نه شته، هلته هم د افغانانو د ژبې، کلتوري او ملي وياړونو د ژوندي ساتلو او ځلولو لپاره او همدا راز د نوي پښت د مسخه کېدو د مخنيوي په خاطر زياتو فرهنګي هڅو ته اړتيا ده، خو هر وخت او په هر ځای کې بايد موږ خپلې مهمې اړتياوې تشخيص کړو او بيا يې د خړوب لارې ولټوو، افغانستان د ټولو افغانانو لپاره د شمسي نظام په شان دی، په دې شمسي نظام کې افغانستان د لمر په څېر دی او نور افغانان د ستورو او سيارو په شان، که موږ فرض کړو چې په شمسي نظام کې لمر نه وي او يا يې رڼا تته وي، نو نور ستوري به هم له مداره ووځي او رڼا به يې تته شي، نو اوس موږ ټولو ته په کار ده چې تر هر څه لومړی د لمر ځلا ته له ورپېښو خطرونو او ګواښونو سره مقابله وکړو، که چېرې افغانستان کې د فرهنګ ډيوه روښانه وي، نو د دې ډيوې رڼا به د افغانانو خونې تر لرې لرې ځايونو پورې روښانه کړي، خو که چېرې په لوی کور کې تياره وي، نو پر وړو خونو به په خپله تياره واکمنه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې زموږ پر هېواد یو ځل د بل چا ژبه او کلتور واکمن شول او هېواد د نورو تر کلتوري یرغل لاندې راغی بیا خو نو ټول بهر مېشتي افغانان په ډېره اسانۍ د نورو په کلتور کې ډوبېږي، ځکه چې د دوی روحي، ژبني، فرهنګي او مانیز ډاډ ځای له منځه لاړ او دهیلو چینه یې وچه شوه.

اساسي خبره داده چې موږ تر ټولو لومړی د فرهنګي او ملي کار جغرافیایي موقعیتونه تشخیص کړو، د کار زیاته برخه خپل هېواد؛ ګران افغانستان ته ځانګړې کړو. بیا پاکستان او ځینو نورو ګاونډیو هېوادونو کې د اوسېدونکو افغانانو د مسخه کېدو د مخنیوي لپاره هڅې وکړو او د کار دریمه برخه په لویدیځو او ځینو نورو هېوادونو کې، د افغانانو لپاره فرهنګي او ملي کار ته بېله کړو.

اوس خو همدا امکانات دي، چې د لویدیځمېشتو افغانانو مالي امکانات، په کوزه پښتونخوا کې تخنیکي امکانات او خلاصه فضا او تر هېواد دننه د افغانانو فرهنګیانو فکرونه او قلمونه سره ملګري او مثمره نتیجه تر لاسه کړو، که چېرې د هر جغرافیایي موقعیت د وګړو د شمېر او دهغو د استحقاق له مخې خپله لاسته راغلې ثمره پر همدې جغرافیایي موقعیتونو وویشو نو بیا به مو هم د انصاف پر لوري اساسي ګامونه اخیستي وي او ټول افغانان به په متوازنه توګه له فرهنګي برياوو اولاسته راوړنو څخه برخمن شوي وي، د دغو جغرافیاي موقیعیتونو ترمنځ ډېر اغېزمن او ذهني دېوالونه او نورې ستونزې شته، خو د هغو د حل لپاره هم باید له اړتیا سره سم ګامونه پورته شي، که چېرې اکثره افغان فرهنګیان

(c) ketabton.com: The Digital Library



(هېوادمېشتې او بهرمېشتي) د قربانۍ او تدبیر په یو ځای کولو سره عملي هڅې وکړي، نو پوره باور دی چې هم به فرهنگي برياوې ولرو، هم به په هر جغرافيايي موقعيت کې د اوسېدونکو افغانانو تر منځ فرهنگي انډول رامنځته شي، هم به دايمي اړيکي ټينگ شي، هم به فرهنگي خلاوې له منځه لاړې شي او هم به له فرهنگي او ژبني پلوه د افغانانو د مسخه کېدو مخه ونيول شي.

د همداسې یو ستر ارمان د بري او همداسې یوې ورځې د را راسېدو په هیله

د هیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوه ملتپاله فرهنګي ستراتیژي

د نړۍ اکثره هېوادونه د خپلې ملي ستراتیژۍ پر بنسټ جوړشوي دي، فرهنګي ستراتیژي او هڅې ملي ستراتیژي او د ملت مټ غښتلي کوي او ځواکمنوي يې. اکثره سیاسي نظامونه او حکومتونه د ملت دبقا ، پرمخیون او سوکالۍ لپاره د نورو لاملونو ترڅنګ دا سترعامل تل په پام کې ساتي. زموږ په هېواد کې هم د افغانستان له جوړېدو راهیسې بیا د ثور تر ناورینه پورې اکثرو حکومتونو خپل سیاسي تګلوري دملي ستراتیژۍ او ملي ارمان پر بنسټ عیار کړي وو، خو د ملت جوړونې او دهغه د غښتلتیا لپاره بیا فرهنګي هڅې پوره همغاړې نه وې، په دې مانا چې په ژبنۍ برخه کې د هېواد اکثریت ژبې(ملي ژبې پښتو) ته دویم رول ورکړل شوی او په نورو فرهنګي برخو کې هم د ملت جوړونې لپاره په پاخه تدبیر کار نه کېده. ځکه نو په دې دومره کلونو کې د یو واحد ملت جوړونې بهیر له خنډ وځنډ سره مخامخېده. خو زموږ ګاونډیانو بیا نه یوازې خپلې فرهنګي او ملي ستنې ټینګولې، بلکې زموږ د ګران هېواد د ویجاړونې او د افغان ملت د پاشنې لپاره یې هم یوه ستراتیژي جوړوله. و ګورئ زموږ د یو ګاونډي (ایران) واکمنو پر دریېو سیاسي بنسټونو خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېواد او ملت تېنګک کړی: ایران پالنه، پارسي پالنه(ژبپالنه) او مذهب پالنه(شیعه مذهبپالنه). په ایران کې چې هر سیاسي نظام راځي، نه یوازې دې درېیو اصولو ته درناوی کوي، بلکې د هغو د لاپیاوړتیا لپاره هم هڅه کوي، ان تر دې حده چې غواړي سیوری یې زموږ پرهېواد هم را خورکړي.

زموږ یو بل ګاونډي چې د اسلام په نامه یې دخپلو ملي ګټو د تضمین لپاره یوه اوږده ستراتیژي جوړه کړې، د افغانستان د کمزوری لپاره یې هم یو اوږد پلان جوړ کړی و. نظامونه په کې ډېر بدل رابدل شول، خو یو نظام یې هم نه د اسلام په نامه جوړه کړې پالیسي بدله کړه او نه د افغانستان په باب خپله ستراتیژي.

اوس خو ټول افغانان پردې پوهېږي چې هېڅ ګاونډی بل ته په زړه کې صاف نه دی؛ (هر سړی تر خپل مطلبه پورې یار دی)، نو خپله موږ ته څه په کار دي چې یوڅه باید وکړو؟

کېدی شي ځینو سره دا پوښتنه راولاړه شي چې د افغانستان اساسي بنسټونه او دملت رغنده توکي نړول شوي او له منځه وړل شوي، افغانان ځپل شوي، نتل شوي او اسکېرل شوي، نور نو په چا کې دمه او شیمه نه شته چې بیا دې پورته شي او د یو قوت په توګه دې ځان راڅرګند کړي. نن افغانان دومره ځپل شوي چې تش د شعار ورکولو ځواك هم نه لري، اقتصادي تنګسیا او نورو ناوړه چلندونو او ناخوالو دومره پسې اخیستي، چې نن هویت، حیثیت او عقیدې ته یې هم خطر دی اود حضرت پیغمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد(ص) د هغه حدیث :"ډېر خلك به له فقر نه کفر ته متمایل شي." پوره عملي کېدنې ته خبره رسېدلې ده.

خلك د خپل افغاني هویت د بدلون په هیله خیراتونه کوي او نذرونه ورکوي. پر افغانانو خپل هېواد داسې سور تنور شوی چې اوس د اکثرو افغانانو په زړه کې بهر ته د تګ هوا او فضا ګرځي راګرځي او ځینې خو ورته ان د خپلې عقیدې په قیمت هم حاضر دي.

واکمنو او د هغو مخالفینو لپاره، خو ځان ته ځکه د مشورې او نصیحت حق نه ورکوو، چې ځوك کله د ځواك او قدرت په ټال زنګېږي، نو بیا یې د ملت سطحې ته راټیټول ګرانه خبره ده، هغوی خپله ستراتیژي لري او هغه به پلې کوي.

د عام ملت رنځونو ته خو مو وړاندې نغوته وکړه، یوازېنۍ سرچینه چې لږ د امید سترګې ورته اوښتی شي، هغه دهېواد د شعوري قشر همدا څو په شمېر فرهنګیان او فرهنګپال دي اوبس.

لیکوال دټولنې تر ټولو شعوري او اندیال قشر دی، دوی کولای شي په خپلو لیکنو د ټولنې ذهني تګلوری بدل کړي، ان هغه واکمن چې زړونه یې تر کاڼو هم کلك دي، کېدی شي د وخت په تېرېدو سره ډېر نرم کړي او دټولنې ښېرازۍ ته یې پام واوړي.

خو د لیکوالو او فرهنګیانو یوه ډېره غټه ستونزه دا ده چې دوی عاطفي وګړي دي، د حوادثو پروړاندې ډېر ژر غبرګون ښیي، ولوله او جذبه یې ډېره پیاوړې وي، ځینې یې دخپلو عواطفو په چاپېریال کې فکر کوي، ځینې یې لږ څه پراخ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينې يې د ټول ملت په کچه. خو اساسي خبره دا ده، ليکوال بايد پردې پوه شي چې دقلم خاوندان دټولنې تر ټولو شعوري پاړکی دی، دټولنې دشعوري کولو او هڅونې تر ټولو ستره دنده هم ددوی پر غاړه ده، د ليکوالو ترمنځ هم کله کله د ذوقي،سليقه يي او يو شمېر نورو لاملونو له امله اختلافونه پيداکېږي ،دا اختلافونه بيا کله دومره ژور شي چې ليکوال له خپل اصلي کار څخه ځنګ ته کړي، پر شخصي سياليو يې اخته کړي. دې ډول هڅو کې د ليکوال فکري دايره له ورايه ښکاري، چې ډېره تنګه اولنډه ده. اوس نو زموږ د ارمان سرچينه او تمه ځای يوازې همدا فرهنګيان او فرهنګپال دي. که چېرې فرهنګيان د يوه لوی ملي ارمان لپاره کار وکړي او دهغه لپاره له ځان سره يوه فرهنګي ستراتيژي جوړه کړي او تر خپله وسه د هغې د عملي کولو لپاره هڅه و هاند وکړي، نو هم به يې خپل واړه اختلافونه له منځه وړي وي، هم به يې دملت د ملي شعور په پیاوړتیا کې برخه اخيستې وي، هم به يې د خپل ملت او هېواد د پايښت بنسټونه پياوړي کړي وي او هم به روحي ارامي ورپه برخه شوې وي.

ځو دې توان رسي په لوی درياب کې ګرځه
په وياله کې دې زوال وينم نهنګه

د ملي ارمان دبري په هيله
د هيلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (( هیله)) د خپل ژوند د نیمې لسیزې په درشل کې

دهمدې ګڼې په خپرېدو سره دهیلې پر ژوند څلور کلونه واوښتل او پنځم کال یې راپیلېدونکی دی. دا تېر څلور کلونه دهیلې لپاره د زیاتو بریو، ستړیاوو او هیلو کلونه وو.

د هیلې چلوونکو په دې موده کې د خپل ستر ملي ارمان (دهېوادني ملي فرهنګ او ملي ژبې) د پاللو لپاره یوه شېبه هم ارامه تېره نه کړه او د خپل وس او امکان تر وروستي بریده یې لاس او قلم، فکر او خیال پر کار واچول، چې دا بله شوې ډیوه (هیله) مړه او تته نه شي، بلکې لا ځلانده او روښانه شي. ګواښونه اخطارونه، خطرونه، سفرونه، خپګانونه، انتقادونه، لسمونې او سمونې، نقدونه او داغونه ټول یې وزغمل، خو هیله یې پر هغه مستقیمه لاره بوتله چې هدف ته رسېدله.

ښه به وي چې دلته دا ټولې بریاوې، نیمګړتیاوې او ناخوالې سره ډلبندي کړو:

## بریاوې:

موږ په تېرو څلورو کلونو کې چې ټولې (۱٤٦٤) ورځې کېږي، په خپرنی برخه کې په ټولیز ډول (۲٤) ګڼې چې د ټوکونو شمېر یې (۱۸۰۰۰) او د مخونو عمومي شمېر یې (۵۰۰۰) مخونو ته رسېږي، خپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي دي. یانې دا چې موږه هره ورځ خپلو افغانانو ته لږ تر لږه (۳،٤) مخه چاپ کړي او د مجلې د ټوکونو د شمېر له مخې مو هره ورځ (۱۲،۲۹ ) ټوکه مجله ټولنې ته وړاندې کړې ده. په ویاړ سره ویلای شو چې دا د هیلې یو ستر ملي ریکارډ دی، چې په همدې وخت کې نه تر هېواد دننه او نه بهر، نه حکومتي چارواکو او نه کوم بل چا په دومره څرنګوالي او څومره والي سره او بیا په همدې قید شوي واټن کې په پښتو ژبه داسې خپرونه چلولې ده، نو ځکه ویلای شو چې هیلې د تېرو څلورو کلونو په بهیر کې د څومره والي او څرنګوالي او د چلوونکو د شمېر له پلوه یو ملي ریکارډ ټینګ کړی دی. دهیلې ادارې ته د پورتنۍ خبرې یادونه هم یوه غټه سپین سترګې ښکاري، خو که سړی له حقیقت او واقعیت څخه سترګې پټې کړي، نو دا به هم د اشخاصو له کړي او شوي کار سره بې انصافي وي.

## محتوایي برخه:

هیلې مجلې په تېرو څلورو کلونو کې په ټولیز ډول تقریباً (۱٦۰۰) عنوانه بېلابېلې لیکنې او شعرونه خپاره کړي دي. چې ملي، اسلامي، ټولنیز، طبي، اقتصادي، سیاسي، معلوماتي، انتقادي، روزنیز او پوهنیز محتویات یې درلودل، لنډې کیسې، طنزونه او شعرونه هم په کې شامل وو.

د هرې ګڼې دپښتۍ لومړی مخ دهېواد ملي اتلانو او لوړو شخصیتونو ته ځانګړی شوی و، همدا مسله د مجلې د منځپانګې مرکزي ټکی جوړوي، موږ پر ملي مسله او ملي ژبه ځکه زیات ټینګار کوو، چې همدا برخه د ((سرو))، ((شنو))، ((تورو)) او ((سپینو)) ایډیالوژیو تر برید، ګواښ او خطر لاندې ده او د زیات خدمت اړتیا ورته احساسېږي. که

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ ملت او هېواد نه وي نو بیا خو موږ هېڅ ډول ایډیالوژۍ ته اړتیا نه لرو، ځکه ایډیالوژي ((سره)) وي که ((شنه))، ((سپینه)) وي که ((توره)) په هوا او خلا کې خو نه تطبیقېږي. د هغو لپاره انساني ټولنو او ټاکلو جغرافیایي حدودو ته اړتیا وي. که موږ د هیلې مجلې محتویات سره ووېشو، نو ملتپالنه، ژبپالنه، اسلامپالنه او انسانپالنه یې اساسي توکي دي، خو د ژوند نور ډګرونه مو هم له یاده نه دي اېستلي.

یو ښاغلي کلتوري چارواکي پر موږ دا نیوکه کړې وه چې د هیلې چلوونکي یوازې ژبې او ملت ته اړم شوي او اسلام یې له یاده وتلی دی.

موږ سره له دې چې د اسلام چغې نه وهو، نه مو هغه د ځان لپاره د ډوډۍ، مقام او څوکۍ ګټلو وسیله ګرځولی، خو له خپل خدای(ج) څخه ډېر خوښ یو چې مسلمانان یې پیدا کړي یو، د دین خدمت پر موږ ټولو فرض دی، خو نه د دین په نامه ځان اوچتونه او ځانښودنه.

موږ په هره ګڼه کې ژورو او ضروري اسلامي لیکنو ته ځای ورکړی او هره لیکنه چې موږ ته راغلې هغه مو خپره کړې ده او هم مو ډېرو رښتینو اسلامپوهانو سره د نورو لیکنو لپاره اړیکي ټینګ کړي دي. موږ په هیله کې داسې اسلامي لیکنې هم خپرې کړې دي، چې تر موږ څو میاشتې وروسته بیا هماغه لیکنې په رسمي مطبوعاتو کې دویم ځل خپرې شوي دي. موږ چې هرڅه خپاره کړي دي، هېڅکله د اسلامي اصولو خلاف نه دي او نه به دا کار وشي. موږ هغه مطالب خپاره کړي او خپروو یې چې زموږ د ټولنې لپاره ګټور وي. د یوه ایراني اندیال اسلامپوه ډاکتر علي شریعتي په اند: (( هر څه چې ګټور وي، هغه اسلامي دي)). دلته د (ګټور) تعبیر داسې دی چې جانبي اضرار ونه لري. موږ د اسلام د همدغه پراخ مفهوم په پام کې نیولو سره ګټور مطالب خپاره کړي او خپروو یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکنۍ برخه:

په لیکنۍ برخه کې هیلې د یوه واحد او معیاري لیکدود پلوي کړې او هغه یې تر خپله وسه پورې کارولی دی. معیاري لیکدود د یوې معیاري ژبې په رامنځته کولو کې ډېره مرسته کوي او معیاري ژبه د ملت جوړونې بهیر ګړندی کوي او قبیله یي ذهنیت ختموي. موږ همدغه لوړ ارمان ته د رسېدو په هیله هڅه کوو، چې معیاري لیکدود وکاروو.

دهیلې مجلې په پیلګڼو کې چې موږ ته له بېلابېلو سیمو څخه لیکنې راتللې، نو په لیکنۍ برخه کې یې ډېر زیات اختلاف او توپیر و، خو کله چې موږ د معیاري لیکدود لړۍ پلې کړه، نو اوس خپله لیکوال د مجلې له هماغه معیاري لیکدود څخه الهام اخلي او اکثره لیکنې په همدغه معیاري لیکدود رالېږي، د ژبې د نړه والي په برخه کې موږ یوه منځنۍ لاره خپله کړې ده.

موږ هڅه کړې د ژبني جوړښت په برخه کې تر ټولو دمخه ګرامري جوړښت په پام کې ونیسو او په دویم ګام کې تر ممکنه بریده د ژبې نړه والی. موږ د ژبې د نړه والي بهیر ته په یوواریز ډول بدلون نه ورکوو، بلکې د انډولونو او نویو ویي رغاونو تر دودېدو وروسته هڅه کوو، چې پردي وییونه لرې کړو. که په چورلټ ډول موږ د ژبې د نړه والي پر مسلې ټینګار وکړو، نو مجله به د یوه داسې کتاب بڼه خپله کړي چې د یوه لیکوال له خوا لیکل شوی وي، د بېلابېلو لیکوالو ژبنی سبک او د مجلې رنګارنګي به هم ختمه شي، البته د ژبې نړه والی د ژبې د ساتنې او پالنې لپاره یوه ضروري لاره او چاره ده، خو نه په یو واریز ډول.

## روزنیزه برخه:

هیلې په څلورو کلونو کې ګڼ شمېر لیکوال، نویو لیکنو ته وهڅول او یو زیات شمېر ځوان لیکوال او شاعران یې وروزل. دهغوی په ذهن کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د خپل هېواد او ولس وياړلې ماضي تداعي کړه او د نوي ژوند او سوکالۍ لپاره يې ورته فکرونه ورکړل.

دهېواد يو زيات شمېر نوميالي يې له هېرېدو څخه وژغورل او له ملي تاريخ سره يې د ځوانانو مينه زياته کړه.

په ملي کچه يې د ملي شعور په ويښولو کې کارنده ونډه واخيسته او د ډېرو افغانانو پام يې خپل هېواد، خپل ځان، خپل تاريخ، ملت او خپلې ټولنې ته واړاوه. د ملت جوړونې او پايېدنې رغنده توکي يې ولس ته په گوته کړل.

هيلې په پښتنو افغانانو کې پر خپل ځان د باور روحيه پياوړې کړه او هغه طلسم يې مات کړ چې پښتنو به په خپله ژبه په مستقل ډول خپلواکه مجله او يا خپرونه خپرولای نه شوه. دهيلې تر خپرېدو وروسته د نورو ليکوالو روحيه هم پياوړې شوه او په پښتو ژبه يې خپلواکې مجلې راوويستلې چې اوس يې شمېر تر لسو هم اوړي. البته تر هيلې دمخه هم يو شمېر نوره پښتو مجلې خپرې شوي، خو ملي، ژبنيو او فرهنگي مسايلو ته يې په دې کچه پاملرنه نه ده کړې او نه يې د ولس د ملي شعور په اوچتوالي کې دومره ونډه اخيستې، سره له دې چې د هيلې د ټوکېدو پر وخت سياسي فضا هم ډېره تاوجنه او کرکجنه وه خو بيا هم د هيلې د چلوونکو هوډونه پاخه وو.

## د ليکوالو همکاري او مالي برخه:

په ټوليز ډول په تېرو څلورو کلونو او په تېره بيا په تېر يوه کال کې په ليکنې برخه کې له موږ سره زياته مرسته شوې ده. ټولو په ډېره مينه او له هېڅ ډول مالي امتياز پرته موږ ته ليکنې رالېږلې دي. موږ ته آن دومره ليکنې رارسېدلي چې موږ يې د ټولو د خپرونې وس نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مالي برخه کې موږ په تېرو څلورو کلونو کې د ګډونوالو، بسپنو او نورو مالي مرستو له لارې د مجلې په سلو کې (۳۵) برخې لګښت برابر کړی دی. دمجلې (٦٥%) پاتې لګښت ټول د هېواد د پیاوړي شاعر عبدالمالک بېکسیار له خوا برابر شوی دی. دا هغه بېسارې قرباني ده، چې په ډېرې ستاینې او یادونې ارزي. بېسارې قرباني او اتلولي خو ورته ځکه وایو چې بېکسیار نه پانګوال دی، نه ځمکوال، نه ډېر ګټیالی دی او نه ډېر ګټندوی، یو پردېس افغان شاعر دی چې ایله همدومره ګټي چې خپل ژوند پرې ژغوري او مجله ژوندۍ ساتي. یانې دا چې بېکسیار د خپل ورځني ژوند د اقتصاد پاموړ برخه مجلې ته بېله کړې ده.

## ناخوالې:

څرنګه چې ډول ډول ناخوالو زموږ ټولنه زبېښلې او مروړلې ده او اوس یې هم ځپي، نو د خپرونو چلوونکي، لیکوال او فرهنګیان هم له دې ناخوالو سره مخ دي. هیله مجله هم د درېیو متضادو چاپېریالونو لپاره خپرېږي، لیکوال او لوستونکي یې هم له دې ټولنو څخه دي، په داسې یو حالت کې طبعاً د ذوقونو، فکرونو او ګروهو ټکر رامنځته کېږي.

سره له دې چې هیله په دې برخه کې ډېره بریمنه وه، چې په یادو شویو چاپېریالونو کې یې خپل مینه وال، لېوال او ملګري لیکوال پیداکړي، خو بیاهم څرنګه چې په وروسته پاتې ټولنو کې د خدمت معیار معلوم نه وي، نو ځینو کسانو سره به زموږ د کړي فرهنګي کار په باب شک او ګومان پیدا شوی وي او ځینو خو به لا آن ( سوی تبسم) هم کړی وي. دګواښ، تردید، تهدید او نورو فشارونو عملي او نظري څرکونه هم وو، خو بیا هم زموږ هوډ او تکل کمزوري نه شول، دتحمیلي سانسور، خپلسري او ذهني سانسور یو ډول سیوری هم و، چې زموږ کار یې ټکنی کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نیمګړتیاوې:

هر څوک چې یو کار کوي، طبیعي خبره ده چې که بریاوې ولري، نیمګړتیاوې به هم ولري. موږ هم د بریاوو ترڅنګ یو شمېر نیمګړتیاوې لرلې، چې دلته یې یادونه کوو:

- دچاپ په برخه کې یو څه ځنډ پېښېدل.
- د مجلې د وېش ناسموالی.
- د زیاتو مالي مرستو په راجلبولو کې پاتې راتلل.
- مجلې ته د ټولو راغلو لیکونو پوره نه خپرول او نه ځوابول.
- دمجلې له یوې ګڼې نه بلې ته د چورلټ نوښت نشتوالی.
- د مجلې له یو شمېر استازو څخه د ځینو مینه والو (حق او ناحق شکایت).
- له نړیوالو مطبوعاتو سره په اړیکو ټینګولو او په انټرنټ کې د پاڼې په جوړولو کې پاتې راتلل.

او ځینې نورې نیمګړتیاوې.

## اړتیاوې:

د نړۍ په هر هېواد کې هره مجله او یا بله خپرونه ځان ته ټاکلی پرسونل او دفتر لري، تر ځلورو کلونو وروسته موږ ایله پر دې بریالي شو، چې له یو بل کلتوري مرکز سره هیلې ته یو دفتر پیدا کړو، په مجله کې لا د څو تنو د شتوالي اړتیا هغسې پرځای پاتې ده. که چېرې هیلې مجلې لږ تر لږه ځلور تنه پرسونل او هغو ته ټاکلی معاش لرلای، نو پورتنۍ ټولې نیمګړتیاوې به نه وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هېواد دننه د چارواکو یوازې دومره همکاري چې د مجلې په وېش کې مرسته وکړي.

په بهر کې د زیاتو قلمي همکارانو او مالي مرستندویانو راجلبول.

په پای کې د هیلې له ټولو هغه مینه والو، لېوالو، خواخوږو، لیکوالو او مالي مرستندویانو څخه چې په تېرو څلورو کلونو کې یې له موږ سره همکاري کړې او خپله هیله یې تر دې دمه رارسولې، ډېره مننه کوو، زموږ راتلونکې ګڼه به ان شاالله دهیلې د عمر د نیمې لسیزې لومړی ګڼه وي، هیله ده هیله په خپلو نوښتونو، وړاندیزونو، رغنده نیوکو او رنګارنګ لیکنو ښکلې کړئ.

ژوند مو هیله من او هیلې مو بریمنې شه!

د هیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کار خپله سخت کار دی

زموږ په فرهنګي کړيو او ټوليو کې زيات وخت دفرهنګي کاراوزيار پرڅومره والي او څرنګوالي خبرې کېږي. يو شمېر ليکوال په دې کار کې دمهارت تربرېده رسېدلي دي چې څنګه پر نورو تبصره وکړي، دنوروعيب څرګند او نيمګړتياوې يې په ډاګه کړي. ددې ډول ليکوالوچې ليک کم اوخبرې ډېرې کوي، ذهني انرژي او وخت پردې لګېږي چې دنوروکړی کار بې ارزښته او يا کم ارزښته وښيي.ځينو يې بيا دکره کتونکي جامه اغوستې اوهمدې ته منتظرناست دي چې څوك څه وليکي اوياکوم فرهنګي کار ترسره کړي نو بيادوی ته موضوع پيداشي او د نورو دکړي کار په غندلو،ارزولو او بل ډول ښودلو ځان په ټولنه کې مطرح کړي. په دې ډله کې داسې ليکوال هم شته چې په ادبي او فرهنګي کارکې يې ونډه په سلوکې لس برخې ده خو نيوکې يې نوي برخې دي. دوی بيانورو ته د فرهنګي او علمي کار د لارښوونې او سرته رسونې په لسګونو لارې ګودرې هم ښيي چې بايد داسې وکړي ، داسې وکړي او داسې وکړي. خوکله چې ترې وپوښتل شي، ښه به نه وي هغه کارچې نورو ته يې د سرته رسونې نصيحت کوې، په خپله يې وکړې؟ کله چې له دې ډول پوښتنې سره مخامخ شي، نو بيا درته خپلې لس پلمې، عذرونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزې را د مخه کړي ، والله نو موږ خو په لسګونو ستونزې لرو ایله همغه غوڅې کړو، دوی خو ښه دي ځان یې همدې کار ته وزګارکړی دی.

دوی د هغو کسانو هغه کار و زیار ته نه ګوري چې د فرهنګي کار په خاطر یې د ژوند نورې ستونزې پر شاتمبولي او ځان ته یې دکار و زیار لاره خلاصه کړې ده. د کار خلك همېشه کارکوي، خبرې او نظرونه یې کم وي خو عملونه یې زیات. (د مبصرینو او کره کتونکیو) بیا کارونه کم دي، خو انتقادونه یې زیات.

په ټولیز ډول زموږ په نني فرهنګي بهیرکې دوه ډله لیکوال لیدل کېږي: یوه ډله هغه لیکوال دي چې کارکوي، زیارکاږي او خپلې ټولنې ته د خپل فکر او خیال ثمره وړاندې کوي او دویمه ډله هغه لیکوال دي، چې خپله یا هېڅ کارنه کوي او یا ډېره کمه فرهنګي هڅه کوي، خو د نورو په کار یا د لومړۍ ډلې د کار پر څرنګوالي زیاتې خبرې کوي، په حقیقت کې دوی د لومړۍ ډلې د کار (ارزونې) ته کارویلی دی.

په دې کې بیاځینې کسان داسې هم دي چې کله دکار له نه پیداکېدلو نه سرټکوي، خو کله چې ورته کار پیداشي بیا ترې په شلو پلمو اوړه تشوي او د خپل ذوق، شوق، شخصیت او سلیقې له شان سره یې برابر نه بولي، خو اصلي خبره داده چې په دې ډول اشخاصوکې د لټۍ هغه تومنه ډېره زیاته وي چې سړي ته لنډ مهالی ارام او خوږلني وربښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د طمعې او حرص یوه بله ناروغي هم په ځینو کسانو کې شته، د ساري په توګه هغه پلانی لیکوال ولې موږ ته کار نه پیداکوي؟ ولې موږ سره کارنه وېشي؟ ولې دومره ډېر کار کوي؟ ولې هرڅه ته لاس اچوي؟ ولې پر هر څه خېټه اچوي؟ ولې زموږ په غم کې نه دی او داسې په لسګونو ډوله ولې ولې....

دا ډول (ولې) چې دوی نورو ته راجع کوي، په خپله دوی ته هم راجع کېدی شي، په حقیقت کې همدا (ولې) د دوی پر کاري سستیا، بې تفاوتۍ او د فرهنګي مبارزې په برخه کې د دوی پرناکامۍ دلالت کوي. څرنګه چې اوسمهال فرهنګي هڅې او کارونه تر زیاتې کچې او برېده له دولت څخه ازادو لیکوالو او فرهنګي ټولنو ته لېږدېدلي دي او هغوی د خپل ملي او فرهنګي رسالت له مخې دا فرهنګي کارونه سرته رسوي، د امتیاز خبره په کې هم تر زیاتې کچې مطرح نه ده، یوازېنی معیار فرهنګي کار دی او زیات فرهنګي کار.

نو اوس که چا کې متره وي او فرهنګي کار سره په رښتیا هم مینه لري د فرهنګي کار د ازمون دې سختې اورنۍ بټۍ ته دې راودانګي، خپل ځان دې وازمويي، که د فکر او احساس له دې سخت ازمونه رابهرشو، نو د ټولو باور به راخپل کړي او که داسې نه وي نو دا هم شونې نه ده چې یو څوك دې نه کارکوي ، نه دې سخته زغمي او نه دې هڅه کوي، یوازې ګیلو، مانو او پر نورو باندې پر تبصرو دې وخت تېروي او بیا دې دا طمع هم کوي چې نور دې دی ونازوي، کار دې ورته پیداکړي پرشا دې وټپوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ځکه خو وایو چې (خپله دکارترسره کول سخت کاردی) او هغه څوك چې د کار نه کولو لپاره پلمې لټوي په حقیقت کې خپله هغه بې کفایتي او کمزوري پټوي چې دی یې د هغه کارپروړاندې لري، ښه به دا وي چې موږ نورو ته د کار د نصیحت پر ځای خپله کار ته و دانګو او له نورونه دا طمع هم ونه لرو چې موږ ته باید کارونه پیداکړي او یادې نور زموږ کارونه ترسره کړي، ځکه یوه مقوله ده چې (که غواړې کار ترسره شي خپله یې وکړه). د نړۍ یو سیاستوال به ویل: "څوك چې کارکوي هغه یې د وسایلو په لټه کې وي او څوك چې کارنه کوي هغه یې د دلایلو"، نوموږ ته هم لازمه ده چې د کار سرته رسولو لپاره وسایل پیداکړو، نه د هغه د مخنیوي لپاره دلایل.

په درناوي

هېواد او ملي فرهنګ ته د زیات او مثبت کار په هیله

د هیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانستان، اسلام او پښتو؛ درې ستر ارزښتونه او چوپه خوله خد مت

په وروستیو دربېیو لسیزو کې چې په افغانستان کې جګړه ییزو سیاستونو او جګړه مارو ګوندونو ته دژوند، شعار او غږ پورته کولو لاره اواره شوې ده، نو دې ډلو ټپلو نه یوازې زموږ هېواد ته ستر مالي تاوانونه اړولي، بلکې ټوله ټولنه یې له ستر بشري ناورین، ذهني او روحي ناروغیو سره مخ کړې ده.

دې ګوندونو او ډلو له سترو معنوي ارزښتونو او ایډیالونو سره هم لوبې وکړې، هغو چې ځان یې دخلکو مدافعین ګڼل او د"افغانستان خلکو دیموکراتیك ګوند" په نامه یې ګوند جوړکړی و، دخلکو دګټو، ژوند او هوساینې شعارونه یې ورکول، هغوی تر ټولو لومړی دخلکو په ورکاوي، سپکاوي، وژنې او ترټنې پسې متې رابډ وهلې، خو یو وخت بیا داسې راغی چې دهمدې ګوند غړي او مشران دهمدې ګوند په نامه شرمېدل، نو ځکه خو یې "دوطن ګوند" په نامه ونوموه ، یو چا دپوهنتون له یوه استاد څخه وپوښتل چې دوی ولې خپل ګوند د " دوطن ګوند" په نامه یادکړ، هغه ورته وویل: ((ځکه چې خلك یې وشرمول اوس دوطن وار دی.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوی پر وړاندې بیا اسلامي ګوندونه راپورته شول، چې په عمل کې په کې اسلام و که نه و، خو په اصولو او نومونو کې ټولو اسلام یاداوه. بیا داسې وخت راغی چې دوی هم داسلام په نامه داسې ناوړه کارونه وکړل چې کفرکې به هم چا نه وي کړي، د هر اسلامي تنظیم نوم چې به چا واخیست ، نو په ذهن کې به یې د غلو او داړه مارانو یوه ډله او دوحشت او بربریت یوه څپه تداعي شوه، د دوی د نوم د مانا او د دوی د عملونو ترمنځ دپېښ شوي تضاد یوه بېلګه به راوړو:

په کابل کې د یو ښاري کور د (اتحاد اسلامي) او ( وحدت اسلامي) ګوند ترمنځ دپېښو شویو جګړو له کبه لوټ او تباه شوی و. یوه شپه دکور یو ځوان له خپلې مور او نورو غړو سره دماسخوتن ډوډۍ ترخوړلو وروسته دالله (ج) دربار ته لاسونه پورته کړل او دعایې وکړه چې ای خدایه! زموږ کورته (وحدت) او (اتحاد) راولې چې موږ نور له دې دربد دریو خلاص شو.

په دې وخت کې یې مور په لړزېدلي غږ ورته وویل! وه زویه دادې څه وویل، خدای دې (وحدت) او (اتحاد) زموږ کورته نه راولي، ځکه چې همدغو خو زموږ کور لوټ کړ او موږ یې درپه دره کړو. ددې ښځې په ذهن کې د (وحدت) او (اتحاد) کلمې د ( اسلامي وحدت او اسلامي اتحاد) تنظیمونو په مانا تداعي شوې وې. سره له دې چې ددې دواړو تنظیمونو په نومونو کې د یووالي مانا پرته ده، خو په عمل کې دواړه دیووالي او اتحاد پرضد وو. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



" اسلامي" کلمې له مانا سره یې عملي تضاد هم همداسې دروا خله!

همدارنګه نورو لویو وړو ډلو هم کله چې د افغانستان او یا د پښتو ژبې ستاینه او یادونه کړې دعملي خدمت پرځای یې ورته زیان اړولی دی، ځکه چې ددې ډول کسانو دشعار جذبه پیاوړې او د عملي کار قوه یې کمزورې او یا هم په نشت حساب وه، دغه راز یو شمېر خلکو دخپل ځان او شخصیت دتبارز لپاره هم ستر ارزښتونه لکه اسلام، وطن، ملت او ژبه(پښتو) په ناوړه بڼه کارولي دي.

داسې خلك هم لیدل شوي چې هېڅ ډول اخلاقي، علمي او هنري شخصیت نه لري، په اصطلاح د دوو خرو اوربشې به نه شي بېلولای، خو له سترو ایډیالونو به یې شعارونه جوړکړي وي او ځان به پرې ځلوي، یو شمېر ژبپالو( پښتوپالو) هم دعملي خدمت پرځای د ګړنیز تبلیغ لمن نیولې او غواړي په دې ډول په ټولنه کې دیوه محرومیت دانعکاس له کبله ځان تثبیت کړي، ځینې داسې کسان هم شته چې دژبې دپورته کولو اواز یو مقام ته رسولی، خو کله چې دعملي خدمت وخت رارسېدلی ، بیا یې دخپل مقام په خاطر ځان غلی کړی، نو ځکه خو شاعرچې دټولنې تر ټولو ځیرمن موجود دی، دې رمز ته متوجه شوی او وایي:

څوك چې دپښتو په نوم ښاغلي دي

هغه د پښتو پر مـــری غـــلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینو سیاستوالو بیا دخپلو ناوړو عملونو له کبله دافغانستان نړیوال حیثیت او غرور پیکه کړ. تر نن تقریباً ۲۱کاله وړاندې ښاغلي سلطان کشتمند په یوه مرکه کې څرګنده کړې وه: ((موږ افغانستان ته دومره خدمت وکړ چې دټولې نړۍ په کچه موږ خلکو ته ور وپېژنده، خو تر موږ دمخه افغانستان په نړۍ کې چا نه پېژنده.))

ښاغلي سلطان علي کشتمند او د هغه ګوند پر افغانستان د راغلې وروستۍ غمیزې او پردي ښکېلاك له امله هغه ته دخپلې خپلواکۍ او ناپېیلتوب دقربانۍ په بدل کې یو دردوونکی او غموونکی شهرت ورکړ، نه هغه عزت، شهرت، حیثیت، ژوند او مقام چې پخوایې درلود.

ددې خبرو مانا دا نه ده چې موږ باید ایډیالونه ونه لرو او ملت پر واحدو ایډیالونو راټول نه کړو، بلکې هدف دا دی چې ایډیالونه باید پیکه نه شي او ناوړه ګټه ترې وانه خیستل شي، دسترو ایډیالونو دځلونې بري او هغو ته درسېدنې لپاره ایډیالو شخصیتونو، سپېځلو لارښوونکو او رڼو لارویانو ته اړتیا ده، موږ باید په ړندو درنا شننه ونه کړو او نه له کرغېړنو اشخاصو دایډیال نظام دجوړولو هیله ولرو. دسترو ایډیالونو دمسخه کېدو دمخنیوي لپاره یوه لاره داده، هغه څوك چې سترو ارزښتونو او اوچتو ایډیالونو سره دمینې جذبه په زړه او دتدبیر قوه په فکر کې ونه لري، باید د لویو ایډیالونو شعار ته پرې نه ښودل شي، اوس دعمل نړۍ ده، په تشو شعارونو نه کلي اباديږي، نه ښارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نه ایډیالونه پرې برې ته رسي، بلکې دلویو ارزښتونو دسولېدو او پیکه کېدو سبب هم ګرځي، نو ښه لاره دا ده چې موږ دشعار پرځای عمل ته ترجیح ورکړو او څه شی چې غواړو هغه په عمل کې خلکو ته څرګند کړو او دخپل ایډیال مطابق له ځان نه همغسې ایډیال شخصیت جوړکړو. ددې کار ګټه به داوي چې دوچو شعارونو له کبله به دلویو ایډیالونو دپیکه کولو مخه نیول شوې وي، که څوك افغانستان ، اسلام، ملت او پښتو ته خدمت کوي، نو ښه کار دادی چې چغې دې نه وهي، او شعارونه دې نه ورکوي، عملي خدمت دې وکړي او دخدمت په هنداره کې دې خپل ارمان وځلوي، ځکه چې دعمل دخاوند او دوینا دښتن ترمنځ دشخصیت له پلوه ډېر تفاوت وي، هغه د استاد الفت خبره:

د عمل دخاوندانو په حضــور کې
د وینا خاوند ولاړ لاس په سلام دی

افغانستان، اسلام، افغانانو او پښتوته درښتیني او عملي
خدمت په هیله
په درناوي
دهیلې اداره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بحراني شرايط او فرهنگي کار

هره ټولنه چې له کوم سياسي، پوځي، ټولنيز بحران او ناورين سره مخامخ شي، نو د ټولنې ډېر ستر ارزښتونه او ايډيالونه هم ورسره له ډول ډول ګواښونو او خطرونو سره مخامخېږي. کله چې دټولنې ستر او مانيز ارزښتونه او ايډيالونه لږ کمزوري شي، نو د ټولنې وګړي له ذهني پلوه سره وېشل کېږي، همدغه وېش ددې سبب ګرځي چې د ټولنې دخلکو ذهني ځواك له يو بل سره په اختلاف کې اوبه شي او دترقۍ او سوکالۍ لپاره ورته څه پاتې نه شي.

زموږ ټولنه هم په تېرو درويشتو کلونو کې له ډول ډول سياسي او پوځي بحرانونو او نورو ډول ډول غميزو سره مخامخ شوې ده. له دې غميزو څخه راپيدا شوي زيانونه دومره زيات دي چې که له هره پلوه يې وسنجوو نو ساری به يې نه زموږ دهېواد په تاريخ او نه دنړۍ دنورو ولسونو په تاريخ کې وليدل شي او که سړی د احساس له زاويې ورته ځير شي نو غوني به يې زېږه شي.

افغاني ټولنې ته د اوښتو زيانونو په اوږدې لړۍ کې فرهنګي زيانونه د ډېرې ويرنې وړ دي. له ملي موزيم، سيمه ييزو موزيمونو، دباميانو دسترو تاريخي مجسمو، علمي مرکزونو او لويو کتابتونونو را نيولې دليکوالو تر شخصي کتابتونو پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول لوټ او تباه شوي دي. دهېواد پر فرهنګ داسې پرله پسې ناتارونه راغلل چې يو تربله دردوونکي وو، ان تر دې بريده چې دټولو ليکوالو، فرهنګپالو او نورو هېوادپالو هيلې يې ومروړلې.

په داسې بحراني شرايطو کې دفرهنګي کار او فرهنګي خدمت خبره مطرح کول يو بابيز او بې اغېزې کار ګڼل کېږي، لامل يې دا دی يو خو دا چې دفرهنګي ويجاړونې لړۍ لا بنده شوې نه ده او بل دا چې دژوند دنورو خواوو اړتياوې دومره مهمې شوي چې که هغه پوره نه شي، نو خپله ژوند له ګواښ سره مخامخېږي. خو د ياد وړ خبره دا ده دهېواد فرهنګيان چې دفرهنګ درغونې شعور او مسووليت لري، ددې ډول بحراني شرايطو ناوړو اغېزو ته تسليم شي؟ او که نه د يوه وقايوي درمل په توګه ورو ورو دخپلې ټولنې فرهنګ ورغوي؟ دې ته مو هم بايد پام وي چې زموږ په هېواد کې ډېر ناورينونه دهمدې فرهنګي بنسټونو، ملي ارزښتونو او ايډيالونو دبنسټونو له نړېدو او ښورېدو څخه راپيدا شوي دي.

په هېواد کې د۲۳کلونو په اوږدو کې د (۳۵۰۰) ښوونځيو د نړېدو له امله د اټکل اتو مليونو وګړو دلوستوالېدو مخه نيول شوې ده. په همدې کلونو کې به دې جګړه مارو وګړو له کومې لارې خپل ژوند خړوبولای او يا به يې خړوبوي؟ ځواب يې څرګند دی، تر زياتې کچې له جنګ جګړو او نورو نامشروعو لارو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې زموږ په ټولنه کې همدومره نالوستي کسان نه وای، نو د جګړه مارو تنظیمونو لیکې به چا ډکولې؟ او څوک به دلوستو منفي سیاستوالو دښکار سبب ګرځېدل؟ ایا هغو وسله والو سره چې دهېواد ملي شعور وای او له متمدنې نړۍ سره اشنا وای، دهېواد ملي موزیم یې لوټوه؟ هغه یې په نورو پلوره او یا رنګوه؟ ملي ګالري او ملي ارشیف یې چورول او دنړۍ ستر شهکارونه د(بامیانو تاریخي مجسمې یې نړولې؟) دا ټولې بدمرغۍ زموږ دفرهنګي فقر له کبله او د ملي فرهنګ دروحیې دنشتوالي له امله راپیدا شوي دي. که چېرې زموږ په ټولنه کې دعلمي مرکزونو او فرهنګي بنسټونو د بیا رغونې غم ونه خوړل شي، نو دغلا او لوټ دا لړۍ به همداسې روانه وي او زموږ پاتې فرهنګي شتمنۍ به هم همداسې لوټېږي او نوي غله به د زړو غلو ځای نیسي، نو اوس چې ټولنه له داسې یو بحران سره مخامخ ده، فرهنګي ټولنو او فرهنګپالو ته په کار دي چې د اوږده زغم لاره خپله کړي، دې پسې ونه ګرځي چې اوس ددوی کار ته په ټولنه کې په کومه سترګه کتل کېږي او خلکو ته څه ارزښت لري، دټولنې او دعامو وګړو دبې تفاوتۍ کچه څنګه ده؟ بلکې دوی باید دې ته پام وکړي چې دفرهنګي کار اغېز په یوه ورځ، یو کال او یوه وخت کې نه معلومېږي، فرهنګي کار دسرو زرو او هغو غرنیو غمیو په شان دی چې دکلونو او پېړیو په تېرېدو سره یې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول ارزښت ګټلی او د وخت په تېرېدو سره یې هره ورځ ارزښت نور هم زیاتېږي. فرهنګي کار هم همداسې در وبوله ځکه چې تر ډېرو کلونو وروسته یې ارزښت څرګندېږي او د وخت په تېرېدو سره یې ارزښت نور هم زیاتېږي، دهمدغه معیار او ارزښت په پام کې ساتلو سره فرهنګیانو ته په کار دي چې د فرهنګي کارلنډ مهالې ګټه په پام کې ونه نیسي، بلکې ددې کار اوږد مهالې ګټې ته پام وکړي او خپل زغم او هیله همداسې زیات کړي.

هېواد ته د زیات فرهنګي خدمت لپاره دفرهنګیانو، دزغم او
حوصلې دزیاتېدو په هیله
دهیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# که مې سل نصیحتونه ورته وکړل!

جرګې لاړې، مرکې لاړې، عذرونه وشول، ننواتې وشوې، لوی، واړه، زاړه، ښځې، ځوانان، روښنفکران، مخور، لیکوال، فرهنګپال، سوداګر، استادان او دبېلابېلو مسلکونو پوهان له کور، کلي، هېواد او لرې لرې هېوادونو مشورو او عذرونو ته ورغلل، خو چړیان، طالبان، ملایان، مولیان او واکمن "علما کرام" دخپل جهل پرخره سواره وو، دهېچا پر خبرې یې سر ونه ګراوه، دهېچا یې ونه منله، بل هېڅ شی یې نه و زده، خو یوازې دومره یې زده و چې (نه منم، نه منم) او بس.

د اسلام دسپېڅلي دین د ۱۴ سوه کلن تاریخ په اوږدو کې هېڅکله هم ملا، طالب او یا په بله نومونه روحاني قشر په دومره یو اړخیز او مطلق ډول واك ته نه و رسېدلی، لکه طالبان چې واك ته رسېدلي وو، داسې برېښېده، چې دپېړیو پېړیو محرومیتونو، غریبیو او ډول ډول کینو او عقدو دهغوی زړونه دعام ولس پر وړاندې دکرکې او غوسې برید ته رسولي وو، ځکه یې دقدرت پر مهال دهمغه ولس پر ځورولو، ټکولو او پیکه کولو پیل وکړ، چې دوی یې پاللي، لوی کړي او دکابل د واك ترتخته یې ورسره منډه کړې وه. ترهغه مهاله چې پر ملا او طالب د واك دخوړلنیو وږمې نه وې لګېدلي، نو همدا چغې به یې وهلې، چې "موږ خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشریعت غرای محمدي د نفاذ لپاره راپورته شوي یو، موږ دځوکۍ او مقام غوښتونکي نه یو او کار خپل اهل کار ته سپارو" خو کله چې واك ته ورسېدل، نو ایله دخپلو محرومیتونو دپوره کولو په لټه کې شول، ځوك دځوکۍ، ځوك دموټر او ځوك هم دڅلورو شرعي نکاحو دپوره کولو په هڅه کې شول.

د ټولنیز ژوند دښېرازۍ مخه ډب کړای شوه او یوازې خپل ژوند مطرح شو. دټولنې ټول مجموعي تفکر یوازې (ږیرې) ته راټول شو، ږیرې او نورو سنتونو دفرضو ځای (!) ونیو او فرضو دسنتو. دانسان کرامت تر ږیرې قربان شو او دښځې فرضي زده کړې تر چادرۍ لاندې زندۍ شوې.

دا خبرې په دې مانا نه دي، چې ګنې اوس طالبان له سیاسي میدانه ګوښه شوي او ځواك یې په اصطلاح اوبه شوی، نوموږ ته خبرې کول اسانه دي. موږ دهیلې په تېر پنځه کلن خپرنیز بهیر کې هر وخت ځینې انتقادي لیکنې کړې او طالبانو ته مو نېکې مشورې ورکړې دي، دبېلګې په توګه به دتېر کال د (طالبان، بتان او بت پالان) لیکنه او دهمدې روان کال په لومړۍ ګڼه کې د(مدرسه او ښوونځی) او همداسې نورې لیکنې یادې کړو.

سربېره پردې (هیله) هغه یوازینۍ پښتو مجله وه چې دطالبانو تر واکمنۍ لږ وروسته خپره شوه او دپنځو کلونو په بهیر کې په منظمه توګه کابل او دهېواد زیات شمېر ولایتونو ته رسېدله. موږ په هیله کې د اصلاحي لیکنو ترڅنګ وخت پر وخت طالبانو ته په ګړني ډول هم دعام ولس او هم د لیکوالو دردونه، نظرونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندیزونه ور رسولي، خو هغوی نه یوازې دا چې منلي يې نه دي، بلکې موږ ته يې ګواښونه هم کړي او اخطارونه يې هم راکړي دي، خو له دې سره سره موږ د عام ولس په شان په دې نظر وو چې که چېرې طالبان له منځه ځي، نو داسې ځوك يې باید ځای ونیسي چې لاسونه يې دملت په وینو سره نه وي، که چېرې ستمي او افغان ضد ځواکونه بیا واك ته رسول کېږي، نو تر دوی بیا همدا طالبان ښه دي، ځکه که طالبان تنګنظره دي، له ترقۍ او تمدن سره علاقه نه لري او ان چې مخالف يې دي، خو لږ تر لږه د یوې عقیدې خاوندان دي، دخلکو سر، مال او عزت خو خوندي دی. طالبانو ته مو هم په سوونو ځله دا خبره کړې وه چې افغانستان پرته له هغه هم جګړې ځپلی او نور دجنګ توان نه لري، زموږ له دنیا سره په دښمنۍ کې ګټه نه شته، که امریکا (۵۲) ټوټې هم شي افغانستان ته يې څه ګټه؟ ګټه به يې عربو او نورو عجمو ته رسي، لکه دشوروي د ټوټه کېدو ګټه چې نورو ته ورسېده، هر هېواد ته خپلې ملي ګټې ډېرې مهمې دي، خو هغوی خپله عقیده له افغان ملتپالنې سره مخالفه ګڼله او د چا خبرو ته يې اهمیت نه ورکاوه، هغوی ته ځانونه (علماء) ښکارېدل، نو ځکه د ناعلمۍ په دریاب کې ډوب شول.

زموږ اساسي ربړه دا وه چې دطالبانو مخالف ځواکونه طالبانو سره دمذهب پربنسټ جګړه نه کوي، بلکې د خپلو قومي عقدو له مخې جګړه پرمخ بیايي او هم دهر بهرني هېواد هرې مداخلې ته (لبیك) وایي او ورته ناځي. هغوی طالبان دپښتنو استازي (!)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼل، خو طالبانو بیا پښتو پالنه او ملتپالنه یو شرك او جرم باله، طالبانو دا زغم هم نه درلود چې پښتنو کې یو شعوري حرکت او قوت رامنځته شي، ځکه چې هغوی دا د خپل واك لپاره خطر ګاڼه، نو اکثرو روښنفکرانو سره همدا وېره وه، چې طالبان خو هسې هم له پښتونولۍ سره وران دي، خو ددوی دماتې په غېچ کې به ټول پښتانه در په دره شي، پښتانه به دطالبانو دتېروتنو کفاره ورکړي، نو ځکه خو ټولو پښتنو روښنفکرانو ځانونه ستړي کړل او په سوونو ځله یې طالبانو ته وویل چې مه کوئ دا کارونه مه کوئ، تاسو سره ټول قوم بربادېږي. د افغانستان لوی عالم پوهاند عبدالشکور رشاد دطالبانو ډېرو مشرانو ته په وار وار دا وویل: "ستاسو بریالیتوب یوازې دملا او طالب بریالیتوب دی، خو ماته مو دټولو پښتنو ماته ده".

داستاد دخبرې مانا دا وه چې امتیاز یوازې دطالب او ملا دی خو په زیان او تاوان کې ټول پښتانه ورسره شریك دي.

دطالبانو تر سقوط نه څو میاشتې دمخه مو په کندهار کې یو لوړ پوړي چارواکي سره همدا خبرې مطرح کړې، چې ګورئ پښتانه درسره بربادېږي، هغه په یوه زهرجنه خندا موږ ته وویل: ((دا پښتانه روښنفکران دي موږ نه د پښتو په خاطر دفاع نه کوي، موږ مسلمانان یو، پښتانه نه یو، زموږ هدف اسلام دی نه پښتو او پښتانه))، موږ ورته هملته ښه په زغرده وویل چې وروره ستاسو هدف به ستاسو دخپل تعبیر اسلام وي، خو پښتانه تاسو ته په دې خاطر مشورې نه درکوي چې تاسو یاښه مسلمان یاست

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یا ښه پښتانه، تاسو د اسلام په نامه دپښتنو دفاعي ځواك له منځه وړی، اوس چې واك درسره دی، هغه دملا او طالب دی، په نوم پښتون روښنفکر درسره په حکومت کې نه شته او نه هم کوم مخور قومي مشر، میم زرما ټوله د ملا ده، خو کله چې له منځه ځئ، پښتون ولس به ستاسو د اعمالو کفاره ورکوي، موږ دې خبرې ته ډېر ځورېږو، نه دا چې ته عرب مسلمان یې که بل بې قومه مسلمان؟ دا خبرې مو هم ورته وکړې چې تاسو خو پښتانه نه یئ خو دپښتنو مخالفین مو دپښتنو استازي بولي او ستاسو په نامه یې زموږ دپښتنو د وژلو پلان جوړ کړی دی.

موږ ورته وویل چې که موږ ته طالبان او غیر طالبان دا تضمین راکړي چې د طالب تر زوال وروسته به یوازې طالب د طالب د اعمالو سزاویني او موږپښتانه به ورسره نه کړول کېږو، موږ به هېڅکله هم تاسو ته دمشورو لپاره درنه شو، خو که ستاسو د اعمالو ټول زیان زموږ قوم ته متوجه وي، نو هغوی مجبور دي چې ستاسو سر په دې خبره خلاص کړي او ان ګرېوان مو ونیسي.

طالب چارواکي موږ ته وویل: ((یه موږ چاته تضمین نه شو ورکولای، هر سړی پوهېږي خپل کار یې، موږ داسلام خبره کړې نه دقوم)).

اوس له هغه وخته نږدې اته میاشتې وتي او د طالبانو نظام هم رنګك شوی، هغه وېره چې پښتنو روښنفکرانو درلودله کټ مټ عملي شوه، په لسګونو زره پښتانه ووژل شول، کورونه یې لوټ او بمبار شول، طالبانو هم دنږدې (۵۰) زرو طالبانو دقربانۍ ثمر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ږيرې، حجاب، سر زورۍ او خپل افراطي عمل نه قربان کړ، له همغه پيله بيا تر پايه عروجه او بيا تر زواله د سرتمبګۍ دجهالت پر خره سواره او د چا نصيحتونو لارې ته سم نه کړای شول، هغه دشاعر خبره:

که مې سـل نصيحتونه ورته وکـــړل
هغه خدای بې لارې کړی په لار نه شو

په هېواد کې ديو ملي حکومت دجوړېدو او ټولنيز عدالت
دتامين په هيله
په درنښت
دهيلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# که مطبو عات ازاد شي

په افغانستان کې تر یوه۲۳ کلن پرله پسې اختناق وروسته یو ځل بیا په هېواد کې د قانون، قانونیت، ازادۍ او ولسواکۍ، سولې او ښېرازۍ، ټولنیز عدالت او هېوادنۍ پرمختیا خبرې ډېرې اورېدل کېږي، یوځل بیا د شعارونو بازار گرم دی، خوله ور، ژبور، اړیکوال او هغه لوبغاړي بیا ډگر ته راوتلي  چې د رنگارنگ لوبو په هر سره، شنه ، سپین او تور ډگر کې د لوبېدو وړتیا او قابلیت لري، په یوه شېبه کې جنایت پر خدمت او خدمت پر جنایت عوضولای شي،پر خپلو ټولو عیبونو د غرونو غوندې پردې را اړولای شي او د نورو د مچ وزر په شان تېروتنه د غره غوندې غټولای شي.

د همدغسې واکوالو په واکمنۍ کې یو ځل بیا د ازادۍ او دیموکراسۍ انگازې خورې دي او ددې انگازو په منځ کې بیا د مطبوعاتو ازادي او د ازادو مطبوعاتو خبرې ډېرې زیاتې تودې دي.

ظاهراً خو ازادي، دموکراسي، ولسواکي، ټولنیز عدالت او پرمختگ،ازاد مطبوعات او د مطبوعاتو ازادي خورا خوږې خبرې دي، آن د سترو ارمانونو په توگه باید ورته وکتل شي، خوله بده مرغه چې په افغانستان کې د شعارونو او عملونو تر منځ زیات واټن وي، نه یوازې واټن وي، بلکې شعار او عمل زیات وخت یو د بل پر ضد واقع شوي دي، چا چې د (خلکو) شعار ورکاوه، هغوی خلک له منځه یوړل، چا چې د اسلام شعار ورکاوه هغوی اکثرو بیا د کفر له گرېوانه سرونه راوکښل او د ځینو عملي جهاد پر فساد بدل شو او د ځینو چې د بهرنیو مداخلو د بندولو چغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهلې هغوی بیا بهرنیان راوبلل، د همدې ۲۳ کلنې پخې تجربې له مخې په کابل کې د یوې ولسوالۍ د زورواکو قومندانانو د مطلق واک په حدودو کې د مطبو عاتو ازادي یو ځل بیا د همغې تجربې د تکرار تداعي ده، بیا به هم عملونه د شعارونو خلاف وي او په کابل کې خو یې اوس عملي بېلګه هم همداسې ده.

د کابل ټلویزیون او راډیو د پنجشیر ولسوالۍ د وګړو په لاس کې ده، له دولتي راډیو ټلویزیون نه یې د یوې ډلې او یوې ولسوالۍ خپرنۍ وسیله جوړه کړې ده، راډیو ټلویزیون کې چې د احمدشاه مسعود په باب دومره ستاینې او ویرنې خپرېږي، د لندمهالې ادارې مشر حامد کرزي په باب دومره څه نه شته، که چېرې پر ټلویزیون او راډیو د ټوپک شپېلۍ واکمه نه وي، نو د نارسمي اشخاصو په باب به په رسمي خپرونه کې په دې کچه خپرونې شونې وي؟

څرنګه چې اوس په کابل کې د نړیوال سوله ساتي ځواک سرتېرو حضور شته او د دې هېوادونو حکومتونه د عمل او شعار تر بریده د دیموکراسۍ او مطبوعاتو د ازادۍ خبرې کوي، نو پر کابل باندې د اصلي واکمن ګروپ مخور هم غواړي خپل سکتارستي خصلت د مطبوعاتو د ازادۍ تر پردې لاندې پټ کړي، دوی پر دې پوهېږي چې دوی د بهرنیانو په مرسته د هېواد لوی اکثریت(پښتانه) د القاعدې او طالب تر نامه لاندې لږ تر لږه اوس په کابل کې له سیاسي واکه محروم کړي، نو ځکه خو میدان دوی ته تش دی، دوی خو په کابل کې پښتانه آن عادي ژوند ته نه پرېږدي، نو پاتې لا هغوی ته د مطبوعاتو د ازادۍ حقوق، نور نو که څوک څه خپروي هغه یا د دوی خپل خلک وي، یا به ورسره تنظیمي اړیکي لري، یا ژبني، سیمه ییز، قومي او نور روابط، دوی به هڅه وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د دیموکراسۍ تمثیل وکړي، خو د دوی مالي سپورټ او فکري کیلي په واکمنې ډلې سره وي.

اساسي خبره داده چې په لنډ مهاله اداره کې د اساسي واکمن گروپ عملونه او دمطبو عاتو رښتینې ازادي یو دبل خلاف دي، دا واکمن اکثره په جنگي جرمونو کې ککړ دي او د ازادو مطبوعاتو رسالت دادی چې د دا ډول جنگي جنایتکارو له څېرو څخه پرده پورته کړي، خوکله چې واکمن پر دې پوه شي چې زما په اوړو کې شگه ده، نو بیا خو هېڅکله داسې ازادۍ ته اجازه نه ورکوي.

د کابل د لنډمهالې ادارې د دوو واکمنو ډلو تر منځ یو غټ نظري او عملي توپیر پروت دی، د روم د سولې د بهیر اووه تنه وزیران چې ښاغلی حامد کرزي هم له هماغې جملې څخه دی، داسې خلک دي چې په هېڅ ډول جنگي جرمونو ککړ نه دي، ټول داهلیت او مسلک خاوندان دي، دوی په دولت کې حقوقي صلاحیت لري خو عملي واک یې ډېر کم دی، خو په مقابل کې د نظار شورا ډله چې اکثره د یوې ولسوالۍ اوسېدونکي دي او په حکومت کې د مطلقیت تر بریده واک ورسره دی، واقع ده، د دې ډلې زیاتره غړي په جنگي جرمونو ککړ دي، د روم د سولې بهیر غړي وزیران داسې فکر کوي چې دوی خو هسې هم جنایت نه دی کړی، پرېږده چې مطبوعات ازاد شي، چې له دې نورو جنایت کارانو خو بڼکې وباسي، خو د نظار شورا غړي بیا فکر کوي چې ظاهراً به د مطبو عاتو په ازادۍ د امریکا متحده ایالات خوشاله کړو، ځانپلوي مطبوعات به ازاد کړو او د مخالفو خولې به وتړو او په دې ډول به پر خپلو بدرنگو عملونو پرده خوره کړو.

په اوسني وخت کې د مطبوعاتو ازادي له دغسې متضادو لارو او واټونو څخه تېرېږي، دلته یو ځل بیا خپله اساسي خبره راغبرگوو چې د یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسوالۍ په حاکميت کې د مطبو عاتو ازادۍ مانا د ځان تېر ويستل دي، ددې خبرې اصلي علت دادی چې د مطبوعاتو ازادي د دې خلکو له سياسي ګټو سره متضاده ده، که مطبوعات ازاد شي نو هغه به ضرور وليکي چې يوې ولسوالۍ ته د ټول هېواد د برخليک ټاکلو حق د هغه هېواد له ولس سره چورلټ ظلم او ناروا کار دی.

د ابو حنيفې مدرسې فارغ بايد په قضا- څارنوالۍ کې مقرر شي نه د امنيتي او دفاعي چارو د مسول په توګه.

د هر جعلي نوټ ګرځول يو جنايي او سياسي جرم دی پاتې يې لا چاپول، نو روسيه چې اوس هم نظار شورا اواستاد رباني ته په ټنونو پيسې چاپوي، ددې مسلې ډاګيزول او پوښتنه به څنګه کېږي؟

د امريکا متحده ايالتونو او د نظار شورا د واکمنې اداري دادعاوو پر بنسټ د يوې فرضي په توګه که طالبان(له Aنه تر Z) پورې ټول جنايتکار وګڼل شي، نو تر طالب د مخه جنايتکاران چې په کابل کې يې (٦٥) زره خلک ووژل، د هغو حساب به څنګه شي؟ د کابل په افشارو، درېيمه کارته او نورو سيمو کې چا هزاره ګان په ډله ييز ډول ووژل؟

هغوی چې په سرونو کې يې ميخونه ټک وهل او خلکو ته يې د مړي نڅا ښودله، هغه خلک څه شول؟

د شهيدې ناهيدې په شان د نورو لسګونو شهيدو خويندو قاتلين څه شول؟ چاپټ کړل او دچا په ليکو کې ننوتل؟

د هېواد په شمال کې د طالب په نامه د هر پښتون سرومال او عزت لوټوونکي د چا وسلوال کسان دي؟ دفاع او کورنيو چارو وزارت، کوم جنايتکار تر اوسه پورې ونيو؟

په مزار شريف کې د جنرال مالک او محقق د جنايتونو دوسيه چاته وړاندې کېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شمالي سالنګ، بنګي پل، متک پل او نورو پلونو د الوزولو مسولیت د چا پر غاړه دی؟

په کعبه شریفه کې د قسم خوړونکو پر خبرو به دبیا باور نتیجه څه وي؟ او همداسې نورې هغه په سلګونو او زرګونو (ولې) چې د اوسنیو واکمنو پر وړاندې پرتې دي او ځواب ترې غواړي، خو که دې پورتنیو یادونو سره سره اوسنۍ واکمنۍ کې د زغم روحیه پیاوړې شوې وي، خپلو عیبونو ته یې پام شوی وي، د سمون لپاره یې هڅه کوي، د خپل ځان ترڅنګ نور هم زغمي، په زړونو کې یې د کینې پرځای دمینې او ولولې څپې غالبې شوې وي او رښتیا هم د زړه له تله غواړي مطبوعاتو ته ازادي ورکړي، نو دا به زموږ د هېواد په تاریخ کې د فکري او ژبنۍ ازادۍ په برخه کې یو ځلاند څپرکی وي. د مطبوعاتو ازادي له یو لږ کمو زیانونو پرته بې شمېره ګټې لري، ځکه که مطبوعات ازاد شي، د ولس او حکومت ترمنځ نېغ په نېغه ذهني اړیکي ټینګېږي، د سالم انتقاد روحیه پیاوړې کېږي، پر واکمنو باندې د ولس د باور کچه اوچتېږي، ټولنیز عدالت ورسره تامینېږي، ذهني پرمختیا ورسره رامځته کېږي، که واکمن رښتیني خدمتګاران وي د ازادو مطبوعاتو له لارې په ولس کې نور هم خپل محبوبیت زیاتولای شي، ولس د نړۍ د تمدن له کاروانه خبرولای شي، د ګڼو استعدادونو غوړېدو ته لاره اوارولای شي، خو لنډه دا چې ازاد مطبوعات په سلګونو نه اټکلېدونکې ګټې لري. موږ له اوسنیو واکمنو هیله لرو، لکه شعار یې چې ورکړی همداسې یې په رښتیني ډول عملي هم کړي او یو ځل بیا د شعار د مخالف عمل تېره ترخه تجربه تکرار نه کړي.

په هېواد کې د رښتینو ازادو مطبوعاتو د خپرېدا په هیله

د هیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په هېواد کې د واک انحصار څنګه له منځه تللای شي؟

هرکله چې زموږ په هېواد کې یوې سیاسي ډلې واك ترلاسه کړی او هغه یې بیا په خپل انحصار کې ساتلی نو عام ولس ورڅخه خوابدی شوی او بیا یې ورسره کرکه پیدا شوې ده.
هرڅومره چې واکمنو پر خپل واك ټینګار کړی همدومره یې مقابل لوري سخت افراطي غبرګون ښودلی او کله چې یې هغه واکمن سیاسي جریان راپرځولۍ نو بیا یې دې بل ځای نیولای، دوی بیا هم همغه تجربه تکرار کړې او تر دې اوسه لا دا لړۍ روانه ده.
له ۱۳۵۷ ل کال راهیسې چې کوم افراطي حکومتونه راغلي، که ښي اړخي وو که کیڼ اړخي هغه ټول، ولس ته نامعقول وو. تر ۱۳۷۱ ل کال وروسته سیاسي واك قومي بڼه خپله کړه. د استاد رباني او جمیعت واکمني مانا د تاجکانو واکمني، دې خبرې وزن او حقیقت هم درلود، ځکه په وروستیو کې ددې تنظیم موخه او هدف خپلې قومي، سیمه ییزې او ژبنۍ ګټې وې او دا یې عملاً ثابته کړې وه. ددې پر وړاندې چې هغه وخت کوم ځواکمن ګوند جنګېده هغه د انجنیر حکمتیار اسلامي ګوند و، چې اسلامپاله ایډیالوژي یې درلودله او ملتپالنه یې د ایډیالوژۍ په حدودو کې نه ځایېدله. حکمتیار د خپلو سیاسي او ایډیالوژیکو ګټو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



له جمیعت تنظیم سره جګړه کوله، خو څرنګه چې دی په ختهه پښتون و نو جمیعتیانو دده جګړې ته قومي بڼه ورکوله او غوښتل یې په دې ډول خپل قوم پلمه او د خپلو ګټو ساتنه وکړي. نور لړه کې یې هم په همدې نامه راپارول، خو دا ټولو ته معلومه ده چې حکمتیار هېڅکله هم نه په عمل او نه په وینا کې په شعوري توګه د اکثریت د قومي حقوقو د خوندي کولو لپاره مبارزه کړې ده. د استاد رباني د بې کفایته واکمنۍ له امله په هېواد کې د طالبانو د اسلامي تحریك په نامه یو بل سیاسي مذهبي جریان ته ذهني او عملي لاره اواره شوه. دې تحریك د افغانستان له پنځه نوي فیصده خاورې څخه د جمیعت او نظار شورا ټغر ټول کړ او د یوه واحد حاکمیت تمثیل یې وکړ.

د طالبانو اکثره غړي پښتانه وو، خو ددوی مبارزه ددوی د خپل تعبیر مطابق سوچه مذهبي مبارزه وه او پر همدې بنسټ یې د خپل حاکمیت ستنې ټینګې کړې وې. دوی قومیت، ملت پالنه او ژبپالنه یو شرك باله، دا چې په پښتو یې خبرې کولې علت یې دا و چې بله ژبه یې زده نه وه. طالبانو په سلو کې دوه سوه یو مذهبي نظام حاکم کړ، ددوی په نظام کې له ملا او طالب پرته بل هېچا ته اړتیا نه وه او نه ورته د تقرر چانس برابرېده، ان د ترافیکو او روغتونونو د ریاستونو رئیسان یې هم ملایان ټاکل شوي وو. خو جمیعتیانو د طالب واکمني هم د پښتون د واکمنۍ په نامه یادوله او انګېرله او نړۍ ته یې هم دا ښودله چې دا د پښتنو واکمني ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالبان په پای کې د یو نړیوال ټکر په نتیجه کې له منځه لاړل او د تخت وبخت او کبر جام یې نسکور شو. یو ځل بیا همغو ټوپکسالارانو او پاټکسالارانو ته واك ورسېد چې طالبانو زیاتي د مرګ کومي ته ور ټېلوهل، خو د یو نړیوال تصادف او تصادم له کبله د مرګ له خولې څخه وژغورل شول او د بي ۵۲ الوتکو په زور د کابل پر تخت کېنول شول. دا ځل داسې هیله کېده چې نظار شورا به همغه پخوانۍ نظار شورا نه وي، دا ځل به یې له حالاتو درس او عبرت اخیستی وي، دا ځل به افغان ولس ته دا ثابتوي چې دوی د واك په لټه کې نه دي، دوی ته یوازې همدا انعام بس دی چې د مرګ له کومي را اېستل شوي او همدا شکرانه ورته کفایت کوي، خو دوی یوځل بیا د بل ورکړې واکمنۍ په بهیر کې ثابته کړه چې ددوی په خصلت کې هېڅ ډول بدلون نه دی راغلی؛ څه چې پخوا وو همغسې دي او ان تر هغه لا هم بتر شوي دي.

نظار شورا دا ځل پر واك داسې خېټه واچوله، چې تر دوی د مخه ټولې واکمنۍ یې چلنج کړې، د هېواد په پنځه زره کلن تاریخ کې هېڅکله هم یوې ولسوالۍ ته داسې بشپړ واك نه و ور رسېدلای.

په اوسني وخت کې پنجشېر ولسوالۍ ته شپږ وزارتونه، ۱۷ معینیتونه او (۸۳۲) ریاستونه ورکړل شوي دي. له شپږو وزارتونو پرته څو داسې نور لوی ریاستونه دي چې تر وزارته یې هم واك وځواك زیات دی، لویه څارنوالي، سره میاشت، راډیو ټلویزیون. یوازې د کابل ښار د ۱۶ګونو امنیتي حوزو له جملې د (۱۳) امنیتي حوزو قوماندانان پنجشېریان دي، په بهرنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفارتونو کې هم همدا حال دی. په سلو کې اتیا برخې کار کوونکي او سفیران یا پنجشېریان دي او یا هم د نظار شورا پلویان.

د نظار شورا غړي پر واك دومره مین دي چې اوس خپل پخواني موئتلفین؛ جنرال دوستم او وحدت ډله هم نه مني او میم زرما ټوله زما غواړي. ملګري ملتونه او سوله ساتی ځواك هم څه اساسي رول نه لري، دوی نه دا ګیله ده چې د افغانستان د خلکو ساتنه نه کوي، بلکې د نظار شورا واك ساتي. په کابل کې ددې لپاره پراته دي چې څوك پر نظار شورا برید ونه کړي او واك یې ونه لړزوي، یوازې نظار شورا ته د ټوپك ګرځولو اجازه شته نور هېچا ته هم نه شته، دوی اوس هم یوې ډلې ته حکومت وایي، که دا ډله هرڅه کوي، که وزیران وژني، بندیانوي یې، که خلك وژني، موټر تښتوي او یا عامه شتمنۍ لوټوي، دوی ته اجازه شته، خو بل هېچا ته اجازه نه شته، چې پر دوی برید وکړي. که له شمال نه کابل ښار ته په سلګونو زره وسله وال او ټوپکوال داخلېږي، هغوی ته اجازه شته خو که له سوېل ختیځ او لویدیځ څخه څوك له چاقو سره هم ښار ته داخلېږي نو پلټنه او څارنه یې کېږي.

په خواشینۍ سره باید ووایو چې ملګري ملتونه اوس یوازې د نظار شورا د ساتنې دنده سرته رسوي او دې باندې عام افغان ولس سخت ګیله من دی. دې کې شك نه شته، چې که د ملګرو ملتونو پوځونه په کابل کې نه وي، په کابل کې دیوې ولسوالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت یوه میاشت هم ژوند نه شي کولای، نو که ملګري ملتونه غواړي په رښتیا هم د افغان ولس باور را خپل کړي، باید دیوې خاصې ډلې ملاتړ او ساتنه پرېږدي، بلکې د ټول ولس ساتنه او ملاتړ وکړي. لازمه خو داده چې په کابل کې باید د هېڅ یوې ډلې وسله وال کسان نه وي چې ټول ملت کابل خپل ښار او مرکز وګڼي، که چېرې حالت همداسې روان وي او دیوې ولسوالۍ حکومت جاري وي، نو بیا به ددې ظلم د پرځولو لپاره یاکینهلاسي یا ښیلاسي افراطي حرکت ته ضرورت وي او را پیدا کېږي به. بیا به د جنګونو لړۍ پیلېږي، بیا به کابل محاصره کېږي، بیا به وینې تویېږي او د یوې ولسوالۍ واك به ختمېږي، خو مخکې تر دې چې خبره دې حد ته ورسېږي، ښه به وي چې ملګري ملتونه، د نظار شورا بهرني ملاتړي، د امریکا متحده ایالات او نور پر یوه معقوله طرح غور وکړي، چې هم د افغان ولس غوښتنې او هیلې پوره کړي او هم د نړیوالې ټولنې تشویشونه رفع کړي.

هم زموږ د ولس او هم د ټولې نړیوالې ټولنې باید دې ته پام وي چې په کابل کې داسې یوه ډله واك ته رسول شوې چې هغه د هېواد په زیات شمېر جنګونو او وژنو کې پوره لاس لري، له انساني او سوله ییزو لارو یې لرې کول یو خوب وخیال دی او پرځای پرېښودل یې هم هېواد ته زیات زیان رسوي، نو د محوه کولو ښه لاره یې داده چې نړیواله ټولنه یې له ملاتړه لاس واخلي.

ددوی ډله او عسکر، د دولت او پوځ په نامه په رسمیت ونه پېژني، خپلې مرستې پرې بندې کړي، یا ددوی قوتونه لکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو تنظیمونو د ځواکونو په شان له کابله وباسي، که چېرې دا نه کوي، نو نړیوال سوله ساتی ځواك دې له کابله د هېواد نورو لویو ښارونو ته لاړشي، بیا به هلته د یوې ولسوالۍ د عسکرو زور معلوم شي چې څومره وخت په کابل کې پاتې کېدلای شي او خپل واك ته دوام ورکولای شي.

هغه وخت به یا له کابله وځي او یا به د ملت ارادې ته غاړه ږدي، خو که د اوس په شان سوله ساتی ځواك په کابل کې یوازې دیوې ولسوالۍ د واکمنۍ ساتنه کوي او هغوی خپلو کارونو ته خلاص مټ پرېږدي او د نورو لاسونه ورته تړي. نو دا کار خو بیا نه د ملګرو ملتونو له منشور سره سمون خوري او نه د افغانستان له ملي ګټو سره.

په افغانستان کې د انحصاري حکومتونو د پای ته رسېدو او د ملي حکومت د جوړېدو په هیله

په درنښت

دهیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په کابل کې څوک، څوک ساتي؟

د افغانستان د اوسنۍ غمیزې په بهیر کې به تل داسې فکر کېده چې که نړیواله ټولنه (ملګري ملتونه)، د امریکا متحده ایالات او نور څواکمن هېوادونه د افغانستان حالاتو ته ډېر پام راواړوي، نو د مشورې سر به پیدا شي او مسئله به ژر اواره شي، دا د نظر په توګه دحل یوه ښه لاره وه، خو هر وخت چې یوه نظریه د تطبیق او عمل جامه اغوندي، هغه وخت معلومېږي چې نظریه لویه ده که وړه، نیمګړې ده که پوره، کره ده که ناکره، د پېښې هر اړخ ته د هغې دلید وړانګې ورسېدی شي او که نه، لنډه دا چې ټوله پېښه په بشپړ ډول رانغاړلای او ټولولای شي که نه؟ دغه پوښتنې او خبرې هغه وخت حلېږي او سپېنېږي چې نظریه د عمل ډګر ته وړاندې شي.

اوس دادی په افغانستان کې د ملګرو ملتونو او د نړۍ دسترو څواکونو د عملي حضور، همکارۍ او مداخلې نظریه د تطبیق ډګر ته وړاندې شوې او دادی نږدې شپږ میاشتې پوره کېږي، خو له دې زماني واټن څخه داسې ښکاري چې اوس لا هم د مشورې سر ورک دی او یا څوک قصداً نه غواړي پیدا یې کړي. یو اساسي او حقیقي خبره خو داده چې نړیواله ټولنه په تېره بیا د امریکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



متحده ايالات ديو ځانګړي مجبوريت او واقعيت له مخې افغانستان ته راغلي او د خپلو ځانګړو هدفونو په لټه کې دي، زموږ د خلکو د هيلو او ددوی د هدفونو ترمنځ منحني خط موجود دی، ددې منحني خط هغه برخې چې زموږ د ولس غوښتنې او ددوی هدفونه سره موازي کوي، ګټه يې دواړو غاړو ته رسېږي، له هغه څخه دواړه لوري خوښ دي، خو هغه چې ټکر کوي طبعاً يو لوری به پرې خوشاله وي او په دې برخه کې نو امتياز د هغه چا په برخه دی چې زورور وي.

د امريکا په مشرۍ د نړيوالې ټولنې او زموږ د ولس د ټکر تر ټولو ستر ټکی ديوه ځانګړي جنګي او سياسي جنايتکار ګروپ واك ته رسول دي، دا ډله نه هېوادني ارزښتونه مني، نه ملي، نه انساني او نه هم اسلامي، خو څرنګه چې دې ډلې د طالبانو پرضد هلې ځلې کولې او طالبانو د نړۍ له ډېرو زورورو سره ټکر وکړ، نو نړيوالو د طالبانو د سقوط په بدل کې زموږ پر ولس دا ډله واکمنه کړه، يانې زموږ ولس يې له بارانه ناوې ته ودراوه، دلته اوس امريکا دې پسې نه ګرځي چې ولس دا خلك غواړي که نه؟ خو دې ته ترجيح ورکوي چې بس همدا د کار خلك دي، فرمان اوامر ښه پرځای کولای شي، د نوکرۍ ښه او پخه مسلکي تجربه لري، له ډېرو سره يې سرونه خوځولي او ډېرو نورو ته يې سرونه ټيټ کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې جنګې ډلې بیا دا غنیمت ګڼلای چې د بهرني ځواک تر سیوري لاندې د نړیوال تروریزم ضد شعار په پلمه خپلې بقا ته دوام ورکړي او نور هم خپل ځان وپړسوي، هغه سیروم چې اوس د ګډ دښمن د له منځه وړلو په هیله دوی ته له بهره غځېدلی، ددوی دبقا اصلي عامل دی، دا جنګې ډله پر دې پوهېږي چې که نن بهرني ځواکونه نه وي، نو په کابل کې یې د ژوند شپې د ګوتو په شمار دي، نو هغه سیاسي جنګې ډله چې له ولس سره په یو ځای پاتې کېدو کې د خپل عمر شپې دومره لنډېویني، پرچا به ډډه لګوي؟ طبیعي ده چې پر بهرنیو ځواکونو به تکیه کوي. په بهرنیو لوبغاړو کې هم ټول دیوې لوبډلې خلك نه دي، هرڅوك خپله اجنډا لري، خو یوازې د لوبو ډګر یې یو دی ( افغانستان). امریکائیان اوس د طالبانو او القاعدې په لټه کې دي، پر شمال ټلوالې ډېر په زغرده نه راځي، ایران او روس له نظار شورا سره ګډ ستراتیژیك هدفونه لري، دلته یې ښه اوږده مزي غځولي او تر امریکا ښه پخه او پخوانۍ سیاسي سابقه لري، امریکا هم له همدې وېرې د حقیقت پر ځای د "ګوزارې" پالیسي غوره کړې او ددې ترڅنګ پر نظار شورا د ناز لاس هم راتېروي، نړیوال سوله ساتي ځواك چې د کابل پر واټونو او سړکونو ګزمې کوي، هم په اغېزمن ډول د نظار شورا د ساتنې او عمر اوږدونې لامل شوی دی، ددوی د فعالیت له امله د نظار شورا ملېشو ارامه ساه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکښله، خپل پکولونه، واسکټونه او دسمالونه یې لرې کړل، ږیرې یې وخریلې، عسکري یونیفورم یې پرځان راکاږه، څوك مدیران شول، څوك رئیسان شول، څوك وزیران شول، څوك جنرالان، څوك ستر جنرالان او څوك ان مارشالان.

له محلي قومندانۍ، ټوپکسالارۍ، پاټکسالارۍ، لوټ او تالان څخه ښاري واکمني، عصري درغلۍ او قانوني لوټ او تالان ته داخل شول، قانوني لوټ او تالان خو ورته ځکه وایو چې اوس یې د دولت او قانون ماسك پرمخ راکاږلای، نو اوس به کومه سرچینه او ځواك ددوی مټ تاو کړي او د غلا لاس به یې ونیسي.

اوس ایله جاري ملېشې دیو منظم او په اصطلاح ملي پوځ تمثیل کوي، خلك هماغه دي، خصلتونه هماغه دي، لباسونه او موقعیتونه یې بدل شوي، هماغه پاټکسالاران دي او همغه پاټکسالاري، پخوا به یې په لویو لارو کې لوټ او تالان کاوه، خو په کلیوالي بڼه، اوس یې په ښارونو کې کوي، خو په ښاري بڼه. اوس لا ان هوایي ډګرونه هم ددوی له شرنه په امن کې نه دي، ان وزیران په الوتکو کې په چړو وهي او وژني یې. خو په نویو بڼو. ددې ډول جنایتکارانو یو بل غټ امتیاز په اوس وخت کې دادی چې پخوا به دوی په کلیوالي سیمو او لویو لارو کې کوم ناوړه کار ترسره کاوه، نو په کابل او یا کوم بل ځای کې به ددوی مخالف ځواکونه هم وو، دهیلې یو څرك به و، خو اوس نه په کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نه په کوم بل ځای کې کوم ښکاره او اغېزمن مخالف ځواك موجود دی، چې ددوی عملونه وشېړي، د جنایاتو دوسیه یې بشپړه او دوی محکمې ته راکش کړي، ځکه خو اوس دوی ته دا امتیاز او واك حاصل دی چې هم وزیر ووژني او هم د قتل د دوسیې د څېړلو صلاحیت د ځان کړي، نو کله چې په یوه ټولنه کې څوك خپله هم قاتل شي، هم قاضي او څارنوال، قاتلین به د چا له خوا په ګوته شي؟

البته دا خبرې په دې مانا نه دي چې زموږ ولس ددې وړتیا نه لري چې ددې ډول جنایتکارې ډلې پر وړاندې راپورته شي او د تخت کاسه یې نسکوره کړي او یایې لږ تر لږه د مخالفت لپاره وسلوالې ډلې جوړې کړي، خو دا چې اوس ولې ډېر ژر دا کار نه کېږي، علت یې دادی چې زموږ ولس دیوې جنګي ډلې د سیاسي معاملې او د نړیوالې ټولنې دغلطفهمۍ، بې تفاوتۍ او د ځینو د غچ اخیستنې ښکار شوی دی.

زموږ پر ولس په تېره بیا پر اکثریت اوس د القاعدې او طالب ټاپه لګېدلې. اوس چې هرڅوك په کابل کې د اصلي واکمن ګروپ (نظار شورا) پرضد پاڅون کوي، نو د هغوی له خوا بهرنیو ځواکونو په تېره امریکایانو ته داسې ښودل کېږي چې دا ټول طالب او القاعده دی، مانا دا چې د نظار شورا هر سیاسي مخالف، طالب او القاعده دي، ان هغه ډلې چې د طالبانو تر پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدو د مخه يې دوی سره خونړي جنګونه کړي وو، هم د طالبانو په شمېر کې راولي.

بهرني ځواکونه په تېره بيا امريکائيان د افغاني ټولنې يو دقيق تصوير او تحليل نه لري او يا هم تر لږه اوس نه غواړي پر واقعيتونو پوه شي، نو ځکه خو د نظار شورا مشورې پرې ډېر اغېز کوي او سر ورته خوځوي، له همدې کبله خو په اوسني وخت کې په افغانستان کې بهرني پوځي ځواکونه او کورنۍ واکمنه پوځي ډله د يو بل ساتنه کوي نه د ولس.

خو اوس پوښتنه داده چې د افغانستان د ملي ګټو خلاف دغسې يو حالت به تر ډېره دوام وکړي او که نه له منځه به لاړ شي؟

حقيقت دادی چې څوك تر پايه پر واقعيتونو خاورې نه شي اړولای، خو دا خبره هم رښتيا ده "څو چې رښتيا راځي دروغو به کلي وران کړي وي"، د امريکائيانو او نظار شورا يارانه ډېره باوري نه ده، ځکه چې د نظار شورا اصلي حاميان روسيه او ايران دي، دا هېوادونه له امريکا سره په ستراتيژۍ کې جوړ نه دي، خو اوس وخت کې د روس او امريکا ځينې هدفونه منطبق شوي او ايران هم د طالبانو له شره ژغورل شوی، پلوي ډلې يې واك ته رسېدلي او د فرهنګي ستراتيژۍ د تطبيق لړۍ يې پيل شوې ده، خو دا حالت ډېر دوام نه کوي، څه موده وروسته کېدی شي ددوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټې یو ځل بیا په ټکر کې شي، هغه وخت نو بیا نظار شورا نه شي کولای چې درې هندوانې په یو لاس کې ونیسي، د نظار شورا د عمر د لنډون نور عوامل د هغوی خپل ناوړه عملونه، جنګي جرمونه، قومي تعصب او د واك چورلټ انحصار دی، دا هغه لاملونه دي چې د بهرني ملاتړ د نشتوالي او یا لږ تر لږه د ملاتړ کموالي په حالت کې ددوی عمر له کاله، میاشتو او له میاشتو ورځو ته رالنډولای شي.

مانا دا چې په هېواد کې د اوسني واکمن حالت پای ته رسېدو زیات واك د بهرنیو ځواکونو په لاس کې دی، ځکه چې دا حالت هم همدوی واکمن کړی دی، هغه د شاعر خبره:

خومره چې زه یمه خبر له ملکه
د مشوړې سردی بهـر له ملکه

په هېواد کې دملي ایډیالوژۍ او ملي ستراتیژۍ پر بنسټ د یو ملي حکومت د جوړېدو په هیله.

د هیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په کابل کې قانوني واک او عملي واک

د کاغــذ پرګل بلبلې نه ټولېږي
بې مېوې دی باغ و بڼ د ریا کار

په هره ټولنه کې د هغې ټولنې د پرمختیا ، سمون او سوکالۍ لپاره پر قانون، قانونیت او د هغو پر واکمنۍ ډېر ټینګار کېږي او دا د ولس د هوساینې اساسي لامل ګڼل کېږي. په ګڼو ټولنو کې کېدی شي همدې کار غوره نتیجه ورکړې او ولس یې د ښېرازۍ پر لوري خوځولای وي، خو زموږ په ټولنه کې لا تر اوسه پورې قانون پوره واکمن شوی نه دی او په تېره بیا د واك د قانوني او عملي بڼې او شکل ترمنځ واټن او تضاد موجود دی. مانا دا چې قانون لا د زور ځای نه دی نیولای، کله خو قانون وي او د عملي کېدو لپاره یې زور نه وي، کله بیا زور وي خو قانون نه وي، کله بیا قانوني واك یو چا سره وي خو عملي واك نه لري، کله بیا عملي واك یو چا سره وي خو قانوني واك نه لري. د افغانستان په لنډمهاله شپږمیاشتنۍ اداره کې هم واك او قانون نا انډوله و او اوسنۍ منځمهاله اداره کې هم د واك عملي او قانوني وېش له همدغسې یو جنجالیز او بحراني حالت ځخه تېرېږي. همدغه بحران او نا انډولي ددې سبب شوي چې د کابل اداره بې ثباته شي او ولس ته د خیر پرځای شر ور پېښ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دساري په توګه په لنډمهاله اداره کې ښاغلي کرزی صیب د اداري د مشر په توګه د قانون له مخې د دولت لومړی او اساسي شخص ګڼل کېږي او باید د واك کیلي وګڼل شي. دا خو د کرزي صیب قانوني واك و، خو په خواشینۍ سره چې په عملي ډول د کرزي صیب د واك کچه ډېره ټیټه وه، ان دده په اداره کې د چارو د اداري د رئیس یوسف اعتبار عملي واك تر ده زیات و.

د بېلګې په توګه په لنډمهاله اداره کې یوسف اعتبار په دې توانېدلای چې له کرزي صیب سره د ګڼو افغان شخصیتونو، قومي مشرانو د کتنې مخه ونیسي او ګڼ شمېر هغه اسناد او غوښتنلیکونه چې د کرزي صیب لاسلیك او حکم پرې لازمي وو، له ځان سره خوندي کړي او کله چې بیا کرزی صیب د کوم سفر په نیت وتلای نو ده ټول اسناد په محمدقسیم فهیم چې د کرزي صیب مرستیال او د فاع وزیرګڼل کېږي، لاسلیك کړي. د باوري او د قیقو سرچینو له مخې په لنډمهاله اداره کې چې یو ځل کرزي صیب یو بهرني هېواد ته سفر درلود، یوسف اعتبار له همدغه څو ورځني غیابت نه ګټه پورته کړه او په مجموعي ډول یې د (۸۰۰) تنو د تقرر اسناد چې د نظار شورا له خوا یې سپارښتنه شوې وه، په فهیم لاسلیك کړل، په دې کې اکثره کسان د پنجشېر ولسوالۍ وو، چې د دولت په حساسو پوستونو کې مقرر شول. له دې جملې نه د راډیو ټلویزیون د هغه وخت د رئیس تقرر و چې پخوا ځنډول شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوسف اعتبار په لسګونو ځله دا کار کړی چې اساسي اسناد له ځان سره ساتي او کله چې کرزی صیب چېرته په کورني او بهرني سفر ووځي نو بیا دې ددې اسنادو دوسیه فهیم صیب ته وړاندې کوي. له همدې کبله په کابل کې د دولت د واك بیلانس داسې نا انډوله دی چې د هېواد په پنځه زره کلن تاریخ کې یې بېلګه نه شته او نه هم په جنوبي افریقا کې چا د اپارتائید داسې بېلګه لیدلې ده. په کابل کې اساسي واك د افغانستان د ټول نفوس له صفر اعشاریه درې(۳، ۰) فیصده وګړو سره دی او نور نهه نوي اعشاریه اووه (۹۹،۷) سلنه ترې بې برخې ده. که چېرې د ګردې نړۍ د هېوادونو د حکومتونو تشکیلات راوسپړل شي، نو په یقین سره ویلای شو چې هېڅکله به هم داسې نا انډولي په کې ونه لیدل شي، د بیړنۍ لویې جرګې لپاره د انتخاباتو د کړنلارې له مخې په افغانستان کې د ټولو ولسوالیو شمېر اوس (۳۶۲) ولسوالیو ته رسېږي، خو له دې ټولو (۳۶۲) ولسوالیو څخه واك اخیستل شوی او یوازې یوې ولسوالۍ (پنجشېر) ته ورکړل شوی دی. دا ددې خبرې ښکارندویه ده چې په افغانستان کې د قانوني او عملي واك ترمنځ زیات واټن موجود دی، په همدې لنډمهاله اداره کې د قانون له مخې باید د پیسو ټول واك خپله کرزي صیب، مالیې وزارت او د افغانستان بانك سره وای. خو په عملي ډول داسې نه وه، پیسې په روسیه کې چاپېدې، په کانتینرونو کانتینرونو استاد رباني ته چې دا وخت یې په افغانستان کې هېڅ ډول رسمي دنده او مکلفیت نه درلودل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه جنرال فهیم ته راتللې، نه پرې د کرزي صیب زور رسېده، نه د مالیې وزارت او نه هم د افغانستان بانک.

نړیوالو سوله ساتو ځواکونو او امریکایانو ته هم دا خبره ښه معلومه وه، خو ټولو ځانونه غلي کړي وو. تر بېړنۍ لویې جرګې پورې په افغانستان کې د قانوني او عملي واك ترمنځ هېڅکله هم توازن رانغی او په دې ټوله موده کې عملي واك پرقانوني واك حکومت وکړ، په نتیجه کې په لسګونو زرو نا اهلو کسانو د دولت په اکثرو پوستونو کې ځای ونیو.

کله چې خبره لویې جرګې ته ورسېده، نو داسې هیله وه چې قانون باید واکمن شي، هرڅوك باید د خپلو قانوني حدودو تر بریده واك ولري. لویې جرګې پر کرزي صیب ډېر غټ باور وکړ، له (۱۵۰۰) تنو څخه (۱۲۹۵) تنو کرزي صیب ته په دې خاطر رایې ورکړې چې دولت کې مثبت بدلون راولي او نا مشروع واکمني ختمه کړي، خو کرزي صیب له هرې منفي وجې چې و یو ځل بیا پر ټوپکسالارانو او جنګسالارانو د خپلې مینې او لورېینې لاس راکاږه، بیا یې واك همغو کسانو ته وسپاره چې دا ټولې ناخوالې ترې ټوکېدلې وي. یو ځل بیا یې مړې پر ګودام پیره کړې، ان دا چې د خپل ریاست د چارو د ادارې رئیس ښاغلی اعتبار یې هم لرې نه شو کړای، چې د کابل د فاشیستي او تبعیضي ادارې په ترکیب او جوړښت کې ډېر اساسي رول لري او ان د کرزي صیب او ولس ترمنځ حایل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظار شورا ته نه یوازې ددې واك ورکړل شوی چې دحکومت په ټولو اساسي پوستونو کې د شمال ټلوالې غړي په تېره بیا پنجشېر ګروپ مقرر کړي، بلکې ددې حق هم ورکړل شوی چې هغه پاتې یوه نیمه څوکۍ چې پښتنو، هزاره وو او ازبکو او یا نورو قومونو پورې منسوب اشخاصو ته رسېږي، په هغو کې هم د خپلې خوښې غوراوی او چاڼ وکړي، څوك چې بیا دوی ته ډېر نږدې وي، همغه بیا پر دې څوکۍ کېنوي، د بېلګې په توګه به تاج محمد وردګ یاد کړو چې د نظار شورا ډېر نږدې پلوی دی او په امریکا کې د ستمیانو د نشراتي ارګان ( امید) جریدې ډېر نږدې همکار او ملګری پاتې شوی، د یادونې وړ ده چې امید جریده او ستمیان اساساً د افغانستان وجود نه مني او د افغان او افغانستان له تصور سره مخالف دي، خو ښاغلی تاج محمد (وردګ ) صیب یوازنۍ نسلي پښتون دی چې ددې افغان ضد خپرونې همکار او ملګری پاتې شوی دی.

له بل پلوه تاج محمد وردګ صیب له پنجشېریانو سره خپلولي هم لري او عمر یې هم تر اتیا کلونو اوړي (د عمر دومره زیاتوالی په اداري بې کفایتۍ کې ستر رول لري)، د همدغو عواملو له کبله د کابل په اداره کې پنجشېر ګروپ غوره وبلله چې د کورنیو چارو وزارت پوست د پښتنو د سمبولیکې استازۍ په توګه په تاج محمد وردك ډك کړي. په کورنیو چارو وزارت کې له تاج محمد وردګ څخه د همدې وزارت د یو بل لوړ پوړي پنجشېري چارواکي دین محمدجرئت واك ډېر زیات دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عملي واك دا نامشروع برید ان تر دې پورې غځېدلی چې په دې وزارت کې د وزیر د یوه پنجشېري سکرتر واك تر وزیره هم لوړ دی. په بهر کې په افغاني سفارتونو کې په سلو کې نږدې (۹۰) مامورین په پنجشېر ګروپ پورې تړلي دي او په بورسونو کې هم همدا حال دی.

همدغه حال پر اکثرو وزارتونو او ادارو واکمن دی، یانې دا چې هغه وزارتونه چې نیغ په نېغه شمال ټلوالې ( پنجشېرګروپ) پورې تړلي، د هغو واك هم سل په سلو کې له پنجشېریانو سره دی او هغه ادارې چې له پنجشېر ګروپ سره نه دي، د هغو واك په سلو کې (۹۰) له پنجشېریانو سره دی، له نورو قانوني واکمنو سره د واك فیصدي ډېره کمه او په نشت حساب ده. په مجموعي ډول ټول واك صفر اعشاریه درې(۳,۰) فیصده وګړو ته سپارل شوی او نهه نوي اعشاریه اووه (۷,۹۹) فیصده خلك ترې محروم دي.

دا افراط پنجشېر ګروپ یوازې په خپل زور او طاقت زموږ پر ولس نه دی واکمن کړی، بلکې په دې کې ورسره روسیه، هند او ایران فعاله ونډه اخلي او د امریکا متحده ایالت هم ورسره سرخوځوي، ملګري ملتونه هم په کې د همکار رول ادا کوي. د همدغه ناقانونه واکمنو حاکمول دي چې د ټولې دنیا له سیاسي، پوځي او اقتصادي ملاتړ سره سره په هېواد کې سوله او ثبات نه رامنځته کېږي او اقتصادي پرمختیا ته زمینه نه برابرېږي. که چېرې په هېواد کې د نړیوالو دغلط افهام او تدبیر تر چتر او سیورې لاندې د صفر اعشاریه درې (۳،۰) فیصده وګړو داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فاشیستي او افراطي واکمني دوام مومي، نو د پنجشېر ګروپ ملاتړي بهرنیان دې هم داسې فکر نه کوي چې نهه نوي اعشاریه اووه (۹۹،۷) فیصده ولس به لاس تر زنې کېني او یا به پر دوی ګلان شیندي، مجبور دي له هرې ممکنې لارې د خپلو حقه حقوقو د ترلاسه کولو لپاره هڅه وکړي او ځان وسلوال غبرګون ته تیار کړي. دا چې عام ولس دې حد ته رسېږي چې نور یې د صبر کاسه تر مورګو ډکه شي، وسله وال پاڅون او غبرګون ته لاس واچوي، نو تر هغه دمخه په کار ده چې ملګري ملتونه، د امریکا متحده ایالات او په مجموعي ډول ټول هغه بهرني قوتونه چې پنجشېر ګروپ یې پر کابل واکمن کړی پرېکړه وکړي چې د پنجشېر ګروپ دا فاشیستي، سکتاریستي او تبعیضي افراط پای ته ورسوي، په دې ډول به نړیواله ټولنه هم خپل بایللی اعتبار ترلاسه کړي، پنجشېرګروپ به هم د وسلوال غبرګون له سختې او دوی ته له منفي نتیجې څخه وژغورل شي او په هېواد کې به سولې او ثبات ته هم لاره اواره شي.

په هېواد کې د یو با ثباته او رښتیني ملي حکومت د جوړېدو
په هیله
د هیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوله، عدالت او که دواړه؟

کله چې د امریکا متحده ایالاتو د طالبانو د رنګولو لپاره ماشې ته ګوته ور وړله، نو هغه وخت ګڼو افغانانو او په تېره دلید او نظر خاوندانو سره دا پوښتنه زیاته مطرح کېدله چې د طالبانو بدیل او ځای ناستی به څوك وي او څوك به د هغوی ځای ډکوي؟ هغه وخت د امریکا غږ راډیو او یو شمېر نورو خپلواکو سرچینو په پټه یوه ټولپوښتنه او نظر غوښتنه کړې وه، ددې نظر غوښتنې نتیجه دا راوتې وه چې په سلو کې (۹۵) افغانانو ویلي وو: "د طالبانو تر سقوط وروسته چې هرڅوك راځي را دې شي خو چې پخوانۍ جنګي ډلې رانه شي". له پخوانیو جنګي ډلو څخه اصلي مقصد د جمیعت تنظیم او په تېره بیا د نظار شورا ډله وه، ځکه دا وخت نورې اکثره پخوانۍ جنګي ډلې د طالبانو له خوا له زوروځواکه غورځول شوې وې، یوازې د جمیعت تنظیم پاتې و، هغه هم د مرګ پر پوله شپې سبا کولې. د خلکو وېره دې وخت کې دا وه چې که بیا هم کابل د نظار شورا لاس ته ورشي، نورې ډلې به یې مخالفت ته را ودانګي او بیا به د جنګونو لړۍ پیل شي، افغاني ټولنې ته د نظار شورا کفایت او ظرفیت، د هغې په تېره څلورنیم کلنه نیمواکه واکمنۍ کې ښه معلوم شوی و، نو ځکه یې د هغې بیا واکمني دیوې ترخې تجربې تکرار ګاڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړیوال ائتلاف په تېره بیا امریکایان هغه وخت سخت په غوسه وو او دخپل قهر څپې یې نه شوې کېنولای، نو ځکه یې په ډېره بیړه نظامي عملیات پیل کړل، په نتیجه کې سیاسي حل لاره او بهیر تر جګړه ییزې حل لارې شاته پاتې شول او بېرته همغه ځوک پر کابل واکمن کړای شول چې خلکو ورڅخه وېره او کرکه درلودله او ښه یې نه ایسېدل. کله چې نظار شورا واك ته ورسول شوه، نو بیا ځینو داسې تصور او اټکل وکړ چې دا ځل به دا ډله د یو ملي حکومت جوړېدو ته لاره خوشې کړي او له تېرو تجربو څخه به عبرت واخلي، خو تر څو میاشتنۍ واکمنۍ وروسته څرګنده شوه چې د هغوی په فطرت او چلند کې کوم بدلون نه دی راغلی، تر هغه وروسته په هېوادنۍ کچه، سره له دې چې یو لړ بدلونونه راغلل، لویه جرګه جوړه شوه، د زعامت مشکل تریوه حده حل شو، عمراني کارونه پیل شول، ګڼ شمېر مهاجرین بېرته هېواد ته ستانه شول، خو بیا هم اساسي مشکل تر اوسه پر خپل ځای پاتې دی.

په افغانستان کې اساسي ستونزه سیاسي مسئله ده، پوځي ډلې هم دسیاسي عدالت د نشتوالي له امله رامنځته شوي، که چېرې په افغانستان کې په رښتینې بڼه سیاسي عدالت تامین شي او هره سیاسي ډله د خپل کفایت او هر قوم د خپل کمیت او کفایت له مخې د هېواد په سیاسي چارو او برخلیك کې شریك شي، نو نظامي ډلې ورو ورو خپل ارزښت او ماهیت له لاسه ورکوي. د سیاسي عدالت تر تامین وروسته ټولنیز عدالت،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنیز ثبات او هېوادني پرمختګ ته لاره اوارېږي، تر دې ټولو وروسته بیا مدني ټولنه جوړېږي، خو په خواشینۍ سره باید ووایو چې په افغانستان کې اوسنۍ سیاسي پرمختیاوې د ګڼو معاملو د پردې ترشا اوډل کېږي او ترسره کېږي.

اوسنۍ سوله او اوسنی سیاسي ثبات دواړه حقیقي نه دي، هم سوله تصنعي ده هم سیاسي ثبات. په سیاسي برخه کې یوه خاصه ډله واك ته رسول شوې چې دصفر اعشاریه درې (۳,۰) فیصده وګړو استازولي هم نه شي کولای، دا ډله دیو بهرني زبرځواك د الوتکو تر وزرونو لاندې خپل ژوند تېروي، که نن هم په افغانستان کې بهرني ځواکونه نه وي، په کابل کې د نظار شورا واکمني میاشتې لا څه چې څو ورځې هم دوام نه شي کولای، علت یې دا دی چې نهه نوي اعشاریه اووه (۷,۹۹) فیصده خلك له واکه محروم دي. عام ولس اوس ځکه د نظار شورا پر ضد وسلوال بغاوت نه کوي چې مخې ته یې د نړیوال ائتلاف ځواکونه پراته دي او دوی له هغوی سره مخامخېږي، نو ځکه خو غلی مخالفت کوي او عملاً ستر نظامي ټکر نه شته. د ملګرو ملتونو چارواکي داسې فکر کوي چې څه خو (۸۰-۹۰) فیصده خلك خو خپل حقوق نه غواړي، په اصطلاح دا ظلم یې پر ځان منلای، دا یو څو فیصده خلکو ته چې واك ته رسېدلای، که له دوی څخه اوس واك اخلې، نو دوی وسلې ته لاس اچوي، ځکه چې تیارې وسلې هم ورسره دي، کله چې دوی وسلې ته لاس وروړي، نو جګړه پیښېږي، نو ښه داده چې که عدالت هم نه وي، نو لږ تر لږه خو به

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوله تامین شي، همدا هم کفایت کوي. ملګري ملتونه په دې هم خپل نوم نه بدوي چې دوی اوس په افغانستان کې حضور لري او دوی نه غواړي ددوی په شتوالي کې په افغانستان کې لویې جګړې پیل شي، دهمدغسې معاملو په نتیجه کې نسبي سوله راغلې، خو عدالت په کې تر پښو لاندې شوی دی.

ملګري ملتونه او ځینې نور بهرنیان شاید داسې فکر وکړي چې دیوې ناعادلانه سولې ترټینګېدو وروسته به ورو ورو دایمي ټولنیز عدالت او سیاسي ثبات ته هم لاره اواره شي، ځکه چې د خلکو ترمنځ به د سولې کلتور دود شوی وي او د جګړې فرهنګ به کمزوری شوی وي، خو دلته تجربو ښودلې چې هره سیاسي جنګي ډله یو ځل واك ته رسېدلې، نو بیا یې خپله ټوله انرژي د خپل واك په ټینګولو او دخپلو مخالفینو پر ځپلو لګولې ده، جګړې همداسې دوام موندلای ترڅو چې واکمنه ډله له واکه پرځول شوې او تر هغه وروسته بیا همدا لړۍ تکرار شوې ده.

افغان ولس اوس له متمدینو هېوادونو او په تېره بیا له ملګرو ملتونو ګیله کوي چې په نورو ځایونو کې د زورواکۍ، ظلم او تشدد غندنه کوي، خو په افغانستان کې بیا دیوې جنګي ډلې له واکمنۍ سره هغه هم په دې پلمه چې سولې ته خطر پېښ نه شي، مرسته کوي او عمر یې اوږدوي.

څه موده دمخه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي ښاغلي لخدربراهیمي په شمال ولایتونو کې د شمال ټلوالې له خوا دشویو ډله ییزو وژنو د څېړنو په باب وویل: "مړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې خدای وبښي موږ باید د ژوندیو غم وخورو" د اصولو له مخې دا خبره، سمه ده ځکه چې مړي هسې هم په ژړا نه را ژوندي کېږي، ښه خبره داده چې دژوندیو غم وخوړل شي خو اصلي خبره دعدالت ده، ترڅو چې عدالت تامین نه شي د نورو کړکېچونو د پېښېدو وېره شته. ښاغلی لخدر براهیمي وایي چې په اوس وخت کې موږ تر عدالته سولې ته زیاته ترجیح ورکوو، مانا دا چې که دیوه جنګسالار تر وزر لاندې هم سوله رامنځته کېږي، موږ دهغه ترخه ماضي هېروو. خو زموږ د ولس هیله بیا داسې نه ده، ولس د جنګسالارانو او ټوپکمارو د چلونو، وعدو، سوګندونو او پرله پسې ژمنو یوه ډېره پخه تجربه او تاریخچه لري. د جنګسالارانو ژمنې او سوګندونه ان د کعبې شریفې تر حرمه هم رسېدلي، خو بیا هم جنګونه او عداوتونه بند شوي نه دي، ملګري ملتونه داسې فکر کوي چې دا ځل نو جنګسالاران اصلاح شوي او تېر عملونه بیا نه تکراروي. جنګسالارانو اوس ځکه ځان غلی کړی چې د امریکایي بي **۵۲** الوتکو څخه د وېرې احساس کوي، دوی وایي تر هغو چې مو امریکایانو او ملګرو ملتونو سره شپې تېرېدلې، هغه به تېروو او کله چې دوی په خیر سره له افغانستانه رخصت شول، نو بیا به بېرته د خپل فطرت او طبیعت له مخې کار کوو. ولس سره دا وېره هم شته چې په افغانستان کې دنړۍ د ګڼو هېوادونو له دومره ستر ځواك سره سره بیا هم چا جنګسالارانو سره حساب ونه کړای شو، نو بیا به وروسته تر دې موږ په تش لاس له هغوی سره څه وکړای شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه دا چې ولس عدالت غواړي، هم د پخوانیو حسابونو تصفیه غواړي او هم په اوسني وخت کې دپخوانیو جنګسالارانو د واکمنۍ پای ته رسېدل، ځکه دوی وېره لري چې په همدې ډول به د جنګسالارانو د واك لړۍ وغځېږي، بیړنۍ لویه جرګه یې یو ښه مثال دی، چې جنګسالارانو کرزی صیب او نړیواله ټولنه (ملګري ملتونه) مجبور کړل؛ دلویې جرګې له خوښې پرته نوې کابینه جوړه کړي او پخوانیو جنګسالارانو ته بیا غټ غټ امتیازونه ورکړي.

زموږ په اند د ولس دا وېره پرځای ده، که چېرې سوله او عدالت په موازي ډول پرمخ لاړ نه شي او د لویې جرګې په شان عدالت تر سولې قربان شي، نو دایمي سوله او سیاسي ثبات ناشونی کېږي. دلویې جرګې تر پای ته رسېدو وروسته کرزي صیب په یوه خصوصي ناسته کې ویلي وو:"موږ په لویه جرګه کې عدالت تر پښو لاندې کړ او سولې ته مو چیلنج ورکړ"، مانا دا چې په وزارتونو کې د جنګسالارانو ونډه ښه درنه شوه.

همدا علت دی چې له لویې جرګې څخه تر اوسه پورې په هېواد کې د ډاډمنې سولې، سیاسي ثبات، ملي اردو او ملي پولیسو (ځارندوی) د جوړېدلو په لاره کې ډېر کم پرمختګ شوی دی.

موږ هیله لرو چې ملګري ملتونه په خپله افغان پالیسۍ کې بدلون راولي او د جنګسالارانو تر وزرونو لاندې د سولې بهیر همداسې پرمخ بونه ځي، بلکې د ټولنیز او ملي عدالت د تامین لپاره یوه لاره دا ده که جنګسالاران ژر ترژره محکمې ته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکاږل کېږي، نو لږ تر لږه خو باید نور امتیازونه ورته ورنه کړل شي. ښه لاره داده چې د واکمنۍ امتیاز باید په خپله ولس ته ورکړل شي، نه جګړه مارو ته.

که چېرې په افغانستان کې دعدالت پر بنسټ سوله او سیاسي ثبات رامنځته شي، نو دابه ډاډمنه سوله او سیاسي ثبات وي، دایمي به وي نه موقتي لکه د اوس په شان.

په هېواد کې دیوې عادلانه سولې او سیاسي ثبات د ټینګېدو په هیله

دهیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانستان د ابهام پر لوري

مخکې داسې فکر کېده چې د سترو ځواکونو او د نړیوالې ټولنې په مداخلې او زیات پام سره به د افغانستان ستونزه حل او د افغانانو دې اوږده رنځ ته به درمل پیدا شي، خو له هغه وخته چې د امریکا د پوځي بریدونو په نتیجه کې طالب نظام رنګ او د نړۍ پام افغانستان ته را اوښتی او د جهان ډېرو ځواکمنو هېوادونو دلته پوځي او سیاسي حضور پیدا کړی، د افغانستان د ستونزې دمشوړې سر بېخي لادرکه شوی دی.
دا خبره اوس معلومه نه ده چې اصلي اجنډا چا سر ده؟ امریکایانو سره، ملګرو ملتونو سره، ایران، روس، هند، پاکستان، فرانسې او یا ترکیې سره؟ او که نه خپله افغانانو سره؟ په افغانانو کې بیا چا سره ده؟ شمال ټلوالې (نظار شورا سره)؟ د هغو مخالفو جهادي ګروپونو او طالبانو سره او که ملي دیموکراتو اشخاصو سره؟ کله چې څوك دغسې پوښتنې په ذهن کې را وګرځوي نو له ډېرو ابهاماتو سره مخامخېږي، خو دې ابهاماتو کې بیا هم سړی څه نا څه یوه اټکل ته ګوته نیولای شي.
په افغانستان کې د اوسنیو ابهاماتو په لړ کې د دنیا د ظاهري اسبابو دمنطق په مټ ویلای شو چې د افغانستان د اوسنۍ ستونزې د مشوړې سر تر هر چا لومړی دامریکایانو په لاس کې دی او په کورنۍکچه په کې زیات مطرح لوبغاړی همغه شمال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټلواله (نظارشورا ګروپ) دی، خو کله چې سړی د امریکا او شمال ټلوالې دې نا متجانس پیوستون ته ګوري، نو د سړي ذهن بیا د ابهام خوا ته مخه کوي او وایي چې: "دا وړی لکه چې شړی نه شي"، ځکه د روس او ایران د ښوونځي زده کوونکي څنګه امریکایي سندرې او ترانې زمزمه کړي، خو په سیاست کې دا هرڅه پېښېدی شي، سیاست څه اخلاقي موضوع نه ده، مخ و څټ، رنګ او چوکاټ نه لري، پروني دښمنان نن دوستانېدلای شي او نني دوستان سبا بیا د دښمنۍ ډګر ته وتلای شي.

سیاست داسې شی دی چې کله کله په کې خلك په کعبه شریفه کې قسم خوړلو ته هم اړکېږي، کله کله سړی ډیرې پرېښودلو څه چې اوډدولو او ځینې وخت یې خریلو ته هم اړ وزي. سړی چې همدغه حالات ګوري نو په ذهن کې یې ابهام راټوکېږي. زموږ د هېواد پر سیاسي ډګر اوس د همداسې یو سیاسي ابهام سیوری خور دی. د حکومت ملکي او قانوني برخه اجرائیوي ځواك نه لري، ترڅنګ یې د جنګي ډلو واکمن استازي د هرڅه د ویتو کولو حق لري، دنن او سبا لپاره کومه رڼه پالیسي او روڼ مهالوېش نه شته، ټول د بهرنیانو مرستو ته په طمع یو. په سیاسي برخه کې مو خپل نوښت او خپله ځواکمني له لاسه ورکړي. ایډیالوژیو او ایډیالونو، د اوږده او زېبښونکي فقر او تنګسیا له امله خپل پخوانی کیف او خوند له لاسه ورکړی، اوس خلك په اسانۍ زړه نه ښه کوي چې دا فاني نړۍ دې بې له هغې و دغې د هغې بلې تلپاتې دنیا لپاره له لاسه ورکړي، اوس د پانګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ګټې بازار ګرم دی، غیرت، توره، د پلار ننګه مېړانه اوس عملي لغتونه نه دي، بلکې د ژبني قاموس برخه دي.

اوس خلك خپلو ګټو پسې ګرځي او ګټې هم د هغه چا په لاس کې دي چې ګټې یې زموږ د هېواد له ملي ګټو سره مخالفې دي. ګټې تر لاسه کول هم اسانه کار نه دی، پخوانیو متل کړی چې "ګټې تر ګټو لاندې دي". نو اوس چې څوك ګټې ترلاسه کوي، مجبور ګټونه به اړوي او ګټونه چې اړوي نو مجبور لاسونه به یې ور لاندې کېږي. ښکېلاك اوس افغان سیاسي ګروپونه او د هغو ډلمشران په همدغسې یوې تنګسیا کې راګیر کړي، ګټه ورکوي، خو لاسونه یې تر (ګټو) لاندې کوي. نو هغه کسان چې لاسونه او پښې یې تر ګټو لاندې وي هغوی به څرنګه په هېواد کې ازاد ژوند او فکر وکړای شي او څنګه به ولس پرې راټول شي.

زموږ د ولس د چارو واګې اوس په کورنۍ کچه د همدغسې اشخاصو لاس ته ورغلي، ددوی په شتوالي کې دیو سالم او ملي نظام ټینګښت او پایښت نا شونی دی او له زاړو د کټوري طمع کول دي. اساسي بهرني زبرځواکونه هم همداسې کسان خوښوي چې ولس ته د خپلې راتلونکې، لیدلوری معلوم نه کړي او دوی له دې ابهام څخه خپله ګټه پورته کړي.

اوس نو روښنفکره او ټولو ملتپالو افغانانو او په ټولیز ډول ټول افغان ولس ته په کار ده چې له دې ابهام څخه د خلاصون لپاره لومړی پر دې اوسني حکومت، بیا د ملګرو ملتونو پر سازمان، بیا د امریکا پر متحده ایالتونو او د افغانستان په کشاله کې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو اخته هېوادونو هر اړخیز فشار راوړي چې د افغانستان په اړه یوه رڼه، شفافه او څرګنده لیکلې ستراتیژي له وخت او ځای سره سمه، زموږ ولس ته وړاندې کړي چې زموږ د ملت راتلونکی معلوم او تضمین شي او هر سړی د خپل کار په سر وبر پوه شي او که داسې ونه شي له اوږده ابهام سره دیو ملت د برخلیك تړل یوه ستره تېروتنه او خطرناکه لوبه ده.

له ابهام او تورتم نه رڼا ته د وتو په هیله

په درنښت

دهیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پر دولتي خپرونو تنظیمي انحصار څنګه له منځه تللای شي؟

د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته د افغاني ټولنې په بېلابېلو برخو کې ډول ډول بدلونونه رامنځته شول، چې ځینې یې مثبت دي او په ځینو برخو کې خبره تر پخوا هم خرابه شوې ده. د مطبوعاتو او خپرونو ازادي او په دې برخه کې زیات پرمختګ هغه مثبت ګام دی، چې په تېر یو نیم کال کې پورته شوی دی.

اوس د ټول هېواد په کچه تر (۲۲۰) عنوانو زیاتې مهالنۍ خپرونې خپرېږي، چې د څومره والي او څرنګوالي له پلوه یې د هېواد په ټول مطبوعاتي تاریخ کې ساری نه لیدل کېږي.

د ازادو چاپي خپرونو ترڅنګ بله د یاد وړخبره داده، چې ازادو ټلویزیونونو او ازادو راډیوګانو ته هم د فعالیت اجازه شته، تر اوسه پورې ځینو افغانانو د ازادو راډیو ګانو او ازادو ټلویزیونونو د جوړولو لپاره غوښتنلیکونه ورکړي، ځینو خو لا اجازې هم ترلاسه کړې، خو تر اوسه لا کومې دا ډول خپرونې پر عملي فعالیت لاس نه دی پورې کړی. البته یو شمېر نورې داسې راډیویي خپرونې شته چې هغه یامستقیماً د نړیوالو له خوا او یا د هغوی په مرسته له افغانستان څخه خپرېږي او یا هم د راډیو افغانستان د (FM) او نورو څپو له لارې خپرونې کوي. په ټلویزیوني برخه کې هم دالمان ټلویزیون د بهرنیو خپرونو څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل لنډ بهرني خبرونه په پښتو او دري ژبو له کابل ټلويزيون څخه خپروي.

دا ټول پرمختګونه ددې څرګندوی دي چې د هېواد د ډله ییزه خپرونو په برخه کې تر یوه حده مثبت پرمختګ رامنځته شوی دی. خو دا پرمختګ او ازادي دومره هم نه ده، لکه څنګه چې د افغانستان اوسنۍ اداره او نړیواله ټولنه یې تبلیغوي، دا خبره درسته ده چې د افغانستان د خپرونو شمېر زیات شوی او تر یوه حده یې کیفیت هم ښه شوی، خو تر اوسه لا ادعا او واقعیت پوره پوره سمون نه لري. اوس تر بل هر وخت څخه زیات دیوه تنظیم، د یوې ډلې، یوه قوم او یوې سیمې خلك د هېواد پر اساسي خپرونو واکمن دي او دا هڅه هم کوي، چې خپل انحصار ته دوام ورکړي او ددوی تر انحصار بهر خپرونې هم تر ګواښ لاندې راولي، په حقیقت کې اوس اکثره خپرونې داسې ازادې دي چې له اساسي واکمن ګروپ پرته نورې هرې ډلې او تنظیم ته د انتقاد ګوته ونیسي، خو یوازې پر اساسي واکمنې ډلې به انتقاد نه کوي.

دلته به د دولتي او نادولتي خپرونو پر څرنګوالي لنډه رڼا واچوو:

الف- دولتي خپرونې: په دولتي خپرونو کې دوه ډول خپرونې دي:

لومړی:- هغه خپرونې چې په مطلق ډول د نظار شورا په انحصار کې دي. دا ډول خپرونې د دولت له پانګې او بیت المال څخه تمویلېږي، خو دفکر او نظر له پلوه یوازې د یوه ځانګړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګروپ (نظار شورا) د ګټو او نظر ځرګندونه کوي، هرڅوك چې دنظار شورا مخالفین دي؛ طالبان دي، که روښنفکران یا د نورو ډول ډول سیاسي افکارو خلك، د همدې دولتي انحصار شویو خپرونو له لارې په بېلابېلو نومونو تورنېږي او بد رد ورته ویل کېږي، ددې خپرونو غوره بېلګه خپله کابل راډیو ټلویزیون دی، چې هېڅوك داسې فکر نه کوي، چې دا د افغانستان راډیو ټلویزیون دی، که د نظار شورا یا د پنجشېر ولسوالۍ د څو تنو اوسېدونکو.د راډیو ټلویزیون له (۱۹) ریاستونو رئیسانو له جملې څخه (۱۷) رئیسان په تاجك قوم پورې اړه لري، دا په کابل کې د مطبوعاتي او قومي انحصار او ځانګړې قوم پالنې هغه بېلګه ده، چې تر اوسه به په جنوبي افریقا کې لا څه، بلکې په ټوله نړۍ او په تېره بیا په داسې یو هېواد کې چې د اکثریت ترځنګ بېلابېل قومي اقلیتونه په کې اوسي، چا نه وي لیدلې.

عام ولس خو څه کړې چې خپله د منځمهالې اداري ديموکرات مشران هم د راډیو ټلویزیون له افراطي حالت نه تر پوزې راغلي او د اطلاعاتو او کلتور وزارت په چوکاټ کې یې د هغو دکنټرول لپاره یو ځانګړی کمیسیون هم جوړ کړی، خو دې کمیسیون هم د خپلې بې کفایتۍ او د راډیو ټلویزیون د چارواکو د ډېرې زیاتې سپین سترګۍ له وجې څه تر سره نه کړای شول.

دویم - هغه دولتي خپرونې دي چې د کابل په اوسنۍ اداره کې ډېرې زیاتې د جنګسالارانو په خدمت کې نه دي، لکه انیس، هېواد، ملي ارمان او ځینې نورې. خو دا خپرونې هم داسې نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په ښکاره یا ضمني ډول دي د کابل پر اوسنۍ اداري د ځینو اساسي واکمنو جنګسالارانو مخالفت وکړي، یوازې دومره کوي چې په ډېر ښکاره او بربنډ ډول د جنګسالارانو ستاینه نه کوي او د هغوی ډېرې سپارښتنې نه مني. په مجموعي ډول دولتې خپرونې تر زیاته بریده د نظار شورا په خدمت کې دي.

ب – ازادې خپرونې: په ازادو خپرونو کې بیا هم څو ډوله خپرونې دي.

لومړی:- هغه ډول خپرونې چې په ښکاره دیو ځانګړي تنظیم له خوا خپرېږي او د همغه تنظیم د ګټو او نظر ښکارندوی دي، لکه پیام مجاهد او جمیعت تنظیم، وحدت حزب او ځینو نورو تنظیمونو پورې نورې اړوندې خپرونې. دا خپرونې د مشخصو ډلو له خوا تمویلېږي او دهغو د افکارو ځلونه کوي، دا خپرونې حق لري دخپلو ځانګړو تنظیمي لېوالتیاو لپاره کار وکړي، خو ددې حق نه لري، چې د هېواد د ملي ګټو، د خاورې د بشپړتیا او اسلامي ارزښتونو خلاف خپرونې وکړي، خو په دې تنظیمي خپرونو کې داسې خپرونې هم شته، چې ان د هېواد د ملي ګټو، ملي وحدت او د خاورې د بشپړتیا پرضد لیکنې هم خپروي، غوره بېلګه یې خپله د ((پیام مجاهد)) جریده ده.

دویم:- هغه ډول خپرونې دي چې د بېلابېلو تنظیمي او په دولت کې د شاملو اشخاصو له خوا چاپېږي او د ازادو خپرونو تمثیل کوي، ددې ډول خپرونو مالي لګښت د یو شمېر خیریه ټولنو او نړیوالو سازمانونو له خوا په دې نیت ورکول کېږي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان کې ازاد مطبوعات تقویه شي، ددې خپرونو چلوونکي له همدغه نیت نه په ناوړه ګټې اخیستنې سره خپل مالي لګښت له همدغو سرچینو څخه ترلاسه کوي، خو خپرنیز کار یې یوازې د یوې مشخصې ډلې، قوم، سیمې او ژبې لپاره وي. دوی ازادي دې ته وایي چې یوازې د هغه تنظیم چې دوی ور پورې اړه لري د هغو له افرادو څخه پرښتې جوړې کړي، د بېلګې په توګه به کابل اوونیزه یاده کړو، چې دنظار شورا د یو اساسي غړي له خوا خپرېږي.

ددې جریدې لګښت په کابل کې د (ایینې) په نامه دیوې ادارې له خوا ورکول کېږي، دا اداره ځان (افغان کلتوري او مطبوعاتي مرکز) ګڼي او غواړي په افغانستان کې ازادو مطبوعاتو ته وده ورکړي، ویل کېږي چې ائینه د ملګرو ملتو دیونیسکو په سازمان پورې تړلې یوه اداره ده، چې په کابل کې پرې یو شمېر فرانسوي اتباع اساساً واکمن دي.

دا اداره د کابل اونیزې، زنبېل غم، ملالۍ او یو شمېر نورو خپرونو لګښت ورکوي. خو اوس راځو دې ته چې ایا کابل اوونیزه، رښتیا هم یوه ازاده جریده ده که نه؟ که دا جریده رښتیا هم یوه ازاده جریده وي، نو ایا تر اوسه یې د کابل د ورانوونکو له جملې څخه د یوه تن اساسي ورانوونکي او د سالنګ د تونل د الوزونکي پر ضد کوم مطلب خپور کړی او یا خپور به یې کړي؟ د نړیوالو مطبوعاتو د رپوټونو له مخې د سالنګ پر بیارغونه نږدې پنځه ملیونه امریکایي ډالره لګښت راغلی، ایا کابل اونیزه او یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په کابل کې نورې دولتي او ازادې خپرونې به دا وليکي چې دا تونل چا الوزولای دی؟

دې کې هېڅ شك نه شته چې کابل اونيزې به ډېر داسې مطالب خپاره کړي وي، چې د نورو تنظيمونو خلاف وي او په دې کې به يې د ولس د هيلو يو څه ځرګندونه هم کړې وي، خو ايا تر اوسه په کې داسې مطلب هم چاپ شوی چې هغه دې د نظار شورا او يا هم د جميعت تنظيم پر ضد وي؟

نو که چېرې داسې نه وي، نو بيا خو دا جريده يوازې د نظار شورا د ګټو ساتندويه او ځرګندويه خپرونه ده، نو ازاده ورته څنګه ويلای شو؟ د ازادو خپرونو تر ټولو مهم اصل ناپېيلتوب دی، هره خپرونه کې چې دا اصل مراعت شوی نه وي، ازاده ورته نه شو ويلای، نو هغه خپرونې چې ازادې نه وي، ولې بيا پر ځان د ازادو او ناپېيلو خپرونو نوم ږدي او ولې ورته د ائيني په شان يوه اداره چې د ازادو خپرونو د ملاتړ ادعا کوي، داسې تنظيمي او تنظيمي ډوله خپرونو ته مالي لګښت ورکوي او ولې پرې د ازادو خپرونو رنګه پيکه کوي؟ دا ډول خپرونې په کابل کې نورې هم شته چې دلته يې له شنلو تېرېږو.

درېيم:- دپه کابل او ولايتونو کې يو شمېر داسې ازادې خپرونې هم شته چې تر ډېره حده يې د بې طرفۍ اصل ساتلای، ژبني او سيمه ييز توازن او تناسب ته يې پاملرنه کړې او تر يوه حده يې د سالم انتقاد روحيه پياوړې کړې. په کابل کې يې نسبتاً ښې بېلګې د ((کليد)) اونيزه او د ((ارادې)) ورځپاڼه دي، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولایتونو کې هم دا ډول بېلګې شته، خو دا خپرونې هم تر اوسه پورې په دې دریغ کې نه دي، چې پر کابل او د هېواد پر نورو سیمو د واکمنو اساسي جنګسالارانو پر وړاندې یوه مطبوعاتي جبهه پرانیزي او یا دې هم د اپوزیش شکل غوره کړي، دوی یوازې دومره کړي چې د جنګسالارانو د ستاینې په باب هېڅ مطلب نه خپروني او کله کله هم یو نیم مالګین انتقاد ته په خپلو پاڼو کې ځای ورکوي.

په هرحال په مجموعي ډول د ازادو خپرونو حالت هرڅنګه چې وي، تر دولتي هغو ډېر ښه دی. خو اوس راځو دې ته چې پر دولتي خپرونو تنظیمي انحصار څنګه له منځه تلای شي؟

اصلي خبره داده چې ددولتي خپرونو په تېره بیا د راډیو او ټلویزیون له دې یورنګي حالت او انحصار نه، نه یوازې عام ولس، بلکې خپله یو زیات شمېر دیموکرات دولتي چارواکي هم تر پوزې راغلي او ټول غواړي چې یو مثبت بدلون په کې راشي. زموږ په نظر په دولتي خپرونو په تېره بیا راډیو ټلویزیون کې مثبت بدلون په دې ډول راتلای شي: لکه څنګه چې دولت د دولتي تصدیو د شخصي کولو لپاره یو ځانګړی کمیسیون جوړ کړی او ښاغلی خالق فضل ددې کمیسیون په داسې حال کې دی، داسې دې د کابل راډیو ټلویزیون او ځینو نورو خپرونو د شخصي کولو لپاره هم یو ځانګړی کمیسیون جوړ کړي، اوس خو د مطبوعاتو د قانون له مخې خلك شخصي ټلویزیونونه او راډیوګانې هم فعالولای شي. نو د کابل راډیو ټلویزیون د شخصي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولو لپاره دي هم د ازادۍ داوطلبۍ له لارې اخیستونکي پیدا کړي، ددې ګټه به دا وي چې د دولت اکثره مسئولین به له یو ډېر درونډ مالي او ستر رواني بار او فشار څخه خلاص شي، یانې دا چې که کابل ټلویزیون او راډیو د هغو داوطلبانو ته ورکړل شي، دولت به د هغو تر (۱۲۰۰) زیاتو مامورینو د معاشونو او نورو لګښتونو له غمه بې غمه شي، چې همدا اوس یې ورکوي. اصلي خبره دا ده چې راډیو ټلویزیون خو په واقعیت کې اوس هم شخصي دی؛ یانې دا چې دیوې مشخصې (ډلې نظار شورا) په لاس کې دی او ځینې خلك لا ورته ان پنجشېر ټلویزیون هم وایي، ټول تبلیغات او نشرات یې د همدې ګروپ لپاره دي، د جمهور رئیس کرزي صیب په باب په کې دومره څه نه وي چې د " شېر پنجشېر"، " امرصاحب"، " سخن سالار"، " سردارجهاد"، " سردارشهدا"،" سیمرغ هندوکش"،"فاتح جنګ سرد"، " سپه سالار مقاومت" په باب په کې خپرونې کېږي، نو چې خپرونې یې د یو شخصي ګروپ او د هغه د قومندان لپاره وي، ښه داده چې لګښت یې هم د همدې ګروپ پر غاړه شي.

دولت که چېرې همدا ټلویزیون او راډیو په یوه مناسب قیمت وپلوري، په همدې پیسو کولای شي ازاد او ملي ټلویزیون او راډیو فعال کړي، چې د ټولو خلکو د هیلو ښکارندویي وکړي.

د ولسمشر ښاغلي کرزي د حکومت دیموکراتو اشخاصو ته د راډیو ټلویزیون د اصلاح بله لاره داده چې دوو میاشتو پورې دې کابل راډیو ټلویزیون ټول نشرات او په موقت ډول دمامورینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاشونه بند کړي، که چېرې بیا هم اصلاحات رانغلل د راډیو ټلویزیون ناپېیلو مامورینو ته دې بل ځای کار پیدا کړي او تنظیمي مامورین دې خپل تنظیم ته پرېږدي او د راډیو په تېره بیا د ټلویزیون خپرونې دې تر هغه پورې ودروي، چې د اصلاحاتو شرایط برابر شي، ځکه تر زهرجنو، تنظیمي، سمتي او کرکجنو خپرونو او تر هغو خپرونو چې له هغو څخه د ملي نفاق او کرکې بوی راځي، (نه خپرونې) ښې دي، غبرګون خو نه را ولاړوي. اوس د کابل ټلویزیون پر ځای اکثره خلك د نورو هېوادونو ټلویزیونونه ګوري، علت یې همدا دی چې په کابل ټلویزیون کې داسې څه نه شته چې د خلکو ذوق خړوب کړي، نو پر هغو ټلویزیوني خپرونو چې تر ګټې یې زیان زیات دی، ولې بې ځایه لګښت وشي؟ هغه هم دبیت المال لګښت.

په درناوي

په هېواد کې د مطبوعاتو د رښتینې ازادۍ په هیله

د هیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په افغانستان کې بهرني ځواکونه ګټې او زیانونه

له اخلاقي، ملي، دودیز اوعقیده یي پلوه دا خبره سړی ته ډېره ګرانه پرېوزي، چې په خپل هېواد کې بهرنې ځواکونه وزغمي، هغه هم داسې بهرني ځواکونه چې د یوه قوي پوځي فشار او یرغل په نتیجه کې هېواد ته داخل شوي وي، خو په اوسنۍ نړۍ کې په تېره بیا د نړۍ له یو قطبه کېدو راهیسې پخواني ارزښتونه اوایډیالونه یو څه بدل شوي او نور هم د بدلېدو په حال کې دي.

اوس د منطق ځای زور او د اخلاقو او ایډیالونو ځای اقتصاد یا پیسو نیولای، د عصري ټکنالوژۍ سیلاب د غیرتونو او کلتورونو ډېر ټینګ دېوالونه نړولي، نو ځکه خو چې مشر لالا(د امریکا متحده ایالات) هره خبره کوي هغه په نړۍ کې د کاڼي کرښه ده او څوک یې د بدلانه حق او جرئت نه لري،د نړۍ په هر ځای هره سیمه او هر هېوادکې یې چې هر سیاسي شخص، هر ګوند او هر حکومت ته طبعه خرابه شي نو لومړی ورته پلمې جوړې کړي او بیا یې د له منځه وړلو لپاره د زور اسونه زین کړي.

کومه داسې خبره یا پېښه چې هغې ته د منطق غاښ نه جوړېږي، هغه بیا ملګرو ملتونو او یا هم نورو هېوادونو ته حواله کړي، چې د دوی له خوښې سره سم یې حل کړي، لنډه داچې زور او اقتصاد زموږ د اوسني عصر کلتور او منطق دی، هغو ټولنو، هېوادونو او ډلو چې له دې کلتور سره ځان عیار کړی، له غیرت او سرلوړۍ پرته د ژوند له خوږلنیو برخمن شوي، خو هغه څوک چې ددې کلتور پرمخالف لوري روان دي له ستونزو سره مخامخېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ هېواد او زموږ ولس په همدغسې یوې دوه لارې کې ولاړ دی، یا به د زور منطق ته غاړه ږدي او یا به هم مخالفت کوي، د مخالفت مانا یوه نا انډوله جګړه ده چې د نړۍ د ټولو زورورو د مجموعې پر وړاندې به د یوه جګړه ځپلي، بې کسه او بې وسه ولس له خوا تر سره کېږي او نتیجه به یې هم زموږ د هېواد لا ویجاړي او د ولس بربادي وي. د همدې بهرنیو ځواکونو پر وړاندې د بري د یو فیصده اټکل په حالت کې به هم زموږ ولس دومره ځپل شوی وي چې د هر ګاونډي لاسوهنې ته به پراخه زمینه برابره شوې وي، د هېواد دفاعي ځواک به کمزوری شوی وي او د هېڅ ګاونډي د یرغل د پر شا تمبولو وس به پاتې نه وي.

په دې حالت کې به د افغانستان ګاونډي دومره زړور شي چې په ښکاره ډول به افغانستان کې مداخله کوي، ان د خاورې د نیولو تر حده، هغه وخت کې د ګاونډیو هېوادونو سترګې نه له نړیوالو زبرځواکونو سوځې اونه هم له ملګرو ملتونو، ځکه چې د قدرت او سیاست دا دواړه سرچینې به په افغانستان کې ماتې شوې وي، افغانستان به بیا په سیاسي انزوا کې وي او دا کار به ګاونډیو هېوادونو ته ښه فرصت په لاس ورکړي، چې خپل ناوړه هدفونه تر لاسه کړي، په ټوله نړۍ کې به داسې کوم هېواد او داسې کوم ځواک نه وي چې هغوی د افغانانو غم وخوري او مرستې ته یې راودانګي، نو په دې ډول به یو ځپل شوی هېواد د ګاونډیو خوښې او ترحم (!) ته پاتې شي او ټول هېواد به له کورنیو جګړو او نا خوالو سره مخ شي.

نو په دواړو حالتونو کې زموږ ولس زیان زغمي، نو د لومړي حالت زیان تر دویم هغه لږ دی، په لومړي حالت کې د هېواد د خاورې بشپړتیاتضمینېږي، د ګاونډیو هېوادونو لاسوهنې کمېږي، یوازې د بهرنیو زبرځواکونو د سیاسي تګلارو سیوری دلته غوړېږي، په دویم حالت کې (

(c) ketabton.com: The Digital Library



له سیاسي او پوځي یرغل سره د مخالفت حالت کې) تر یوه اوږده ستومانوونکي مقاومت وروسته که کومه ثمره هم تر لاسه شي نو دا ثمره به هم د ګاونډیو هېوادونو لاس ته ورځي.

په داسې حالاتو کې نوزموږ ولس د (بدو) او (بدترو) تر منځ په یوه حالت کې واقع دی، که هر څومره هڅه وکړي یو نه یوه سره به مخامخېږي، خو ښه لاره دا ده چې اوس موږ د (بدترو) پر ځای(بد) انتخاب کړو، کله مو چې د بدن غړي کوشېر او ټکور شول بیا به له بد حالت نه د ( ښه) حالت پر لور ګامونه اخلو.

د همداسې یو ښه حالت په هیله

د هیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تر چتې وتي مطبوعات

زموږ په ټولنه کې افراط او تفریط د ټولنیز او سیاسي ژوندانه یو دود ګرځېدلای،په هره برخه کې کله دومره افراط کوو چې تصور نه کېږي او کله بیا پوره کار کې د تفریط دومره درجې ته راټیټ شو، چې دا هم د چا په خیال کې نه ګرځي، په دې تېرو شل پنځه ویشتو کلونو کې خو دې افراط او تفریط سره ښه غېږه نیولې، کله به یې یو څملوه او کله بل، ښه د مزې سره لوټ په لوټ واوښتل خو بیا هم حالات منځني حد ته نه دي را رسېدلي.

په سیاسي ډګر کې یو وخت داسې و چې نه یوازې نا مذهبه، بلکې مذهب ضد لاره خپله شوه، د چا چې به سپینې جامې پر تن وې، خولۍ او لونګۍ به یې پر سر وه او ږېره به یې پر مخ ، نو په زوره به یې ځان د توپ خولې ته تړلی و، آن پر افغاني سکانو هم د اخوانیت ټاپه لګېدله او ((د اسلام په جامه د انګریز د جاسوسانو په نامه)) په زرګونو بې ګناه افغانان تر خاورو لاندې، په زرګونو لادرکه او په زرګونو نور د زندانونو د تورو پنجرو شاته را حصار شول. کله چې د مذهب او دین پتنګانو ته وار راورسېد، نو بیا خو هر سرلوڅی، تحصیل کړی او ان دریشي کړی شخص د تکفیر په تور تورن شو، د دین پتنګان په خپل چلند کې تر دې حده پورته شول چې ان کابل مېشتي ملیان او قاریان یې هم خلکیان وبلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې نږدې دوو کلونو کې دوه درې موضوعګانې ( د بشر حقوق، د ښځو حقوق او دیموکراسي) داسې دي چې دومره زیاتې په خولو کې اړول کېږي را اړول کېږي چې نور یې نو خوند بېخي پیکه شوی، د بشر د حقوق پلویان وایي د عقېدې او فکر بیان د انسان طبیعي حق دی او دا هېڅ حدود نه لري، په اساسي قانون کې باید د بشر حقوقو دا اصل کټ مټ ځای شي، خو په ناپاکلي برید کې د بشر د حقوقو د ازادۍ او نورو چارو اسلامپال مخالفین بیا وایي: ((انسان نه دی ازاد مګر په چوکاټ د شریعت د اسلام کې)) د دوی نظر دادی چې باید په اساسي قانون کې دا خبره قید شي چې ((په افغانستان کې هېڅ هغه قانون چې د اسلام مخالف او مغایر وي نه شي وضع کېدی)). دوی نه یوازې د اسلام د (مخالف) قانون مخالف دی، بلکې د (مغایر) هم مخالف دي او د انسان ازادي یوازې د اسلامي لارښوونو او ارزښتونو په حدودو کې مجاز ګڼي او بس.

د دیموکراسۍ پلویان هم داسې یو افراط ته رسېدلي چې هره ګډوډۍ، هر بې سروبوله کار، تر مذهبي، کلتوري ارزښتونو پښه اړول، ورته دیموکراسي ښکاري. خو مخالفین یې بیا خپله دیموکراسي سور کفر ګڼي او آن له لفظ سره یې مخالفت کوي. د ښځو د حقوقو پلویان او پلویانې بیا له نارینه و سره په تول پوره او برابره ازادي غواړي او په دې برخه کې هېڅ پوله او برید نه پیژني، ځینې یې لا څو ګامه نور هم وړاندې ځي او په تېره زمانه کې د ښځو د ځپل شویو حقوقو د اعادې او جبران خبرې کوي. په کابل کې د ښځو د حقوقو په باب په یو جوړ شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمینار کې د ښځو د حقوقو په باب، د نارینه وو له خوا پر شوې غوړه مالۍ او سپېروني سربېره، یوې ښځې وویل: ((موږ نه یوازې په اوسنې وخت کې د ښځو او نارینه و د حقوقو پر تساوۍ ټینگار کوو، بلکې موږ په تېره زمانه کې د ښځو پر حقوقو د شویو تېریو د جبران غوښتونکې هم یو، اصلي تساوۍ هغه وخت رامنځته کېدلای شي چې د حقوقو د تلافۍ او جبران مسله سپینه شي....)) ددې مېرمنې په وینا: ((څوارلس سوه کاله کېږي چې د نارینه و له خوا ښځه په اشپزخانې( پخلنځي) وردننه شوې ده، ښځه هلته اسیره ده او نارینه بهر دی، نو اوس باید څوارلس سوه کاله نارینه په اشپژخانه ورداخل شي او ښځې بهر یوه پښه پر بله واړوي نو زموږ به هله زړه یخ شي او هله به د حقوقو د حقیقي تساوۍ خبره رامنځته شي...))

خو په همدې ټولنه کې په همدې ښار او اطراف کې د ښځو د حقوقو مخالفین لا هم د خپلې لاسبرۍ د منطق پر اس سپاره دي، اوس هم ښځې د کو ر او گور موجود گڼي او بس،یو نیم لا د دنیا له وېرې دا خبره کوي چې موږ د ښځو ازادې منو خو ((په شریعت د اسلام کې)) او ((هغه ازادي چې مخالفه د اسلام او یا احکام د شریعت وي هغه د منلو وړ نه ده...))

د افراط او تفریط په دې تاوده بهیر کې بله مهمه مسله د مطبوعاتو ده، مطبوعاتو هم هغه لار خپله کړې چې په دې نورو برخو کې د ټولنې د کلتور یو ه برخه گرځېدلې ده، د طالبانو د نظام تر ړنگېدو وروسته یو دم د مطبوعاتو او مطبوعاتیانو بازار تود شو، داسې لکه له گرمې کټوې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې برغولې پورته کړې، هرې خواته یې بخار خور شو، یوازې په لومړیو څو میاشتو کې په لسګونو اخبارونه، جریدې، او مجلې چاپ شول، راډیو ټلویزیون فعال شو او خبري اژانسونو پر فعالیت پیل وکړ.

په لومړیو ورځوکې خو ښه او اسانه کار دا و چې د مطبوعاتو تېره توره ټوله د طالبانو او د هغو د نظام غندلو ته متوجه وه، هر چا به د خپل قلم او لیکنې څوکه  طالبانو ته اړم کړې وه، ګرمه موضوع طالب او همدا طالب نظام و، دې وخت کې په کابل کې هېڅ خپرونې د دې جرئت ونه کړ چې د پخوانیو جنګسالارانو د بیا واکمنۍ، بیا درغلۍ او بیا ورانۍ په باب د چا غږ او نظر منعکس کړي، د طالب د غیبت پانګه هم ورځ پر ورځ سرېدله، زړېدله او سولېدله، نور نو  مطبوعاتوته موضوع پاتې نه وه، د مطبوعاتو شمېر هم ورځ پر ورځ زیاتېده آن تر دې چې د ټول هېواد په کچه د ټولو خپرونو شمېر تر (۲۵۰) عنوانو هم ورواوښت، یو شمېر راډیوګانې هم فعالې شوې او نړیوالو راډیو ګانو هم د افغانستان لپاره وخت څو برابره زیات کړ، دا وخت نو اکثره مطبوعات د موضوع د فقر او د موضوع له نشتوالي سره مخامخ شول، دیموکراسي، د ښځو او بشر حقوق داسې عامې موضوعګانې وې، چې لیکنې پرې کېدی شوې، که څه هم اکثره تکراري وې، خو خورا ډېر مطالب یې ورکول، په دیموکراسۍ او پراخ نظرۍ کې خو خبره دې حد ته ورسېده چې آن پر اسلام هم برید وشو، یوه جریده او د هغې چلوونکی پرې کاذب شهرت ته ورسېدل، دښځو حقوقو باندې هم ښه زیات شخوند ووهل شو او د بشر حقوق هم همدارنګه، ان تر دې حده چې د ښځو د حقوقو اود بشر د حقوقو پخواني

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرسخته مخالفینو هم دا ځل د هغوی د حقوقو د ملاتړو او مدعیانو رول تر سره کاوه.

کله چې دا ټولې موضوعګانې واړول شوې او هېڅ خپرونې ته په کې نوره د مثبت او منفي شهرت زمینه برابره نه شوه، نو بیا د ملي ارزښتونو، ملي شخصیتونو، ملي نومونو او اصطلاحاتو پر ځای ایراني نومونه وکارېدل، پر هرې هغې کلمې پسې یې اور لږوني را واخیستل چې د ټولو افغانانو په خولو او ذهنونو خواږه لګېدل، له پوهنتون، پوهنځي، ښاروالۍ نه نیولی، بیا تر سترې محکمې پورې د ټولو افغاني نومونو لپاره ایراني ځای ناستي را وکارېدل، د افغانستان پر ملي ترمینالوژۍ دا یرغل د ایران پلوه ډلو له خوا د هغوی په خپرېدونکو خپرونو کې تر سره شو.

ځینې خپرونو خو خپل صحافت هم د ایراني خپرونو په شان رنګ کړ، لنډه دا چې دې ډول خپرونو او د هغو چلوونکو په ((صادقانه ډول)) د دوی د خپلو حامیانو لپاره په اصطلاح ((خودکش بیګانه پرور)) رول تر سره کړ.

د ملي ترمیناوژۍ د ادالانه بدلانه تر څنګ یې د ملت احساس او زړه ته هم ګوتې وروړې، د ((افغانستان)) او ((افغان)) نوم د بدلانه لپاره یې هڅې پیل کړې، په خپلو خپرونوکې یې د ایران د راډیویي خپرونو په شان د ((افغان)) پر ځای د ((افغانستاني)) اصطلاح وکاروله او نورې په لسګونو داسې کلمې او جملې یې استعمال کړې چې په مطلق ډول د هېواد او ملت د ملي ګټو پر ضد وې، په دې ډول یو شمېر خپرونې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې بریده تر چتې ووتې چې نه یوازې د قلم عفت او د بیان حدود یې تر پښو لاندې کړل، بلکې د هېواد ملي ګټې یې هم زیانمنې کړې.

دې کې هېڅ شک نه شته چې د بیان او قلم ازادي د انسان حق دی، خو دا حق تر هغه وخته محفوظ دی چې د نورو ازادي متضرره نه کړي، اوس په هېواد کې د مطبوعاتو قانون نافذ دی او د مطبو عاتو په قانون کې هېڅ داسې خپرونې ته اجازه نه شته چې د هېواد او د خلکو د لوړو ګټو پر ضد خپرونې وکړي، دا خپرونې دولتي وي او که نادولتي، د هرې ډلې او ارګان له خوا چې خپرېږي، باید د هېواد لوړې ګټې په پام کې ونیسي.

د هېواد له چارواکو او نورو اړوندو ارګانونو څخه چې دا قانون یې نافذ کړی دی، هم په درناوي هیله کېږي لکه څنګه چې یې د مطبوعاتو قانون نافذ کړی باید عملي یې هم کړي، که چېرې د ناقانونیت په حالت کې مطبوعات هره خطا وکړي، نو د قانون نشتوالی به ورته یوه پلمه او مجوز شي، خو که د قانون په شتوالي کې بیا هم سهوه، خطا او هېواد ضد عمل تر سره کېږي، نو مسولیت به یې د چا پر غاړه وي؟ زموږ په نظر د مطبوعاتو قانون باید مطبوعاتي انارشي، مطبوعاتي زهر او مطبوعاتي تېری تول کنټرول، رفع او دفع کړي، که نه نو تر ((زهرجنو مطبوعاتو)) ((نه)) مطبوعات ډېر ښه دي.

په هېواد کې د سپېڅلو مطبوعاتو د رښتینې ازادۍ په هیله

دهیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغاني سفارتونه د تنظیمواکۍ مورچلونه

له هغې ورځې چې په افغانستان کې تنظیمې اړیکي د واک و ځواک، څوکۍ اومقام معیارونه ګڼل شوي، بیا نو دې هېواد ښه ورځ نه ده لیدلې، هر سیاسي ګوند چې واک ته رسېدلای نو که ټول نه وي اکثره مامورین یې خو له سره عوض کړي او پر ځای یې د خپلې فکري لیکې پلویان مقرر کړي دي، د دا ډول تقرر لړۍ دسردار محمد داوود خان له وخته پیل شوه، داوودخان د خپلې واکمنې پر مهال د تاسیس شوي ګوند (( ملي غورځنګ)) یو شمېر غړو ته دولتي پوستونه ورکړل، خو دا پوستونه یوازې د ګوندي معیارونو له مخې نه، بلکې د اشخاصو خپله مسلکي پوهه او تخصص هم په کې مطرح و، په ټولیز ډول دامهال لږه فیصدي کسان دتنظیمي اړیکو له مخې لوړو پوستونو ته رسېدلي وو.

په زیاته کچه د تنظیمي معیارونو له مخې پر لوړو پوستونو د اشخاصو تقرر، د خلکیانو له واکمنۍ سره سم پیل شو، د ګوند رهبر او هر غړي ته د ګوند د سابقې، پوړۍ او قرابت له مخې په ترتیب سره لوړې چوکۍ ځانګړې شوې، د خلکیانو د کابینې په سلو کې یوازې ((پنځه سلنه)) وزیران د لوړو زده کړو خاوندانو وو، نورو ټولو یوازې ګوندي پوهه او ګروهه لرله، په خلکي پراو کې نه یوازې له لوړو څوکیو ګوندي دایره راتاوه شوه، بلکې تر ډېرې ټیټې پوړۍ پورې هم دا لړۍ ورسېدله، د ټیټو پوستونو امران هم د پوره واک او ځواک خاوندان ځکه وو، چې ګوندي مشر ویلي وو: (( زما د ګوند هر غړی په هر ځای کې چې وي هغومره صلاحیت او واک لري لکه زه)). د دې خبرې عملي مانا دا  وه چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**گوند هر غړي په خپله سیمه او ساحه کې د جمهور ریس په اندازه واک او صلاحیت لري او یا هم د جمهور ریس ټولې غوښتنې عملي کولای شي.**

**په خلکي پړاو کې نه یوازې په کورنۍ کچه، پر دولتي څوکیو د گوندي غړو د واک منگولې ټینگې وې، بلکې په نړیواله کچه د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د افغانستان سیاسي نماینده گیو او سفارتونو کې هم همدا حال و او هغه څوک به د سفیر او یا کوم بل مهم کار کوونکي په توگه مقررېده چې یا به گوندي و او یا به هم د گوند سرسخت پلوی و، د شوروي یرغل په کلونو کې هم گوندي اړیکي او شوروي پالنه د تقرر غټ معیارونه وو، په ځانگړي ډول په بهرکې د افغانستان په سیاسي نماینده گیو کې.**

**د ثور د(۷)مې په سور اوښتون پسې چې کله د ثور (۸)مې شین اوښتون رامنځته شو، نو نه یوازې تېره ترخه تجربه تکرار شوه، بلکې دوی لا په کې څو گامه نور هم پر مخوړاندې لاړل، د ثور(۸)مې ته په حقیقت کې د ثور (۷) مه ځکه ویلای شو، چې مختلفې جهادي لښکرې د ثور پر (٦) مه نېټه کابل ښار ته ورداخل شوې او د یو شمېر جهادي ډلو الحادي موئتلفین لا تر دوی د مخه په کابل کې ځای پر ځای وو، د ثور (٦)مې نېټې تر ماسپښین مهاله د کابل ښار ټولې سیمې د دوی لاس ته ورغلې وې، یوه ورځ وروسته (دثور پر ۷مه) باید پخوانی دولت رسماً ړنگ او د مجاهدینو نوی حکومت جوړ شوی وای، څرنگه چې دا ورځ په افغانستان کې د ټولو جهادي ډلو د مخالفینو (خلکیانو او پرچمیانو)د بري ورځ وه او د ثور د (۷)مې انقلاب په نامه یادېده، نو داسې تصادف پېښ شو چې دا ورځ د دوی د بري ورځ هم شوه، دا بیا ډېره سخته وه، چې دوی اینده کې په خپلو تبلغاتو کې د ثور (۷) مه په بدو الفاظو یاده کړي، ځکه افاده یې سختېدله، د ثور کومه اوومه؟ الحادي که جهادي؟ نو ځکه دوی د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**واک رسمي انتقال د ثور(۸)مې ته منتقل کړ. په دې پړاو کې سره له دې چې د هېواد په گوټ گوټ په تېره بیا په کابل کې جگړه روانه وه او د دولت اکثره ارگانونه فلج وو، خو په افغاني سفارتونو کې د تنظیمې روابطو له مخې تقرر بنه په زغرده روان و، د تقرر اصلي کیلي د جمیعت تنظیم او په تېره بیا د نظار شورا په لاس کې وه، په دې پړاو کې اکثرو افغاني سفارتونو او قونسلگریو کې هغه اشخاص مقرر شول چې د جمیعت تنظیم غړي وو او یا هم دې تنظیم ته وفادار وو.**

**په لومړي پړاو کې د جمیعت تنظیم څو نورو موئتلفو تنظیمونو ته هم څه نا څه ونډه ورکړل شوه، خوکله چې دې تنظیمونو له جمیعت تنظیم څخه سیاسي واټن اختیاراوه، د هغوی غړي هم له خپلو دندو گوښه کېدل، په دې پړاو کې نه یوازې تنظیمي معیارونه په پام کې ساتل شوي وو، بلکې قومي انتساب او د خپلولۍ اړیکو ته هم زیات ارزښت ورکول کېده، مسلکي پوهې او تخصص ټاکونکی رول نه درلود، په سلو کې پنځه کسه هم د تخصص له مخې نه وو مقرر شوي. کله چې پر کابل ښار د جمیعت تنظیم نیمواکه واکمني پای ته ورسېدله او د طالبانو اسلامي تحریک پر کابل خپل مطلق واک ټینگ کړ، نو داسې تصور کېده، چې نړۍ به د طالبانو حکومت په رسمیت وپېژني او په افغاني سفارتونوکې به پخوانۍ تنظیمواکي له منځه ولاړه شي، خود طالبانو د افراطي چال چلند له امله نه یوازې د نړۍ لېوالتیا او خواخوږي راخپله نه شوه، بلکې ټوله نړۍ د طالبانو د مخالفت لپاره یوه خوله شوه.**

**دا مهال د افغاني سفارتونو یو شمېر کارکوونکو د طالبانو ملاتړ وکړ او داسې تصور یې کاوه چې د طالبانو حکومت به د نړۍ د هېوادونو له خوا په رسمیت وپېژندل شي او موږ به پر خپل ځای پاتې شو، یو شمېر نورو د سفارتونو مالونه خرڅ کړل او سفارتونه یې خوشې کړل، د جمیعت تنظیم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکثره غړي او پلویان لا پر خپلو څوکیو پاتې وو، یوازې سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو او پاکستان د طالبانو حکومت په رسمیت وپېژانده.

په نتیجه کې داسې یو حالت رامنځ ته شو چې د نړۍ اکثرو هېوادونو هغه څوک د افغانستان د حکومت په توګه په رسمیت پېژندل چې هغوی په افغانستان کې په سلو کې پر پنځه فیصده خاوره واک درلود او برعکس هغه چا چې پر پنځه نوي فیصده خاوره واک درلود، هغوی یوازې د نړۍ دریو هېوادونو په رسمیت پېژندل، دې حالت افغانستان په خپل ټول تاریخ کې له سختې دیپلوماټیکې انزوا سره مخامخ کړ، هغو کسانو چې دا مهال یې په سفارتونوکې کار کاوه د افغانستان نماینده ګي نه کوله، په ښکاره د تنظیمونو په استازۍ غړېدل، له سفارتونو یې د تنظیمونو تبلیغاتي اونشراتي مرکزونه جوړ کړي وو، په هند کې د افغانستان د سفارت له خوا خپرېدونکې «میزان» جریده چې د افغانستان د ملي پانګې په لګښت خپرېدله، د جمیعت او نظارشورا د یو نشراتي ارګان حیثیت لاره، دې خوا په پاکستان کې د افغانستان سفارت چې د طالبانو په واک کې و، دطالبانو د اسلامي تحریک یو ستر تبلیغاتي مرکز و، په ملګرو ملتونو کې د افغانستان استازی په حقیقت کې د جمیعت د تنظیم استازی و، ښاغلی روان فرهادي د افغانستان په «استازۍ» د ملګرو ملتونو له خوا پر افغانستان لګېدلي بندیزونه تائید کړل.

دا د دنیا د دپلوماسۍ په تاریخ کې تر ټولو یو تور داغ دی چې د یو مملکت استازی دې د خپل مملکت پر ضد لګېدونکي بندیزونه تائید کړي، ښاغلي فرهادي خو طالبانو څخه د جمیعت تنظیم د غچ اخیستلو په نیت دا کار وکړ، خو دې ته یې پام نه و چې دې کار سره به افغان ولس ته څومره زیان رسېږي، دې نه ښکاره معلومېږي چې دې اشخاصو، تنظیمونو ته کار کاوه، نه د افغانستان ملي ګټو ته او اوس هم دا لړۍ روانه ده. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېیو سفارتونو (سعودي، اماراتو او پاکستان) کې د طالبانو له خوا له شوي تقرر څخه سرې دا نتیجه اخلي چې که نورو هېوادونو هم، طالبان په رسمیت پېژندلي وای حال به تردې بدتر و، طالبانو په هر ځای کې له یوې مخې طالبان او ملایان مقررول، دوی ته معیار طالبي او ملایي وه، په تنظیمونوکې که تنظیمي او قومي معیارونو ته زیان ارزښت ورکول کېده، نو یو نیم به په کې مسلکي شخص هم ټاکل کېده، خو د طالبانو تقرر د لاس د ورغوي په شان سپین و، له ملا او طالب پرته نور څوک په کې په زره بین هم نه لیدل کېدل.

طالبي پړاو ختم شو، وار یوځل بیا نیم ژواندي جمیعت اونظار شورا ته ورسېده، دا ځل داسې تصور کېده چې دوی به له خپلو تېرو تجربو عبرت اخیستی وي او نرم چال چلند به وکړي، د بن تر کانفرانس د مخه استاد رباني یو ځل بیا د اسلامي دولت د مشر په توګه راڅرګند شو او فرمان یې صادر کړ «هر هغه چا چې د طالبانو د واکمنۍ دمخه پر کومو څوکیو کار کاوه، د خپلو خپلو امتیازاتو په پام کې نیولو سره پر خپلو دندو مقرر دي» دا حکم عام و، په دې ډول په افغاني سفارتونوکې یوازې د جمیعت غړي پر خپل ځای پاتې شول، کله چې د بن د توافقاتو له مخې لنډ مهاله اداره را منځته شوه، نو د بهرنیو چارو وزرات بیا د جمیعت په تېره بیا د نظار شورا لاس ته ورغی او تر ننه یې په لاس کې دی.

د طالبانو د واک تر ړنګېدو وروسته نړیوالې ټولنې زیاته لېوالتیا درلوده چې افغانستان سره بېرته خپل سیاسي روابط ټینګ کړي، یو زیات شمېر هېوادونو په افغانستان کې خپل سفارتونه پرانیستل او افغانستان هم په زیات شمېر هېوادونوکې خپل سفارتونه بیا فعال کړل، اوس په نړۍ کې د افغانستان د سفارتونو شمېر (٣٦) او د قونسلګریو شمېر نږدې (٥٨) ته رسېږي، طبعاً ګڼ شمېر مسلکي اشخاصو ته اړتیا ده چې دا ځایونه ډک

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، خو راځو دې ته چې دا ځایونه د چا له خوا په چا ډک شوي؟ لکه څنګه چې د مخه مو وویل د بهرنیو چارو وزارت یو ځل بیا د جمیعت تنظیم په منګلو کې دی، نو په نویو پرانیستل شویو سفارتونو کې هم اکثره د همدې ډلې غړي یا پلوي اشخاص مقرر دي.

په اوسنیو مقرریو کې نه یوازې تنظیمي اړیکو ته ارزښت ورکول شوی، بلکې د جمیعت تنظیم له همېشنۍ پالیسۍ سره سم قومي او سیمه ییز انتساب او ارتباط ته هم زیات اهمیت ورکړ شوی دی، د افغانستان په اوسنیو ټولو سفارتونو کې د پښتنو سفیرانو شمېر تر شپږو تنو نه زیاتېږي، هزاره، ازبک قومونو ته منسوب ټول څلور پنځه سفیران نه شته، ټول پښتانه، هزاره، ازبک چې سره راټول کړې، نو د تاجکانو په انډول یې په سفارتونو کې ونډه په سلو کې (۲۵) ته نه رسېږي، د قونسلګریو او سفارتونو د نور پرسونل انډول تر دې هم په ټیټه کچه دی، نور ټول سفیران د قونسلګریو مسولین او پرسونل له قومي پلوه په تاجک قوم پورې تړلي دي.

د افغانستان په تاریخ کې تر اوسه پورې هېڅکله داسې حالت نه و راغلی چې قومي انډول او تناسب دې په دومره کچه خراب شي، نو اوس سړی خپله فکر کولای شي چې د افغانستان د اوسنیو چارو سمبالوونکي د ټول افغانستان استازي کوي که په افغانستان کې د یو قوم؟ که د اوسنۍ انتقالي ادارې د مشرتابه مناسبات د نظار شورا یا جمیعت له مشر تابه سره خراب شي، نو ایا په ملګرو ملتونو کې به د افغانستان استازی ښاغلی روان فرهادي او په هند کې د افغانستان سفیر مسعود خلیلي د دولت د مشر اوامر ومني که د جمیعت یا نظار شورا؟ تجربو ښودلې ده چې دا او دې ته ورته اشخاص خپلو تنظیمي ګټو ته ترجیح ورکوي نه ملي ګټو ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه بله د پام وړ خبره داده چې که چېرې په افغاني سفارتونو کې قومي انډول همدومره د پښتنو په گټه وای، نو جمیعت، ستمي گروپونو، د بشر حقوقو سازمانونو او د ملگرو ملتونو اجنسیو به څه حال او څه غالمغال شروع کړی وای، ایا دا حالت به یې«افغاني سفارتونه د فاشېزم په منگولو کې» په نوم نه وای نومولای او ژر تر ژره به یې د سمون لپاره هلې ځلې نه وای پیل کړې؟ طبعاً به یې دا کار کړی وای. موږ له انتقالي ادارې، ملگرو ملتونو او نورو اړوندو ادارو څخه چې په افغانستان کې د حکومتي ادارې د سمون لپاره کار کوي، هیله کوو چې په افغاني سفارتونو کې د تنظیمي او قومي اپارتائید دا بهیر پای ته ورسوي او د مسلکي او تخصصي معیارونو له مخې دې سالمې ادارې ته لاره اواره کړي.

په ټول هېوادکې د یوې سالمې ادارې د جوړېدو په هیله
د هیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانستان او د ایډیالوژیو بحران

ټولنپوهان او سیاست پوهان په دې اند دي، د یوې ټولنې او ولس د کنټرول او ادارې لپاره ایډیالوژي یو مهم عنصر دی، ایډیالوژي دیو ولس یا یوې ډلې پاشلي ذهنونه را ټولوي او پر یو واحد چورلیز(محور) یې را څرخوي، په ولس کې د تحرک او خوځون قوه زیاتوي، یوې مستقیمې لارې ته یې سوقوي او د قربانۍ تر بریده یې رسوي، په همدې وجه هغه گوندونه، سیاسي ډلې چې قوي ایډیالوژیک بېز ولري، تر هغو نورو ډلو چې دا بنسټ یې کمزوری وي، په ولس کې زیات منښت او گرانښت لري، عمر یې تر نورو زیات وي او غړي یې د زیاتو فشارونو د زغملو توان لري، په سیاست کې تر ایډیالوژیک عنصر وروسته اقتصاد، وسایل او وسایط هم مهم ځای لري، خو هېڅکله هم د خلکو د ذهنونو د تسخیر لپاره هغومره رول نه شي ادا کولای لکه ایډیالوژي یې چې لري، په نړۍ کې بېلابېلې سیاسي ډلې، بېلابېلې او مختلفې ایډیالوژۍ کاروي، خو مذهبي، قومي او وطني ایډیالوژۍ تر نورو هغو زیاتې کارېږي او ددې غټ علت شاید دا وي چې په دې ایډیالوژیو کې د انسان د دې او هغې دنیا گټې متصورې دي،کمونیستي او کپټالستي نظریې هم شته، چې اکثره پر اقتصادي محور راڅرخي او دې حد ته لا نه دي رسېدلي لکه مذهبي ایډیالوژۍ چې د انسان وینې، احساس، روح او روان سره یو ځای کړي.

په افغانستان کې په ښکاره ډول ایډیالوژیک جنگ د شوروي او امریکا تر منځ د ساړه جنگ په بهیر کې تر ځلوېښتمو هجري کلونو وروسته پیل شو، دا وخت په افغانستان کې داسې ډلې را منځته شوې چې کمونیستي افکار یې درلودل او په مقابل کې یې داسې توندې ډلې را وټوکېدې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اسلامي افکار یې درلودل او د سوچه اسلامي نظام د جوړولو لپاره یې هڅه کوله، ددې دواړو ایډیالوژیکو لیکو تر منځ نږدې پنځلس کاله فکري جګړه روانه وه، خو تر ۱۳۷۵ ل کال وروسته د یوې لیکې پلویان واک ته ورسېدل، دا فکري او تبلیغاتي جګړه پر پوځي جګړې بدله شوه، دواړو لیکو په ولس کې خپل خپل پلویان لرل، عام ولس، اکثره نالوستی قشر د جهادي ډلو پلویان وو، خو د هېواد د تحصیل کړي قشر اکثره برخه بیا په دې بله لیکه کې ولاړه وه، دواړو ډلو خپل خپل بهرني او سیمه ییز پلویان لرل، چې د ایډیالوژیکو کتابونو او اثارو تر څنګ یې آن د ضرورت تر بریده وسلې او پیسې هم ورته رالېږلې، یانې دواړو لوریو ته د ایډیالوژیکي ملاتړ ترڅنګ پوره مادي او پوځي ملاتړ هم موجود و، کله چې پر ۱۳۵۸ل کال شوروي لښکرو پر افغانستان یرغل وکړ، نو په ملګروملتونو کې د امریکا د متحده ایالتونو سفیر، افغانستان (تر ستوني تېره شوې مړۍ) وګڼله او ویې ویل چې اوس باید د پاکستان د دفاع او ملاتړ غم وخوړل شي. کله چې د انګلستان د بهرنیو چارو وزیر مصر ته سفر وکړ، نو د مصر له حکومت څخه یې هیله وکړه چې افغان مجاهدینو یا مقاومت کوونکو ته روسي مارک وسله ورکړي، د مصر حکومت هغه وخت استدلال کاوه، د وسلې ورکړه بې ګټې ده او مقاومت به نتیجه ورنه کړي، خو د انګلستان د بهرنیو چاور وزیر څرګنده کړه چې افغانستان کې افغانان نه جنګېږي، بلکې عقیده یا ایډیالوژي جنګیږي، ددې خبرې مانا دا ده چې انګرېز سیاستپوهانو د جګړې ایډیالوژیک عنصر ته ډېر ارزښت ورکاوه.**

**د شوروي یرغل په کلونو کې او تر هغې وروسته د شوروي پلوه حکومت د واکمنۍ په ټول (۱٤) کلن بهیر کې دا ثابته شوه چې ایډیالوژي تر هر بل عنصر زیاته او ښه وجنګېده، د ایډیالوژیک جنګ په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلونو کې د ایډیالوژیو کاروونکي له دوو سختو چلنجونو سره مخامخ شول، په دې ننګونو کې یو انحراف او بل مصداق و، یا په بله ژبه وینا او عمل، د جګړې په کلونو کې په سوونو څه په زرګونو داسې زړه بوږنوونکې پېښې را منځته شوې چې د ایډیالوژیو د کاروونکو د شعارونو او عمل تر منځ په تضاد او ټکر کې وې، دې کار د ایډیالوژیو پر کاروونکو باندې د خلکو د باور کچه راټیټه کړه، د مذهبي ایډیالوژیو پر کاروونکو د بې اعتمادۍ روحیه هغه وخت لا پسې پیاوړې شوه، چې مختلفې جهادي او الحادي ډلې په ائتلافي او ائتلافي ضد ډول کابل ښار ته ورننوتې، دې وخت کې د مذهب او دین په نامه شعار او د جګړې مشروعیت خلکو سره ګنې پوښتنې پیدا کړې او دا خبره نوره خلکو ته تقریباً سپینه شوه چې په افغانستان کې د جګړې دوام یوازې د قدرت د ساتنې، پالنې، لاسته راوړنې او ځاني ګټو لپاره دی، نه د مذهبي اصولو د تطبیق او مصداق لپاره.

په کابل کې د جګړې په ګرمو شېبو کې یو «جهادي مشر» په خپل یو خصوصي مجلس کې دا خبره په ډاګه کړه چې «جنګ ایډیالوژي در افغانستان به پایان رسیده حالا بازار قومیت ګرم است». ددې جهادې مشر په اند جنګ له اسلامي ایډیالوژۍ څخه قومي حالت ته اوښتی دی. دې حالت ولس پر دې ډول خلکو نور هم بې باوره کړ. د خپلو ځاني ګټو لپاره له بېلابېلو الحادي ډلو ټېلو سره پټ او ښکاره ائتلاف او معاملې هر څه د لاس د ورغوي په شان روښانه کړل، دې کار آن د الفاظو په مفاهیمو کې بدلون راوست، یو وخت (مجاهد) هغه چاته ویل کېده چې د شوروي یرغلګرو پر وړاندې یې وسلواله مبارزه کوله، بیا داسې وخت راغی چې هر چا وسله لرله او د کوم پخواني جهادي تنظیم په لیکو کې به تنظیم و، نو هغه ته به (مجاهد) ویل کېده، ددې خبرې یو علت دا و چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وخت د وسلې لېږد رالېږد او استعمال اکثره د پښوانیو مجاهدینو په لاس کې و، وروسته هر وسلوال ته د (مجاهد) خطاب کول دومره عام شول چې ننګرهار کې چا له کوم سپین ږیري څخه پوښتنه وکړه چې ماما زوی دې څه کار کوي؟ هغه ورته په ځوا ب کې وویل: «امریکایانو سره مجاهد دی)).

په واقعیت کې د سپینږیري زوی د امریکایانو په خاصو افغان ساتونکو یا باډیګارډانو کې یو عسکر و، هغوی د ډبلې تنخوا په بدل کې د ځان دساتنې لپاره استخدام کړی و، خو سپین ږیري ته خپل وسله وال زوی په مستعمله مانا (مجاهد) ښکارېده. په همدې ښار او دې ته ورته په څو نورو ښارونو کې داسې پښواني جهادې قومندانان شته چې کورونه یې امریکایانو ته د میاشتې په زرګونو ډالرو کرایه ورکړي دي خو عام ولس کې د جهاد زمزمې کوي، کله چې امریکایي پوځونه د کابل په شمال کې د طالبانو پر مورچلونو بمبارد کاوه، نو یو جهادي مشر په مایوسانه لهجه وویل: «دا بمونه واره واره( واړه، واړه) دي باید غت غت ( غټ، غټ) واچوئ، (کی تاثیر کی زیات وکي) (زیات تاثیر وکړي) »طالبانو که هر څومره بربریت او وحشت درلود، خو پر اسلام یې هېڅوک شک نه شي کولای، خو د سیاسي ګټو لپاره د جهاد د نامه همدا کاروونکي، امریکایانو ته لاس غځوي چې خپل مخالفین پرې وځپي، کله چې امریکایانو ددې ډول جهادیانو پرله پسې غوښتنو ته لبیک ووایه او تر اتوم لږ کوچني بمونه یې وکارول، نو بیا ورته دوی موسکي شول او ویې ویل: «حالا دیګر خوب شد».

کله چې د امریکایانو د مرګوني پوځي فشار په نتیجه کې د طالبانو اسلامي امارت ړنګ شو، نو پر ځای یې یو ځل بیا هغه وسله والې ملېشې چې پر ځان یې د اسلام پرده راغوړولې وه، واک ته ورسېدې، دې ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خلکو ته د واک بیا ور رسېدل د بعث بعدالموت حیثیت لاره، یو ځل بیا د پردې پر مخ د افغانستان د اسلامي دولت کلیشه او د هغه دولت پخوانی مشر په نوي فاتحانه انداز کې را څرګند شو او دا وار ته ورسره د دیموکراسۍ،. نړیوال تروریزم او نور... شعارونه هم مله شول. دې کې هېڅ شک نه شته چې د بیړنۍ لویې جرګې ټول لګښت د نااسلامي هېوادونو او امریکایانو له خوا پرې شوی و، د لویې جرګې ټول غړي پر دې واقیعیت پوهېدل چې د ا جرګه د بي ۵۲ الوتکو د وزرونو تر سیوري لاندې په پراخه کېږدۍ کې جوړه شوې او یو لښکر جهادي او الحادي مشرانو ته یې په لومړي لیکه کې ځای ورکړی و،خو دوی بیا هم د جهاد شعار زمزمه کاوه، شیخ محمد اصف محسیني خولا جرګې ته دا وړاندیز هم وکړ چې تر (انتقالي) لفظ وړاندې دې د (اسلامي) کلمه راشي او د دولت جوهر دې اصلاً اسلام وي، هلته هم یو شمېر ازادو کتونکو سره دا پوښتنه وه چې د ا جهاد لکه چې یوازې د روسانو پر ضد کېږي او په اصطلاح د نورو کفارو پر ضد نه کېږي.**

**کله چې د امریکایانو په راتګ سره نوی حکومت رامنځته شو او لنډ مهاله او منځمهاله پړاوونه یې ووهل، نو دې سره د سیاسي ګوندونو په ایډیالوژیک تګلوري کې هم بدلون راغی، سیاسي ګوندونو هم د انجوګانو بڼه غوره کړه، اوس هر ګوند او ډله کوښښ کوي، چې له هرې ممکنې لارې ځان ته پانګه پیداکړي، هېڅوک هم خپلې ایډیالوژۍ ته وفادار پاتې نه شول، ایډیالوژیو خپل اصلي رنګ بایلود، شعارونه او عنوانونه، رد وبدل شول،ولس اوس نه پوهېږي چې پر چا باور وکړي او کومې ایډیالوژۍ ته پناه یوسي، د دولت د مشرانو زیات وخت په خارجي سفرونو، روابطو او د پانګې په تر لاسه کولو او د مختلفو تنظیمي، رسمي او نارسمي جنګسالارانو او ټوپکسارانو په اقناع او خوشاله ساتلو تېرېږي او د ولس د ذهني انسجام، د پوځ د ذهني تربیې او د هېواد د ځوان نسل د سالمې روزنې لپاره هېڅ ډول مشخص ایډیالوژیک بنسټ نه شته، ملت پر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوانیو سولېدلو او کلیشه شویو ایډیالوژیو د هغو د وړاندې کوونکو د ناسم چلند له امله خپل باور له لاسه ورکړی، هره ایډیالوژي چې اوس ور وړاندې شي، خلک پرې شک کوي، هر کله چې یو ملک له داسې یو حالت سره مخامخ شي، نو د دې نتیجه هغه هېواد ته ډېره دردوونکې پرېوزي، دې کار سره ولس پر بېلابېلو ذهني لارو او تګلارو وېشل کېږي، پر یوې واحدې نقطې یې د فکري تمرکز قوت له منځه ځي، په ولس کې د ملت جوړونې جوهر کمزوری کېږي، په داسې حالت کې که هر بهرنی هېواد یا بهرنۍ قوه پر هېواد یرغل وکړي، نو د هغه هېواد ولس د ذهني وېش له امله خپل دفاعي ځواک له لاسه ورکوي او بهرني ایلوونکي هېوادونه په اسانۍ سره کولای شي دا هېواد ایل کړي، افغانستان اوس د ایډیالوژیو د بحران پر همداسې یوه خطرناکه لیکه ولاړ دی.

د خلاصون په هیله

په مینه

دهیلې اداره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مهال له مخې د هيلې د سريزو د چاپ څرنگوالی

| گڼه | سريزه | کال | گڼه | مياشتې | پرله پسې |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | هيله د کومو هيلو په هيله خپرېږي؟ | لومړی ۱۳۷٦ | لومړۍ | وري- غويي | ۱ |
| ۲ | په هيله کې د هېوادوالو هيلې انعکاس شوي او که نه؟ | لومړی ۱۳۷٦ | دويمه | غبرگولی-چنگاښ | ۲ |
| ۳ | هيله د کومو ستونزو له پيچومو تېرېږي؟ | لومړی ۱۳۷٦ | درېيمه | زمری-وږی | ۳ |
| ٤ | فرهنگي بيا رغونه د لومړيتوب حق لري | لومړی ۱۳۷٦ | څلورمه | تله-لړم | ٤ |
| ۵ | د فرهنگي چارو او ارتياوو په باب څو وړانديزونه | لومړی ۱۳۷٦ | پنځمه | لندی-مرغومی | ۵ |
| ٦ | هيله يوه کلنه شوه | لومړی ۱۳۷٦ | شپږمه | سلواغه-کب | ٦ |
| ۷ | د فرهنگي چارو سمون او ملگرتيا ته اړتيا ده | دويم ۱۳۷۷ | لومړۍ | وري- غويي | ۷ |
| ۸ | زموږ د ازادو خپرونو ستونزې | دويم ۱۳۷۷ | دويمه | غبرگولی-چنگاښ | ۸ |
| ۹ | د هېوادملي يووالی او د فرهنگيانو هيلې | دويم ۱۳۷۷ | درېيمه | زمری-وږی | ۹ |
| ۱۰ | لويديځمېشتي افغان فرهنگيان او فرهنگي هيلې | دويم ۱۳۷۷ | څلورمه | تله-لړم | ۱۰ |
| ۱۱ | د پښتو ژبې او ادبياتو طلايي پړاو | دويم ۱۳۷۷ | پنځمه | لښدی-مرغومی | ۱۱ |
| ۱۲ | هيله دوه کلنه شوه | دويم ۱۳۷۷ | شپږمه | سلواغه-کب | ۱۲ |
| ۱۳ | دهېواد دننه فرهنگي يون او خوځون | درېيم ۱۳۷۸ | لومړۍ | وري- غويي | ۱۳ |
| ۱٤ | ((چغې مه وهئ کار وکړئ!)) | درېيم ۱۳۷۸ | دويمه | غبرگولی-چنگاښ | ۱٤ |
| ۱۵ | د هېواد د تحصيل کړو اشخاصو بهير به همداسې روان وي؟ | درېيم ۱۳۷۸ | درېيمه | زمری-وږی | ۱۵ |
| ۱٦ | شلمې پېړۍ په مخه دې ښه! | درېيم ۱۳۷۸ | څلورمه | تله-لړم | ۱٦ |
| ۱۷ | د مسلک له خاوندانو يوه هيله | درېيم ۱۳۷۸ | پنځمه | لندی-مرغومی | ۱۷ |
| ۱۸ | هيله درې کلنه شوه | درېيم ۱۳۷۸ | شپږمه | سلواغه-کب | ۱۸ |
| ۱۹ | ((راځئ چې سره کينو په تېغر د روغې جوړې)) | څلورم ۱۳۸۹ | لومړۍ | وري- غويي | ۱۹ |
| ۲۰ | دا دنيا چا شل کړې ده؟ | څلورم ۱۳۸۹ | دويمه | غبرگولی-چنگاښ | ۲۰ |
| ۲۱ | د اوسنيو پښتو خپرونو موضوعي وېش | څلورم ۱۳۸۹ | درېيمه | زمری-وږی | ۲۱ |
| ۲۲ | د فرهنگې کار جغرافيايي موقيعيتونه | څلورم ۱۳۸۹ | څلورمه | تله-لړم | ۲۲ |
| ۲۳ | يوه ملتپاله فرهنگي ستراتيژي | څلورم ۱۳۸۹ | پنځمه | لندی-مرغومی | ۲۳ |
| ۲٤ | هيله د خپل ژوند دنيمې لسيزې په درشل کې | څلورم ۱۳۸۹ | شپږمه | سلواغه-کب | ۲٤ |
| ۲۵ | کار خپله سخت کار دی | پنځم ۱۳۸۰ | لومړۍ | وري- غويي | ۲۵ |
| ۲٦ | افغانستان، اسلام او پښتو درې ستر ارزښتونه او... | پنځم ۱۳۸۰ | دويمه | غبرگولی-چنگاښ | ۲٦ |
| ۲۷ | بحراني شرايط او فرهنگي کار | پنځم ۱۳۸۰ | درېيمه | زمری-وږی | ۲۷ |
| ۲۸ | که مې سل نصيحتونه ورته وکړل | پنځم ۱۳۸۰ | څلورمه | تله-لړم | ۲۸ |
| ۲۹ | که مطبو عات ازاد شي | پنځم ۱۳۸۰ | پنځمه | لندی-مرغومی | ۲۹ |
| ۳۰ | په هېواد کې د واک انحصار څنگه ... | پنځم ۱۳۸۰ | شپږمه | سلواغه-کب | ۳۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | په کابل کې څوک، څوک ساتي؟ | شپږم ۱۳۸۱ | لومړی | وري- غويي | ۳۱ |
| ۳۲ | په کابل کې قانوني واک او عملي واک | شپږم ۱۳۸۱ | دويمه | غبرگولی-چنگاښ | ۳۲ |
| ۳۳ | سوله عدالت او که دواړه؟ | شپږم ۱۳۸۱ | درېيمه | زمری-وږی | ۳۳ |
| ۳٤ | افغانستان د ابهام پر لوري | شپږم ۱۳۸۱ | څلورمه | تله-لړم | ۳٤ |
| ۳۵ | پر دولتي خپرونو تنظيمي انحصار څنگه ... | شپږم ۱۳۸۱ | پنځمه | لندی-مرغومی | ۳۵ |
| ۳٦ | په افغانستان کې بهرني ځواکونه گټې او زيانونه | شپږم ۱۳۸۱ | شپږمه | سلواغه-کب | ۳٦ |
| ۳۷ | تر چتې وتي مطبوعات | اووم ۱۳۸۲ | لومړی | وري- غويي | ۳۷ |
| ۳۸ | افغاني سفارتونه د تنظيمواکۍ مورچلونه | اووم ۱۳۸۲ | دويمه | غبرگولی-چنگاښ | ۳۸ |
| ۳۹ | افغانستان او د ايډيالوژيو بحران | اووم ۱۳۸۲ | درېيمه | زمری-وږی | ۳۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتابونو په ورېمو کې

## ليکوال

## محمد اسمعيل يون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: د کتابونو په وړمو کې

لیکوال: محمد اسمعیل یون

خپرندوی: یون کلتوري یون

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

لومړی چاپ: ۱۳۸۷ل کال

د لیکوال

پرله پسې شمېره: (۲۷)

د خپرندوی

پرله پسې نومره: (۲۷)

کمپوزر: ضیاالرحمن ضیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ددې سریزو په باب څو ټکي

تر اوسه پورې ددې هڅو بېلګې ډېرې کمې لیدل شوي، چې یو څوک دې د نورو پر اثارو خپلې لیکلې سریزې د یوې ټولګې په توګه چاپ کړي او یا دې د یوه بل لیکوال هغه سریزې یا یادښتونه راټول کړي، چې د نورو لیکوالو پر اثارو یې لیکلي وي.

یوازې استاد حبیب الله رفیع دا هڅه کړې، چې د بېلابېلو لیکوالو پر اثارو خپلې لیکلې سریزې او یادښتونه سره راټول او په ((کتابونه او دریابونه)) نومي اثر کې یې خوندي کړي دي. ښاغلي افضل شېرزاد بیا د ارواښاد استاد روهي نږدې هغه لس عنوانه سریزې او یادښتونه سره راټول کړل او په پېښور کې یې دیوه ځانګړي اثر په توګه چاپ کړل، چې استاد روهي د بېلابېلو لیکوالو پر اثارو لیکلي وو. نور نو تر دې دمه ماته د کوم بل چا داسې کړی کار معلوم نه دی او که وي هم څو د ګوتو په شمار دا ډول اثار به وي.

په دې ورځو کې چې زه خپلې لیکنې په خپله راټولوم، نو پر دې سریزو او یادښتونو مې هم سترګې ولګېدې، چې ما د نږدې پنځه لسو کلونو په ترڅ کې د هېواد د بېلابېلو لیکوالو پر اثارو لیکلې دي. دې لیکنو ته مې یو ځانګړی باب ورکړ او  په یوه ځانګړې ټولګه کې مې راټولې کړې. په خپل لاس د خپلو ټولو یا هم اکثرو لیکنو له راټولولو څخه زما هدف دادی، چې زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه غواړم، زما پر کړي کار په ګانده(اینده) کې نور څوک ستړي شي، یا څوک پرې د راټولولو له امله خپل وخت ضایع کړي او یا هم ورته دا شک پیدا شي چې کومې لیکنې راټولې او خوندي او کومې نه کړي. په افغاني ټولنه کې ژوند ډېر بحراني دی، ان تر دې چې خلک د خپلو کورونو د مالونو خوندیتوب ته حیران دي او ایله د خپل سر په غم کې دي، پاتې خو لا د نورو د فرهنګي کار د خوندیتوب مسئله.

نو هر لیکوال ته په کار دي، چې خپل اثار په خپله خوندي کړي، کوم اثار چې په بیا چاپ او راټولېدو ارزي، هغه راټول او د بیا چاپ لـه لارې یې د مرګ او ورکېدو له خطره وژغوري. زموږ په فرهنګي ټولنه کې د لیکوال تر مړینې وروسته دا یو غټ بحث وي چې دې مرحوم لیکوال څومره اثار لیکلي؟ څومره چاپ دي؟ څومره ناچاپ؟ څومره یې په خپل نامه دي او څومره په بدل یا مستعار نامه؟ دغه نانډرۍ، ابهامات او کښته پورته خبرې تر ډېره وخته د لیکوالو ترمنځ روانې وي. ددې علت دادی چې لیکوال په خپل عمر کې د خپل کړي کار سم سپیناوی نه وي کړی. دا سمه خبره ده چې مرګ نا خبره راځي او چاته له ډول و سورنې سره نه راځي، خو په هر ترتیب لیکوال باید د مرګي همدغه ناخبره خطر په پام کې ونیسي او څه یې چې کړي له سره منظم او د چاپ او خپراوي لپاره یې تیار کړي. پخوا حالات ستونزمن وو، د چاپ او تکثیر شونتیاوې کمې وې او لیکوال د خپلو او نورو لیکوالو د اثارو د خوندیتوب جوګه نه و، اوس خو زمانه بدلـه ده، د چاپ، کمپیوټر او انټرنیټ اسانتیاوې د اثارو د خوندیتوب تضمین کوي، نـو هـر لیکوال ته په کار دي چې خپل فرهنګي ژوند شفاف کړي او څه یې چې کړي، هغه د ځینو په اصطلاح پر ریکارډ راولي. په هر څو کلونو کې خپل تېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فرهنګي کار او اثارو ته د لیکوال بیا نظر او ژوره کتنه هغــه تــه دا مســئله روښانه کوي، چې تېر یې څه کړي او راتلونکي کې ورته څه کول په کار دي؟**

**خپله د لیکوال اثار د لیکوال د علمــي، سیاســي، کلتــوري او ټــولنیز شخصیت د ارزونې لپاره ښه تله ده، لیکوال باید تر هر څه لومړی د خپلــو اثارو په تله کې ځان وتلي، چې څه یې کړي او څه باید وکړي؟**

**ما هم دا سریزې په همدې نیت بیا راټولې کړې، چې زه هم خپل ځان د ماضي په هنداره کې وګورم او نور هم ما یو ځل بیا په دې تېره ایینــه کــې وګوري، چې څه مې لیکلي؟ او څرنګه مې لیکلي دي؟ ما په دې سریزو کې کوم بدلون نه دی راوړی، یوازې کوم ځای کې چې چاپي تېروتنه شوې، هغه مې سمه کړې ده. دا اکثره ادبي اثار دي، پر ادبي لیکنو سریزې څه خــاص خطرناک سیاسي عواقب نه لري او که یې ولري هــم، لیکــوال بایــد هغــه وزغمي، ما خپلې سیاسي لیکنې هم راټولې او تر کوم خاص بدلانه پرته مې چاپ ته تیارې کړي، له نورو لیکوالو مې هم هیله ده، چې له کوم ځــانګړي تغییر پرته خپلې لیکنې بیا چاپ کړي. هره لیکنه د یوه مهال د پېښــو او حالاتو انځورنه کوي، اوسمهالې لیکنې باید د اوسني وخت حالات منعکس کړي او د تېر وخت لیکنې د همغه تېر مهال. په دې اثر کې چې تاسو مخې ته پروت دی، پر (۲۴) بېلابېلو اثارو د چاپ پر مهال بحث شوی، ځینې پــه کې واړه یادښتونه دي او ځینې په کې د منځنۍ کچې او یا هــم د اثــر لــه غوښتنې سره سم سریزې. پر دې سریزو کې ما اکثره دا هڅه کړې چې نه یوازې پر دې مشخص اثر بحث وکړم، بلکې څه نا څه مې د لیکوال پر کړي کار هم بحث کړی دی. له دې څخه زما موخه دا ده چې د لیکوال د نورکړي کار د یادونې له لارې، ددې اثر شننه هم څه نا څه اسانه کېږي، خو پر ټولو اثارو داسې نه ده. د اثر او د لیکوال د شخصیت د شنني ترمنځ، د رابطې له**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې دا کار شوی دی. پر پورتنیو اثارو سربېره ما پر ځینو نـورو اثـارو هــم سریزې او یادښتونه لیکلي دي، خو تر دې مهاله مې لا ګوتو ته رانغلل، خو پاتې اثار د ګوتو په شمار دي، اکثره هغه اثار چې تر دې مهاله ما پرې لیکنې کړې دي، همدا دي، چې دلته یې سریزې راغلې دي. دغه راز د لیکوالو پــر ځانګړو اثارو مې ځانګړې تبصرې هم کړې، چې په بېلابېلــو خپرونــو کــې خپرې شوې دي. د بېلابېلو فرهنګي ټولنو د استازي په توګــه مــې، ددې ټولنو له خوا په چاپ شوو اثارو هم، د ټولنو په نامه ســریزې او یادښــتونه لیکلي، د هغو راوړل مې هم دلته مناسب ونه ګڼل. دغــه راز پــه لســګونو ځوان شاعران او لیکوال مې د هغو د نثر او نظم له بېلګو سره د تېــرو دوو لسیزو په بهیر کې په ځینو خپرونو کې معرفي کړي، د هغو بیا چاپ مې هم ضرور ځکه ونه ګاڼه، چې هغوی بیا وروسته اکثره یا د خپلو اثارو او یا هم د نورو ادب تذکرو له لارې معرفي شول، نو ځکه خو ددې ډول لیکنو بیا چاپ ته ډېره اړتیا پیدا نه شوه. په پورتنیو سریزو کې د لیکوالو د اثارو پر مثبتو او بریمنو خواو ډېر بحث شوی، ځینې منتقدین کېدی شي له دې ډول سریزو سره موافق نه وي او ووایي چې دې کې د انتقاد مالګه نه شــته، ددې ډول احتمالي نظرونو په باب باید ووایم، چې دا سریزې د لیکوال تر بحث لاندې اثر له تشریح او تعارف سره مرسته کوي، نه دا کره کتنې دي او نه هم د یوه اثر ټوله ارزونه. موږ باید د هغو منتقدینو په شان عمل ونه کړو چې تیــارې مړۍ ته ناست وي او پر یوه اثر باندې د چاپ تر مهاله ټوله تېره شوې پروسه له یاده وباسي. زموږ ټولنه د ځینو نورو پرمختللو ټولنو په شان نه ده، چــې لیکوال یوازې د اثر د لیکلو دنده سرته رسوي، دلته چاپېریال ډېر اغزن دی، له سیاسي، کلتوري او نورو تنګسیاوو سره سره د یوه اثر تخنیکي چــارې هم له ګڼو ستونزو سره مخ دي. زموږ یو پښتون افغان لیکوال هم خپل اثر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لیکي، هم یې خپله ایډیټ کوي، هم ورته خپله پیسې پیدا کوي، هـم یـې خپله چاپوي، هم یې خلکو ته خپله وېشي او هم یې بیا خلکو ته خپله وړیا ډالۍ کوي، دا ټول بهیر چې په حقیقت کې د څو تنو کار دی، یو زیات شمېر لیکوال یې په یوازې ځان سرته رسوي. نو په دغسې تنګو او اغزنو شرایطو کې چې د لیکوال مخاطبین هم یا لږ وي او یا د کتاب لوستنې معیارونو ته نه وي رسېدلي، پر لیکوال تر توقع پورته انتقادونه، زموږ فرهنګي بهیر تـه ډېر زیان رسوي. زه خپله د یو سالم انتقاد او مثبتې کره کتنې پوره پلـوی یم، خو په داسې حالت کې چې کره کتونکي خپله یو ځل ځان د لیکوال په هنداره کې ووېني چې: که دی چېرې د لیکوال پـر ځـای وای، لـه کـوم چاپېریال او ستونزو سره چې لیکوال مخ دی، دی هم ورسره مخامخ وای او تر لیکوال یې ښه اثر پنځولای او چاپولای شوای، نو بیا کره کتونکی حـق لري، چې پر لیکوال د شتو امکاناتو په هنداره کې، په خلاص مـټ انتقـاد وکړي. خو ځینې کره کتونکي په اصطلاح کره کتونکي دي، هغـه دې تـه ناست دی چې کوم لیکوال په ډېر تکلیف د خپل فکر او تندي په خولو یـو اثر چاپ کړي، نو بیا دوی ورته قلمونه تېره کړي، داسې څه پرې ولیکي چې هغه لیکوال د خپل اثر له لیکلو پښېمانه کړي. دا ډول پـه اصـطلاح کـره کتونکي په واقعیت کې د بل لیکوال د اثارو په نقدونه او یا هم ارزونه کـې خپل ژوند او شهرت ویني. که هغوی څه ونه لیکي نو ده ته د کلتوري ژوند او شهرت هېڅ وسیله نه برابرېږي. زما لاره له داسې کره کتونکو بېلــه ده، خو ټولنې ته د ټولنې تر کچې د ټیټو او مبتذلو اثارو د وړاندې کولو ټینــګ مخالف یم. هر اثر چې ټولنې ته وړاندې کېږي، باید د ټولنې اکثره او که نه یو ټاکلي شمېر وګړو ته خو نوی وي او باید د هغوی د ذهني کچې د لـوړاوي سبب شي. په هر حال ددې سریزو چاپ مې له دې پلوه هم ضروري وګاڼه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې لږ تر لږه زموږ هېوادوالو ته د شل پنځه ویشتو بېلابېلو اثارو پــه بــاب معلومات وړاندې کړي، له دې لارې دوی له هغو اثارو سره اشنا شي اوکــه چېرې اړتیا یې ورته احساسوله، نو خپله هغه اثر ترلاسه کړي.

زه په پای کې یو ځل بیا له خپلو ټولو اوسنیو لیکوالو څخه هیلــه کــوم، چې خپل کار په خپله راټول کړي او دا بار راتلونکي نسل ته پرېنږدي، زه د لوی خدای(ج) له درباره هیله من یم، چې زموږ د راتلونکي پښت غمونه او دردونه به تر موږه ډېر کم وي، خدای(ج) به هغوی ته د علم او پرمختــګ زمینه برابره کړي او هغوی به پر داسې ګنو علمي او ورځنیو کارونو مصروف وي، چې د دوی د ژوند د سوکالۍ سبب شي. په همدې هیله پر دې سریزو دا سریزه پایته رسوم.

په ټوله فرهنګي مینه او ادب

محمد اسمعیل یون

ارګ،د جمهوري ریاست ودانۍ،کابل– افغانستان


۱۳۷۸ل کال د مرغومي ۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه: د غشو تنده

د رواني لمریزې پېړۍ شپېتم کلونه او په تېــره بیــا د یــادو کلونــو وروستي پنځه کلونه، داسې مهال و چې پــه کابــل کــې د (شــعر)) او (شعار)) ترمنځ په ډاګه پوله او بریــد راکښل شول. دا څه ناڅاپي خبره نه وه، تر څو لسیزو واټن وروسته د دې لاره چاره برابره شوه. انساني ذهن، د ګڼ شمېر لیکوالو او د شعر مینه والو فکر له پرله پسې کلیشه یي نظمونو، سپوره منظومو ترانو او د ((شعر)) په نوم له ډانګ پېیلو خبرو څخه ستړی شوی و. یو داسې عاطفي، ادبي بدلون او اوښتون ته سترګې پر لار وو، چې د




دوی پر ستړي احساس او فکر د کینې او غوســې پرځــای د مینــې او عاطفې باران ووروي او شعر هم په رښتینې مانا خپل هویــت ترلاســه کړي. دا وخت سیاسي فضا هم داسې وه، چې نور نو اکثره له سرو، ګرمو او اورنیو شعارونو ستړي شوي وو او ټولو یو ارام ته اړتیال لرله. د هنــر ببلابېلې څانګې په تېره بیا ادبیات او په ادب کې بیــا د شــعر وزرونــه خلاص شول. د ځینو مخورو لیکوالو په تېره بیا د څو تنو کره کتونکو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خوا په ډېره ځیرکۍ کار پیل شو او هغه شاعران چې په کلام کې یې د شعریت تومنه زیاته وه، دې ته وهڅول شول چې نور هم د خپل شعر هنري جوهر پیاوړی کړي. د کره کتونکو په ډله کې د هېواد تکړه لیکوال او کره کتونکي زرین انځور او پیاوړي کره کتونکي لطیف بهاند هڅې د زیاتې یادونې او ستاینې وړ دي. پر همدې وخت د کابل په فرهنګي ټولنو او کړیو کې د شاعر او ناظم، شعر او نظم بریدونه له ورایه د بېلېدو او ځرګندېدو په حال کې وو. د ۱۳۷۱المریز کال تر پیله پورې دومره کار شوی و، چې د ادب زیاتو مینه والو د شعر او شعار ترمنځ پوله ټاکلای شوه.**

**ځوان شاعر صدیق الله بدر یو له هغو ځوانو شاعرانو څخه دی چې د همدغه شعري بهیر له پیل سره یې خپله شاعري پیل کړې ده. د ده د شاعرۍ د پیل پر وخت د ((شعار)) بازار ختم شوی و، ځکه نو ده د شاعرۍ دا پړاو چې له ورایه د ځینو شاعرانو په کلام کې دا وخت محسوس و، تېر نه کړ او ژر یې پر خپل کلام د شعر د هنري جوهر رنګین شال وغوړاوه.**

**صدیق الله بدر د دولسو کلونو په بهیر کې ښه ډېر شعرونه ولیکل او ډېرې نورې ادبي لیکنې یې وکړې، خو تراوسه یې نه د ادبي او څېړنیزو لیکنو او نه هم د شعرونو کومه ځانګړې مجموعه چاپ شوې ده.**

**ده خپله شاعري په اوډلي او سیستماتیک ډول پیل کړې ده، د ده د شاعرۍ د لومړیو وختونو شعرونه هم پاخه ښکاري او د ابتدایي شاعرۍ په شان ډېرې کمزورۍ پکې نه لیدل کېږي، خو د دې ترڅنګ د ده د شاعرۍ د پرمختګ سرعت چټک او توپاني نه دی. د څو کلونو په بهیر کې د ده شاعري پر مختللې ده خو دا پرمختګ یو ناڅاپي نه دی، د ده د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعرۍ وده او پرمختګ هغه پوخ پرمختګ ته ورته دی چې ورو پر مخ ځي او د تجربه کارو پوځیانو په شان تر شا خپله نیمګړتیا او خــلا نــه پرېږدي، بدر د یو پوه معمار په څېر دی چې د خپلې ودانۍ بنسټ په ډېر ښه شکل ږدي، ودانۍ ورو ورو ودانوي، خو ښه یې ودانــوي، ده هــم د خپلې شاعرۍ پیلامه همداسې راپیل کړې، نو ځکه یې شاعرۍ کې د یو مستحکم او پرله پسې پرمختګ څرکونه لیدل کېږي.

په همدې وجه د خپلې شاعرۍ په وروستیو وختو کې یې له زړه نــه دومره شاعرانه غمونه راتاو دي چې ټول زړه یې د خپل ارمان جانان ته سپارلی او یوازې همدا شاعري ده چې د ده غمجن زړه تــه ارام او ډاډ ښښلای شي:

داسې چې ډېــر ډېــر پــر مــاګران دی زړه مــې
زمـــا خـــو نـــه دی د جانـــان دی زړه مـــې
تـــورې چـــړې پـــرې هـــر نظـــر پرېـــوزي
د وینـــو کـــور افغانســـتان دی زړه مـــې
ســـتا د نظـــر د بړبوکـــو هنـــداره
د ښایســـتونو بیابـــان دی زړه مـــې.

ځینې وختونه چې څوک یو ادبي یا هنري اثر لولي نو د هغــه اثــر د لیکوال د شخصیت انځور یې هم سترګو ته کېــږي، کلــه خــو لیکوال په خپله د خپل اثر مرکزي اتل وي نو لوستونکي د اثر له لوستلو څخه د هغه باطني او ظاهري کرکټر څه نا څه مجسم کولای شي، کله بیا د یو اثر د بېلابېلو کرکټرونو پــه څېــرو کــې د لیکــوال د انــدروني شخصیت ځینې څرکونه ښکاري. خو کله کله داســې هــم وي چــې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لیکوال ټولنیز-ځاني او اخلاقي شخصیت د هغه د اثر له مانیزې خوا او فکري پېچلتیا سره یو شان او یو رنګ نه وي، یانې د لیکــوال فزیکــي جوړښت داسې وي لکه د تورو کاڼو غر، خو د دې غره په زړه کې بیـا د ښکلو غمیو یو کان هم وي. یانې داسې چې کلــه د لیکــوال او شــاعر ځاني، ټولنیز او اخلاقي شخصیت د هغه د هنري اثر له مانیز جوهر سره سمون خوري او کله هم نه یوازې دا چې سمون ورسره نه لري، بلکې له هغه سره مغایر او مخالف هم وي.**

**صدیق الله بدر لکه څنګه چې له نامــه څخــه یــې څرګنــدېږي یــو رښتینی انسان دی، همداسې په عملي ورځني او ټولنیز ژوند کې هم یو سپېڅلی او رښتین شخص دی. دلته د اروا پوهانو هغه خبره هم په یو ډول رښتیا خېږي چې وایي: (( نوم د نومول شوي ( اسم لــه مســمی) سره یو نه یو ډول اړیکي لري.))**

**څرنګه چې صدیق الله بدر په ورځنــي ژونــد کــې یــو ســپېڅلی او رښتینی انسان دی، همداسې یــو هنــري، روڼ، روښــانه او ســپېڅلی شخص دی. د کینې، تکلف او تصنع تورو ګردونو او پــردو یــې د شــعر دملکې مخ د بېځایه ابهام په حجاب کې نه دی پټ کړی. هغه هر څــه چې ویلي د یو سر زوري لېوني په شان یې رښتیا ویلي او که د یار قاتل نظر یې هم انځور کړی، نو ښه صفا او د زړه د هندارې په زور یې انځور کړی دی:**

**قاتـــــل نظـــــر انځـــــوروم د اشـــــنا**
**ځکــــه د زړه ورتــــه هنــــداره نیســــم**
**زه یمــــه داســــې لېــــونی ملګــــرو**
**اوښــکه مــې ســترګو کــې ایســاره نیســم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایي د شاعر پوټکی ډېر زیات نازک او نری وي، د عادي پېښـې پـر وړاندې ډېر ژر عکس العمل ښیي او د زړه، خیال او فکر د خوب ښاپېرۍ یې دومره په زړه بیداره ده، چې په ډېره عادي خبره له خوبه پاڅېږي.

کله چې شاعر د پېښو د عاملینو ګرېوان ته په لاس غځولو کې بېوسه شي، نو مایوسه شي او له سخت رواني او روحي کړکېچ سـره مخـامخ شي، په همدغه حالت کې د شعر عقاب د شاعر پر سر د شـعر وزرونـه وغوړوي او نوی شعر راوټوکېږي. صدیق الله بدر هم کله کله له داسـې رواني کشمکشونو او ستونزو سره مخامخ شوی دی:

اشـــنا تـــه خاندمـــه دنیـــا تـــه خانـــدم
د غریـــب خولـــه یمـــه هـــر چـــا تـــه خانـــدم
ســـتا مجبـــورۍ نـــه عشـــقه نـــه پـــوهېږم
چـــې چـــا تـــه ژاړمـــه او چاتـــه خانـــدم

یا:

داسې رنګ بې رنـګ غمونـه یـې خـوري زړه مـې
څـــومره کـــه هـــم ژاړم ژړا نـــه راځـــي.

شاعر که له یوې خوا په خپلو ځاني غمونو کې غوټې وهي نو له بلې خوا ټولنیز دردونه یې هم ارام ته نه پرېږدي، هغه د ټولنې او هېواد د یوه غړي په توګه ټوله ټولنه او هېواد خپل وجـود ګڼـي او هـر ټـولنیز او هېوادنی درد تر ټولو دمخه د شاعر پر بدن احساسېږي. سره له دې چې د ده په هېواد او ټولنه کې د مادي شتمنۍ یو څاڅکی هم په برخه نـه وي، خو د استاد الفت په خبره (( که په ټول وطن کې یې یوه کوډله هم نه وي نو دی به وایي چې هله وطن مې)) د ټول وطن دعوه به کوي. نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاعر زړه د تخیل خان او باچا دی. ټول کلی، ټوله ټولنه او ټول وطن او د هغو غمونه او دردونه د هغه شتمني جوړوي. د دردونو عوامل او له هغو نه د خلاصون لارې ګودرې په ګوته کوي:**

**لمــر چــې زمـــــورږ کــــلي تــه لار نــه کــوي**
**هغـــــه دوه غرونــــــه نږېــــــدلي نــــــه دي**
**هســــې لــــــه بـخــــــته زورور يــــــو اشــــنا**
**کــه نــــه نـــو چـــا ستــــرګې نيــولي نــه دي.**

**شاعر ته تر هر چا خپله په وینو رنګ ټولنه ښه معلومه ده، ځکه چې د ټولنې د هر فرد څاڅکی وینه تویه شوې، نو شاعر پرې خپلې اوښکې څڅولي دي، نو له دې کبله ده ته تر هر چا د خپل ړنګ بنګ کلي، کور، ټولنې او هېواد په وینو رنګ څېره ښه معلومه ده. بیا نورو ته وایي چې که ((زمورږ د کلي پته)) د چا په کار وي نو داسې ده:**

**زمورږ کلی**
**دا د دنګو غرونو شاته**
**که دې زړه وي**
**چې ته راشې**
**د زړګي پردې دې خلاصې کړه**
**په څیر شه**
**او بیا...**
**وګوره په مینه:**
**یوه سره د وینو لیکه**
**غزېدلې ده له غرونو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تر کلي پورې
رسي.

شاعر دې خبرې نور هم غمجن کړی چې پخوا بــه کلــي کــې ډېرې وشوې، نو په کلي کې به کوم نوی ګل (ماشوم) راټوکېدلای و او ملا به يې د تبرک لپاره په ډېره خوښۍ په غوږ کې اذان کاوه، خــو اوس هــر وخت په کلي کې ډېرې کېږي خو دا بل ډول ډېرې دي او تر ډېرو وروسته زموږ د کلي ملا د جنازې مونځونه کوي، (یاس شعر) . شاعر په یوه شعر کې خپله سوې لوې ټولنه له یو سوي ځنګل سره تشبیه کړې ده، چې ځو لارورکو د ځان د خلاصون په خاطر ټول ځنګله ته اور واچوه، خو په پای کې همدا اور له دوی ځخه هم راتاو شو. شاعر په دې شــعر کــې د خپلې ټولنې د شل کلنې غمیزې د عاملینو یو ډېر دقیق انځور باســي چې ځنګه يې د ځان د هوساینې لپاره ټولــه ټولنــه پــه اور وریتــه او وسوځوله، خو په پای کې يې دوی ته هم لمبې ورســېدې ( لار ورکــي لاروي) شعر.

صدیق الله بدر د شعري جولو په دو فورمونو (غزل-ازاد) کې زیاتــه شاعري کړې ده، آزاد شعرونه يې هم ښکلي دي، خو د ازاد شــعر پــه اندول يې غزل کې تجربې پخې دي. د ده په غزلو کې د ژوند د بېلابېلو خواوو رنګارنګ نــاخوالې انځــور شــوي او د ژونــد ډول مــانیزه رنګارنګي په کې لیدل کېږي. د ځو غزلو دا ځو بیتونه به يې د بېلګې په توګه راوړو:

چـــې یارانـــه يـــې ورانـــه کـــړې زمـــوږ
کوم یو غماز مـــو پـــه ملګـــرو کـــې شـــته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـــدره تـــاوېږي لېـــوني چـــې درنـــه
وایه څه راز ســتا پــه خبــرو کــې شــته
یا:
مــــا د هجــــران خطـــرې وزغملــــې
نور ځان د وصـل پــه خطـر کــې ویــنم
بــدره اخــر بــه شــې رســوا پــه مینــه
د مینـــې راز دې هـــر اثـــر کـــې ویـــنم
یا:
د زړه وینــــه مــــې د هغـــو ګلـــو رنـــګ دی
پـــه وړمـــو یـــې نـــارام زړګـــی قـــرار شـــي
د کابـــل د پېغلـــو زلفـــې شـــي وړمینـــې
چـــې راخـــور د نـــارنج ګـــل د ننګرهـــار شـــي

د صدیق الله بدر شعرونه د نورو شاعرانو پــه شــان د ډېـرو بریــاوو ترڅنګ یو لږ خفیفې نیمګړتیاوې هم لري. بدر د ننګرهار د سره رود د شاعرانه سیمې بلبل دی. کله چې د هر سره رودي شاعر شــاعري تــر نظره تېرېږي، نو سړي ته له ورایه د ژبنۍ ستونزې مسله راتــر ســترګو کېږي.

صدیق الله بدر د ځینو نورو سره رودیانو په شان په کور کې فارســي وایي. ځینې سره رودیان په ځانګړي ډول لیکوال او شاعران داسې دي چې کورنۍ او ګړنۍ ژبه یې فارسي وي، خو لیکنۍ، قلمي او د شــاعرۍ ژبه یې بیا پښتو وي. د بدر په لیک په ځانګړي ډول په شعر کې ژبنـــۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیمګړتیا ډېره کمه ده او ان اوس بېخي رفع شوې، خو د ژبنیو ترکیبونو په برخه کې بیا سرې د ځینو نیمګړتیاوو او کمیو احساس کولای شي.

په ټولیز ډول صدیق الله بدر یو بریمن شاعر او لیکوال دی چې په اوډلي ډول یې شاعري او لیکوالي مخ په بره روانه ده. د ځینو په اصطلاح یو ژمن شاعر او لیکوال دی. دا لاندې شعر یې هم د ده د ټینګې ژمنې څرګندونه کوي:

چې کړو ښکاره د زړګي زور ملګرو
راشئ چې ودانګو په اور ملګرو

له نیمې لارې ستنېدل به څه وي
له دې نه غیر چې شي پېغور ملګرو.

زه ځوان او هڅاند شاعر صدیق الله بدر ته د ده په هڅاند فرهنګي یون کې د لا زیاتو بریاوو او نوښتونو هیله کوم.

په شاعرانه مینه

اسمعیل یون

۹-۶-۱۳۷۷

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library




# بېکسیار

## د بې هویتۍ په دریاب کې د هویت ډیوه

د بېکسیار قلمه دومره وکړه
د وخت پر تنده انسانیت وکره

په تېرو شلو کلونو کې چې زموږ پر ټولنې کوم دردوونکی ناتـار تېـر شو، نو د ژوند پر ټولو خواو یې خپلې اغېزې وشیندلې. د شعر نړۍ هم له دې ناتاره خوندي پاتې نه شوه. شاعران او ناظمان دواړه په یو نه یـو ډول له یو فکري، سیاسي او عقیده یـي لوري سره وتړل شول. په پایله کې هغـه کشمکش چې په سیاسي برخو او ټګلورو کې موجود و، تر یوه بریده یې پر ادبیاتو او په تېره بیا پر شعر هم خپل سیوری خور کړ. خو په دې منځ کې بیا ځینې داسـې شاعران او لیکوال هم راوټوکېدل، چې د کینې او سیاسي غـرض پـر ځـای یـې عاطفه، احساس او لوړ انساني ارزښت د




خپلې ایجادي ښکارندې محور وټاکه او داسې ادبي اثار یـې رامنځتـه کړل چې د څرنګوالي له پلوه یې تر هغو نورو ارزښت او مقام لوړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالمالک بېکسیار د همدغې دویمې کټګورۍ د شاعرانو له جملې څخه دی. ده خپل شعر له همغه پیله د سیاسي شعار تر بریده راټیټ نه کړ او پر خپل شاعر شخصیت یې د وخت د سیاسي غوښتنو تور پورې نه کړ.

شپېتم کلونه د هېواد په دننه کې د شعار او شعر ښه ګـرم پـړاو و. همدغه لسیزه د بېکسیار د شاعرۍ د ټوکېدو کلونه دي، خو ده په دې کلونو کې هېڅکله هم خپله سپېڅلې شاعري د سیاسي شعار ګردونو او بادونو ته پرې نه ښوده. له همدې کبله خو دی په دې کلونو کې د هېواد په دننه کې د یو شهرت ګټلي شاعر په توګه مطرح نه شو؛ یوازې هغـه شاعران او لیکوال چې له ده سره یې فرهنګي اړیکي درلـودل، د ده د شاعرۍ پر ارزښت پوهېدل. همدا یاده لسیزه لا پای ته رسېدلې نه وه، چې شاعر بېکسیار له خپلو شعرونو سره د خپل ټاټوبي په پرېښــودلو محکوم شو؛ پېښور ته راغی، یو کال نیم یې لا تېر کړی نه و چې دلتـه یې هم د (شعاریت) بازار ولید او د ذهني ستړیا احساس یې وکړ، پېښور کې د ده د ازاد هنر وزرونه ونه غوړېدل، ځکه چې دلته هم د کابل پــه شان د ازاد ذوق او اند د شعر د شاهین پر پرواز بندیز لګېدلی و. بیا له دې ځایه لرې ((د رڼاګانو هېواد)) (ډنمارک) ته لاړ او داسې اټکلېده چې نور به نه خپل سوی لوی هېواد ور په یاد وي او نــه بــه هــم د خپلــې جونګړې تیلي څراغ.

د وخت په تېرېدو سره دا اټکل بېخي اوښتې بنه غوره کړه؛ هغـه د رڼاګانو د ښار د سندرو په ګلبڼ کې د خپل ټاټوبي ( د سنځل ګل شپې) هېرې نه کړې، تن یې هلته و خو روح او اروا یې دلته. دی په خپل هېواد کې د ذهني بلوغ داسې یو پړاو ته رسېدلای و چې نور نو پردیو سندرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د پردیو ګلونو رنګ یې پر ذهن هغه اغېز نه شو شیندلای چې د خپل هېواد، د سنځلو ګلانو او سوو ټپو پرې خورولای شو.

بېکسیار زموږ د ډېرو کلونو د یو ملي او فرهنګي سفر ملګــری دی، کله چې دی بهر ته لاړ، نو تقریباً اته کاله ماو ده سره ونه شو کتلای، خو بیا مو لیکنې اړیکي پیدا شول، ما فکر وکړ چې هلته خو بېله ټولنه ده، کېدی شي د سړي پر ژوند او شخصیت ډېره اغېزه وکړي، خو ده راته په یو لیک کې لیکلي وو: (( ... زه همغه مالک یم چې تاسو په کابــل کــې لیدلای وم، ما هېڅ تغیر نه دی کړی...)) تر لیکنیو اړیکو وروسته مې بیا په پېښور کې ولید، همغه بېکسیار و، چې پخوا و، لا کلیوال شوی و، لا صمیمي شوی، تکلف، تصــنع، ځــان ښــودنه او د مصــنوعي تبــارز او شخصیت هېڅ نښې نښانې په کې نه ځرګندېدې، همغه فرهنګي مینه او ولوله یې په زړه کې وه چې پخوا یې درلودله، خو نور یې دا اور په زړه کې نه شو ساتلای، د یوې فرهنګي مجلې (هیلې) د خپرولو په تکل کې شو او دا یې هم وویل چې ((ګوره هېڅ ځوان لیکوال درنه بېنوا او خفه لاړ نه شي او د هېچا لیکنې ته د سانسور زندۍ وانه چوئ، سانسور او د ادب د زنداني کولو ترخه تجربه خو موږ او تاســې لیــدلې ده. تاســې د مجلې د لګښت په اړه هېڅ تشویش مه کوئ، زه شپه ورځ کار کوم خو د مجلې لګښت برابروم...)). ده همداسې وکړل. یو وخت ماته زموږ یو بل فرهنګیال ملګری ممتاز ارمان له مسکو نه ټیلفون وکړ چې: ((تاسو به خبر یئ که نه، چې بېکسیار په څومره ستونزو د مجلې لګښت برابروي؟ هغه د خپلې رخصتۍ په ورځو کې هم کار کوي چې مجلــې تــه مــالي لګښت برابر کړي.)) دې سره ماته دا خبره نوره هم ثابتــه شــوه چــې فرهنګي کار او خدمت د څومره قربانیو په بدل کې سرته رسېږي، خــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېکسیار په خپلې دې قربانۍ سره د فرهنګي خدمت یو بېساری ریکارډ ټینګ کړی دی. ( بېساری ریکارډ) خو ورته ځکه وایم چې تر بېکسیاره نور غښتلي، متور، ژبور او د زیاتې پانګې څښتنان شته، خو په لویدیځ کې چا هم داسې یوې قربانۍ ته ځان ور نه کړ. البته زمونږ ډېرو افغـان لیکوالو او فرهنګیانو په ډله ییز او هم په ځاني ډول د یاد وړ کارونه کړي دي، خو هغه د بېکسیار په شان د خپل ځاني او کورني ژوند د قربانۍ په بیه نه دي، یو څه یې ورسره د خپل ژوند خیال هم ساتلای دی.

بېکسیار پر ۱۳۷۶کال د هیلې مجلې تـر څنګـه د خپلـو شـعرونو لومړنۍ مجموعه (سوچونه او کړلېچونه) هم چـاپ کـړه. دې شـعري ټولګې د یوه ښه شاعر په توګه په ادبي کړیو کې د بېکسیار نوم څرګند کړ. تر دې دمخه د هغه د شعرونو د څرنګوالي په اندول د هغه شـهرت کم و.

( د سنځل ګل په شپو کې) د بېکسیار د شعرونو دویمه مجموعه ده. شاعر په خپل شعري یون کې ښه بریمن دی. خدای(ج) ورکړی شعري استعداد او خپله کسبي پوهه یې دواړه سره ډېر ښه اوډلي او د دواړو له ښکلې اوډنې نه یې خـواږه شـعرونه ټوکـولي دي. د شـعر فکـري او ښکلاییزه (لفظي) خوا یې دواړه په تول تللي دي. د شاعر زړه او ذهـن دواړه له شتمنۍ ډک دي، غواړي لوستونکي او ټولنې ته خپل انسـاني رسالت تر سره کړي. د ده شعر د یو ټولنیز او ځـاني درد زېږنـده ده، د خپلو او پردیو غمونو د دواړو انعکاس ته یې اوړه ورکړې ده. د فرانسیس بېکن په وینا ((شاعران پر دریو کټګوریو وېشل کېږي، یو هغه دي چې د مېږي په شان ټول عمر له نورو څخه هر څه راټولوي او خپله هـېڅ نـه لري او بل هغه دي چې د غنې په شان هر څه له خپلې ګېډې باسي له

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو څخه هېڅ نه اخلي او درېیم هغه دي چې د شاتو د مچیو حیثیت لري، پر لرې لرې ګلونو ګرځي، له هغو څخه شیره را اخلي او بیا یې په شاتو بدلوي.)) بېکسیار هم لکه د یو پتنګ په شان د خپلې ټولنې پر ټپي ګلونو، سویو ساندو، ټولنیزو ناخوالو او نورو ذهني ټپونو ګرځېدلای او هغه ټول یې په روح او روان سره لمس کړي او بیا یې د شعر د شاتو په کندولي کې ټولنې ته وړاندې کړي دي. د ده شعر د همدغو پېښو انځور، د بریو او نابریو او ټکلو زړونو د اهونو هنداره ده. کله چې مور د ده شعرونه لولو نو په ذهن کې مو همغه پېښې او انځورونه راژوندي کېږي. د ده په شعر کې د نورو ځانګړتیاوو تر څنګ دغه لاندې ځانګړنې زیاتې څرګندې دي:

۱- صداقت او رښتینولي: د ده په شعر کې یو سپېڅلی صداقت او رښتینولي ښکاري، دی څه چې وایي رښتیا یې وایي او له خپلې مینې سره رښتینې مینه لري.

د ده شعري صداقت د ده له ځاني صداقت سره هم مستقیم اړیکي لري، په ځاني ژوند کې هم داسې یو انسان دی، چې دروغ، ټګي، بازاري کېدنه، تېر ایستنه او د نورو درغلیو چل نه ورځي. وګورئ دغه شعر د ده سپېڅلی صداقت په څه ډول انځوروي:

ما یو څلور بنده غزل لیکلی
هغه به وګورو لړ،
په تناره کې مېلمنو نه پاتې شونې وریجې
به سره یوځای وخورو،
ماته تروری وېل دا ستا ډېرې خوښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د ژوند نورې څه کیسې به وکړو،
شپې به له میندو پټ په بام ویده شو،
تر پېشلمي پورې به ستوري شمارو.

**۲- فکري تړون:** په شعر کې د شاعر د روحي سپېڅلتیا تر څنګ فکري سپېڅلتیا او له مقدس ارمان سره ټینګ تړون هم د شعر د مانیز ارزښت په لوړولو کې ستره ونډه لـري. د لـوړو اشخاصـو او شـاعرانو ارمانونه لوړ وي. بېکسیار هم یو ستر هېوادني ارمان ته ژمن دی. د هغه د زړه پردې د هر هغه ناتار په شمال رېي چې د ده په ذهن کـې د ده د سترې هیلې ( د هېوادنۍ سوکالۍ) د له منځه تلو سبب کېږي، نو ځکه خو یې په زړه کې وېره وي:

دا شـپه ډېـره اوږده نـه شـي ملګـرو زه ډارېـږم
د وخـت کیسـه تـوده نـه شـي ملګـرو زه ډارېـږم
دا مسـته قافلـه د خـر ځـادرو پښـې لوځـو
پـه نیمـه لار ویـده نـه شـي ملګـرو زه ډارېـږم

یا هم دا شعر:

د ځـول شـپې سـړې هـوا تـه اور مـو مـړ
غـواړو چغـې کـړو دنیـا تـه شـور مـو مـړ
پـه پـردي نظـر کـره یـې کـړو بیـا ډز
چـې بیـا ښـه یـې ورشـو خـوا تـه ورور مـو مـړ.

**۳- انتقادي روح:** لکه څنګه چې شعر خپله د ټولنیزو ناخوالو پر وړاندې یو غبرګون دی او شاعر د دې پېښو انځور ګر، نو د پېښو د عامل پر وړاندې فکري بغاوت او نیوکه د شاعر حق دی. د پېښو بیان که څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ډېر تریخ وي خو شاعر یې له بیان څخه ډډه نه کــوي، ځکــه چــې ((شاعران له قید او بنده بې پروا دي)) بېکسیار هم د یو شاعر په توګه دا رسالت تر سره کړی دی:

شــــروع تـــه اخـــرت وایـــي زمـــوږ د کلـــي خلـــک
مرګونـــو تـــه غیـــرت وایـــي زمـــوږ د کلـــي خلـــک
ښـــې دنګـــې کلاګـــانې کـــې بنـــدي پښـــتنې پېغلـــې
بس دې تـــه خپـــل عـــزت وایـــي زمـــوږ د کلـــي خلـــک
برغره کې چېرته پـټ دي یـو مـلا او بـل یـې زوم دی
ځـــانونو تـــه دولـــت وایـــي زمـــوږ د کلـــي خلـــک

یا:

د مینـــــې نـــــوم د دې مخلـــــوق لـــــه ژبـــــو مـــــرور
مرګـــــي دي جنـــــازې دي تـــــول وطـــــن مـــــو هـــــدیره
ورانـــــي کـــــوه، مرګـــــي کـــــوه چـــــې نـــــوم دې وي اتـــــل
د هـــــر څـــــه اجـــــازې دي تـــــول وطـــــن مـــــو هـــــدیره.

۴- لفظي ښکلا: بېکسیار د خپل شعر مانیز جوهر د ښکلو کلمو په ګلابپاڼو کې تاو کړی. د ده د شعر لفظي خوا خوږه، نرمــه، پســته او روانه ده. په شعر کې یې تکلفي او تصنعي ښکلا نه شته، د شعر الفــاظ یې داسې سره اوډل شوي چې ظاهري ځلا یې دومره ښکاره نه ده چې سړی فکر وکړي شاعر په جبري ډول پرځان فشار راوړی چــې حتمــي باید ښکلې کلمې وکاروي، بلکې په طبیعي ډول د شعر لــه مــانیزې او لفظي ښکلا سره برابرې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وګورئ دا شعر:**

**(( د پېشلمي په خوب ویدې پېغلې په ښي موټي کې،**

**ږدي د دیدن خوبونه)).**

**یا:**

**سرې کالې بیا فصلونه ښه راغلي**

**سرې کالې بیا سنځلې ډېرې ډکې**

**سرې کالې ډېر غریبانان نه یو لړ ډېره راځه.**

**بل شعر:**

**دا څنګــه یــو ناڅاپــه راپــه یــاد شــوې لکــه هېــر**

**د زړه په کــور چــې هغســـې آبــاد شــوې لکــه هېــر**

**دا چــا کـــړې لـــه نظـــره یـــه زمـــا خـــوږه وطنـــه!**

**لوګی دې شم دا ولـــې یـــو هېـــواد شـــوې لکـــه هېـــر.**

**۵- نوښت: د بېکسیار په شعر کې تر زیاته بریـــده نوښـــت لیـــدل کېږي. سره له دې چې په ځینو شعرونو کې به یـــې د پښـــتو شـــاعرۍ دودیز رنګ موجود وي او په طبیعي ډول به پکې د دودیـــزې شـــاعرۍ اغېز پروت وي، خو په ټولیز ډول د هغه شاعري له نوښته ډکه ده، زیات شعرونه یې له دودیزو شعرونو خپله لار بېلوي؛ هغه پېښـــې او حـــالات انځوروي چې تراوسه لا ورته د ډېرو د فکر نیلي وررسېدلي نـــه دي. د هغه د وینا دود هم له نورو توپیر کوي. د ده په شعر کې ډېرې ((قلقلې)) نه شته، یوه ارامه وینا ده، خو دننه په کې بیا یو ((غلی شانته انقـــلاب دی.)) د ده له هغو شعرونو څخه چـــې نـــوی رنـــګ پکـــې زیـــات دی،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوستونکي په لومړي ځل ډېر خوند نه شي اخیستلای، خو چې دویـم درېیم ځل یې ولولي نو زیات خوند ترې اخیستلای شي. ځینـــې نــوي شعرونه یې داسې هم دي چې په آني ډول یې انځور تر سترګو کېږي او سړی ترې ژر خوند اخیستلای شي. دی داسې کلیوالي، ښنګزنو مسایلو ته متوجه شوی، چې تراوسه یې پښتو شاعرۍ کې بېلګې کمې وې، دا شعر یې وګورئ:

خپله
راته یې وې
(( هغه پرون چې هغه زه، ته روان
د ګاونډي لور رانه وروسته کې
بیا وپوښتل چې
څه دې کېده؟
ما ورته ووې
چې دا ((خپل))؟ دی زما))،
خو زه قسم دی ((خپلې))؟
چې لا تراوسه پورې،
ستا بس په دې ټکي ونه پوهېدم،
چې دا دې ((وینه))
که دې ((مینه)) ښوده؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- معیاریتوب: بېکسیار یو داسې شاعر دی چې د خپل فطـري استعداد تر څنګ د ادبیاتو کسبي زده کړې هم لري. هغه د پښتو ژبې او ادب په ځانګه کې خپلې لوړې زده کړې ترسره کړي، د همدغو لوړو زده کړو له کبله د هغه د شعر ژبه کره او معیاري ده. که په شــعر کــې یــې ځینې سیمه ییزې پېښې او د ځاني ژوند ځینې ذهني تاثرات څرګنــد کړي، نو بیا یې هم د معیاري ژبې خیال ساتلی دی. له دې پرته ځینــې نورې ځانګړنې هم شته چې د هغه د شعر ښکلا او ځلا یې زیاته کــړې ده.

د بېکسیار د شعر په کره والي او ښکلا کې دې ټکي هم زیاته ونــډه لرلې چې شاعر زیات عمر له خپل شعر سره ملګری پــاتې شــوی دی، څومره مینه چې ده له شعر سره پاللې، له بل څه سره یې نه ده پاللې، د هغه زیات ذهني ځواک او د زړه زور په همدې شعر کې مصرف شوي دي .

په پښتو کې دا دود دی چې زموږ د ادبي پدیدې زېږنــدوی لــومړی شعر لیکي، کله چې په شعر کې تر یوه ځایه د شهرت پړاو ته ورسېږي، بیا پر لیکنو پیل وکړي، بیا سیاستوال شي او بیا نور...

خو بېکسیار له پیله تر دې دمه یوازې د شعر له ښاپېرۍ سره خپله مینه لوبولې او لوبوي یې. دې کار هم د ده د شعر ښکلا زیاته کړې ده. د یو باثباته شاعر شخصیت ترڅنګ د هغه ټولنیز، ملي او ځاني شخصیت هم د زیاتې ستاینې او یادونې وړ دی. هغه په یو داسې چاپېریــال کــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند کوي چې ډېرو په کې خپل هویتونه او شخصیتونه بایللي او د بې هویتۍ په دریاب کې داسې ډوب شوي چې بیا یې پته هم لګېدلې نــه ده.

خو بېکسیار د بې هویتۍ په دې لوی دریاب کې د افغاني هویــت او پښتو داسې یوه ډیوه (هیله) لګولې، چې رڼا یې نه یوازې زموږ د ستم ځپلي هېواد ګوټ ګوټ ته رسېږي، بلکې د هغو افغانانو چې په لوېدیزو هېوادو کې د هویت ورکېدنې پر یو نري رنځ اخته دي، د هغو د ویښولو لپاره هم یوه ځلانده ډیوه ده. د اوبو په منځ کې د ډیوې لګول څه اسانه کار نه دی، هغه د بېکسیار په شان اشخاصو د انــدو او ژونــد قربــاني غواړي.

زه ورته د لوی خدای(ج) له درباره همداسې بریالیتوب غواړم.

په درناوي

د ادب په خوږه مینه

محمد اسمعیل یون

۱۵-۱۱-۱۳۷۷


پېښور- پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ازمون په خپل فرهنګي ازمون کې ډېر بریمن دی

**را ویـــښومه د مړوند مازیګرۍ سندرې**
**د رباب مزو کې مې بیا د ګودر تال ګډ دی**




**له ډول ډول سیلیو سـره سـره اوس زموږ فرهنګي چاپېریال لـه رنګارنـګ ګلانو ډک دی، خو ازمون بیا په دې نویو ګلانو کې یو ګلاب ګل دی.**

**هغه د خپل زړه هېنداري د مینـې او عاطفې په اوبو داسې وللـې دي چـې د هېڅ ډول کینې ګرد یې په کـې نـه دی پرې ایښی. هغه سره له دې چـې د دوو سترو کینه ییزو ناتارونو په توپان کې د راګیر شوي پښت یو استازی دی، خو بیا هم د اور په ژبه خبرې نه کوي، هغه د توتکیو ژبه زده کړې او په همدې ژبه یې یوازې د مینې او عاطفې سندرې لیکلي دي.**

**(( دده په ژبه یوازې د جانان د نامه توري شنه دي)) همدغـه مینـه وړي توري د ازمون د ژوند او اند یوه داسې خزانه ده چې نه یې ترېنـه څوک اخستلای شي، نه یې ترې اړولای شي او نه یې هم ترې بېلـولای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شي. ازمون لکه د یو سندریز بلبل په شان پر مینه او سندرو مین دی، ځکه خو ده د مینې له هغو تورو نه چې د ده په ژبه او زړه کې لیک دي، سندرې جوړې کړي او د همدې مینې په مینه پایي:**

**په ســــندرو یو مین سندرې وایو**
**ستا د مینې د کعبې په طواف پایو**

**×××**

**موږه د هر چا په زړه کې کور د مینې جوړ کړلو**
**تنګه پر موږ خیر که تش همدا کره خاورینه شوه**

**له فطري پلوه خدای پاک د شاعر ختته د عاطفې او احساس په اوبــو لمده کړې، ځکه خو نو د هرې پېښې پر وړاندې غبرګون خپل طبیعــي حق ګڼي، ازمون هم په هغو شاعرانو کې راځي چې د شــاعرۍ فطــري جوهر په کې زیات دی، یو وخت هغه ((احساس)) و خــو کلــه چــې د حالاتو په بټۍ کې د احساس د ازموینې شېبې پرې راغلې نو پخپله په ((ازمون)) واوښت او بیا په دې ازموینه کې دومره بریمن شو چې د خپل عمر په انډول یې د اند او هڅو ثمره زیاته ده او زیاته خو باید ځکــه وي چې ده له خپل فطري او خدای(ج) ورکړي استعداد سره خپله کســبي پوهه او هڅې هم ملګرې کړې دي.**

**د ده ښکلې او ګلاب رنګه شاعري د فطري او کسبي استعداد د یــو ځای کېدو نتیجه او ثمره ده. ځکه خو کله چې موږ د ده شعرونه لولو، نو د شعاري نظمونو پرځای له شعرونو او شعري کیفیت سره مخــامخېږو، لکه څنګه چې شاعر پخپله مینه کې د انطباق پړاو ته رســېدلی او لــه خپل جانان سره وصل شوی، داسې یې شعري کیفیت هم ښکلی شوی دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا له میني مې جـــانانه مینه زده کړه
ایله اوس مې له خپل ځانه مینه زده کړه

×××

ســــیوری مـــې بـــادوړی تصـــویر نـــه لـــرم
لـــه ســـترګو پرېـــوتم تعبیـــر نـــه لـــرم
څـــوک بـــه د اوښـــکو کفـــن راکـــړي راتـــه
بـــې وســـه مـــړی یمـــه ویـــر نـــه لـــرم.

ازمون زمونږ د ټولنې یو حساس شاعر دی، زمونږ ټولنه اوس لـه ډول ډول روحي، رواني، ټولنیزو او نورو ستونزو سره لاس او ګرېوان ده، شاعر هم د خپلې ټولنې یو انځور ګر او عکاس دی، دی پخپل هنر کې د خپلې ټولنې د اوږدې غمیزې د هغې برخې یو دردونکی، عیني او رواني تصویر وړاندې کوي چې زمونږ د ټولنې ګڼ شمېر وګړي د هغې قرباني شوي او نورو پرې د خپلې بېوسۍ او بېکسۍ اوښکې تویې کړي او لـه همـدې اوښکو یې د خپل زړه شهیدو ټوټو ته (کفن) ورکړی دی.

په خپلو اوښکو پټوي ستر د خپلو مړو
خدایه ښښنه له تا غواړي د کفن وږی

خو شاعر له دې سترو ناخوالو سره سره بیا هم دومره مایوسه نه دی، چې د غمونو پېټی پرې دومره دروند وي، چې د ده د هیلو ټولې ځانګې ماتې کړي او ژوند یې د تیارو کومي ته ګوزار شي، لکه څنګه چې یتیم په ژړا پوخ وي دغه راز شاعر له غمونو سره روږدی وي، غـم او تخیـل، درد او عاطفه د شاعر همېشني ملګري دي. تیارې د ژونـد دښـمنې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاعر د رڼا پتنګ دی ځکه خو شاعر د رڼا پاللو لپاره د زړه له کومې هوډ او ژمنه کوي:**

**د رڼا فصل مې خدای(ج) شین که کړ د اوښکو پـه کـر**
**ورتــه ژړا بــه تــل پــه ســترګو کــې عــادت ســاتمه**

**ځومره چې شاعر پر مینې او رڼا مین دی، دغسې له خپـل هېـواد، ټولنې او خپل ولس سره هم مینه لري، د شاعر د زړه د رباب تارونه ډېر حساس دي، یوازې د غم او خوشالۍ په یوه عادي باد په اهتزاز راځي خو د زړه دنیا یې بیا ډېره پراخه ده هغې کې نه یوازې د خپلې ځاني مینې غمونه، بلکې د ټول ولس دردونه ځایېږي، شاعر په ټولنیزو غمونـو کـې ډوب وي، ژوند یې له ټولنې سره تړلی وي.**

**چـــې پـــه شـــوندو یـــې پتـــري د وینـــو ښـــکاري**
**هغـــــه زه هغـــــه وطـــــن، هغـــــه مـــــې قـــــام دی**

**د ازمون د شاعرۍ مانیز او جولیز جوړښت په طبیعي او شـعوري ډول داسې سره اوډل شوی او اوبدل شوی چې د دواړو د درننښت تله برابـره ده. هغه د خپل شعر جولیز جوړښت ته د ښکلو ګلوییونو له پاڼو دومـره ښکلې جامې جوړې کړې، چې دا لفظي ښکلا له ورایه د سړي په ذهن کې د هغه د شعر د لوستلو د راکښون ځواک پیاوړی کوي. ده د خپل شعر د مانا مرغلره د ښکلو وییونو د ګلپاڼو په حجاب کې نغښتې او د شعر د هر درغل له روا او ناروا نیوکې یې خوندي کړې ده، د ده د شعر لفظي ښکلا د ده د مانیز فقر زېږنده نه ده او نه د استاد الفت په وینـا داسـې ده چـې ((شاعر هڅه کړې خپل معنوي فقر د کلمو په ځل بل کې پټ کړي)) بلکې کوښښ کوي چې د خپل شعر ښکلې ښاپېرۍ د تکلف په رنځ رنځوره نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کړي. شاعر په پوره طبیعي او کسبي مهارت هڅه کوي چې د شعر پر حریم باندې د شعار د برید او یرغل مخه ونیسي، ځکه خو یې له (( پر هرونه دي چې خاندي)) څخه تر دې شعري یون د شعاري نظمونو د څرګندېدو مخه نیولې ده.**

**ازمون هم د هغه شاعرانو په ډله کې راځي چې د شعار ((ازمېښتي)) دوره یې تېره کړې نه ده، د شاعرۍ په پیل کې یې کېدی شي ځینې داسې شعرونه وي چې شعري نیمګړتیاوې به ولري، خو کله چې د ده شاعري په مطبوعاتو کې د خپرېدو او بیا د یوې ځانګړې شعري مجموعې د چاپ جوګه شوې، نو له شعاري نظمونو، سپوره پېیلو خبرو او لنډ مهاله نظمونو څخه یې په څرګند ډول خپله لاره بېله کړې ده. د شعر د شعاري کېدو لاملونه یوازې دا نه دي چې د شعر ژبه او استر دې پیکه، سپوره، سولېدلي او بدرنګه وي، بلکې د شعر له مانیز جوهر سره هم اړه پیدا کوي، چې شاعر کومه موضوع، او پېښه او د هغو مانیز جوهر څه ډول د کلمو په شال کې تاو کړی او څه ډول یې د خپل اند د بیان لپاره بېلابېل وییونه استخدام کړي دي. ایا بېلابېل الفاظ د شاعر د فکر د لېږد ځواک لري او که نه؟ او یا هم د شاعر فکر د دې وړ دی او که نه چې ښکلې کلمې ورته وګمارل شي؟ د شاعر د شعر ځواک په همدغه تقاطع کې راڅرګندېږي، چې د شعر دا دوه جوړونکي توکي په څه ډول یو له بل سره اوبدلای، پېیلای او تړلای شي؟**

**لال پاچا ازمون هغه شاعر دی چې د شاعرۍ په دې اصل کې دقیق او بریمن دی. هغه د شاعرۍ دوه استعدادونه لري، یو دا چې خدای پاک پر ده د شاعرۍ فطري استعداد لورولای او بل د ده کسبي استعداد دی، ده د یو مسلکي تحصیل کړي لیکوال په توګه د شاعرۍ ډېر رغنده تخنیکي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



توکي زده کړي او بيا يې د عملي تجربې ترڅنګ دا دواړه اســتعدادونه د خپلې شاعرۍ او ليکوالۍ لپاره کارولي دي، نو ځکه خو يې شــاعري تــر زياته بريده په تول تللې ده.

له مانيز پلوه هم د ده شاعري لنډ مهالې او موسمي نه ده، د ده شاعري داسې نه ده چې په ټولنه کې د سياسي بدلون په رامنځته کېدو سره لــه چلنده ولوېږي او د (( ځينو)) په شان خپله شعري مجموعه بيا له خلکو پټه کړي. د ده د شاعرۍ پر زياتو څانګو د ملي فکر عاطفي کوترې خپــل وزرونه غوړولي دي. د ادبپوهانو په اند که ملي او عقيديي فکر او ارزښتونه د يوې ټولنې د شاعر د شعر مانيز ملاتړ او منځپانګه شي، نو د شعر د ژوند دوام به يې تر زياته وخته تضمين شي. د دې علت دادی چې ملي فکــر، عقيده يي او ملي ارزښتونه د نورو هغو په انډول باثباته او تلپاتې وي، نــو هر څه چې د دې تلپاتې ارزښتونو په ملاتړ رامنځته شي، نو طبيعــي ده چې عمر به يې زيات وي. د ازمون د شاعرۍ د مانيز جوړښت زياته برخه همدا ملي فکر، درد او ناخوالې دي. خو ده يو بله ښــېګنه هــم ورســره يوځای کړې، هغه د خپلې ځاني مينې، درد، عاطفې او احساس وړانګــې دي چې ده له خپل ملي فکر سره تړلي او په پايله کې يې د شعر په بڼه د مينې، فکر، درد، تخيل او احساس يوه رنګينه شفاهي تابلو او ګالري زمونږ مخې ته ايښې ده. وګورئ ((زخمونه د کوترو)) شعر چې په ښکلي عاطفي حالت کې ليکل شوی او د زماني واټن، لوړې ژورې يې د عمر د اوږدوالي وزرونه نه شي تړلای:

طــــواف تــــه د ښايســـــت راځـــــي ســــيلونه د کــــوترو
اســــــمانه مبـــــارک شـــــه امېلونـــــه د کـــــوترو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځمکې د دې لوی اسمان پـه غېـږ کـې څـه کیسـه ده
چـې اوري ګـام پـه ګـام پـه کـې رنګونـه د کـوترو
مښـوکو کـې راوړی د غـنم وړی یـې یـور
دا ولـې نـن اوښـتي دي فکرونـه د کـوترو
په ورانـو ځـالو راشـي بیـا یـې اوښـکو بانـدې نمـانځي
د دمـې پـه نیـت نـه راځـي سـوچونه د کـوترو
د عشـق د ژونـد سـندره د ربـاب لـه تـارو باسـي
قفـس مـاتوي حسـنه چـې وزرونـه د کـوترو
د مینـې هنګامـه د زمـانې پـه ټنـده لیکـي
پـه تـورو کـې ګلونـه ږدي زخمونـه د کـوترو.

دا لاندې شعر هم د ځانګړي کیفیت لرونکی دی:

زمـا د ژونـد د فلسـفې خـوږلني داده وختـه
د شاعر بخـت یـم د قحطـۍ پـر اوږو بـار تېرېـږم
ځان ته له سـویو اسـوېلو کـړۍ د عشـق جـوړوم
د مین شپه یـم پـه سـوچونو کـې پـه دار تېرېـږم
وړمـه پـه زړه کـې د حـالاتو د رنځونـو انځـور
د افغـان ژونـد یمـه پـه تمـه د بهـار تېرېـږم
غـزل تـه اخلـم ښـکلي تـوري او رنګونـه ترېنـه
ازمونـه سـتا د پرهرونـو پـر دې ښـار تېرېـږم.

د شعر د رغنده عناصرو له جملې څخه یو هم تصویر (انځـور) دی. د ازمون په شاعرۍ کې د انځور برخه هم د پام او یاد وړ ده. په شـعر کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



انځور هم بېلابېلو ډولونه لري. عيني انځورونه، ذهني انځورونه او د دواړو ترکيب. عيني انځور هغه دی چې شاعر په خپل شعر کې داسې يوه پېښه او صحنه انځور کړي چې په عيني ډول مور په خپل ذهــن کــې د هغــې پېښې تصوير مجسم کړای شو او يا هم که يو رسام يا انځور ګر ته د شاعر د الفاظو دا انځور ورکړای شي، نو هغه يې بيا د کاغذ پر مخ انځور کــړای شي. ذهني انځور هغه ته وايي چې له فزيکي پلوه د هغه ترسيم ناشونی ښکاري، يوازې په ذهن کې کېدی شي د هغه مانا جوړه او ترسيم شي او د لوستونکي او اورېدونکي د ذهني خوند جوګه شي. ترکيبي انځور دې ته وايي چې يوه برخه يې له عيني او بله له ذهني انځور نه جوړه شــوې وي.

د ازمون په شاعرۍ کې دا ډول انځورونه ډېر زيات دي، کله يو بيت يو انځور جوړوي، او کله هم يو ژبنی ترکيب يو انځور.

ستا د کافر نظر د تورې تېره سيوري لاندې
زما ماشومه مينه لاس په دعا خوب وړې ده

دلته (نظر) او (مينه) داسې کلمې او ماناوې دي چې هغه په ذهن پورې اړه لري او عيني تصوير نه جوړوي، خو کله چې له (نظر) سره د (تورې) او (ماشومه) کلمې يوځای کېږي خبره له ذهنيت نه عينيت ته راوځــي، او سړي ته له عيني پلوه داسې يو تصوير وړاندې کوي چې يو کافر له تورې سره ولاړ دی او ماشوم په شنه جامه کې ويده دی او دی پرې د ګوزار په حالت کې دی، دغسې يو عاطفي حالت د سړي پر ذهــن اثــر ښــندي او سترګو سترګو ته يې کېږي. اوس که دا بيت انځورګر ته ورکړو پــه ډېــره اسانۍ يې تصوير رسمولای شي.

دا بيتونه هم وګورئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاولي دې پرې چې په ټټر کې دي اتڼ واچوي
د غـــــــنم وړي په غزا کې څو شملو اخيستي

×××

د چنار څانگې له ښارو سره موسکېږي لږ ورو
سترې اروا مې شينکې ډډ ته دا ستا خوب وړې ده

×××

په مزاري تندي دې خال د کابل وځلېده
که خږ طالب په تېره غاښي د شيبر ختلی

×××

ټپو د غنم لو ته د مرغيو سيل رانغی
ټټر کې د پاوليو انقلاب کړي غځونې

د ذهني انځور په باب به دا لاندې بيت وگورو:

د سبا زېرى د شپو له زندۍ خلاص کړه
د سپـــېدو په گلاب توی د رڼا جام کړه

دلته د ( سبا زېری) او (د شپو زندۍ) ذهني انځور جـوړوي او عينـــي تصوير کښل يې مشکل دي، د سپېدو گلاب او د ((رڼا جام)) د ذهنـــي او عيني تصوير يو ترکيب دی.

د مينې هــنگامه دزمانې پر ټنډه ليکي
په تورو کې گلونه ږدي زخمونه د کوترو

لومړی نيم بيتی ذهني تصوير او دويم عيني تصوير جوړوي.

د بشپړو بيتونو ترڅنگ د ازمون په شاعرۍ کې زيات شــمېر داســې ژبني ترکيبونه راغلي چې ډېر ښکلي شاعرانه مفاهيم، عيني او ذهنـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصویرونه جوړوي لکه ( د رڼا فصل، د اوښکو کفن، د زړه شپېلۍ، د څنو سینګار، د وړمو وزرونه، د اور په ذهن، د عطرونو څلی، د ګودر تال، زما په ژبه د جانان د نامه توري شنه دي، د شفق جام، د سهار پګړۍ، د کـوترو فکر، سندریزه فضا، د دیدن فصل، د سهار اوښکه، د شراب په خم کې) او داسې نور... که په ټولیز ډول د ازمون د شاعرۍ ارزونه کوو نو ویلای شو چې د ده شاعري تر ډېره بریده د پښتو د اوسنۍ شاعرۍ پـر معیـارونو برابره ختلای شي. که د ازمون د عمر په اندول د هغه د شاعرۍ ارزونـه وکړو، نو بیا خو دی ډېر پرمختللی دی. د ده شاعري د جولې او مانـا لـه مخې ډېره پخه نه ده، ځکه چې ازمون تراوسه پورې ډېر ځوان دی، له ده نه د نور فکري یا جولیز نوښت هیله کېـدی شـي. د ازمـون د اوسـنۍ شاعرۍ له مخې سړی ویلای شي چې د ده راتلونکې شاعري به په ټکلیز ډول تر دې اوسنۍ شاعرۍ د څرنګوالي له مخې خوږه او پخه وي.

کله چې څوک د یو شاعر د شعر په باب ګړېږي او یا یې لولي نو د هغه خپل تصویرو ورته تر سترګو شي او دې سره سره د هغه ځاني شخصیت. څرنګه چې ازمون له ډېرو کلونو راپدېخوا زما د فرهنګـي سـفر نـږدې ملګری دی او د فرهنګي ژوند ډېر رازونه یې ماته معلـوم دي، نـو دلتـه لازمه بولم چې د هغه د شخصیت او فرهنګي هڅو په باب هـم یـو څـو څرګندونې وکړم:

لال پاچا ازمون ته خدای(ج) ښه روغتیا او ښه ځواني په برخه کړې ده او دې سره سره سرشاره ادبي استعداد هم لري.

د ده طبیعي استعداد او کسبي زده کړې د دې سبب شوي چې د ده د فرهنګي شخصیت په تبارز کې مثبت رول ولوبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نورمال اقتصاد او د یو روښنفکره پلار شتوالي په فرهنګي چارو کې د ده مټ نور هم پیاوړی کړی دی.

زه چې له څوارلسو کلونو راهیسې له ازمون سره فرهنګي ملګرتیا لرم، نو دا راته ښه څرګنده شوې ده چې د ده فرهنګیال پلار ښاغلي (وطنخپل صاحب) پر خپل فرهنګیالي زوی ازمون باندې د کورنیو ستونزو، اقتصادي ربړو او د ژوند د نورو ورځنیو چارو د مشکلاتو د بار جال نه دی خور کړی، بلکې دې ډول اکثرو ستونزو ته یې خپله اوږه ورکړې ده. دې کار د ازمون په فرهنګي وده کې ډېر رول لرلای دی، په حقیقت کې ازمون په هغو فرهنګي اشخاصو کې راځي چې د وجود زیات ځواک یې فرهنګي کار ته متوجه دی. داسې هم نه ده چې دی د خپل ورځیني ژوند له چارو نه یاغي دی او په خپله د ژوند چارې پرمخ نه شي وړلای، بلکې اوس دی له رواني پلوه په دې ډاډه دی چې شاته یو مستحکم ډاډ ځای او ملاتړ لري، نو کومې بریاوې چې دی په فرهنګي ډګر کې ترلاسه کوي په حقیقت کې دا د هغه ملاتړ برکت دی چې دی یې لري.

څرنګه چې ازمون په کورني ژوند کې له سختو رواني، اقتصادي او نورو کړکېچونو سره نه دی مخامخ شوی، نو ځکه خو د اروا پوهنې له مخې هغه یو عقده یي انسان نه دی، د هغه شخصیت له صمیمیت نه جوړ شوی دی. کله چې دی له هر چا سره مخامخ شي ان که لومړی کتنه یې هم وي نو د ((ګپ شپ)) محفل پیل شي، دی په خپل صمیمیت کې کله دومره ډوب وي چې ځینې وخت خپل احساسات هم نه شي کابو کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له فکري او د حافظې د ذهني ځواک له پلوه د هغه قــوت زیــات دی ځکه خو د پوهنځي په ټولو سمسترونو کې له پیله تر پایه اول نمره بریالی شوی دی.**

**د غیرت او زړورتوب له کبله هم د یاد وړ صفتونه لري. هغه په خپلــه ټاکلې فرهنګي او ملي لاره کې د خطرونو پروا نه لري او نه لکه د ځینــو نورو په شان (( د مضر احتیاط)) په لومو کې ګیر دی.**

**هغه د خپل کلتور ډېر وړ ارزښتونه ساتلي او پاللي دي او لا یې پــالي. مېلمه پالنه، ښه چلند او له ټاکلو فرهنګي، اداري، او سیاسي اشخاصــو سره ژر پېژندنه د هغه د شخصیت نورې ځانګړنې دي.**

**هغه تر زیاته حده د نورو پر وړاندې له کینې او لنډ فکرۍ نه پاک دی، خو د نورو د کینې او تنګنظرۍ ګوزار ته هم خپل فرهنګي برخلیک نــه پرېږدي.**

**له دې پرته ازمون یو هڅاند او تپاند شخص هم دی او د استاد زیار په اصطلاح (( بیړندویه ژوند لوښی او ژوند دود لري)) د هغه اکثره فرهنګي کارونه په منډو او هلو ځلو کې ترسره شوي، له همدې کبله خو تــر ننــه پورې د ده په زیار هڅو او نوښت تر پنځوسو پورې لوېې او وړې مشاعرې او ادبي غونډې جوړې شوي دي. دغــه راز ده تراوســه پــورې د ځوانــو شاعرانو ( تر خپل عمر کښته) همزولي او ان د عمر په اندول تر ځان نــه څه نا څه مشرانو شاعرانو او لیکوالانو په روزنه، پالنه او هڅونه کې زیاتې هلې ځلې کړي او د ده دې هلو ځلو ټاکلې نتیجې هم ورکړي دي. همدغو هلو ځلو او فرهنګي خدمتونو د ده د شخصیت په وده او تبارز کې کارنده رول ولوباوه، نو ځکه خو په ځینو ځایونو کې د ((ځینو اشخاصو)) له خوا د ده پر وړاندې یو ډول ښکاره او پټو عقدو او کینو د څرګندېدو څرکونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وليدل شول، خو ازمون بيا هم خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړ او ورکوي يې. په نتيجه کې ده د خپل کار او هلو ځلو فرهنگي ثمره ټولنې ته وړانــدې کړه چې په لاندې ډول يې يادونه کېږي:**

**۱- د ملنگ جان خوږې نغمې، له نويو زياتونو سره، کابل، ۱۳۷۰ل کال چاپ**

**۲- د سين غاړې گلونه، د لغمان د ولسي شاعر محمــد نــور شــعري ټولگه، پېښور ۱۳۷۲.**

**۳- پگړۍ کې کم نه يې له کاکله گله، د نارنج گل په وياړ گــډ شــعري غورچاڼ، اوډنه او سريزه ۱۳۷۴ل، ننگرهار، جلالکوټ.**

**۴- په ځله کې گلابونه، د ننگرهار د يوولسو ځوانو شــاعرانو شــعري غورچاڼ، اوډنه او سريزه، پېښور ۱۳۷۷ل کال چاپ.**

**۵- کابل د وينو او لمبو په سين کې، گډ شعري غونډ، اوډنــه، پېښــور ۱۳۷۳ل کال چاپ.**

**۶- پر هرونه دي چې خاندي، لومړۍ شعري ټولگه، پېښور ۱۳۷۲.**

**۷- بر گودر، د ننگرهار د ولسي شاعر توکل شعري ټولگه، راټولونه او سريزه، ۱۳۷۷ل کال پېښور.**

**۸- د شگې گل، د ننگرهار د ولسي شاعر سيد کمال شــعري ټولگــه، راټولونه اوس ريزه. ۱۳۷۷ پېښور.**

**۹- قلم او قيام، د لغمان د ولسي شاعر عبدالرحمن الينگاري شــعري ټولگه، راټولونه او سريزه.**

**۱۰- نمجنې سترگې، د لغمان د ولسي شاعر بسم الله گلکاريوال شعري ټولگه، راټولونه او سريزه. ۱۳۷۷ پېښور.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۱- سندریزې کیسې، د لغمان د ولسي شاعر شیخ احمدخان شعري ټولګه، راټولونه او سریزه. ۱۳۷۷ پېښور.**

**۱۲- منګولې، د لغمان د ولسي شاعر سید باووجان شعري ټولګه، راټولونه او سریزه. ۱۳۷۷پېښور.**

**له دې پرته یې په ولسي ادبیاتو کې نورې ګڼ شمېر علمي او ادبي پروژې هم ترلاس لاندې دي، چې په راتلونکي کې به یې د خپلې ژبې او ادب مینوالو ته وړاندې کړي.**

**د پښتو ولسي ادبیاتو په برخه کې د ده هڅې ځکه د زیاتې ستاینې وړ دي چې ولسي ادب زموږ د ادبیاتو یوه درنه برخه جوړوي. د حالاتو او وخت په تېرېدو سره کېدی شي د ولسي ادب یوه برخه د خلکو له ذهنونو څخه ووځي او یا د زمانې تر ګردونو لاندې شي، نو دا د دغسې هڅاندو لیکوالو کار دی چې د خپل ادب غوره پانګې له احتمالي مرګ او خطرونو څخه وژغوري. زه ځوان، هڅاند او نوښتګر لیکوال او شاعر لال پاچا ازمون ته په فرهنګي چارو کې نور هم همداسې بریالیتوبونه غواړم او خپلو خبرو ته د ده په دې لاندې بیت د پای ټکی ږدم.**

**اغزي به پاڅي خلاصوي به د وړمو وزرونه**
**د اور په ذهن نڅوي به د عطرونو څلي**

**په ټوله فرهنګي مینه**
**اسمعیل یون**
**۱۳۷۷- وری- ۲۴**
**جلال کوټ**


(c) ketabton.com: The Digital Library



# یادون

## ((سیندونه هم مري))

د تېرو دوو لسیزو په بهیر کې د پښتو شاعرۍ د څو مطرح څېرو لــه جملې څخه یو هم خدای بښلی اسحق ننګیال و. ده د ځوانۍ په شپېو ( پنځوسمو کلونو په بهیر) کې شاعري پیل کړې وه، خو د ژوند تر پایه پورې له هېڅ شي سره دومره خواخوږی او نږدې پاتې نه شو لکه له خپلې شاعرۍ سره. شعر په حقیقت کې د هغه د ټکلي روح او روان د ټکورولو اغېزمنه وسیله وه. ننګیال لږ تر لږه د خپلې څلېرویشت کلنې شاعرۍ په بهیر کې د شاعرۍ دومره پخــې تجربــې ترلاسه کړې او بیا یې د همدې تجربو له



کبله دومره ښکلي شعرونه وزېږول چې په پښتو شاعرۍ کې د ښــکلو غمیو حیثیت لري او کولای شي د ننګیال نوم زموږ د ولس په ذهن کې تر ډېر وخته ژوندی وساتي. شاعر هم د بل هر انسان په شان په ټولنیزو، سیاسي، فکري او نورو مسایلو او چارو کې د بریو ترڅنــګ لــه یــو لــږ ښویېدنو، تېروتنو، هیلو او نهیلو سره مخامخېږي. کله چې پر ننګیال او دده پر شاعرۍ خبرې کېږي، نو ځینو ته ضرور د هغه د شاعرۍ ترڅنګ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه د ټولنیز، سیاسي او اخلاقي شخصیت انځور هم تر سترګو کېږي. د هنرمند د پېژندنې لپاره خو تر ټولو غوره لاره داده چې د هغه خپل هنر وکتل شي. د هنرمند تخلیق او زېږونه پخپله د هغه د ظاهري او تر زیاتې کچې د باطني شخصیت هنداره ده. نو کله چې د ننګیال پر شخصیت خبرې کېږي، مجبور یو د هغه د شعر نړۍ وګورو او هغه کلمه یوه یوه تر سترګو او فکره تېره کړو چې د ننګیال له ضمیره یې سرچینه اخیستې او بیا د شعر پربښتې په خپلو اوښکو مینځلې او د مینې د نړۍ د ابدیت غېږې ته یې سپارلې ده. دا خبره د منلو وړ ده شاعر تر هغه پورې چې د فکري بلوغ پړاو ته رسېږي، د فکر ستنې به یې یو او بل فکري لور ته کږېږي. تر هغه پورې چې شاعر خپله ذهني او فکري شتمني بشپړوي تر هغه وخت پورې یې د فکري ښویېدنو اټکل کېدی شي.

ننګیال د خپلې ځوانۍ په درشل کې پر شاعرۍ پیل وکړ او دا هغه مهال و چې نور نو ټول هېواد د ((عقیدې د بحران او د معنویت د سقوط)) پر لور روان و. ګڼو فکرونو د بېلابېلو شعارونو تر پردې لاندې د هېواد د ځوان پښت د ذهنونو د خپلونې هڅه کوله. شعارونه یې خواږه وو، خو وروستي عملونه یې ترخه...

د ننګیال د ذهن یوه برخه هم د یو سیاسي فکر د جال په کړۍ کې ګیر شوه، خو دې فکر لا د شاعرۍ پر بې تکلفې ښکلا خپل سیوری نه وغوړولی چې د ناورین لومړی پړاو پیل شو. بیا د ناورین دپاسه بل ناورین او غمیزه راغلل چې نه یوازې زموږ د هېواد او ولس د هر ډول شتمنۍ ستنې یې ولړزولې، بلکې له ګڼ شمېر متفکرو مغزونو څخه یې هم لاره ورکه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې پړاو ډېر زیات دوام وموند او ننګیال هم په داسې یو جغرافیایي او مسلکي چاپېریال کې ژوند تېراوه چې هلته د یو داسې فکر واکمني وه چې د ننګیال د اصلي شاعرۍ له سپېڅلي روح سره یې تګلوری په ټکر کې و. ننګیال په دې کلونو کې لکه د نورو ګڼو لیکوالو او د فکر د خاوندانو په څېر په داسې یو جال کې راګیر و، چې تر دې دمه یې لا نه پوره سترګې رڼې شوې وې او نه یې د شعر د ښاپېرۍ وزرونو خپلواک پروازونه کولای شول. په دې پړاو کې د ننګیال فکري بلوغ هم د خپل پوخوالي پړاو ته رسېدلی نه و، نو ځکه خو یې د هغه وخت په نظمونو ( نه په شعرونو) کې یو لړ فکري ښویېدنې لیدل کېږي، خو پر همدې وخت بیا هم دده په شاعرۍ کې د فکري او انساني بغاوت او د عاطفي سیند د څپو یو پټ شور پروت و او داسې اټکلېده چې یوه ورځ به دده ددې فکري تېروتنې پر ځای دده د فکر او ضمیر هغه دننني نړۍ راڅرګنده او د خپل شعر ناوې به پرې سینګار کړي.

کله چې شاعر د فکري او شعري بلوغ پر لوري بریمن ګامونه اخلي، نو تپل شوی، تصنعي او ناشعوري اندود یې هم ورو ورو له منځه ځي. کله چې لړ نوره رڼایي هم راغله او په کابل کې د یو زیات شمېر لیکوالو سترګې رڼې شوې، نو هر چا د خپل هېوادني اند اصلي جوهر میندلو ته هڅه وکړه. ننګیال چې په پټ ضمیر کې یې همدا راز پټ و، له ځینو نورو څخه په دې لار کې څو ګامه دمخه شو. جرئت او رښتینولي یې ددې مرغلرې د ځلونې او خپلونې لپاره امېل کړل. تر ۱۳۶۲- ۱۳۶۴ کلونو وروسته وختونو کې په کابل کې د مقاومت د ادبیاتو او د شعر د شعري جوهر د پیاوړتیا لپاره په څرګند ډول هڅې پیل شوې. په همدې کلونو کې په څرګند ډول د شعر او شعار ترمنځ پوله ډاګیزه شوه. د ادبي مبارزې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې تاوده ډګر کې د هېواد د پیاوړي کره کتونکي او کیسه لیکونکي زرین انځور او بیا د تکړه کره کتونکي لطیف بهاند او نور زیار او هڅې د یادونې او ستاینې وړ دي. دوی یو زیات شمېر هغه ځوان شاعران چې په شاعرۍ کې یې د ((شعاریت)) پر ځای د ((شعریت)) جوهر پیاوړی برېښېده او یا په کې د شاعرۍ تومنه څرګندېدله، دېته راوبلل چې له شـعارونو څخـه خپله لاره بېله کړي. ننګیال یو له هغو ځوانو شاعرانو څخه و، چې تر ټولو لومړی له همدې پیل شوي بهیر سره یوځای شو. دا د شعر د پوخوالي پر لوري د ننګیال د بریمنو هڅو د پیل کلونه دي. دې بهیر تر ۱۳۷۱ل کـال پورې خپل عمر ته دوام ورکړ.

په همدې واټن کې د ننګیال شاعري، دومره خوږه، سپېڅلې او عاطفي شوه، چې د هغه محبوبیت یې د هېواد د یو ستر عاطفي شاعر تر بریـده ورساوه. ننګیال د همدې کلونو په بهیـر کـې د خپلـو شـعرونو څلـور مجموعې (ډالۍ، سپېره ډاګونه او غوړېدلي بزغلي، هغه شېبې هغه کلونه او څاڅکي څاڅکي)) چاپ کړل. څرنګه چـې دده شـعر ورځ پـر ورځ د خوږوالي او کره والي پړاوونه وهل، نو پـه (۷۰) کلونـو کـې دی د خپلـو شعرونو له ځینو چاپي مجموعو په ځانګړي ډول (ډالۍ او سپېره ډاګونه او غوړېدلي بزغلي) څخه څه ناڅه پښېمان و او هغه یې (( شعرونه)) نه ګڼل. د ده شاعرۍ د پرمختګ بهیر دومره ګړندی و، چـې د خپلـې د مخنـۍ شاعرۍ زیاتو شعرونو ته به یې خندل، سره له دې چې دده په شاعرۍ کې د شعر اصلي تومنه او جوهر له پیله ښکاره کېده، خو وروسته وروسته یې د خوږو کلمو یو زرین شال ور په سر کړ. کله چې د ۱۳۷۱ل کال د غـویي میاشتې پر ۸ نېټه په کابل کې د اسلامي انقلاب (!) په نوم یو ستر ستمي ناورین او غمیزه پر افغانانو ور وتپل شول او د هېواد ټول نظام ګډ وډ شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ننګیال ژوند او ان دده فرهنګي کارونه هم لــه ســختو ســتونزو ســره مخامخ شول. د سرو ګولیو په باران کې یې ایله دومره وکړای شول چــې خپله کورنۍ تر لغمانه پورې ورسوي، د کور شته یې ټول تیت و پرک شول او څو ځله په یوه ښار کې له یوه ځایه بل ځای ته مهاجر شو. د کور دکالیو په کیسه کې خو نه و، خو د کتابتون د چور او تالان له غمه یې له سترګو لمبې پورته کېدلې او همدا یې ویل: ((یاره پیرجانه افسوس چې دا کتابونه یې راځخه نه وای وړي)). د کتابونو غم لا نه و سوړ شوی چې د یوې درنې ګولۍ ګوزار هم ورته ور ورسېد؛ د توپ یوه ګولۍ یې څنګ ته ولګېــده او څو ټوټو یې د بدن ځینې برخې غلبېل کړې. له ناروغۍ لا پوره ښه شوی نه و، چې بېرته یې د لیکوالو په ټولنه کې خپلې دندې ته ځان ورســاوه. شپه او ورځ به همالته په ټولنه کې و. د لیکوالو انجمن یې هم کور و او هم د دندې ځای. څو میاشتې لا وتې نه وې چې کوم چا ورته کوم پنجشېری ولمساوه. تیاره ماښام و، ډیوه یې لا لګولې نه وه، چې د وره له ټک ټــک پرته دا شخص له خپلو نورو ملګرو سره یوځای په کوټه ور ننوت. خدای ج خبر هغه په کوم فکر کې ډوب و، چې یو ناڅاپــه یــې پــر دوی ســترګې ولګېدې. ده لا هغو ته د ناستې او ست هیله لرله چې یو ګوزار دده ترمخه داسې راورسېد، چې دده یو غوږ یې هم د څه وخت لپاره بې حسه کړ او دا یې ورته وویل چې: (( ما چرم کن استم، سبا تا یي وقت این اتاقه ایلــه می کنی، دیگر ده اینجا نبینم ات، ای اتاق را ما برای چرم کنی کار دارم)). څو ورځې د هغه په سترګو کې له اوښکو او په څېره کې یې له یوې سترې نهیلۍ پرته بل څه نه لیدل کېدل او داسې یو حالت ته په هیله و چې بیا په دې هېواد کې د یو ملي فکر د حکومت وزرې خپرې شي او د یو سوله ییز ژوند وړانګې هره خوا رڼا کړي. کال دوه لا وتي نه وو چــې د طالبــانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اسلامي غورځنګ پر کابل سپين بيرغونه ورپول. سهار د وخته، چې لا ډېر خلک د کابل پر فتحې خبر نه وو، زموږ د کور ور يې ټک ټک کړ او په بېړني ډول يې وويل: (( پيرجانه راوځه، طالبانو کابل نيــولای او ســقاوي ختمه شوه)). هغه د يو سپين سباوون په هيله و، خو شاعر لکه چې ازلي بدمرغه وي. ننګيال بيا خپلې دندې ته لاړ، خو دا ځل دا دنده بل ډول وه؛ نوي نظام د ليکوالو د ټولنې پخواني تشکيل ته بدلون ورکړ، خو ننګيــال بيا هم په همدې تشکيل کې پاتې شو. دا تشکيل د دولت لوړ مقام تــه د منظورۍ لپاره ولېږل شو. تر هغه وخته چې  د ننګيال د مقررۍ امر راته، په دې کې يوولس مياشتې تېرې شوې، خو په دې يوولسو مياشــتو کــې ننګيال هره ورځ د پخوا په څېر خپله دنده پرمخ وړله، يو ځل بيا يې شپې په همغه ټولنه کې شوې چې ده ته ترې د وتلو امر شوی و. ننګيال دنــده سرته رسوله خو بې معاشه او بې امتيازه. ګڼ شــمېر ځــوان ليکــوال او شاعران  به ترې راتاو وو، خو يو وخت يې اقتصادي حالت دومره ويجاړ شو چې د چا خبره د پولۍ ټک ته کېناست. څو ځله يې دا خبره زما تر غــوږ تېره کړه: (( ياره پيرجانه د ماشومانو غمه مې که نه وای ما په نهــره هــم شپې سبا کولې، خو له کابله نه وتلم، کابل خو زما د دردونو، غمونو، برياوو او ماتو کور دی، زه دا کله يوازې پرېږدم. خو افسوس چې د ماشومانو غم دی)). بيا به يې يو سوړ اسويلی وکېښ او يوه ترخه موسکا بــه يــې پــر شونډو تېره کړه. نور يې د دندې د ساتلو لپاره پيسې او مالي لګښت نــه درلود، چې دی پرې خپله دنده وساتي. لغمان ته راغی او بيا يې د پېښور مخه ونيوله. په پېښور کې هم تر ډېرو انتظارونو او کړاوونو وروسته ورته د بي بي سي د روزنيزې ډرامې د ليکوال په توګه دنــده وســپارل شــوه. د کلدارې معاش مزه يې لا څکلې نه وه، چې د مرګ پرښتو يې روح پخپلو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزرونو کې د ابدیت پر لوري یوور او بیا د بي بي سي راډیو له لارې داسې یو خبر خپور شو: (( په خواشینی سره مو خبر ترلاسه کړی چې د هېواد نامتو شاعر اسحق ننګیال نن په پېښور کې د ۴۲ کلونو په عمــر د زړه د درېدو له کبله په حق ورسېد)). ددې خبر په اورېدو سره د هېــواد ټولــو فرهنګیانو که په داخل کې وو او که په بهر کې داسې یو دردونکی ټکــان وخوړ، چې د ټولو زړونو ته یــې د غــم لمبــې ورســولې. دا د ننګیــال د سرګردانه ژوند په باب څو یادونې وې چې دلته یې لنډیز راوړل شو. سره له دې چې ننګیال د ژوند په اوږدو کې له ډول ډول کړاوونو سره مخامخ شوی، خو د تېرو شپږو کلونو کړاوونو هغه دومره ځــورولی او ټکلــی دی چې نور په هېڅ وخت کې هغه دومره روحي، رواني، سیاسي، اقتصادي او نور فشارونه نه دي زغملي. د یو لیکوال په اند: (( غوره ادبیات د اختناق په حالت کې رامنځته کېږي)) او شاعر یا لیکوال د اختناق په مقابل کې له ادبیاتو څخه د یو روحي او رواني غبرګون په توګه کار اخلي.

هر څومره چې دا فشار او اختناق پیاوړی وي، عکس العمل یــې هــم هماغسې وي. د ننګیال د تېرو شپږو کلونو شاعري د همــدغو ډول ډول ظلمونو او اختناق زېږنده ده، نو ځکه پکې سوز او درد دده تــر پخوانیــو شعرونو څه زیات دی.

د غم او درد په دې تېرو څو کلونو کې د ننګیال د شعر ښاپېرۍ لا پسې سینګار شوې ده. دده د فکري تګلوري لیکې او ستنې محکمې شوي او شاعر د شعر د پوخوالي، فکري ثبات او د بشپړو انســاني ارزښــتونو پــه پېژندنه او ځلونه کې بریالی شــوی دی. پــه حقیقــت کــې د ننګیــال د وروستیو کلونو شعرونه د هغه د ښکلې او اوچتې شاعرۍ رنګین او مانیز ګلابونه دي. (ښکاري ته) دده یو ښکلی عاطفي او انساني شعر دی چې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۳۶۵ل کال د غبرګولي د میاشتې پر لومړۍ نېټه لیکلی دی. دې شعر نه یوازې په هېوادنۍ کچه زیات منښت پیداکړ او ډېر اغېز یې وشـــینده، بلکې د شمالي کوریا په هېواد کې د ځوانانو د یو نړیوال فیستوال په ترڅ کې چې د افغاني سندرغاړو له خوا د موسیقۍ په څپو کې په سندریزه بڼه ولوستل شو، نو د ټولو اورېدونکو او مینوالو د منښت وړ وګرځېـد او دې شعر هلته لومړی مقام وګټه، خو د ننګیال د شعري بهیر د پرمختګ پــه وجه د مړینې په نږدې وختونو کې هغه دا شعر ((پوره شعر)) نــه ګڼلــه او ویل یې چې د ((شعاریت)) نښې په کې لیدل کېږي. ننګیال د تېرو اوو اتو کلونو په موده کې ښه ډېر شعرونه ولیکل، خو د ځانګړو مجموعــو او یــا مجموعې د چاپ امکانات ورته برابر نــه شــول. لــه دې کبلــه د هغــه د وروستیو کلونو شاعري د شعر د زیاتو مینوالو او لوستونکو له لیده لــرې پاتې شوه. ځکه نو کله چې به کوم لیکــوال او یــا کــره کتــونکي دده د شاعرۍ په باب ناسم نظر ورکاوه، نو دی به ډېر په قهرېده او ویل به یــې: ((دی نو زما له اوسنۍ شاعرۍ څخه څه خبر دی هغه خو ټوله له ما سره په کتابچو کې پرته ده...)).

د ده یوه ستره هیله همدا وه چې د خپلو شعرونو ټولې مجموعې چاپ او په خپلو سترګو ووینې. د ننګیال په ژوند خو د هغه هیله پوره نه شوه، خو دادی د هغه تر مړینې وروسته، په جرمني کې د افغان فرهنګیــانو او فرهنګپالو په مالي مرسته د هغه دا ارمان پوره شو. ما چې کله د هغــه د ناچاپه شعري مجموعو د چاپ پر کار پیل وکړ، نو ننګیال مې یوه شپه په خوب کې ولید، خوله یې له خندا شنه وه او همداسې په خوشالۍ یې راته وویل: ((پیرجانه! زما مجموعې چاپېږي؟آ؟ بېشکه والله...)) ما ورته ویل هو ستا ټول شعرونه چاپېږي. په هغه شپه له خوبه راویښ شوم، تــر ســهاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوب رانغی، لاټین مې ولګاوه او د ننګیال په چورت کې لاړم- یو ځل مې د هغه ټولې خاطرې تر نظر تېرې شوې.

کله چې مې د هغه د شعرونو توري لوستل، نو په هر توري، هر شعر او د شعر په هره پاڼه کې راته د ننګیال تصویر تر سترګو سترګو کېده. زه ددې شعرونو تر پایه په دې پوه نه شوم، چې زه په کوم حالت کې یم، لکــه یــو څوک چې په خلا کې روان وي.

د ننګیال د وروستیو کلونو، فکري او عاطفي شخصیت کټ مټ د هغه د اوسنیو شعرونو له مانیزې او عاطفي خوا سره منطبق و. هره پاڼه کــې ننګیال و، په هر توري کې ننګیال و، دا هغه ننګیال نــه و چــې د خپلــې شاعرۍ په پیل کې او یا تر هغه وروسته د څو کلونو په شاعرۍ کې ځلېده. دلته یو بېل ننګیال و. هغه د خپلې مینې او عاطفي پر سپین آس سور او د ښاپېریو ښار ته روان و او لکه له هغه ځایه یې د خپل ستي او ټپي ولس د درملونې لپاره د ښکلاوو ټکورونه راوړل. ما هره شېبه له ننګیال ســره خبرې کولې او دومره خبرې چې د هغه په ژوند به مې ورسره نه وي کړې او کېدی شي لوستونکي هم زما پر برخلیک اخته شي.

خو ددې سوچونو او فکرونو په منځ کې خوشاله په دې وم، چې د هغه د ټولو ناچاپه شعرونو غټ جونګ چاپېږي. کله چې دا مجموعه چاپ شوه، نو زه به یې د الینګار د ښکلې شاعرانه درې د بسرام په کلي کې د ننګیال پر قبر کېدم او مبارکي به ورته ورکړم. د هغه روح به څومره خوشاله شي او هغه ارمان چې دده پر ژوند پوره نه شو، وروسته تر مرګه به پوره شي. په همدې هیله مې د هغه شعري مجموعې چې په کور کې وې ترلاسه کړې. هغه یوه شعري مجموعه چې کاپي یې ده سره په کور کې وه انځور صاحب ته هم لېږلې وه، هغه هم ترلاسه شوه. دا شعرونه چې ما وکتل زما په نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کم ښکاره شول ځکه ننګیال چې به کوم شعر ولیکه نو د نورو شاعرانو په شان به یې خپلو ملګرو ته ضرور اوراوه.

حفیظ الله ګردش، صدیق الله بدر، نورمحمد لاهو او عبدالغفور لېوال ته مو د ننګیال صاحب د هغو شعرونو په باب چې په دې مجموعو کې نه وو او په ځینو اخبارونو کې په متفرقه ډول چاپ شوي وو، وویل مونږ ټولو په اخبارونو او نورو خپرونو کې د ننګیال صاحب هغه شعرونه پیدا کړل چې په تیت و پرک ډول چاپ شوي وو او په دې مجموعو کې نه وو راغلي، بیا هم ماته د خپل اټکل له مخې دا شعرونه پوره نه برېښېدل. د کتاب د تورو لوستل بشپړېدو ته نږدې شوي وو، چې یوځل بیا په لغمان کې د ننګیال صاحب کور ته لاړم. د هغه مشر زوی (ارش) ته مې د ننګیال صاحب د یو داسې عکس یادونه وکړه، چې تراوسه په خپرونو کې چاپ شوی نه وي او هم مې ورته وویل چې د ننګیال صاحب کتابونه او پاڼې یو ځل بیا وګوري، ګوندې څه شعرونه یې ترلاسه شي. هغه ماته وویل: (( مونږ څو ځله د خپل پلار کتابونه او یادښتونه واړول راواړول، څه چې وو هغه مو تاسو ته درکړل خو مونږ به یوځل بیا هم ټول کور وګورو)). په پېښور کې د مجموعې کار د بشپړېدو په وروستیو شېبو کې و، چې د ننګیال صاحب زوی (ارش) پــه ډېرې بیړې له لغمان نه ځان راورساوه او د ننګیال د شــعرونو یــوه بلــه کتابچه یې هم راوړه. ما چې د ننګیال صاحب دا شعرونه وکتــل، دومــره خوشاله شوم چې د ټولو ستړیاوو بار مې یو ځل له اوږو لرې شو. بیا مې دا ټولې کتابچې له اخبارونو او خپرونو او په متفرقه ډول راټول شوي شعرونه سره پرتله کړې، تکراري شعرونه مې ترې لرې کړل، دغه راز مې دده لــه دوو چاپ شویو شعري مجموعو (هغه شــېبې هغــه کلونــه او څــاڅکي څاڅکي) څخه یو شمېر شعرونه ورسره یوځای کړل. اوس تر زیاته بریده

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پر دې باوري یم چې د ننګیال نور شعرونه به نه وي پاتې. ده له خپل ناوړلي (نامنظم) ژوند دود سره سره د خپلو شعرونو د ثبت انتظام ته ډېره پاملرنه کړې وه. له دې څخه دا څرګندېږي چې ننګیال تر خپل ځاني ژونده هم له شعر سره ډېره مینه درلوده، ځکه چې هغه د خپل ژوند د ښېرازۍ مېړنی نه و، خو د ښکلې شعري شتمنۍ څښتن و. ده انځور صاحب ته د یو لیک په ترځ کې لیکلي وو: (( څو شعرونه مې له ((سپنتا)) سپین ږیري سره پاتې شول او له ماسره یې اوس کوم نقل نه شته، هغه غوښتل څه پرې ولیکي خو حالاتو وخت ورنه کړ، که چېرې مې بیا وموندل نو در وبه یې لېږم)). له ((سپین ږیري)) څخه یې مقصد (ښاغلی سلیمان لایق) دی چې ننګیال ورسره د شاعرۍ ښه ملګرتیا لرله. دا چې دا شعرونه به پیاوړي شاعر سلیمان لایق سره وي او که نه؟ زه خبر نه یم. د ننګیال صاحب د شعرونو د کتابچو او د شعرونو د نېټه لیک له تسلسل نه داسې ښکاري چې د ننګیال صاحب نور شعرونه به نه وي پاتې. دا لیک هغه انځور صاحب ته له کابل نه د ۱۳۷۱ل کال د زمري پر ۱۲ نېټه لیکلی و. تر هغه وروسته د څو کلونو په ترځ کې هغه خپل شعرونه له سره په نویو کتابچو کې لیکلي وو او د هغو شعرونو بل نقل هم ورسره موجود و، چې انځور صاحب ته یې لېږلي وو، نو کله چې انځور صاحب ته د لېږلو شعرونو نقل وروسته ترتیب شوی نو دغه راز به ښاغلي سلیمان لایق ته ورکړل شوي شعرونه هم بیا له سره په کتابچو کې لیکل شوي وي. بیا هم که ښاغلي لایق سره دا شعرونه موجود وي او هغه ددې مجموعې له شعرونو سره پرتله کړي او کوم چې په دې مجموعه کې راغلي نه وي، ترچاپ وروسته د هغو د خوندي کولو هڅه وشي، نو دا به پښتو ادب ته یو ډېر ګټور کار وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ننګیال دا مجموعه (سیندونه هم مري) د هغه د (ښېرې په مالت کې، نه جام نه څادر، دا جل دا برسات، سیندونه هم مـري، ځینـې متفرقـه شعرونو او د چاپ شویو دوو مجموعو هغه شېبې هغه کلونه او څـاڅکي څاڅکي) له څو شعرونو څخه جوړه ده. ددې مجموعې چاپ د پښتو شعر په ځانګړي ډول ازاد شعر په برخه کې یوه ډېره پـه زړه پـورې، درنـه او ارزښتمنه ډالۍ ده. خو له دې درنې ډالۍ سره سره به مو دا ارمان تل پـه زړه کې پاتې وي چې: ((کاشکې ننګیال ژوندی وای چـې داسـې نـورې ښکلې او ارزښتمنې ډالۍ یې خپلې ژبې ته وړاندې کړی وای)). ننګیال ته دعاګانې.**

**په مینه او درناوي**
**محمد اسمعیل یون**
**۱۳۷۷ل کال- لیندۍ**
**پېښور- پښتونخوا**


(c) ketabton.com: The Digital Library



# له ((ځیرې ګرېوانه)) تر ((کوثر جامه)) د اوښکو او اسوېلیو مزل

تــــل مــــې لــــه ځانــــه دا پوښــــتنه کــــوم
طــــــواف بــــه کــــله لــــه وطــــنه کــــوم
زمــــــا کــعبــــه زمــــا جنــــت وطــــــن دی
لــمــونــځ بــــه یــــې کــــله پــــه لمنــــه کــــوم.

کله چې پر افغانستان دا تېر شلکلن ناورین خور شو او بیا یې بېل




بېل بشپړتیایي پړاوونه ووهل، نو په هر پړاو کې د هېواد زیاته علمي پانګه تباه شوه، د ((مغزونو فرار)) پیل او د وخت په تېرېدو سره په هېواد کې یو فرهنګي تشیال (خلا) رامنځته شو. شاعران او لیکوال چې د ټولنې ذهني مخکښان دي، هېواد پرې سور تنور شو، زیات شمېر یې نورو هېوادونو ته مهاجر شول.

جرمني هم یو له هغو هېوادونو څخه دی، چې ګڼ شمېر افغان لیکوالو او شاعرانو ته یې پناه ورکړې ده. داسې اټکل کېده چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان لیکوال به هم د وخت په تېرېدو سره د همغو ټولنو پــه ژونــد لوښي کې حل شي او خپل رنګ او اند به بایلي.

خو شاعران او لیکوال د غم پر ورځ پیدا وي، خدای پاک که له یوې خوا د ژوند د سختو ازمېښتونو په بټیو کې ازمویلي وي، نو له بلــې خوا یې پرې د مینې او عاطفې خوږ او نرم باران ورولی وي، زړونو کې یې د مینې خزانه او یوه بهانده چینه وي چې هېڅ وچېدا نه لري. بل ستر نعمت دا دی چې خدای(ج) شاعر د خپل ټاټوبي، ولس او هېواد له مینې سره داسې روږدی کړی وي، چې هر مهال او هر ځای کــې چې اوسي، د خپلې مینې لمنه یې نیولې وي. ځکه نو افغان لیکوال او شاعران که پردي وطن ته هم لاړل، خو پردي نه شول.

دوی اوس هم د ګلو په بستر کې پر لمبو ژوند تېروي، جسم یــې هلتــه خــو انــد او روح یــې دلتــه دی. اوس پــر هــره میاشــت د لویدیځمېشتو افغان لیکوالو، شاعرانو او فرهنګپالو له خوا په بېلابېلو برخو کې دومره علمي، ادبي او تاریخي کتابونه چاپېږي، چې په هېواد کې تر حکومتي سطحې څو ځله زیات دي. یوازې همدا جرمني به د بېلګې په توګه راوړو.

اوس په جرمني کې ګڼ شمېر افغان لیکوال او فرهنګپال د افغاني فرهنګ د خدمت لپاره هلې ځلې کوي. په جرمني کې (( د پښــتني فرهنګ د ودې او پراختیا)) ټولنه چې ښاغلی خلیل الرحمن رسولي، جمال الرحمن او ډاکټر خوشال روهي یې مخکښ هڅندویان دي، نور ګڼ شمېر لیکوال او فرهنګیان یې سره راټول کړي، ځینې مهم آثار یې چاپ کړي او چاپوي یې. (( د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه)) چې د هېواد تکړه لیکوال زرین انځور یې مشر دی- د شېرولي شېر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد محب، شېرین ګردیوال او نورو ګڼ شمېر لیکوالو هڅې یې سره یوځای کړي. مهم آثار یې چاپ کړي او چاپوي یــې. د ډاکتــر یحــی وردګ په مشرۍ (( د افغانستان معلوماتي مرکز)) د افغانستان په اړه افغانانو او نورو ته په زړه پورې معلوماتي آثار وړاندې کوي. ښــاغلی امام الدین ساپی په پېښور کې (( د پښتو څېړنو مرکز)) پرانیستی او هېواد ته د سترو فرهنګي خدمتونو جوګه دی. ښاغلی کبیر ستوري د خپلو سیاسي هڅو ترڅنګ یو لړ فرهنګي خدمتونه هم تــر ســره کړي او تر سره کوي یې. عبدالقادر ودان د کمپیوټري خدمتونو لــه لارې د هېواد ملي ژبه له تخنیک او علمي چارو سره غاړه غړۍ کړې. محمداجان یار، مبارز څاپي او ځینو نورو لیکوالو د خپلــو او نــورو شعري مجموعو د چاپ له کبله خپله فرهنګي مینه په زبات رسولې. ښاغلی محمد اعظم عبیدي د ((اسمایي)) په شان د یــوې ښــکلې مجلې د چاپ له کبله خپله هېوادنۍ او فرهنګي مینه په ډاګه کړې. ښاغلي رمضان، اجمل روهي او نورو افغان ځوانانو په خپلو منډو ترړو له هېواد سره خپله مینه زبات کړې او داسې نورې ډېرې بېلګې چې دلته یې د ټولو راوړل د دې لیکنې اړتیا نه بولو.

ښاغلی عبدالوهاب سرتېر هم د دغه مهاجر فرهنګي بهیر یو بلبل دی. سرتېر په دې موده کې ګڼ شمېر شعرونه لیکلــي، چــې زیــات شمېر یې تر هېواده بهر په افغاني خپرونــو کــې خپــاره شــوي دي. ((څیرې ګرېوان)) د هغه د شعرونو لومړۍ ټولګه ده چې د همدې کال په پیل کې په پېښور کې چاپ شوه او دا دی د همدې کال په پای کې (( د کوثر جام)) په نوم د هغه د شعرونو دویمه ټولګه چاپېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سرتېر یو رند، بې پروا، سرزوری او مستانه شاعر دی، هغه تــل د حالاتو پر وړاندې ودرېدلی او په خپل کلام کې یې هغه څه انځور کړي چې ده لیدلي، حس کړي او درک کړي دي، د وخت واکمــن ده تــه ګواښېدلي او دی د شعر په وسله سمبال هغو ته. ده له هرې شپې او هرې تیارې سره دغره وهلې او دا یې له خپلې مینې سره لوړه کړې ده:**

**زما دغرې چې له شپې سره دي وجه داده**
**میـــــنې زما را اچولی دی قسم غاړه کې.**

**سرتېر په رښتیا هم یو سرتېری انسان دی، هغه د ژوند زیاته موده له حالاتو سره مخالف پاتې شوی، هر وخت یې د یو مست لېوني په شان د زمانې ګرېوان نیولی او د نورو خلکو په څېر دومره هوښیار نه دی، چې پر هر وخت له وختونو سره غاړه غړۍ شي. هغه څوک چې سرتېر له نږدې نه پېژني، هغه ته څرګنده ده، چې دی یو سرغندوی انسان دی؛ د تنګو او سختو شرایطو پر وړاندې د بغاوت جذبــه یــې دېره پیاوړې ده. له همدې کبله خو بېلابېلو رنګونو بدل نه کړ او د هر زورواک او بې باک پر وړاندې د خپل مسوولیت تر بریده ودرېد. ده په هېوادنۍ کچه د وخت هر ګوډاګی د خپل قلم په تېره ژبه وغنده او د هغه د منفي شخصیت څرنګوالی یې خلکو ته څرګند کړ؛ لــه تېــرو ګوډاګیو رانیولې تر دې دمه پورې:**

**یــــو د اخونـــــد بــــل د چــــودري ګـــــوډاګی**
**کـــه داســـې ونـــه کــړي خـــو مـــري ګـــوډاګی**
**ربـــــه پنـــــاه ورکـــــړه ملــــت تــــه زمــــوږ**
**مـــــرض نیــــولی دی ســـــاري ګـــــوډاګی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



قـــــانون او ســـــوله پـــــه توپونـــــو ولـــــي
غـــــواړي لـــــه زړه نـــــا کـــــراري گـــــوډاگی
خالقـــــه خدایـــــه تـــــه خـــــو وینـــــې دا ټـــــول
زمـــــوږ خـــــو ســـــترگې نـــــه لـــــري گـــــوډاگی
د ځـــــان او خپـــــل بـــــادار پـــــه گټـــــه بـــــولي
دا گـــــډوډي او خودســـــري گـــــوډاگی...

عبدالوهاب سرتېر د جگړې زیاته موده په خپل هېواد کې پـاتې شوی، د کرکې، کینې، اور، وینو او ټولو ناخوالو ټپونه یې هم لیدلي او هم حس کړي، نو ځکه خو د جگړې د اورنیو شېبو د پای ته رسېدو هیله من دی. هغه مینه او عاطفه د انسان د ذهني ستړیا د له منځه وړو یوه اساسي وسیله او دمه ځای گڼي. د مینې غېږه داسې یو لامل گڼي، چې په هغه سره د بشر د ژوند دوا تضمینېږي، ډېـرې روانــې غوټې پرې اوارېږي او بیا په دې مینه کې ژوند کول او پر هغې کړېدل یو خوند او لذت گڼي:

ســـــاقي جـــــام را جـــــام د مینـــــې
کـــــره نظـــــر او پـــــام د مینـــــې
چـــــې ترلـــــی پـــــورې ژونـــــد دی
دی لازم دوام د مینـــــــــــــــــــې
ســـــاقي بیـــــا ســـــرتېر اخیســـــتی
نـــــن لـــــه تـــــا الهـــــام د مینـــــې...

×××

(c) ketabton.com: The Digital Library



یمــــه لېــــوال مصـــیرانه د مینـــــې
زړه چـــې زمـــا دی خزانـــه د مینـــې
لـــه محتســــبه ګیلـــه نـــه ده پکـــار
چـــې شـــوه دښـــمنه زمانـــه د مینـــې
کړاو په مینه کې پــه خپلــه کیــف دی
پــه اور چــې ســوزي پروانــه د مینــې
په چا به ښــه پــه چــا بــه بــده لګــي
خـــو ماســـُر کـــړې ترانـــه د مینـــې
له مــا ســرتېر ســره یــو زړه دی مــنم
چـــې لـــه پخـــوا دی نذارنـــه د مینـــې.

سرتېر پر ۱۹۹۳م کال د هېواد له غېږې لرې؛ جرمني ته مساپر شو، دغه پردیس ژوند له هېواد او خپلو خلکو سره د هغه د مینې سوز او ولوله لا پسې زیات کړل. ده په همدې څو کلونو کــې زیــات شــمېر شعرونه او نظمونه ولیکل، چې زیاته برخه یې د هېواد او ولس مینې او درد نیولې ده. په دې ټولګه (د کوثر جام) کې داســې شــعرونه او نظمونه راغلي چې له خپل ولس او هېواد سره د شاعر رښتینې، بې تکلفه سپېڅلې او رښه مینه په ډاګه څرګندوي. هغه هېڅ شي هــم، دومره ځورولی نه دی لکه له خپل هېواد څخه لرېوالي. کله کله ځینو ته داسې فکر پیدا کېږي (( چې څه دوی خو ښه دي، ځانونه یې د اور او وینو له څپو څخه ایستلي او د ګلونو دیار ته یې پناه ور وړې ده))، خو په حقیقت کې ډېر کم خلک پوهېږي، چې شاعر او لیکوال دننه پر زړه داغلی وي؛ که په ظاهره هر څومره روغ رمټ ښکاري، خو زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او روح يې تکلی وي. سرتېر هم له همدغو پر زړه داغلو شاعرانو څخه دی، چې يوه شېبه يې هم خپل هېواد له ياده وتلی نه دی. هغه وايي: ما چې په المان کې څه گټلي هغه يوازې همدا يو څو شعرونه دي او بس:

دا يو څو ساده شعرونه يې حاصل دي
ما سرتېر چې په المان کې گټه کړې

هغه پر اروپا مين نه دی، خو مجبوريت او قسمت پسې اخيستی، دی د خپل وطن اغزي د نورو په گلانو نه بدلوي:

ســـــرتېـــــر مــــــين په اروپا نه يمه
څو ورځې ژوند مې په قسمت دلته دی
×××
خلکو زما يې له المان سره څه
سرتېر وطن لرم افغان يم ځمه
×××
زما د خپل وطن اغزي ښکلي دي
د جرمني او د فرنگ له گـــــــلو
×××
وطنه ډېر هره خوا وگرځېدم
بله خوږه نه وه له تا نه غېږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې درد سره کله کله بیا یو بل داسې درد هم مل شي، چې په زوره دې یو څوک مجبوروي، چې ولولې دې راوپارېږي او غبرگــون وښيي، دا درد د ملي ژبې او هېواد گډ درد دی:

مخاطـب چـې پـــه پښـتو ژبــــه غلــیم کـــړم
اوربېـــــدو د خـــــپلې ژبــــې مــې حلــیم کـــړم
خـــــپل وطــن زمــا د میــــنې مــــــدرسه ده
زه ســــــرتېر پــــــکې ســبق وایــم تعلــیم کـــړم.

((د کوثر جام)) شعري ټولگه کې داسې نــور ښــکلي غزلونــه او نظمونه شته چې لوستونکي به یې په خوند ولولي. شاعر د خپل اند مرغلره د تخیل په وزرونو وړې، ((د کوثر په جام)) کې یې غوټه کړې، پرېوللې یې ده او بیا یې د الفاظو جامه ور اغوستې، ده هغه څه په دې جام کې میندلي، لیدلي او نور یې لا هم په لټه کې دی، چې ده ته د یوې ښکلې محبوبې حیثیت لري او نور څوک پرې نه پوهېږي.

خلـــک پـــه دې حقـــــیقت پـــوه نـــه دي لا
کــــوم چــــې لـــــټه د دلـــبر پــه جــام کــې
د لـــــوړو څـــــوکو او اســــمان پــــه لــوري
کــــومـــه الــــوزم ســــفر پــــه جــــام کــــې

نــــړۍ او ژونــــد چــــې دواړه ښــــکلي گــــوري
ســـرتېر لمبلــــي د کــــوثر پــــه جــــام کــــې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې دمخه مو وویل، سرتېر داسې یو انسان دی چې د حالاتو او واکمنو هېڅ ډول پروا یې نه ده کړې، د بغاوت او بې پروایۍ یو ځانګړی ژوند لوښی او ژوند دود لري او د اوډلي (منظم) ژوند ډېر جوګه نه دی، همداسې یې په شاعرۍ کې هم د ځینو کره کتونکو د شعري حدودو او پولو پروا ساتلې نه ده. هغه له ۳۶ کلونو راهیســې شعرونه لیکي او د دې مودې په شاعرۍ کې هم د خپل زړه پــر لاره تللی دی. زه چې دا لیکنه کوم، نو ټول عمر مې ۳۱ کلونو ته رسېږي، یانې د سرتېر شاعري زما له عمر څخه ۵ کاله مشره ده. زه نه غواړم د هغه د شاعرۍ د جولیز اړخ څه شننه وکړم او یا هم پرې نیوکه! خو دومره وایم کېدی شي لکه څنګه چې په سیاسي او ټولنیزه برخه کې د سرتېر، حالاتو او د وخت د واکمنو ترمنځ د نظر اختلاف و، دغسې دده د شعرونو پر جولیز اړخ د ځینو کره کتونکو له خوا نیوکې وشي. خو څنګه چې سرتېر په خپله یو بې تکلفه انسان دی او له هر ډول تصنع او ځان ښودنې څخه لرې دی، همداسې یې شعرونه او نظمونه هم بې تکلفه دي.

د ده کلام ساده، روان او ټولو ته د پوهېدو وړ دی، هر څوک یې په لومړي ځل لوستلو او اورېدلو پر مانا پوهېږي، په ځانګړي ډول هغه وخت چې سرتېر صاحب یې په خپله اوروي. د ده د کلام مانا په آني ډول د لوستونکي ذهن ته پرېوزي او ژر ترې خوند اخیستلای شي.

ځینې شعر پوهان فکر کوي، هغه شعرونه چې مانیز بار یې دروند او یا څرګند وي، هغې ونې ته ورته دي چې ژر رسېږي، ژر مېوه کوي، خو ژر بېرته له منځه ځي. مانا دا چې ونه دومره مېوه نیسي، چې یا د هغې شاخونه ماتوي او یا یې ژر زړوي، خو هغه شعرونه چې د مانا له

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزن سره يې د لباس یانې الفاظو ظرفیت، ښکلا او قوت برابر وي هغه ونې ته ورته دي چې د خپل ځواک په اندازه مېوه نیسي او ډېر عمر کوي. هر کله چې پر الفاظو باندې مانیز بار زیات شي، نو د مانا هغه برخه چې باید پټه او په پرده کې وساتل شي، د الفاظو د لباس له یوې څنډې څخه ځان ځرګندوي، همدغه ځای کې تر ((شعریته)) د ((شعاریت)) تله درنېږي.

د سرتېر صاحب په یو شمېر غزلونو کې د شعر شعریت ته ښه پاملرنه شوې، د شعر د هنري اړخ او مانا تول یې برابر دی لکه دا غزل:

تورې مې لړې د خپګان ګرځي په غرونو د زړه
لکه باران مې را اورېږي په داغونو د زړه
د مایوسۍ د ماتو اوښکو له کاروانه سره
اوړي مې خاورې په ناکامو ارمانونو د زړه
یو څو بې وسه اسوېلي به مې خواخوږي کړي خپل
که مې خبر چېرته یاران شول په رازونو د زړه...

خو په ځینو نورو نظمونو کې بیا د مانا بار یو څه دروند شوی دی، خبره نېغ په نېغه او ډانګ پېیلي ډول بیان شوې ده. زه خپلې خبرې نور نه اوږدوم او د سرتېر صاحب د ((وړانګې)) په نوم د یو غزل په څو بیتونو خپلې خبرې پای ته رسوم.

د لمر له سترګو راورېږي وړانګې
د شپې رګو کې چې بهېږي وړانګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکـــه چــې پـــای د انتظـــار وي زمـــوږ
لمـــر غزونـــې کـــړي ویښـــېږي وړانګـــې
پـــه مـــوږ کـــې ګـــوري تلوســـه د مینـــې
چـــې مـــو څېـــرو تـــه هوســـېږي وړانګـــې
زمـــا ســـرتېر تـــورتم لوټلـــو خلکـــو
پـــه تاســـو ټولـــو مـــې لـــورېږي وړانګـــې...

دا هم درانه لوستونکي او دا هم د کوثر جام.

په مینه او درناوي

محمد اسمعیل یون

۲۰-۱۱-۱۳۷۷


پېښور- پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د واقعیتونو یوه هنداره

دا خبره رښتیا ده چې تر جګړې وروسته له جنایاتو نــه پــرده پورتــه کېږي، په افغانستان کې د شوروي د ټولو ځواکونو د لوی پوځي سلاکار ستر جنرال الکساندر مایوروف دا اثر ( په افغانستان کې رښتیا څه تېرېدل؟) هم د افغــان او روس د جګـــړې د واقعیتونـــو، رښتیاوو، دردوونکو او زړه بوګنوونکو پېښو یوه هنداره ده.




په دې اثر کې دا خبره څرګندېږي، چې څنګه یوه لوی لښـــکر په ډېر غرور، تکبر او ښکېلاکګر اند سره زمــوږ پــر هېــواد یرغل وکړ او بیا دومره نتلی، کمــزوری او ذلیل شو، چې د خپل ځان د راټولولو وس یې هم پیدا نه کړ. مـــایوروف د ځینو نورو روسي لیکوالو خلاف په دې اثر کې پر افغانستان، د شـــوروي یرغل له بنستیزو موخو پرده پورته کوي او هم د هغو روس پلوه افغـــان چارواکو او سیاسي شخصیتونو څېرې بربنډوي چې له شورویانو سره یو ځای یې د خپل هېواد په ورانۍ، ویجـاړۍ او عامــه وژنــه کــې برخــه اخیستې ده.

شوروي ځواکونو څه غوښتل؟ د څه لپاره راغلل؟ څه یې وکړل؟ او څه پرې وشول؟ دې ټولو پوښتنو ته په دې کتاب کې ځواب ویل شـــوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال اعتراف کوي، چې د شوروي یرغل موخه دا وه چې افغانستان د شوروي اتحاد شپاړلسم جمهوریت کړي او روسان د هند سمندر گرمو اوبو ته ځان ورورسوي، خو د افغانانو سپېڅلي جهاد او ملي مبارزې دا هر څه په سیند لاهو کړل. لیکوال د جگړې پایله داسې ارزوي: (( د افغانستان جگړه د شوروي اتحاد له خوا ترسره شوې وروستۍ جگړه ده. دا له هغو وروستیو ځان وژونکو ماینو څخه یوه را وختله چې یو لوی دولت پرې والوت او دړې وړې شو...))

په ټولیز ډول دا کتاب د شوروي یرغل او دهغه پر وړاندې د افغانانو د مبارزې د څرنگوالي او څومره والي په باب د لومړي لاس اسنادو یوه غوره سرچینه گڼل کېدی شي.

ژباړن ته یې د نورو زیاتو بریو هیله کوو.

په فرهرهنگي مینه

محمد اسمعیل یون


۱۳۷۸ل کال پېښور، پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لویدیځمېشتي فرهنګي بهیر یو ((یار))

د هېواد احصایې د مرکزي ادارې د یوې شمېرنې له مخې په تېرو دوو لسیزو کې د افغانستان په دولتي ادارو کې تر (۵۰) زرو تنو څخه زیــاتو هغو کسانو کار کړی چې تــر څوارلســـم ټولګي څخه یې لوړې زده کړې ترســـره کړې وې. خو د همــدې دوو لســیزو پــه بهیر کې د ډول ډول سیاسي سیلابونو او رنګارنګ غمیزو له امله تر هېواد دننــه کدریزه اډانه دړې وړې او وپاشل شوه.




د بېلابېلو فني، پوهنیزو او فرهنګـــي څانګو کدرونه، کارپوهان او متخصصین هېواد پرېښـــودلو تـــه اړ او پـــه بېلابېلـــو هېوادونو کې مېشته شول. داسې انګېرل کېدله او اټکېدله چې دا ټول کدرونه او د هغوی بل پښت به د همغو اســـتوګنو ټولنـــو پـــه انـــدود او ژوندود کې رنګ شي، خپله ملي او هېوادنۍ ځانګړنه به وبایلي، د بـــې هویتۍ په دریاب کې به ډوب شي او بیا به خپل هېواد ته مخ هم راونه ګرځوي. د دې ډول بهر مېشتو افغانانو دویم او په تېره بیا درېیم پښت په باب دا پورتنۍ اندېښنه او انګېرنه کېدی شي، عملي شـــي، خـــو د اوسني پښت په باب دا اټکل او انګېرنه درست ونه ختل. اکثره افغانان په تېره بیا لیکوال، فرهنګیان، فرهنګپال او په یوه نومونه د پـــوهې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



قلم خاوندان له یوې لړې دمې او ساه ایستو وروسته یو ځل بیا د خپل هېواد په مینه رامات شول. سره له دې چې دوی له فزیکي پلوه له خپل هېواده لرې دي، خو له اروایي او ذهني پلوه یې ځان له خپل هېــواد او خلکو څخه لرې کړی نه دی. تر یوې ټاکلې وقفې (ځنډ) وروسته دوی یو ځل بیا مینه، تخیل، ولوله او ملي اند سره یوځای کړل او د فرهنګي مبارزې ډګر یې تود کړ. اوس به هېڅ داسې اوونۍ او ان ورځ نه وي چې د هېواد په ملي ژبه یوه خپرونه یا کتاب چاپ نه شي. نننــی فرهنګــي بهیر په تېره بیا خپرنی برخه چې په کوم ګړندي ډول روان دي، دا زموږ په تېر فرهنګي او خپرنیز تاریخ کې ساری نه لري.

ښاغلی محمداجان ((یار)) هم د همدغه بهر مېشــتي فرهنګــي او خپرنیز بهیر یو هڅاند غړی او یار دی چې تراوسه یې په خپــل مــټ د خپل اند و اند (فکر او خیال) درې ثمرې ( کوکارې) شعري ټولګه، ( سره ډولی) د لنډو کیسو مجموعه او ( د کونړ تــاترې) څېړنیــز اثــر زمــوږ رنځېدلې افغاني ټولنې ته ډالۍ کړي او دا دی (ویر) یې د شعرونو دویمه ټولګه ده چې د ادب مینوالو ته یې وړاندې کوي. دا چې د (یار) برخلیک له (کوکارو) او (ویر) سره تړلی دا څه ناڅاپي خبره نــه ده، بلکــې دا د هغې شلکلنې غمیزې زېږنده او پایله ده چې زموږ ټوله ټولنه کړوي، پر اور یې اړوي را اړوي او دادی اوس یې لا عمر درېیمې لسیزې تــه هــم اوړدېږي.

شاعر د ټولنې د یو ذهني ساتندوی او پالندوی په توګه کله چــې د خپلې ټولنې جنازه په خپلو سترګوویني او مړی یې دده پر وړانــدې پروت وي، نو پرته له چغو، کوکارو او ویرونو نور څه کولای شي؟ خپلــه خو شاعر له ویر، فریاد او چغو پرته څه نه شي کولای، خو دده چغــې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فریادونه او کوکارې بیا کرار کرار مړو ارواوو او ویدو ذهنونــو تــه ســاه ورکوي او له خوبه یې راویښوي.**

**د همدغې تودوخې په پایله کې د ټولنې غړي خوځون ته چمتو کېږي بیا ټولنه حرکت کوي او خپل ژوند خوندي کوي. یار صاحب هم د خپلې ټولنې د هغه سوي لوي بلبل په شان دی چې بڼ او چمن یې چــا تــرې تروړلای، مروړلای او سپړلای دی او دی یې ترې فراري کړی دی. سره له دې چې دی د هرو ښو چمنونو او ښونو ته تللی، خو پردیو ګلونو ته یــې تپې نه راځي، ځکه چې د ده د روحي او جسمي ژونــد تــرمنځ واټــن رامنځته شوی دی. د هغه په روح کې خپل طبیعت او طبیعــي منظــرو داسې غزونې کړي چې د چا مصنوعي ښکلا او لاس جوړي چمنونه یې ذهن نه شي خړوبولای. څوک چې د یار صاحب دا شعري ټولګه ولولي نو له یو داسې کونړي پښتون افغان سره به مخامخ شي، چې اوس هم د کونړ په (وټه پور) کې مېشته دی او د کونړ په غرو رغونو کــې ګرځــي راګرځي.**

**ده په خپل کلام کې له هېڅ ډول تکلف او تصنع څخه کــار نــه دی اخیستی، بلکې څه یې چې زړه غوښتي هغه یې په ســاده او صــمیمي ډول مطرح کړي دي. صمیمیت او ساده ګي د کلام د ښکلا یوه برخه ده، که په ظرافت سره وپېیل شي نو کلام به ډېر ښکلی کړي.**

**یار صاحب د یو رښتیني انسان په توګه ځان د تکلف او تصــنع پــه زولنو نه دی تړلی، بلکې خپله خبره او موخه یې نېغه بیــان کــړې ده. ساده بیان سره له دې چې د یو شمېر کره کتونکو نه خوښېږي، هغوی یې د کلام هنري جوهر ته زیان رسوونکی بولي او وایي چــې د هنــري کلام عمر را لنډوي، خو د ساده کلام ګټه داده چې د عــام و خــاص د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهې وړ وي، په سملاسي ډول د لوستونکي او اورېدونکي مانیزه او ښکلاییزه تنده خړوبوي او هغوی یې د مانیزې مرغلرې د پیدا کولو لپاره فکري هڅې او پلټنې ته نه اړ وزي، د یار صاحب کلام په ساده رنګ کې یو ښکلی ارمان رانغښتی، د ده د کلام مرکزي ټکی هېواد پالنه، ملت پالنه او له هغو سره مینه ده. که ده ژړلي نو هم د همدغه ارمان لپاره یې ژړلي او که کله خندېدلی هم دی، نو هم د همدغې هیلې ځلا خندولی دی. هغه څوک چې د یار صاحب له دې ملي او هېوادني ارمان سره ګډ درد ولري، نو هغه دده له کلام څخه ډېر خوند اخیستلای شي.

سندرې په ژړا شوې چې سازونه لېوني شول
مطرب شو لاس تر زنې چې تارونه لېوني شول
دا ډېره موده چوپ دي په دې کلي کې سازونه
ټپې شولې سرسامې مجلسونه لېوني شول
کرېږې ورېږې ځوانۍ تر خاورو لاندې شولې غلې
خالونه ځوانیمرګ شول وربلونه لېوني شول...

یار صاحب د هغې اوږدې غمیزې انځور باسي، چې زموږ ټول ولس یې نهیلی کړی، خو چاته یې لا تراوسه د خلاصون څرک نه لګي.

د زلفو تورې شپې اخیستی یم سبا نه راځي
توره تیاره ده پر وطن باندې رڼا نه راځي
لارې سرې شوې دي چلېږي پرې تل سرې جنازې
ساندو وچ کړي ستوني، هېچاته خندا نه راځي
وینو کې وزېږېده لوی شو او تباه شو نسل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رحـــم پـــر دې غریـــب ولـــس بانـــدې د چـــا نـــه راځـــي**
**وطن تالا شو خیـــر کـــړي (یـــاره) نـــور بـــه کېـــږي لا څـــه**
**پـــر ســـیند لاهـــو شـــولو عـــزت چاتـــه حیـــا نـــه راځـــي.**

**کله چې پر شاعر د ژوند د ارمانونو د پوره کولو ټولې لارې بندې شي، نو یوازینۍ لاره چې پاتې کېږي، هغه الهي ځواک تـه پنـاه وروړل دي. شاعر هم خپل وروستی دمه ځای او تمځای همدغه الهي دربار ګڼلی او د خپل هېواد د ښېرازۍ، ښکلا او سوکالۍ هیله ورڅخه لري:**

**ای د ټولـــو ربـــه دا وطـــن راتـــه بیـــا ښـــکلی کـــړه**
**لمـــر د نـــوي ژونـــد زمـــوږ اســـمان کـــې راختلـــی کـــړه**
**لږه شـــان موســـکا خـــو هـــم زمـــوږ پـــر شـــونډو راولـــه**
**هغـــه د پښـــتون شـــان او شـــوکت راتـــه ښـــاغلی کـــړه**
**یو ځـــل خـــو زمـــوږه دغـــه ســـتر ارمـــان ترســـره کـــړه**
**دا کنډوالـــه ملـــک راتـــه ناڅاپـــه غوړېـــدلی کـــړه**
**تللـــې غرڅنـــۍ درســـره غرونـــو تـــه بیـــا راولـــه**
**هـــر غـــدار زمـــوږه پـــه نـــړۍ کـــې شـــرمېدلی کـــړه**
**تـــول پـــه خنـــدا راولـــه چـــې مینـــه محبـــت وکـــړي**
**بس دی هر غماز د (یار) له کلـــي نـــه نـــور غلـــی کـــړه.**

**یار صاحب سره له دې چې د پښتو ادب د اوسني پېر د نورو شاعرانو په شان حالاتو سخت ځپلی او اسکیرلی دی او دې دردونې او ځپنې له (کوکارو) نه تر (ویره) رارسولی، خو د دې ویر له څپاندو څپو سره سره بیا هم د زړه په تل کې یوه پټه شان مثبته هیله لري او په دې امید دی چې تیارې به لاړې شي او زموږ پر مالت به بیا سحر وځلېږي، د شـــاعر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه لوړ او پټ ارمان د سړي په ذهن او زړه کې د راتلـونکي سـوکالۍ هیلې راټوکوي او پر ژوند مو باوري کوي.

زمـــوږه پـــر مالـــت بـــه بیـــا ســـحر راوخېـــږي
ســـپوږمۍ بـــه پـــر کنـــډو لـــوړ مـــازیګر راوخېـــږي
منګیـــه دا زمـــا تنـــده خـــو ســـتا پـــه زړه کـــې لامبـــي
کتـــار بـــه هـــم د پېغلـــو پـــه ګـــودر راوخېـــږي
دا تللـــې قـــافلې بـــه بیـــا وطـــن تـــه راســـتنې شـــي
د دې وربېځـــو تـــورتم کـــې بـــه لمـــر راوخېـــږي
خندا بـه د هـر چـا پـر وچـو شـونډو راخـوره شـي
ګلونـــه بـــه پـــه دښـــتو ســـمه او غـــر راوخېـــږي
په شوخو شانو سـترګو کـې بـه مـاتې تلوسـې شـي
د (یـــار) زخمـــي ســـینې نـــه بـــه خنجـــر راوخېـــږي.

زه د یار صاحب په پورتني هیله من شعر پورې خپلې هیلې تړم، پـه داسې حال کې چې دده په (ویر) کې ځان شریک ګڼم، کلام ته یې لـه مثبت لید لوري ګورم او د هر ډول کره کتنې غشي پرې نه را وروم، دا هم د یار صاحب نوې شعري ټولګه او دا هم تاسې درانه لوستونکي.


په ډېره زیاته فرهنګي مینه
محمد اسمعیل یون
پېښور-پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اروا پوهنې ښوونځي

د پوهنيزو اثارو خپرول، د يوې ژبې او ملت د ودې او پرمختګ لپاره ډېر مهم دي. هغه وخت چې پر کابل پوهنتون د جګړې ناتار نه و خور شوی، نو ګڼ شمېر درسي او مرستندوی درسي کتابونه، مجلې او نور پوهنيز کتابونه يې خپرول. دغو اثارو پر خپل وخت د پوهنتون د محصلينو درسي ستونزې خروبولې او د استادانو د پوهنيزو تجربو او معلوماتو په زياتون کې يې کارنده رول درلود. د جګړې له




کبله د کتابونو او پوهنيزو اثارو خپرول پر ټپه ودرېدل. د پوهاند صاحب ګل رحمن حکيم دا علمي اثر هم لږ تر لږه د اتو کلونو په بهير کې د چاپ جوګه نه شو.

دا اثر چې د اروا‌پوهنې بېلابېل ښوونځي راپېژني او پر يو شمېر نورو، اروايي مسايلو بحث کوي، د کابل پوهنتون په ښوونې او روزنې پوهنځي کې د يو درسي کتاب په بڼه تدريسېده، چاپ يې د نوموړي پوهنځي محصلينو ته خورا مهم و. د دغې اړتيا له کبله ما له پوهاند صاحب ګل رحمن حکيم سره د دغه اثر د چاپ په باب خبرې وکړې. استاد د دې کتاب يوه لاسکښلې نسخه ماته راکړه. ما د هېواد ځوان ليکوال او

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعر ښاغلي صديق الله بدر ته د خطاطۍ لپاره ورکړه. بدر صاحب پــه ډېره مينه په وړيا ډول دا کتاب خطاطي کړ. د چاپ لپاره مې د هېواد له ډېر تکړه ليکوال او روغتيا پال ښاغلي ډاکټر محمد فريد بزګر څخه چې د علمي کتابونو له خپرولو سره ډېره زياته مينه لري او تراوسه يې پخپله هم ګڼ شمېر طبي، ادبي او نور پوهنيز کتابونه چاپ کــړي دي، هيلــه وکړه، ښاغلي ډاکټر فريد بزګر زموږ هيله پوره کړه او دا پوهنيز کتاب يې پخپل لګښت چاپ کړ.

زه د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي محصلينو او پوهاند صاحب ګل رحمن حکيم ته د دغه کتاب د چاپ له امله مبارکي وايم او له ښاغلي صديق الله بدر او ګران ډاکټر فريد بزګر څخه ډېره مننه کوم چې دا کتاب يې د چاپ جوګه کړ.

په مينه او درناوي

د پوهنيزو او ادبي کتابونو د خپراوي او د هېواد د فرهنګي بډاينې لېوال

پوهنيار محمد اسمعيل يون

١٣٧٨- لړم- ١٨

(c) ketabton.com: The Digital Library



# گام پر گام له خوشال سره

لوی څښتن تعالی (ج) دوه لوی ستر نعموتونه پر پښـــتو ژبــه او ادب لورولي دي؛ یو پښتو لنډۍ دي، چې د هر ډول اند اوانځور د وړانــدې




کولو او جوړولو ځواک لري اود نړۍ هېڅ شعر ورسره د پرتلنې او مقابلې وړتیا نــه لري؛ که دنړۍ د هرې ژبې شعري جولــه له پښتو لنډۍ سره وتلل شي، د لنډۍ د جــذابیت ځــواک، د افــادې قــوت او د انځورونې رنگینې به ترې درنه شي. دویم نعمت خوشال بابا دی چې لوی څښــتن پښتو ژبې او پښتو ادب ته په نصیب کړی دی. لوی خان د پوهې او هنر داســې یــو کان دی، چې د اند او هنر له غمیو ډک دی. په نــړۍ کــې گــڼ شــمېر لیکوال او شاعران تېر شوي، چې سیمه ییزې او ژبنۍ پولې یې ړنگــې کړي، نړیوال شهرت او د انسانیت ستر مقام ته رســېدلي دي، خــو د خوشال لوړتیا یوازې د شاعر او لیکوال تر بریده نه ده. لوی خــان د ذهني ځواک یوه برخه شاعرۍ ته ځانگړې شوې ده او نوره یې د ژوند نورو برخو ته.

ویکتور هوگو او بلزاک د فرانسې لوی لیکوال وو، خو یوازې لیکوال وو، نه قومي مشران وو، نه سیاستوال او نه جرنیلان. شکسپیر د نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نامتو لیکوال و، خو یوازې لیکوال اوبس، پوشکین د روسیې او نـړۍ نامتو شاعر تېر شوی، شخصیت یې یوازې د همدې شاعرۍ په شا او خوا کې مطرح کېږي، خو زموږ د پښتنو خان بیا داسې نـه دی، خـان نـه یوازې شاعر او لیکوال و، بلکې ټولنپوه و، ژبپوه و، رنځپوه و، ارواپوه و، جګـړن و، صـوفي و، فلسـفي و، ښـکاري و، نقـاد و، ګرځنـدوی و، سیاستپوه او سیاستوال و، روزنپوه و، ملتپال او ملت رغاند و، تاریخپوه و، خو ((څه نه وو، چې نه و)) د خان ذهني ځواک هم پر همدغو خواو وېشل شوی و، کله چې سړی د بابا هر اثر لولي نو فکر کوي، چې ده به په بله برخه کې څه نه وي لیکلي. د ساري په توګه کلـه چـې سـړی (دستارنامه) لولي، نو فکر کوي چې خان یو سیاستپوه دی، کله چـې (طب نامه) لولي یو رنځپوه او طبیب خوشال مو تر سترګو کېږي او کله چې (بازنامه) لولي نو فکر کوي چې خوشال له ښکار پرته بل هېڅ کار نه دی کړی، لکه چې خپله وایي: ((که د ښکار په چارو اخته نه وای، نو د دنیا هومره علمونه به زما وو)) کله چې د یو شخص ذهني ځواک تـر شلو نه پر زیاتو بېلابېلو ډګرونو ووېشل شي او بیا په هره برخه کې د یوه غوره نظر او مقام خاوند وي، سړي ته پته لګي چې ددې شخص ټولیز ذهني ځواک څومره دی. نو که موږ هم د لوی خان په باب قضـاوت کوو او یا یې له چا سره پرتله کوو، نو د خان ټوله ذهني قوه باید په پام کې ونیسو. یو ایراني لیکوال او کره کتونکی دې ټکي ته متوجه شوی او ددې حقیقت جام یې پر سر را اړولای دی. دا لیکوال وایي: (( فردوسي چې په حماسي، سعدي چې په عرفاني او حافظ چې په غنایي برخه کې سره یو ځای شي، نو یو خوشال ختک ځنې جوړېږي.))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



راورټي انګرېز د خوشال بابا د اثارو شمېر ۲۵۰ ټوکه (عنوانه) ښودلی دی. کله چې څوک د خوشال بابا ذهني شتمنۍ ته ګـوري، نـو ددې آثارو پر شمېر پوره باوري کېږي. له نن څخه اټکل درې نیم سوه کاله او ان تر هغه را وروسته به د نړۍ په یوه هېواد کې هم داسې کومه بېلګه پیدا نه شي، چې د ورځني ژوند له سختو بوختیاوو سره سـره یـې د ژوند په بېلابېلو ډګرونو کې د څومره والي او څرنګوالي له پلوه دومـره اثار لیکلي وي.

د خان نبـوغ او د ذهنـي شـتمنۍ رنګـارنګي لـه دې څخـه هـم څرګندېږي، چې د ده د اند و ژوند په باب تر اوسه پـورې افغـاني او بهرنیو لیکوالو تر یو زر عنوانه پورې بېلابېلې لیکنې کړي، خو بیا هم د خان د هنر په دریاب کې داسې مرغلرې پاتې چې د ډېرو نظر لا ورته نه دی رسېدلای، نو ځکه خو لا د خان اند وژوند او هنري نړۍ نورې څېړنې او پلټنې ته اړتیا لري.

استاد محمد اصف صمیم هغه افغان لیکوال دی، چې هم خوشالپوه دی، هم خوشال مین ، ډېر کلونه کېږي، چې د بابا داثارو پـر څېړنـه او شننه بوخت دی. اوسنی اثر هم دده د ډېرو کلونو د ژورو څېړنـو او پلټنو پایله او ثمره ده. استاد صمیم په دې اثر کې هغه څه راټول کړي، چې تر دې دمه لا د خوشالپوهانو لاس ورته نه و رسېدلای. ( ګام پر ګام له خوشال سره) ددې اثر لومړۍ برخه ده، چې په خورا زیـار او هڅـه ترتیب شوې او داسې تاریخي اوډون یې ورکړی چې د بابا د ژوند سترو پېښنو یوه رڼه هنداره ګڼل کېږي. ددې برخې اهمیت په دې کې هم دی چې په خپله د لوی خان له اثارو څخه په کې زیاته ګټه اخیستل شوې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان هم د زمانې د يو ستر انديال (مفکر) په توګه د خپل ژوند پېښــې لکه د يو تاريخپوه په توګه ثبت کړي دي.

استاد صميم د بابا د فکر او هنر همغه لارې څارلي او د هغه د ژونــد هره پېښه يې ورڅخه رابهر کړې ده. (خوشال او قران) د دې اثــر بلــه غوره برخه ده چې په خوشالپوهنه کې يو بل څپرکی ګڼل کېږي. د بابا له قران لوستنې او ګروهمنتيا څخه څرګندېږي، چې نه يوازې د قران د مطالعې خاوند و، بلکې پر قران باندې د يو ګروهمن شخص په توګــه د عملي ژوند په ډګر کې هم د الهي لارښوونو پر پلي کولو بريالی شوی و. ( د خوشال د ژبې ټوپک) د اثر بله په زړه پورې برخه ده، چې د خوشــال ستروالی اوزړورتوب ورڅخه ښه ترا څرګندېږي. خوشال د خپلې ژبې د ټوپک خوله لومړی ځانته برابره کړې ده، نو هغه څوک چــې د دومــره اخلاقي او فکري جرئت خاوند وي، چې تر هر چا دمخه پر خپــل ځــان نيوکه او ګوزار وکړي، پر سترواليي يې بايد څه شک ونه شي.

(خوشال کتابونه او شاعران) هم د دې اثر په زړه پورې برخې دي او څېړنه يې په کار وه. په دې برخه کې د بابــا د خپــل وخــت فرهنګــي چاپېريال، د ليکوال او کتابونو څومره والی او څرنګوالی په ښــه توګــه څرګندېږي، د بابا د لوستنې ساحه هم ورڅخه ښکارېږي، پر هغو فکري واکمنې هم او له هغو څخه د جذب ځواک هم، که په ټوليز ډول د استاد صميم دا زيار وارزول شي نو په خوشالپوهنه کې يو ډېر ګټور او ځيرمن کار ګڼل کېږي، نه يوازې په خوشالپوهنه کې يوه نوې زياتونه ده او د بابا د مينوالو او لېوالو لپاره د لوستنې يوه نوې لاره ده، بلکــې د مســلکي لوستونکو يانې د ژبو او ادبياتو پوهنځيو د محصلينو لپاره هم يو ګټور اثر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دی او کېدی شي د خوشالپېژندنې مضمون د یو مرستندوی کتاب پــه توګه ور څخه ګټه واخلي.**

**موږ استاد محمد اصف صمیم ته ددې ګټور کتاب د لیکلو او چاپ له امله مبارکي وایو، مننه ورڅخه کوو، ستاینه یې کوو او د لوی خدای(ج) له درباره ورته نورې فرهنګي بریاوې غواړو.**

**په فرهنګي مینه**

**اسمعیل یون**

**۱۳۷۸لمریز کال**

**پېښور، پښتونخوا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ((لاهو)) شاعر

له نن نه پنځه ویشت کاله دمخه لوی څښتن(ج) د کابل د للندر پــه سیمه کې د رڼا یو ستایونکی او پالونکی گل (نورمحمد) وټوکوه، ورو ورو یې په رنگونو او ښکلاوو کې داسې رنگ کړ چې یو وخت یې ځانته پام کېده، نو بیا د مینې، عاطفې، ښایست او رنگونو په سیند کې ((لاهو)) شوی و. دی د مینې اوبو دومره وړی و چې بیا ترې نه ده خپله ځان را ایستلای شو او نه هم چا لاس ورکولای شو. ((نورمحمد)) د مینې او رڼاگانو، اهونو، اوسپلو، غمونو او دردونو په یو ځای شوي سیند کې دومره غــوټې ووهلې چې د دې سیند لــه تلــه یــې د ښکلو گړنیو مرغلــرو (شــعرونو) ټولگــه راجوړه کړه.




اوس چې د نور په سیند کې د لاهو شوي ((لاهو)) شعرونه لولو، نو د همدې رڼا، ښکلا، اهــ درد، فریــاد او د خپــل ســوي لــوي چاپېریــال انځورونه مو په سترگو او ذهن کې راټوکېږي. خدای(ج) پر لاهــو ډېــر مهربانه شوی، چې له نازک احساس او خوږمن زړه سره یې ورته د شعر ښاپېرۍ هم په نصیب کړې ده. که د یو بشپړ عاطفي انسان (شــاعر) د احساس غمونه د شعر الهه په خپلو وزرونو کم نه کړي، نو خدای خبــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د هغه زړه به څومره حرکت وکړای شي؟. ((لاهو)) د یــوه عــاطفي موجود په توګه د ټولنې هر درد او غم دومره ځورولی چې له نا چارې یې شعر ته پناه وروړې ده. د ټولنې هر دردوونکی او خوشالوونکی انځــور چې د ده په شعرونو کې ګورو، نو هغه یو ځل د ده ذهن او زړه تــه لاره کړې، هغه یې د خپل ذهن او زړه په پردو کې تاو کړی، د احســاس پــه اوښکو یې وینځلی او بیا یې موږ ته په انځوریز ډول وړاندې کړی دی.

((بلال په وینوکې )) د ده د انځوریزې شاعرۍ لومړۍ ټولګه ده. دوه نورې شعري ټولګې یې هم د چاپ انتظار باسي. زه د لوی خدای(ج) له دربار نه هیله لرم، چې ((نورمحمد)) دې نور هم د شعر او ښکلاوو پــه سمندر کې ((لاهو)) وي او د ښکلو مرغلرو د را ایستلو او ځلولو جوګه دې وي، خو داسې نه چې یو وخت د ژوند د مستۍ په سیند کې دومره ډوب شي، چې د ټولنې غمونه هېر کړي او د خوښۍ په څپو کې یې هر څه له یاده ووځي.

د شاعر لاهو د لابري په هیله


اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پردېس ژوند او ((پردېسې نغمې))

په تېره لسیزه ( ۱۳۶۰-۱۳۷۰ کلونو) کې پــه کابـل کــې د شــعر او شاعرۍ بهیر ښه په څپو و. ښاغلی ملکي خزان هم د دې بهیر یو فعال غړی و. دی سره له دې چې یو پــوځي ســړی و، خــو ادبي ذوق او ولوله پرې دومره غالــب وو، چې له سختو عسکري دندو سره سره یې هرې ادبي غونډې او مشاعرې تــه ځــان رسوه. همدغې مینې او لېوالتیا د ده ذهن له اغزن پوځي چاپېریال څخه رابهر کړ او




د شعر په ورېښمین ټال یې وزنګوه. ملکي خزان په تېــره لســیزه کــې ښایسته ډېر شعرونه او نظمونه ولیکل، چې ګڼ شمېر یې د هېواد د هغه مهال په خپرونو کې خپاره شوي، خو د ځانګړې شعري ټولګې د چاپ مجال ورته ور نه کړ شو. د روانې لسیزې (۱۳۷۰-۱۳۷۹کلونو) په بهیــر کې چې د کابل ښار او د هېواد د سیاسي او پوځي نظام بنه واړول شوه، نو ملکي خزان هم لکه د ځینو نورو پــه شــان لــومړی پېښــور، بیــا د پاکستان نورو ښارونو او بیا ایران ته مهاجر شو. ملکي خــزان د تېــرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لسیزې د ژوند معکوس دا ځل د قلم او مسلک د روزۍ پر ځای، د لاس مزدورۍ ته کېناست. سره له دې چې د هغه پر ژوند خزان راغلی و او د هیلو ډېر ګلونه یې ورته مروړولي وو، خو د ده پر اند او همت د دې خزان زور ونه رسېده؛ هغه په هجرت کې هم قلم له ګوتــو ونــه غورځــاوه او ښایسته ډېر شعرونه او نظمونه یې ولیکل. (( پردېسې نغمــې)) د ده د همدغې نږدې یوې لسیزې پردېس ژوند شعرونه دي، چې د ده د مهاجر ژوند د ناخوالو انځورنه په کې شوې ده. که څه ملکي خزان له نږدې نه لیدلی وي، نو ډېره ښه به ورته څرګنده وي، چې هغه د سپېڅلو ولولو یوه څپه ده. سپېڅلي خلک خپله ولوله او جذبه نېغ په نېغه بیانوي، نه د وېرې پروا لري او نه د خطر.

ملکي خزان هم په خپل دې کلام کې خپل احساسات نېغ په نېغــه بیان کړي او خپل زړه یې ښه تش کــړی دی. د شــعر کــره کتونکــو د ګواښونو او اخطارونو پروا یې هم نه ده کړې، خو د خپل زړه غوټه یــې ښه اواره کړې ده. د یو شاعر روحي بار د کمولو او رواني ســتړیا د لــه منځه وړلو لپاره ښه لاره داده، چې شاعر خپل زړه کې غوټه نه پرېږدي او وایي چې د خپل اند ناوې باید د ګلوییونو په پاڼو کې تاوه کــړي او د تخیل رنګین شال ور په سر کړي، په ټولیز ډول د استاد الفت په وینا (( شاعران له قید و بنده بې پروا دي.)) ملکي خزان هم داسې یو شــاعر دی، چې د خپل اند په ازادۍ کې له قیده و بنــده بــې پــروا دی. زه دا شعري ټولګه د هجرت په ستونزمن او اغزن چاپېریال کې د ملکي خزان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همت او بریا غته نښه ګڼم. دانش خپرندویې ټولنې ته چې تل یــې د چاپ په برخه کې د کموسو او بېوسو لیکوالو او شاعرانو لاسنیوی کړی، د دې شعري ټولګې د چاپ له امله شاباسي ورکوم او خپله شاعر ته یې زیاته زیاته مبارکي وایم. خدای دې وکړي، چې هېڅکله هــم د خــزان صاحب پر شعرونو خزان رانه شي او پر شعري یون یې تل پســرلی وي پسرلی.

**په فرهنګي مینه**

**اسمعیل یون**


**پېښور ۱۳۷۹ل کال د غبرګولي ۳۰مه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ددې اثر لیکوال او خپرندوی په باب څو خبرې

ښاغلی قدرت الله حداد په اوسنیو څو لسیزو کې د افغانستان د ملي مبارزې د فرهنګي او لیکنې ډګر یوه نومیالۍ څېره ده. حداد صاحب د ځوانۍ له شېبو نه بیا تر دې دمه قلم له




ګوتو نه دی لرې کړی او د ګڼو لیکنو او ځانګړو اثارو په خپرولو سره یې خپله ملي، هېوادنۍ او فرهنګـي مینــه پــه زبات رسولې ده. د ده په هره لیکنــه د ملي اند و ارمان دښمنانو خپل تنــدی تریو کړی او دوستانو ورین کړی دی. د هېواد او خاورې شعوري دښمنانو او د هغو پلویانو وخت پر وخت د حداد صاحب پر لیکنو نیوکې کړي او هڅه یې کړې چې هغه په افغاني ټولنه کې په ((فاشیستي)) هڅو تورن کړي. د ملتپالو افغانانو د مخالفینو یو مهارت په دې کې دی چې دوی تل هڅه کوي په تبلیغاتي فعالیتونو کې له تعرضي چلند نه کار واخلي. هر کلــه چې یو افغان د خپلې ملي ژبې، ملي حقوقو او د خاورې د بشپړتیا او د ملت د سرلوړۍ خبره پورته کړې ده، نو دوی ژر تر ژره پرې د نشنلیست او فاشیست، ژبپال او ملتپال تور پورې کړی دی. ملتپالنه او ژبپالنه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ په ټولنه کې په ځانګړي ډول د پښتنو لپاره یو جرم ګڼلی او انګېرلی دی. په داسې حال کې چې دوی په خپله د بل چا د ژبې په غوڅولو او زبېښلو د فاشیزم د وروستي پړاو پلي کوونکي دي. دې ډول کسانو په خپل تعرضي تبلیغ سره یو زیات شمېر پښتانه روڼ اندي له دې کبله چې څوک ورته نشنلیست او یا فاشیست ونه وایي له خپلې ملي لارې او تګلارې اړولي او د زیات احتیاط سیوري ته یې خوبولي دي. خو داسې روڼ اندي پښتانه هم شته چې زموږ د ملي ژبې او ملي ارمان د دښمنانو د یرغلیزو هڅو د دفاع ځواک هم لري او د متقابل ګوزار قوت هم. ښاغلی حداد صاحب د همدغه ډول روڼ اندو پښتنو لیکوالو له جملې څخه دی.

ده په تېرو دریو لسیزو کې د نورو د ژبني او کینه ییز یرغل پر وړاندې هم دفاع کړې او هم یې د خپل قلم څوکه ښه تېره کړې ده. ځکه خو حداد صاحب لکه د یو شمېر نورو پښتنو لیکوالو په څېر افغان ضد ډلو ټپلو او اشخاصو ته د سترګو اغزی دی.

( د مېړانې او مېړنو خبرې) د حداد صاحب یو بل مېړنی جرئت دی چې د خپل ملي ارمان لپاره یې ترسره کړ. په دې کتاب کې داسې مسایل راغلي چې مړاوو ارواوو ته ځواک وربښي او د سړي ملي ولوله او جذبه پیاوړې کوي. له تاریخي پلوه هم داسې نوي مسایل په کې راسپړل شوي چې تراوسه پورې یې لا ډېرو لیکوالو او مورخینو ته څرک نه و لګېدلای. په ځانګړي ډول د ازاد خان سلېمانخېل او سر خاني خان

(c) ketabton.com: The Digital Library



الکوزي په باب معلومات او د هغو د مبارزو په باب څرګنـدونې ډېـرې زیاتې په زړه پورې دي. کله چې سړی دا لیکنې لولي خپل ملت سره د سړي مینه زیاتېږي او پر خپلو نیکونو او د هغو پر کړنو یې د باور روحیه پیاوړې کېږي. دا فکر سړي ته پیدا کېږي چې زموږ څومره نور اتلان به د تاریخ د پېښو په ګردونو کې پټ وي، کاشکې زموږ د تـورې او قلـم، د واک او ځواک انډول برابر وای، بیا به نو زمانې زموږ د اتلانو پر څېـرو د هېرېدا ګردونه نه وو خپاره شوي.

د حداد صاحب دې کور ودان وي، د تاریخ تیاره ګوټونو ته ننوت او په خپل ژورلید او لرلید یې په لعلونو سترګې ولګېدلې او هغه یې له ایرو نه ځلا ته راوایستل. ( د مېړانې او مېړنو خبرې) کې د مېړنتوب او سړیتوب نورې ډېرې خبرې هم شته، چې د هر مېړني او نیم مېړنـي لپـاره یـې لوستل ډېر ګټور دي. د کتاب پاړکي په بیا بیا لوستلو ارزي.

کله چې د مېړنو خبرې کېږي نو طبعاً مېړنـي د سـړي ذهـن کـې انځورېږي، هو همداسې یو بل مېړنی هم د ستاینې او یـادونې وړ دی. ښاغلی اقبال پښتونیار یادوم چې مینې، ولولې او جذبې یې دی له خپل هېواد، ولس او ملي ژبې سره د مینې د سرتېرۍ او سرغندویۍ پوړۍ ته رسولی دی.

ښاغلی پښتونیار د هغو افغانانو له جملې څخه دی چې دا ډېر کلونه کېږي غرب ته تللی خو غربي شوی نه دی. همغه پښتون دی او همغـه پښتونیار. ده نه یوازې له روحي او فکري پلوه له خپل هېواد او خلکـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره خپله مینه پاللې، بلکې په عملي ډول یې هم دخپل ولس د ټپونو په درملونه کې ونډه اخیستې ده. د شوروي-افغان د جګړې په کلونــو کې پښتونیار ډېرې هلې ځلې کړي چې د افغانانو غږ د نړیوالو غوږونو ته ورسوي. په دې ترڅ کې ده د ملګرو ملتونو د بشر د حقوقو له ځانګړي استازي ارمکورا سره ډېر منډې ترړې کړي او هغه ته یې د افغانستان د خلکو د ژوند ربښتینی انځور وړاندې کړی دی. پښتونیار نــه یــوازې د افغانانو د سیاسي غمونو په درملونه کې تر خپله وسه ونډه اخیســتې، بلکې د خپلو هېوادوالو د فزیکي ټپونو د درملونې لپاره یې هم د خپلو خولو محصول رالېږلی دی. ښاغلی پښتونیار له ۱۹۸۹م کال راهیسې په کندهار، ننګرهار، میدان وردګو، غزني ولایتونــو، کــوټې، پېښــور او د پېښور اسلام اباد د لارې په اوږدو کې د افغان مهاجرو په کمپونو کې یو زیات شمېر مهاجرو ته دارو درمل رسولي او له یو شمېر بېوزلو افغانانو سره یې مالي مرستې کړي دي.

د دغو ملي، اسلامي او انساني هڅو ترڅنګ پښتونیار له څو کلونــو راهیسې په یو لړ فرهنګي هڅو هم لاس پورې کړی دی، له یــو شــمېر فرهنګیانو سره یې مالي مرستې کړي او د ځینو فرهنګي اثارو خپراوي ته یې په یوازې ځان ملا تړلې ده. د دې اثر خپراوی هم د ده د فرهنګي هڅو یوه بېلګه ده. په نږدې وختونو کې به یې نورې بېلګې هم ووینــو. لنډه دا چې پښتونیار د یو ملي هېوادني ارمان او د پښتونولۍ یو ســر

(c) ketabton.com: The Digital Library



غندوی او سوی لوی پتنګ دی او په دې لاره کې یې د عملي او نظري قرباني ثبوت وړاندې کړی دی.

په ټولیز ډول د حداد صاحب او پښتونیار صاحب په باب دا ویلای شو چې دوی دواړه د یوه ملي ارمان او فکر خاوندان، لارویان او هڅوندویان دي. د همدغې مینې مزي یو بل سره داسې تړلي چې یو په امریکا کې او بل په جرمني کې اوسي، خو د زړونو مینې او ولولې یې دا واټن له منځه وړی دی او دا دی د یوه فکر او د بل ملي ولوله په دې کتاب کې سره راټول شوي او لوستونکو ته وړاندې کېږي. زه د همدې ملي لارې یو دربیم لاروی او لېوال په داسې حال کې چې د دې کتاب په لیکلو او خپرولو کې د دواړو هڅې ستایم، د نورو ملي او فرهنګي خدمتونو په لار کې ورته لا زیات بریالیتوب غواړم.

په ټوله افغاني او فرهنګي مینه

اسمعیل یون

۱۳۷۹ل کال


پېښور-پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زرین انځور او دده د لنډو کیسو دا انځوریزه ټولګه

اته کاله کېږي چې د هېواد پیاوړی لیکوال محمد زرین انځور له هجرت نه د یو بل مهاجرت لمن نیولې (له پېښور نه اروپا ته تللی دی.) اصلاً خو هغه پــر ۱۳۶۹ل کــال مهاجرت ته اړ شوی او تر پېښوره یــې ځان رارسولی و، خو پېښور له فرهنګي پلوه دومره افغاني ځانګړنې لري، چې سړی په کې نه پردی کېږي. نو ځکــه انځور صاحب د کابل په شان په پېښور کې هم خپلو فرهنګي هڅــو تــه دوام ورکړ او پر لنډ تنګ وخت یــې ځلــور




عنوانه اثار خپاره کړل. کله چې یې د اوږده سفر لمن ونیوه، د قاف تر غرونو واوښت او جرمني ته ورسېد، نو ښایسته ډېره موده؛ کابو پنځه کاله دده په فرهنګي کار کې خنډ او ځنډ پېښ شو. پــه دې موده کې دده زیاتې تخلیقي او کره کتنیزې لیکنې خپرې نه شوې، نو ځکه خو زموږ له هېواد مېشتې فرهنګي چاپېریال سره داسې اندېښنې او فکرونه پیدا شول، چې خدای(ج) مه کړه ګنې لویدیز

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلتور د جاذبې دومره ځواک لري، چې د انځور غوندې يوه پخه ادبي ستړه يې هم په ځان کې دل او حل کړه(!)

په دې موده کې دده ذهني او فزيکي واک و ځواک، فرهنګي مينې او ولولې د لويديز فرهنګ له خوړو تودو سره يوه ستړې او نا انډوله مبارزه وکړه، خو په پای کې ځرګنده شوه چې انځور د خپل فکري، فرهنګي بلوغ او ملي ولولې له کبله د نورو تر فرهنګي يرغل او اغېز لاندې رانغی، بلکې هلته لا زيات خپلې ټولنې ته د فرهنګي خدمت جوګه شو. تر ټولو غوره فرهنګي خدمت يې په جرمني کې د يو شمېر نورو افغان ليکوالو، فرهنګيانو او فرهنګپالو په مرسته د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې جوړول و، دا کتاب د همدې فرهنګي ټولنې (۲۵)مه مېوه ده، چې خپلې ټولنې ته يې ډالۍ کوي. ((زموږ د کلي پانې)) تر داستاني ټولګې څخه وروسته دا د انځور صاحب د کيسو بله ټولګه ده چې درنو لوستونکو ته وړاندې کېږي. ددې ټولګې په خپرېدو سره ليکوال له خپلې ټولنې سره نور هم خپل ذهني او رواني پيوستون ځرګند کړ. هغه که له جسمي پلوه له خپلې ټولنې څخه ډېر لرې دی، خو ذهن او روان يې د خپلې ټولنې غمونه او دردونه شمېري.

په دې لنډو کيسو کې که ليکوال له يوې خوا په زياته کچه د خپلې ټولنې انځورونه باسي، له بل پلوه د ليکوال ذهني، فزيکي او کيسه ييز چاپېريال او نړۍ ليد هم په کې پراخ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اکثرو کیسو لپاره داسې پېښې ټاکل شوي او یا پر داسې پېښو کیسې لیکل شوي، چې هغه زموږ په ټولنه کې ډېر ځلــه پېښــې شوې دي. ددې کیسو پېښې په حقیقت کې د هغو ګڼو او بېلابېلو پېښو نچوړ او بېلګې دي، چې زموږ ټولنه یې ځپلې او اسکېرلې ده. که چېرې زموږ کوم هېوادوال ددې ټولګې کومه کیسه ولولي، نو هغې ته ورته ډېرې نورې پېښې به یې په ذهن کې تداعي شي او ان په خپله به هم ځان په هغه پېښه کې د یوه پوره او نیمه ښــکېل، ځپل شوي او استعمال شوي کرکټر په توګه احساس کړي، د یــو لیکوال مهارت هم، په همدې کې دی چې د هغه د اثر په هنــداره کې د ټولنې هر وګړی په یوه نه یو ډول خپل ځان ووینې. که یــو بهرنی شخص دا کیسې لولي نو بیا هم زموږ د ټولنې له څو لسیزو ستونزمن او ترخه ژوند څخه یو عیني او ټولیز تصور اخیســتلای شي.

په لویدیزه ټولنه کې د لیکوال مېشتېدنې هغه ددې وړ کړی چې د دوو سره لرې، متفاوتو او ان متضادو کلتــوري ټولنــو کلتــوري قضاوتونو او پر انساني ژوند د هغو اغېزو ته متوجه شي.

هغه د ((ګلونه ګودرونه)) په کیسه کې د یوې پېښې په بــاب د دوو متضادو کلتورونو د چلند تصویر او تصور وړاندې کوي، چــې څنګه د یوې ټولنې خلک په یوه کلتوري چاپېریال یوې پېښې ته د کرکې په سترګه ګوري خو په بل کلتوري چاپېریال کې بیا تر هغې څخه څو ځله سخته پېښه د خوشالۍ په جشن نمانځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



((ګلونه ګودرونه کیسه)) کې احمدخان د حیات خــان د یــوې جزیي تېروتنې له کبله خپله توره د هغه په وینو سره کړه، خو په دې یې هم د احساساتو لمبې غلې نه شوې او بیا یې همدا په وینو سره توره د خپلې مېرمنې (مینو) په وینو هم سره کړه او خپــل زوی ((منور)) یې بې موره کړ. یو وخت منور لوی شو، ډاکټر شــو، لویدیزه ټولنه کې د کار او برخې خاوند شو، ډاکټر منور احمدي یوه ورځ یوې داسې خوښۍ غونډې ته بلل شوی و چې ((د کاترین)) د واده په ویاړ جوړه شوې وه، کاترین د ډاکټر احمدي همکاره وه او په یوه طبي موسسه کې یې سره کار کاوه، دا د کاترین درېیم واده و، دا ځلې یې له یو شتمن سره واده کړی و.

د واده د محفل په منځ کې یو څوک جام په لاس درېدلی و، چې ددې واده له امله کاترین او د هغې نوي مېړه ته مبارکي ووایي. دا د کاترین لومړنی مېړه و. دی د کاترین د درېیم مېړه دوست هم و او دواړو په ګډه دې واده ته رابللی و.

ډاکټر منور احمدي هم همدې واده ته رابلل شوی و، خو لکــه ډاکټر منور احمدي ته چې د واده په څوړ، شرنګ او وړمو کې هغه د خپل کور پخوانۍ پېښه وریاده شوه، د خپل پلار د تورې ګوزارونه او د خپلې بې ګناه مور چغې او فریادونه، نو د خوښۍ له غونــډې څخه ووت. دا تقریباً د سره ورته پېښو په باب د دوو متضادو ټولنو کلتوري چلند څرګندوي، چې لیکوال په ډېر مهارت سره د هغــو ژور او روڼ تصویر وړاندې کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



((دلته غرونه نه دي هسک)) کې هم همداسې د دوو ټولنــو د ارزښتونو پرتلنه شوې او لیکوال په کې د یوې وروسته پاتې ساتل شوې او یوې پرمختللې ټولنې د انساني او کلتوري ارزښتونو ارزونه او تلنه کړې ده. که څوک له لویدیز ژوندانه سره هېڅ اشنا هم نه وي او یوازې دا لنډه کیسه ولولي او پــه هغــې کــې د ((ښــاغلي فیشر)) د ژوند وروستي برخلیک ته نظر وکړي، نو ټوله غربي ټولنه او د هغې انساني ارزښتونه د همدې یوې کیسې له مخې ارزولای شي. ((دلته غرونه نه دي هسک)) کیسه په ټولیز ډول په ښکلې بڼه د یوې لویې ټولنې د ژوندانه د ژورې انځورنې له کبله یو ادبي شهکار ګڼل کېدی شي.

((هډوکي)) لنډه کیسه د جګړه ییز مهال او تر هغه وروسته پېر د یوه جنګیالي انځورنه کوي، چې حالاتو پرې په پای کې د خپــل پلار هډوکي هم وپلورل او په دې ډول د یوې ټولنې ماضي او حال د جګړې تر ستوني تېر شول.

((عریضه)) لنډه کیسه هم زموږ د شل کلنې غمیــزې د یــوې اساسي برخې داسې یو دردوونکی، خو روښانه تصویر باسي چــې څوک په کې په رښتینې مینه د ګروهمنې جګړې په نامه د خاورو تل ته ورسېدل، لکه د (صابرې ترور زامن) او ځینې نور بیا پاریس او نورو ځایونو ته ورسېدل، لکه (یماجان).

په ((ډول د کلي سندربول او غلا)) لنډو کیسو کې هم د ګروهې په نامه د نغمو او سندرو پر ستوني د یو تېر شوي کینه ییز ناتار او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يرغل انځور ايستل شوی او د يو يرغمل شوي او تالا شوي کلتور انځورنه ګنل کېږي.**

**د دې ټولګې زياتره لنډې کيسې ددې وړ دي چې ډېرې خبرې پرې وشي، خو دا چې خپله دا ټولګه د درنو لوستونکو مخــې تــه پرته ده، نو زه نه غواړم چې خپلې خبرې تر دې اوږدې کړم، بــاور لرم چې د دې مجموعې زياتره لنډې کيسې به د لوستونکو په ذهن کې تر ډېره وخته پاتې شي او هغه به ښکلې او ښې وارزوي.**

**قدرمن ليکوال ته يې د لا زياتو برياوو او نورو فرهنګي هڅو هيله کوو.**

**په مينه او درناوي**

**محمد اسمعيل يون**

**۱۳۷۹المريز کال-سلواغه**

**پېښور**


(c) ketabton.com: The Digital Library



# (( د حقوقو بنسټونه)):

# د استاد ستانیکزي یوه ګټوره پوهنیزه هڅه

لکه څنګه چې څرګنده ده د اوږدې جګړې له امله کابل پوهنتون او د هېواد نورو پوهنیزو مرکزونو ته ډېر زیات زیان اړول شوی، زیات شمېر پوهنیز کتابونه یا سیزل شوي او یا لوټ شوي دي. ددغه پوهنیز تشیال (خلا) د ډکولو لپاره د نورو زیاتو پوهنیزو کتابونو چاپ او خپراوي ته ډېره اړتیا ده.



له نېکه مرغه یو شمېر افغانان په تېره بیا فرهنګیان او فرهنګپال که تر هېواد دننه دي که بهر، ددغه پوهنیز تشیال د ډکولو لپاره هاند و هڅه کوي.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه چې په جرمني کې د یو شمېر افغان لیکوالو او فرهنګیانو له خوا جوړه شوې او یو شمېر غړي یې د همدغه کابل پوهنتون فارغان او استادان دي، په ټینګه پټېیلې چې هېواد ته وړ فرهنګي او پوهنیز خدمتونه وکړي. دې ټولنې تراوسه پورې په لسګونو، پوهنیز، تاریخي او ادبي آثار خپاره کړي دي او دا لړۍ لا دوام لري. کابل پوهنتون سره ددې فرهنګي ټولنې د یادونې وړ مرسته دا وه چې د کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنتون علمي مجلې د لومړۍ ګڼې تر خپراوي وروسته يې تر دې دمه ددې مجلې چاپ لګښت ته اوږه ورکـړې ده. ددې کتــاب ( د حقوقــو بنسټونه) خپراوی ددې ټولنې بله ډالۍ ده چې د کابل او د هېواد د نورو پوهنتونو محصلینو ته یې وړاندې کوي.

څو میاشتې وړاندې د کابل پوهنتون د حقوقو پوهنځي رئیس ښاغلي ملا محمد فاروق جلالزي صاحب او استاد نصرالله ستانیکزي د حقوقــو پوهنځي د محصلینو د یوې مهمې اړتیا په توګه ددې کتاب د چاپ هیله څرګنده کړه. ما د دوی هیله په جرمني کې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې ته د لیک له لارې ولېږله او دا دی تر څو میاشتني ځنډ وروسته دا اثر چاپ شو.

موږ هیله من یو، ټول افغانان د خپل هېــواد د فرهنګــي رغــونې او بډاینې لپاره همدا شان یو بل ته لاسونه سره ورکړي. یو ځل بیا د خپل هېواد تالا شوې فرهنګي شتمنۍ راټولې او د خپل هېــواد فرهنــګ د بډاینې لپاره ګټور ګامونه پورته کړي. زه د کابل پوهنتون د کدرونو پــه استازولۍ د افغانستان کلتوري ودې ټولنې څخه مننه کوم، کور ودانی ورته وایم او قدرمن استاد پوهنیار نصر الله ستانیکزي ته د کتاب د چاپ له امله مبارکي ورکوم.

په فرهنګي مینه


پوهنیار محمد اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جنګي جنايتکارانو محاکمه يوه ملي اړتيا ده

کله چې په افغانستان کې د ۱۳۵۷ل کال دثور پر اوومه نېټه سياسي بې ثباتي پيل شوه، نو ورسره ((عقيده يي بحران او دمعنويت سقوط)) هم رامنځته شول، دټولنې ټولې خواوې




پــه لړزېــدو شــوې. د۱۳۵۸ل کــال د مرغومي پر شپږمه نېټه دبهرني يرغل په پيل ســره، د هېوادکــورني کــړکېچ نړيواله بڼه ونيوه او نور پراخ اړخونه يې پيدا کړل. لنډه دا چې ټول هېــواد پــر داسې يور سور تنور او اورنۍ بټۍ بدل شو، چې افغانان په کې لکــه د نينــې وريتېدل او نورو يې ننداره کوله.

تراوسه پورې چې بشر او په ځانګړي ډول دبشري ټولنې هر ځانګړې ملت څومره جګړې او زيانونــه زغملــي، د څــومره والــي، پېچلتيــااو څرنګوالي له پلوه د افغانانو له درنې غميزې سره د پرتلې وړ نــه دي. ددې غميزې او ستر ناورين له امله زموږ اولس خپلــه زياتــه مــادي او مانيزه شتمني بايلوده،ان داچې پر هغو ارزښــتونو يــې هــم ډول ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیوري خواره شول چې دوی یې د دومره قربانیو په بیه ګټلو ته حاضر شوي وو. دا زیانونه کولای شو په لنډیز سره دلته یاد کړو:

▪اقتصادي: د ۲۲ کلنې جګړې په ترڅ کې په هېواد کې تر (۲۰۰۰) څخه زیاتې لویې او وړې فابریکې، کارځایونه، کارخونې، لاسي صنعتي دستګاوې او نور تولیدي وسایل له منځه وړل شوي دي.

▪ښوونیز: دټول هېواد په کچه (۳۵۰۰) بېلابېل ښوونځي تباه شوي او د لس ملیونه افغانانو د لوستوالېدو مخه نیول شوې ده.

▪پوهنیز: د لوړو زده کړو څوارلس موسسې، پوهنتونونه، پوهنځي او د ښوونکو د روزنې موسسې یا په نسبي او یا بشپړ ډول زیانمن شوي دي. دټول هېواد په کچه تر (۵۰)زرو زیات لوړ زده کړي افغانان د هېواد او مسلک پرېښودلو ته اړ شوي دي.

▪وګړنیز: یو نیم ملیون افغانان شهیدان شوي، یونیم ملیون معیوب او معلول شوي او شپږ ملیونه مهاجرت ته اړ شوي، پاتې تر(۱۵)ملیونه اټکلي نفوس څخه (۹)ملیونه په ښکاره ډول له خپلې ټولنې بېل شوي دي. هغه پاتې هم تر هېواد دننه نتل شوي او ځپل شوي دي.

▪ټولنیز: د همدغو ناتارونو له کبله دټولنې اډانه ښورول شوې، هغه شوې چې د افغاني ټولنې د ټولنیز نظام د ګډوډۍ له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارې د واک د طبیعي او اصلي سرچینو پر ځای نوې او مصنوعي سرچینې د ټولنې لارښوونه وکړي او په دې ډول سیاسي-ټولنیز بحران لاپسې سخت کړي، ځکه نو د اقلیت او اکثریت پر بنسټ په هېواد کې د سیاسي واک وېشلو شعارونه زیات شوي دي.

▪خپرنیز: په خپرنۍ برخه کې د (۱۵) لویو چاپخونو په ګډون د هېواد ټول چاپي امکانات له منځه وړل شوي. تر (۲۰) ملیونه زیات کتابونه، لوټ او سېزل شوي دي.

▪تاریخي: د هېواد ملي موزیم ، د اردو موزیم، دهډې موزیم او نور سیمه ییز موزیمونه لوټ شوي او سیزل شوي دي. د ملي موزیم دیولک تاریخي اثارو له جملې څخه په سلو کې اویا قیمتي اثار غلا شوي دي.

▪کلتوري: دهېواد اصیل افغاني فرهنګ د مسخه کولو لپاره ((سره ، شنه او سپین)) شعارونه راولېږل شول، ټوله افغاني ټولنه پرې مسمومه شوه، اوسنی هېواد مېشتی او بهر مېشتی ځوان پښت په ډېره مشکله پر دې پوهېږي، چې: ((زه څوک یم او دکوم توک یم)) د یو هېواد او قوم رغنده فکري توکي؛ هېواد پالنه، ژبپالنه او دینپالنه د اقتصادي ټیکاو د نشتوالي او نورو ستونزو له کبله ډېره ځلا او غوړېدا نه لري.

▪پوځي: دتېرو دوو سوو کلونو به بهیر کې په هېواد کې له خپلو ګنو تجربو سره یوه مسلکي اردو رامنځته شوې وه، ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اردو جوړښت او اډانه هم له خپلو ټولو وسايطو سره لــه منځــه ولاړه او نور داسې زيانونه رامنځته شول،چې ديوې واحدې ټولنې د روغې ستېې لپاره ناسور ټپ ګڼل کېږي.

خو راځو دېته چې دا ټول کارونه په خپله وشول او که چا وکړل او يا چا دچا په واسطه تر سره کړل؟ پرته له دې چې ددې يا هغې ډلې او يــا ددغه او يا هغه شخص نوم واخيستل شي، هرڅوک چې په دې پورتنيو زيانونو کې په يو نه يو ډول شريک وي، خپلو خلکو، هېواد او انســاني وجدان ته ملامت دي اوبايد محاکمه شي.

لکه څرنګه چې څرګنده ده ، په هره ټولنه کې ددې ډول اشخاصــو دسزا او محامکمې لپاره ځانګړي اصول وي، زموږ ټولنه هم غــواړي د ټولې انساني ټولنې ديوه هډ په توګه له دغو اصولو څخه ګټه پورته کړي او جنايتکاران محاکمه کړي،خو په خوا شينۍ سره بايد ووايو، چې زموږ ولس د يو داسې ستر ايډيالوژيک جنګ قرباني شو، چې زحمت يې موږ وليد او راحت يې نورو...

زموږ په هېواد کې ددې ۲۳کلنې غميزې په پيل کې داســې هيلــه کېده چې د هېواد دا جنايتکاران به هېڅکله هم له محاکمې نه خلاص نه شي، خو کله چې جګړه پراخېده او بهرنی يرغلګر پر شا تمبول کېدل، دسياسي لوبو ليدلوری هم ورسره بدلېده، بيا داسې وخت راغی، چــې نويو ارزښتونو د پخوانيو ارزښتونو ځای ونيو او په پای کې په وجدان او ژوند ګټلې هيله د سياست د بازار ښکار شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روس پلوي او روسپالي ببرک کارمل په واکمنۍ کې دیو زنداني د خولې خبره ده، چې موږ زندانیانو ته یې (۹۳) ډوله سزاګانې راکولې او موږ یې پرې کړولو، موږ ته یې (( د امپرالیزم ګوډاګیان)) ویل، خو یو وخت بیا داسې راغی، چې همغو ((امپریالیزم دښمنو)) د امپرالیزم غېږې ته پناه یوړه.

زموږ ولس ته د خواشینۍ خبره دا ده چې روس پلوو کمونیستو ډلو لویدیځ ته پناه یوړه اویو شمېرجهادي ډلو بیا دروس غېږې ته ځان ګوزار کړ.

ښاغلی سلطان علي کشتمند چې لس کاله د کارمل د روس پلوي کمونیستې حکومت صدراعظم و، د امپرالیزم(انګلستان) غېږې ته پنا ه یوړه اوښاغلي رباني او ښاغلي احمد شاه مسعود چې دځینو د ادعا او ګومانونو له مخې یې لس کاله د روسانو پر ضد جګړه کړې وه، د کمونېزم مور(روسیې) له ګرېوانه سر راوکښه. دا بېلګې ډېرې زیاتې دي، له دې دوو بېلګو څخه ښکاري، چې د افغانستان د شل کلنې غمیزې اکثرو سیاسي ډلو اودهغوی مشرانو هېڅ ډول سیاسي اخلاق او سپېڅلی بشري وجدان نه درلود او که درلودلای یې نو داسې نه کېدل.

دهېواد ملي مبارز استاد پوهنوال محمدعثمان روستار تره -کې د هغو ملیونو افغانانو یوه بېلګه او استازی دی، چې د سیاسي جنایت قرباني شوی او زیات کلونه یې د سره ښکېلاک سور زندان ګاللی دی. هغه د یو ژور او ځېرمن لیکوال او سیاستپوه په توګه داسې وخت او حالاتو کې خپل ګټور اثر (په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**محاکمه) ولیکه، چې نـړدې ده د افغانســتان جګــړې او بــدمرغیو د جنایتکارانو موضوع دنړۍ له ذهنه او زموږ د اوسني پښت لــه یــاده ووځي. استاد تره کي د خپل دې اثر په لیکلو سره خپل ملي،هېوادنی او انساني رسالت ترسره کړ او دا ستره موضوع یــې لــه هېرېــدو څخــه وژغورله. استاد خپل اثر د پوهنیزو اصولو له مخې په دومره سړه سینه لیکلی، چې هېچاته په کې د کینې له مخې ګوته نه ده نیــول شــوې، بلکې ده د جنایت څرنګوالی تشریح کــړی دی. هغــه څــوک چــې د جنایتونو د تشریح په دې هنداره کې خپل ځان او څېره دیو عامل په توګه ویني، طبعاً به جنایتکار وي او دخپل ولس پر وړاندې مسئول. په دې کتاب کې د ناپېیلتوب اصول په ټینګه مراعــت شــوي، دملــي او نړیوالو اصولو او معیارونو له مخې جنایتونه ډلبندي شوي او د جګړې حقوق او د بشر حقوق تشریح شوي دي. هر چا چې دا حقوق تر پښــو لاندې کړي وي، هغه جنایتکار ګڼل کېږي.**

**ددې کتاب بله ښېګڼه داده، چې د جنایتکارانو د نیونې اویوې ملي او یا نړیوالې محکمې ته د هغوی د سپارنې په باب هم لارې چارې پــه کې په ګوته شوي دي.**

**که چېرې ددې کتاب پر محتویاتو عمل وشي، پــوره بــاور دی چــې جنایتکاران به د خپل عمل سزا وويــني، کــه چېــرې دا جنایتکــاران محاکمه نه شي، نو ددې مانا به دا وي چې زموږ په ټولنه کې د نــورو جنایتونو لپاره هم لاره خلاصه ده، ځکه چې راتلونکي جنایتکاران به د خپل ژوند برخلیک له تېرو هغو سره یو شــان وګڼــي او کــه چېــرې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



محاكمه شي، نو ګټه به يې دا وي چې د راتلونكو جنايتونو مخـه بـه ونيول شـي او هغـه غصـه او عقـده چـې د ملـت پـه زړه كـې ددې جنايتكارانو له لاسه پيدا شوې، هغه به هم اوراه شي، ټولنه به د نظم او سالم ژوند خواته روانه شي او د سوكاله ژوند هيله او ډاډينه به يې پياوړې شي.

زه د هېواد تكړه ملي مبارز، ځېرمن ليكوال او سياسـتپوه ښـاغلي استاد پوهنوال محمد عثمان روستار تره كي ته ددې ارزښتمن كتاب د چاپ له امله مباركي وايم او د نورو برياليتوبونو هيله يې كوم.

ښاغلي محمد حيدر اقبال پښتونيار هم د زياتې مننې او ستاينې وړ بولم، چې ددې كتاب د پښتو او دري دواړو متنونو چاپ لګښت ته يې اوږه وركړه او خپل ملي او فرهنګي رسالت يې يو ځـل بيـا پـه زبـات ورساوه.

په فرهنګي مينه او درناوي


پوهنيار محمداسمعيل يون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لغمان او اوسنی فرهنګي بهیر

کله چې موږ د پښتو ولسي شاعرۍ او په تېره بیا معاصرې شاعرۍ ته ګورو، نو د لغمان ونډه مو په کې ډېره زیاته سترګو سترګو ته کېږي، په ولسي شاعرۍ کې له شیخ احمد خان ، ملا عبدالحنان، محمدنور، حیاخان، الینګاري، پټان، حیران، عاشق الله فریاد، عسکرچالاک،مختار،بسم الله ګلکاریوال، عارف ګاډیوان،غمخور، بسم الله چلمټیوال او نورو په سلګونو ولسي شاعرانو له ادبي مرغلرو




رانیولی، بیا د ښایسته ګل تر لوڅو نظمي ټوټو پورې ټول هغه څه دي، چې د کلونو په اوږدو کې یې د لغمان د خلکو زړونه او ذهنونه خړوب کړي او کله چې بیا له دې خوندورې اوبې تکلفه شاعرۍ سره د لغمان د ولسي سندرغاړو، ګلکي استاد، ملاګي استاد، پاینده محمد، شا ګل، روژه ګل، عزیزالله، نصرالله، اشرف او نورو د سندرو شور هم ملګرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی، نو نه یوازې یې د لغمان ولسي شاعري ځلولې، بلکې د ټول لغمان نوم یې  هم ښه ځلولی او روښانه کړی دی. د لغمان د طبیعـــي ښــکلا شاعرانه او ښکلاییز چاپېریال تر څنګ ښایي دلغمان د ولسي شاعرۍ او موسیقۍ پاخه بنسټ اوګډ امتزاج علت به وي، چې د لغمان په زیاترو او یاکه ووایو د ټولو اوسېدونکو په ذهن او خیال کې دشــاعرۍ تومنــه پرته ده.

په ټول لغمان کې به داسې ډېر کم څوک پیدا شي، چې د هغه  دې د شاعرانو  څوبیتونه  له یاده نه وي زده او داسې خلک خو په لسګونو زره دي چې یو ځل یې د شعر لمن نیولې، تر یوه ځایه یې ورسره مزل کړی دی. که دا تېر درې ویشت کلنه غمیزه نه وای راغلې او دلغمان ولســي شاعرۍ او  ولسي موسیقۍ  همداسې غاړه غړۍ تر دې دمه رارسېدلې وای، نو پوره باور دی، چې نن به د لغمان  شاعري نوره هم ښه شوې وه.

که له ولسي شاعرۍ راتېر شو، نو د پښتو په معاصره شاعرۍ کې هم لغمان ونډه ډېره پخه او درنه ده، د پښتو د معاصرې شاعرۍ لــه پنځــو ستورو یو ستوری (استاد الفت) د لغمان پر اسمان ځلېدلی، لــه غــلام حسن خان ساپي، استاد ګل پاچا الفت،  سعید افغاني، منــان ملګــري رانیولې بیا داوسني پړاو تر کاوون تو پاني، اسحق ننګیــال، شهســوار سنګروال، عزیز تحریک او په سلګونو نورو ټولو د پښتو لمن ډکه کــړې اوښه په مینه او اخلاص یې ورته  خدمت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څېړنې او پلټنې په ډګر کې کــه مــوږ یــوازې د ســرمحقق زلمــي هېوادمل خدمتونه یاد کړو، نو خوله مو پرې ډکېږي او د ویاړ وزرونه مو پرې غوړېږي او کله چې بیا د چاپ او خپرونې خبره کوو،نو هلته خوبیا هم لغمان یو زمری خپرندوی(اسدساپی) لري، چې تــر اوســه یــې پــه لسګونو، نه په سلګونو عنوانه کتابونه خپاره کړي او که خدای کول یو وخت به یې شمېر زرګونو ته‌وکو ته هم ورسېږي.

د تمثیل په هنر کې بیا (ممنون مقصودي) یو بل نوښــت وکــړ او د کونډې زوی په سریال کې د مرکزي رول په لوبولو سره یې په تمثیلــي ډګر کې هم د لغمان تله درنه کړه. که په هنري ډګر کــې د لغمانیــانو د ونډې په باب هر څومره وغږېږو اوډېر څه هم ولیکو بیا به هم کــم وي. اوس زما د قلم څوکه دې خبرې ډېره نیولې، چې زه خپله لغمانی یم او موږ بیا دهغو سپاهیانو په شان نه یو چې خپل ځان خپله ستایي، خو که زه د ګران هېواد د بلې سیمې وای نــو بیــا خــو بــه مــې زمــوږ د پېښوریانو ورونو په اصطلاح د لغمان خلکو د هنري خدمت حق ادا کړی وای ، خو اوس یوازې غواړم په لغمان کې د تانداد‌بي بهیر او ددې تذکرې په اړه څو لنډې څرګندونې وکړم:

څلور کاله د مخه له ډېر اغزن سیاسي اوذهني چاپېریال سره سره د لغمان یو شمېر ځوانو لیکوالو او شاعرانو وپتېیله چې په لغمان کې یــو ازاد او خوځنده ادبي غورځنګ پیل کړي، دوی که هــر څــومره هڅــه وکړه، چې د ټول لغمان په کچه د یو ادبي خوځون هسته جوړه کړي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دهغه وخت د لغمان او په تېره بیا د کابل فرهنګي چـارواکو ددې کـار مخه ونیوله او ډېر سخت مخالفت یې وښود، وروسته بیا همدا لیکوال اړ شول چې د یوې ولسوالۍ له کچې خپل ادبي تحریک راپیل کړي، پـه دې کار کې دوی بریالي شول، هماغه و چې د ((الینګار فرهنګي یون)) په نامه یې یوه فرهنګي ټولنه جوړه کړه، په پیل کې واکمنو هم په دوی پسې دومره سر ونه ګراوه او د فعالیت اجازه یې ورکړه، الینګار فرهنګي یون په ډېره لږه موده کې وکړای شول د خپلو غړو شمېر یو سلو شلو تنو ته ورسوي. د یوه کال په بهیر کې یې تر لسو زیاتې فرهنګي، ادبي غونډې ، مشاعرې او څو سپورتي لوبې جوړې کړې، د الینګار ولسوالۍ په کچه یو مناسب کتابتون جوړ شو، چې له پېښور او نورو بېلابېلو سیمو څخه ورسره یو زیات شمېر لیکوالو د کتابونو مرسته وکړه، په سـیمه کې د کتاب لوستلو یو نوی پړاو پیل شو، دې ادبي تحریـک ولسـي او اصلاحي بڼه ونیوه او ډېر خلک یې لېوال او مینه وال شول، خو بل کال لا د بره شوی نه و، چې د واکمنو د صبر کاسه نسکوره شوه اوپر الینګار فرهنګي یون یې یرغل وکړ، کتابتون یې لوټ کړ او د الینګار فرهنګي یون د مشرتابه پر نیولو یې پیل وکړ، دمشرتابه جرګې دوه غړي ښاغلی سیدحبیب شاه ملتمل(پاچا صیب) او عمر وفا یې لاس تړلـي بوتلـل، لومړی یې ننګرهار، بیا یې کابل ته انتقـال اود اسـتخباراتو پـه اووم ریاست کې یې بندیان کړل،د مشرتابه بل فعال غړی(روښان) پېښور ته پر اوښتو بریالی شو او نورو غړو یې درې میاشـتې جېـل وګالـه اوبیـا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشې شول، تر هغه وروسته په لغمان کې فرهنګي کار یو څه ټکنی شو، خو بیا هم شخصي هڅې روانې وې، خو کله چې لغمان کې ملا خیرالدین حقپال(یاد دې یې په خیر وي) د لغمان د اطلاعاتو او کلتور د رئیس په توګه وټاکل شو، نو سره له دې چې د واکمنو ذهنونه بیا هم د پخوا په شان وو، خو ده په شخصي او خصوصي توګه د لیکوالو هڅولو اوفرهنګي خدمت ته ملا وتړله، دا ځل د لغمان په کچه یو داسې ادبي انجمن جوړ شو، چې د واکمن نظام تر پالیسۍ دننه یې کار کاوه. خو بیا هم د ځوانو استعدادونو د غوړېدو لپاره یوه ګټوره هڅه وه، دوی غوښتل چې د لغمان لپاره ( دلغمان) په نوم یوه مجله چاپ کړي، خو ترپایه بریالي نه شول.

ښاغلي عزت الله شمسزي د لغمان د همدغه ادبي بهیر یوه مېوه ده، سره له دې چې ده لا د عمر ډېر پسرلي نه دي تېر کړي، خو د فرهنګي زیار او کار تجربه یې ډېره پخه ده، ده درې څلورکاله د مخه هوډ کړی و، چې د لغمان د هغو ځوانو شاعرانو یوه تذکره چاپ کړي، چې تر اوسه یې د ځانګړې مجموعې په توګه شعرونه نه وي خپاره شوي، ځکه نو په دې تذکره کې له یو دوو استثنایي بېلګو(ارشاد صیب او هاشمي صیب) پرته ټول هغه شاعران راټول شوي ، چې تر اوسه یې د شعرونو ځانګړې مجموعه نه ده چاپ شوې.

هسې خو په لغمان کې شاعران تر شمېره وتي او د ټولو د شعرونو چاپ هم په یوه تذکره کې ناشونې خبره ده، نو ځکه خو شمسزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



صیب ددې شاعرانو لپاره یو برید وټاکه، مانا دا چې ولسي شاعر نه وي، عمر یې ډېر لوړ نه وي او ځانګړې شعري مجموعه یې نه وي چاپ شوي. د لغمان دپخوانیو او ځوانو ولسي شاعرانو لپاره ښایي نورې تذکرې په پام کې نیول شوي وي، خو د شاغلي شمسزي ددې برید دننه بیا هم ډېر شاعران پاتې شوي دي، چې دیوې بلې ځانګړې تذکرې د خپراوي غوښتنه کوي، زه هیله من یم چې دی د بلې تذکرې لپاره هم ملا وتړي او هغه شاعران چې له دې تذکرې پاتې وي، هغه په بله کې خوندي کړي.

کله چې شمسزي صیب ددې تذکرې په ترتیب او لیکلو پیل کړی و، نو هماغه وخت موږ ددې تذکرې د چاپ لګښت د راټولولو په فکر کې وو، په پای کې موږ په دې بریالي شو، له دغو ښاغلو سره چې ددې تذکرې د چاپ لګښت یې برابر کړی خپلې اړیکې ټینګ کړو، دوی ته مو ددې تذکرې د چاپ د لګښت یادونه وکړه او دوی په ورین تندي ومنله، نو ځکه زه لومړی د ځان او بیا ددې تذکرې دشاعرانو په استازولۍ لــه دغو ښاغلو څخه د زړه له کومي مننه کوم، چې ددې ګډې شعري ټولګې د چاپ لګښت یې برابر کړ.

لکه څنګه چې مو ددې تذکرې د برېد پــه اړه څرګنــده کــړه، نــو د شعرونو په اړه یې هم دا ټکي د یادونې وړ دي: ددې تذکرې ټول شعرونه دومره لوړ هم نه دي، چې سړی ورته د (خو) ګوته ونه نیسي او دومره کمزوري هم نه دي چې هېڅ په چاپ نه ارزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځینو شاعرانو داسې شعرونه هم په کې راغلي چې د پښتو د اوسنۍ شاعرۍ ښې پخې بېلګې او په اصطلاح لوړ معیاري شعرونه دي، خو ځینو شعرونو کې بیا ځینې کمزوري ټکي او نیمګړتیاوې تر سترګو کېږي او داطبیعي خبره ده، ځکه چې دې شاعرانو ته لا ډېر مزل پاتې دی او دا یې لومړنۍ تجربې دي، دبېلګو له راوړول څخه ځکه ډډه کوم چې تذکره خپله ستاسو په لاس کې ده.

په ټولیز ډول دې تذکره کې د منځنۍ کچې او معیار شعرونه ډېر زیات دي.

ښاغلي شمسزي صیب پر داسې وخت ددې تذکرې چاپ او خپراوي ته ملا وتړله چې نور ګڼ شمېر فرهنګي بوختیاوې هم ورترغاړې شوي دي، خو له دې سره سره بیا هم پر دې بریالی شو، چې دهر شاعر پر ژوند لیک سربېره دهغه دشعرونو پر څرنګوالي هم یو څه رڼا واچوي.

زه ښاغلي شمسزي اوپه دې تذکره کې ټولو راغلیو شاعرانو ته ددې تذکرې د چاپ له امله مبارکي وایم ، پښتو ادب او تذکره لیکنه کې یې یوه ګټوره زیاتونه بولم.

په فرهنګي مینه

اسمعیل یون


۱۳۸۰ل کال، پېښور-پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو غږ پوهنه او ویپوهنه

استاد پوهنوال محمدصابر خویشکی د کابل پوهنتون دژبــو او ادبیــاتو پوهنځي د پښتو څانګې یو پخوانی او تجربه کار اســتاد او لــه ۲۵ کلونــو راهیسې په پښتو څانګه کــې پــر تــدریس بوخت دی. استاد خویشکي د خپل تدریس په بهیر کې زیات وخت پښتو فونولــوژي- مورفولــوژي (غــږ پوهنــه او ویپوهنــه) او (صرف) او (نحو) تدریس کــړي دي. ده نــه یوازې په پښــتو څانګــه، بلکــې د کابــل پوهنتون د نورو پوهنځیو په ځینو څــانګو کې چې پښتو په کې د یو مضمون په توګه تدریسېږي، اوږده موده تدریس کــړی او د پښتو تدریس ښه پخه تجربه ورسره مل ده. دا کتاب یې هم د پوهنــوالۍ علمي رتبې ته تیسس او هم د همدغه ۲۵ کلن تدریس او ګنــو تجربــو نچوړ دی، چې پښتانه او نا پښتانه محصلین ترې ښه ګټه اخیستلای شي.




په دې کتاب کې پښتو غږونه، د هغو شکلونه، ویونه، ویکي، تــاړي، د نوم ګردان اړخونه، د نومونو وېش، ضمیرونه، قیدونه، فعلونــه، د جــنس او زمانې له مخې د فعل حالتونه، لنډه دا چې د (غږ) او (کلمې) ټولې خواوې په ښه مفصله توګه څېړل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ا اثر د پښتو (صرف) په برخه کې یو بل منظم، سســـتماتیک او گټــور کتاب دی، چې په ډېروه روانه او پسته ژبه لیکل شوی او هر چاته ترې گټه اخیستنه شونې ده. هیله ده استاد پوهنوال محمدصابرخویشکی  د پښتو گرامر دا لړۍ د جمله پوهنې(نحو) تــر برخـــې پــورې ورســوي او دپښـــتو گرامرونو په لړۍ کې یوه بله  غوره زیاتونه وکړي.**

**په فرهنگي مینه**

**پوهنیار محمد اسمعیل یون**


**۱۳۸۰ ل کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ((زړه کلا)) کې یو عالم خبرې

په اوسني پښتو ادبي بهير کې ښاغلی وکيل شينواری د هغو ليکوالو له جملې څخه دی چې قلم يې ځواکمن او فکر يې پوخ خو شهرت يې کم دی، د دې کار يو لامل شايد دا وي چې




د ده ذهني دايره له ځاني کچې څخه يوې ملي او انساني کچې ته پراخه شوې ده.

د همدغه ملي، هېوادني او فرهنګي ارمان د پالنې او ځلونې لپاره يې له فرهنګي بلهارۍ نه نيولې تر مالي قربانۍ پورې ټولو ته اوږه ورکړې، پېښور مېشتو او هېواد مېشتو ليکوالو د ستونزو کمولو او د هغو د اثارو د خپرولو لپاره يې مالي مرستې کړي، د هيلې مجلې د پرله پسې (۲۳)مې ګڼې چاپ لګښت يې ورکړی، په بهر کې يې افغاني فرهنګي ټولنو د خوځون، پيوستون او د کار د اغېزې لپاره هلې ځلې کړي او د يو شمېر نورو خپرنيزو فرهنګي کارونو په هڅونه کې يې ونډه اخيستې ده. خو تر ټولو ستر او غوره فرهنګي خدمت چې شينواری صاحب د هغه پر تر سره کولو بريالی شوی، هغه د کال غوره ادبي، سياسي، تاريخي او ټولنيزو دريو عنوانو غوره پښتو کتابونو ته د جايزو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکول دي، دا کالنۍ جایزې ( د استاد الفت، استاد حبیبي او استاد شېرزاد یعقوبي) په نومونو دي، چې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې له خوا هر کال ورکول کېږي. د دې مانیزو جایزو مادي ملاتړ د همده له خوا برابرېږي، هرې جایزې سره به (۱۲) ملیونه افغـانۍ یـا ( لـس زره کلدارې) ملې وي. د استاد الفت په اند په یوه ټولنه کې د یـو انـدیال (مفکر) په اندېول د فکر پالونکي او روزونکي مرتبه څکه لـوړه ده چـې فکر پالونکی د ټولنې نور وګړي هم روزي او ټولنې ته یې وړاندې کوي.

د وکیل شینواري دا روزنیز او هڅندوی کار له دې کبله هم د زیاتې ستاینې وړ دی چې هغه نه کوم لوی پانګوال دی، نه هم کوم سوداګر، یو عادي بهر مېشتی افغان دی چې د خپل تندي د خولو په محصول، خپل ملي فرهنګ پالي او غوړوي یې. په داسې یو اقتصـادي دریـځ کـې د داسې یوه غوره فرهنګي خدمت ترسره کول خپله پر اقتصادي لېوالتیا باندې د لیکوال د فرهنګي مینې او جذبې غلبه او واکمني څرګندوي. دلته یو شمېر لیکوالو سره دا وېره وي، چې لیکوال یو ځـل لـه خپـل چاپېریال څخه لرې او پردی شو، بیا نو بېخي پردی شو او راخپلول یې ډېر ګران دي، خو زموږ یو زیات شمېر لیکوالو لکه عبدالمالک بېکسیار، زرین انځور، لطیف جان بابي او په لسګونو نورو دا ثابته کړه، هغه څوک چې د ملتپالنې او ژبپالنې په خم کې رنګېدلي وي که هغه د دنیـا هـر ګوټ او هرې ټولنې ته لاړ شي، د بلې ټولنې رنګ او خوند یـې د زړه او ذهن چاپېریال، مینه او ولوله نه شي بدلولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکیل شینواری هم د خپل ذهني بلوغ په داسې یو پړاو کې بهر مېشتی شو، چې پردي کلتور او د هغو مصنوعي ښکلا او ځلا یې پر هېوادنۍ مینې او ولولې د بدلون اغېز شیندلای نه شو. ځکه نو همغه هنرمن او همغه وکیل شینواری چې و همغه پاتې شو.

( زړه کلا) د ده د لنډو کیسو لومړنۍ ټولګه ده چې زموږ د ټولنې د بېلابېلو اړخونو په تېره بیا د شلکلنې جګړې او د هغې د بدمرغیو ژوره انځورنه په کې شوې ده.

دا چې د دې لنډو کیسو یو شمېر کرکټرونه رواني ناروغان دي دا هم څه ناڅاپي خبره نه ده، دا هم په ژور او رواني ډول د هغې رنځورې ټولنې تصویر دی، چې په څه کم دونیم لسیز ژوند کې له هر ډول ناروغیو سره مخ شوې، وګړي یې د مختلفو ګروهو په ځېل کې راټاله شوي او یو د بل مرګ ته روزل شوي دي.

لیکوال په ډېر مهارت سره په دې بریالی شوی، چې په (زړه کلا) کې د خپلې ټولنې او خپل هېواد او پر هغو د تېر شوي ناتار تصویر وړاندې کړي. په دې لیکنه کې لیکوال څرګندوي چې کله په ټولنه کې د هغې وګړي پر بېلابېلو متضادو افکارو ووېشل شي، لومړی ذهني او بیا فزیکي ټکر رامنځته کېږي او ټولنه له ګډوډۍ سره مخامخېږي او د هغې د ارزښتونو د له منځه تلو سبب کېږي. په (زړه کلا) کې هم د کلي د خلکو او ان د یوې کورنۍ د غړو ذهني اختلاف د دې سبب شو چې ټوله کلا ونړوي او بیا د یو بل پر ضد مورچلونه جوړ کړي، پلار د زوی او زوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پلار پر ضد ودرېږي. په (بدې) لنډه کيسه کې ليکوال د (احســاس) او (مجبوريت) ترمنځ د مقابلې انځور وړاندې کړی او دا ښيي چې کــه پــه ټولنه کې د مجبوريت عامل ختم شي، نو د ټولنيزې ناروغۍ او فســاد مخه نيول کېدی شي. دی په دې کيسه کې د کيسې د مرکزي کرکټر د احساس وروستی مقاومت ځرګندوي چې له خپل مجبوريت سره سره يې د بدو په مقابل کې ځرګندوي، خو هغه ته هــم پــه ګــران قيمــت پرېوزي.**

**په (زړه کلا) کې د راغلو لنډو کيسو يوه ښېګڼه دا هم ده چې اکثره لنډې کيسې يې مثبت پيغامونه لري، ليکوال د پېښو کټ مــټ بيــان پسې نه دی تللای، بلکې پېښې يې داسې غځولي چې لوستونکی ترې د ژوند لپاره يو مثبت پيغام ترلاسه کړي. د ليکوال اساسي رسالت او د يوه ادبي اثر ښېګڼه هم په دغه ځای کې ده چې ليکوال په دې بريالی شي چې هم د پېښې انځور وکاږي او هم داسې يوه پايله د لوســتونکو مخې ته کېږدي چې هغو ته د خلاصون او ژغور لاره وروښيي.**

**وکيل شينواری په ( باران او بنيادمان) لنډه کيسه کې لوستونکي ته دا ځرګندوي، چې د يوې ټولنې خلک که په ډله ييــز ډول پــر ټــولنې باندې د يوه راخور شوي غم او ناتار درملنې ته ورودانګي، نو د خلاصون لاره يې شته او که نه يو د يو هيلې او بل د بلې هيلې ته ناســت وي، د عمل پر ځای پر خبرو بوخت وي نو د ټولو مخ به د ژوند او کور پر ځای د هديرې پر لوري شي. په (ماران او بنيادمان) کيسه کې همــدا مفهــوم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وړاندې شوی، هلته مارانو د کلي باغ کې ځای نیولی او هر کلیوال چې باغ ته ورځي بېرته ترې ژوندی نه شي راوتلای، نو ځکه خو په پای کې د ټولو کلیوالو هدیرې ته مخه شوه.**

**په ( کلي او موټر) کې هم همدا شان یو ستر ټولنیز او هېوادنی ارمان نغښتل شوی او د ټولنې د پرمختیا او هوساینې لپاره یې لاره په ګوتــه کړې ده، په دې لنډه کیسه کې موټر د یو هېواد، موټروان د یو لارښود یا مشر او سورلي د خلکو لپاره سمبول ټاکل شــوي. د لارې او ســړکونو ویجاړي د هېواد ناوړه سیاسي حالات ګنل کېږي، چې که چېرې مــوټر زوړ وي، لارې هم خرابې وي او موټروان هم نوی او تنبل وي او بیا لا دا چې د یوه زاړه موټر لپاره څو نوي او بې تجربې موټر چلوونکي راټــول شوي وي او هر یو د موټروانۍ دعوه کوي نو خدای خبر که سورلۍ تــر خپله ځایه ورسوي. له دې کیسې نه داسې پیغام ترلاسه کېږي چې که پر یو هېواد جګړه تېره شوې وي او هېواد ځپل شوی وي، نو د هغه لپاره یو اندیال (مفکر) او مدبر لارښود ته اړتیا ده چې خپل هېواد له اغــزن سیاسي چاپېریال او ناخوالو څخه راوباسي.**

**(تړلې غوټه) او د (ډولۍ) د جګړه ییــز مهــال د پېښــو دردوونکــي انځورونه وړاندې کوي.**

**په دې لنډو کیسو کې ځینې داسې لنډې کیسې هم شته چې هغه د انسانانو (وګړو) رواني حالت څرګندوي لکه (خوب، پښېمان، څېرې او اندېښنې). په دې کیسو کې لوستونکي د کیسو د کرکټر د رواني حالت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تل ته ورننوزي او له هغه څخه يوه ټوليزه نتيجه او پيغام ترلاسه کوي. په پښتو ادب کې داسې لنډې کيسې چې د انسان روحي حالت انځورنې ته زياتې ځانګړې شوې وي، ډېرې نه دي. د دې ټولګې يوه ښېګڼه دا هم ده چې دا برخه هم په کې رانغښتل شوې ده.**

**ددې ټولګې پر هره لنډه کيسه ډېرې خبرې کېدی شي، د ګڼو ښکلاوو ترڅنګ به ځينې نيمګړتياوې هم ولري، خو پر هر اړخ به يې درانه لوستونکي او کره کتونکي تر چاپ وروسته خپله قضاوت وکړي او وبه يې ارزوي، خو زه د دې کيسو د يو لوستونکي او د ادب د يوه مينوال په توګه د ژبني بيان، د فکر د پوخوالي او دمثبتو پيغامونو له پلوه دا ټولګه يوه بريمنه او شتمنه مجموعه بولم، ليکوال ته يې مبارکي وايم او د نورو بريو هيله يې کوم.**

**په ټوله فرهنګي مينه**

**پوهنيار محمد اسمعيل يون**

**۱۳۸۰ل کال**

**پېښور- پښتونخوا**


(c) ketabton.com: The Digital Library



## (( افغانان په استرالیا کې)):

# زموږ د تاریخ یوه بله پاڼه

افغانانو د تاریخ په اوږدو کې له وياړه ډکه ډېرې کارنامې کړي، خو دا کارنامې لکه څنګه چې دي هغسې د لیک په دایره کې نه دي راغلي او




له خپل شان او کیف سره سمې نه دي څلول شوي. نه یوازې تر هېواده بهر د افغانانو د اتلولیو د تاریخ ډېر ګوټونه ناڅرګند پاتې، بلکې په کور دننه کې هم داسې ستري تاریخي پېښې او تاریخي شخصیتونه شته چې پوره او کره څرګندتیا او څلا یې لا اوس هم ډېر کار او زیار غواړي.

له نېکه مرغه په دې تېرې یوې یوې نیمې لسیزې کې د افغانانو د تاریخ په تېره بیا معاصر تاریخ په باب ګڼ شمېر اثار چاپ شوي، دې اثارو کې د بهرنیو افغانپوهانو او خپله د افغان لیکوالو دواړو اثار شامل دي، چې د افغانستان د تاریخ ډېر تیاره ګوټونه یې روښانه کړي دي. دا دی (( افغانان په استرالیا کې)) تاریخي اثر ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لړۍ یوه بله مهمه کړۍ ده، چې د هېواد پیاوړي لیکوال استاد پوهانــد حمیدالله امین لیکلی دی.

دا تاریخي اثر لکه څنګه چې له نامه څخه یې ښکاري په استرالیا کې د افغانانو ژوند، مهاجرتونو، کار، فعالیت او تجارت ته مختص شوی دی. په دې کتاب کې استرالیا ته د افغانــانو د لــومړي مهــاجرت، د لارې د ستونزو، هلته د مېشته کېدنې، په استرالیا کې د دوی پــر وړانــدې د تبعیضي چلند، د افغانانو د کار، فعالیت، تجارت او په مجموعي ډول د افغانانو د کارنامو په باب هر اړخیز معلومات وړاندې شوي.

لیکوال په ډېر دقت سره د هغو بهرنیو لیکوالو اثار چې په اســترالیا کې د افغانانو په باب لیکل شوي، له نظره تېر کړي او خپله یــې هــم د معلوماتو د راټولولو لپاره استرالیا مېشتو پخوانیو او اوسنیو افغانانو ته د لومړي لاس اخځ په توګه مراجعه کړې او کره معلومات یې ترې راټــول کړي دي. د استرالیا بېلابېلو سیمو ته چې کوم ځای کــې د افغانــانو د ژوند څرک لګېدلی یا ترې د کورونو او مسجدونو په څېر ژونــد نښــې پاتې، ورغلی او په تصویري او نقشه ییز ډول یې دا اسناد په کتاب کې خوندي کړي دي. ددې کتاب له لوستو څخه سړی دا نتیجه اخیستلای شي، لکه څنګه چې افغانان په جنګ، توره او مېړنتوب کې مشهور دي، تر هغه زیات په زغم، تحمل، فرهنګ جوړونه او تمدن جوړونه کې ښــه استعداد لري، خو د افغانانو د استعداد دې اړخ تــه لیکوالــو خصوصــاً بهرنیو لیکوالو ډېره پاملرنه، نه ده کړې. له نېکه مرغه چې په دې اثر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر دې اړخ باندې هم زیاته رڼا اچول شوې. لیکوال په استرالیا کې د افغانانو په باب لیکي: (( دوی د پینځو کلونو لپاره د استرالیا په لویې وچې کې د ترانسپورتي نظام بشپړ کنترول په لاس درلود، ځکه نو د نولسمې پېړۍ په دویمه نیمایي او د شلمې پېړۍ په لومړیو شلو کلونو کې په استرالیا کې د تجارت او اقتصاد وده او همدا شان د استرالیا په مرکزي برخو کې د علمي څېړنو پرمختګ ټول د دوی د زیار او هاند نتیجه ده.))

لیکوال زیاتوي:

(( اوس د استرالیا حکومت هغه جوماتونه چې دوی (افغانانو) جوړ کړي وو، د دوی یو شمېر کلي او حتی هدیرې د هېواد د تاریخي اثارو په توګه پېژني او د هغو ساتنه کوي، ځینې پارکونه، سړکونه او حتی د غرونو څوکې د دوی په نومونو یادېږي او هغو اورګاډو چې په جنوبي استرالیا کې د دایلاید له ښار څخه په شمالي استرالیا کې د Alice Springs ښار ته په پخوا وختونو کې تګ راتګ کاوه او د افغانانو په نوم یادېده، یو ځل بیا یې ( Ghan Express) په نامه چې هماغه تاریخي نوم دی په فعالیت پیل کړی دی.))

((افغانان په استرالیا کې)) اثر پر یوې پیلیزې او سریزې سربېره یوولس څپرکي لري، چې ((اوښان په استرالیا کې)) پر موضوع پیل او د ((افغانانو کلتوري انحلال)) پر موضوع پای ته رسېږي. لیکوال د هرې موضوع په باب مستند شواهد، تصویرونه او اسناد وړاندې کوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوستونکو ته د افغانانو د ژوندانه په هکله یو روښـــانه تصــویر وړانــدې کوي.

د کتاب اوچتې معیاري ژبې او کسه ییز بیان د اثر خوږلني نوره هــم زیاته کړې ده او لوستونکی تر پایه له ځانه سره ساتي.

زه قدرمن استاد پوهاند حمیدالله امین ته د دغه خورا مهم کتاب د لیکلو او چاپ له امله مبارکي وایم او رڼا علمي مرکز ته کورودانی وایم، چې دا قیمتي اثر یې چاپ کړ او درنو لوستونکیو ته هم ددې مهم کتاب د چاپ مبارکي وایم او د لوستو بلنه ورکوم.

په مینه او درنښت

اسمعیل یون


جلال اباد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فریاد سوي فریادونه

کله چې څوک د افغانستان په تېره بیا ختیزې سیمې او په هغې کې بیا د لغمان ولسي شاعرۍ ته نظر کوي، نو فریاد ورته د یوې نامتو او یادې څېرې په توګه په نظر ورځي.




د فریاد شعر له نږدې درې نیمو لسیزو راهیسې د محلي او وطني سندرغاړو له خولې زمزمه کېږي او خپله سندریزه فضا پرې ګرموي. په ختیزو سیمو، د افغانستان په نورو ډېرو برخو، ان په لرې پښتونخوا کې به داسې خلک کم وي، چې هغه دې موسیقي په تېره بیا ولسي موسیقي اوري او د فریاد له نامه سره دې اشنا نه وي. دا خبرې ددې ښکارندویي کوي، چې دفریاد شعرونه د موسیقۍ په تول پوره او کره دي او د ولس ذهن یې منلو او هضمولو ته تیار دی.

د ولسي شاعرۍ یوه غټه ښېګنه همدا ده، چې د ولس له ذهني کچې سره سم حرکت کوي، د هغوی شوق، ذوق، انګېرنې او خوښونې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې منعکس کېږي او د مانا بار يې دومره دروند نه وي، چې د چا پر ذهن بار شي.

ولسي شعر ته ځکه ولسي وايي ، چې دولس په ژبه ويل کېږي اوليکل کېږي، د هرلغت له لغوي او اصطلاحي مانا سره د ولس ذهن روږدی وي، د وزن او اهنگ له پلوه هم ولسي شعر هماغه اهنگ تعقيبوي چې د ولسي ژبې له اصلي سکښت او رغښت څخه راټوکېدلی وي. ولسي شعر ځکه د ولس خوښ وي، چې د تصنع او تکلف بار يې نه وي زغملی لکه څنگه چې په خپله بې تکلفه او بې ريا ژوند کوي، دغسې يې هنري پنځونې هم بې ريا او بې تکلفه وي.

کله چې موږ د فرياد صيب شاعري مطالعه کوو، نودده شاعرۍ کې هم د رښتينولۍ او ناتکلفۍ دا عنصر له ورايه معلومېږي، فرياد په خپله شاعرۍ کې هېڅ وخت داسې نه دي کړي چې کلمې واړوي راواړوي، مفهوم په کې ورک را ورک کړي، تصنعي وزن او اهنگ جوړ کړي او د خلکو په اصطلاح ځان داسې وښيي چې وگورئ زما شعر دومره ژور او دقيق دی، چې له ډېرې مانا يې څوک پر مانا نه پوهېږي، زموږ په اوسني روان شعري بهير کې يو شمېر شاعران د مانا دفقر پر رنځ اخته دي، بيا نو کوښښ کوي پر کلمو باندې د فشاري او تحميلي اهنگ له تپلو اودکلمو د نامناسب ادلون بدلون له لارې خپل معنوي فقر پټ کړي او بيا داسې تظاهر کوي، چې گنې زما شعر خو دومره ژور دی چې هر څوک يې پر مانا نه پوهېږي، حقيقت دا وي چې په دا ډول تکلفي او تصنعي شعرونو کې چې اصلاً د احساس جوهر نه وي، نو څوک به يې پر مانا څنگه پوه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له نیکه مرغه چې د فریاد شعرونو ته دتکلف او تصنع ناروغۍ لاره نه ده پیدا کړې، دده شعر چې سړی لولي نو په یو ځایي ډول یې یوه پوره مانا ذهن ته ورانتقالېږي او چې یې د (بخت زمینې) په شان نامتو سندرغاړې، په سندرو کې وایي نو سړی تـرې لا پـوره مانـا او خونـد اخیستلای شي.**

**زه د فریاد ددې ټولګې د شعرونو په سریزه کې له هماغه پیله پـه ولسي ادب او له هغه سره په تړاو کې دده پر شعرونو وغړېدم او هغـه خوند چې تل ماترې اخیستی دی مجبور یې کړم دا پورته کرښې ولیکم، دا خبره مې له یاده ووتله چې ووایم اوس زما مخې ته دده د غزلونـو یوه ټولګه پرته ده، څرنګه چې دده غزلې هم ډېرې د سندرغاړو له خوا له موسیقۍ سره ګډې ویل شویدي، نو کوم رنګ او خوند چې دده په شعرونو کې شته او ما ورڅخه یادونه وکړه، غزل یې هـم لـه همـاغو صفاتو یا تر هغه زیات خوندور دی، نو ځکه مې دا یادونه ضروري وبلله چې که ما یې دغه ټولګه لوستلې هم نه وای د نورو ټولګو له مخې مې لیکنه پرې کولای شوه، ځکه دلته زما موخه دده ټوله شاعري ده.**

**فریاد چې څه شعرونه لیکلي که هغه عشقي بڼه لري یا حماسي او یا یې هم هېوادني مسایل بیان کړي، نو په ټولو کې دی په خپله د یـوه کرکټر په توګه صادق او رښتینی دی، ځینې ادبپوهان په دې نظر دی، چې هر هنري اثر په تېره بیا ادبي اثر خپله د لیکوال د ذهني او عیني ژوند یوه تابلوه ده. بریالي لیکوال همغه دي، چې خپل ټاکلی روح، درد او احساس اود ژوند واقعي حالت د الفاظو د اعجاز په زور خپل هنري اثر ته ورانتقال کړي، دا چې فریاد ترکومه حده په دې کې بریـالی دی چې د الفاظو ډېرې ښکلې تابلوګانې لوستونکو ته وړاندې کړي، په دې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخه کې به په خپله لوستونکي قضاوت وکړي، خود اخبره ډېره ځرګنده ده،چې فریاد هر څه لیکلي د صداقت او درد له مخې یې لیکلي دي، وګورئ د (لور ) په نامه یوه غزل یې، دده د فردي ژوند یو ربښتینی انځور وړاندې کوي:

راتــــه یـــــادېږي ډېـــــره ډېـــــره نــــــازولې لــــورې
تــــا نــــه مـــې زار کـــړې پـــه زر واره زمابښـــکلې لـــورې
دا ستا پـــه یـــاد زه پـــه پـــردي وطـــن کـــې شـــپې تېـــروم
د پســـــرلي ښـــکلې وړمـــــه یــــې زمـــا ښـــکلې لـــورې
دلته په دې وطـــن کـــې هـــر څـــه هرڅـــه ډېـــر دي مګـــر
چوپـــه چوپتیـــا ده تـــه بـــه شـــوخه ګرځېـــدلې لـــورې
هر څه به هېر کړم خوستا اوښکې مې شوې داغ د زړګـــي
چـــې د راتلـــو پـــه وخـــت کـــې تـــا راتـــه ژړلـــې لـــورې.

همدارنګه دده هغه بل شعر چې (مور) یاني د ژوند تر ټولو مقـدس موجود ته یې لیکلی دی، هم له ډېر زیات سوز او درد نه ډک دی:

چـــــــــې ظالمـــــــــانو ځـــــــورولې مـــــــورې
پـــــه دې حـــــال مانـــــه وای لیـــــدلې مـــــورې
مقـــــام دې لـــــوړ دی تـــــر اســـــمانه رســـــي
ای دردېـــــــــدلې ځورېـــــــــدلې مـــــــــورې
ســـــتا لـــــه زخمـــــي زخمـــــي ټټـــــره لـــــوګی
پـــــه کـــــړاوو کـــــې لوبېـــــدلې مـــــورې
څـــوک بـــه دې وپوښـــتي چـــې څـــه تېـــر شـــوي
لـــــه خپـــــل تقـــــدیره ژړېـــــدلې مـــــورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د فریاد غزلونه نه یوازې د موسیقۍ د اهنګونو په تول پوره او کــره دي او سندرغاړو ته تیار دیوکمپوز شوي شعر بنه لري، لکه څنګه چې مو یادونه وکړه له ځانګړي فردي او اجتماعي سـوز او درده هـم ډک دي، وګورئ دا غزل یې:**

**ما د ځان پــه ویـر کــې دواړه ســترګې ســرې کــړي**
**پـــــه ژړا ژړا مـــــې دا ســــوې نـــارې کـــــړې**
**مومنـــــانو کـــــه پـــــه داد مـــــې ورســـــېږئ**
**ظالمـــانو مـــې لـــه تنـــه غوښـــې پـــرې کـــړې**
**نه مې خپل شته، نه مې دوست چـې مـې پکـار شـي**
**رقیبــــانو ځکـــــه ټـــوکې مســـــخرې کـــــړې**
**پـــه زړګـــي مـــې د هجـــران تـــورې تیـــارې شـــوې**
**تـــا چـــې زلفـــې پـــر ســـپین مـــخ خـــور ورې کـــړې**
**د ګلونـــــو پـــــه دیـــــدار مشـــــغول او مســـــت وم**
**هـــــره خـــــوامې د ګلونـــــو ننـــــدارې کـــــړې**
**تـــور بانـــه لکـــه خنجـــر پـــه زړه راښـــخ شـــو**
**زړه زخمـــي شـــو تـــورو وینـــو فـــوارې کـــړې**
**خـــــاص د مینـــــې تقـــــدس او احتـــــرام و**
**چـــې مـــا ځـــان بانـــدې قبـــولې غرغـــرې کـــړې**
**مفلســـــــي او بېکســـــــي دې دواړه ورک شـــــــي**
**ګنـــې یـــار بـــه پـــه مـــا کلـــه دا نخـــرې کـــړې**
**ای فریـــــاد عاشـــــق الله ســـــزا دې همـــــدا ده**
**چـــې بـــې رحمـــه بـــې وفـــا تـــه دې اســـرې کـــړې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله بېلګه يې هم وړاندې کوو:

زه د يــــار پـــه درد و غـــم کـــې لېـــونی شـــوم
کـــور او کلـــی رانـــه پـــاتې ســـاراني شـــوم
محبـــت دې پـــه ماهســـې چـــارې وکـــړې
د مجنـــون غونـــدې د خلکـــو خنـــدني شـــوم
راښـــکاره شـــه پـــه مکېـــز او پـــه نخـــرو کـــې
د بېلتـــون لـــه لاســـه ســـوی ســـپېلني شـــوم...
همداسې تر پايه...

په دې شعري ټولګه کې د فرياد دشاعرۍ د دېرش کلن بهير متفرقه شعرونه راغلي دي، البته تر دې دمخه هم دفرياد د شعرونو دوه ټولګې چاپ شوي دي. خو دده د ټولې شاعرۍ پرمختيايي بهير ته چې مـوړ وګورو، شعري پرمختيايي بهير يې لکه د سمندرګيو د اوبو د بهير پـه شان ارام ارام روان دی، داسې نه دی لکه د سيلاب د اوبو په څېر چې يو ناڅاپه راپيدا شي، چټک سرعت سره بېرتـه خـتم شـي. دده پـه شاعرۍ کې دده فطري ذکاوت او شاعرانه طبيعت ډېر موثر ښکاري، هغه شاعري چې ورو خو متداوم پرمختګ کوي، عمر يې هم زيات وي نظـر هغې شاعرۍ ته چې يو دم وده وکړي.

فرياد نه يوازې يو شاعر دی، بلکې يو ټولنيز، سياسي او فرهنګيالی شخصيت هم دی، ليکوال دی او اديب، د رزم او بزم د دواړو مجلسونو لېوال او ګډونوال دی. سندريز محفلونه يې تر هرڅا زيـات خوښـېږي، لکه څنګه چې د شعر پر صور او خيال پوهېږي، دغسې د موسيقۍ پـه سُر او تال هم ډېر ښه پوهېږي، روزنيزه خوا يې هم ډېره غښتلې ده او تر اوسه يې په سلګونو ځوان شاعران او ليکوال روزلي او تشويق کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، ملتپالنه یې تر هرچا زیاته خوښېږي اوپښتو پالنه کې خو دومـــره زړور دی چې ډېر امتیازونه یې د پښتنو له سره قربان کړي دي.

پر ځان متکي او باوري شخص دی، د ژوند هرې ناخوالې ته یې اوږه ورکړې او ورکوي یې او د ژوندانه مایوسۍ ته یې ځان نـــه دې تســـلیم کړی، زه نور د درنو لوستونکو وخت نه نیسم، د هوډمن ژوند او پر ځان باوري شاعر فریاد صیب ته دده د درېیمې شعري ټولګې د چاپ له امله د زړه له کومي مبارکي او د نورو هنري پنځونو په هیله یې یم.

په مینه

اسمعیل یون

کابل

۲۲/۱۱/۱۳۸٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانستان د مکیاویلي په سیاسي فورمولونو کې

سیاسي او ټولنیزې چارې د سیاسي هغو په شـان نـه دي، چـې د ریاضي او کیمیاوي فورمولونو په واسطه حل او اوارې شي، د سیاسي او اجتماعي پېښو په ډلبندۍ او پایلو کې وخت او شېبې، ځای او ځایگی، احساسات او عواطف، ضوابط او روابط، استثنات او واقعات او نور ډېـر مسـایل خپل خپـل اغېـز لـري، خوساینسـي مضامین او مسایل بیـا د خپلـو ټـاکلو علمي فورمولونو تابع دي، چې پـورتني یاد شوي مسایل په کې اساسي نقش نه لري، خو هغه ټولنیزې پېښې چـې پـه متواتر ډول د تجربو له لابراتوار راوتلې وي، د یو لړ اجتماعي فورمولونـو تـابع گرځي، متلونه او ځینې ولسي اصطلاحگانې، چې د ولسي او ټـولنیز ژوند لپاره د پرله پسې تجربو نچوړ دی، د اجتماعي ستونزو ، لانجو او مسایلو د حل او ثبات لپاره غوره اجتماعي فورمولونـه دي. سیاسـي مسایل ، پېښې او کړکېچونه ، چې د ټولنیز ژوند یوه اساسي برخه ده، هم د پرله پسې تکرار او ورته والي له مخې مشخصـو فورمولونـو تـه



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ورداخلېږي. سیاستوال د سیاسي پېښو له ورته والي څخــه د خپلــو سیاسي موخو د ترلاسه کولو لپاره د یوې تجربې په توګه په آني ډول ګټه پورته کوي؛ د پېښو تحلیل، شننې، شالید او مخ لید تــه دومــره زیات فکر نه کوي، خو سیاستپوهان بیا د پېښو تل ته ورننــوزي، ژور فکر کوي او په پای کې د ګڼو سیاسي پېښو له ورتــه والــي څخــه د راتلونکو پېښو او لانجو د حل لپاره یو سیاسي فورمول جوړوي. ددې سیاسي پېښو د فورمول ځانګړتیا دا وي چې نه یوازې په یوه واحــده ټولنه کې د تطبیق وړ وي، بلکې د نورو ټولنو سیاستوال هم ترې ګټه پورته کولای شي. سیاستپوهان د مقدوني سکندر د بریالیتوب راز په دې کې ګڼي، چې د ارستو په شان د یو ژور فکري سیاستپوه افکار یې تر شا پراته وو، سکندر د ارستو له سیاسي فورمولونه څخه پــه ګټــې اخیستنې، د نړۍ پر فتحې بریالی شوی و، د هر هېواد د نیولو او ایلولو لپاره د لویې بریتانیې د سیاستپوهانو سیاسي فورمول همغه و، چې: ((تفرقه واچوه، حکومت وکړه او یا هم ((بېل یې کړه ایل یې کــړه)) د نړۍ هر بریالی سیاستوال چې ګورئ، د بریالیتوب راز یې په همدې کې دی چې د سترو سیاستپوهانو سیاسي تیورۍ یې عملي کړي دي.**

**نیکولو مکیاویلي د نړۍ د ډېرو سترو سیاستپوهانو په جمله کــې هغه سیاستپوه دی، چې نوم یې تر هر چا زیات ځلېدلی او د نړۍ پــر سیاسي چاپېریال خور دی.**

**مکیاویلي د ۱۴۶۹م کال د مې میاشتې پر درېیمه نېټه په فلورینس کې زېږېدلی او د ۱۵۲۷م کال د جون پر ۲۲مې یې د ۵۸ کلونو په عمر له نړۍ څخه سترګې پټې کړي دي، د عمر ډېر کلونه یې په دربار کې په سیاسي چارو، سیاسي مطالعې او درباري لانجو کــې تېــر کــړي دي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې عواملو دی په سیاسي چارو کې د پوره تجربې او ذکاوت خاوند کړ. کله چې یې د درباري غوړه مالانو په وجه خپله دنــده لــه لاســه ورکړه، نو لازیات سیاسي تفکر او ژورتیا ته متوجه شو او په نتیجه کې یې مهم اثر ((ټولواک)) رامنځته کړ، چې نژدې د ۴۸۰ کلونو په بهیــر کې یې د نړۍ پر سیاسي فضا فکري واکمني وکړه او کوي یې. دا کتاب د مکیاویلي د پرله پسې مطالعې او تجربې یو داسې نچوړ او غورچاڼ دی، چې د متن هر پراګراف، هره جمله، هره کلمه او هر توری یې په ډېر دقت لیکل شوی دی. کله چې سړی دا کتاب لولي، نو هېڅ جمله او هېڅ ترکیب ورته زیات نه ښکاري، چې سړی فکر وکړي دا یو زیاتي ترکیب دی او باید نه وای په کې راغلی، داسې لکه د ریاضي د عددنو او فورمولونو په شان چې هر عدد ځانته خپل خپل ځای ډکوي او لــه حذف سره یې مطلوبه نتیجه له منځه ځي.

ددې کتاب د لیکلو یو هدف دا و، چې د ایټالیا د هغه وخت واکمن له سیاسي تېروتنو وژغوري او په ایټالیا کې د یــوه مضــبوط نظــام د جوړولو لارې- چارې په ګوته کړي، خو په دې کتاب کې شنل شوي او افاده شوي سیاسي مسایل دومره ژور، دقیق او پراخ وو، چې نه یوازې د یوې واحدې ټولنې د واکمنو لپاره ښې لارښوونې وې، بلکې په ټوله نړۍ کــې یــې د سیاســي ســتونزو ، کړکېچونــو او نــاروغیو د اوارۍ اودرملنې لپاره د ښو کاري نسخو کار هم ورکړ، په همدې وجه دا اثر د نړۍ په یو زیات شمېر سیاسي کړیو کې مشهور شو، ان تر دې چې یو زیات شمېر سیاستوالو او سیاستپوهانو په سیاسي چارو کې یو شمېر ناعاطفي او جابرانه مسایلو ته د جواز په پلمــه ناســم او د ولســواکۍ خلاف بللی دی، خو بیا هم هغه سیاستوال چې سیاســت ، اخــلاق او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عواطف سره بېلوي او سیاست یوازې د ګټو د تر لاسه کولو وسیله ګڼي او د اخلاقي ایډیالونو تابع یې نه ګڼي، دا کتاب یو مهم تیوریک اثر ګڼي، ددې اثر یوه لویه ځانګړنه دا ده چې تیوري اونظریات یې د زمان او مکان تابع نه دي؛ دا اثر چې د هر ې ټولنې یو سیاسي وګړی په ځیر سره لولي، نو دخپلې ټولنې د ګڼو پېښو او ګڼو سیاسي کرکټرونو انځورونه به په کې وګوري، سړی فکر کوي چې دا پېښې اودا کرکټرونه د دوی په ټولنه کې تېر شوي او ده په خپلو سترګو لیدلي دي. موږ چې کله د خپلې ټولنې سیاسي پېښې ګورو او بیا په هغو کې بېلابېل کرکټرونه مطالعه کوو او بیا دا کتاب ګورو، نو فکر کوو لکه مکیاویلي چې دا کتاب د افغاني ټولنې لپاره لیکلی وي، مکیاویلي چې د مختلفو واکمنو کوم مختلف خصوصیتونه په ګوته کړي او له هغو څخه راټوکېدلو پایلو ته یې اشاره کړې، د هغو هره بېلګه موږ په خپله ټولنه کې موندلای شو، مکیاویلي وایي:((ناورین به د ډېر لږ وخت لپاره د خلکو په ذهنونو کې پاتې شي او ډېر کوچنی بلل کېږي، خوکه ممکن ژر تر ژره ځپلو شویو خلکو ته مرستې ور ورسوي، دا مرستې به تر ډېره د خلکو په ذهن کې پاتې شي او له امله به یې د واکمن نوم په ډېر درنښت یادېږي)).**

**د پورتنۍ جملې د عملي تطبیق بېلګه موږ په خپله ټولنه کې ګورو، په کابل کې مختلفو تنظیمونو ډېره مرګ ژوبله وکړه او پر خلکو یې یو ستر ناورین خور کړ، د همدې ناورین په نتیجه کې دوی د زیاتې شتمنۍ څښتنان شول، کله چې ناورین پای ته ورسېد، همدا ناورینوال اوس پر هغو خلکو د خپلې شتمنۍ په زور حکومت کوي او په پارلماني ټاکنو کې یې هم د همغې نامشروع شتمنۍ په زور تر ټولو زیاتې رایې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



راخپلې کړي دي. مکیاویلي وایي:(( سخاوت او زړه سوی واکمن د حقارت او کرکې خواته راکاږي)) دلته له ((سخاوت)) څخه د مکیاویلي مقصد هغه سخاوت دی، چې واکمن یې یا له خپله جېبه اویا هم د بېت المال له کڅوړې کوي، چې دا ډول سخاوت په پای کې واکمن له فقر سره مخامخوي او کله چې یو واکمن د فقر مرحلې ته ورسېد، په سخاوت بلد ولس بیا له فقیر واکمن څخه ملاتړ نه کوي. مکیاویلي د یو واکمن لپاره تر حده زیات زړه سوی هم مضر بولي او وایي له هغه واکمن څخه چې خلک دوېرې احساس ونه کړي، د هغه ملاتړ نه کوي. همدا نظر خوشال بابا هم ورکړی او وایي:((حاکم چې قهر اومار چې زهر ونه لري)) مانا دا چې خپل جوهر او خصوصیت نه لري.

مکیاویلي هغه واکمن بریالي ګڼي، چې په بېلابېلو لارو له خلکو پانګه راټوله او بېرته یې خلکو ته خېرات کړي. دا ډول سخاوت دوراني حرکت لري، چې تمامی یې نه شته، ځکه نو واکمن ټول عمر د خلکو په زړونو کې محبوب پاتې کېږي، موږ په خپله ټولنه کې دا ډول ډېرې بېلګې لرو، چې د خلکو د شتمنۍ لوټوونکي اوبېرته پر خلکو د هغې د یوې برخې مصرفوونکي ته خلک (ځوانمرد) او (ډوډۍ مار) وایي او له ځانګړې درناوي څخه برخمن وي.

مکیاویلي د دې پوښتنې په ځواب کې چې خلک باید له واکمن څخه وېره ولري او که له هغه سره مینه؟ وایي چې وېره تر مینې غوره ده. دده په نظر له واکمن څخه وېره په ټولنه کې د سولې او ثبات سبب ګرځي، عامه شتمني په کې خوندي کېږي او له واکمن سره مینه یو اختیاري کار دی، چې ورو ورو انارشۍ او ګډوډۍ ته لار اواروي، له واکمن څخه د وېرې او له هغه سره د مینې بېلګې موږ په خپله ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې لـــرو، د امیـــر عبـــدالرحمن خـــان او ســـردار محمـــد داوود خـــان شخصیتونه او حکومتونه هغه بېلګـــې دي، چـــې خلکـــو تـــرې وېـــره احساسوله، ځکه نو پر دې وخت عامه نظم ټینګ و، داسې حکومتونه او واکمن چې خپل پرستیژ یې له لاسه ورکړی و او خلکو ترې ویره نه احساسوله، ورو ورو په انارشۍ بدل شوي دي، مکیاویلي وایي: (( څوک چې د نویو قوانینو او اصلاحاتو د پلي کولو مشري پر غاړه اخلي، پـــه حقیقت کې د هغوخلکو دښمني پر غاړه اخلي، چې په تېرو قوانینو کې سوکاله وو)).

کله چې په افغانستان کې د هر نوي متمدن قانون د تطبیق لپـــاره هڅه شوې ده، نو دودیزوالو یې د ځاني ګټو له امله مخالفت کړی دی، او غوره بېلګه یې د غازي امان الله خان اصلاحات وو، چې ارتجـــاعي ځواکونو یې مخالفت وکړ.

مکیاویلي وایي: ((د بخت په زور حکومت ته رسېدل اسان دي خو د واکمنۍ ټینګول یې سخت کار دی)).

د استادکاندید اکاډیمیسن محمد صدیق روهي په وینا((افغانستان د استثناتو هېواد دی، دلته د سیاسي پېښو وړاندوینې نه کېږي، یانې ځینې سیاسي پېښې او شخصیتونه په کې په استثنايي ډول رامنځته کېږي، چې د خلکو سیاسي برخلیک ټاکي)).

که موږ خپله ټولنه د مکیاویلي او استاد روهي په پورتنیو فورمولونو کې واچوو، نو له پوره واقیعت سره به مخ شو، په افغانستان کې د سقاو زوی واک ته رسېدل، ځکه یوه استثنايي پېښه ګڼل کېدی شي، چې دا سې خلک هېڅ ډول تګلاره او فکر نه لري، نو څنګه واک ته رسېدلای شي؟ دغه راز که په امریکې کې د سپتمبر د یوولسمې نېټې پېښه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**واک رامنځته شوې، کېدی شي پــه افغانســتان کــې د لنــډ مهــالي، منځمهالي او انتخابي حکومت په نامه اوسني سياسي اصلاحات اصلاً هېڅ رامنځته شوي نه وای. د بخت په زور واک ته رسېدلي خلک پــه رښتيا هم تر هغه پورې په واک کې وي، چې بخت ورسره ملګری وي، ځکه دا ډول خلک تر واک د مخه او وروسته دواک د نيولو او ســاتلو لپاره کوم دقيق پلان او ستراتيژي نه لري. مکياويلي د وينو څښونکو او هغو واکمنو په باب، چې د برچې پر زور حکومت کوي وايي: ((څوک چې تل وينې تويوي، تل دې ځان لپاره توره ولري، ځکه ولس پر ده او دی پر ولس باور نه کوي)).**

**موږ په افغانستان کې د داسې واکمنو بېلګې هم ليدلي، چې ټــول عمر يې د خپلې واکمنۍ لپاره تر ځان د تورو دېوالونه تاو کړي او هــر کله چې دا دېوالونه له منځه تللي، نو واکمني او واکمنان هم له منځه تللي دي.**

**مکياويلي سياستوالو ته وړانديز کوي او وايي چــې بايــد د خپــل حکومت بنسټ ټينګ جوړ کړي، دی د يو مستحکم حکومت لپاره ښه قانون او ښې لښکرې اساسي عناصر بــولي، دی اجيــرې او مرســتندويې لښکرې د يوه حکومت او واکمن لپاره بې ګټې ګڼي، د مکياويلي په نظر (( اجيرې او مرستندويې لښکرې د دښمن پر وړاندې بــې زړه وي، بــې نظمه وي، د جنګ پر وخت ميدان پرېږدي او د سولې پر مهال خزانــه لوټوي))، موږ په خپل هېوادکې مرستندويې (رابلــل شــوې او راغلــې لښکرې) اجيرې ملېشې او نورې ډول ډول لښکرې وليــدې، چــې نــه هېواد او نه هم هغه واکمن ته په ګټه تمامې شوې چې رابللې يــې وې، ببرک کارمل پر شوروي لښکرو ډېره ولګوله، خو يو وخت داسې راغــې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې همدې شوروي لښکرو په پای کې له واکه څنډې ته کړ، ډاکټر نجیب الله د شمال پر بېلابېلو ملېشو ډډه ولګوله، خو په پـای کـې پـر هغـه برخلیک اخته شو.**

**مکیاویلي واکمنو ته توصیه کوي چې: (( د ولس شتمنۍ ته لاس ونه غځوي، ځکه خلک د پلار مړینه هېروي خو له پلاره ورپاتې شتمني یې له زړونو نه وزي)).**

**د پورتنۍ خبرې عملي بېلګې هم موږ په خپل هېواد کې ولیدې، پـه افغانستان کې ډېر مرګونه او ظلمونه وشول، زیـاتره عامـه زیانونـه او ظلمونه د خلکو له یاده ووتل، خو د نور محمد ترکي د (۷) او (۸) ګڼـه فرمانونه، چې د خلکو د شخصي ځمکو د وېش او ولور په بـاب صـادر شوي وو او دواړه د خلکو په شخصي ملکیت او ژوندانه کې د مداخلې ستر عاملونه ګڼل کېدل، تر اوسه پورې د خلکو له یاده نه دي وتلـي او آن یو شمېر سیاستپوهان یې په افغانستان کې د بحران د اوږدېدو ستر لاملونه ګڼي.**

**د مکیاویلي دا کتاب (ټولواک) د سیاسي او ټولنیزو پېښو د شـننې اوتحلیل په باب ډېرې ژورې او پخې خبرې لري، چې هره یوه یې د کاڼي کرښه ګڼل کېږي، د کتاب د ټولو خبرو تحلیل او بحث پر ځای به ښه دا وي چې خپله د کتاب اصل ته وروګرځو.**

**په ټولیز ډول دومره ویلای شم لکه څنګه چې د حسابي معـاملاتو د حل لپاره د ریاضي فورمولونو ته اړتیا ده، دغسې ددې کتاب محتویات د سیاسي ستونزو د شننې او حل لپاره د سیاسي فورمولو په توګه کـار کوي، هر څوک چې په سیاسي چارو او معاملاتو کې ګوتې وهي، نو ورته بویه چې دا کتاب یو ځل ضرور ولولي. ځوان او هڅاند لیکوال ښاغلي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



داوود حبیبزي چې د هېواد د سیاسي او ټولنیزو پېښو د شننې اودهغو په باب د یوه غوره او دقیق دریځ نیونې ښه لېوال او مینه وال دی، پــه افغانستان کې د سیاستپوهنې دعلمي اثارو کمښت ته متوجه شوی اود همدې تشې د ډکولو په نیت یې دا خورا مهم اثر له انګریزي ژبې څخه پښتو ته ژباړلی دی. دا اثر په خورا معیاري او کره پښتو ژباړل شــوی او سړی یې له لوستلو څخه ډېر خوند اخلي، زه په داسې حال کې چــې د ښاغلي داوود حبیبزي دا کار ستایم او دا په پښتو کې د ژبــاړل شــویو اثارو په جمله کې له ژبني پلوه یو ښه پوره او کره اثر ګڼم، دکتاب د چاپ له امله ده او میوند کلتوري ټولنې ته، چې دا کتاب یې خپورکړ، مبارکي وایم، دغه راز له حبیبزي څخه هیله من یم، چې د نورو دا ډول مهمــو اثارو ژباړې ته هم ملا وتــړي، کــه چېــري دا اثــر د هېــواد راتلــونکي سیاستوال ولولي او له ګڼو سیاسي ستونزو څخه دیوې په حل کې هم ورسره مرستندوی شي او ستونزه په عادلانه ډول حل کړي، نو حبیبزی صېب به یې په ثواب کې شریک وي، د همداسې هیلې د بري په هیله.

په درناوي

اسمعیل یون

کابل پوهنتون

د ۱۳۸۵ ل کال د لړم ۱۰ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ((یوه شپه دوه خوبونه)) او د هغو تعبیرونه

په هره ټولنه کې چې اختناق خور شي، نو د ټولنې د نورو خواوو تــر څنګ یې هنر او ادبیات هم خپل رنګ بدلوي، عموماً د اختناق د دورې ادبیات د همغه اختناق تصویر انځوروي.




دا ادبیات زیـاتره، د خونــد، خوښــۍ او خوشالۍ لپاره نه وي، بلکې د اکثرو همغو ډول، ډول بدرنګیو انعکاسوونکی وي، چې د همدې ستم له امله راټوکېدلې وي.

((یوه شــپه او دوه خوبونــه)) هــم پــه افغانستان کې د اختنــاق د دورې د یــوه مشخص پېر یا بهیر انځور دی، چې شــاعر یې د خوب په بڼه انځوروي.

شاعر خپل کلی د خپلې ټولنې د حال او ماضي ژوندانه د یو سمبول په توګه کارولی او په هغه کې یې د ژوند دوه بېلابېل پړاوونه او رنګونه (تر اختناق دمخه پړاو، تر اختناق وروسته مرحله) سره پرتله کړي دي، شاعر یا لیکوال په کلي کې دواړه حالته انځور کړي دي او دا یې مجسم کړي، چې پخواني حالت تر اوسني هغه په هر ډول ښکلی او سوکال و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لیکوال په نظر په پخواني حالت کې د کلي یا تولنې مـانیز او نـور مادي ارزښتونه خوندي وو، د مشر او کشر، خان او ملا او نورو دریځونه او صلاحیتونه مشخص وو، د همدغو صلاحیتونو د مناسب وېش له امله د کلي د متوازن پرمختگ او هوساینې چارې سمبالېدې، خو کله چې د یوه اختناق او بهرني فشار په نتیجه کې په کلي کې کشر د مشر، ملا د خان او بې مخه د مخور ځای ونیو، نو په کلي کې گـډوډي رامنځتـه شوه، د لیکوال هدف له کلي څخه خپل هېواد دی، خو ده خپل کلی د خپل هېواد لپاره د یوه سمبول په توگه کارولی دی.

د خوب ددې کیسې په لړ کې بېلابېل کرکټرونه د سړي ذهـن کـې ژوندي کېږي، چې اکثره یې منفي رنگ لري او ددې علت هم طبیعي دی، دا ځکه چې د اختناق لوبغاړي طبعاً بدرنگ کرکټرونه دي، د کیسې د شخصیتونو د بیان لپاره ولسي یا بزگري ژبه کارول شـوې او داسـې بزگري ترمینالوژي یا اصطلاحات کارېدلي،چې که چاکلیوالي ژوند نـه وي تېر کړی یا یې بزگري نه وي کړې او یا هم له بزگرانو او کرونـدگرو سره نږدې پاتې شوی نه وي، پر مانا یې په اسانۍ سره نه شي پوهېدلای.

((یوه شپه دوه خوبونه)) لیکنه دخپل هنري او کیسه ییـز ارزښـت ترڅنگ دا ارزښت هم لري، چـې ښـه لویـه بزگـري پانگـه ((ژبنـي اصطلاحات)) یې په کې خوندي کړې ده.

د شکل له پلوه اساساً دا ازاد نظم دی، چې داستاني بڼه لري، خو که په لیکنۍ بڼې سره یې سم لیکلای وای، نو کېدی شول هغه بندښت او ماتوالی چې اوس د ځینو مسرو په لوستنه کې رامنځته کېـږي، لـه منځه تللای وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر لیکنې ناسموالي سر بېره ځینو ځایونو کې وزني تېروتنې هم لري، چې شاعر کېدی شي، په خپل زړه همداسې پرې ایښې وي اوداسې یې ګڼلې وي، چې پر خپلې لیکنې وزني قید تحمیل نه کړي.

ښاغلي لیکوال او شاعر محمد حسن حسام د دا ډول نویو لیکنو چې پخوانۍ بېلګې یې ډېرې نه دي لیدل شوي، خپله تجربه لري، تر دې دمخه یې (زه کابل یم) (سپینې وینې) او (سر خلاصي لیکونه) کې هم دا ډول تجربې کړي دي، خو په هر ترتیب نوې زمانه، نوي ادبي بهیرونه، په خپله نوې ادبي تجربې راټوکوي او ((یوه شپه دوه خوبونه)) هم له همدغو نویو تجربو څخه یوه تجربه ده. له ښاغلي لیکوال څخه یې زموږ هیله دا ده چې دا انفرادي تجربې نورې هم پسې وغځوي او لا یې پخې کړي.

زه نور د لوستونکو او د لیکنې تر منځ دېوال کېږم نه، ((یوه شپه دوه خوبونه)) لوستونکو ته پرېږدم، چې له خپلو تعبیرونو سره سم یې تعبیر کړي.

د اختناق د ښامارانو د له منځه تلو په هیله

اسمعیل یون

کابل – افغانستان

لومړی مکروریان


۱۳۸۵ ل کال، د کب میاشت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ((حقیقت)) او د کوچنیانو ادبیات

لکه څنگه چې زموږ په ټولنه کې کوچنیان له خپلو ډېرو حقونو څخه محروم دي، دغسې له خپلو ادبیاتو څخه هم بې برخې دي. په پښتنو شاعرانو کې يوازې په شمار شاعرانو د کوچنيانو لپاره شاعري کړې ده، مرحوم محمد عثمان نژند او خدای بښلی غلام حضرت روغمن هغه کسان دي چې بايد په دې برخه کې ترې په قدردانۍ سره يادونه وشي. د دوی شعرونه په پښتو تعلیمي کتابونو کې راغلي او زموږ د کوچنیانو پر




ذهنونو او عواطفو يې ښه تاثير ښندلی دی. ښاغلی محمد نواز حقیقت په پښتو ادبیاتو کې بله هغه څېره ده چې خپل قلم يې تر هر بل کار زیات د کوچنیانو ادبیاتو ته وقف کړی، حقیقت صاحب تراوسه ((لس شعري ټولگې)) يوازې د کوچنيانو لپاره چمتو کړي، چې له هغو څخه يوازې دوه يې ((سپينه کوتره او د لمر تراني)) چاپ شوي او نورې يې لا د چاپ انتظار باسي.

زموږ نرواکه او پلارواکه ټولنه کې (( ښځينه شاعري)) او د ((کوچنیانو لپاره)) شاعري کمه ده. د ((ښځينه شاعرۍ)) د کمښت وجه شايد اقتصادي او علمي شاته پاتېوالی، مذهبي او کلتوري بنديزونه او له هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه ناسم تعبیرونه وي، خو دا چې دکوچنیانو لپاره ولې کم ادبیات رامنځته شوي، په دې برخه کې څه کلتوري او مذهبي بندیزونه او ناسم تعبیرونه نه وو، خو کېدی شي د ټولنې عام شاته پاتېوالی او د تعلیم د کچې ټیټوالی یې غټ عامل وي. خو خیر عوامل چې هر څه وي، وي به، خو اوس مونږ عملاً د کوچنیانو لپاره د ځانګړو ادبیاتو په برخه کې ډېر غریب یو.

کله چې سړی په لومړي ځل د کوچنیانو لپاره له ادبیاتو او یا هم شاعرۍ سره مخامخېږي، نو دا خبره ورته ساده او بسیطه ښکاري او داسې فکر کوي، چې تر ټولو ساده او اسانه لیکوالي یا شاعري همدا د کوچنیانو لپاره ده، ځکه چې نه زیاتو تصویرونو، نه نادرو تشبهاتو او استعاراتو ته په کې اړتیا شته او نه هم نورې سپېڅلتیا ته، خو که کله عملاً د کوچنیانو لپاره پر شاعرۍ پیل وکړي، نو ورته معلومېږي، چې څومره سخت کار دی. واقعیت دادی چې څوک د کوچنیانو لپاره شاعري کوي که هغه خپله یو ځل ځان  د کوچني په رول او کرکتر کې وانه چوي، ځان په تخیلي او فکري لحاظ د کوچنیتوب مرحلې ته ونه رسوي، شاعري به یې د کوچنیانو تر کچې پورته وي، خو هغو ته به خوند ور نه کړي.

د کوچنیانو لپاره شاعري د خپل کوچنیتوب د تجربو په رڼا کې کېدلای شي، شفاف، خواږه، بې تکلفه عواطف او نا سیاسي تفکر  هم د کوچنیانو د ادبیاتو په رامنځته کولو کې ښه رول لري.

ښاغلی محمد نواز حقیقت که څه هم اساساً یو سیاسي سړی او لیکوال دی، خو د ماشومانو لپاره په شاعرۍ کې یې خپل سیاسي دریځ یوې خواته پرې ایښی او یا هم ډېر کم ترې څرګند شوی دی. ماشومان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**معمولاً له هغو شیانو سره ډېره علاقه لري چې دوی یې مجسمولای، لمسولای او تشخیصولای شي او عملاً یې په ورځیني ژوند کې ګوري، حقیقت صیب دغه پدیدې ډېرې ښې درک کړي او هغه یې بیا په خپلو نظمونو او شعرونو کې دوی ته تعریف کړي دي. لکه پیشو، هلیکوپتر، طوطي، بلبله، تلیفون، ښکاري سپی، بیزو، مېږی، غوا او نور...**

**دې ډول مسایلو سره ماشومان په طبیعي او فطري ډول مینه او علاقه لري، نو که ددې شیانو په تعریف کې اخلاقي، روزنیز او ښوونیز عناصر ځای شي، ماشومان یې بې فشاره او په نامستقیم ډول هضموي او د هغوی په وده کې اساسي رول لري. د ښوونې او روزنې د پوهانو په اند بې فشاره زده کړه د ماشومانو لپاره تر ټولو ښه زده کړه ده. ښاغلی حقیقت د کوچنیانو لپاره په خپله کړې شاعرۍ کې په دې بریالی شوی چې یو زیات شمېر روزنیز، اخلاقي، وطني، ټولنیز او نور ژوندني مسایل په خپلو نظمونو او شعرونو کې ځای کړي او کوچنیان پرې وپوهوي.**

**د کوچنیانو لپاره شعرونه باید زیاتره په تعلیمي کتابونو کې ځای شي، په دې ډول ترې کوچنیان ښه ګټه اخیستلای شي. زه نه غواړم چې پر دې ټولګې خپله لیکنه نوره وغځوم، غواړم د کوچنیانو لپاره د حقیقت صیب دا یو نظم د بېلګې په توګه راوړم، چې د تلیفون پر تعریف سربېره د هغه څومره نورې ګټې بیانوي. نور نظمونه یې هم همدا ګټې لري:**

## د تلیفون خبرې

**ورور مې وکړو تلیفون**
**ویلې څنګ مو دی ژوندون**
**ما ویل شکر خیر خیرت دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به کله شې راستون
خپل دیدن دې راوړه ماته
درپسې یم ځیگرخون
ده ویل زه په خیر درځمه
چې رخصت شي پوهنتون
وکړې ما خپله خبرې
ښې خوږې ښې خوندورې
ورور مې شو له ما خوشال
ورکړ ما د کور احوال
ماته وویل زما ورور
کړه سلام په پلار او مور
تلیفون یوه ښه اله ده
د خبرو وسیله ده
لنډوي اوږدې مزلې
چې زنگ راغی وایه بلی.

د ګلالیو افغان ماشومانو د نېکمرغه راتلونکي په هیله


په مینه
محمد اسمعیل یون
کابل، ١/٦/١٣٨٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ترپایلیك پورته هڅه

د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په وروستي سمسترکې د مونوگراف یا (پایلیک) په نامه یو مضمون په درسي نصاب کې شامل دی. محصلین د لیسانس دورې په پای کې، مکلف دي یوه رساله یا کتابگوټی ولیکي .




دا کتابگوټی پر یوه مشخصه موضوع د یوه ټاکلي لارښود استاد ترنظرلاندې بشپړېږي، چې مونوگراف ورته وایي. د پایلیک یا مونوگراف د لیکلو مخونو شمېرمعمولاً تر دېرش مخونو کم نه وي. له هغه وخته چې د کابل پوهنتون د ژبواوادبیاتو پوهنځی تاسیس شوی دی، نژدې اویا کاله کېږي، د دې نژدې اوو لسیزو په بهیر کې په زرگونو عنوانه مونوگرافونه لیکل شوي دي . د پښتوڅانگې د محصلینو له خوا د منظمو لیکل شویو پایلیکونو شمېر هم نژدې پنځوسو عنوانونو ته رسېږي . یو وخت ما په پښتو څانگه او د کابل پوهنتون په عامه کتابتون کې د خوندي شویو مونوگرافونو لټون کاوه، هلته مې ولیدل چې یو زیات شمېر مونوگرافونه داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وو،چې په خورا زیار او زحمت لیکل شوي وو او لازمه وه، چې چــاپ شي او ګټه یې ټول ولس ته ورسېږي؛ خوداسې مونوګرافونه په کــې هم وو، چې نه یوازې په چاپ نه ارزېدل؛ بلکې د مونوګراف لیکنې پر معیارونو هم برابر نه وو او ځینې یې پر تکراري موضــوعګانو لیکــل شوي وو.**

**د کابل پوهنتون د ژبو اوادبیاتو پوهنځي د پنځوسمې کالیزې په ویاړ، ما د نوموړي پوهنځي د پښتو کتابونو او مونوګرافونو یو کتابښود ترتیب او چاپ کړ، له دې کارڅخه زما هدف داو، چې د ژبواوادبیاتو پوهنځي کړی کار او شتمني راټوله او خوندي کړم او بل محصلینو ته د ادب پوهنځي د ماضي د مطالعې لپاره یو کتاب  په لاس ورکړم او بل هدف مې داو، چې که په راتلونکي کې نور مونوګرافونــه لیکــل کېږي؛ نو پر زړو او تکراري موضوعګانو ونه لیکل شي،  سره لــه دې چې اوس هم پر یــو شــمېر ســولېدلو او کلیشــه یــي موضــوعګانو مونوګراف لیکل کېږي؛ خو زیاتره پایلیکونه له دودیزې بڼې راوتلي او نوې موضوعګانې یې څېړلي دي .**

**(( پښتو لنډه کیسه او ادبي ټوټه )) د همــدغو مونوګرافونــو لــه جملې څخه دی، چې دودیزه بڼه نه لري او پر یوې وړې موضوع یانې د کوم شخص د تعریف پر محور نه راڅرخــي او یــوه داســې عامــه موضوع، چې ارزونه او شننه یې زموږ ځوان لیکوال پښت تــه ډېــره ضروري او ګټوره ده څېړل شوې ده .     ((ادبي ټوټه )) زموږ په ادبي ټولنه کې یوه هغه موضوع ده، چې تر اوسه یې پر تعریف او فــورم د ادبپوهانو ترمنځ پوره توافق نه شته، ځینې یې یو ادبي فورم ګڼي او ځینې یې له فورم څخه منکردي او ان وایي له چا څخه، چې لنــډه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیسه خرابه شي او یاهم شعر ترې بې وزنه او کم وزنه شي؛ نو د ادبي ټوټي نوم پرې کېږدي؛ نو د داسې موضوعګانو شننه او سپړنه د ادبیاتو نویو لارویانو ته ډېر څه سپینوي .

ښاغلی سیدنظیم ( سیدي ) پر لنډې کیسې هم هر اړخیزه رڼا اچولې، له تاریخچې او تعریفه نیولې بیا د هغې رغنده توکونه ټول یې تشریح کړي او شنلي دي . د ده دا کار ځوانو لیکوالو ته سمه او رڼه لاره په ګوته کوي.

د دې پایلیک بله غوره ښېګڼه دا ده، چې د لنډو کیسو او ادبي ټوټو دواړو بېلګې یې راوړي او تحلیل کړي یې دي .

د دې مونوګراف بله ځانګړنه داده، چې تر اوسه پورې د پښتو لنډو کیسو کوم اثار چاپ او یاهم لیکوال ته یې پته لګېدلې ده، د لیکوالو په ګډون یې د هغو نومښود هم وړاندې کړی دی، دا کار له ځوانو لیکوالو سره مرسته کوي، چې د پښتو لنډو کیسو له عمومي زېرمې خبرشي اوپه دې اړه یو عام جاج ترلاسه کړي . د لنډې کیسې رغنده عناصر یې، لکه : اډانه څېره یا کرکتر، تلوسه، زمان او مکان (چاپېریال) ډیالوګ، لیدلوری او نور په ساده او روانه ژبه تشریح کړي دي .

د دې اثر عمومي ښېګڼه داده، چې لیکوال ټول پرخپلې ټاکلې موضوع راڅرخېدلی، له موضوع څخه لرې شوی نه دی، د لنډې کیسې او ادبي ټوټې بېلګې یې راوړي او تحلیل کړي دي. له موضوع تېښته د لیکوال کمزوري ده او دا کمزوري په دې اثر کې نه شته، لیکوال په خپل شوق خپل اثربشپړ کړی او دې پسې نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځېدلی، چې يوازې د پايليک دېرش مخه پوره کړي او خپل کــار بشپړ وګڼي .

ليکوال دومره زيار ايستلی، چې خپل کړی کار يې د پايليک تــر دوديزه بريده اوړي او د يو ښه تحليلي او څېړنيز اثر بڼه خپلوي.

کاشکې پښتو ځانګه، خپلې ټولنې ته نور زيات داسې ګلالــي او فرهنګيالي فارغان وړاندې کړي، چې خپلې ټولنې ته ترخپل ټاکلي معيار او بريده زيات کار وکړي او خپل هېواد ته زيات ثمــر وړانــدې کړي .

زه د ښاغلي سيدنظيم سيدي دا پايليک په پښتو ليکــل شــويو پايليکونو کې يو غوره پايليک ګڼم او ان د پايليک تر معياره يې لوړ ارزوم او د لوی رب (ج) له درباره ورته د نورو بريمنو فرهنګي هڅــو غوښتنه کوم .

کور يې ودان او ژوند يې سوکال

پوهنمل محمداسمعيل يون

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**